وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ

تفسیر
جواهر القرآن پښتو

مع ترمیم واضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

وحیدی کتبخانه
پشاور

القرآن الحکیم

مع

تفسیر جواهر القرآن پښتو

از افادات شیخ التفسیر حضرت مولانا حسین علی صاحب رحمة الله علیه

ترجمه شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب دیوبندی رحمة الله علیه

مع

ترمیم واضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

فوائد موضح قرآن :- از مولانا شاه عبد القادر صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

فوائد فتح الرحمٰن :- از مولانا شاه ولی الله صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

شپږ ویشتمه - اُویشتمه - اتویشتمه - نهه ویشتمه - دیرشتمه

وحیدی کتب خانه

قصه خوانی بازار پشاور ــــ فون نمبر ــ ۲۵۶۳۹۹۱

موبائیل نمبر ــــــــ ۰۳۰۰ــ۹۵۹۶۱۵۰

شپږم جلد



د کتاب نوم ـــــ تفسیر جواهر القرآن

مع ترمیم و اضافه ـــــ شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب

پښتو مترجم ـــــ مولانا عبد المالک صیب

د قرآن مصحح ـــــ قاری عبد الله

د تفسیر او ترجمې مصحح ـــــ مولانا عبد اللطیف سکندر فاضل جامعه بنوریه ټاؤن کراچی

د کاتب نوم ـــــ ارقم جان (چارسده روډ) بخشي پل کلے خدو خیل

ناشر

وحیدی کتب خانه

قصه خوانی پیښور ښار

فون نمبر ـــ ۲۵۶۴۹۹۱

موبائیل نمبر ـــ ۰۳۰۰ ـــ ۹۵۹۶۱۵۰

سُوْرَةُ الْاَحْقَاف

ربط سورة جاثیه کښې دا شُبه لرے کړے شوه چه بیشکه زمونږ معبودان نۀ اَوري پکار نے الله تعالیٰ وغواړي او زمونږ اواز هغوی ته وا اُوروی او هغوی زمونږ سفارش وکړي نو څه په بنۀ ده که نے زیات نه زیات زمونږ رابلل هغوی لره او ورته اواز کول به لغو او بیکاره شي. نو ددے جواب ورکړے شو. ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰی شَرِیْعَةٍ الاٰیة. مونږ تا ته یو واضحه قانون درکړے دے چه هغوی نۀ اَوري، تاسو د هغې (قانون) تابعداری وکړئ او د مشرکانو د نفساني خواهشاتو اتباع مکوئ. اُوس په سورۀ احقاف کښې د دے شبهے جواب ورکړے شوید ے، چه مونږ اُومنله چه زمونږ معبودان نۀ اَوري لیکن د هغوی په رابللو کښې تأثیر او برکت ضرور شته څکه چه کله مونږ هغوی رابلو او د هغوی په نوم وظیفے لولو نو مونږ د ټولو مصیبتونو نه محفوظ کیږو او کارونه مو صحیح کیږي. د سورت په آخر کښې د دے جواب ورکړے شو چه د هغوی په رابللو کښې که څه تاثیر او برکت وے نو زمونږ د کرفت او نیولو نه به ئے دوی ته نجات ورکړے. فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً.

خلاصه د سورت په دعوی با ندې خلور تفصیلي دلائل، یو دلیل عقلي او یو دلیل وحي، په شروع کښې تمهید سره د ترغیب نه، روستو د مشرکانو د دلیل عقلي او نقلي مطالبه او په آخر کښې د سورت مرکزي مضمون ذکر کول، زجر او تخویف، شکوی، تخویف، تبشیر (زیرے ورکول.) او په آخر کښې یو عقلي دلیل د قیامت ثابتولو د پاره، په خاتمه کښې یو آیت متعلق د ټولو حوامیم سره.

تفصیل

تَنْزِیْلُ الْکِتٰبِ (الاٰیة): تمهید سره د ترغیب نه. دا حکمنامه (احکام) د غالب او حکیم بادشاه دی، دا اُومنئ. مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ: دلیل عقلي د توحید. دا پټول کائنات مونږ د حق ظاهرولو د پاره پیدا کړیدي، د کائناتو ذره ذره د الله د قدرت کامله او د هغه د صفات کارسازئ او وحدانیت دلیل دے. وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا: دا زجر دے لیکن د دے با وجود کافران اعراض کوي. قُلْ اَرَءَیْتُمْ (الاٰیة): دیکښې د مشرکانو نه مطالبه کړے شویده چه د غیر الله په الوهیت او د پلنے لائق کیدلو

باندئ څهٔ عقلي يا نقلي دليل پيش کړئ، کوم چه دوی د الله تعالٰی نه سوا رابلي آيا هغوی د څهٔ شيز خالق دی. يا د يو آسماني کتاب يا د يو پيغمبر د ارشاد او عمل نه د هغوی دعوای ثابته ده؟ نو پيش ئې کړئ. وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ ـ تا ـ بِعِبَادَتِهِمْ كَٰفِرِينَ ۝ دا د مدٰ کوره مطاليے نتيجه ده چه تاسو سره هم عقلي او نقلي دليل موجود نشته. نو بيا هغوی ته ولے آواز کوئ؟ څوك چه د خپلو لاسونو جوړکړے شوُو معبودانو عبادت کوی چه د قيامت ورځے پورے د هغيا د آواز او رابللو جواب نشي ورکولے او د رابلونکوٗ بللو نه نا خبره وی. د هغهٔ نه لوئے گمراه بل څوك کيدے شي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ (الآية): دا اولہ شکوه. کله چه د دوی په مخکښ زمونږ واضح او روښانه آيتونه لوستلے شي نو دوی ورته جادو وائي. أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ: دا دويمه شکوه ده. وائي چه دا قرآن عياذاً بالله محمد ﷺ د ځانه جوړکړے دے. قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ: دا د دويمے شکوے جواب دے او ضمناً دليل وحی دے. څهٔ د ځانه نهٔ وايم بلکه د الله پاك وحی بيانوم او بحرے ماپه الله تعالٰی باندئ دروغ جوړکړے وی نو تاسو ما لره د الله تعالٰی د گرفت نه نشئ خلاصولے.

قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا (الآية): دا په دليل وحی باندئ د يو سوال جواب دے. بحرے تاسو ته وحی راځي نو اووايه موږ سره به څهٔ کيږی؟ جواب ورکړے شوچه دوی ته ووايه ما ته خو د خپل حال خبر هم نشته سوا د دينه چه د الله پاك له طرفه وحی راشي. قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن كَانَ (الآية): دا زجر دے او د دے په ضمن کښ اول دليل نقلي تفصيلي ذکر دے. اے منکرينو! دا اووايئ بحرے دا قرآن في الواقع او حقيقت کښ د الله پاك له طرفه وی او د اهل کتابو عالمانو هم د دے تصديق کړے دے خو بيا هم تاسو ايمان را نهٔ وړلو. آيا تاسو به د ټولو نه لوئے گمراهان نهٔ يئ؟ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا (الآية): دا شکوه ده. مشرکانو د ايمان والو باره کښ وائي بحرے قرآن او توحيد ښهٔ شيز وے نو هغوی به د دے په قبلولو کښ زمونږ نه مخکښ ولے نهٔ وے کړے حُکه چه موږ هميشه په نيکو کارونو کښ مخکښ يُو. دا د دوی باطل گمان وُو. په حقيقت کښ الله تعالٰی دوی ته د حق قبلولو توفيق نهٔ دے ورکړے. د دے وجے نه ورته افتراء وائي.

وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً: دا دويمے تفصيلي نقلي دليل دے د تورات نه. او د دے نه مخکښ تورات کښ هم دا مضمون بيان کړے شوے دے، نو قرآن د هغے تصديق کړے دے، هيڅ نوے خبره ئے نهٔ ده پيش کړے. إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا ـ تا ـ كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝ (ع ۲): دا د آخرت بشارت دے. چا چه د الله د وحدانيت اقرار اوکړو او بيا د وايس راتللو يعني ترمرگه پورے هغے باندئ قائم پاتے شو نو په آخرت کښ به په دے هيڅ ويره او غم نهٔ وی او هميشه د پاره به په دوزخ کښ اوسيږی.

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ ــ تا ــ الَّذِينَ كَانُوا يُوعَدُونَ ۝ که یو کس دخلوېښتو کالو په عمر کښې د کفر او شرك نه توبه کړي نو دهغه ګناهونه به هم معاف کړے شي. او هغه به جنت کښې داخلولے شي. وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ ــ تا ــ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ ۝ دا زجر دے سره د تخویف نه. لیکن کوم خلق چه د خپل توحید منونکو مور پلار خبره نه مني او شرك او انکار اخرت بانې همیشه ټینګ ولاړ وي هغوی دپاره په اخرت کښې همیشه تاکامي او تاوان دے. وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا (الآية)، دا هم تخویف اُخروی دے. د قیامت په ورځ به مشرکانو او کافرانو ته اُوئیلے شي: تاسو په دُنیا کښې د دُنیا د ژوند نه خوند وړه او مزے اخستے وے او د ټولو مزو او خوندونو نه دُنیا کښې نفع اخستو نکی ګرځیدلے وی. د دے دپاره تاسو ته به د کبر، غرور، عناد او ځان لوئیځ په سزا کښې رسوا کوونکے عذاب درکولے شي.

وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ ــ تا ــ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۝ (ع-۳) دا دویم تفصیلي نقلي دلیل دے هود علیه السلام سره، سره د تخویف دُنیوی نه. قوم عاد ته حضرت هود علیه السلام راغے او د الله تعالیٰ پیغام ئے ورته اُورسولو لیکن هغوی په انکار او غرور بانې قائم پاتے شول نو الله تعالیٰ هغوی لره په عذاب بانې هلاك کړل خو د هغوی خود ساخته معبودانو د هغوی هیڅ امداد ونکړو. وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ ــ تا ــ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ۝ (ع-۴) دا د سورت مرکزي مضمون دے. موږ د مکے نه ګیرچاپیره ډیرزیات کلي هلاك کړل. مثلاً قوم عاد او قوم ثمود او د اصحاب حجر کلي چه دغه قومونو بانې زمونږ عذاب راغے نو کوم معبودان چه هغوی کارساز، متصرف او مختار ګنړلي وو هغوی کښې هیڅ هم د دوی امداد اُونکړو او هیڅ دوی لره د عذاب الٰهي نه خلاص نکړل. وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ ــ تا ــ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ۝: دا دریم دلیل نقلي تفصیلي دے جناتو سره. جناتو (پیریانو) ته وګورئ چه هغوی هم کلام الٰهي واؤریدلو، خو نه صرف پخپله ئے هغے بانے ایمان راؤړو بلکه واپس لاړل او خپل قوم ته ئے هم دعوت ورکول شروع کړل چه تاسو هم د الله پاك په دے اخري کتاب بانې ایمان راؤړئ.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ (الآية): دا د مرلو نه پس ژوند ثابتولو بانې عقلي دلیل دے. کوم پاك ذات چه د زمکے او اسمان پشان داسے لوئے څیزونه پیدا کړیدی، نو آیا هغه د مړو په ژوندی کولو بانې قادر نه دے، هغه خو په هر څه بانې قادر دے. وَيَوْمَ يُعْرَضُ (الآية)؛ دا تخویف اُخروی دے. فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ (الآية): دا نبی علیه السلام ته تسلی ده. تاسو اُولوا العزم (دلوئے همت والا) پیغمبرانو پشان د صبر او تحمل نه کار واخلئ او معاندینو دپاره جلتي سره عذاب مه غواړئ، زمونږ عذاب به ضرور راځي. کله چه دوی په عذاب کښې ګرفتار شي نو د خپل ژوند ټول خوشالئ او مزے به ترے هیر شي.

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورۃ احقاف ـه مکه کښې نازل شوې او دې کښې پنځه دیرش آیتونه او څلور رکوع دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○

شروع کوم په نوم د الله چې بې حده مهربان نهایت رحم کوونکی دی.

حٰمٓ ۝ ١ تَنْزِیْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِیْزِ الْحَكِیْمِ ۝ ٢ الجزء ٢٦

رالېږل د کتاب دی څه د الله غالب حکمت والا له طرفه.

مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَاۤ اِلَّا

مونږ چه کوم آسمانونه او زمکې پیدا کړي او کوم څه چه د دې په مینځ کښې دي پس پیدا

بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا عَمَّاۤ اُنْذِرُوْا

صحیح کار او مقرر وعده پاتې، او کوم خلق چه منکر دي هغوی چه ویره ورکړل واوري

مُعْرِضُوْنَ ۝ ٣ قُلْ اَرَءَیْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

(د قرآن نه) نو مخ اړوي. ته ووایه ګورئ (خبر راکړئ) څوک چه تاسو رابلئ ګڼه د الله نه

اللّٰهِ اَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ

سوا، ما ته خو اوښایئ هغوی څه پیدا کړي دي په زمکه کښې یا د هغوی څه

شِرْكٌ فِی السَّمٰوٰتِ ؕ اِیْتُوْنِیْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَاۤ

شراکت شته په آسمانونو کښې، راوړئ ما ته کتاب د دې نه مخکښې،

اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝ ٤ وَمَنْ اَضَلُّ

یا بو دلیل چه راچلیدلې وي (د مخکنو) د علم نه که چرې تاسو رښتونی یئ. او د هغه چا نه زیات ګمراه څوک

مِمَّنْ یَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا یَسْتَجِیْبُ لَهٗۤ

دی چه څه رابلي د الله نه سوا هغه څوک چه نه رارسیږي د ده آواز ته

اِلٰى یَوْمِ الْقِیٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ ۝ ٥ وَاِذَا

تر د قیامت د ورځې پورې او هغوی ته خبر نشته د دوی د رابللو. او کله چه

حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَآءً وَّكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ

راجمع شي خلق ، هغوی به وی د دوی دشمنان او وی به د دوی د عبادت نه

كٰفِرِيْنَ ⑥ وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ

منکر. او کله چه لوستل کیږی په دوی ته زمونږ خبرے ښکاره وائی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ⑦

منکر کافران ربنتیا خبرو (قرآن) ته کله چه دوی ته راغلے دا جادو دے ښکاره .

أَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَلَا تَمْلِكُوْنَ

آیا وائی دوی دا ئے جوړ کړیدے د ځانه ، ته ووایه که چرے ما دا د ځانه جوړ کړے وی نو تاسو ماته فائده

لِيْ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ

لشتی رارسولے د الله په مقابله کښے لږه شان هم ، هغه خبر دے ښه په کومو خبرو کښے تاسو لګیا یئی ،

كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ وَهُوَ الْغَفُوْرُ

هغه کافی دے حق ښودونکے زما او ستاسو په مینځ کښ ، او هغه دے بخښونکے

الرَّحِيْمُ ⑧ قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَا

مهربانه . ته ووایه چه څه نوے رسول نه یم راغلے او ما ته

أَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوْحٰى

معلومه نه ده څه کیږی ونکے دی ما سره او تاسو سره ، څه په هغے لاره روان یم کوم چه ما ته حکم

إِلَيَّ وَمَا أَنَا إِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ⑨ قُلْ أَرَءَيْتُمْ

کیږی او زما کار خو صرف وادے ویرول ښکاره . ته ووایه ښه ګورئی (خبر راکړئی)

إِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ

که چرے دا راغلے وی د الله د طرفنه او تاسو دا او نه منئی او ګواهی ورکړه

شَاهِدٌ مِّنْ بَنِيْ إِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ فَاٰمَنَ

یو ګواه د بنی اسرائیلو نه د یو هس غسے کتاب ، بیا هغه یقین وکړو

وَاسْتَكْبَرْتُمْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ⑩ ع

او تاسو تکبر وکړو، بیشکه الله هدایت نکوي ظالمانو ته ﴿۲﴾

نکات: ١ تمهید سره د ترغیب نه. ٢ توحید باندې عقلي دلیل. ٣ مطالبه د دلیل د مشرکانو نه. ٤ شکوی. ٥ شکوی. ٦ جواب شکوه او ضمناً اشاره په دلیل وحی باندې. ٧ دلیل وحی باندې د سوال جواب. ٨ زجر او رومبے نقلي دلیل.

موضح قرآن ف ١ یعني که اوس هم منع شوئ نو اوبه بخښلي شئ. ف ٢ مکے ته د یهودو یو عالِم د څه کار د پاره راغلے وو، کافرانو د هغه نه تپوس اوکړو، هغه اووئیل دے بیا (مکه) کښې د یو رسُول او کتاب راتلل مقرر دي او دا هم هغه رسُول معلومیږي.

تفسیر ٢ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ (الآیۃ): دا تمهید دے سره د ترغیب نه تنزیل الکتٰب مبتدا او من الله العزیز الحکیم خبر دے. دا عظیم الشان د عزتمند او لوئي مالک د بادشاهانو د بادشاه له طرفه نازل شوے دے چه د هغه هیڅ حکم او هیڅ یو فعل د حکمت نه خالي نه دے. نو دا اُومنئ او عمل پرے وکړئ.

٣ مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ: دا په توحید باندې عقلي دلیل دے. زمکه او اسمانونه او د دے په مینځ کښې ټول مخلوق مونږ هسے بے کاره بے فائدے نه دي پیدا کړي بلکه هر څیز مونږ د حق (توحید) ښکاره کولو د پاره پیدا کړیدي. ځکه چه د کائناتو ذره ذره د الله تعالیٰ په وحدانیت او قدرت کامله او حکمت بالغه او د هغه د کارسازئ په صفت باندې دلالت کوي. وفیہ من الدلالۃ علی وجود الصانع وصفات کمالہ وابتناء افعالہ علی حکم البالغۃ (روح ج ٢٦ ص ٦). د دے کائناتو هر څیز یوه انتها ده. دا کائنات د اظهار حق او د یو هولو او عبرت اخستلو د پاره پیدا کړے شویدي. او اخر د دے فنا کیدل دي، دا د همیشه قائم ساتلو د پاره نه دي پیدا کړے شوي. دیکښې د یهودو د قول: "لولا عُزیر لما خلقت السمٰوٰت والارض" او د نصارو قول: "لولا عیسٰی لما خلقت السمٰوٰت والارض" رد هم دے. دا رنګے د شیعه کانو د ځان نه جوړ شوے حدیث: "لولا علی لما خلقت السمٰوٰت" او موضوع حدیث: "لولاک لما خلقت الافلاک" هم د دے خلاف دے. الله تعالیٰ زمکه او اسمانونه د حق ښکاره کولو د پاره پیدا کړیدي. د لولاک لما خلقت الافلاک کچرے دا توجیه وکړے شي چه کچرے ستاسو خاتم النبیین جوړولو او په تاسو باندې د اخري کتاب نازلولو سره ستاسو په ذریعه د توحید مکمل کول او په ټولو دینونو باندې د حق اظهار مقصود نه وے نو بیا به مې هیڅ هم نه پیدا کول. نو معنیٰ به صحیح وي لیکن دا الفاظ بهر حال موضوع دي. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ عن العارف الرومي قدس سره. وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ

د زجر دے لیکن کافران دے کاڼه تو کښې غور نکوی او ددے عالم فنا کیدلو نه دوی تو د راتلونکی قیامت نه اعراض کوی دکوم نه چه دوی ویرولی شی۔

۴ه قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ (الآیة): دے آیت کښې دمشرکانو نه دَدوه قسمه دلیلونو مطالبه کړے شویده۔ اے مشرکانو! تاسو چه دَ الله تعالیٰ نه سوا چا ته آواز کوئ آیا دَ هغوی په الوهیت او دَ هغوی لائق دَعبادت کیدلو باندے تاسو سره څه عقلی یا نقلی دلیل شته؟ که وی نو هغه پیش کړئ۔ دَ عقلی دلیل مطالبه۔ اَرُوۡنِیۡ مَاذَا خَلَقُوۡا الخ: ما ته اوښایئ نو صحیح۔ هغوی دَ زمکے څهٔ حصه پیدا کړے ده یا دَ آسمان پیدا کولوکښې د هغوی څهٔ عمل دخل شته یعنی څهٔ اختیار ئے شته؟ چرے هغوی دَ یو څیز پیدا کولو نکی ندی نو دَ سجدے او عبادت لائق هم نه دی۔ نقلی دلیل دَ تیرو شوو کتابونو او انبیاء علیهم السلام سره۔ مطالبه: اِیۡتُوۡنِیۡ بِکِتٰبٍ الخ: چرے عقلی دلیل نشته نو دَ مخکنو کتابونو نه خو یوه حواله پیش کړئ یا دَ مخکنو علمونو نه یو عملی ثبوت پیدا کړئ چه دَ هغے نه دغیر الله دعبادت او دا بللو جواز پیدا کیږی:

والمراد نفی استحقاق آلهتهم للعبودیة علی اتم وجه (روح ج ۲۶ ص ۵)

ای لادلیل لکم لا نقلیا ولا عقلیا علی ذلک (ابن کثیر ص ۱۵۴ ج ۴)۔

۵ه وَمَنۡ اَضَلُّ: دا په تیر شوی آیت کښې دَ ذکر شوے مطالبے پوره کولو کښې دَنا کامئ ثمره او نتیجه ده۔ هر کله چه یو عقلی یا نقلی دلیل سره دا ثابته نه ده چه مشرکان کوم معبودانو لره دَ الله تعالیٰ نه سوا رابللی دوی آواز اوری او حاجتونه پوره کولی نو دَ هغے واضحه اوښکاره نتیجه دا ده چه هغه کس دَ ټولو نه لوئے ګمراه دے چه داسے معبودانو ته آواز کوی چه دَ قیامت تر ورځے پورے هم هغوی حاجت نشی پوره کولے بلکه دَ هغهٔ رابلونکی دَدُعاء آواز نه بالکل ناخبره وی۔ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ (الآیة): دَ رابلونکو دَ آواز نه دَ خیالی او ګمان کړے شوو معبودانو بے خبرئ او دَ هغوی په فعل باندے دَ هغوی دَ ناخوښئ یو دلیل دا هم دے چه د قیامت په ورځ به د حشر په میدان کښې کله چه ټول خلق جمع وی نو کوم مقبول بندګان دَ الله تعالیٰ چه په دُنیا کښې رابللی شویدی او عبادت ئے شوے هغوی به دَ رابلونکو او عبادت کونکو سخت خلاف وی۔ او رابلونکی به دروغژن وګرځوی او دَدوی دَعبادت نه به دَ بیزارئ او برائت اعلان وکړی:

مکذبین قائلین تبرأنا الیک ما کانوا ایانا یعبدون (مظهری ج ۸ ص ۳۹۴)

تائید: ۱: فَکَفٰی بِاللّٰهِ شَهِیۡدًا بَیۡنَنَا وَبَیۡنَکُمۡ اِنۡ کُنَّا عَنۡ عِبَادَتِکُمۡ لَغٰفِلِیۡنَ ۝ (یونس ع ۳)۔ ۲: وَیَوۡمَ یَحۡشُرُهُمۡ جَمِیۡعًا ثُمَّ یَقُوۡلُ لِلۡمَلٰٓئِکَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِیَّاکُمۡ کَانُوۡا یَعۡبُدُوۡنَ ۝ قَالُوۡا سُبۡحٰنَکَ اَنۡتَ وَلِیُّنَا مِنۡ دُوۡنِهِمۡ بَلۡ کَانُوۡا یَعۡبُدُوۡنَ الۡجِنَّ اَکۡثَرُهُمۡ بِهِمۡ مُّؤۡمِنُوۡنَ ۝ (سبا ع ۵)۔

۳: اِنۡ تَدۡعُوۡهُمۡ لَا یَسۡمَعُوۡا دُعَآءَکُمۡ وَلَوۡ سَمِعُوۡا مَا اسۡتَجَابُوۡا لَکُمۡ و

یوم القیٰمة یکفرون بشرککم. (فاطر- ع ۲)

۶ وَاِذَا تُتْلٰی (الآیة): دا شکوه ده. کله چه مشرکانو ته دَ قرآن واضح او روښانه ایتونه لوستلو سره او وُلی شی چه ټول حق او رښتیا دی او دَ کوم مثل پیش کول چه دَ بشر دَ طاقت نه بهر دی نو دوی وائی دا خو ښکاره جادو دے یعنی دوی په ایتونو کښ غور او فکر کولو سره په هغے دَ پوهیدلو کوشش نکوی بلکه اوریدو سره بغیر دَ فکر کولو نه خالص دَ ضد او عناد په وجه هغے ته دَ جادو نوم ورکوی. انهم لرویتهم اول ما یتلی علیهم بل بادروا اول سماعه الی نسبته الی السحر عنادًا وظلمًا. (بحر ج ۸ ص ۵۶).

۷ اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ: دا هم شکوه ده او دیکښ دَ مشرکانو دَ رومبنی نه هم زیات خراب قول ذکر شوے دے. یعنی دا جادو هم نه دے بلکه د الله پاک ذات باندے افتراء ده. دیکښ محمد (صلی الله علیه وسلم) دَ الله پاک ذات ته داسے خبرے منسوب کړیدی چه هغه نه دی فرمائیلے. عیاذًا بالله. قُلْ اِنِ افْتَرَیْتُهٗ الخ: دا دَدے شکوے جواب دے او ضمنًا دلیل وحی طرفته اشاره ده یعنی څه چه څه وایم دځان نه نه وایم بلکه وحی سره ئے وایم. که بالفرض ما په الله پاک باندے افتراء کړے وی نو هغه به ما ته ضرور عذاب راکړی لیکن تاسو کښ به څوك هم دَ هغه دَ عذاب نه بچ کړے شی نو آیا څه قصد او ارادے سره دَ هغه عذاب ته دعوت ورکوم حال دا دے چه هیڅوك هم دداسے اقدام همت نشی کولے هر کله چه دیو طرفه هم دَ مد دَ څه توقع نه وی. ای لاتقدرون ان تردوا عنی شیئا من عذاب الله فکیف اجترئ علی الله واعرض نفسی للعقاب من غیر توقع نفع ولادفع ضرر من قبلکم (مظهری ج ۸ ص ۳۵۱)

۸ هُوَ اَعْلَمُ: په کومه جهگړه کښ چه تاسو پریوتلی یئ یعنی هغے سره چه ستاسو کوم مقصد دے هغه الله پاك ته ښه معلوم دے. قرآن ته جادو یا افتراء وئیل دا خو محض خبرے دی، دے سره ستاسو مقصد تکذیب دے. څما او ستاسو په مینځ کښ الله تعالیٰ کافی دے او غوره شاهد دے چه څما دَ صداقت او ستاسو دَ تکذیب گواهی ورکوی. باقی پاتے دا خبره چه هغه منکرینو ته فورًا عذاب ولے نه ورکوی نو دا دَ هغهٔ دَ بخشش او رحمت شان دے چه هغه مجرمانو ته مهلت ورکوی چه هغوی ته دَ غور او فکر زیاته موقعه په لاس ورشی. دَ ډیر انکار نه پس هم چه څوك ئے اومنی او رښتونے توبه اوکاږی نو الله تعالیٰ دَ هغهٔ گناهونه معاف کوی او خپل رحمت ورباندے کوی.

۹ قُلْ مَا كُنْتُ (الآیة): ما څه نوے خبره نه ده راوړے، نه دَ مخکنو پیغمبرانو علیهم السلام دَ تعلیماتو نه خلاف څه څیز ما پیش کړے دے. ما هغه دعوت پیش کړیدے کوم چه دَ پیغمبرانو دعوت ؤو یعنی لست مبتدعا لامر یخالف امورهم بل جئت بما جاءوا به من الدعوة الی التوحید (روح ج ۲۶ ص ۸).

وَمَا اَدْرِیْ مَا یُفْعَلُ بِیْ الخ: دا په دلیل وحی باندے دَ سوال جواب دے. سوال دا ؤو

چه کچرے تاسو باندې وحی راځئ نو مونږ ته او بنا یئ چه مونږ سره څهٔ کیدونکی دی؟ نو جواب ورکړے شو چه ما ته خو تر اوسه پورے دَ خپل ځان بارہ کښې هم علم نشته چه په دُنیا کښې ما سرهٔ څهٔ کیدونکی دی ځکه چه دے بارہ کښې تر اوسه پورے ماته وحی نهٔ دهٔ راغلے۔ نمیدانم چه کرده شود با من و شما در دنیا (فتح الرحمٰن)

عن الحسن وما ادری ما یفعل بی ولا بکم فی الدنیا (قرطبی ج ۱۶ ص ۱۸۶) قال ابو جعفر وهٰذا اصح قول واحسنه لا یدری صلی الله علیه وسلم مایلحقه و ایاهم من مرض وصحة ورخص وغلاء وغنی وفقر۔ (ابن جریر)

نبي علیه السلام ته خپل دَ آخرت انجام خو په یقین سره معلوم وُو۔ په دے وجه دلته هغه مراد نهٔ دے، عن الحسن اما فی الاخرة فمعاذ الله تعالٰی، قد علم صلی الله علیه وسلم ما یلحقه الجنة (روح ج ۲۶ ص ۹)۔

اِنْ اَتَّبِعُ الخ: څهٔ دَ خپل طرفه هیڅ نهٔ وایم هر څهٔ چه وایم یا کوُم هغه دَ وحی رَبّانی په اتباع کښې کوُم۔ او زما کار دا دے چه څهٔ تاسو ته دَ الله پاک پیغام اُورسَوُم او نهٔ منونکو لره دَ هغهٔ دَ عذاب نه اوویرَوُم۔ دَ دے تقریر نه معلومه شوه چه دا ایت محکم دے او دَ دَهٔ منسوخ منلو ته ضرورت نشته۔ دَ منسوخ منلو ضرورت هغه صورت کښې مخے ته راتلے شی چه دَ ایت نه دَ آخرت اُمور مراد وی لکه څنګه چه دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه یو روایت شته لیکن هغه قول دَ اکثرو محققینو په نزد دَ روایت او درایت دواړو اړخونو سره ضعیف دے۔ (کبیر)

۱۰ قُلْ اَرَءَیْتُمْ (الایة)، دا زجر دے او دَ بنی اسرائیلو یو عالم سره دَ اَولنی دلیل نقلی تفصیلی بیان دے۔ اِنْ کَانَ دَ شرط جزاء محذوف دهٔ فمن اضل منکم (روح) او دَ شاهِدٍ بنی اسرائیل نه عبد الله بن سلام رض مراد نهٔ دے ځکه چه هغهٔ په مدینه کښې اسلام راوړے وُو او دا سورت مکی دے بلکه دَ دے نه مراد دَ حبشے بادشاه دے چه په خپل ملک کښې مسلمان شوے وُو یا هغه یهودی مراد دے چه مکے ته دَ څهٔ کار دپارهٔ راغلے وُو او په نبي علیه السلام باندې ئے ایمان راوړے وُو لیکن دَ جمهورو مفسرینو په نزد دَ شاهد نه مراد عبد الله بن سلام دے او دا ایت مدنی دے اګرچه باقی ټول سورت مکی دے۔ (روح، قرطبی، ابن کثیر، مدارک وغیره) یعنی دا خبر راکړئ چه که دا قران په حقیقت کښې دَ الله پاک له طرفه نازل شوے وی او بیا هم تاسو دَ دے نه انکار اوکړئ او دَ بنی اسرائیلو عالم هم دَ دے ګواهی ورکړه او ایمان ئے راوړهٔ لیکن تاسو دَ دے دَ منلو او په دے باندې دَ ایمان راوړلو نه غرور او تکبر کوئ نو تاسو خپله اووایئ چه ستاسو نه به لوئے ګمراهان نور څوک وی؟ ځکه چه تاسو محض دَ ضد او عناد په وجه انکار کوئ او الله تعالٰی دا سے ظالمانو او بے انصافو ته دَ هدایت قبلولو توفیق نهٔ ورکوی ۞

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا

او وویل هغه کافرانو ایمان والو ته که چرته دا دین بهتر وے

مَّا سَبَقُونَا إِلَيْهِ ۚ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ

نو دوی به نه وو مخکښې شوی زمونږ نه هغه ته، او هر کله چه دوی په سمه لار رانغلل هغه (قرآن) سره نو اوس به وائی

هَٰذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ ⑪ وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ

دا دروغ دی ډیر پخوانی ـ او د دهٔ نه مخکښې کتاب الله د موسیٰ ؑ وو

إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ وَهَٰذَا كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا

لاره ښوونکے او رحمت ، او دا کتاب دے چه تصدیق نے کوی په عربی ژبه

عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ ⑫

کښې چه ډارهٔ چه وویروی گنهگاران ، او زیرے نیکی کوونکو د پاره ـ

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا

بیشکه چا چه هغه وویل رب زمونږ الله دے بیا ثابت قدم پاتے شول نو نشته

خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ⑬ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ

ویره په هغوی باندې او نه به هغوی غمژن وی ـ دغه خلق د جنت والا

الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ⑭

دی ، همیشه به وسیږی په هغې کښې ، بدله د هغه کارونو کوم چه نے کول ـ

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا ۖ حَمَلَتْهُ

او مونږ حکم وکړو انسان ته د هغه خپل مور پلار سره د نیکئی ، په خیټه کښې وساتهٔ هغه لره

أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ

مور تکلیف سره او و نے زیږولو هغه تکلیف سره ، او په خیټه گرځول د هغهٔ او د تی نه بریکول د هغهٔ

ثَلَاثُونَ شَهْرًا ۚ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ

دیرش میاشتے دی ، تر دے چه کله اورسیدهٔ خپل قوت ته او اورسیدهٔ

أَرْبَعِينَ سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ

څلوېښتو کالو ته وسے وئیل اے ځما ربه! ځما په قسمت کښې کړه چه ځه شکر ادا کړم

نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ

ستا د احسان کوم چه تا په ما کړے دے ، او ځما په مور پلار باندې او دا چه

أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي ۚ

اوکړم نیک کار چه ته پرے راضی شے او ما ته را کړے نیک اولاد ،

إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُولَٰئِكَ

ما توبه اوویستله تا ته او ځه یم د حکم منونکو نه ف۲ . دغه

الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجَاوَزُ

خلق دی د چا نه چه مونږ قبلوو د ښه نه ښه کارونه چه ئے اوکړل او معاف کوو مونږ

عَنْ سَيِّئَاتِهِمْ فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ الصِّدْقِ

بدئ د هغوی او سیدونکی د جنت په خلقو کښې رېښتونے وعده

الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾ وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ

کومه چه هغوی سره کیدله . او چا چه ووئیل خپل مور پلار ته ف۵

أُفٍّ لَكُمَا أَتَعِدَانِنِي أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ

زه بیزاره یم ستاسو نه آیا ما سره وعده کوئ چه ځه به را وېستلے شم د قبر نه ف۱ او تیرے شوې دی

الْقُرُونُ مِنْ قَبْلِي وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ اللَّهَ وَيْلَكَ

ډیرے ډلے ځما نه مخکښې او هغه دواړه ف۲ فریاد کوی الله ته چه لے خرابی ده تا له

آمِنْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَٰذَا إِلَّا

ایمان راوړه ، بیشکه د الله وعده رېښتونے ده ، پس وائی دا نقول

أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ

قصے دی د مخکنو ف۳ دا هغه خلق دی ف۱ چه په دوی ثابته شوه

الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ

خبره دعذاب يو ځاى د نورو ډلو سره چه تيرې شوې وې د دوى نه مخكښ د پيريانو

وَالْاِنْسِ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۸﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ

او انسانانو نه، بيشكه دوى وو په نقصان كښ پريوتلي۔ او هر يو شي له وي پاره پيړ درجې دي

مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾

د عملو ركړو عملونو كله موافق او د دې پاره چه پوره وركړي دوى ته د عملونو د دوى او په دوى به ظلم نه كيږي ۔

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ اَذْهَبْتُمْ

او په كومه ورځ چه برابر او ستلے شي شله كافران د اور غاړے ته، ضائع كړے تاسو

طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ

خپل مزے د دنيا په ژوند كښ او نفع مو واخستله د هغې ،

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ

اوس نن ورځ به سزا بيا مومئ د رسوا كوونكي عذاب بدله د هغې چه تاسو

تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ

كوم غرور كولو په زمكه كښ ناحقه او د هغې كوم چه تاسو

تَفْسُقُوْنَ ﴿۲۰﴾ ع

نافرماني كوله ف ۳ ۔

نكات : ۱ شكوى۔ ۲ دويم نقلي دليل۔ ۳ بشارت اُخرويه۔ ۴ بشارت اُخرويه سره متعلق۔ ۵ زجر سره د تخويف اُخروي نه۔ ۶ د مؤمنانو او كفارو دواړو ډلو سره متعلق۔ ۷ تخويف اُخروي۔

موضح قرآن ف د پخوا نئي زمانے يعني خلق هميشه دا سے خبرے كوي۔ ف ۲ په خپته كښ پاتے كيدل او دتي نه پريكول ديرش مياشتو كښ وي او كم ماشوم قوى او صحت مند وي نو په يو ويشت مياشتو كښ تے رودل پريږدي او نهه مياشتے د حمل دي۔ دا ايت د چا د حال بيان نه دے۔ نبي ﷺ د مور پلار په حق كښ دعا نه وه كړے، ابوبكر رضي الله عنه د خلو يښتو

کالو په عمر کښې مسلمان شو او د هغهٔ مور پلار هم مسلمانان شول. دا خبره بل یو صحابي ته نهٔ ده حاصله شوې لیکن پلار ئې هغهٔ وخت مسلمان نهٔ وو نو دا احوال فرضي دي، یعنې خوش قسمته خلق داسې وي. **ف۳** دا د هغهٔ حال دے څوك چه کافر دے او امور پلار ورته د ایمان خبره کوي لیکن دے نهٔ پوهیږي. **ف۴** د دے جنتیانو هم ډیرے درجے دي (په اعتبار د اعمالو) او دغه شان د دوزخیانو هم ډیرے درجے دي. **ف۵** کوم خلقو چه آخرت نهٔ غوښتلو صرف دُنیا ئې غوښتله هغوی ته د خپلے نیکئ بدله په دُنیا کښې ملاؤ شوه.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنې د قبر نه. **ف۲** یعنې هیڅوك د هغوی نه واپس نهٔ دے راغلے. **ف۳** مترجم وائي دا تصویر (نقشه) ده د نیك بخت او د بد بخت، د الله حق او د مور پلار حق په ځائے راوړي او په مختلف قسمه انعاماتو حصه مومي و نکي کړي. او هغه په ټولو امورو کښې رجوع الله پاك ته کوي او بد بخته کفر او د مور پلار نا فرماني جمع کوي او د آخرت نه انکار کوي او د نیك بخت مثال په حضرت ابوبکر رضي الله عنه باندې منطبق کیږي او د هغهٔ نه علاوه په نورو هم. والله تعالیٰ اعلم.

تفسیر

۱۱ وَقَالَ الَّذِيْنَ (الآية): دا هم شکوٰی ده. لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اي في شانهم (روح). مشرکان په دے باطل خیال کښې ګرفتار وو چه دیني برکات، دُنیوي عزت او شان د مال دولت تابع وي. د دے وجے نه به دوی د ایمان والا غریبانانو باره کښې ویل چه که په قرآن باندې ایمان راوړل څهٔ د خیر او برکت کار وے نو دے غریبانانو به د دے په قبلولو کښې زمونږ نه مخکښې ولے نهٔ وے کړے بلکه مونږ به دد وی نه مخکښې هغه قبول کړے وو. وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ الخ: او دوی چونکه په قرآن باندې د ایمان راوړلو نه محرومه کړے شوي دي، د دے وجے نه وائي چه دا څهٔ نوے خبره نهٔ ده بلکه پخواني دروغ دي یعنې د مخکنو خلقو جوړ شوے خبرے دي چه هغه محمد (صلی الله علیه وسلم) خپلے کړي دي.

یعنې اختلق هذا اهل الزمان السابق ثم تلقاه منهم محمد (مظهري ج ۹ ص ۴۰۱)

۱۲ وَمِنْ قَبْلِهٖ (الآية) دا دویم تفصیلي نقلي دلیل دے د تورات نه. دا د توحید مسئله څهٔ نوے مسئله نهٔ ده چه قرآن بیان کړے ده بلکه د دے نه مخکښې د موسیٰ علیه السلام کتاب تورات کښې هم دا مسئله ذکر کړے شوے وه چه پخوانۍ زمانه کښې د دین رهنما وو او د الله تعالیٰ د رحمت باعث وو لکه چه ارشاد ئې فرمائیلے دے: وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا (بني اسرائيل ع۱). او دا کتاب یعنې قرآن هم د توحید مسئله او د دین په نورو اصولو کښې د تورات تصدیق کوي او په فصیح او بلیغ عربي ژبه کښې مشرکان د عذاب نه ویروي او مؤمنانو ته د جنت زیرے ورکوي.

۳۳ إِنَّ الَّذِينَ (الآیة): دا بشارت اُخروی دے. کومو خلقو چه د الله تعالیٰ د وحدانیت اقرار وکړو او ټول عُمر په هغې باندې ټینګ پاتے شو او د هغې عملی تقاضے ئے پوره کړے، د قیامت په ورځ به دوی د هر قِسم ویرے او غم نه محفوظ وی. د دوی د استوګنے ځائے به جنت وی او دوی به دغه جنت کښ همیشه وسیږی. دا انعام او اکرام به دوی ته د ایمان او عمل د جزاء په طور حاصل وی.

۴۴ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ: دا هم بشارت اُخروی کښ داخل دے. په انسان باندې د مور پلار هم حق دے. کچرے یو انسان د مور پلار په وینا باندې په ځوانئ کښ یلکه د ځلوښتو کالو په عُمر کښ هم توبه اوباسی د شرک نه او توحید قبول کړی نو هم به ئے توبه قبوله وی او په جنتیانو کښ به شامل کړے شی. انسان ته مونږ د حُسنِ سلوک حکم ورکړو او بیا د مور خو ډیر زیات حق دے ځکه چه هغه د حمل په ورځو کښ د بچی په وجه ډیر زیات تکلیف اوچتوی او بیا د هغې نه پس دوه نیم کالو پورے هغه ته تے ورکوی او هغه په لاسونو کښ راوچتوی او خوراک ورکوی: وقال ابو حنیفة رحمه الله المراد به الحمل بالاکف. (مدارک ج ۴ ص ۱۰۸).

د امام ابُو یُوسف او امام محمد رحمهما الله په نزد د حمل اصطلاحی معنیٰ مراد ده او په دیرش میاشتو کښ کمه موده د حمل شپږ میاشتے او اکثر موده د رضاع (رېئ ورکولو) دوه کاله ذکر دی. (مدارک) د دے بناء په یو خبر واحد ده چه د حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت شوے دے. او د هغوی په نزد دلته حمل او رضاع د دواړو موده د دیرش میاشتو مراد ده چه د متبادر نه خلاف ده. د حضرت امام ابُو حنیفه رحمه الله قول راجح دے. حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ: د دے نه روستو زوئ چه پاتے شو تر دے چه ځوانئ بلکه د ځلوښتو کالو عُمر ته اُورسیده نو اوس د الله تعالیٰ نه داُ دعا غواړی چه اے ځما پروردګاره ما ته همت راکړه او توفیق راکړه چه زهٔ ستا د دے نعمت شکر ادا کړم کوم چه تا په ما باندې کړے دے او ځما په مور پلار باندې. دغسے ما ته توفیق راکړه چه نیک کار او کړم چه ته پرے راضی شے او ځما اولاد نیک او صالح اوګرځوه. زهٔ اوس ستا طرفته رجوع کوم او زهٔ د فرمانبردارو نه یم. أُولَٰئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ (الآیة): دا هسے خلقو نیک اعمال مونږ قبلوو او ګناهونه ئے معاف کوو او جنتیانو سره ئے یو ځائے کوو. دا یوه رښتونے وعده ده چه د دوی سره کولے شی.

۵۵ وَالَّذِي قَالَ: دا زجر دے سره د تخویف نه. د مؤمن ځوی د ذکر نه پس د مور پلار د هغه ځوی ذکر دے چه د مور پلار په وینا ایمان نهٔ راوړی او په کفر او شرک باندې قائم اوسیږی. د دینه معلومیږی چه مخکښ د هغه چا ذکر دے چه د مور پلار په وینا باندې ئے ایمان راوړو یعنی یو ځوئے خو هغه دے چه د مور پلار په وینا ئے ایمان راوړو او یو هغه دے چه د مور پلار د شفقت نه

ډلګ وعظ او نصیحت په جواب کښې ډېره زیاته ګستاخئ او بې ادبئ طریقه اختیار کړه او وې وئیل تاسو څهٔ څو مره په تکلیف کړم، تاسو وایئ چه د مرګ نه پس به بیا ژوندي کولے شم حال دا دے چه زمانه مخکښې ډېر زیات د زمانے خلق تیر شویدی خو تر ننه پورې یو مړے موږ او نهٔ لیدهٔ چه را ژوندے شوی وی۔
وَهُمَا يَسْتَغِيثٰنِ اللّٰهَ: یو طرفته د یو بے ادبه ځوی معاند انه خبرې اَورې دی لیکن بل طرفته مور پلار ډېرے همدردئ سره هغه دایمان طرفته رابلی او د الله تعالیٰ نه دُعا غواړی چه هغهٔ ته د هدایت توفیق ورکړی او هغهٔ ته مسلسل دایمان دعوت ورکوی چه د الله تعالیٰ وعده رښتونے ده او قیامت به ضرور راځی لیکن هغه وائی چه دا د قیامت وعده د مخکنو خلقو د ځانه جوړه کړے شوی خبرې دي وه ده چه دوې هیڅ حقیقت نشته۔
١٦ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ (الآیة): دا هغه خلق دی چه د الله تعالیٰ فیصله پرے ثابته شویده چه دوی د جهنم خشاک او کرخوولے شی د پیریانو او انسانانو هغه شرکش او عنادګرو اُمتونو سره کوم چه مخکښې تیر شویدی۔ دا خلق ډېره لویه خساره او تاوان کښې دی۔ فِيْٓ اُمَمٍ ای مع اُمَمٍ۔ (قرطبی) حضرت شیخ قدس سرهٗ فرمائی د ظرف متعلق یه خلون مقدر دے۔ د الله تعالیٰ د فیصلے نه مراد هغه ارشاد دے چه ابلیس ته ئے او فرمائیل: لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ (روح).
١٧ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ: دا دواړو ډلو سره متعلق دے۔ د مؤمنانو او کافرانو نه هر یو دپاره به د هغوی د اعمالو مطابق د خیر او شر مختلف درجات او مرتبے وی د جنت درجے به هم د اعمال حسنه د زیاتی او کمی مطابق او چتے او بنکته وی۔ دا رنګے د عذاب درجے به هم د ګناهونو د زیاتی او کمی مطابق مختلفے وی۔ د درجاتو او طبقاتو تفاوت به عدل او انصاف سره وی چه هر یو ته به د خپل عمل مطابق جزاء او سزا ورکړے شی او هیچا باندې به زیاتے ونشی او نهٔ به د چا حق تلفی اُوشی۔
١٨ وَيَوْمَ يُعْرَضُ (الآیة)، تخویف اُخروی دے۔ د قیامت په ورځ چه کله کافران او مشرکان په دوزخ کښې غورځولے شی نو هغوی ته به او وئیلے شی چه تاسو د عیش عشرت ټول خوندونه او مزے د دنیا کښې حاصلے کړیدی او د الله تعالیٰ د احکامو نه باغیان شوی وئ او پوره پوره فائدے تاسو اخستے دی۔ د دې وجے نه اوس په آخرت کښې ستاسو دپاره راحت او مزے نشته، دُنیا کښې تاسو د حق قبلولو نه تکبر کړے وو او محض د شیطانی وسوسو او باطلو شبهاتو تابعداری مو کړے وه او د توحید نه منکر شوی وئ او د الله تعالیٰ نافرمانی او فسق و فجور ته مو ملا تړلے وه۔ د دے وجے نه نن تاسو ته د هغه بد عملو نو په بدله کښې د ذلت او رسوایئ نه ډک عذاب په شکل کښې بدله درکولے شی ۞

وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ۭ اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ بِالْاَحْقَافِ

او یاد کړه ته ورور د عاد، کله چه یې اویرولو خپل قوم په احقاف (ریګستان) کښې

وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ

او تیر شوی وو ویرونکی د هغه نه مخکښې او

خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

روستو وروسته چه بندګي مکوئ د هیچا د الله نه سوا، زه تاسو باندې ویریږم

عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَاْفِكَنَا عَنْ

د عذاب د لوی ورځې نه وې ویل ایا ته راغلې یې موږ ته چه واړوې موږ د زموږ

اٰلِهَتِنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٢٢﴾

د معبودانو نه، نو راوله په موږ باندې هغه (عذاب) چه ته یې وعده کوې که چیرې ته ریښتینو نه یې.

قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۡ وَاُبَلِّغُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ

وې ویل دا خبر خو الله ته دے او رسوم تاسو ته هغه څه چه زه په لاس رالیږلے

بِهٖ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ

شوی یم لیکن زه وینم تاسو لره خلق نا پوهه. بیا چه کله ئے ولیدله

عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ

وریځ له چه مخے ته راغله د دوی د وادیانو، وې ویل دا وریځ به په

مُّمْطِرُنَا ۭ بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا

موږ باران اوروی، نو هیڅ نشته دا خو هغه څیز دے چه تاسو جلتي سره غوښتلو، هوا ده چه په کښې

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۢ بِاَمْرِ رَبِّهَا فَاَصْبَحُوْا

عذاب دے دردناک. هلاکوی هر څیز لره د خپل رب حکم سره بیا دوی صبا کړ زیل

لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٥﴾

چه هیڅوک په نظر نه راتلل سوا د دوی د کورونو نه، دارنګے موږ سزا ورکوو ګنهګارانو ته.

وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ وَجَعَلْنَا

او مونږ طاقت ځواک ورکړے وُو دوی ته د هغه څیزونو چه ستاسو په طاقت کښې نشته او مونږ ورکړی وُو

لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ

دوی ته غوږونه او سترګے او زړونه، بیا په کار را نغله د دوی

سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ

غوږونه او نه سترګے او نه زړونه په هیڅ څیز کښې

اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا

ځکه چه انکار به ئے کولو د الله د خبرونه او را النه شوه په دوی باندے هغه خبره

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝۲۶ ع

چه دوی ورپورے پټوقے کولے۔

نکات: ۱۔ دریم دلیل نقلی تفصیلی۔ ۲۔ التفات (خطاب) اهلِ مکه ته۔

موضح قرآن ف یعنی حضرت هود علیه السلام عادیانو لره وویرول۔ احقاف یوه ضلع ده په یمن کښې۔ د دے معنیٰ ده د شګے ډیرګئی۔

ف۲ دوی ته مونږ زړونه، غوږونه او سترګے ورکړے وے یعنی د دُنیا په کار کښې هوښیاران وُو، هغه عقل او هوښیارتیا دوی ته را نغله چه په کښې د اٰخرت فائده وی۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د هر طرفنه ۱۲

تفسیر ۱۹ وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ: دا دریم دلیل نقلی تفصیلی دے د حضرت هود علیه السلام نه سره د تخویف دُنیوی۔ اَلْاَحْقَافِ جمع د حقف ده چه معنیٰ ئے ده د شګے ډیرګئی۔ قوم عاد د شګو په ډیرګو باندے اوسیدل۔ حضرت هود علیه السلام خپل قوم ته د توحید پیغام اُورسولو او هغوی ئے د الله د عذاب نه اُویرول۔ د هود علیه السلام د قوم نه مخکښې او روستو چه څومره پیغمبران راغلل ټولو خپل خپل قوم ته دا دعوت ورکړو: اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ، چه د الله نه سوا هیچا ته په حاجتونو کښې غائبانه آواز مکوئ۔ که چرے د توحید پیغام اُونه منئ نو د ډیر لوئے او دردناک عذاب خطره ده۔

۲۰ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا: د قوم سرکشه خلقو ډیر عناد او سرکشئ سره جواب ورکړو

چه اے هُود ! آیا ته مونږ ته زمونږ د معبودانو نه لرے کولو د پاره راغلے یې ؟ ته بس واوره مونږ دوی هیڅکله نه پریږدو او د کوم عذاب نه چه ته مونږه ویروے، هغه راوله، که رښتیا وی نو په مونږه ئے راوله، روستوالے ولے کوے ؟ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ (الآیة) : هود علیه السلام اوفرمایل عذاب راوستل ځما په اختیار کښ نه دی، ما ته خو دا هم معلومه نه ده چه عذاب به کله راځی، د هغے مقرر وخت صرف الله پاک ته معلوم دے خو ځما کار دا دے چه ځه د الله تعالیٰ پیغام تاسو ته اورسوم، هغه ما اورسولو لیکن تاسو داسے ناپوهه یئ او د جاهلانو پشان خبرے کوئ او ځما نه داسے مطالبه کوئ چه نه خو ځما په فرائضو کښ شامله ده او نه ځما په اختیار کښ ده :

شأنكم الجهل ومن اثار ذلك انكم تقترحون على ماليس من وظائف الرسل من الاتيان بالعذاب۔ (روح ج ۲۶ ص ۲۵)۔

۲۴ فَلَمَّا رَاَوْهُ، کله چه د عذاب وخت راغے او د تورے وریځے په صورت کښ د هغے اثار ښکاره شول او وریځ د هغوی په وادئ یا ښار را زوړنده شوه نو هغوی ډیر زیات خوشاله شول حکه چه ډیره زمانه باران نه وو شوے. د دے وجے نه چه هغوی وریځو ته وکتل وے وئیل چه دا وریځ راغلے ده او ښه به باران وی. بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ : نو زبان حال هغوی ته ووئیل، نه، نه ! دا د باران ورولو د پاره نه ده راغلے بلکه د دے وریځو کښ هغه عذاب دے چه د الله تعالیٰ قهر او عذاب د ځان سره راوړئ چه د الله په حکم سره به هر شیز هلاک او تباه کړی. نو هغوی داسے ختم کړے شو چه د هغوی د کورونو نه سوا هیڅ شیز هلته په نظر نه راتللو، همدا رنګے مونږ مجرمانو ته سزا ورکوو. د هود علیه السلام په قوم باندې چه کله عذاب راغے نو هغوی چه کوم باطل معبودان رابلل، هغوی ته هیڅ هم د دوی مدد اونکړو او د الله تعالیٰ د عذاب نه ئے خلاص نکړل.

۲۵ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ (الآیة) : دا د اهل مکه طرفته التفات دے. اِنْ نافیه دے. اے د مکے اوسیدونکو ! د هود قوم ته چه مونږ کوم قوت او د دُنیا دولت ورکړے وو او کوم شان وشوکت چه مو ورکړے وو هغه مونږ تاسو ته نه دے درکړے، هغوی ستاسو نه زیات طاقتور او مالدار وو. مونږ هغوی ته د اوریدو د پاره غوږونه، لیدلو د پاره سترګے او پوهیدلو د پاره زړونه ورکړل لیکن د دے نعمتونو نه هغوی ته هیڅ فائده حاصله نشوه حکه چه په غوږونو ئے حق خبره وانوریدله او په سترګو ئے د الله تعالیٰ د قدرت او وحدانیت تکوینی دلائلو ته په غور سره اونه کتل او زړونه ئے د الله تعالیٰ په معرفت حاصلولو کښ استعمال نکړل. د دے وجے نه د دے ټولو قوتونو باوجود هغوی د ایمان

دولت حاصلولو نه محرومه شول او د الله تعالیٰ د ایتونو نه ئے انکار اوکړو
چه د هغې نتیجه دا شوه چه کوم عذاب پورے دوی ټوقې کولے اخرکار په هغې
کښې راګیر شول او سره هلاک کړے شول، ستاسو انجام به هم
دغه شان وی ۞

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى وَصَرَّفْنَا

او مونږ هلاک کړیدی کلے څو مره چه ستاسو نه ګیرچاپیره دی کلی او د قسم قسم نه اوختلو سره مونږ

الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ

ایتونه اوښکاره کړل دې دوی ته خبرې دے دپاره چه دوی واپس راشی ـ بیا ولے امداد اونه رسیدلو دوی ته د دغه خلقو طرف

اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ۭ بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ

کوم چه ئے نیولی وو د الله نه سوا د لوئے درجے موندلو دپاره، هیڅوک نشته ورک شو د دوی نه

وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَاِذْ صَرَفْنَآ

او دا دروغ د دوی چه په خپلو زړونو کښې ئے جوړول ما او څۀ وخت چه مونږ راوګرځول

اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ فَلَمَّا

تا ته یو ټولے د پیریانو نه تا له اوریدل ئے شروع کړل د قرآن، بیا چه کله

حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ

هلته ورسیدل وے ویل چپ شئ، بیا چه کله ختم شو واپس شول خپل قوم ته

مُّنْذِرِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ

ویروونکی وا ـ وے ویل اے قومه زمونږه! مونږ واوریدو یو کتاب چه نازل شوید ے

مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ

د موسیٰ ؑ نه روستو تصدیق کوونکے د ټولو مخکښو کتابونو دے، لار ه ښائی

اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۰﴾ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا

ریښتونی دین ته او یو ے نیغ لارے ته ما اے قومه زمونږه! اومنئ

دَاعِيَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَ

الله طرفته بلونکی او یقین پرے وکړئ چه وبخښی تاسو ته څښی گناهونه ستاسو او

يُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳۱﴾ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ

خلاص کړی تاسو ذ یو دردناک عذاب نه. او څوک چه د الله ذ بلونکی بلنه

اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ

اونه منی نو هغه به نه وی عاجزه کونکی به تیختنه سره زمکه کښ (الله لره) او نه به وی هیڅوک هغه لره د الله نه سوا

اَوْلِيَآءُ ۭ اُولٰۗىِٕكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ

مددګار، دغه خلق گمراه دی ښکاره ۳۵ آیا دوی نه وینی ۳۶ هغه الله

اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ

چا چه پیدا کړیدی اسمانونه او زمکے او ستړے نه شو

بِخَلْقِهِنَّ بِقٰدِرٍ عَلٰٓي اَنْ يُّحْيِۦ الْمَوْتٰى ۭ بَلٰٓي اِنَّهٗ

د دے په پیدا کولو کښ هغه قدرتناک دی چه ژوندی کړی مړو لره ؟ ولے نه (قادر) هغه

عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هر څه کولے شی - او کومه ورځ چه به وړاندے کړے شی ۳۷ کافران

عَلَي النَّارِ ۭ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ۭ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ۭ

اور ته ، آیا دا (عذاب) رښتیا نه دی ، وائی به ولے نه قسم دے زمونږ په رب

قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾ فَاصْبِرْ

او به وائی پس وڅکئ عذاب په دے وجه د کوم نه چه تاسو منکر کیدئ - پس ته صبر کوه

كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ

څنګه چه صبر کړی ؤ د همت والو ۳۸ رسولانو او تلوار مه کوه د دوی په

لَّهُمْ ۭ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوْٓا

معامله کښ، دا خلق چه کومه ورځ ۳۹ وبه وینی هغه شیز د کوم په حقله چه دوی سره وعده ده لکه چه دنیا کښ نه وو تیر کړے

إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ ۚ بَلَاغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا

دوی (په دنیا کښې) لیکن یو ساعت ملا د ورځې، دا رسول دی اوس به هغه هلاک کیږی ی کوم

الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٣٥﴾ ع

خلق چه نافرمانه وی ف۴

نکات: ۱ تخویف دنیوی. ۲ خلورم دلیل نقلی تفصیلی. ۳ دلیل عقلی دپاره د اثبات د قیامت. ۴ تخویف اُخروی. ۵ تسلی نبی کریم ﷺ ته. ۶ ټولو حوامیمو ته اشاره.

موضح قرآن ف۱ نبی علیه السلام د حج په ورځو کښې بهرته تلے وُو، د ښار نه بهر ئے د صبا مونځ شروع کړو د خپلو صحابو سره. د غه وخت ډیرو پیریانو قرآن واوریده او مسلمانان شول. بیا خپل قوم ته لاړل هغوی ئے پوهه کړل. دا ټول نبی علیه السلام سره ملاؤ نشول، بیا ډیر خلق مسلمانان شول. یوه شپه د مکے نه بهر راغلل، نبی علیه السلام یوا ځے بهرته لاړو. ټولو قرآن زده کړو او دین (اسلام) ئے قبول کړو. سورۃ جن کښې د دوی خبرے مفصل ذکر شویدی او د کله نه چه په نبی علیه السلام باندے وحی راغله د هغه وخت نه پیریانو باندے د اسمان خبرونه بند شول، دوی ته ئے سبب معلوم نه وُو. کله چه ئے قرآن واوریده نو پوهه شول چه د قرآن نزول کیږی، د دے په وجه خبرونه بند کړے شویدی. ف۲ د حضرت سلیمان علیه السلام د وخت نه تورات مشهور وُو. ف۳ تیجنے کولو سره په زمکه کښې د پاسه نه ئے فرشتے وُلی نو زمکے ته راتښتی. ف۴ وخت ئے نه وُو تیر کړے د دنیا کښې یعنی اُوس خو تا خیر او روستو والے کنړئ چه عذاب به زر ولے نه راځی هغه ورځ به پوهه شئ چه ډیر زر او جلتئ سره عذاب راغے په دُنیا کښې خو مونږ یو ساعت پاتے شوی او اوسیدلی وُو. یا د عالم قبر اُوسیدل به ورته یو ساعت او یوه گهینټه معلومیږی. دا قانون دے چه تیر شوے وخت لږ معلومیږی.

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائی څه کسان د پیریانو نه د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول او نبی علیه السلام د غه وخت د صبا مونځ ادا کولو په بطن نخله کښې او قرآن ته ئے غوږ کیښودو، چه کله خپل قوم ته لاړل نو خپل قوم ئے اُویرولو. په دے ایتونو کښې د غه قصے طرفته اشاره ده. والله اعلم. ف۲ یعنی په دُنیا کښې.

تفسیر ۲۳ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا: دا تخویف دنیوی دے. دا هم د مکے والو سره خطاب دے، د کیرچاپیره نه د قوم هود، قوم ثمود او اصحاب حجر

وغیره کلي مُراد دي. مونږ هغوی ته خپل پیغمبران راوُلیږل او مختلفو طریقو سره مو هغوی پوهه کړل لیکن هغوی د کفر او شرك نه منع نشول او اخر مونږ هغوی لره هلاك کړل. فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ (الآية): دا د سُورت مقصودي مضمون دے. دیکښې د مشرکانو د دے خبرے جواب دے چه مونږ اُومنله چه زمونږ معبودان نه اُوري او د هغوی رابلل جائز نه دي خو د هغوی په رابللو کښې تاثیر او برکت ضرور شته ځکه چه د هغوی رابللو سره کاروبار کښې برکت راځي. نو جواب ورکړے شو چه کوم مخلقو باطل معبودانو لره د الله پاك د نزدیکت وسیله او ذریعه جوړه کړے وه او په مصیبتونو او حاجتونو کښې ئے هغوی ته اواز کولو. کله چه مونږ دوی لره اُونیوُل نو هغوی د دوی هیڅ امداد اونکړو او نه د هغوی رابللو سره په دوی باندې څه تاثیر او برکت ښکاره شو بلکه لرے لرے پورے د دوی د ځان نه جوړ شوے کارسازانو نوم او نشان باتے نشو. دا یو خالص دروغ وو او د ځان نه جوړه شوے خبره وه چه هغه کارساز دي او په رابللو کښې ئے برکت دے؛

هَلَّا نصرهم الهتهم التي تقربوا بها بزعمهم الى الله لتشفع لهم حيث قالوا هٰؤلآء شفعاؤنا عند الله) ومنعتهم من الهلاك الواقع بهم. (قرطبي ج ۱۶ ص ۲۰۹).

۲۴ف وَإِذْ صَرَفْنَا: دا څلورم دلیل نقلی تفصیلي دے پیریانو سره. پیریانو هم چه د الله تعالیٰ کلام واورېدو نو هغه ئے اومنلو او د الله پاك په توحید باندې ئے ایمان راوړو او واپس لاړل خپل قوم ته ئے هم تبلیغ شروع کړو او دلائل عقلي، نقلي او وحي سره ئے د قوم په وړاندې مسئله بیانول شروع کړل. نبي کریم ﷺ سوق عکاظ طرفته تللو په لاره کښې ئے وادي نخله کښې د صبا مونځ کولو چه د پیریانو یو جماعت چه په اُوه یا نهه کسانو مشتمل وو هلته تیر شو. ځکه چه ئے د تلاوت آواز په غوږ ونو کښې پریبو نه نو دیر په غور سره ئے واورېدو. (ابن کثیر). کله چه تلاوت ختم شو نو د هغوی سینې د ایمان په رڼا سره روښانه شوے وے نو هغوی واپس شول او د خیرخواهۍ او همدردۍ په غرض ئے خپل قوم ته هم د اسلام دعوت ورکول شروع کړل.

۲۵ف قَالُوا يٰقَوْمَنَا: جنانو هر قسم دلائلو سره د خپل قوم د پوهولو کوشش وکړو. إِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا، دا دلیل نقلي طرفته اشاره ده. او أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسٰى دا دلیل وحي طرفته اشاره ده. او يَهْدِيْ إِلَى الْحَقِّ الخ دا دلیل عقلي طرفته اشاره ده. دا پیریان د حضرت موسیٰ علیه السلام د اُمت نه وو نو ځکه ئے د هغه نوم واخستو (روح). اے زمونږ قومه! مونږ یو داسے لوئے کتاب اوریدلو سره تاسو ته راغلی یو چه د موسیٰ علیه السلام نه پس نازل شوے دے او د مخکنو اسماني کتابونو تصدیق کوي او حق عقائدو او سمے لارے طرفته رهنمائي کوي. يٰقَوْمَنَا أَجِيْبُوا (الآية): اے زمونږ قومه! د الله تعالیٰ د قرآن دغه داعي اُومنئ او ایمان پرے راوړئ، الله پاك به

ستا سو ګناهونه معاف کړي او د دوزخ د عذاب نه به مو خلاص کړي. ﴿وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ﴾ (الآية): خو کوم چه د الله داعي قبول نکړي هغه بېکاره ګمراه دے او د جهنم د عذاب مستحق دے. نه خو به هغه د الله تعالیٰ د عذاب نه چرته په تېخته خلاص شي او نه به هغه له څوک حامي او ناصر او نه به د هغه خودساخته معبود او کارساز د الله تعالیٰ د ګرفت نه خلاص کړے شي.

۲۶ ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا﴾ (الآية): دا په قیامت او بعث بعد الموت باندې عقلي دلیل دے استفهام انکاري دے. ایا دوی اسباب نه پېژني او په هغې کښې غور نکوي کوم الله ذوالجلال او د کمالي صفاتو مالك چه اسمانونه او زمکه یې پیدا کړل او د هغې په پیدا کولو ستړے او ستومانه نه شو او نه د هغه په طاقت او قوت کښې د هغې سره کمزوري پیدا شوه، فان قدرته ذاتية لا ينقص ولا ينقطع بالايجاد ابد الآبدين. (مظهري ج ۸ ص ۳۱۶). ایا هغه د مړو په دوباره ژوندي کولو باندې قادر نه دے؟ ولې نه دے، نه صرف د مړو په ژوندي کولو باندې قادر دے بلکه هغه خو داسې قدرت کامله مالك دے چه په هر څیز باندې قادر دے او هیڅ یو څیز د هغه د قدرت نه بهر نشته.

۲۷ ﴿وَيَوْمَ يُعْرَضُ﴾: دا تخویف اُخروي دے د قیامت په ورځ هر کله چه کافران په دوزخ کښې داخل کړے شي نو ورته به او وئیلے شي چه تاسو په دُنیا کښې د دې عذاب نه انکار کولو او د عذاب وعدے پورے مو خندا کوله، اوس او وایئ ایا دا عذاب برحق نه دے او هغه د عذاب وعده رښتونے نه وه؟ ﴿قَالُوا بَلٰى وَرَبِّنَا﴾. د دې په جواب کښې به کافران او وائي، ولې نه زمونږ د پروردګار قسم! دا ټول حق دي بیا به اواز وُشي بس دے نو اوس د خپل کفر او انکار مزه وڅکئ.

۲۸ ﴿فَاصْبِرْ﴾ (الآية): دا نبي کريم ﷺ ته تسلي ده. د اُولوا العزم انبیاؤ نه حضرت نوح، ابراهیم، موسیٰ او عیسیٰ علیهم السلام مُراد دي. (ابن کثیر) نبي علیه الصلاة د مشرکانو په مُسلسل مخالفت او د هغوي په معاندانه رویے سره ډیر زیات خفه او غمګین وو، او د دوي په زړه کښې دا خواهش پیدا شو چه هغوي باندې عذاب نازل شي نو نبي علیه الصلاة ته تسلي ورکړے شوه چه ته حوصله کوه او د اُولوا العزم پیغمبرانو په شان د صبر او تحمل نه کار واخله او د دې معاندینو دپاره د سمدستي عذاب خیرے مکوه. په دوي به عذاب خامخا راځي خو په خپل وخت به راځي:

ای لا تدع على كفار قريش بنزول العذاب عليهم فانا بهم فی وقته لامحالة كان ضجر وضاق قلبه بكثرة مخالفات قومه فاحب ان ينزل العذاب بمن ابى منهم فامر بالصبر و ترك الاستعجال. (مظهري ج ۸ ص ۳۱۸)

۲۹ ﴿كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا﴾ الخ، دا معاندین به په دُنیا کښې هم عذاب اوڅکي او قیامت هم څه لرے نه دے. هر کله چه دوي د قیامت په سخت عذاب کښې ګرفتار کړے شي نو

دَدُنیا آرام او سکون په تړینه هیرشی او دَدُنیا ژوند به ورته بیا خالص یوه ورځ معلومیږی او دا ہے به ورته محسوسه شی چه په دُنیا کښ دوی صرف دَیو ساعت نه زیات نۀ دی اوسیدلی۔ بَلٰغٌ ای هذا بلغ: دا ټول حوامیمو طرفته اشاره ده یعنی دا مضامین کوم چه تاسو ته واورولی شو دا کافی دعوت او تبلیغ دے او دے سره اتمام حجت شوے دے۔ اُوس ودے نه پس فاسقانو، فاجرانو او دَالله تعالیٰ دَباغیانو دپاره په دُنیا کښ دَتباهئ نه سوا هیڅ هم نشته ۞


سُورۂ اَحقاف کښ دَتوحید آیتونه او دَهغے خاصیتونه

① قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ــ تا ــ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ (ع١)
نفی دَشرکِ اعتقادی۔

② قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ (الآیة): نفی دَعِلم غیب دَنبی کریم صلی الله علیه وسلم نه۔

③ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ (ع٣) نفی دَشرک نه په عبادت کښ۔

④ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ (الآیة): نفی دَشرک فی التصرف ۞



سُورَةُ مُحَمَّدٍ

ربط سُورۂ احقاف کښې واضحه کړے شوه چه مشرکان کوم خیال او ګمان کړے شوے سفارشیان رابللی هغوی دَ هیڅ څیز مالکان نهٔ دی نهٔ متصرّف او مختار دی، نهٔ دهغوی بلنه اَوازاوری - اوس په سورۂ محمّد کښې ئے اُوفرمایل (بهادر) سړی شئ او دَ توحید مسئلے دپاره جهاد اوکړئ.

خلاصه دَ توحید دَ مسئلے مفصل او واضح بیان تر سورۂ احقاف پورے شوے دے او راتلونکو سورتونو کښې به زیات بیان دَ قیامت کیږی او دَ توحید مسئله چونکه مقصود اصلی دهٔ، په دے وجه لږ لږ ذکر به دَدے هم کیږی او دَ جهاد ذکر به هم وی. دے دپاره دَ سورۂ محمّد نه تر آخره پورے به دَ قرآن مجید پنځمه حصه اوګرځولے شي نو دا هم صحیح دهٔ.

سورۂ محمّد، فتح او حجرات درے واړه خپل مینځ کښې ربط لري یعنی په درے واړو کښې یو مضمون ذکر شوے دے. مخکښې راتلونکو سورتونو کښې به هم دغه شان وی چه یو مضمون به په ګڼړو سورتونو کښې بیانولے شي. سورۂ محمّد کښې دَ قتال حکم دے چه (بهادر) سړی جوړ شئ او جهاد کوئ او په سورۂ فتح کښې د فتوحاتو وعده دهٔ او په سورۂ حجرات کښې دَ نظم ونسق، قواعدو ضوابطو، اُصولو او آدابو بیان دے یعنی جهاد کوئ نو الله پاک به درته فتوحات درکوی او کله چه فتوحات اوشي نو دَدے قواعدو او ضوابطو مطابق نظم ونسق اُوچلوئ - دسورۂ محمّد دَ مضمون په اعتبار سره دوه حصے دي. اوله حصه دَ شروع نه تر وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ (ع۲) پورے دهٔ او دویمه حصه وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا (ع۳) نه تر دَ سورت آخره پورے دهٔ.

اوله حصه کښې دمؤمنانو او مشرکانو دَ صفاتو مقابله او دَ دواړو جزاء ذکر دهٔ. دغه شان دَ جهاد حکم او دَ جهاد دَ ترغیب علتونه او هغه مقصد یعنی دَ توحید مسئله دکوم په وجه چه جهاد فرض دے.

دویمه حصه کښې په منافقانو باندې زجرونه دي چه نهٔ خوښے په جهاد کښې شریکیدل غوښتل او نهٔ ئے په جهاد کښې مال خرچ کول غوښتل او په آخر کښې دَ مشرکانو دَ احوالو بیان دے.

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة محمد سه مدینه کښې نازل شو او دیکښې دیرش آیتونه او څلور رکوع ګانې دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم د الله په نوم چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے۔

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ

کوم خلق چه کافران شول سه او منع ئې کړل نور خلق د الله د لارے نه، ضائع کړل الله

اَعْمَالَهُمْ ① وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ

د هغوی عملونه۔ او چا چه سه ایمان راوړو او وې کړل نیک کارونه او

اٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ

وې منل هغه کوم چه نازل شو په محمد ﷺ او هغه رښتونے دین دے د هغوی د

رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ②

رب له طرفه، لرے به کړی هغوی نه د هغوی بدی او ښه به د هغوی حال ول

ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ

دا حکم چه سه ځوکے منکر دی هغوی روان شو په دروغ خبره پسے او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَذٰلِكَ

چا چه یقین وکړو هغوی او منله رښتونے خبره د خپل رب له طرفه، همداغه شان

يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ③ فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ

بیانوی الله خلقو ته د هغوی احوال۔ پس هر کله چه تاسو مخامخ شئ کافرانو

كَفَرُوْا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ۭ حَتّٰٓى اِذَآ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ

سره څه نو وهئ د هغوی څټونه، تر دے چه ښه قتل کړئ هغوی لره

فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ۙ فَاِمَّا مَنًّاۢ بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً حَتّٰى

نو مضبوط وتړئ هغوی، بیا احسان وکړئ په هغوی یا ترے معاوضه واخلئ تر دے چه

تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۛ ذٰلِكَ ۛ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ

کیږدی جنګ خپله وسله ځ دا حکم خوتاسو واوريدلو او که چیرے وغواړی الله تعالیٰ

لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ وَ

نو بدله به واخلی د دوی نه لیکن الله ازمائی تاسو لره په يو بل باندې ، او

الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ④

کوم خلق چه وُوژلی شو د الله په لاره کښې نو نه به ضائع کوی د هغوی کارونه۔

سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ⑤ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ

سمه لاره به ورته وښائی لیے او ښه به کړی حال د هغوی۔ او داخل به ئے کړی په جنت کښې چه

عَرَّفَهَا لَهُمْ ⑥ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ

معلوم کړے ئے د هغوی ته ف اے ایماندارو ! که چیرے تاسو امداد کوئ د الله

يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ⑦ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

نو هغه به ستاسو امداد کوی او مضبوط به کړی ستاسو پښے۔ او کوم خلق چه منکر شول نو

فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ⑧ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

هغوی پر پوتل پیښ دی او برباد شول د هغوی عملونه ف۳ دا حکه چه دوی

كَرِهُوْا مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ⑨ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

خوښ نکړلو هغه (قرآن) چه الله نازل کړو بیائے ضائع کړل د هغوی عملونه۔ آیا دوی نه گرځی

فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

په زمکه کښې چه وګوری څنګه شو انجام د هغه خلقو چه

مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؗ وَلِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ⑩

د دوی نه مخکښې وُو ، هلاک کړل الله هغوی لره ، او کافرانو ته ملاویږی داسے څیزونه۔

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ

دا حکه چه الله مددګار دے د هغه چا چه یقین ئے وکړو او دا چه کافران منکردی

ع ۵

لَا مَوۡلیٰ لَهُمۡ ﴿۱۱﴾

دَ هغوی هیڅوک طرفدار او مددګار نشته۔

نکات: ۱۔ بیان دَ احوالِ کفار۔ ۲۔ ذکر دَ احوالِ مؤمنین۔ ۳۔ علت دَ ما قبل په طریقه دَ لف ونشر مرتب۔ ۴۔ امر په جهاد سره۔ ۵۔ جهاد طرفته دَ ترغیب پروسیے علت او بشارت۔ ۶۔ دَ الله په لاره کښی دَ شهیدانو دپاره دَ آخرت بشارت۔ ۷۔ بیان دَ مؤمنانو۔ ۸۔ دَ کُفارو دَ حال بیان او تخویف اُخروی۔ ۹۔ تخویف دُنیوی۔ ۱۰۔ جهاد طرفته دَ ترغیب دویم علت۔

موضح قرآن ف ۱ مخکښی زمانه کښی ټول خلق په یو دین منلو مُکلف نهٔ وُو، اوس ټولو خلقوته یو حکم دے او ربښتونے دین همدا دے بنهٔ او بد کاروته مسلمان هم وی او کافر هم لیکن ربښتونے دین منلو سره دا ګټه او فائده ده په لاس راځی چه نیکی پاتے کیږی او بدی معاف کیږی او دَ نهٔ منلو دا سزا ده چه نیکی برباده او ګناه لازمه۔ ف ۲ ترڅو چه دَ کافرانو زور او طاقت نهٔ وی مات شوے ترهغے پورے ئے وژل پکار دی او کله چه ئے طاقت ختم شی نو قید هم کافی دے، دپاره ددے چه اُوبیریږی او مسلمانان شی۔ یا په هغوی احسان اوکړئ او هغوی پریږدئ نو همیشه به ستاسو احسان منی او دین سره به محبت لری یا خپله فدیه اخستلو سره ئے آزاد کړئ۔ نو دے دواړو کښی په هریو کښی ډیرے فائدے دی۔ اوس دے کښی اختلاف دے چه کافرقید کښی راشی نو هغه بیا خپل کورته لیږل پکار دی یا نهٔ۔ بعضے پریږدی ئے نو په دائے طریقه ئے پریږدئ چه ستاسو رعیت جوړ شی۔ ف ۳ که الله تعالیٰ غوښتلے وے نو اوس به ئے ټول مسلمانان کړے وے لیکن دا نهٔ غواړی امتحان او ازمیښت ئے مقصد دے نو دَ بنده له طرفه ملاتړل پکار دی او دَ الله پاک له طرفه دَ بنده کار جوړول دی۔

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی جنګ اُودریږی او بند شی او وسلے ته حاجت پاتے نشی۔

تفسیر

اوله حصه

دَ مؤمنانو او مشرکانو دَ احوالو مقابله او دَ جهاد حُکم

۱ اَلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا (الآیة): دَ مشرکانو دَ حال بیان: صَدُّوۡا لازم او

متعدی دواړه قسمه استعمالیږی - دَ الله تعالیٰ د لارے نه بند شول او په هغے لانړل یا ئے نور خلق دَ الله پاک دَ لارے نه منعه کړل - دَ الله تعالیٰ دَ لارے نه مراد اسلام دے ؛ ای اعرضوا عن الاسلام وسلوک طریقه او منعوا غیرهم عن ذلک علی ان صد لازم او متعد - (روح ج ۲۶ ص ۳۶) - کوم خلقو چه د توحید نه انکار اوکړو او دَ اسلام قبلولو نه ئے اعراض اوکړو او نور خلق ئے دَ توحید او اسلام نه منعه کړل دَ هغوی عملونه ضائع دی - د دوی نه مراد مکے والا دی، قال ابن عباس و مجاهد: هم اهل مکة کفروا بتوحید الله و صدوا انفسهم و المؤمنین عن دین الله و هو الاسلام بنهیهم عن الدخول فیه - (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۲۳) - لنډه دا چه دَ مشرکانو نیکئ دحق نه دَ اعراض او دَ شرک په وجه سره برباد دے دی او دَ مؤمنانو بدئ به دَ اعمالِ صالحه په برکت سره معاف شی -

۳ے وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا (الآیة): مقابله کښ دَ مؤمنانو دَ حال ذکر او بشارت دے - او کوم خلقو چه دَ الله تعالیٰ په وحدانیت باندے ایمان راوړو او نیک کارونه ئے وکړل او په محمد صلی الله علیه وسلم باندے چه کوم څه نازل شویدی (قرآن او نور ټول احکام) په ټولو باندے ئے ایمان راوړو، په هر خبره کښ ئے دَ نبی علیه السلام تصدیق اوکړو او په هیڅ څیز کښ ئے دَ هغوی مخالفت اونکړو - نبی علیه السلام باندے چه کوم څه نازل شویدی هغه حق دی - ددا سے خلقو ګناهونه به الله تعالیٰ معاف کړی او په دُنیا او آخرت کښ به دَ هغوی احوال او معاملات صحیح کړی -

۴ے ذٰلِكَ بِاَنَّ (الآیة) : دا په طریقه دَ لف اونشر مرتب دَ ماقبل علت دے - باء سببیه ده او دا دے متعلق محذوف دے یعنی دَ مشرکانو نیکئ ځکه ضائع کړے شوے چه هغوی دَ حق نه اعراض اوکړو او دَ باطل تابعداری ئے وکړه او دَ مؤمنانو ګناهونه معاف کیدل په دے وجه دی چه د باطل نه ئے مخ اړولو سره حق قبول کړو او دَ هغے تابعداری ئے وکړه ؛ ای ذلک کائن بسبب اتباع الاولین الباطل و اتباع الاخرین الحق - (روح ج ۲۶ ص ۳۸) - یا باء لیستیقنوا سره متعلق دے - قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ -

یعنی چه ستاسو یقین وُشی چه مختلفه جزاء دے دپاره ده ورکولے شی چه کافرانو دَ باطل تابعداری اوکړه او مؤمنانو دَ حق تابعداری وکړه - دے دپاره به دَ کافرانو اعمال برباد او دَ مؤمنانو ګناهونه به معاف وی - دا رنګے الله تعالیٰ دَ خلقو دَ پوهولو دپاره دَ دواړو ډلو (مؤمنانو او کافرانو) احوال بیانوی -

۵ے فَاِذَا لَقِيْتُمُ (الآیة)؛ دَ دواړو ډلو دَ احوالو بیانولو نه پس دَ جهاد حکم ورکړے شو - فَضَرْبَ : دا په اصل کښ دَ فعل محذوف مفعول مطلق دے چه هغه دَ فعل حذف کولو نه پس دَ مفعول به طرفته مضاف کړے شوے دے ؛ ای فاضربوا الرقاب ضربًا - (مدارک ج ۴ ص ۱۱۳) - او ضربِ رقاب (څټونه وهل) کنایه

ده دَ قتل نه (بحر). اے دَ ایمان والو! دَ مذکوره بیان نه چه هر کله تاسو ته معلومه شوه چه مشرکان دَ توحید دشمنان او دَ شرک او باطل عبادت کونکی دی او نور خلق هم دَ اسلام او توحید نه منعه کوی نو په دُنیا کښې دوی سره هغه معامله وکړئ دَ کومے چه دوی مستحق دی. هر کله چه د جنګ په میدان کښې دوی سره مخامخ شئ نو هیڅ کله ئے مهٔ معاف کوئ، په جهاد کښې کمزوری مهٔ ښایئ او همت مهٔ بائیلئ بلکه بهادران جوړ شئ او په میدان جنګ کښې بنهٔ ډیر مشرکان په تورو اوهئ چه کوم باقی پاتے شی هغه قید کړئ او کلک کلک ئے اُوتړئ. دَدے نه پس تاسو ته اختیار دے که غواړئ نو په هغوی احسان وکړئ او بغیر دَ فدیے نه ئے آزاد کړئ یا ترینه فدیه اخستو سره ئے پریږدئ. دا دَ جهاد احکام به تر هغه وخته پورے نافذ وی تر څو چه مشرکان مغلوب او مقهور کیدلو سره وَسله اُونهٔ غورځوی او دَ کُفر قوت او شوکت ختم نشی. مَنًّا او فِدَآءً دواړه مطلق دی او دَدے افعال مقدر دی؛ ای فاما تمنون منا واما تفدون فداءً (روح ج ۲۶ ص ۳۹). تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا: دَدے نه مراد اَهلِ حَرب دی یعنی جنګ کونکی کافران او مشرکان وَسلے او غورځوی او کمزوری او مغلوب کیدلو سره دَ جنګ نه منع شی. ذٰلِكَ ای الامر ذلک الذی ذکرت وَبینت. (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۲۹). یعنی حکم هم هغه دے کوم چه بیان شویدے. کچرے الله تعالٰی غوښتلے وے نو دغه شان یو عذاب سره به ئے دوی هلاک کړے وے او انتقام به ئے ترینه اخستے وو، خو دَ جهاد حکم ئے تاسو ته درکړو، هغه په تاسو ازمیښت کول غواړی چه څوک جهاد کښې شریکیږی او څوک بزدله جوړیږی و سره جهاد پریږدی. دغه شان جهاد کونکو ته په دُنیا او آخرت کښې اجر او ثواب ورکول غواړی. وَالَّذِیْنَ قُتِلُوْا الخ، دَ ترغیب الی الجهاد اولنے علت دے او شهیدانو دپاره دُنیوی بشارت دے کوم خلق چه دَ الله تعالٰی په لاره کښې جهاد کوی او شهیدان شی دَ هغوی عملونه به نهٔ ضائع کیږی. هغوی ته به دَ هر نیک عمل ډیره ښکلے بدله ورکړے شی.

۶ سَيَهْدِيْهِمْ: شهیدانو دپاره دَ آخرت زیرے دے. دَ الله تعالٰی په لاره کښې شهید کیدونکو ته به الله تعالٰی دَ جنت لاره اوښائی. په قرینه د وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ الخ، ځکه چه دَ شهید کیدلو نه پس به دَ هدایت مشهوره معنٰی خو مراد کیدے نشی. یا مطلب دا دے چه دَ منکر او نکیر دَ سوال په وخت به هغوی ته دَ صحیح جواب تلقین ورکړی او جنت ته به ئے داخل کړی چه هلته به هر چا ته خپل خپل ځائے معلوم وی، هر کس به بغیر دَ تپوس نه به خپل منزل ته لاړ شی ګویا چه دهٔ ته دا خپل کور دَ مخکښې نه معلوم وی:

(سَيَهْدِيْهِمْ) ای الی طریق الجنة او الی الصواب فی جواب منکر و نکیر (ویصلح بالهم) یرضی خصماء هم ویقبل اعمالهم. (مدارک ج ۴ ص ۱۱۴).

ـــ ۷ ـــ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ (الآية)، دَمؤمنانو دَحال بیان، دَدشمن په مقابله کښې لے دَمؤمنانو دَفتحے او کامیابئ رازبیان کړو - دَ الله دَامداد کولو نه مجازاً دالله دَ دین او دَرسول الله ﷺ امداد مُراد دے - (روح) اے ایماندارو! کچرے تاسو مال او ځان سره دَالله دَدین او دَالله دَرسول ﷺ امداد کوئ او خالص دَالله پاک دَرضا او دالله دَ کلمے دَ اُوچتوالی دپاره جهاد کوئ نو الله تعالیٰ به ستاسو امداد کوی او دَدُشمن په مقابله کښ به درته مضبوطیا او استقلال درکوی او فتح او کامیابی به درته نصیب کړی۔

ـــ ۸ ـــ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا (الآية)، دَکافرانو دَحال بیان دے - دَمومنانو مقابله کښ دَکافرانو دپاره په دُنیا کښ قتل او هلاکت او په آخرت کښ رسوا کونکے عذاب دے او دَهغوی اعمال بیکاره او ضائع دی - ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ الخ، دا دَمشرکانو دَانجام سبب دے - دهغوی دا انجام په دے وجه شو چه هغوی توحید او په نورو احکامو بانډې مشتمل دَالله تعالیٰ کتاب ته دَ نفرت او کراهیت په نظر سره کتل، په دے وجه ئے ټول اعمال ضائع کړے شو - کچرے دغه اعمالو سره ئے دَایمان دولت هم وے نو په هغے بانډې به اجر او ثواب ملاویدلے۔

ما انزل الله من القرآن لما فيه من التوحيد وسائر الاحكام المخالفة لما الفوه واشتهته انفسهم الامارة. (روح ج ۲۶ ص ۴۵) -

ـــ ۹ ـــ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا (الآية)؛ دَمشرکانو احوال او تخویف دُنیوی دے - دا سرکشه خلق په خپلو کورونو کښ ناست دی، آیا دوی په زمکه کښ گرځیدل او تلل راتلل نکوی چه دَدوی نه مخکښ دَسرکشو قومونو انجام په خپلو سترګو اُووینی - الله پاک هغه خلق او دَهغوی اهل وعیال او مالونه تباه کړل - دے سرکشه او نا فرمانو دپاره دبس انجام ډیر مثالونه شته - دَمخکنو سرکشه قومونو هلاکت او تباهئ کښ دَدوی دپاره بے شماره عبرتونه دی - ذٰلِكَ، دا معامله هم دغه رنګے ده بِاَنَّ اللّٰهَ الخ؛ دا د ليستيقنوا سره متعلق دے او دَ ترغيب الى الجهاد دويم علت دے یعنی الله تعالیٰ دَمؤمنانو مددګار دے او دے کافرانو هیڅوک مددګار نشته ⁘

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

بیشکه الله به داخل کړی هغه خلق چه یقین ئے کړے دے او کړے ئے دی نیک کارونه

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

باغونو ته چه دَهغے دَلاندے بهیږی نهرونه، او کوم خلق چه منکر دی

يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَأْكُلُوْنَ كَمَا تَأْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ

فائدہ اخلی (دُنیا کښې) او خوراک کوی لکہ چہ خوراک کوی چارپایان او اور دے

مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً

کور دَ هغوی دپاره - او ډیر زیات کلی چہ هغه ډیر په طاقت کښې

مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ

ستا دَ هغه کلی نه چہ دَ کوم نه ئے تہ اُو ویستلے ، مونږ هغوی لره هلاک کړل بیا هیڅوک لشتہ

لَهُمْ ﴿۱۳﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ

دَ هغوی مدد گار - آیا هغه څوک چہ روان وی په ښکاره لار باندې الله دَ خپل رب ، برابر دَ هغه چا سره چہ ښائسته کړی

لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ

ښکاره شوی وی ورته خپل بد عمل او دوی روان دی په خپلو خواهشاتو پسے . حالات (صفات) دَ هغه

الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۭ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّاۗءٍ غَيْرِ

جنت چہ وعده کړے ئے شوے متقیانو سره ، په هغې کښې نهرونه دی دَ اوبو چہ نه دی

اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ

بد بویه شوی ، او نهرونه دی دَ پیو چہ خوند ئے نه دے بدل شوے ، او نهرونه دی

مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ڬ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ

دَ شرابو چہ په کښې خوند (مزه) ده څښونکو دپاره ، او نهرونه دی دَ شاتو چہ

مُّصَفًّى ۭ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ

ژلې بہ ترے ویستلے شوی ، او دوی دپاره په کښې هر قسمه میوے دی او معافی دَه

مِّنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوْا مَاۗءً

دَ دوی دَ رب له طرفه ، دا برابر دی دَ هغه چا سره چہ همیشه به اوسی په اور کښې او څښولے به شی ورته اوبه

حَمِيْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَاۗءَهُمْ ﴿۱۵﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ

ډیر گرمے (جوشیدلے) نو پرے به کړی دَ هغوی کولمے ف ۲ ف ۱ او ځینې دَ دوی نه ۳ هغه دی چہ غوږ ایږدی

اِلَيْكَ حَتّٰۤى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ

ستا طرفته تر دے چه کله اوځی دوی ستا له خوا نه ، وائی هغو ته چه

اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا ۫ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ

علم ور ته ملاؤ شوی دے ، څه وویل دۀ هغه سری اوس ، دا هغه خلق دی چه الله پاک

اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْۤا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۶﴾ وَالَّذِيْنَ

ورلږ په زړونو مُهر لګولے دے او روان دی په خپلو خواهشاتو پسے ۱۳ او کوم خلق چه

اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿۱۷﴾ فَهَلْ

په لار راغلی دی زیاته کړیده (الله یا قرآن) د دوی پوهه او ور ته ورکړے یے د دۀ پرهیزګاری ۱۴ پس

يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ

انتظار کوی د قیامت ۱۵ چه راشی دوی ته ناڅاپه نو

جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾

راغلی دی د هغے نښے ، بیا به څه ته نصیب شی دوی ته کله چه هغه راورسی دوی ته نصیحت قبلول د دوی ۱۶

فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَ

نو ته پوهه شه ۱۷ چه د هیڅ بندګی نشته د الله نه سوا او معافی وغواړه د خپلو ګناهونو د پاره او

لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ

مومنانو سړو او مومنو ښځو د پاره او الله ته معلوم دے ګرځیدل ستاسو

وَمَثْوٰىكُمْ ﴿۱۹﴾ ع

او کور ستاسو ۱۸

نکات : ۱ د اخرت بشارت او د مومنانو د احوالو بیان. ۲ تخویفِ اُخروی. ۳ تخویف دُنیوی. ۴ د مومنانو او د کافرانو د حال بیان. ۵ بشارتِ اخرویه. ۶ تخویفِ اُخروی. ۷ زجر او د منافقانو د حال بیان. ۸ د مومنانو د حال بیان. ۹ تخویفِ دُنیوی. ۱۰ بنیادی دعوی یعنی د توحید د مسئلے ذکر.

موضح قرآن

ف۱ دَ کافرانو پشان خوراك يعنې حرص سره او مسلمان خوراك کوي دَ دفع دَ حاجت دپاره۔ **ف۲** دَ هغه ځائے شراب خوند ناك دي لکه دَ دُنيا پشان بے مزے نه دي۔ جنت کښې به دَ هر جنتي په کور کښې څلور نهرونه مقرر وي او دَ ځنو به زيات وي۔ **ف۳** يعنې کُند ذهن (غبي)، چه نه ئے پوهه شته او نه ياد۔ **ف۴** يعنې دَ حضور دَ کلام نه ئے اثر واخستو او دَ گناهونو نه ئے ځان اُوسا تلو۔ **ف۵** لويه لښه دَه دَ قيامت زمونږ دَ نبي ﷺ پيدا کيدل۔ پټولو انبياوُ دَ خاتم النبيين دَ راتللو انتظار کولو۔ هر کله چه هغه راغے نو اوس صرف قيامت پاتے دے۔ **ف۶** يعنې هر څو مره پرده کښې چه وگرځئ بيا به جنت يا دوزخ ته رسيږئ چه خپل کور ستاسو دے۔

فتح الرحمن

ف۱ مترجم وائي دَ دے ځائے نه تر آخره دَ سورت پورے دَ ضعيف الايمان دَ ويرولو او تنبيه ورکولو دپاره آيتونه نازل شو۔ **ف۲** حاصل په دے آيتونو کښې دَ هغه کس بدي بيانول دي چه دَ علم مجلس ته راشي او دَ هغې حقيقت پيژندلو ته اُو نه رسيږي په سبب دَ نفساني خواهشاتو کوم چه دده په زړه کښې راشي او دَ نورو نه تپوس کولو ته محتاج شي، او تخويف دے قيامت سره دِے قسم انسان دپاره۔

تفسیر

۱۲ اِنَّ اللّٰهَ: دَ آخرت زيرے او دَ مؤمنانو دَ حالاتو ذکر۔ کوم مؤمنان چه دَ عملِ صالح کالي سره ښائسته وي هغوي لره به الله تعالىٰ دَ جنت داسے باغونو ته داخل کړي چه نهرونه به پکښې بهيږي۔ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا: تخويف اُخروي سره دَ احوالو دَ مشرکينو۔ کافران دَ آخرت نه داسے غافله دي چه هر وخت دَ دُنيا نفع حاصلولو او دَ عيش ژوند تيرولو کښې مشغول وي او دَ چارپايانو پشان دَ آخرت دَ فکر او انجام او عاقبت نه ناخبره وي او په خوراك څکاك کښې مصروف وي۔ دَ دوي دَ استوګنے ځائے دوزخ دے۔

وَ كَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ (الآية): دَ مشرکانو دپاره تخويف دُنيوي دے او ضمناً نبي عليه السلام ته تسلي دَه۔ قَرْيَةٍ نه مراد مجازاً اهلِ قريه دي۔ ډير کلي چه دَ هغه نه هر کلي والا ستا دَ دے کلي (مکے) والونه زيات طاقتوره وُو چه دوي ته دَ دے کلي نه ويستلے يے، هغوي لره الله پاك هلاك کړل ليکن دَ هغوي هيڅوك مددګار او امدادي نه وُو۔ تاسو مهٔ ويريږئ آخر به دَ دے سرکشانو جرړے او بيخ پريکړے شي او آخر کښې به فتح او غلبه هم ستاسو وي۔

۱۳ اَفَمَنْ كَانَ: دَ مؤمنانو او سرکشه نافرمانو دَ حال بيان۔ هغه مؤمن چه دَ پروردګار له طرفه ورسره يو واضح بيان (قرآن کريم) موجود دے او دَ هغې په رڼا کښې روان دے او دَ هغې مطابق عمل کوي، آيا دِے دَ هغه مشرك برابر کيدے شي چه کفر او شرك لره نيك کار ګڼړي او دَ نفساني خواهشاتو تابعداري کوي، توحيد

او حق دروغ ګڼړي. استفهام انکاري دے یعنې دواړه نشي برابرکیدے.

۱۲ مَثَلُ الْجَنَّةِ: بشارت اُخروي دے او دَ جنت د نعمتونو صفتونه بیان شوي دي او دَ پرهیزګارو خلقو دپاره چه دکوم جنت وعده شوې ده دَ هغې دَ صفت او دَ نعمتونو دَ حال بیان دا دے چه په هغې کښې دَ بهیدونکو نهرونو اُوبه به همیشه بنا لګېدونکې او بنا لګېدونکې خوند لري او دَ هغې په رنګ او بوی کښې به هیڅ رنګ بدلون او تغیر نه راځي. دا رنګ دَ دا سے پیو نهرونه به جاري وي چه خوند به ئے هیڅکله هم نه خرابیږي حالانکه دَ دُنیا پئي لږ وخت کښې خرابیږي او خوند اړوي. جنت کښې به دَ شرابو نهرونه جاري وي لیکن دَ دُنیا دَ شرابو په مقابله کښې به دَ جنت شراب ډیر زیات خوندناک او دَ مزے نه ډک وي او دَ بدبوئي، نشے او بے خوندئ نه به پاک وي. او دَ صفا رنړو شاتو نهرونه به وي چه دَ هر قسم فضلاتو، ګند ګئي او پلیتئ نه به پاک او صفا وي. دَ څکلو دَ څیزونو نه علاوه به دخوراک دپاره هر قسمه میوے وي او دَ ټولو نه لوئے نعمت دا چه دَ دوي په ګناهونو باندې به پرده واچولے شي، په هغې باندې به نیول نه وي او نه به ورته چرے دَ هغې ذکر کولے شي دپاره دَ دے چه دوي شرمنده نشي او په خوشالئ او آرام کښې ئے فرق رانشي. كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ الخ: دا دَ آخرت حال او تخویف اُخروي دے. یو هغه کس دے چه په جنت کښې ورته پورته ذکرشوي نعمتونه نصیب شي آیا دا سے نیک بخت انسان دَ هغه کس برابرکیدے شي چه همیشه به په دوزخ کښې اوسیږي او هلته به ورته دَ څکلو دپاره جوشیدلے اُوبه ورکولے شي چه څکلو سره به ورله کولمے ټکړے ټکړے کړي.

۱۳ وَمِنْهُمْ (الآیة): زجر او دَ منافقانو دَ حال بیان. منافقان به هم دَ نبي علیه السلام په خدمت کښې حاضریدل او بے توجهئ او بے پرواهئ سره به ئے دَ نبي علیه السلام خبرے اوریدلے او کله چه به دَ نبي علیه السلام دَ مجلس نه پاسیدل او تلل به نو دَ علم والا صحابه کرامؓ نه به ئے دَ استهزاء او خندا په طور سوال کولو چه اوس اوس نبي علیه السلام څه وفرمائیل؟ ما په ښه شان وا نه وریدل. على جهة الاستهزاء اى انا لم التفت الى قوله. (قرطبي ج ۱۶ ص ۲۳۸). وئے فرمائیل اصلي خبره دا ده چه مونږ دَ دوي دَ سرکشئ او عناد په وجه دَ دوي په زړونو باندې دَ جباریت مُهر لګولے دے او دَ هدایت دَ توفیق نه مو محرومه کړیدي ځکه چه دوي ستاسو دَ هدایت کلام ته توجه نه وه کړله او دَ نفساني خواهشاتو اتباع ئے کړله. په دے وجه هرے بدے خبرے او هر بد کار طرفته متوجه کیږي.

۱۴ وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا: دَ مومنانو دَ حال بیان: او کوم خلقو چه هدایت قبول کړے دے. کله چه هغوي ستاسو په خدمت کښې حاضرشي او ستاسو نه دَ الله تعالیٰ کلام او ستاسو وعظ نصیحت اوري نو دَ هغوي پوهے، علم او یقین ته تقویت

ملاوېږي او هغوی ته د الله پاك له د وېرې او د هغه په احکامو باندې د عمل کولو توفیق ورکولے شي، زادهم هدًی ای بصیرةً وعلمًا - (مدارك ص ۱۱۶ ج ۴)-

۱۵ فَهَلْ يَنظُرُونَ : تخویف دنیوی، کوم امور چه د عبرت او نصیحت حاصلولو موجب وو هغه خو ټول مخه ته راغلل مثلاً قرآن، معجزات وغیره لیکن دې منافقانو او مشرکانو عبرت حاصل نکړو او هدایت ئې قبول نکړو- اوس صرف یو څیز باقي پاتې شوے چه ناڅاپه قیامت راشي لیکن د قیامت علامات هم ظاهر شوېدي- مثلاً د نبي علیه السلام بعثت چه خاتم النبیین دے، او شق قمر (د سپوږمئ دوه ټوټې کیدل) لیکن د دے با وجود هم دوی ایمان نه راوړي نو د دے مطلب دا دے چه دوی د ضد او حسد، بغض او عناد په وجه د ایمان نه راوړلو فیصله کړیده:

قال المفسرون من اشراط الساعة انشقاق القمر وبعثه رسول الله صلی الله علیه وسلم -(خازن ج ۶ ص ۱۷۹، ابن کثیر، ج ۴ ص ۱۷۷)-

أَنَّىٰ لَهُمْ خبر مقدم دے او ذِكْرَاهُمْ مبتدا مؤخر- او إِذَا جَاءَتْهُمْ جمله معترضه ده (روح)- یعنی کله چه قیامت راشي نو بیا به دوی څنګه عبرت حاصل کړي هغه وخت خو به د دے هیڅ فائده نه وي.

۱۶ فَاعْلَمْ أَنَّهُ : د بنیادي دعوے او مسئله توحید ذکر دے د کوم په خاطر چه جهاد فرض دے - د دے خبرے یقین د زړه نه وکړئ او په دے یقین باندې قائم پاتے شئ چه د الله تعالی نه سوا هیڅوك معبود نشته او نه بل إله شته، د هغه نه سوا هیڅوك مالك او مختار، عالم الغیب او د دعا او پلنے لائق نشته. وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ : نبي علیه السلام چونکه معصوم (د ګناه نه پاك) دے، په دے وجه دلته د استغفار نه د ګناهونو معافي غوښتل مراد نه دي بلکه د دے نه تواضع او د نفس د عاجزئ اظهار او د قصور اقرار مراد دے:

الاستغفار کنایة عن عما یلزمه من التواضع وهضم النفس والاعتراف بالتقصیر لانه صلی الله علیه وسلم معصوم او مغفور (روح ج ۲۶ ص ۵۵)-

همدا وجه ده چه نبي علیه السلام به روزانه استغفار کولو لکه څنګه چه په صحاح ستة کښ موجود دي- وإني لاستغفر الله کل یوم مائة مرة (نسائی، ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه)- یا د دے نه زلات (معمولي لغزشونه او خلاف اولی کارونه مراد دي چه په حقیقت کښ ګناه نه ده- الله تعالی ستاسو دنیوي انجام او اخروي مقام بنه پیژني - حاصل دا دے چه هغه د ټول هر څه نه خبر دے او ستاسو هیڅ حال د هغه نه پټ نه دے، نو په هر حال کښ د هغه نه ویریږئ.

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ۚ فَإِذَا

او وائي ایمان والا ولې نازل نه شو یو سورت بیا کله چه

أُنْزِلَتْ سُورَةٌ مُحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ ۙ رَأَيْتَ

نازل شو یو سورت آزمائیلے شوے او ذکر شوے وی په هغې کښې جنګ نو ته به اووینې

الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ

هغه خلک چه په زړونو کښې ئے بیماري ده کوري به تا ته لکه چه کوري

الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٌ وَ

هغه څوک چه بیهوشه پروت وي د مرګ په وخت نو هلاکت ئے هغوی د پاره دا حکم منل د الله او

قَوْلٌ مَعْرُوفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا

ښه خبره کول (بهتر دي) لله بیا چه کله کار فرض کړے شي نو که چرے رښتیا ئے ویلي وے

اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ

الله سره نو دوی د پاره به بهتره وه ۲ - بیا تا سو نه هم دا امید شته که چرے تا سو ته حکومت ملاؤ شي

أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾

نو فساد به کوئ په ملک کښې او پرے به کړئ رشته داري ۳

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾

دا هغه خلق دي لله چه لعنت پرے وکړو الله پس ئے کوڼ کا نړه او ړندے ئے کړے سترګې د دوی ۴

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾

آیا سوچ نکوی لله په قرآن کښې یا د دوی په زړونو باندې لګیدلے دي تالے -

إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا

بیشکه کوم خلق چه واپس ګرځیدلي دي په خپلو شا ګانو پس د هغې نه چه

تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾

ښکاره شوې وه دوی ته سمه لار ۵، شیطان خبره جوړه کړې وه دوی ته په زړونو کښې او د مهلت وعدې ئے ورکړي

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ

داځکه چه دوی او وئیل ۲ لـه هغه خلقو ته کوم چه بیزاره دی د الله د نازل شوی کتاب نه ولا

سَنُطِيْعُكُمْ فِيْ بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿۲۶﴾

مونږ به ستاسو خبره هم منو په ځینی کارونو کښې او الله پیژنی د دوی مشوره کول ۳

فَكَيْفَ اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ

بیا به څه حال وی ۴ کله چه فرښتے روح اوباسی د دوی وهی به د دوی مخونه

وَاَدْبَارَهُمْ ﴿۲۷﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ

او شاګانے ۵ داځکه چه دوی لاړل په هغه لاره چه الله ترینه بیزاره دے

وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۲۸﴾ ع ۳

او خوښه نکړه د هغه رضا، پس هغه ضائع کړل د دوی کړے کارونه.

نکات: ۱ د سورت دویمه حصه، د منافقانو د احوالو بیان. ۲ خطاب منافقانو ته. ۳ زجر د پاره د منافقانو. ۴ تخویف دُنیوی.

موضح قرآن ف۱ مسلمانانو سورت غوښتلو یعنی د کافرانو د تکلیف رسولو نه عاجزه شول، ارزو به ئے کوله چه الله پاک د جهاد حکم نازل کړی او څه چه زمونږ د لاسو نه کیدے شی هغه به اوکړو کله چه د جهاد حکم راغے نو په منافقانو او کمزورو خلقو باندی درُون شوا د مرګ پشان په بقوسترګو ئے کتل چه کاش دا حکم مونږ ته معاف شی. د ډیرے ویرے په وخت هم سترګے بے نوره اوبد رنګے شی لکه د مرګ په وخت. ف۲ یعنی د شرعے حکم نه منلو سره کافرکیږی، هر قسم حکم منل پکار دی. بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم پوهیږی چه بُزدل سړے ولے او جنګړی او کله چه زیات تاکید وکړے شی نو هغه وخت به جنګیدل ضروری وی. نو د جنګ کولو والا ډیر دی. ف۳ یعنی د خپل ځان نه تنګیدلو سره د جهاد ارزو کوئ. نو که الله پاک تاسو لره غالب کړی نو فسادونه به اوکړئ. ف۴ یعنی د حکومت په غرور کښې ئے ظلم شروع کړو بیا د چا په پوهولو باندې هم په خپل خیر او شر نهٔ پوهیږی. ف۵ یعنی منافق په قرآن کښې فکر نکوی چه په جهاد کښې ډیرے فائدے دی او د ایمان د اقرار نه بیرته واپس ګرځی چه جنګ ته لاړ نشی نو ډیره زمانه به ژوندی وی. ف۶ منافقانو کافرانو ته و وئیل چه

مونږ مسلمانان شوی یُو لیکن تاسو سره به نهٔ جنګیږو. ۲ یعنی هغه وخت به د صدق نه ښکاره خلاصیږی او هغه وخت به د نفاق خوند وخلکی۔

فتح الرحمٰن ۱۵ یعنی منافقانو به بیهو دیانوته وبیل۔

تفسیر ۱۷ وَيَقُولُ الَّذِيْنَ : دا د سورت دویمه حصه ده او د منافقانو د حال بیان دے۔ د ایمان والو دا خواهش او ارزو وه چه په قران کښ د جهاد حکم نازل شی دپاره د دے چه دوی جهاد وکړی او د مشرکانو نه بدله واخلی، د الله تعالیٰ دین اوچت کړی او اجر و ثواب حاصل کړی۔ نو کله چه به یو داسے سورت نازل شو چه په هغے کښ به واضح او غیر مبهم الفاظو کښ د جهاد حکم وُو نو په منافقانو باندې به بیهوشی راغله او هغوی به نبی علیه السلام ته داسے کتل لکه چه په چا باندې د مرګ بیهوشی راغلے وی او حوصله ئے خطا شوے وی ځکه چه په ظاهره مسلمانانو کښ شاملیدلو په وجه دوی دپاره دوه لارے وے، یا خو به په ناخوښئ سره په جهاد کښ شریکیدل، د کومو مشرکانو سره چه د دوی د زړونو همدردی وه هغوی سره به جنګیدل۔ یا به جهاد کښ نهٔ شریکیدل او د منافقت الزام اخستلو سره به ذلیله او رسوا کیدل. (روح، قرطبی، بحر)۔ فَاَوْلٰى لَهُمْ : دا کلمه د بد دعا ئیئ (خیری) په طور استعمالیږی۔

هو فی الاصل دعاء علیهم بان یرجع امرهم الی الهلاک والمراد اهلکهم الله تعالیٰ الا ان الترکیب مبتدأ مخبر (روح ج ۲۶ ص ۶۷)۔

د دے نه معلومه شوه چه د الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نه خالص مؤمنان مراد دی، او د الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ نه منافقان مُراد دی لیکن حضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه د الذین امنوا نه امنو باللسان یعنی منافقان مراد دی۔ منافقانو به په طور د منافقت د فرضیت جهاد د ارزو اظهار کوُلو۔

۱۸ طَاعَةٌ معطوف سره د معطوف علیه نه مبتدا ده او دده خبر محذوف دے ،ای طاعة وقول معروف خیر لهم او امثل. (روح ج ۲۶ ص ۶۸، بحر ج ۸ ص ۸۱)۔ دوی دپاره بهتره او ښه داوه چه د مخلصینو په شان ئے اطاعت خپل شعار او خاصه کړځولے وے او د زړه نه ئے ریښتیا خبره کوُلے او بیا به باندې ئے د جهاد ریښتونے ارزو ښکاره کولے۔ فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ : دا شرط دے او جمله شرطیه فَلَوْ صَدَقُوا الخ : د دے جزاء ده۔ صَدَقُوْا : ریښتیا ئے ویلے۔ صدق په معنیٰ د ریښتیا ویلو او ریښتیا کولو (صراح) یعنی کله چه معامله مضبوطه او پخه کړے شوه او د جهاد اعلان وشو، نو هغه وخت کچرے دے خلقو ریښتیا وینا اختیا رولے نو دا به دوی دپاره بهتره وه۔

۱۹ فَهَلْ عَسَيْتُمْ : خطاب دے منافقانو ته۔ هر کله چه په تاسو باندې

جهاد فرض کړے شو چه بے شماره دینی فائدے لری. مثلاً د الله پاک د دین اوچتولے د باطل شکست او د آخرت ثواب وغیره لیکن تاسو د دے نه اعراض اوکړو. نو معلومیږی چه تاسو خالص دُنیا پرست یئ نو آیا بیا تاسو نه دا اُمید او توقع اوکړے شی چه کچرے تاسو ته حکومت ملاؤ شی نو تاسو به په زمکه کښ شر او فساد پیدا کړئ او د رعیت حق تلفی به وکړئ او ظلم به وربانندے وکړئ او د خپلو رشته دارانو حقونه به د خپو لاندے کړئ.

۲۰ أُولَٰئِكَ: دا هغه خلق دی چه دوی لره الله تعالیٰ د خپل رحمت نه لرے کړل او په زړونو ئے ورله د جباریت مهر اولګولو او د حق اوریدلو نه ئے کانړه اوګرځول او سترګے ئے ورله ړندے کړے. دوی په خپلو نفسونو او په اطرافو د دُنیا کښ ګوری لیکن په دوی کښ او په یو نابینا کښ هیڅ فرق نشته. ځکه چه نابینا لاره نه وینی دا رنګے دوی هم د هدایت لاره نه وینی.

۲۱ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ: دا منافقانو ته زجر دے. آیا دا خلق د قرآن په واضحه ایتونو کښ غور و فکر نکوی یا د دوی په زړونو باندے تالے لګیدلے دی او دوی داسے بے شعوره او ناپوهه دی چه پکښ د سوچ فکر صلاحیت بالکل پاتے نه دے. کچرے دا خلق د جهاد په حکم کښ لږ شان هم د غور نه کار واخلی نو د جهاد دینی او دُنیوی فائدے به ورته ښکاره شی. إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا (الآية). منافقان د اسلام د اقرار کولو نه پس په جهاد کښ شرکت نکوی او د خپل قول او اقرار نه بیرته ګرځی. شیطان د دوی په زړونو کښ دا خبره اچولے ده چه کچرے جهاد ته لاړ شئ نو او به وژلے شئ او د دے وینا سره ئے د هغوی په اُمیدونو کښ اضافه اوکړه چه په کورونو کښ یئ نو ډیرے زمانے پورے به ژوندی اوسیږئ نو د دے د پاره جهاد پریږدئ. المعنی وعدهم بالبقاء الطویل. (روح ج ۲۶ ص ۷۵).

۲۲ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ (الآية): الَّذِينَ كَرِهُوا سره یهودیان او مشرکان مراد دی منافقانو چه کله په ظاهری طور باندے اسلام قبول کړو نو هغوی یهودیانو او مشرکانو ته دا یقین ورکړو چه مونږ اګر چه په ظاهره مسلمانان یو لیکن د مسلمانانو په منکرتیا کښ به تاسو سره نه جنګیږو بلکه کله چه موقعه بیا مومو نو ستاسو امداد به کوو. الله تعالیٰ د دوی د پټو او خفیه سازشونو او منصوبو نه ښه خبر دے.

۲۳ فَكَيْفَ إِذَا: دا تخویف دُنیوی دے. کله چه فرښتے د دوی روحونه قبض کوی نو د دوی مخونه او شاګانے به ښه وهی او د کوم مرګ او وهلو نه چه دوی تختیدل د هغے مزه به ښه وڅکی. ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ (الآية)، د مرګ په وخت به دوی ته دا هیبتناک سزا ځکه ورکولے شی چه د کفر او شرک، نافرمانئ او

سرکشئ لاره اختیار کړے وه چه هغه په د الله پاک د ناراضګئ او د غضب باعث وه او د الله پاک د رضا او خوشالئ والا لاره ئے پریښودله، نو په دے وجه ئے د هغوی ټول اعمال بے فائدے او کړځول چه د اخرت په ورځ ورته هیڅ فائده او نه رسوی.

اَمْ حَسِبَ الَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ

ایا خیال کوی هغه خلق چه په زړونو کښ ئے مرض دے ﷺ چه الله به

یُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ (۲۹) وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَیْنٰکَهُمْ

ظاهر نکړی د دوی کینے۔ او که مونږ اوغواړو تا ته به او ښایو هغه خلق

فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِیْمٰهُمْ ؕ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِیْ لَحْنِ الْقَوْلِ ؕ

پس ته به و پیژنے هغوی لره د هغوی د مخونو نه۔ او خامخا به ئے او پیژنے د هغوی د خبرو د انداز نه،

وَاللّٰهُ یَعْلَمُ اَعْمَالَکُمْ (۳۰) وَلَنَبْلُوَنَّکُمْ حَتّٰی نَعْلَمَ

او الله ته معلوم دی ستا سو ټول کارونه۔ او یقیناً مونږ به تاسو لره آزمایو ډیر بار ډیر چه معلوم کړو ﷺ

الْمُجٰهِدِیْنَ مِنْکُمْ وَالصّٰبِرِیْنَ ۙ وَنَبْلُوَا۠ اَخْبَارَکُمْ (۳۱)

هغه چه په تاسو کښ جنګیدونکی دی او قائم پاتے کیدونکی او چه تحقیق وکړو ستاسو د خبرونو۔

اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا

کوم خلق چه منکر شول او منع ئے کړل (خلق) د الله د لارے نه ﷺ او مخالف شول

الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمُ الْهُدٰی ۙ لَنْ

د رسول پس د دے نه چه ښکاره شوه دوی ته سمه لاره، نقصان به

یَّضُرُّوا اللّٰهَ شَیْئًا ؕ وَسَیُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ (۳۲) یٰۤاَیُّهَا

او نه رسوی الله ته د هیڅ شی، او هغه به برباد کړی د دوی ټول کارونه۔ اے

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا

ایمان دارو! حکم ومنئ د الله ﷻ او حکم ومنئ د رسول ﷺ او مه

تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ

ضائع کوئ خپل کړي کارونه وف ۵۱ ، کوم خلق چه منکر شول او بندائے کړل (خلق) د

سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ

الله د لارے نه بیا مړه شول او دوی منکریاتے شول نو هیڅکله به او نه بخښي الله

لَهُمْ ﴿۳۴﴾ فَلَا تَهِنُوْا وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ۖۗ وَاَنْتُمُ

دوی لره - پس تاسو مه کمزوری کیږئ چه را بلئ خلق صلحے ته ف ۲۹ او تاسو به

الْاَعْلَوْنَ ۖۗ وَاللّٰهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾

غالب یئ او الله تاسو سره دے او نقصان به ونکړی تاسو ته ستاسو په کارونو کښے ف ۳۰

اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۗ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا

دا د دنیا ژوندون خو لوبے او تماشا ده بس او که چرے تاسو یقین وکړئ

وَتَتَّقُوْا يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ وَلَا يَسْئَلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ﴿۳۶﴾

او (د کناه نه) ځان وساتئ در به کړی تاسو ته ستاسو بدله او نه به غواړی ستاسو نه، ستاسو (ټول) مال ف ۳۱

اِنْ يَّسْئَلْكُمُوْهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾

که چرے وغواړی ستاسو نه هغه مال بیا تاسو تنګ کړی نو بخل به شروع کړئ او ښکاره به کړی ستا د زړه کینے او دشمنی -

هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ

اورئ تاسو، خلق تاسو لره رابلی چه خرچ کړئ اسه د الله په لاره کښن،

فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ

بیا تاسو کښن څنے داسے دی چه ورکړه نکوی او څوک چه مال نه ورکوی نو ور کړه نکوی

عَنْ نَّفْسِهٖ ۗ وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا

خپل ځان ته ف ۳۲، او الله بے پروا دے او تاسو محتاج یئ او که تلوار وګرځئ نو

يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾ ع ۸

بدل به کړی نور خلق الله ستاسو نه بیا به هغوی نه وی ستاسو په شان ف ۳۳ -

نکات: ۱ زجر د پاره د منافقانو. ۲ د مشرکانو د احوالو بیان. ۳ قتال بانې اماده کول. ۴ د کافرانو د حال بیان او تخویف اخروی. ۵ مومنانو ته په جهاد کښې د لګولو ترغیب ۶ زجر د پاره د منافقانو.

موضح قرآن ف۱ یعنی جهاد کول یا د الله تعالیٰ په لاره کښې بل کوم محنت کول په هغه قبول وی هرکله چه د الله پاک د حکم موافق وی، پخپل نفسانی خواهش هیڅ یو کار مکوی. منہ رحمہ اللہ. ف۲ د جنګ د سختونه تختیدلو سره بے همته کیدل پکار نه دی او صلحے ته اماده کیدل پکار نه دی او که څه فائده په نظر راشی او څه مصلحت وی نو بیا صلحه بده نه ده. مختکښې به په سورة فتح کښې راشی. منہ رحمہ اللہ تعالیٰ. ف۳ د الله تعالیٰ ملک فتح کړے دے مسلمانانو، بچرے د خپلو جیبونو نه تقوورځے مالونه خرچ کړل تو څومره چه نے خرچ کړی وو هغې نه ستل چند زیات په لاس ورغلل. په دے وجه نے وفرمائیل چه الله پاک ته قرض ورکړی. منہ رحمہ اللہ تعالیٰ. ف۴ دا د مال خرچ کولو کوم تاکید ونه چه تاسو اوری دا خیال مکوی چه الله پاک ستاسو نه سوال کوی یا د هغه رسول ؐ ، دا خوستا سو د فائده د پاره وینا ده بیا به دیو په بدله کښې په زرګونو فائدے بیا مومئی او الله ته څه پروا لری او د هغه رسول څه پروا لری. منہ رحمہ اللہ.

فتح الرحمن ف۱ یعنی د نفاق تیاره به نے په مخونو ښکاره شی. ف۲ یعنی مرتد کیدلو او ریا سره. ف۳ یعنی ټول مال. ف۴ یعنی د مال خرچ کولو فائده د ځان ته منتعه کوی.

تفسیر ۲۴ اَمۡ حَسِبَ (الآیة): منافقانو ته زجر دے. د هغوی دا خیال غلط دے چه د اسلام او پیغمبر اسلام او مسلمانانو خلاف چه د دوی په زړونو کښې کوم کینه او دشمنی پټه پرته ده الله تعالیٰ به هغه ښکاره نکړی او د دوی د مکر او فریب او منافقت پرده به څیرے نکړی، ضرور به دا سے کوی او دا سے حالات به راپیدا کړی چه د دوی د باطن خباثت به پخپله ښکاره او وا ضحه شی. وَلَوۡ نَشَآءُ (الآیة): بچرے مونږ اوغواړو نو منافقان به ستاسو په وړاندې حاضر کړو او تاسو به نے لیدلو سره شکلونه اوپیژنئ چه دا منافقان دی خوتر اوسه پورے د دا سے صفا فیصلے تقاضا زمونږ حکمت نکوی. هسے خو به تاسو د هغوی د خبرو اترونه هغوی اوپیژنئ ځکه چه منافق خواه هرڅومره د خوشامندئ او ښا ئسته خبرے وکړی، د هغه په خبرو کښې هغه خلوص نشی پیدا کیدلے کوم چه د یو مخلص مؤمن په ساده او صفا خبرو کښې موتد لے شی.

۲۵ وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ (الآیة): مونږ د جهاد حکم سره ستاسو ازمیښت کول غواړو او ظاهرول غواړو چه څوک ستاسو نه د الله په لاره کښې جهاد کول غواړی

اودَحق په لاره کښ مصیبتونه زغمل غواړي او څوك داسے کوَل نهٔ غواړي. دے
سره به هم دَ مخلص او منافق جدائي اوشي اودَ منافق او مخلص عمل سره به
دَهغهٔ دباطن اودَ زړهٔ کیفیت ښکاره شي، یعني انا نأمرکم بالجهاد حتی یظهر
المجاهد ویتبین من یبادر منکم ویصبر علیه من غیره. (خازن ج ۶ ص ۱۸۴).

۳۶ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا: دا دَ سورت په آخر کښ بیا دَ مشرکانو دَ احوالو ذکر دے.
کوم خلق چه دَهدایت د لارے پوره واضح کیدلو او روښانه کیدلو نه پس هم دَ
توحید نه انکار کوي اوخلق د اسلام نه منعه کوي او دَ پیغمبر خدا ﷺ به
دشمنئ کښ دَحد نه تیرشویدي او دَهغهٔ د احکامو نافرماني کوي، هغوی الله پاك
ته هیڅ نقصان نشي رسوَلے، الله تعالی به دَهغوی ټول سازشونه د اسلام او
پیغمبر علیه السلام او دَ ایمان والو خلاف ناکام کړي او دَدوي ټول اُمیدونه او آرزوګانے
به په خاورو کښ ملاو کړي. (سَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ) التی عملوها فی مشاقة
الرسول ای سیبطلها فلا یصلون منها الی اغراضهم. (مدارك ج ۴ ص ۱۱۸).

۳۷ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا (الآية) د اتشجیع (زړهٔ ورکوَل) دي په جنګ باندِ.
دَجهاد په آمر کښ دَ الله اودَهغهٔ د رسول ﷺ دَ احکامو تابعداري وکړئ او دَدین
په لاره کښ خپلے مرضئ اوخوښے باندِ مهٔ ځئ بلکه د الله تعالی اودَهغهٔ دَرسول ﷺ
په هدایاتو باندِ لاړ شئ اودَ هغوی دَ احکامو تابعداري وکړئ. دَ الله اودَهغهٔ
د رسول ﷺ مخالفت او دَ خپلے خوښے اومرضئ کارکولو سره خپل محنت او عمل مهٔ
ضائع کوئ. دَدے آیت نه فقهاؤ دا مسئله را ایستلے ده چه کهٔ یو سړے نفلي مونځ
روژه شروع کړي او بیا ئے مات کړي نو د هغے قضا لازمي ده (مظهری وغیره) کچرے
حرف د لَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ نه دا استنباط وکړے شي نو صحیح ده لیکن د آیت
سیاق اوسباق (دَمضمون ربط) د دے متحمل نهٔ دے. قاله الشیخ رحمه الله تعالی.

۳۸ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا (الآية): دَ مشرکانو دَحال بیان سره دَ تخویف اُخروي
نه. کوم خلقو چه خپله کفر او شرك اختیار کړیدے او نورو خلقو ئے دَ اسلام نه
منعه کړیدي او بیا دغه کفر او شرك باندِ دوي مړهٔ شوي دي نو داسے خلقو له
به الله تعالی هیڅکله معاف نکړي او دوي به یقیناً دَدوزخ په همیشه عذاب
کښ ګرفتارولے شي.

۳۹ فَلَا تَهِنُوا (الآية): د ایمان والو ته په جهاد کښ په تینګ پاتے کیدلو باندِ
ترغیب دے. تَدْعُوا په تَهِنُوا باندِ معطوف دے یعني په جهاد کښ سستي او کمزوري
مهٔ ښکاره کوئ او ویریدلو سره دُشمن طرفته دِ صلح لاس مهٔ وړاندِ کوئ. تر څو
پورے چه ستاسو تله درته ده نو همت مهٔ بائیلئ، دَ الله تعالی مدد تاسو سره
دے، هغه به ستاسو محنت ضائع نکړي بلکه تاسو به ثابت قدم اولري او فتح او
غلبه به درله درکړي لیکن کچرے صورت حال داسے پیښ شو چه مادي اعتبار

سره مسلمانان دَ کفارو په مقابله کښ کمزوری وی او په صُلح کښ د اسلام او مسلمانانو فائده وی نو بیا په صُلح کولو کښ څه تنګی نشته:

فاما اذا الكفار فيهم قوة وكثرة بالنسبة الى جميع المسلمين و رأى الامام في المهادنة والمعاهدة مصلحة فله ان يفعل ذلك كما فعل رسول الله صلى الله عليه وسلم حين صده كفار قريش عن مكة ودعوه الى الصلح و وضع الحرب الخ - (ابن کثیر ج ۴ ص ۱۸۰)-

۳۶ـہ إِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا: دَ الله تعالیٰ په لاره کښ دَ خرچ کولو ترغیب دے - دا دُنیا خو خالص یوه لوبه او تماشا ده او دَ آخرت په مقابله کښ هیڅ څیز نه دے. که چرے تاسو تقویٰ او ایمان اختیار کړئ او دے لوبے تماشے نه ځان اوساتئ نو الله تعالیٰ به تاسو ته بهترین اجر درکړی او الله پاک خو ستاسو نه ټول مال هم نه غواړی بلکه دَ ټول مال نه لږه شان حصه طلب کوی او هغه هم ستاسو دَ فائدے دپاره خرچ کیږی۔

إِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا الخ: يُحْفِكُمْ په يَسْـَٔلْكُمُوْهَا باندے معطوف دے - دا هم دالله تعالیٰ مهربانی ده چه دا ټول هر څه هغه درکړیدی لیکن بیا هم دَ ټول مال خرچ کولو حکم نه ورکوی. او که چرے هغه تاسو ته دَ ټول مال خرچ کولو حکم درکړی هم نو هیڅوک به هم دے باندے عمل اونکړی بلکه بخل به وکړی او دَ خپلے تنګی لئی او خفګان اظهار به وکړی۔ إِلَّا مَا شَآءَ اللهُ۔

۳۸ـہ هٰٓاَنْتُمْ: زجر منافقانو دپاره. تاسو ته چه کله دالله تعالیٰ په لاره کښ دَ خرچ کولو دعوت درکولے شی نو تاسو کښ ځنے خلق بخل کوی حالانکه دا خو دَ خپلے فائدے دپاره خرچ کول دی. دے دپاره څوک چه خرچ نکوی هغه خپل نقصان کوی او دَ خرچ نه کولو په وجه دَ برو دینی او دُنیوی فائدو نه محرومه کیږی او الله تعالیٰ چه دَ کوم خرچ کولو حکم درکوی هغه سره دا مه ګنړئ چه هغه کنی ستاسو مال ته محتاجه دے هغه خو بے پروا ذات دے او تاسو ټول هغهٔ ته محتاج او ضرورتمند یئ او هغه ستاسو په حاجتونو او ضرورتونو کښ تاسو ته دَ خرچ کولو حکم درکوی. او بیا د لرئ الله تعالیٰ چه تاسو ته دکوم مقصد پوره کولو دپاره دَ خرچ کولو حکم درکوی هغه تاسو پورے تړلے نه دے. که تاسو ټول بخیلان شئ او دَ هغهٔ په لاره کښ خرچ ونکوئ نو هغه به ستاسو په ځائے بل یو قوم راوچت کړی چه ستاسو پشان بخیلان به نه وی او په فراخه زړهٔ سره به دَ الله تعالیٰ په لاره کښ خرچ کوی او دغه شان به الله تعالیٰ د هغه مصالحو نیکو کارونو تکمیل وکړی لیکن تاسو به دغه نیک کارونو کښ دَ حصے اخستلو دَ خوش قسمتئ نه محرومه شئ ❊

دَ سورۀ محمد (صلی الله علیه وسلم) خاصیتونه او دیکښې دَ توحید ایتونه

① دَ مؤمنانو او کافرانو دَ صفاتو مقابله.

② ترغیب الی الجهاد او دَ هغې علتونه.

③ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، دَ شرک دَ ټولو قسمونو نفی او دَ کارسازئ دَ ټولو صفاتو اثبات الله جَلَّ شَانُهٗ وَعَزَّ بُرْهَانُهٗ دپاره ده.



سُوْرَةُ الْفَتْح

رَبط سورة محمّد کښ دَ جهاد اعلان شوے وُو اُوس په سورهٔ فتح کښ دَ فتح زیرے اَورَوُلے شي چه کله تاسو جهاد کوئ نو الله تعالیٰ درله فتح درکوی۔ دَ مضمون په اعتبار سره دَ دے سُورت دوه حصے دی۔ اوله حصه دَ شروع نه تر عَنْهُ اِبَآ اَلِیْمًا دَ دویمے رکوع اخره پورے، او دویمه حصه لَقَدْ رَضِیَ اللّٰہُ دَ دریمے رکوع د شروع نه تر دَ سُورت اُخره پورے ده۔ د اُولے حصے دَ مضامینو اعاده او په اخر کښ لَقَدْ صَدَقَ اللّٰہُ الخ سره دَ یو شبهے ازاله ده۔

تفصیل ——— اَوله حِصّه

اِنَّا فَتَحْنَا لَکَ، دا اوله خوشخبری ده۔ دَ صُلح حُدیبیے ظاهری شرطونو ته نظر کولو سره هغه شکست معلومیږی، دا په حقیقت کښ تاسو دپاره لویه فتح ده۔ هُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ السَّکِیْنَةَ: دا دویم زیرے دے۔ الله تعالیٰ دَ مومنانو په زړونو باندې اطمینان نازل کړو دهغوی زړونه ئے مضبوط کړل۔ لِیَزْدَادُوْٓا اِیْمَانًا الخ: دا دویم زیرے او ړومبنی علت دے یعنی دے دپاره چه دَ دوی ایمان مضبوط شي۔ لِیُدْخِلَ الْمُؤْمِنِیْنَ الخ، دا دَ دویم بشارت علت دے په مینځ کښ: وَلِلّٰہِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ الخ، جمله معترضه ده دَ بشارت دَ اِتمام دپاره، یعنی هغه فتح ورکول او سکینه نازلول دهغهٔ په اختیار کښ دی۔ وَیُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِیْنَ الخ معطوف دے په یُدْخِلَ، وَلِلّٰہِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ الخ اعاده دَ جمله معترضه دپاره دَ تاکید۔ اِنَّآ اَرْسَلْنٰکَ الخ: دَ توحید بیان په طور د ترقئ دَ سُورهٔ محمّد نه روستو دَ بیا نؤلو دَ دوؤ خوشخبرونه۔ اِنَّ الَّذِیْنَ یُبَایِعُوْنَکَ الخ: ترغیب فی الجهاد۔ ستاسو په لاس بیعت کولو سره به دَ هغے پوره کونکی ډیر زیات اجر او ثواب بیا مومی۔

سَیَقُوْلُ لَکَ الخ: دا په هغه منافقانو زجر دے څوک چه دَ حُدیبیے په واقعه کښ شریک نشول۔ دا خلق نبی علیه السلام ته راغلل او دَ دروغو بهانے ئے جوړے کړے۔ دغه خلق دَ مصیبت او تکلیف نه دَ بچ کیدلو دپاره تاسو سره لا نړل

نو کهٔ الله تعالیٰ په دوی او دَدوی په کورونو باندې مصیبت راولي نو څوك به ئې بچ کړي دالله نه۔ بَلْ ظَنَنْتُمْ الخ تفسیر دے د يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ: تا سو دا خیال کړے وُو چه نبي علیه السلام او مؤمنان به ژوندی او سلامت نهٔ راځي، مشرکان به ئې نو تے ټوټے کړي۔ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ الآية: تخویف اُخروی دے۔ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ الخ، جمله معترضه ده۔ سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ (الآية): زجر دے منافقانو دپاره۔ دا خلق دَمکے په سفر کښې تاسو سره لاړل ځکه چه دَځان ویره ورسره وه لیکن په جنګ خیبر کښې شریکیدل غواړي ځکه چه دَمسلمانانو تله دَرَنه ده او دَمال غنیمت ته دحصے ملاویدلو اُمید ورته شته۔ ته دوی ته وُوایه چه تاسوته موږ سره دَشرکت اجازت نشته۔ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ (الآية): تاسوته به نزدے وخت کښې یوه بله موقعه درکولے شي چه په هغې کښې به ستاسو ازمینت کیږي، کهٔ په هغې کښې تاسو دَ اخلاص او اطاعت ثبوت ورکړو نو ډیره بښنه به درکړے شي۔ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى (الآية) دا خلق معذوره دي، جهاد کښې دَشرکت نهٔ کولو په وجه دوی باندې هیڅ ګناه نشته۔

تفصیل —— دویمه حِصّه

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ — تا — وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝ (ع۳): دَحصهٔ اَول دَمضامینو ته مؤمنانو دپاره بشارت اُخرویه او په مشرکانو باندې دَغلبے حاصلیدلو دَخوشخبرۍ دوباره ذکر، دالله تعالیٰ دَامداد او نصرت ذکر۔ لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ — تا — فَتْحًا مُّبِيْنًا ۝ جواب دَشبهے۔ نبي کریم صلی الله علیه وسلم خوب اولیدهٔ چه دَصحابو رضی الله عنهم سره مسجدِ حرام ته داخلیږي. حال دا دے چه دا سے اُونشوه او نبي علیه السلام سره دَصحابه کرامو رضی الله عنهم دَحدیبیه مقام نه واپس مدینے منورے ته راغے۔ نو جواب ورکړے شو چه خوب به ضرور رښتونے کیږي او تاسو به سره دَصحابه کرامو رضی الله عنهم مسجدِ حرام ته داخلیږئ او عُمره به کوئ۔ کهٔ دے کال کښې اُونشوه نو په راتلونکي کال کښې به خامخا دا خوب پوره کیږي ځکه چه په خوب کښې دکال تعیّن نهٔ وُو شوے۔

هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ — تا — مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ: دَشبهے دَجواب نه پس دَنبي علیه السلام دَاتّباع او دَتوحید دَمسئلے ترغیب دے۔ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ (الآية): مَدحه او دَصحابه کرامو رضی الله عنهم صفتونه دے دپاره چه روستو راتلونکي خلق دَدوی تابعداري وکړي ۞

۞ ۞ ۞

سُوْرَةُ الْفَتْحِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ وَعِشْرُوْنَ آيَةً وَاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة فتح سله مدینه کښې نازل شو دیکښې یو کم دیرش ایتونه او څلور رکوعگانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نوم د الله چه بے حده مهربان نهایت رحم کوونکے دے

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ﴿۱﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا

مونږ فیصله وکړه ستا دپاره ښکاره فیصله ۱ ځکه دپاره معاف کړي تاته الله هغه چه

تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ

مخکښې تیر شوي دي ستا ګناهونه او کوم چه روستو پاتې دي او پوره کړي تا باندې خپل

عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲﴾ وَّيَنْصُرَكَ

احسان او بوځي تا لره په سمه لاره او امداد او کړي الله

اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ﴿۳﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ

ستا امداد غالب (الله) هغه ذات دے چا چه نازل کړه اطمینان په

قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ

زړونو د مؤمنانو کښې، د دے دپاره چه نور هم زیات کړي د دوی ایمان د خپلو ایمانونو سره

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

او د الله دپاره دي ټول لښکرې د اسمانونو او د زمکے، او الله دے خبردار

حَكِيْمًا ﴿۴﴾ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ

حکمت والا د دے دپاره او رسوي مؤمنان سړي له او مؤمنے ښځے باغونو ته

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ

چه بهیږي د هغې نه لاندے نهرونه همیشه به اوسیږي په هغې کښې او چه لرې کړي

عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۵﴾

د دوی نه د دوی بدۍ، او دا دی د الله په نزد لوئے برے موندل ق

وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَ

اوچه عذاب ورکړی ښځه دهوکه بازو سړو او دهوکه بازو ښځوته او شرک کوونکو سړو او

الْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ عَلَيْهِمْ

شرک کوونکو ښځوته چه ګمانونه کوی په الله بانډې بد ګمانونه ، دوی باندې راپرېوتی دی

دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ

راګرځېدل د عذاب او غصه شو الله په دوی باندې او لعنت ئې پرې وکړو او تیار کړې دی

لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿٦﴾ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ

دوی دپاره دوزخ ، او ډیر بد ځائے دے د ورتلو (٦) او الله دپاره دی ټول لښکرې

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿٧﴾

د اسمانونو او د زمکې . او دے الله غالب حکمت والا .

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿٨﴾ لِّتُؤْمِنُوْا

بیشکه مونږ تا اولیږلے شه حالات بیانونکے او زیرے ورکونکے او وېرونکے دې دپاره چه تاسو یقین وکړئ

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَتُسَبِّحُوْهُ

په الله او دهغه په رسول باندې او دهغه امداد وکړئ او تعظیم ئې اوکړئ او د الله پاکی بیان کړئ

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا

صبا او بیګاه . بیشکه کوم خلق چه بیعت کوی تا سره ، هغوی

يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ؕ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ

بیعت کوی د الله سره ، د الله لاس د پاسه د هغوی د لاس نه ، بیا څوک چه

نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا

وعده ماته کړی نو ماتوی ئې د خپل نقصان دپاره او څوک چه ئې پوره کړی په هغه څیز چه کوم

عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١٠﴾ ع ۹

چه ئې اقرار اوکړو د الله سره نو هغه به ورله ورکړی بدله ډیره لویه (١٠)

نکات: ۱۔ بشارت دَ فتحِ مکے۔ ۲۔ دویم دُنیوی بشارت۔ ۳۔ دَ دویم دُنیوی بشارت رومبئ ثمره او نتیجه۔ ۴۔ دویمه ثمره۔ ۵۔ معطوف په بدخل، دریمه ثمره۔ ۶۔ بیان دَ توحید په طور دَ ترقئ دَ سُورۃ محمّدؐ ته او ترغیب دَ ایمان او نصرت دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلّم۔ ۷۔ دَ جهاد ترغیب۔

موضح قرآن ف۱ دَ هجرت په شپږم کال نبی علیه السلام خوب ولیدهٔ چه مکے ته تلے دے او دَ عُمرے کولو نه پس سر خرائی۔ نو دَ عمرے اراده ئے اوکړه اګرچه دَ قریشو سره دشمنی وه خو دَستور دا وو چه دُشمن به هم دَ حج او عُمرے نه نهٔ شو منع کولے او په حرم کښ به ئے دُشمنی نهٔ کوله، دَ پنځلس سوه صحابوؓ سره لاړو۔ قریشو خلق راجمع کړل او دَ ښار نه بهر جنګ دپاره راووتل کله چه نبی علیه السلام هغه مقام ته اورسید ځ چرته چه مکه په نظر راغله، په کومه اوښه باندے چه سور وُو هغه کینا ستله او نهٔ پاڅیده۔ کله چه نبی علیه السلام قسم اوکړو چه څهٔ به دَ کعبے ادب کوم اګرچه دا خلق پرشور او زور سره نامنا سبه خبرے وکړی بیا دغه وخت هغه پاسیده، نبی علیه السلام مقابله پریښوده او حدیبیه مقام کښ ئے دیره واچوله او خبرے ولیږهٔ چه کهٔ تاسو غواړئ نو ما سره صلحه اوکړئ څهٔ موده صبر اوکړئ، تلوار مکوئ۔ دے (مُوده) کښ به مونږ نور هم مسلمانان کړو بیا کهٔ غواړئ نو مسلمانان به شئ او کهٔ غواړئ نو جنګ به وکړئ۔ آخر صلحه وشوه لیکن دے کال کښ ئے عمره ادا نکړے شوه، راتلونکی کال کښ ئے قضا راوړلے شوه۔ دَ دے صلحے نه پس دا سورت نازل شو۔ منهٔ

ف۲ اطمینان ئے نازل کړو یعنی دَ رسولؐ په حکم هانی کلک پاتے شول او دَ ضدیانو (کافرانو) سره ئے ضد اونکړو۔ دے سره دَ دوی دَ ایمان درجه نوره هم زیاته شوه۔ منهٔ ف۳ کوم خلق چه وائی چه دَ جنت طلب دَ ناقصانو کار دے دَ دے نه معلومه شوه چه دَ الله تعالیٰ په نزد هم دا لوئے کمال دے۔ منهٔ

ف۴ لوئے ګمانونه دا وُو چه دَ مدینے نه دَ تلو په وخت منافقانو بهانے جوړولو سره پاتے کیدل او ګمان ئے کولو چه دوی به په جنګ کښ تباه کیږی۔ دَ وطن نه لرے وځی او فوج کم دے او دَ دُشمن وطن دے او کافرانو ګمان کولو چه دَ عُمرے په نوم راغلی دی او په چل سره زمونږ نه دَ مکے ښار اخستل غواړی۔

ف۵ دَ بیعت په وخت به ئے رسول الله صلی الله علیه وسلم سره لاس ملاوَ وُلو۔ اول به ئے دَ اسلام راوړلو بیعت کولو بیا چه به کله دَ یوے خبرے تاکید منظور وُو په جنګونو کښ به بیعت اخستلو وُو په دے خبره چه ترمرګه به جنګیږو او تیخته به نهٔ کوو۔ منه رحمه الله تعالیٰ ❖

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائی چه نبی علیه السلام خوب اُولیدهٔ چه سره دَ صحابه کرامو مکے ته داخل شو او اطمینان سره ئے سر خرائی۔

او ویخته کټ کولو باندې مشغول دي. نو په دغه کال دَ عمرې په اراده سره کعبې ته روان شول او کله چه حدیبیه ته ورسیدل نو دَ قریشو کافران مانع شول. نو ډیر تشویش نه پس ئې کافرانو سره صلحه اوکړه. کعبې ته دَ رسیدلو نه بغیر واپس شول، الله تعالیٰ هغه عمل دَ دوی نه قبول کړو او هغه بیعت چه دَ پریشانئ په وخت دَ اراده دَ مضبوطوالی دَ وجې نه صحابه کرامو رض دَ نبی علیه السلام سره کړے وُو په هغې راضی شول او دَ دې عمل په وجه ورته الله تعالیٰ ډیر فتوحات نصیب کړل خصوصاً دَ خیبر فتح چه دَ دې سفر نه پس ډیره زر واقع شوه او دَ خیبر غنیمتونه ئې هغه چا باندې تقسیم کړل څوک چه دغه بیعت حاضر وُو او دَ دوی نه علاوه نورخلق ئې دَ دغه غزا نه منعه کړل او دَ خوب مضمون په راتلونکی کال کښې ښکاره شو او دَ فتوحاتو دَ وعدې او دَ خوب دَ مضمون او تعبیر دَ روښتو کیدلو په وجه دَ منافقانو دَ شبهاتو او اعتراضونو په رد کښې او دَ روستووالی دَ حکمت بیانولو او دَ حدیبیې دَ سفر نه دَ روستو پاتې کیدونکو دَ ویرولو او دَ خپلې رضامندئ دَ پاره دَ بیعت کونکو په حق کښې ئې دا سورت نازل کړو. والله تعالیٰ اعلم.

تفسیر — اوله حِصّه

۱ اِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ: سنه ۶ کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم خوب اولیدو چه هغوی دَ صحابه کرامو رض بوے ډلے سره مکے مکرمے ته داخل شو. څنې خلق سرونه خرائی او څنې ویخته کټ کوی. نبی علیه السلام چه دا خوب صحابو رض ته بیان کړو نو هغوی ډیر زیات خوشحاله شول. ددے نه پس دَ ذی قعدے په میاشت کښې نبی علیه السلام دَ صحابه کرامو رض یولوئے جماعت سره دَ بیت الله شریف دَ زیارت په اراده روان شو. دَ حدیبیې په مقام کښې دَ صحابه کراموتعداد دخوارلس سوه وُو. کله چه دوی دلته راورسیدل نو نبی علیه السلام حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه ته خپل پیغام ورکړو او مکے ته ئې اولیږلو چه دَ نبی علیه السلام پیغام قریشو ته اورسوی. پیغام دا وُو چه حُو دَ خپلو ملګرو سره دَ بیت الله شریف دَ زیارت دَ پاره راغلے یم نو تاسو مونږ سره څه تعرض مکوئ. قریشو دَ بیت الله اجازت ورنکړو او حضرت عثمان رضی الله عنه ته ئې ووئیل که ته غواړے نو دَ بیت الله طواف کولے شې لیکن هغه جواب ورکړو چه دا هیڅکله نشی کیدے چه حُو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بغیر څانله طواف اوکړم نو حضرت عثمان رضی الله عنه دَ طواف کولو نه بغیر راواپس شو. آخر دَ قریشو نه سهیل بن عمرو نبی علیه السلام ته راغے او نبی علیه السلام سره ئې یوه معاهده وکړه چه دَ هغې شرطونه دا وُو:

(۱) دَ مشرکانو نه که یو کس مسلمان شی او نبی علیه السلام ته راشی نو هغه به راواپس کولے شی.

(۲) کچرے څوك د مسلمانانو نه مشرکانو ته راشي نو هغه به ئې واپس کولے.
(۳) مسلمانان به دے کال کښې د بیت الله زیارت نه کوی بلکه په راتلونکی کال کښې به راځي او شرط دا دے چه بغیر د وسلے نه به مکے ته داخلیږي.
د صلح شرطونو په ظاهره د مسلمانانو کمزوري ظاهریدله، په دے وجه د اکثر و مسلمانانو مخونه مراوي شول خو د صلح نه پس چه کله د حدیبیے مقام نه روان شول نو په لاره کښې دا سورت نازل شو. (روح، خازن، معالم وغیره)
إِنَّا فَتَحْنَا: دا اَولنے زیرے دے: ای حکمنا لك بالفتح یعنی مونږ تا ته د عظیم الشان فتح درکولو فیصله کړے ده او د فتح مبین نه د مکے فتح مراد ده. یا مطلب دا دے چه مونږ تا ته یوه شاندار ه فتح درکړے ده او د دینه صلح حدیبیه مراد ده.
صلح حدیبیه په حقیقت کښې یوه عظیم الشانه فتح ده چه د فتح مکے سبب جوړه شو او د کومے په وجه چه مشرکانو ته د مسلمانانو په مینځ کښې اوسیدلو سره د هغوی د حالاتو د مطالعے او مشاهدے کولو موقعه ملاؤ شوه او د اسلام خوبیانے او فائدے د دوی په زړونو کښې کیناستلے چه د هغے نتیجه دا شوه چه د صلح حدیبیه نه تر فتح مکے پورے دوه کالو کښې په اسلام کښې دومره خلق داخل شو چه په فتح مکه کښې نبی علیه السلام سره د خپلو ملګرو تعداد د لس زره و نه زیات وُو؛

قال الزهری لم یکن فتح اعظم من صلح الحدیبیة اختلط المشرکون بالمسلمین وسمعوا کلامهم وتمکن الاسلام فی قلوبهم واسلم فی ثلاث سنین خلق کثیر وکثر بهم سواد الاسلام (روح ج ۲۶ ص ۸۴). قال الزهری لقد کان الحدیبیة اعظم الفتوح وذلك ان النبی صلی الله علیه وسلم جاء الیها فی الف واربعمائة فلما وقع الصلح مشی الناس بعضهم فی بعض وعلموا وسمعوا عن الله، فما اراد احد الاسلام الا تمکن منه، فما مضت تلك السنتان الا والمسلمون قد جاءوا الی مکة فی عشرة الاف. (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۶۱).

سے ۳ لِيَغْفِرَ لَكَ: د "ذَنْب" (گناه) نه د هغے حقیقی معنیٰ مراد نه ده ځکه چه ګناه صادریدل د انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام نه محال دی. په دے وجه د ذنب نه ترك اولیٰ مراد دے ځکه چه د نبی علیه السلام د اوچت مقام په اعتبار سره هغه ګناه ده اګرچه په حقیقت کښې ګناه نه ده، د قبیل د حسنات الابرار سیئات المقربین نه. یا هغه امور مراد دی چه نبی علیه السلام په خپل نظر کښې ګناه ګنړله اګرچه په حقیقت کښې هغه ګناه نه وه بلکه خلاف اولیٰ هم نه وه.

والمراد بالذنب ما فرط من خلاف الاولی بالنسبة الی مقامه علیه الصلوٰة والسلام فهو من قبیل حسنات الابرار سیئات المقربین وقد یقال

المراد ما هو ذنب في نظره العالي صلى الله عليه وسلم وان لم يكن ذنبا ولا خلاف الاولى عنده تعالى۔ (روح ج ۲۶ ص ۹۱)۔
حضرت علامه شاه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه د ذنب نه مراد الزام دے یعنی تاسو باندې چه مشرکانو او منافقانو کوم د دروغو الزامونه لګوی د هغې ټولونه به د پاك کړی۔ لِيَغْفِرَ کښې لام د ارادے دپاره دے او د دے نه روستو فعل اَرَادَ او اَن مصدریه مقدار دے: ای اراد غفران ذنوبك او يَهْدِيَكَ کښې د هدایت نه معنی موضوع له مراد نه ده بلکه اثبات علی الهدایة مراد دے۔ ای یثبتك علی الهدایة۔ یعنی به په سمه لاره باندې قائم اولری۔ قاله الشیخ رحمه الله تعالی۔ ای یثبتك علی الهدی الی ان یقبضك الیه۔ (روح ج ۱۶ ص ۲۶۳)۔ یا لام عاقبت دپاره دے یا علت غائیه دے۔ (روح، جلالین)۔ د اتمام نعمت نه د دین غلبه، په ټول ملك کښې د اسلام خوریدل او په راتلونکی وخت کښې فتح او امداد او نور دینی او دنیوی نعمتونه مراد دی۔ (بحر، روح)۔
نَصْرًا عَزِيزًا: دا سے امداد چه هغې سره تاسو ته په دشمن باندې غلبه حاصله شی او په تاسو باندې هیڅوك غالب نشی۔ (مدارك، روح)۔ یعنی دا فتح مبین مونږ تاسو ته ځکه درکړه چه د دے سره تاسو ته دا څلور واړه مقاصد حاصل شی۔ د دے په خاطر چه تاسو کوم مصیبتونه او سختئ حاصلے کړیدی د هغې په وجه ستاسو ټول ګناهونه معاف کړے شی او د دے په نتیجه کښې دین اسلام ته او تاسو ته په دشمنانو باندې غلبه درکړے شی او تاسو په صراط مستقیم باندې قائم اوساتلے شئ او د دے په پرده کښې ستاسو دا سے امداد اوکړے شی چه په راتلونکی وخت کښې تاسو غالب پاتے شئ او تاسو باندې هیڅوك غلبه بیا نه مومی۔ (بحر، روح، قرطبی وغیره)
۴ هُوَ الَّذِي: دا دویم زیرے دے۔ ګورئ الله تعالی د دے صلحے په ذریعه ستاسو زړونو ته سکون او اطمینان درکړو او تاسو نے ثابت قدم اوکرځولئ یعنی د انتهائی جوش او جذبے او د کافرانو خلاف د ډیر قهر او غصے با وجود ئے ستاسو زړونه مضبوط کړل او تاسو ئے د جنګ نه بند اوساتلئ چه د هغے فائده دا شوه چه د مشرکانو په زړونو باندې به د دے سره ستاسو د جرأت او بهادرئ رُعب کینی۔
تائید:۔ سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ (انفال - ع ۲)۔
لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ: دا د دویم بشارت ثمره او فائده ده۔ مونږ د ایمان والو په زړونو کښې سکون او اطمینان ځکه واچولو چه د هغوی په ایمان او یقین کښې نور قوت او مضبوطوالے پیدا شی او دوی د دشمن په مقابله کښې کلك پاتے شی: یقینا مع یقینهم برسوخ العقیدة واطمینان النفس علیها۔ (بیضاوی)۔
۵ وَلِلَّهِ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ: دا جمله معترضه ده او اشاره ده ترغیب الی الجهاد او د فتح زیری طرفته۔ یعنی د زمکے او اسمانونو ټول فوجونه د الله تعالی

په قبضه کښې دي او دَهغهٔ دَ حکم تابع دي او هغه په هر څيز خبر دے او د هغه هيڅ يو فعل دَ حکمت نه خالي نۀ دے، هغه دَ مؤمنانو په زړونو کښې سکون نازل کړلے او فتح ورکړلے شي۔

۵ لِّيُدْخِلَ (الآية) : دا دويم زيري ثمره او فائده ده۔ الله تعالیٰ دَ مؤمنانو په زړونو کښې دَ سکون او اطمينان جذبه پيدا کړه د پاره دَ دے چه دوي ثابت قدم پاتے شي او په اتفاق سره دَ دشمن مقابله اوکړي او دَ الله پاک دَ دے نعمت شکر ادا کړي دَ دے د پاره چه الله تعالیٰ دوي ته دَ جنت اعلیٰ قسم او هميشني نعمتونه ورکړي او دَ دوي ټول ګناهونه معاف کړي۔ دَ الله تعالیٰ په نزد دا لويه کاميابي ده چه دَ دوزخ نه بچ شي او جنت ته داخل شي۔ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ○ (آل عمران ۱۸۵، پ۴) يا دَ دے نه مُراد هغه مؤمنان دي کوم چه د دے صُلحې په وخت ايمان راوړي يعني مونږ دَ مؤمنانو په زړونو کښې دَ جنګ نۀ کولو خيال مضبوط کړو، دِ دے د پاره چه صُلح اوشي او الله تعالیٰ ډير زيات مشرکانو ته د اسلام راوړلو توفيق ورکړي او جنت ته ئے داخل کړي۔

۶ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ (الآية) : دا په يدخل باندې معطوف دے او دَ دويم بشارت دريمه ثمره او نتيجه ده او هغه به دَ مشرکانو او منافقانو زړونه ستاسو خلاف دَ غصے او حسد نه ډک کړي او دِ دے سره سره به ستاسو دَ بهادرئ او مضبوطوالي او استقلال رُعب دهغوي په زړونو باندې جاري کړي او ستاسو دَ لاسه به هغوي ته شکست ورکړي او هغوي به خوار او ذليله کړي او رسواکوونکے عذاب به ورته ورکړي۔ دا هغه خلق دي چه په الله تعالیٰ بد ګماني کوي او دَ چا چه دا خيال دے چه الله پاک به دَ خپل پيغمبر ؑ او مؤمنانو امداد اونکړي ليکن دَ دے بدګمانئ نتيجه به هغوي پخپله وصول کړي۔ دُنيا کښې به ئے الله تعالیٰ دَ خپل پيغمبر ﷺ او دَ مؤمنانو دَ لاسه مغلوب او مقهور کوُلو سره دَ خپل غضب او لعنت نازليدلو ځائے وګرځوي او دَ هغوي دَ هميشه اوسيدلو ځائے به په دوزخ کښې وي چه ډير زيات بد ځائے دے دَ اوسيدلو۔ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ : دا دَ مخکنئ جملے معترضے اعاده ده دَ پاره دَ تاکيد۔ الله تعالیٰ دَ زمکے او آسمانونو دَ فوجونو مالک دے او په ټولو باندې غالب او حکمت والا بادشاه دے۔ هغه به منافقان او مشرکان مغلوب او رسوا کړي او مسلمانان به غالب او مُعزز کړي۔ فلواراد هلاك المنافقين والمشركين لم يعجزه ذلك ولكن يؤخرهم الى اجل مسمّى. (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۶۶)۔

۸ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ (الآية) : دَ ايمان او دَ نصرت دَ نبي علیه السلام ترغيب دے۔ شاهد په معنیٰ دَ بيانوونکي دے (شاه ولي الله او شاه عبدالقادر رحمهما الله) نۀ چه حاضر او ناظر۔ لهذا دِ دے سره دَ نبي علیه السلام په علمِ غيب باندې دليل نيول صحيح نۀ دي۔

لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ: دَ امام ابن کثیر او امام اَبُوعَمرو په قرأت کښې څلور واړه افعال دغائب صیغې سره دی. دے صورت کښې مفهوم واضح دے. دَ باقی امامانو دَ قرأت په روایتونو کښې څلور واړه افعال دَخطاب صیغې سره دی. لِتُؤْمِنُوْا الخ کښې خطاب رَسُول الله ﷺ او اُمت سره دے لکه څنګه چه ارشاد دے: يَاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ (الطلاق ع۱) دا دَ تغلیب مخاطب علی الغائب دَقبیل نه دے او نبی علیه السلام هم پخپله رسالت باندې دَ ایمان راوړلو مکلف دے:

الخطاب للنبی ﷺ وامته کقوله سبحانه (یایها النبی اذا طلقتم النساء) وهو من باب التغلیب غلب فیه المخاطب علی الغیب فیفید ان النبی صلی الله علیه وسلم مخاطب بالایمان برسالته کالامة وهو کذلک- (روح ج ۲۶ ص ۹۵)-

تُعَزِّرُوْهُ: یعنی دَ هغهٔ امداد وکړئ، تُوَقِّرُوْهُ یعنی دَ هغهٔ تعظیم وکړئ. دواړو ځایونو کښې ضمیر غائب د رَسُول الله ﷺ نه کنایه دے او په دیکښې دَ غیبت نه خطاب طرفته التفات دے. او تُسَبِّحُوْهُ کښې ضمیر غائب لفظ جلالت (الله) طرفته راجع دے. دا دَ توحید او رسالت بیان دے. مونږ ته بیانوئے او زیرے ورکوئے او ویروئے لیږلے یې دے د پاره چه ټول خلق د الله تعالیٰ په وحدانیت باندې ایمان راوړی او دَ شرک نه دَ هغهٔ پاکی بیان کړی او د الله تعالیٰ په رَسُول باندې ایمان راوړی او دَ مشرکانو په مقابله کښې دَ هغهٔ امداد وکړی او اکرام او احترام ئے اوکړی. دَ نبی علیه السلام د اکرام او احترام څهٔ اداب به په سُورة حجرات کښې راشی. دا احکام په تیرو شوو دواړو خوشخبرو باندې مبنی دی یعنی هر کله چه الله تعالیٰ تاسو ته پوره ذکر شوی زیری درکړیدی نو تاسو دَ هغهٔ شکر ادا کړئ او دَ هغهٔ په تسبیح او پاکئ بیانولو کښې رطب اللسان (ژبه لوند) اوسیږئ او هیڅوک ورسره شریک مهٔ جوړوئ او دَ نبی کریم ﷺ امداد وکړئ او دَ هغوی تعظیم اوکړئ ځکه چه تاسو ته دا ټول انعامات دَ هغوی په وساطت سره ملاؤ شویدی. دا رنګے په تُسَبِّحُوْهُ کښې دَ توحید مسئله په طور دَ ترقئ ذکر شوے ده. سورهٔ محمد کښې ئے وفرمائیل چه د الله تعالیٰ نه سوا دَ رابللو څوک لائق نشته او په سورهٔ فتح کښې ئے وفرمائیل وَتُسَبِّحُوْهُ یعنی په رابللو کښې هغه دَ شریک نه پاک وګڼړئ.

۹ اِنَّ الَّذِيْنَ: دا په جهاد او بیعت کښې دَ مضبوط پاتے کیدلو ترغیب دے دَ بیعت نه بیعت رضوان مُراد دے، دکوم ذکر چه مخکښې راروان دے. کوم خلق چه تا سره بیعت کوی هغوی په حقیقت کښې الله پاک سره بیعت کوی ځکه چه دَ بیعت او اطاعت نه اصل مقصود د الله تعالیٰ اطاعت دے لکه چه بل ځائے کښې دَ الله تعالیٰ ارشاد دے: مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ- (النساء پ۵).

يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ : دا د اول مضمون دوېيم تعبير دے او د هغې تاکيد دے په طريقه د تخييل - ځکه چه الله تعالیٰ د جوارحو (اندامونو) نه پاک دے او مفهوم دا دے چه عقد بيعت په حقيقت کښې الله تعالیٰ سره دے:

لما قال سبحانه (انما يبايعون الله) اکده علی طريقة التخييل فقال تعالیٰ (يد الله فوق ايديهم) وانه سبحانه منزه عن الجوارح وصفات الاجسام وانما المعنى تقرير ان عقد الميثاق مع الرسول صلی الله عليه وسلم کعقده مع الله تعالیٰ من غير تفاوت بينهما. (مدارک ج ۴ ص ۱۲۰، روح ج ۲۶ ص ۹۶، بحر، ج ۸ ص ۹۱، بحواله کشاف).

نو دا عقد بيعت څه معمولي څيز نه دے بلکې يو ډير پوخ او مضبوط عقد دے چه د دے لحاظ ساتل ډير ضروري دي. اوس چه څوک دا بيعت مات کړي د هغې وبال به هم په هغه چا پريوځي چاچه مات کړے دے او سزا به بيامومي د دے جرم او د وفا کولو د اجر نه به محرومه پاتے شي او څوک چه په دے عهد باندې قائم پاتے شي هغه ته به الله تعالیٰ ډير لوئے اجر ورکړي.

سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا

اوس به او وائي تاته روستو پاتے کيدونکي خلق د بانډيچيانو نه ورمونږه په کارکښې مشغول پاتے شو د مالونو

وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا

او کور والو پس زمونږ د ګناه بخښنه اوغواړه، دوی وائي په خپلو ژبو هغه چه

لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

په زړونو کښې يې نشته، ته ووايه د چا زور چليږي له د الله سره ستاسو د پاره

شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ؕ بَلْ

که چرے هغه وغواړي تاسو ته نقصان يا وغواړي ستاسو فائده، بلکه

كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ⑪ بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ

الله دے ستاسو د ټولو کارونو نه خبردار. (داسې هيڅ اخبره) نشته تاسو خو ګمان کولو چه

لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ

واپس به رانشي کله پيغمبر او مسلمانان خپلو کورونو ته

أَبَدًا وَّزُيِّنَ ذٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ

هیڅکله او بنائسته کړے شو په زړونو ستاسو دا خیال او ګمان وکړلو تاسو لوئے ګمانونه،

وَكُنتُمْ قَوْمًا بُورًا ⑫ وَمَن لَّمْ يُؤْمِن بِاللّٰهِ وَ

او تاسو خلق وئ تباه کیدونکي. او څوک چه یقین او نکړي ګله په الله او د

رَسُولِهٖ فَإِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِينَ سَعِيرًا ⑬ وَلِلّٰهِ

هغه په رسول باندې نو موږ تیار کړیدے انکار کوونکو دپاره لمبے وهونکے اور. او الله دپاره دے

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَ

حکومت د آسمانونو او د زمکے بخښي چاله چه وغواړي او په

يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ⑭

عذاب کښې اچوي چاله چه وغواړي او الله دے بخښونکے مهربانه.

سَيَقُولُ الْمُخَلَّفُونَ إِذَا انطَلَقْتُمْ إِلٰى مَغَانِمَ

او س به وائي ګله روستو پاتے شوي کله چه تاسو لاړ شئ غنیمتونو

لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا

اخستلو دپاره وئ. پرېږدئ چه موږ هم لاړ شو تاسو سره، غواړي چه بدل کړي

كَلٰمَ اللّٰهِ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِن

د الله خبره، نه وایه موږ پسے هیڅکله نه راځئ همدا رنګے وویل الله

قَبْلُ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا بَلْ كَانُوا

مخکښې، پس اوس به وائي (دا ایسے) نه ده تاسو سوزئ زموږ د فائدے نه (دا ایسے نه ده) بلکه دوی

لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ⑮ قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ

نه پوهیږي لیکن لږ. او وایه روستو پاتے کیدونکو بانډه چیانو

الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلٰى قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ

ته ګله به راتلونکي وخت کښې برابلے شئ تاسو یو قوم ډیر سخت جنګ کونکي ته چه

تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ

تاسو به د وی سره جنګیږئ یا به دوی مسلمانیږی، بیا که چرے حکم ومنئ نو ورکړی به الله تاسو ته

اَجْرًا حَسَنًا ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ

بدله نیکه او که چرے اوګرځیدئ څنګه چه مخکښ ګرځیدلی وئ

يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٦﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ

نو ورکړی به تاسو ته یو عذاب دردناک ۱۶. په ړوند باندی څه تکلیف نشته

وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ۗ وَ

او نه په ګوډ باندے تکلیف او نه په بیمار باندی تکلیف شته او

مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ

څوک چه حکم ومنی د الله او د هغه د رسول ﷺ هغه به داخل کړی باغونو ته چه د هغې لاندے

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٧﴾ ع

بهیږی نهرونه، او څوک چه بیرته وګرځی هغه ته به عذاب ورکړی دردناک ۱۷.

نکات:- ۱. زجر د پاره د منافقانو. ۲. په منزله د تفسیر د پاره د سیقول لك المخلفون. ۳. تخویف اخروی. ۴. زجر د پاره د منافقانو. ۵. استثناء د معذورینو د عتاب (زورنے) نه.

موضح قرآن **ف ۱** کله چه نبی علیه السلام د مکے (حدیبیے) نه راواپس شو نو حکم ورته اوشو چه خیبر ته لاړ شئ او صرف هغه کسان د لاړشی څوک چه حدیبیے ته تلی وُو. درے ورځے مدینه کښ پاتے شول چه د تللو اراده ئے اوکړه نو کوم خلق چه مخکښ (د حدیبیے) د سفر نه ویریدلو سره پاتے شوی وُو، د دے سفر نه کلا لچ په وجه تیار شول، الله پاك هغوی ته منعه واورولو. خیبر کښ یهودیان اوسیدل چا چه په جنګ احزاب کښ کافرانو ته په مدینه باندی د حملے کولو مشوره اولاربنود ونه کړے وه. **ف ۲** سخت جنګ کوونکی الله تعالیٰ د فارس خلقو ته ویلی دی. د دوی حکومت همیشه مضبوط او طاقتور پاتے شوید ے. د حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهما د خلافت په زمانه کښ د فارس ملك فتح شو او ځنے بغیر د جنګ نه مسلمانان شول. د هغه نه ډیر مال غنیمت حاصل شو. منه. **ف ۳** یعنی جهاد په دے معذورو خلقو باندی فرض نه دے.

فتح الرحمن ف۱ یعنی هغه خلق چا چه دَ حدیبیې په سفر کښې موافقت اونکړو. ف۲ یعنی دَ خیبر غنیمتونه. ف۳ یعنی فارس او روم او دا معنیٰ د حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په دوران خلافت کښې متحقق او ثابته شوه. ف۴ یعنی دوستو پاتے کیدلو کښې ددے (حدیبیې) دَ سفر نه.

تفسیر ۱۰ سَيَقُوْلُ : دَدے ځائے نه تر لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ه پورے هغه منافقانو باندې زجر دے څوك چه دَ حدیبیې په صُلح کښې نهٔ وُو شریك شوی. اَلْمُخَلَّفُوْنَ : یعنی کوم خلق چه دَ الله تعالیٰ په قهر سره روستو پاتے شوی دی او د پیغمبر علیه السلام دَ ملګرتیا نه محرومه شویدی. کله چه تاسو ددے سفر نه واپس مدینے ته اورسیږئ نو منافقان به ستاسو په خدمت کښې حاضر شی او تاسره دَ نهٔ تللو به ډیرے بهانے جوړے کړی. مثلاً وائی به چه حضرت! زمونږ دَ مالونو او اهل وعیال دحفاظت د پاره څوك نهٔ وُو. په دے وجه مونږ تاسو سره لاړ نهٔ شُو، بیشکه دا ګناه زمونږ نه شویده. اُوس تاسو هم زمونږ نه راضی شئ او دَ الله تعالیٰ نه هم مونږ د پاره معافی وغواړئ.

تائید: يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛؕ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۛۚ (احزاب ع ۲).

يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ ، کومے بهانے چه په ژبو سره بیانوی، هغه دَ حقیقت نه خلاف دی، دَ نهٔ تللو اصلی وجه دوی پخپلو زړونو کښې پټه ساتلے ده لیکن په ژبو باندې هغې خلاف خبرے کوی. دَ اصلی وجے ذکر په راتلونکو ایتونو کښې راروان دے.

۱۱ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ : دا دَ مُعَشّر او مُفَسِّر په مینځ کښې دَ منافقانو دَ خیال رَد کولو د پاره جمله معترضه ده. فمن یملك لکم من الله - ای من عذاب الله - یعنی نفع او ضرر دَ الله تعالیٰ په اختیار کښې دی. که هغه تاسو لره په ضرر (تکلیف) کښې اچول وغواړی نو څوك به مو دَ هغهٔ نه خلاص کړی؟ ستاسو دا خیال غلط دے چه کچرے تاسو جهاد کښې شریك نشی نو دَ تکلیف او مشقت نه به بچ پاتے شئ. هغه په کورونو کښې ناست خلق هم په عذاب کښې ګرفتار کولے شی. او که هغه تاسو ته نفع در رسول وغواړی نو هیڅوك ئے نشی منعه کولے. هغه دَ جنګ په میدان کښې دَ غشو په باران کښې هم حفاظت کولے شی. هغه ستاسو دَ ټولو عملونو نه خبر دے او پوره پوره جزاء به درکړی. دَدے تقریر نه معلومه شوه چه د اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا نه مخکښې مَنْ يَّمْنَعُ النَّفْعَ مقدر دے په قرینه دَ سیاق. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ.

۱۲ بَلْ ظَنَنْتُمْ (الاٰية) : يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ الخ د پاره په منزله دَ تفسیر دے دَ دوی په زړونو کښې نور څهٔ دی لیکن په ژبو سره بل څهٔ وائی. په اصل کښې دا خلق دَدے خیال په بناء باندې دَ عُمرے په سفر کښې تاسو سره نهٔ وُو ملګری شوی چه د مشرکانو ټولے قبیلے به پیغمبر (علیه السلام) او مسلمانانو لره هلته ختموی او دَ دوی نه به یَو هم خپلو کورونو ته ژوندے او سلامت نهٔ راشی. دَدے وجے نه پخپرے مونږ

دوی سره یو ځائے لاړشو نو هلته به اُوژلی شوو او دا خیال هغوی ډیر معقول وګڼلو او دا خبره ئے په زړونوکښې مضبوطه شوه او په دے باګمانئ کښې مبتلا شول چه الله به د پیغمبر ﷺ او د مسلمانانو مدد نه کوی. په اصل کښې دا خلق تباه شوی او د الله د عذاب مستحق ګرځیدلی دی. دا تړول شکونه د دوی د عقیدے فساد او د بد نیتئ په وجه پیدا کیږی: قومًا بورًا هالکین لفسا دعقیدتکم وسوء نیتکم مستوجبین سخطه تعالیٰ وعقابه جل شانہ (روح ج ۲۶ ص ۱۰۰).

۱۳ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ (الآیة): دا تخویف اُخروی دے. د دے روستو پاتے کیدلو پشان چه کوم خلق په الله تعالیٰ او د هغه په رسُولؑ باندے ایمان نه راوړی، هغوی دپاره مونږ د دوزخ اُور تیار کړے دے ځکه چه هغوی کافران دی او د کافرانو همدا سزا ده. وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ (الآیة): د زمکے او د اسمانونو بادشاهی د الله تعالیٰ په لاس کښې ده او په دے کائناتو کښې هغه متصرف او مختار دے. هغه مؤمنانو او معافی غوښتونکو له معافی ورکوی او کافرانو، مشرکانو او منافقانو ته سزا ورکوی او هغه داسے مهربانه ذات دے چه توبه ویستونکو له معاف کوی او نورے زیاتے مهربانئ پرے کوی.

۱۴ سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ: دا هم منافقانو دپاره زجر دے. د مغانم نه د خیبر غنیمتونه مُراد دی د کوم وعده چه الله تعالیٰ د بیعتِ رضوان شریکینو نکو صحابوؓ سره کړے وه لکه چه وړاندے راځی: وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا وَّمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا. او د كلام الله نه مُراد هم دغه وعده ده.

معناه ان یغیروا وعده لاهل الحدیبیة بغنیمة خیبر وذٰلك انه وعدهم ان یعوضهم من مغانم مكة خیبر اذا قفلوا مرادعین لا یصیبون منها شیئا. قاله مجاهد وقتادة وعلیه عامة اهل التأویل.

(بحر، ج ۸ ص ۹۳).

یا ممکن ده چه الله تعالیٰ د وحی غیر متلو په ذریعه رسُول الله ﷺ ته اطلاع ورکړے وی چه د خیبر غنیمتونه خالص د حدیبیے والو دپاره دی او د روستو پاتے کیدونکو پکښې هیڅ حصه نشته. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ. یعنی کله چه تاسو غزوهٔ خیبر ته روانیږئ نو منافقان په د اهل خیبر د کمزورئ په وجه تاسو سره په غزا کښې د شریکیدو درخواست کوی چه حضرت! مونږ ته هم د دے مهم کښې د تللو اجازت راکړئ. په اصل کښې به دا درخواست په اخلاص مبنی نه وی بلکه د دے سره به د دوی مقصد بغیر د محنت او مشقت نه د غنیمت مال حاصلول وی. د الله تعالیٰ هغه فیصله بدلول غواړی چه د خیبر غنیمتونه صرف د حدیبیے والو دپاره دی. کله چه هغوی درخواست وکړی نو تاسو ورته اوفرمایئ چه تاسو د دے غزا ته مونږ سره بالکل نشئ تلے یعنی تاسو ته مونږ سره د تللو اجازت بالکل نشته

ځکه چه دا فیصله الله تعالیٰ زمونږ د حدیبیه نه د واپس کیدلو نه وړاندې کړے ده چه د خیبر غنیمتونه اهل حدیبیه سره خاص کړے شویدی:

ای من قبل رجوعنا من الحدیبیة ان غنیمة خیبر لمن شهد الحدیبیة خاصة (قرطبی ج ١٦ ص ٢٧١)-

فَسَيَقُوْلُوْنَ الخ، هرکله چه تاسو دوی ته ځان سره د تللو اجازت ورنکړئ نو دوی به د جهالت په وجه تاسو باندې د حسد عیب لګوی چه په اصل کښ تاسو مونږ سره حسد کوئ چه هسے نه دا خلق زمونږ سره په مالِ غنیمت کښ حصه دار شي لیکن حقیقي حال دا دے چه منافقان د خپل جهل او ناپوهئ په وجه تاسو باندې د حسد طعن لګوی ځکه چه الله تعالیٰ په خپله د دوی د نه شریکیدو فیصله کړیده لیکن دا ناپوهه په هغې نه پوهیږی او د حرص نه سوا نور په هیڅ هم نه پوهیږی-

ف۵ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ: په حدیبیه کښ نه شریکیدونکی غزوهٔ خیبر کښ د شریکیدلو نه منع کړے شول ځکه چه په دیکښ شریکیدلو سره د هغوی د ایمان امتحان نشوکیدلے. د دے وجے نه هغوی سره وعده اوکړے شوه چه نزدے ده تاسو ته به ډیر ډیر سخت جنګ کونکی او بهادر قوم سره د مقابلے اوجهاد حکم درکولے شي د دے د پاره چه تاسو هغوی سره اوجنګیږئ تر دے چه هغوی مسلمانان شي- اَوْ په معنیٰ د اِلٰی اَنْ دے او د دے قوم نه د طائف خلق مراد دی چه د هغوی محاصره نبی علیه السلام په شپږمه کښ کړے وه. یا د دے نه هوازن او ثقیف مرادی چه د حُنین په مقام کښ ورسره جنګ شوے وُو. بیا که تاسو د غه وخت اطاعت وکړو او په جهاد کښ شریک شوئ نو الله تعالیٰ به تاسو ته ډیره ښه بدله درکړی او که د حدیبیے په شان دیکښ هم شریک نه شوئ نو ډیر سخت عذاب به درکړی لکه څنګه چه د غزوهٔ خیبر نه پس کوم منافقانو د نفاق نه توبه اُوویستله او په اخلاص سره ئے ایمان راوړو، هغوی دغه روستو راتلونکو غزواتو کښ شریک شول او هیڅ یو منافق په هغې کښ شریک نشو:

ان الذین غزوا بعد لم یغزوا حتی اخلصوا ولم یبقوا منافقین. والله تعالیٰ اعلم. (روح ج ٢٦ ص ١٠٣)-

ف٦ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى: دا خلق د معذوریدلو په وجه د زجر او ملامتیا نه مستثنیٰ دی. ړانده، ګانړه او بیماران چه په پوره اخلاص سره د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړی، هغوی د پاره د جنت دائمی او همیشنی نعمتونه دی او څوک چه د اطاعت نه اعراض اوکړی هغوی د پاره دردناک عذاب دے۔

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ

بیشکہ الله راضی شو ګله د ایمان والو نه کله چه دې بیعت کولو تاسره

تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ

د هغه وُنې د لاندے بیا معلوم کړه الله چه د دوی په زړونو کښې وُو پس نازل ئے کړه په دوی

عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾ وَّمَغَانِمَ كَثِيْرَةً

سکون او انعام ئے ورکړه دوی ته یوه فتح نزدے وال او ډیر غنیمتونه چه

يَّاْخُذُوْنَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۹﴾ وَعَدَكُمُ

هغه به اخلی دوئ او دے الله طاقتور حکمت والا وعده کړیده تاسو سره

اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَاْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ

الله د ډیرو غنیمتونو چه تاسو به ئے اخلئ نو زر ئے درکړل تاسو ته

هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً

دا غنیمتونه دوئ او بند ئے کړل د خلقو لاسونه ستاسو نه دوئ او د دے دپاره چه نمونه وی د قدرت

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲۰﴾ وَّاُخْرٰى

ایمان والو دپاره او بوځی تاسو لره په سمه لار باندې دوئ - او یوه فتح بله

لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

چه تاسو قادر نۀ وئ په هغې باندې هغه د الله قدرت کښې ده ، او الله تعالیٰ په

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾ وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِيْنَ

هر څیز باندې قادر دے ای دوئ - او کچرے جنګ کوئ له تاسو سره هغه

كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّ

کافرانو ګرځولے به ئے وے شاګانے بیا به ئے نۀ مومونډ لے څوک دوست (طرفدار) او

لَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ

نۀ امداد ای - طریقه کیښودلے شویده د الله کوم چه مخکښې نه راچلیږی ،

وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ

او تہ بہ هیڅکلہ ونہ وینې د اللہ د طریقې بدلیدل - او (اللہ) هغہ ذات دے چہ بند ئے کړل لاسونہ

أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ

د هغوی لاسونہ ستاسو نہ او ستاسو لاسونہ د هغوی نہ د مکې ښار پہ مینځ کښې پس د

بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

هغې نہ چہ غالب ئے کړئ تاسو پہ هغوی باندې، او دے اللہ پہ هغہ چہ تاسې ئے کوئ

بَصِيْرًا ﴿٢٤﴾ هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ

لیدونکے ښه - دا هغہ خلق دي چہ منکر شول او بند ئے کړئ تاسو د

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا أَنْ يَّبْلُغَ

مسجد حرام نہ، او قربانئ بند کړے شوې ی د دے خبرے نہ چہ ورسیږی

مَحِلَّهٗ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ

خپل ځاے تہ، او کچرے نہ وے ډیر سړی مؤمنان او ښځے ایمانداره

لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ أَنْ تَطَئُوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌ

چہ تاسو تہ معلوم نہ دي دا خطره چہ کہ تاسو هغوی دخپولاندې کړئ نو بیا بہ تاسو باندې د هغوی د وجې نہ خرابي

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

پرېوتلہ بغیر د علم نہ وے د دې د پاره چہ اللہ داخلونکے دے پہ خپل رحمت کښې چا لرہ چہ وغواړی،

لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيْمًا ﴿٢٥﴾

کہ دغہ خلق یو طرفتہ شوی وے نو موږ بہ عذاب ورکړے وے پہ کافرانو باندې عذاب دردناک ولے

إِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ

کلہ چہ وساتلو کافرانو ځلله پہ خپلو زړونو کښې تنګ (ضد) د ناپوهۍ

الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَ

ضد پس نازل کړه اللہ د خپل طرفہ اطمینان پہ خپل رسول باندې او

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ

په مسلمانانو باندې | او قائم ئې اوساتل هغوی سره خبره د ادب | او هغوی وو د دې

بِهَا وَاَهْلَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمًا ﴿۲۶﴾

لایق او اهل د دې کار، او دے الله په هر شیز باندې خبر دارنه ﴿۲۶﴾

نکات:- ۱ د مؤمنانو د بشارت اعاده. ۲ د بشارتِ دنیوی اعاده. ۳ د جنګ بندولو رومبې حکمت. ۴ د جنګ بندولو دویم حکمت. ۵ د جنګ بندولو دریم حکمت.

موضح قرآن

ف۱ هر کله چه د صلحې سوال جواب دپاره نبی علیه السلام حضرت عثمان رضی الله عنه مکې ته اولیږه د دغه وخت د دروغو خبر خور شو چه هغه ئې قتل کړه. نبی علیه السلام وفرمائیل چه اوس ما دپاره هغوی سره جنګ کول حلال شو ځکه چه اول شروع هغوی اوکړه لیکن دا خبر د دروغو وو او دا خبر هم راغې چه د مکې د لښکرنه اتیا کسان راغلی دی ګیرچاپیره د مسلمانانو نه چه څخې کسان مره کړئ یا ئې ژوندی اونیسی. دې سره نبی علیه السلام د جنګ کولو اراده وکړه او د یو کیکر د ونې لاندې کیناستهٔ وې فرمائیل چه ما سره بیعت وکړئ چه تر د مرګه وخته پورې به کوتاهي نکوئ. ټولو بیعت وکړو سوا د یو منافق نه چه نوم ئې جد بن قیس وو. دا بیعت الله پاک ته قبول شو. الله معلوم کړهٔ هغه څهٔ چه د دوی په زړونو کښې وو یعنی په ظاهره ویره او خطره او په زړهٔ کښې توکل. او په انعام کښې ئې دا د خیبر فتح ورکړه چه هغې سره مسلمانان غنیان شول.

ف۲ دا هم په انعام کښې داخل دی، نبی علیه السلام اوفرمائیل دې ځائې کښې بیعت کوونکے به دوزخ ته نهٔ ځي. منه رح. **ف۳** متعه ئې کړل د خلقو لاسونه یعنی جنګ اونهٔ شو. منه رح. **ف۴** یعنی د دې بیعت په انعام کښې ئې د خیبر فتح درکړه او د مکې فتح چه اوس لا تاسو ته نهٔ ده حاصله شوې هغه هم حاصلیدونکې ده. منه رح.

ف۵ یعنی اتیا کسان چه د مکې بنار په مینځ کښې اونیولی شو یعنی بنار ته نزدې لکه چه د بنار په مینځ کښې دی. منه رح. **ف۶** یعنی دې واقعه کښې ټول بې ادبی د کعبې د دوی نه اوشوه، تا سو په ادب سره پاتې شوئ، هغوی د عمرې والا منع کړل او قربانی ئې (حرم ته) رسیدلو ته پرینهٔ بنودله، هغه ځائې قابل د دې وو چه هم په هغه وخت ئې تاسو ته فتح درکړې وې لیکن څخې مسلمانان سړی او ښځې پټې وو او څخې چه د هغوی مسلمانیدل مقرر وو په دغه ورځ د مکې په فتح کښې یا څمال کیدل اخر په دوه کالو د صلحه کښې څو مره مسلمانیدل هغه مسلمانان شول او راوتونکی راووتل نو بیا هغه وخت الله پاک مکه فتح کړه. **ف۷** یؤمنن دا وو چه دې

کال کښې ئې عُمرے کولو ته پرېښوٴ خودل او بل دا چه کوم مسلمانان هجرت کولو سره نمونږ ته لاړ شي هغه به واپس کولے شي او په راتلونکي کال کښې به عُمرے ته راځي. د درے ورځو نه به زیات نهٔ ایسار یږي او تورے به په تیکو کښې بندے ساتي. نبي ﷺ دا ټولے خبرے قبولے کړے.

فتح الرّحمٰن

ف۱ یعني دَ خیبر غنیمتونه او دَدے نه علاوه دَ قیامت دَ ورځې پورے. **ف۲** یعني دَ خیبر غنیمتونه. **ف۳** یعني په حدیبیه کښې. **ف۴** یعني دَ قریشو کافران راجمع شول چه نبي علیه السلام ته تکلیف او پریشاني اُورسوي. الله تعالیٰ دهغوي لاسونه دَ قتال او جنګ نه بند کړل او کار صلحے سره سرته وُرسیدهٔ. **ف۵** دَ فارس اوروم غنیمتونه. **ف۶** تعریض دے هغه قصے ته چه روستو دَ صلحے کولو نه اویا تنه بدمعاشانو رَدِ بلانو دَ قریشو داؤغوښتل چه صحابو رضی الله عنهم باندے بے خبرۍ سره حمله اوکړي. صحابو ټول اونیول او قیدئے کړل او دَ نبي کریم ﷺ په خدمت کښې ئے پیش کړل، نبي علیه السلام هغوي معاف کړل. والله أعلم. دَ بنده ضعیف په نزد ظاهره دا دهٔ چه دا ایت بشارت دے دَ فتح مکے او دَ ماضي لفظ راوړل دَ بشارت دَ واقع کیدلو دَ یقین په وجه دي. **ف۷** یعني دَ خوب تصدیق به بالفعل متحقق شوے وے او فتح به ډیره ژر حاصله شوے وه. **ف۸** یعني یوه ډله دَ مسلمانانو دے صلحے لره خوښوونکے نهٔ وه په اخر کښې الله تعالیٰ دهغوي په زړونو کښې اطمینان واچولو او دَ نبي علیه السلام په مرضۍ باندے ئے دَ رضا اظهار اوکړو.

تفسیر　　دویمه حِصّه

کله لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ : دا دَ رُومبي حصے دَ مضامینو نه دَ مومنانو دَ خوشخبرۍ اعاده ده او دَ المؤمنین نه هغه صحابه کرام رضوان الله علیهم مُراد دي چا چه په حُدیبیه مقام کښې دَ یوے وُنے لاندے دَ رسول الله ﷺ په لاس باندے بیعت کړے وُو. دا بیعت دَ بیعة الرضوان په نوم سره مشهور دے ځکه چه دے بیعت کښې شریکینو ته دَ الله تعالیٰ دَ رضا مندۍ حکمنامه نازله شوے وه. رسول الله ﷺ حضرت عثمان رضی الله عنه لره خپل پیغام ورکولو سره مکے والو ته لیږلے وُو، دَ هغهٔ به واپسۍ کښې تاخیر اُوشو او دا خبر خور شو چه مشرکانو حضرت عثمان رضی الله عنه شهید کړے دے کله چه دا خبر نبي علیه السلام ته راوُرسیدهٔ نو وے فرمائیل چه دَ عثمان دَ قتل بدلے اخستلو نه بغیر به مونږ دَدے ځائے نه واپس نهٔ ځو. نو نبي علیه السلام ټول صحابه رض دَ بیعت دپاره راوُبلل او دَ کیکر دَ وُنے نه لاندے ئے څوارلس سوه ځان نثارانو پوره اخلاص سره دَ جهاد په میدان کښې دَ ثابت قدمۍ او استقلال بیکدیه روح ورکولو باندے دَ رسول الله ﷺ په لاس بیعت اوکړو.

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا نبرح حتی نناجز القوم ودعا الناس الی البیعة، فبایعوه علی ان یناجزوا قریشا ولا یفروا تحت الشجرة وکانت سمرة وکان عدد المبایعین الفا واربعمائة (مدارک ج ٤ ص ١٢٢).

مَا فِیْ قُلُوْبِهِمْ: یعنی دَ هغوی ایمان، اخلاص، رښتونې نیت، د دین سره محبت او دَ مشرکانو په مقابله کښې سختوالے او بهادری۔ (روح)۔ اَلسَّکِیْنَةَ: اطمینان او ربطِ قلب۔ فَتْحًا قَرِیْبًا: فتح خیبر۔ مَغَانِمَ کَثِیْرَةً: دَ خیبر غنیمتونه (بحر، روح، قرطبی کبیر)۔ الله پاک ته د اصحاب شجرهٔ ایمان، اخلاص، صحیح نیت او دَ قربانۍ جذبے سره دَ نبی علیه السلام په لاس بیعت کولو ادا او عمل دومره خوښ شو چه د خپلے رضا او خوشالۍ حکم ئے هغوی دپاره نازل کړو، او دَ هغوی دَ جنتی کیدو اعلان ئے اوکړو ځکه چه په آخرت کښې د الله پاک دَ رضامندۍ مظهر او مقام صرف جنت دے۔ په آخرت کښې چه به جنتیانو ته دَ ټولو نه لوئے نعمت حاصل وی هغه دَ الله پاک رضامندی ده چه دَ هغے اعلان به نورو مؤمنانو دپاره جنت ته دَ داخلیدو نه پس وی لیکن صحابه کرام رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین دپاره د الله پاک دَ رضا اعلان په دُنیا کښې اوکړے شو۔ فیا لـه من مشرف۔

او په دُنیا کښې هم دوی ته دَ یوے نزدے فتح او دَ ډیر مال غنیمت دَ ورکولو وعده اوکړه۔ او دا وعده ډیر زر یعنی دَ صفرے میاست سکه کښې پوره شوه۔ اَهلِ شجره ته دَ الله پاک دا رضامندی څه وختی طور بانو نه وه بلکه همیشه دپاره وه ځکه چه دَ دے بنیاد دَ هغوی په ایمان او اخلاص باندے وو او ایمان او اخلاص لره الله پاک دَ هغوی لازمی صفت گرځولے وو چه په ټول ژوند کښې د هغوی نه نه جدا کیدو لکه چه روستو به راشی۔ وَاَلْزَمَهُمْ کَلِمَةَ التَّقْوٰی (فتح ع ٣) او سورهٔ حجرات ع ١ کښې ئے اوفرمائیل: وَلٰکِنَّ اللهَ حَبَّبَ اِلَیْکُمُ الْاِیْمَانَ وَزَیَّنَهٗ فِیْ قُلُوْبِکُمْ الآیة۔ همدا وجه ده چه رَسُول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه کوم خلق په دے بیعت کښې شریک وُو دَ هغوی نه هیڅوک هم دوزخ ته نه ځی:

لا یدخل النار ان شاء الله من اصحاب الشجرة احد من الذین بایعوا تحتها۔ (صحیح مسلم ج ٢ ص ٣٠٣)۔

امام نووی رح دَ دے حدیث په شرحه کښې فرمائی چه دَ نبی علیه السلام ان شاء الله وئیل محض په طور د تبرک وُو نه چه په طور دَ شک، دے دپاره د اَهلِ سُنتو عالمانو وئیلی دی چه دَ دے حدیث مطلب دا دے چه دَ اَصحاب شجره نه به هیڅوک هم قطعًا او یقینًا په دوزخ کښې نه داخلیږی۔

قال العلماء معناه لا یدخلها احد منهم قطعًا کما صرح به فی الحدیث الذی قبله حدیث حاطب، وانما قال ان شاء الله للتبرک لا للشک۔
(نووی شرح مسلم ج ٢ ص ٣٠٣)۔

مَغَانِمَ په فَتْحًا بانذې معطوف دے یا ددے ناصب محذوف دے په قرینهٔ ما بعد. قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ. وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۵ کهٔ چرے الله تعالیٰ غوښتلے نو دَ صلحې په ځائے به ئے تاسو جنګولی وئ او غالب کړی به ئے وئ لیکن هغهٔ صلح اوکړه ستاسو په مینځ کښ چه دَ هغهٔ حکمتِ بالغه له مخه دَ اسلام او مسلمانانو دپاره دَ جنګ په نسبت زیاته فائده منه او نفع ورکوونکے وه او همدا رنګے اوشوه کما مرّ - دِ دے موقعه باندے حضرت عثمان رضی الله عنه ته چه کوم اعزازات ورنصیب شو هغه بل هیچا ته نهٔ دی ملاؤ شوی - اَول دا چه دا بیعت دَ هغهٔ دَ قتل دَ بدل لے اخستلو دپاره واخستلے شو. دوېم دا چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دَ حضرت عثمان رضی الله عنه په ایمان او اخلاص او دَ قربانئ په جذبه باندے دومره اعتماد وُو چه خپل ګس لاس ئے دَ حضرت عثمان رضی الله عنه لاس اوګرځولو او په خپل ښی لاس باندې ئے دَ هغهٔ له طرفه بیعت اوکړو ځکه چه دَ هغوئ یقین وُو چه کچرے هغه ژوندے او موجود وے نو بیعت به ئے کولے - دَ غه شان هغه هم ته دَ هغهٔ په غیر موجودګئ کښ هم هغهٔ ته دَ بیعة الرضوان فضیلت حاصل شو -

۲۰ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً نه هغه ټول دَ غنیمت مالونه مُراد دی چه دَ قیامته پورے به مسلمانانو ته حاصلیږی - هی ما قال ابن عباس و مجاهد وجمهور المفسرین ما وعدالله تعالیٰ المؤمنین من الغنائم الی یوم القیٰمة (روح ج ۲۶ ص ۱۰۹) ـــ او هٰذِهٖ سره دَ خیبر غنیمتونو طرفته اشاره ده. اَیْدِیَ النَّاسِ : دَ ناس نه اهلِ خیبر او دَ هغوئ حُلفاء (معاهدین) بنی اسد او غطفان مراد دی. دَ اهلِ خیبر په زړونو کښ الله تعالیٰ دَ مُسلمانانو دا سے رعب واچولو چه هغوی دَ مقابلے همت اونکړے شو او کله چه دَ هغوی حُلفاء بنی اسد او غطفان دَ هغوی دَ امداد دپاره راغلل نو هغوی هم مرعوب او ویریږ ونکی شول او واپس لاړل. (خازن، مدارک) یا دَ دې نه دَ مکے والو اَشیا کسان مُراد دی چه دَ حدیبیے په ورځ ئے وَسلے واچولے او په مسلمانانو باندې ورچپه شول. مسلمانانو دوئ لره راونیول او نبی علیه السلام دوی معاف کړل او سره یې پرېخودل - (روح)

وَلِتَكُوْنَ دپاره معطوف علیه محذوف دے : ای لتنتفعوا او لتكون (روح) وَاُخْرٰی دا په هٰذِهٖ باندې معطوف دے او ددے موصوف مقدر دے - ای مغانم اخرٰی (مدارک، روح). دَ خیبر غنیمتونه چه چیرته تاسو ته په لاس راتلونکی دی، دَ دے نه علاوه نور غنیمتونه هم شته چه په هغې باندې تر دے وخته پورے تاسو نهٔ یئ قابض شوی لیکن هغه دَ الله تعالیٰ دَ اختیار او قدرت په احاطه کښ دی او الله تعالیٰ به تاسو په هغې باندې هم قابض وګرځوی - دَ دینه هغه فتوحات مُراد دی کوم چه دَ خیبر نه روستو اوشول مثلاً حنین وغیره - (قرطبی، روح) -

مونږ تاسو ته د خپلې رضا او خوشالئ حکمنامه درکړلونه علاوه تاسو ته د دُنیا د نعمتونو د رکولو فیصله کړې ده چه د هغې نه دا د خیبر غنیمتونه خو په تاسو ته ډیر زر مِلاوُ شي او د اَهلِ خیبر او د هغوی د حُلفاؤ لاسونه به ستاسو نه بند کړے شي او هغوی به تاسو سره د جنګ کولو جرأت او نکړے شي، دِ دے د پاره چه تاسو د هغه غنیمتونو نه فائده واخلئ او د ابه ایمان والو د پاره د نبي ﷺ د صداقت دلیل وګرځي او دِ دے د پاره چه تاسو په صراط مستقیم باندې ثابت قدم اُولري او څخنې نور غنیمتونه دي چه لا ترأوسه پورے پورے تاسو قبضه نۀ ده کړے هغه د الله پاك په احاطۀ قدرت کښې دي، په هغې باندې به هم تاسو ته قبضه درکړي ځکه چه هغه په هرڅۀ باندې قادر دے او هیڅ یو شیز هم د هغۀ د قدرت نه بهر نشته۔

۱۹ف وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا نه مکے والا مراد دي۔ د صُلح په ځائے که درسره د مکے کافرانو جنګ کولے نو ډیرلوئے شکست به ئے خوړلے وے او د جنګ په میدان کښې به د جنګ کولو په ځائے په شا بیرته تختیدلے وے او هیڅ یو دوست او امدادي به دوی لره د ذلت نه ځوړك شکست نه نۀ وو خلاص کړي۔ سُنَّةَ اللّٰهِ (الآیة): دا د الله تعالیٰ دستور دے د پخوانه چه همیشه خپل پیغمبران په دُشمنانو باندې غالب ګرځوي او د هغۀ دا دستور او طریقه نۀ بدلیږي لکه چه بل ځائے ارشاد دے: كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِیْ۔ (المجادلة ع ۳)۔

۲۰ف هُوَ الَّذِیْ كَفَّ (الآیة): د بطنِ مکه نه د حدیبیه مقام مُراد دے او دا اِشاره ده د اهلِ مکه هغه اُویا اَتیا کسانو طرفته چه اسلحے راواخستلے او د حدیبیه په مقام باندې صحابه کرامؓو او نیول او نبي کریم ﷺ هغوی لره معاف کولو سره د هغوی د پریښودلو حکم اُوفرمایۀ۔ یعني د یکښې دا الله تعالیٰ لطیف حکمت وُو چه هغۀ د حدیبیے په مقام کښې جنګ بند کړو حال دا دے چه کافرانو حمله کړے وه ځکه چه که جنګ کیدلے نو بیا به صُلحه وجود ته نۀ راتله کومه چه د بے شماره دیني برکاتو او دُنیوي فائدو ذریعه اوګرځیدله۔ دا اول حکمت وُو د جنګ د بندیدلو۔

۲۱ف هُمُ الَّذِیْنَ: وَالْهَدْیَ د كُمْ ضمیر خطاب باندې معطوف دے. مَعْكُوْفًا: دا د الهدی نه حال دے یعنی بند کړے شوے۔ اَنْ یَّبْلُغَ: دا د الهدی نه بدل الاشتمال دے۔ (روح)۔ دِ دے مشرکانو تاسو بیت الله شریف ته د رسیدلو نه بند کړئ او د قربانئ څاروي چه حدیبیه مقام کښې بند کړے شوي وُو هغې قربان گاه یعني د مِنیٰ مقام نه د رسیدلو نه بند کړل۔ د دے لحاظ سره د مکے مشرکان مجرمان او ظالمان دي او د دے لائق نۀ وُو چه معاف کړے شوے وے او جنګ ورسره نۀ وے شوے لیکن په مکه کښې څخنې داسے مسلمانان سړي او

ښځې موجود وې چه تاسو هغوی لره نه پیژندل، د جنګ په صورت کښې هغه ضعیفان هم پائمال کیدل او روستو به تاسو ته په هغوی باندې افسوس او خپمانتیا واقع کیدله. کچرې د اسلمانان په دوی کښې نه وې نو تاسو به ئې د اهل مکه سره جنګولی وئ او ستاسو په لاسونو به ئې هغوی ته د قتل او قید په صورت کښې دردناکه سزا ورکړې وې. دا د جنګ بندولو دویم حکمت وو. رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ الخ موصوف مبدل منه. لَمْ تَعْلَمُوْهُمْ، صفت. اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ، بدل الاشتمال دی یعنی په مکه کښې د هغوی کیدل په دې معنی چه ستاسو د خپو لاندې د هغوی د پائمال کیدلو احتمال نه وې. فَتُصِیْبَكُمْ الخ: ستاسو هغوی لره د پائمال کولو په وجه به ستاسو زړونو ته غم وو او تاسو به په تکلیف او مشقت کښې پریوتلی وئ۔

لَوْ تَزَیَّلُوْا: دا د بعد عهد په وجه د لَوْلَا رِجَالٌ الخ اعاده ده. او لَعَذَّبْنَا د لَوْلَا جواب دې او لِیُدْخِلَ اللّٰهُ الخ په مینځ کښې د عذاب نه ورکولو د علت بیان دې. او د ده متعلق محذوف دې. کفها لید خل، یا ترکنا العذاب لیدخل. دا د جنګ بندولو دریم علت دې یعنی جنګ بندولو سره الله تعالیٰ د مکې ډیرو مشرکانو ته د اسلام توفیق ورکړو او په خپل رحمت کښې ئې داخستل (من الروح والمدارک)۔

۲۲ اِذْ جَعَلَ (الآیة): ظرف عَذَّبْنَا سره متعلق دې یعنی کچرې مونږ دوی ته عذاب ورکولې نو مونږ به د مسلمانانو لاسونو ته د دوی نه نه بندولې او هم هغه وخت به مو ورته عذاب ورکولې کوم وخت چه دوی د جاهلیت کبر او غرور په زړونو کښې نیولې وو او په غیر شریفانه حرکاتو کښې مشغول وو لیکن مونږ د دوی د جاهلیت د غیرت او غرور نه خپل پیغمبر (علیه السلام) او مسلمانان په غصه کښې رانه وستل او د هغوی په زړونو باندې مو سکون او اطمینان نازل کړو او صبر مو ورکړو او جنګ خیال مو ورله د زړونو نه اُوویستلو او د تقوی کلمه مو ورسره لازمه کړه او د هغوی په زړونو کښې مو ځائې ورکړو ځکه چه دوی د دې کلمې تقوی د ټولو نه زیات مستحق او اهل وو. په دې وجه مونږ دوی ته د دې اختیارولو توفیق ورکړو او مشرکان مو د دې د اختیارولو نه محرومه کړل. الله تعالیٰ په هر څیز باندې خبردار دې، هغه ته معلومه ده چه څوک د دې مستحق دې او څوک ئې اهل نه دې؟ د کلمة التقوی نه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ مراد ده. الله تعالیٰ مسلمانانو ته د دې کلمې اختیارولو او په دې باندې د قائم او سیدلو حکم ورکړو. د دې وجې نه هغوی د مشرکانو د دې متکبرانه رویې په جواب کښې د سکون او وقار نه کار واخستهٔ او هیڅ نامناسبه حرکت ئې اُونکړو. ځکه چه د الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه هغوی ته د جوابی کاروائی کولو حکم نه وو. المراد بالزامهم ایاها ثباتهم علیها

بترك الحمية. (مظهری ج ۹ ص ۴۴۳)۔ كلمة التقوىٰ نه د جنګ نه کولو عزم مراد دے
یعنی الله تعالیٰ د مسلمانانو په زړونو کښې سکون او اطمینان واچولو او هغوی ئے
جنګ نه مايله کيدلو ته پرېنږود ځکه چه مسلمانان د آرام او صبر، تحمل
لائق او د اطمینان قلب مستحق وو۔

لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ ۚ لَتَدْخُلُنَّ

الله ریښتیا ښودلے دے خپل رسول ته ئله خوب ریښتیا چه تاسو به داخلیږئ

الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِیْنَ ۙ مُحَلِّقِیْنَ

مسجد حرام ته که خوښه الله وغوښتل آرام سره ویښته خرؤنکی

رُءُوْسَكُمْ وَ مُقَصِّرِیْنَ ۙ لَا تَخَافُوْنَ ؕ فَعَلِمَ مَا لَمْ

د خپلو سرونو نه او لنډونکی به یئ د سرونو (د وېښتو) نه به ویریږئ (د چا نه) پس معلوم وو الله ته هغه (فتح)

تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِیْبًا ﴿۲۷﴾

(د صلح کومه چه) تاسو ته نا معلومه نو مقرر کړه الله مخکښې د هغې (داخلیدلو نه مکې ته) یوه فتح نزدے۔

هُوَ الَّذِیْۤ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰی وَ دِیْنِ الْحَقِّ

(الله) هغه ذات دے چا چه او لیږلو ئله خپل رسول په سمه لاره او ریښتونی دین باندې

لِیُظْهِرَهٗ عَلَی الدِّیْنِ كُلِّهٖ ؕ وَ كَفٰی بِاللّٰهِ شَهِیْدًا ﴿۲۸﴾ؕ

د دے د پاره چه اوچت غالب ولري هغه په هر دین باندې، او کافي دے الله حق ثابتوونکے وي

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَ الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَی

محمد ﷺ رسول د الله دے او کوم خلق چه هغه سره دي طاقتوردي ئله کافرانو

الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ

باندې، نرم زړه دي خپل مینځ کښې ته به ووینې هغوی په رکوع او سجده کښې ئله طلب کوي

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا ؗ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ

د الله د فضل او د هغه د رضا، نښه د هغوی په مخونو د ه

مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِى التَّوْرٰىةِ ۖۚ وَ

دَ سجدے دَ اثره ، داشان دے دَدوی په تورات کښ او

مَثَلُهُمْ فِى الْاِنْجِيْلِ ۚ قف كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْئَهٗ مع ۱۵

مثال دَدوی شته په انجیل کښ ، لکه چه فصل راوباسی تیغے خپلے

فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ

بیائے دَ هغې ملا مضبوطه کړه بیا کلکشوه بیا اودریدله په خپلو ښڼو چه ښه لګی

الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

زمیندارو ته دلته دپاره چه په قهر کړی کافران وعده کړیده الله تعالیٰ هغه کسانو سره چه یقین ئے کړیدے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۩ ۲۹ ع ۳ / ۱۲

او کوی نیک کارونه دَ معافئ او دَ لوئے اجر ف ۲ -

نکات :- ۱ دَ پیغمبر علیه السلام دَ خوبونو سره متعلقه شبهے ازاله. ۲ توحید طرفته ترغیب او د پیغمبر علیه السلام تابعداری. ۳ دَ نبی علیه السلام لوئے شان او عظمت دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم چه ددوی په ذریعه دین ته غلبه حاصله شوه. ۴ دَ اخرت بشارت دپاره دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم.

موضح قرآن ف ۱ دا دین الله تعالیٰ په ظاهر کښ هم په ټولو دینونو باندې غالب کړو تر یو مودے پورے او دلیل سره هم غالب دے.

ف ۲ کومه سختی او نرمی چه په خوی او عادت کښ وی هغه برابر چلیږی او کومه چه ایمان سره بنا لګیدلے شی هغه سختی په خپل ځائے او نرمی په خپل ځائے بنا ئسته ده یعنی دَ تهجد و مونځ او صفا نیت سره په مخ باندې دَ هغے رڼا ده. دَ نبی علیه السلام صحابه کرام رضی الله عنهم به نورو خلقو کښ دَ مخ په رڼا سره پیژندلے کیدل. او دَ فصل مثال دا دے چه په اول کښ یو انسان دَ نبی علیه السلام وو په دے دین باندې بیا دوه شول بیا قوت زیات شو دَ نبی علیه السلام او دَ خلفاء راشدینو په وخت کښ او دا وعده ئے هغوی سره وکړه چه ایمان ئے راوړے دے او نیک کارونه کوی ، دَ نبی علیه السلام ټول صحابه رضی الله عنهم همدغه شان دی لیکن دَ خاتمے فکر کول پکار دی. الله تعالیٰ بندګانو ته دا سے زیرے نه ورکوی چه زړه ورته لیکن دَ مالک له طرفه دومره شاباشے هم ډیره لویه خبره ده.

فتح الرحمٰن ف ۱ حاصل ددے مثال دا دے چه اسلام په اول کښ کمزورے وو او مسلمانان کم وو په قدر قدر زیات او غالب شول.

تفسیر ۲۳ لَقَدْ صَدَقَ ، دا دَ یو بل شبهې جواب دے۔ شُبه دا وه چه رسُول الله صلی الله علیه وسلم خوب ولیدهٔ چه دوئ د صحابه کرامو رضی الله عنهم سره بیت الله ته داخل شوي او سرونه ئے خریلي دي۔ دوي دا خوب صحابه کرامو ته بیان کړو نو هغوي ډیر زیات خوشحاله شول۔ دا خوب نبي علیه السلام دَ عُمرے د سفر نه مخکښ لیدلے وُو نو ځکه صحابه کرامو دا خیال وکړو چه دا خوب به هم په دے کال کښ خامخا پوره کیږي۔ ارا ءالرؤیا الصادقة (روح) تاسو دا گمان وکړو چه خوب به په دے کال کښ پوره کیږي حال دا دے چه هغه دپاره دَ کال څهٔ تعیین نهٔ وُو کړے شوے۔

دا خوب به په راتلونکی کال کښ پوره کیږي او تاسو ټول به بغیر دَ څهٔ خطرے او ویرے نه اُمن وامان سره مسجدِ حرام ته داخلیږئ او دَ عُمرے افعال به دَ څهٔ ممانعت نه بغیر اداکوئ او دَ عُمرے مناسک اداکولو نه پس به دَ احرام نه وتلو دپاره سرونه خرایئ او ویښته به کټ کوئ۔ تحلیق (سرخریل) ئے په تقصیر (ویښته لنډول) باندے مقدم کړل۔ دے طرفته ئے اشاره کړے ده چه تحلیق دَ تقصیر نه افضل دے۔ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا الخ ، دَ خوب دَ تعبیر ظاهریدل روستو کیدلو کښ څه کوم حکمت وُو هغه تاسو ته معلوم نهٔ دے لیکن الله تعالیٰ ته معلوم دے او هغه دا دے چه دَ خوب دَ مصداق ظاهریدلو نه مخکښ به الله پاک تاسو ته ډیره زر یوه فتح درکوي۔ دَ دے فتح نه مُراد دَ خیبر فتح ده چه دَ صلحِ حدیبیه نه روستو سمدستي دَ صفر په میاشت کښ وشوه دے دپاره چه دَ فتح سره دَ مسلمانانو په زړونو کښ سکون پیدا شي او دَ وعده کړے شوے فتحِ عظیم (فتحِ مکه) دپاره بنیاد ثابت شي۔ وهو فتح خیبر لتستروح الیه قلوب المؤمنین الی ان یتیسر الفتح الموعود۔ (مدارک ج ۴ ص ۱۲۲)

۲۴ هُوَ الَّذِیْ ، دَ شبهې دَ جواب نه پس دَ توحید او اتباعِ رسُول صلی الله علیه وسلم ترغیب دے۔ اَلْهُدٰی (توحید) دِیْنِ الْحَقِّ ، دین اسلام (مدارک) الله تعالیٰ خپل رسُول صلی الله علیه وسلم ته دَ توحید او دین اسلام پیغام ورکړو او و ئے لیږلو دے دپاره چه توحید او دین اسلام به ټولو باطلو دینونو باندے غالب او اوچت کړي، او الله تعالیٰ دے وعدے باندے پخپله شاهد او گواه دے او هغه به دا وعده ضرور پوره کوي۔ الله تعالیٰ خپله وعده پوره کړه او دکوے رترا پخپله رسُول الله صلی الله علیه وسلم هم پخپل ژوند مبارک کښ ولیدلهٔ۔ دین اسلام مخکني ټول دینونه منسوخ کړل او اسلام ئے علمي او دَ دلائلو لحاظ سره په باقي دینونو باندے غالب کړو او کوم غیر مسلم قوم چه دَ مسلمانانو سره مقابله وکړه هغه ئے دَ مسلمانانو دَ لاسه مغلوب وکړځولو۔

لیعلیه علی جنس الدین کله بنسخ ما کان حقا و اظهار فساد ما کان باطلا او بتسلیط المسلمین علی اهله اذ ما من اهل دین الا وقد قهرهم المسلمون۔ (بیضاوی)

دین اسلام ئے دے اعتبار سره هم په باقي ټولو دینونو باندے غالب کړو چه دَ انسان

ژوند د ټولو شعبو مثلاً عبادت، معاشرت، معیشت، سیاست، حکومت، عدالت وغیره مسائلو کښې کوم حل چه اسلام پیش کړے دے هغه هرلحاظ سره د باقی دینونو د پروګرام نه بهتر او په ټولو اوچت دے. د اسلام د نظام حیات د ژوند په باقی نظامونو باندې اوچتوالے او غوره والے د عقل او تجربے په رنړا کښې ثابت شویدے.

۲۵ے مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ: د کوم عظیم الشان رسول په ذریعه چه دین حق ته غلبه ورکوله دی. د هغه د عزتمند نوم تصریح او د جان نثارو صحابه کرامو د فضائلو بیان دے چه د نبی کریم ﷺ په ملګرتیا کښې د دین په خوروڵو او باقی دینونو باندې د هغه غالب کولو د پاره خپل مال او سر هر څه قربان کړل دے د پاره چه راتلونکی نسلونه د هغوی په نقش قدم باندې لاړشی او خپل ځان کښې دا اسے صفتونو پیدا کولو کوشش او کړی. مُحَمَّدٌ مبتدا، مقدر د پاره خبر دے او رَسُولُ اللّٰهِ عطف بیان دے یا نعت، یا بدل او دا جمله هُوَ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ الآیة د پاره بیان دے:

ای هو او ذلك الرسول المرسل بالهدی و دین الحق محمد، علی ان الاسم الشریف خبر مبتدأ محذوف و (رسول الله) عطف بیان او نعت او بدل، والجملة استئناف مبین لقوله تعالیٰ (هو الذی ارسل رسوله) و هذا هو الوجه الارجح الانسب بالمساق کما فی الکشف (روح ج ۲۶ ص ۱۲۳).

۲۶ے وَالَّذِیْنَ مَعَهٗ: حضرت ابن عباس رض فرمائی چه د دے نه هغه صحابه کرام رض مراد دی کوم چه نبی علیه السلام سره په صلح حدیبیه کښې ملګری وو. قال ابن عباس رض: اهل الحدیبیه اشدّآء علی الکفار، ای غلاظ علیهم کالاسد علی فریسته (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۹۲). یعنی هغوی په کافرانو باندې دومره سخت دی لکه زمرے په خپل ښکار باندې لیکن د جمهورو مفسرینو په نزد د دے نه ټول صحابه کرام رض مراد دی،

وقال الجمهور جمیع اصحابه صلی الله علیه وسلم و رضی الله تعالیٰ عنهم (روح)
وکون الصفات فی الجملة اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم هو الاشبه (قرطبی)

د رسول الله ﷺ د صحابو شان دا دے چه په کافرانو باندې هغوی ډیر زیات سخت دی د دین په معامله کښې د کافرانو د پاره د رأفت او رحمت جذبه مانع نه ګرځیدله تر څو چه هغوی خپل ډیر زیات نزدے رشته داران د کفر په حمایت کښې په میدان جنګ کښې ولیدل نو د زمری پشان وریاندې حمله کوی لیکن په خپل مینځ کښې د یو بل د پاره ډیر زیات مهربان او رحمدل دی، اسلام هغوی یو د اسے دینی رورولئی او اخوت سره په زنځیر تړلی او یو ځائے کړیدی چه د هغوی خپل مینځ کښې محبت، شفقت او رحمت د حقیقی رونړو د محبت او شفقت نه هم زیات مضبوط او زور دے او د جاهلیت د زمانے د دشمنئ د دوی د زړونو نه لکه د غلط حرف محوه او ختمه شویده. دے ایت د هغه خلقو ارمانونه خاورو سره

ملا وُکړے شوے چه دَبے اصله او باطل تاریخي روایتونو په بنیاد دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم په خپل مینځ کښ دَ بُغض، حسد او عداوت ثابتولو کوشش کوی. رغم انف الروافض الذین یزعمون ان اصحاب محمد کما کانوا یتباغضون بینهم (مظهری ج ٩ ص ٣٦)۔

٢٧ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا: دا دَ صحابه کرامو رض ډیرو مونځونو طرفته اشاره ده چه ته به اکثر هغوی لره په مانځه کښ مصروف بیا موے او بیا دَ مونځ نه دهغوی مقصود ریا کاری نه ده بلکه هغوی د الله تعالیٰ دفضل او دهغهٔ دَرضا حاصلولو دپاره مونځونه کوی، دا دَهغوی دَنیت صداقت او دَباطن دَاخلاص شهادت۔ دصحابو مقام څومره زیات اُوچت دے چه الله تعالیٰ پخپله گواهي ورکوی چه دوی کوم څهٔ کوی خالص څما دَرضا لټولو دپاره ئے کوی: وکفیٰ بذلك شرفًا۔

سِيمَاهُمْ الخ: دَهغوی دصدق او اخلاص علامات دَهغوی په مخونو کښ دَډیرو سجدو او عبادت باندې دهمیشوالي په برکت سره دنورانیت، وقار او تواضع او عاجزئ په صورت کښ ښکاره دی: قال قوم هو السمت الحسن والخشوع والتواضع وهی روایة الوالبی عن ابن عباس رض (مظهری)۔ دَدے نه دتندی هغه نښه مُراد نهٔ ده چه کومه اکثر دَمونځگذارو په تندو ښکاره کیږی چه په عام عُرف کښ ورته دَتندی محراب وائی ځکه چه دا څهٔ حقیقی علامه نهٔ ده۔ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ الخ: دصحابه کرامو رضي الله عنهم دا صفتونه کوم چه پورته بیان کړے شویدی دا رنگے په تورات کښ هم ذکر شوی دی۔

٢٨ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ: دا دَصحابهٔ کرامو رضي الله عنهم دپاره یو تمثیل دے۔ كَزَرْعٍ دَمبتدا محذوف خبر دے ای هم كزرع یعنی دَهغوی مثال داسے دے لکه چه په پټي کښ یو بوټے راوټوکیږی بیا څو ورځے پس دَهغهٔ یو څو کمزورے تنه مضبوطه شي بیا په قلار قلار تنه دومره پیړه شي چه بوټے په هغے باندې اُودریږی نو زمیندار او دَپټي مالك چه ورته گوری نو ډیر زیات خوشالیږی۔ همدا مثال دصحابه کرامو رض دے چه په اول کښ ډیر لږ وو بیا ئے تعداد زیات شو تردے چه یو ډیر مضبوط او طاقتور جماعت په وجود کښ راغے چه هغه ته کتلو سره به رسُول الله صلی الله علیه وسلم خوشالیده، وهو مثل ضرب الله تعالیٰ للصحابة رضی الله تعالیٰ عنهم بدء الاسلام ثم کثروا واستحکموا فترقی امرهم یوما فیوما بحیث اعجب الناس (روح ج ٢٦ ص ١٢٧)۔ لِيَغِيظَ: دَدے متعلق محذوف دے: ای فعل الله هذا لمحمد صلی الله علیه وسلم واصحابه لیغیظ بهم الکفار۔ (قرطبی ج ١٦ ص ٢٩٥)۔ الله تعالیٰ محمد صلی الله علیه وسلم او دَهغوی صحابو رض ته دَضعف نه پس قوت ورکړو او دَلږ والی نه پس ئے دهغوی په ډله کښ دومره زیاتے اوکړو چه هغه یو نهٔ تابع کیدونکے طاقت اوگرځیدهٔ دے دپاره چه کافران او مشرکان دَحسد، قهر او غضب په اُور کښ

او سوزی۔

۲۹ وَعَدَ اللّٰهُ (الآیة): دا د صحابه کرامو رض دپاره بشارت اُخروی دے او مِنۡهُمۡ
کښ من تبعیضیه نه دے بلکه مؤکده دے یا بیانیه دے۔ من مؤکدة للکلام والمعنی
وعدهم الله کلهم مغفرة واجرا عظیما (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۹۶) ابن عطیة وقوله منهم
لبیان الجنس ولیست للتبعیض لانه وعد مدح الجمیع۔ (بحر۔ ج ۸ ص ۱۰۳)۔
دے ایتونو کښ د اصحاب کرامو رض ډیر لوئے فضیلت بیان کړے شوے دے۔ د چا په
زړه کښ چه د یو صحابی رض متعلق د ذرے برابر بغض وی هغه به د لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ
مصداق جوړیږی۔ قال مالك من اصبح من الناس فی قلبه غیظ من اصحاب
رسول الله صلی الله علیه وسلم فقد اصابته هذه الایة (روح ج ۲۶ ص ۱۲۸)۔
ټول صحابه رض عادلان او ثقات (معتبر، معتمد) دی۔ د هغوی دیانتدارۍ او امانتدارۍ
د شك او شبهے نه اُوچته ده۔ هغوی ټول اولیاء الله او د انبیاء علیهم السلام نه
پس د ټول مخلوق نه غوره دی۔ د اهل سنت همدا مسلك دے۔
فالصحابة کلهم عدول، اولیاء الله تعالیٰ واصفیائه وخیرته من
خلقه بعد انبیائه ورسله هذا مذهب اهل السنة... (قرطبی ج ۱۶ ص ۲۹۹)۔

سورهٔ فتح کښ د توحید ایتونه او د هغے خاصیتونه

① إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا — تا — وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ۝ نفی د هر قسمه شرك۔
② قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ۔ الآیة: نفی د شرك فی التصرف۔
③ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، الآیة، نفی د شرك فی التصرف۔



سُوْرَةُ الْحُجُرَاتِ

ربط سورهٔ فتح کښې دَ فتح د اعلان نه پس په سورهٔ حجرات کښې دَ مسلمانانو دَ منظم او متفق ساتلو دپاره آداب بيان کړے شوي دي۔

خلاصه په اوله حصه کښې دَ نبي عليه السلام آداب، رنړا اچول، مسلمانانو ته خپل مينځ کښې دَ ژوند تيرولو دَ آدابو تعليم۔ دويمه حصه کښې په باندې چپيانو باندې شکوه او دَ توحيد بيان په طريقه دَ ترقي۔ په سورهٔ محمد کښې ئے اوفرمائيل: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ چه دَ هغهٔ نه سوا هيڅوک معبود نشته بيائے په سورهٔ فتح کښې وفرمائيل تُسَبِّحُوْهُ يعني معبود هم هغه دے، هيڅوک ورسره شريک مهٔ جوړوئ ځکه چه عالم الغيب صرف هغه دے بل څوک نهٔ دے دَ حجرات په آخر کښې ئے وفرمائيل، اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ۔

تفصيل

دے سورت دوه حصے دي: اوله حصه دَ سورت دَ شروع نه تر اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ۝ پورے ده۔ او دويمه حصه قَالَتِ الْاَعْرَابُ نه تر دَ سورت آخره پورے۔

اوله حِصّه

دے کښې اووهٔ معاشرتي قوانين ذکر شوي دي چه په هغې کښې اولني دوه دَ نبي اکرم صلی الله عليه وسلم دَ آدابو سره متعلق دي او پنځه دَ عامے معاشرے سره متعلق دي۔

اولنے قانون: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا (الآية): اے ايماندارو! دَ الله او رسول اطاعت اوکړئ او مخالفت مهٔ کوئ۔

دويم قانون: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا ــ تا ــ وَاَجْرٌ عَظِيْمٌ۝ دَ نبي کريم صلی الله عليه وسلم په وړاندې دَ خبرو کولو په وخت دِ ستاسو آواز دَ پيغمبر عليه السلام دَ آواز نه پورته نشي او دَ هغوي په مجلس کښې ختکه آواز سره خبرے کوئ۔ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ ــ تا ــ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ۝ دا په باندې چپيانو باندې زجر دے چا چه نبي عليه السلام ته دَ حجرات مبارکه نه بهر او دريدلو سره په اوچت آواز چغے وهلے۔

دريم قانون: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌ (الآية): دَ يو خبر په

بنیادِ بانڼ دَ خهٔ کارکولونه وړاندې دَ هغې پوره تحقیق وکړئ دِے دپاره چه روستو په خپلو کړو بانډې خپیمانه نشئ. وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۔ تا ۔ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ داکَ اول قانون سره متعلق دے یعنی تاسو بانډې دَ رسول الله ﷺ اطاعت فرض دے نهٔ چه نبي علیه السلام بانډې ستاسو اطاعت حُکه چه ستاسو زړونو کښې ایمان محبوب کړځول او دَکفر، فسق او نافرمانۍ نه ستاسو لرے کول مقصود دی دَ دے وجې نه په تاسو بانډې دَ نبي علیه السلام اطاعت فرض کړے شوے دے.

څلورم قانون: وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا ۔ تا ۔ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝: کچرے دَ مسلمانانو دوه ډلے خپل مینځ کښې په جنګ شي نو دَ هغوی مینځ کښې صُلح اوکړئ. کچرے دَ دواړو نه یوه ډله صلحے ته آماده او تیاره نشي نو هغې سره جنګ وکړئ تر دے چه دَ الله تعالی حکم ته غاړه کیږدي.

پنځم قانون: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ (الآية): خپل مینځ کښې یو بل پورے تو فے مسخرے مکوئ او مهٔ په یو بل بانډې عیب لګوئ او مهٔ دَ یو بل نوم ورانوئ.

شپږم قانون: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا ۔ تا ۔ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ۝ دَ چا متعلق بغیر دَ خهٔ وجې نه بد ګماني مکوئ، دَ نورو خلقو عیبونه مهٔ لټوئ او دَ چا په غیر موجودګۍ کښې (پټے شا) بد ے خبرے (غیبت) مکوئ.

اووم قانون: يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ (الآية): دَ نفس په شرافت بانډې فخر مکوئ. دَ عظمت او اوچتۍ مدار په نسب نهٔ دے بلکه ایمان او تقوی بانډې دے.

دویمه حِصّه

قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا (الآية)، دا په هغه بانډې بانډې زجر دے چا چه دَ خپلو ایمانونو اظهار اوکړو او پیغمبر علیه السلام بانډې ئے احسان کول غوښتل. وے فرمائیل کامل ایمان دا دے چه دَ ایمان نه روستو شک پیدا نشي او دَ الله په لاره کښې سر او مال سره جهاد اوکړے شي او بیا ستا سو داځهٔ احسان دے، احسان خود الله تعالی دے چه تاسو ته ئے دَ ایمان لاره اوښودله او دَ اسلام قبلولو توفیق ئے درله درکړو.

اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ (الآية) په آخر کښې دَ توحید دَ مسئلے بیان دے علی سبیل الترقی. چونکه عالم الغیب صرف الله تعالی دے نو دے دپاره دَ هغهٔ نه سوا هیڅوک دَ عبادت او پلنے لائق نشته او نهٔ هغهٔ سره څوک شریک نشته.

سُوْرَةُ الْحُجُرٰتِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة حجرات سله مدینه کښې نازل شوا و دیکښې اتلس آیتونه او دوه رکوعګانې دي؛

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بے حده مهربان نهایت رحم کوونکے دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَ

اے ایماندارو! مه مخکښې مه ځئ د الله او د هغه

رَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ① يٰٓاَيُّهَا

د رسول نه او ویریږئ د الله نه، الله اوري او پوهیږي دے. اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ

ایماندارو! مه مه پورته کوئ خپل آوازونه د پاسه د پیغمبر د

النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ

آوازنه او به اوچت آواز خبرې مه کوئ هغه سره لکه چه آواز اوچتوي په خبرو کښې یو بل سره،

اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ② اِنَّ

هسے نه چه ضائع شي ستاسو عملونه او تاسو به خبر هم نه یئ دے. یقیناً

الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ

هغه خلق که چه په خکته آواز سره خبرے کوي رسول الله سره، دا هغه خلق دي

الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ

چه زړونه ئے ازمائیلي دي الله تعالٰی د ادب دپاره، د دوي دپاره معافي ده

وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ③ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ

او لوئے ثواب دے. کوم خلق چه آوازونه کوي تا ته سله د

وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ④ وَلَوْ اَنَّهُمْ

دیوال نه شا ته اکثر د هغوی نه عقل نه لري دے او که چرے دوي

صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ وَاللّٰهُ

صبر کړے وے ترڅو چې ته را ووتلے وے دوی ته نو دوی دپاره به بهتره وه او الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۵ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَاۗءَكُمْ

بخښونکے مهربانه دے وړ اے ایمان والو! که چیرے راشی تاسو ته

فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا بِجَهَالَةٍ

څوک ګنهګار خبر راوړلو سره نو تحقیق وکړئ چې چرته (تکلیف) اونه رسوئ یو قوم ته په ناپوهئ کښې

فَتُصْبِحُوْا عَلٰي مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۝۶ وَاعْلَمُوْٓا

بیا به صباله شئ په خپلو کړو پښیمانه هک. او پوهه شئ چه

اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۭ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ

چه په تاسو کښې رسول دے د الله، که ستاسو خبره اومنی په ډیرو کارونو

الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ

کښې نو تاسو به ډیر تکلیف کښې پریوځئ لیکن الله محبت واچولو ستاسو په زړونو کښې د ایمان

وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَ

او ښائسته ئے کړو هغه ستاسو په زړونو کښې او نفرت ئے واچولو ستاسو په زړونو کښې د کفر او

الْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۝۷

ګناه او نافرمانئ نه، هم دغه خلق دی په نیکه لاره باندې.

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝۸ وَ ۹

د الله په فضل او احسان سره، او الله په هر څیز پوهه حکمت والا دے وڅ. او

اِنْ طَاۗىِٕفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا

که دوه ډلے د مسلمانانو شي خپل مینځ کښې په جنګ ئمی نو د هغوی جوړه

بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَي الْاُخْرٰى

او کړئ، که چیرے زیاتے اوکړی یوه په بله باندې،

فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتّٰى تَفِيٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ

نو تاسو ټول جنګ وکړئ د هغه زیاتي کوونکي سره تر دے چه راشي د الله تعالیٰ حکم ته،

فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَاَقْسِطُوْا ۖ

نو که چیرے بیا راغله نو جوړه وکړئ د دواړو مینځ کښ په برابرئ سره او انصاف اوکړئ،

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝۹ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ

بیشکه الله خوښوی انصاف کوونکي ۹ بیشکه مسلمانان چه دی ټول رونړه دی

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ

نو روغه اوکړئ د خپلو دوو رونړو په مینځ کښ او ویریږئ الله نه، د دے دپاره چه تاسو باندې

تُرْحَمُوْنَ ۝۱۰

رحم اوکړے شي۔

نکات: ۱ د معاشرت اولنے قانون۔ ۲ د معاشرت دویم قانون۔ ۳ زجر دپاره د باند پیچیانو۔ ۴ د آخرت بشارت۔ ۵ زجر دپاره د باند پیچیانو ۶ د معاشرت دریم قانون۔ ۷ اول قانون سره متعلق۔ ۸ څلورم قانون د معاشرت۔ ۹ د څلورم قانون سره متعلق، د حالاتو د اصلاح ترغیب۔

موضح قرآن ف۱ یعني مجلس کښ که څوک تپوس وکړي نو د نبي کریم ﷺ وینا ته انتظار اوکړئ چه څه فرمائی؟ تاسو په خپل عقل سره مخکښ جواب مه ورکوئ۔ منه۔ ف۲ د دے سورت کښ الله پاک اداب بیان کړل د نبي علیه السلام، او خپل مینځ کښ د ژوند تیرولو۔ یو ادب دا دے چه په مجلس کښ په زوره خبرے مکوئ چه د نبي علیه السلام خبره واوریدلے شي. دویم دا چه خطاب کوئ نو ادب سره کوئ او په زوره خبرے مکوئ۔ منه۔
ف۳ بني تمیم نبي علیه السلام سره ملاقات دپاره راغلل او نبي علیه السلام په کور کښ وو نو د بهر نه ئے اوازونه شروع کړل۔ پکاروه چه د چا په ذریعه ئے خبر کړے وے۔ منه۔ ف۴ نبي علیه السلام یو کس ولیږلو یو قوم ته د زکوٰة وصولولو دپاره، هغوی د استقبال دپاره بهر راووتل۔ د اسلام نه مخکښ د دے قوم په مینځ کښ دشمني وه، د دے اوویریدو چه څما د وژلو دپاره راووتل نو واپس شو په تیښته مدینے ته راغے او مشهوره ئے کړه چه فلانے قوم مرتد شو (یعني د اسلام نه واوړیدل)۔ نبي علیه السلام هغوی باندې د حملے اراده وکړه۔ د دے نه معلومه

شوه چه دَ فاسق شهادت بر نشي قبلولے - فاسق هغه دے چه په ظاهر دَ شرع نه خلاف وي - منه۔ ف۵ یعنی که ستاسو مشوره قبوله نکرے شي نو ته خفه کیږئ، رسول الله ﷺ دَ الله تعالیٰ په حکم باندې عمل کوي، دیکښې ستاسو فائده ده که چرے ستاسو خبره او مني نو هر سړے به دَ خپلے خوښے او فائدے خبره کوي نو دَ چا چا خبره به مني منه۔

ف۶ یعنی هر کله چه دَ شرع دَ حکم تابع وي نو انصاف سره صُلحه وکړئ دیو تن طرفدارې مکوئ - دا حکم دے دَ خانه جنګئ کله چه مسلمانان خپل مینځ کښې په جنګ شي - منه رحمه الله

فتح الرحمٰن

ف۱ الله تعالیٰ دا سورت دَ تعلیم او ادب دپاره نازل کړو چه دَ نبي علیه السلام نه په امر او نهي کښې وړاندې ولاړ اونکړي او په اوچت آواز ورسره خبرے اونکړي اوچرے فاسق څه خبر راوړي نو چه بغیر دَ تحقیق نه په هغے باندې دَ عمل کولو قصد اونکړئ او په کوم صورت کښې چه دَ دوی مینځ کښې جهګړه واقع شي دَ هغے اصلاح په څه طریقے سره اوکړئ - او په یو بل پورے د یو قوم مسخرو او خرابو نومونو کیښودلو، غیبت کولو، بدګمان کولو او دَ نسب دَ وجے نه په نورو باندې دَ فخر کولو نه ئے منعه اوفرمائیله او کمزوري ایمان والو ته ئے په کمزوري ایمان باندې خبردارے ورکړو - ف۲ مترجم وائي دا تعریض دے دَ بني تمیم قوم په حال باندې چه دَ څه کار په وجه نبي علیه السلام ته حاضر شول او کله چه ئے نبي علیه السلام په جومات کښې اونه موندلو او دوی ته دا پته هم نه وه چه په کومه یوه کوټه کښې ئے تشریف ایښے دے نو دَ کوټو په شا کښې ئے چغے سورے شروع کړے - والله سبحانه وتعالیٰ اعلم -

تفسیر اوله حصه

ف۱ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا (الآیة)، دَ فتح مکے نه پس دَ اداب او قوانینو بیان دے، دپاره دَ دے چه انتظام صحیح وي. دا اولنے قانون دے چه دَ باقي نورو قوانینو دپاره بنیاد دے - دَ الله تعالیٰ او دَ هغه دَ رسول ﷺ نه مخکښې وړاندې والے مکوئ یعني دَ الله تعالیٰ او دَ هغه دَ رسول ﷺ دَ احکامو مخالفت مکوئ بلکه دَ هغے اطاعت اوکړئ. المراد النهي عن مخالفة الکتاب والسنة - (روح ج ۲۶ ص ۱۳۲) -

او دَ الله تعالیٰ نه اویریږئ یعنی دَ هغه دَ احکامو مخالفت مکوئ او دَ هغے تابعداري وکړئ - هغه ستاسو هر څه اوري او ورباندې پوهیږي - ستاسو دَ اقوالو او افعالو نه هغه ښه خبر دے، هغه مومنکے او نه مومنکي لره ښه پیژني او هر یو

ته به د خپل عمل مطابق جزاء او سزا ورکوی. دا قانون د ټولو قوا نینو اصل الاصول دے حکه چه ټول قوانین د الله او رسول ﷺ احکام دی.

۳ے يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا: دا دویم قانون دے او په دیکښې د رسُول الله ﷺ سره د خبرو کولو او د هغوی په مجلس کښې خپل مینځ کښې د خبرو کولو آداب ښودلی شویدی. وے فرمایل کله چه تاسو د پیغمبر علیه السلام سره خبرے کوئ نو ستاسو اواز د پیغمبر علیه السلام د اواز نه ښکته وی. دغه شان کله چه تاسو د نبی علیه السلام په مجلس کښې خپل مینځ کښې خبرے کوئ نو هغه وخت هم په ښکته اواز سره خبرے کوئ او ستاسو آوازونه د د نبی علیه السلام په مجلس کښې اوچت نکړے شی. یا مطلب دا دے چه د نبی علیه السلام سره د خبرو کولو په وخت په اوچت اواز سره خبرے مکوئ څنګه چه تاسو خپل مینځ کښې یو بل سره په اوچت اواز خبرے کوئ. او نبی علیه السلام ته د هغوی نوم مبارک سره آواز مکوئ بلکه په صفتونو سره اواز کوئ څنګه چه د بادشاهانو په دربارونو کښې اوازونه نشی اوچتولے. دا د بادشاهانو د دربارونو اداب دی. دا رنګے رسُول الله ﷺ چه د بادشاهانو هم مقتداء او پیشوا دے، دا خبره د هغوی د مجلس د آدابو نه هم ده.

يعنى لا ترفعوا اصواتكم عنده ولا تنادوه كما ينادى بعضكم بعضًا بأن تخاطبوه باسمه اوكنيته بل يجب عليكم تبجيله و تعظيمه ومراعاة ادابه وخفض الصوت بحضرته وخطابه بالنبى والرسول ونحو ذلك (مظهری ج ۹ ص ۴۱) كانه قيل لا ترفعوا اصواتكم فوق صوته اذا نطق ونطقتم ولا تجهروا له بالقول اذا سكت وتكلمتم. (روح ج ۲۶ ص ۱۳۵)

أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ الخ: دا د ماقبل دپاره علت دے او د لَا تَرْفَعُوا او لَا تَجْهَرُوا مفعول له دے په طریقه د تنازع: وان تحبط مفعول له والعامل فيه ولا تجهروا على مذهب البصريين فى الاختيار ولا ترفعوا على مذهب الكوفيين فى الاختيار. (بحر، ج ۸ ص ۱۰۶). مقصد دا دے چه د نبی علیه السلام په وړاندې اوازونو اوچتولو او چغوسورو وهلو سره هغوی ته د تکلیف رسولو خطره ده او نبی علیه السلام ته تکلیف رسول د کفر او عملونو باطل کیدلو سبب دے نو دا نهی د سدِ ذریعه (د سبب بندولو) په طور ده او دا ضروری نه ده چه آواز اوچتول او هر اواز په زوره کول د نبی علیه السلام د تکلیف سبب اوګرځی حکه چه دا به صرف هغه وخت وی کله چه اوچت اواز د اهانت او سپکاوی په طور بانډ وی:

النهى عن الفعل المعلل باعتبار التأدية لان فى الجهر والرفع استخفافًا

قد یؤدی الی الکفر المحبط وذلك اذا انضم الیه قصد الاهانة وعدم المبالاة (بیضاوی) فورد النهی عما هو مظنة لاذی النبی صلی الله علیه وسلم سواء وجد هذا المعنی اولا حسما للذریعة وحسما للمادة.
(روح ج ۲۶ ص ۱۳۶)-

۴ اِنَّ الَّذِیۡنَ یَغُضُّوۡنَ: دا د اواز ښکته کوونکو دپاره بشارتِ اخروی دے. اُمۡتَحَنَ اللّٰهُ الخ: الله تعالٰی د دوی زړونه په امتحان او ازمائش کښې واچول، د کینے، نقص او عیب نه ئے پاك کړل او د الله پاك د ویرے دپاره ئے خاص وګرځول
قال الفراء ای اخلصها للتقوی وقال ابن عباس طهرهم من کل قبیح وجعل فی قلوبهم الخوف من الله والتقوی- (قرطبی ج ۱۶ ص ۳۰۸)-
کوم خلق چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مجلس د ادابو خیال ساتی او د نبی علیه السلام په وړاندې اوازونه ښکته ساتی د هغوی زړونه الله تعالٰی د تقوٰی نه ډك کړیدی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ادابو خیال او لحاظ ساتل د هغوی د زړونو د کیفیت نتیجه ده. دا سے خلقو دپاره د ګناهونو معافی ده او هغوی دپاره ډیر لوئے اجر او ثواب دے.

۵ اِنَّ الَّذِیۡنَ یُنَادُوۡنَكَ: دا د باندے اوسیدونکے یو چلے باندې زجر دے. د بنو تمیم د بانډچیانو یو وفد نبی علیه السلام ته حاضر شو. کله چه دغه خلق مسجد نبوی ته راورسیدل نو دغه وخت نبی علیه السلام په خپله یوه حجره کښې تشریف فرما وُو. هغوی د نبی علیه السلام د حجرے نه بهر اودریدل او د انتظار کولو نه بغیر ئے د بهر نه چغے کړے: "یا محمد اخرج الینا" (اے محمد ! بهر ته راشئ)- د دوی د تنبیه او خبرداری دپاره دا ایتونه نازل شو- (روح) کوم خلق چه د حجرونه بهر اوازونه کوی په هغوی کښې اکثر ناپوهه دی او د نبوت د ادابو نه ناخبره دی کچرے دوی لږ شان د صبر او تحمل نه کار اخستلے او ستاسو بهر ته د تشریف راوړلو انتظار ئے کړے نو دا دوی دپاره ډیره بهتره خبره وه چه د دے په وجه به ئے عزت او وقار هم قائم پاتے کیدلو او د ثواب حقدار به هم ګرځیدل لیکن په بے خبرئ او ناپوهئ چه د چا نه څه ګناه اوشی او د علم راتللو نه پس د هغے نه ځان وساتی نو الله تعالٰی ئے مخکنی ګناه معاف کوی- دا د هغه ډیر زیات رحمت او مهربانی ده-

۶ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِنۡ جَآءَکُمۡ: دا دریم قانون دے چه کله تاسو ته د یو قوم باره کښې د مخالفت خبر ملاؤ شی نو د هغه خلاف د څه قسمه جنګی کاروایئ کولو نه مخکښې د هغه خبر پوره تحقیق وکړئ، هسے نه چه تاسو په ناپوهئ سره یو قوم ته نقصان اورسوئ او روستو تاسو په خپلو کړو باندې پښیمانه شی- اَنۡ تُصِیۡبُوۡا ای لئلا تصیبوا او کراهیة ان تصیبوا- (روح)- د ځنو

روایتونو نه معلومیږی چه نبی علیه السلام حضرت ولید بن عقبه رضی الله عنه لره بنی المصطلق ته دَ صدقاتو وصولولو دپاره لیږلے وُو. کله چه بنی مصطلق ته ده دَ راتلو علم اُوشو نو هغوی دَ کلی نه بهر استقبال دپاره راوُوتل. دَ اسلام نه مخکښ دَ دوی او دَ ولید بن عقبه رضی الله عنه په مینځ کښ دشمنی وه. هغه خیال وکړو چه کیدے شی چه دا خلق ځما دَ وژلو دپاره راوتلی دی نو دَ هغه ځائے نه واپس مدینے ته راغے او نبی علیه السلام ته ئے ټول حال بیان کړو لیکن دَ تحقیق نه پس معلومه شوه چه حقیقت دَ دے په عکس کښ وُو او ولید بن عقبه رضی الله عنه خالص په غلط فهمئ کښ مبتلا شوے وُو. دے باندِ دا آیت نازل شو.

ځنو خلقو دَ دے نه دا غلط نتیجه را ایستلے ده چه په دے آیت کښ ولید بن عقبه رضی الله عنه ته فاسق ویلی شوی دی خو دا خبره دَ څو وجونه صحیح نهٔ ده. اوّل خو چه په کومو روایتونو کښ دَ ولید بن عقبه نوم ذکر شوے دے هغے کښ یو روایت هم دَ جرحے نه خالی نهٔ دے، هغه ټول روایتونه منقطع دی. (العواصم - حواشی محب الدین خطیب)

دوېم دَ صحیح روایت نه ثابته ده چه دَ فتح مکے په ورځ ولید بن عقبه رضی الله عنه په کم عمره ماشوما نو کښ دَ تبریک په خاطر دَ نبی علیه السلام په خدمت کښ پیش کړے شو نبی علیه السلام دَ ټولو په سرونو باندِ لاس راخکلو لیکن ده له په سر لاس رانهٔ خکلو، ځکه چه ده له په سر کښ یو قسم خوشبوئی لګیدلے وه چه نبی علیه السلام هغه نهٔ خوښوله. هغه ځولے چه دَ فتح مکے په ورځ ماشوم وُو نو څو ورځے پس څنګه دَ دے قابل شو چه هغه بنو مصطلق ته دَ عامل په طور اُولیږلے شو:

عن الولید بن عقبة قال لما فتح رسول الله صلی الله علیه وسلم مکة جعل اهل مکة یاتونه بصبیانهم فیمسح علی رؤسهم ویدعوالهم فجئ بی الیه وانی مطیب بالخلوق ولم یمسح علی رأسی ولم یمنعه من ذلك الا ان امی خلقتنی بالخلوق فلم یمسنی من اجل الخلوق. (مسند احمد ج ۴ ص ۳۲، سنن ابی داوٗد ج ۲ ص ۵۷۶).

درېیم دَ دے وجے نه چه په یَٰٓأَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا کښ خطاب عام مؤمنانو سره دے او دَ فاسق نه هم عام فاسقان مراد دی او دَ فاسق ذکر دَ مبالغه فی الحکم دپاره دے. دا مقصود نهٔ دے چه په کومه قصه کښ دَ دے نزول شوے دے دَ هغے متعلقه کس ته فاسق ویلے شویدے. لهٰذا دَ ولید بن عقبه فاسق کیدل نهٔ لازمیږی. افاده الشیخ التهانوی رحمه الله تعالیٰ.

سکے وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِیْکُمْ: دا دَ اوّل قانون سره متعلق دے چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت مکوئ او په نبی علیه السلام باندِ ستاسو اطاعت ضروری نهٔ دے بلکه په تاسو باندِ دَ هغوئ اطاعت لازم دے. که چرے پیغمبر علیه السلام ستاسو دَ هر یو کس په مشوره باندِ عمل اوکړی نو دَ هغے نتیجه به دا وی چه ستاسو په ځنو ناحقه مشورو

بانې عمل کولو سره به تاسو په ډیرو تکلیفونو کښې ګرفتار شئ. تاسو کښې د الله رسول موجود دے نو تاسو دَ هغهٔ دَ احکامو تابعدارې وکړئ او خپله هره خبره منلو باندې زور مه اچوئ. کله چه نبي علیه السلام ته دَ بنو مصطلق دَ ارتداد خبر ملاؤ شو چه دَ واقع نه خلاف وو هغه وخت ډیرو صحابو رضی الله عنهم دا رائے ورکړه چه فوراً په هغوی باندې حمله کول پکار دي خو نبي علیه السلام اول دَ حال معلومولو او د هغې دَ تحقیق حکم ورکړو. دے آیت کښې دے طرف ته اشاره ده. وَلٰكِنَّ اللّٰهَ الخ، دَ هغوی له طرفه دَ دے فوري اقدام دَ مشورے عذر بیان شوې دے چه دَ ایمان سره دَ ډیر زیات محبت، او دَ کفر او نافرمانۍ نه دَ نفرت په وجه هغوی دا مشوره ورکړه لیکن په حقیقت کښې صحیح اقدام هغه وو دَ کوم چه پیغمبر علیه السلام حکم ورکړے وو چه دَ تحقیق حال نه مخکښې دِ حمله ونکړے شي.

ومعنى الآية لكن ما صدر منكم من ترك التثبت انما كان لحبكم الايمان وبغضكم الكفر فلا لوم عليكم ولا اثم. (مظهري ج ۹ ص ۴۷).

استدراك ببيان عذرهم وهو ان فرط حبهم الايمان وكراهتهم الكفر حملهم على ذلك. (بيضاوي).

حضرت شیخ قدس سره فرمائي، لٰكِنَّ دَ معنیٰ موضوع له په اعتبار سره دَ ماقبل سره نشي مرتبط کیدے لیکن دَ سیاق او سباق په اعتبار سره به معنیٰ دا وي چه لیکن الله تعالیٰ ته ستاسو په زړونو کښې ایمان محبوب ګرځول او تاسو له دَ کفر، فسق، او نافرمانۍ نه متنفر کول مقصود دي نو په دے وجه لے تاسو باندې دَ پیغمبر علیه السلام اطاعت لازم او فرض کړے دے. دے آیت کښې الله تعالیٰ دَ حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم ډیر زیات اوچت صفتونه او تعریفونه بیان کړي دي. ایمان ئے دَ هغوی په زړونو کښې محبوب اوګرځولو او دَ هغوی زړونه ئے ایمان سره منور او مُزیّن کړل او دَ کفر، فسق او نافرمانۍ نه ئے کرکژن کړل. بیا ئے وفرمائیل همدا خلق په حقیقت کښې دَ هدایت په لاره روان دي او دا پیرے د الله تعالیٰ فضل او انعام دے چه هغه دَ دوی دَ ایمان او اخلاص، اطاعت او جان نثارۍ او دَ ظاهر او باطن د صداقت ثمره ده ځکه چه الله تعالیٰ په ټول هر څهٔ باندې خبردار دے او دَ هغهٔ هیڅ یو کار دَ حکمت نه خالي نهٔ دے.

۵ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ، دا څلورم قانون دے. دَ پیغمبر علیه السلام دَ اطاعت نه پس په تاسو لازمه ده چه تاسو دَ مسلمانانو په مینځ کښې د اصلاح کوشش اوکړئ دے د پاره چه په مسلمانانو کښې اتحاد او اتفاق قائم پاتے شي. ځکه دَ مسلمانانو دوه ډلے په جنګ شي نو دَ هغوی په مینځ کښې روغه جوړه وکړئ. ځکه دَ دواړو نه یوه ډله پند او نصیحت نهٔ قبلوي او صلحے ته نهٔ ماتله کیږي بلکه ناحقه ظلم او زیاتے کوي نو دَ هغه ظالمے باغي ډلے سره تر هغے اوجنګیږئ چه هغه د الله حکم یعنی صلحے ته ماتله شي نو دَ دواړو په مینځ کښې عدل او انصاف سره صلحه اوکړئ،

او په هيڅ باندې څوک ظلم نه مه پريږدئ - الله تعالیٰ عدل او انصاف کوونکي خوښوي.
ف إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ: دا د ما قبل سره متعلق دے او د احوالو د اصلاح ترغيب او تلقين دے - ټول مسلمانان رونړه رونړه دي - د هغوي په مينځ کښې چه د اسلامي رورولئ کومه رشته ده هغه د دے قابله ده چه پرے نکړے شي - نو کچرے د دوو مسلمانانو رونړو په مينځ کښې خفګان او ناراضګي پيدا شي نو د هغوي په مينځ کښې د روغے جوړے کوشش اوکړے شي او د هغے د نور زيات لوکوشش مکوئ او هميشه د الله پاک نه ويريږئ او د مسلمانانو په مينځ کښې صلحه کولو کښې کوتاهي او سستي مکوئ دے دپاره چه تاسو باندې د الله تعالیٰ رحم نازل شي -

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰ

اے ايمانداړو! نه مسخرے دې نکوي يو قوم پل قوم پورے بنائي چه

أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَىٰ

هغه بهتر وي د دوي نه او نه دې ښځے نورو ښځو پورے بنائي چه

أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا

هغوي بهترے وي د دوي نه، او عيب مه لګوئ په يو بل باندې او خراب

تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ ۖ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ

نومونه مه اخلئ يو بل ته (د غصه کولو دپاره) بد نوم دے د ګنهګارئ لو پس د

الْإِيمَانِ ۚ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ⑪

ايمان نه، او څوک چه توبه ونه باسي نو هغوي دي بے انصافه والا

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ

اے ايماندارو! ځان وساتئ د ډيرو ګمانونو نه، بيشکه

بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ ۖ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم

ځنے ګمانونه ګناه دی او مه لټوئ پټ عيبونه د هيڅا او بد مه بيانوئ پسے شا يو بل

بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا

پلسے، آيا خوښوي ستاسو نه يو کس چه وخوري غوښه د خپل رورچه مړ وي

فَكَرِهْتُمُوْهُ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢﴾

نو تاسو خو هغه نه خوښوئ، او ووېرېږئ د الله نه، بېشکه الله معاف کوونکے مهربانه دے وی

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ

اے انسانانو! الله مونږ تاسو پیدا کړی د یو سړی او یوې ښځې نه او

جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا اِنَّ اَكْرَمَكُمْ

ګرځولي يئ مونږ تاسو قومونه او قبيلې د دې دپاره چه خپل مينځ کښ يو بل وپېژنئ، بېشکه عزت د

عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿١٣﴾ قَالَتِ

الله په نزد هغه چا لره دے چه زيات تقوى دار وي، الله پاک په هر څه پوهه خبر دار دے وی۔ وائي کلي

الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْۤا

بانډيچيان مونږ ايمان راوړو، اووايه تاسو ايمان نه دې راوړے ليکن داسې اووايئ چه

اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَ

مونږ مسلمانان شو او لا تر اوسه نه دې ننوتلے ايمان ستاسو په زړونو کښ، او

اِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ

که په حکم چليږئ د الله او دهغه د رسول ﷺ نو نه به کموي ستاسو د عملونو نه

شَيْـًٔا اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤﴾ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ

څه شے، الله بخښونکے مهربانه دے وی۔ مؤمنان هغه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَ

خلق دی چه کله ايمان ئې راوړو په الله او دهغه په رسول بانډې بيائې شک او نکړو او

جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ

او جنګيدل خپل مال او ځان سره د الله په لاره کښ، همدا

هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴿١٥﴾ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ

خلق دی چه ريښتوني دي۔ ته ووايه ايا تاسو ښايئ الله ته خپله دينداري

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ

او الله خو خبر دے په هغه څه چه په اسمانونو او زمکه کښې دي ، او الله

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۶﴾ يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ۗ

په هر څيز خبر دے ول - په تا باندې احسان کوي د دے چه مسلمانان شول ،

قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ

ته ووايه په ما احسان مکوئ د خپل اسلام راوړلو ، بلکه الله په تاسو

عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾

احسان کوي چه تاسو ئے لاره وښودله د ايمان که چرے رښتيا وايئ ول

اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ

الله پيژنی پټه راز وته د اسمانونو او د زمکے ، او الله

ع ۲ / ۱۸ / ۱۳

بَصِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾

وينی هغه څه چه تاسو ئے کوئ -

نکات :- ۱- پنځم قانون د معاشرت - ۲- شپږم قانون د معاشرت - ۳- اووم قانون د معاشرت - ۴- شکوی په باندې پیچیانو - ۵- د کاملو مؤمنانو صفات - ۶- زجر دپاره د باندې پیچیانو - ۷- زجر ایضاً - ۸- بیان د مسئلۀ توحید علیٰ وجه الترقی -

موضح قرآن ف ۱ چرته چه هم چا ته بد نوم واخستلے شي د يو نیکے پخپله فاسق لرځي سره د دے چه هغه کښې مؤمن وُو ، هغه باندې عیب وُلگی یا وُنه لگی - ف ۲ عیب لګول او پټه عیبونه ښکاره کول او پسے شا د چا بد ویئل هیڅکله هم روانه دی لیکن هله چرته چه څه د دین فائده وی او خود غرضی نه وی - منهُ - ف ۳ یعنی قوم قبیلے باندې ځان لوئے گنړل عیب دے ، نیک صفت پکار دے - د قوم قبیلے شرافت هیڅ پکار نه راځي - منهُ - ف ۴ یو د اوینا ده چه مونږ مسلمانان یُو یعنی د مسلمانی دین مونږ قبول کړیدے ، د دے کښې هیڅ تنگی نشته - او یو دا ویئل دی چه زمونږ ده پوره یقین دے کوم یقین چه پوره دے د هغه علامات چرته دی ؟ ف ۵ یعنی که چرے رښتونے دین تاسو سره وی نو په وینا څه کیږی ، د چا سره

چه ستاسو معامله د دوی هغه پخپله خبردار دے - منه. **ف٦** کومه نیکی چه خپو لاسونو سره کړی وی داخپل تعریف (کمال) نه دے بلکه د الله تعالیٰ تعریف دے چه دوی له ئې د نیکئی توفیق درکړو- منه۔

فتح الرحمٰن **ف۷** یعنی هغه گناه چه په زمانه د جاهلیت کښې شوے وی، د اسلام نه پس په هغې نښه دارکول ښه نه دی پکار۔

تفسیر **۱۰** يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا الخ: دا پنځم قانون دے چه پکښې دَ ژوند تیرولو څخه اداب ذکر کړے شوی دی- اول دا چه په سړو باندې لازمه ده چه د خپلو مسلمانانو رونړو سپکاوے اونکړی او ټوقے مسخرے ورپورے اونکړی او نه د هغوی عیبونه په داسې طریقه بیان کړی چه پکښې د هغوی سپکوالے وی او هغوی د خلقو دپاره د ټوقو مسخرو نشانه جوړه شی ځکه کیدے شی چه په چا پورے دوی ټوقے کوی هغوی د ایمان او عملِ صالح په وجه د الله تعالیٰ په نزد د دوی نه بهتر وی. دغه شان ښځوله هم پکار دی چه خپلو مسلمانانو خویندو پورے ټوقے اونکړی کیدے شی چه د کومو سپکاوے کیږی هغوی د الله تعالیٰ په نزد د دوی نه بهترے وی او څوک چه د خپل ځان نه بهتروی د هغه سپکوالے ویرلوئے جُرم دے بلکه دا د یو مسلمان شان نهٔ دے۔

وَلَا تَلۡمِزُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ: د اَنۡفُسَكُمۡ نه مراد مؤمنان دی ځکه چه مسلمانان د یو نفس او روح پشان دی او کوم سړے چه خپل مسلمان رور باندې عیب لگوی نو گویا چه هغه پخپل ځان باندې عیب لگوی. یعنی په یو بل عیب مهٔ لگوئ او که په چا کښې عیب اووینئ نو ښهٔ طریقے سره ئې اصلاح اوکړئ. لا يعب بعضكم بعضا او اشارة لان المؤمنين كنفس واحدة فمتى عاب المؤمن المؤمن فكانه عاب نفسه- (روح ج ۲۶ ص ۱۵۳)۔

دریم وَلَا تَنَابَزُوۡا بِالۡاَلۡقَابِ، خپل رونړه بدو نومونو سره مه رابلئ او نهٔ دا چه د هغوی نومونه وران کړئ- څوک داسے نوم سره رابلل چه هغه پرے بدگنړی او یا د چا نوم وراشول نا جائز او حرام دی؛

والنبز لقب السوء والتلقيب المنهي عنه هو ما يتداخل المدعوا به كراهة لكونه تقصيرا به وذماله واما ما يحبه فلا بأس (مدارک ج ۴ ص ۱۳۰)

هغه لقب چه بد دے کوم سره چه یو مسلمان یاد کړے شی چه د ایمان نه پس د هغې ویونکے فاسق کرځی او د هغه د فسق سبب کرځی، نو مسلمانانوله د دینه ځان ساتل پکار دی او چا چه د دے ذکر شوو درے بدو کارونو نه توبه نکړه نو هغه ظالم او بے انصافه دے و خپل ځان د الله تعالیٰ د عذاب نشانه جوړوی.

۱۱ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اجۡتَنِبُوۡا (الآية)، دا شپږم قانون دے. دیکښې هم

درے آداب دَمعاشرت ذکرشویدی۔ اول دا چه دَ بدګمانئ نه ځان اُوساتئ او خالص په اټکل او تخمین باندِ څه حکم مهٔ لګوئ او مهٔ په چا باندِ تهمت لګوئ ځکه چه ځنے ګمان غلط او دګناه سبب ګرځی خو کچرے قرائن او علامات موجود وی چه ګمان غالب او یقین ته نزدے کړی او د هغے خلاف قرینه هم موجوده نهٔ وی نو په هغے باندِ به عمل کولے شی۔ باقی دَ اُمت صُلحاء خاص طور باندِ صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم سره خو په هر حال کښ د ښهٔ ګمان حکم دے۔ دهغوی باره کښ بدګمانی کول جائز نهٔ دی۔ دویم وَلَا تَجَسَّسُوْا یعنی دیو بل جاسوسی مکوئ۔ مطلب دا دے چه دَخلقو عیبونه او نقصانات مهٔ لټوئ او دَ هغوی دَ پټو حالاتو لټون مکوئ:

والمراد ههنا لا تبحثوا عن عیوب الناس ولا تتبعوا عوراتهم حتی لا یظهر علیکم ما ستره الله منها۔ (مظهری ج ۹ ص ۵۳)۔

دریم: وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا، او چا پسے پټ پناه بدے خبرے او غیبت مکوئ۔ دَمسلمان رور په غیرموجودګئ کښ بدے خبرے کول او دَ هغهٔ عزت پائمال کول داسے دی ګویا چه دَخپل مړ رور غوښه ئے اُوخوړله۔ ځنګه چه تاسو دا نهٔ خوښوئ دغه شان دمسلمان رور دَغیبت او پسے شا بدو خبرو نه هم نفرت کول پکار دی۔ دَ الله پاک دَدے حکمونو تعمیل اوکړئ او دَ هغهٔ دَنافرمانئ نه ځان وساتئ۔ کوم خلق چه دَهغهٔ اطاعت کوی او دَ نافرمانئ نه ځان ساتی په هغوی باندِ ډیر زیات مهربان دے او څوک چه دَګناهونو نه توبه کوی دَ هغوی توبه قبلوی: لانه تعالیٰ تواب رحیم لمن اتقی واجتنب ما نهی عنه وتاب مما فرط منه (روح ۲۶ ص ۱۵۹)۔

۱۳ يَا أَيُّهَا النَّاسُ (الآیة)، دا اُووم قانون دے۔ دِیکښ ئے دَنسبی فخر کولو نه منعه فرمائیلے ده چه د الله تعالیٰ په دربار کښ د عزت او کرامت انحصار په حسب او نسب نهٔ دے بلکه په ایمان، تقوی او عمل صالح باندِ دے۔ شُعُوب جمع دَ شَعْبٌ ده: لوئے خاندان چه دَ هغے دلاندِ ورے قبیلے وی۔ قَبَائِلَ جمع دَ قبیلة" ده یعنی دَلوئے خاندان ښاخونه۔ یو انسان ته په بل انسان باندِ دَ انسانیت دَ وجے نه هیڅ امتیاز حاصل نهٔ دے ځکه چه ټول دیو مور پلار یعنی آدم او حوا علیهما السلام اولاد دے۔ باقی پاتے شوه قبیله او خاندان نو هغه خو خالص دِ دے د پاره جوړ کړے شویدی چه خپل مینځ کښ دیو بل پیژند ګلو وشی دَ صله رحمئ احساس اوشی او دَ وراثت او ولدیت سلسله قائمه پاتے شی۔ دِ دے د پاره قبیلے او خاندانونه دَعظمت او حقارت سبب نهٔ دے او نهٔ ددے دَ وجے نه په یو بل باندِ فخر کول پکار دی، ای جعلنکم کذلک لیعرف بعضکم بعضا فتصلوا الارحام وتبیّنوا الانساب والتوارث، لا لتفاخروا بالآباء و القبائل۔ (روح ج ۲۶ ص ۱۶۲)۔

باقي پاتې شو د الله تعالیٰ په نزد شرافت او عزت، غوره والی او عظمت انحصار نو هغه د خاندان او نسب په امتیاز باندې نه دے بلکه د الله تعالیٰ په اطاعت او ایمان او تقوی باندې دے. څوک چه د الله تعالیٰ نه زیات ویریږي وهغه وی بس هغه به د الله تعالیٰ په دربار کښې زیات عزتمند او محترم وي. الله تعالیٰ د ټولو ظاهري او باطني اعمال بنه پیژنی، هغه ته معلومه ده چه څوک باطن کښې ظاهر سره موافق دے او په صحیح معنو کښې متقي او پرهیزګار دے.

دویمه حصه

۱۳ قَالَتِ الْأَعْرَابُ (الآية)، دا شکایت دے په باره کښې هغو بانډیانو چه د خپل ایمان اظهار سره ئې په رسول الله ﷺ باندې احسان کول غوښتل. دے فرمایل چه تاسو خلق د کامل ایمان دعوی مکوئ لیکن دا سے وایئ چه موږ اسلام راوړے دے حکم چه تاسو اوس صرف په ظاهري طور باندې د اسلام او تابعدارئ اقرار کړے دے او لا تراوسه پورے ایمان او یقین ستاسو د زړونو تر والی نه نه دے ګوزشوے. دا آیت د بني اسد بن خزیمه د یو جماعت په حق کښې نازل شو چه د قحط نه متأثره کیدلو سره د نبي کریم ﷺ په خدمت کښې مدینے ته حاضر شول او د اسلام اظهار ئې اوکړو لیکن زړونه ئې د ایمان د دولت نه خالي وو. هغوی د غنیمت د مالونو او د دنیوي نفعو په خاطر د اسلام اظهار کړے وو. او په نبي علیه السلام ئې د احسان کولو د پاره اوویل چه د عربو نورو قبائلو تاسو سره جنګ کړے دے لیکن صرف موږ هغه خلق یو چه د جنګ جګړے نه بغیر مو ستاسو اطاعت او دین اسلام قبول کړے دے. (روح، ابن کثیر، خازن، معالم).

وَإِن تُطِيعُوا (الآية)، که چرے تاسو خپل زړونه د نفاق او دنیوي اغراضو نه پاک کړئ او پوره اخلاص سره د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ﷺ اطاعت اوکړئ نو تاسو ته به د خپلو عملونو پوره پوره اجر او ثواب ملاویږي او د دینه مخکښې چه ستاسو نه کوم کسے او نافرماني شوے وه هغه به درته الله تعالیٰ معاف کړي.

۱۴ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ (الآية)؛ د دغه بانډیانو د ایمان د دعوے په مقابله کښې د کامل مؤمنانو د صفاتو ذکر دے. صرف د ژبے ایمان ظاهرولو سره انسان مؤمن نشي جوړیدے بلکه کامل مؤمنان هغه وی چه د زړه نه په الله تعالیٰ او د هغه په رسول باندې ایمان راوړي او بیا ئې په زړونو کښې د توحید، رسالت او د دین د نورو احکامو متعلق هم شک شبه پاتے نشي، او که چه ضرورت پیښ شي نو د الله تعالیٰ په لاره کښې خپل مال او ځان سره جهاد ته هم وړاندې کیږي. دا خلق په حقیقت کښې ریښتونی او کامل مؤمنان دي: ای هم الذین ایمانهم ایمان صدق وحق (مدارک ج ۴ ص ۱۳۳).

۱۵ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ (الآیة): دا زجر دے بانديچیانو ته. تاسو دوی ته ووایئ: آیا تاسو اٰمَنَّا (مونږ ایمان راوړے دے) وئیلو سره الله پاک ته ښودل غواړئ چه تاسو ایمان راوړے دے؟ وَلے الله تعالیٰ چه د زمکے او د آسمانونو ډېرو پټو څیزونو نه خبردے او هر یو خبره ورته معلومه ده، هغه ستاسو د زړونو پټه نفاق نه پیژنی؟ هغهٔ ته ښهٔ معلومه ده چه ستاسو دا دعوی د ایمان صرف په ژبه بانډه ده او ستاسو په زړونو کښ لا تر اوسه ایمان نهٔ دے کوز شوے.

۱٦ یَمُنُّوْنَ عَلَیْکَ (الآیة): دا زجر دے بانديچیانو باندے. دا د کلو اوسیدُنکی په تاسو باندے د خپل اسلام راوړلو احسان کوی. تاسو ورته ووایئ چه د خپل اسلام راوړلو احسان ما باندے مکوئ بلکه که تاسو په حقیقت کښ د ایمان په دعوٰی کښ رښتونی یئ نو بیا الله پاک په تاسو باندے احسان کړے دے چه تاسو ته ئے د ایمان راوړلو توفیق درکړو. نو تاسو په ما باندے د احسان کولو په ځائے د الله تعالیٰ شکر ادا کړئ چه د کفر نه ئے اسلام ته راوستلئ.

۱۷ اِنَّ اللّٰهَ (الآیة): دا په آخر کښ د توحید د مسئلے بیان دے علیٰ وجه الترقی - په سورۂ محمدؐ کښ ئے وفرمائیل: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ: یعنی د الله نه سوا هیڅوک معبود نشته. د هغے نه پس ئے په سورۂ فتح کښ اوفرمائیل، تُسَبِّحُوْهُ: یعنی معبود هم هغه دے هیڅوک ورسره شریک مهٔ جوړوئ او ولتے ئے په سورۂ حجرات کښ وفرمائیل: اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ (الآیة): یعنی عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے لهذا معبود او کارساز هم صرف هغه دے، هغهٔ سره هیڅوک په عبادت کښ شریک مهٔ جوړوئ او په حاجتونو او مشکلاتو کښ د هغهٔ نه سوا بل چا ته آواز مکوئ.

سورۂ حجرات کښ د توحید آیت

① اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ غَیْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِیْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝ نفی د شرک اعتقادی.



سُوْرَةُ قٓ

ربط سورهٔ محمّدؐ، فتح او حجرات یوه حصه وه چه پکښې دَ جهاد دَ مسئلے ذکر وُو۔ اُوس سورهٔ قٓ او الذاریات او الطور یوه ځانله حصه ده، چه پکښې د حشر او نشر او دَ جزاء او سزا ذکر دے۔ دَ دویمے حصے اولے حصے سره ربط دا دے چه دَ اولے حصے مضمون دا وُو چه دَ مشرکانو سره جهاد کوئ ځکه چه هغوی شرک کوی او د الله پاک نه سوائے نور ډیر معبودان گرځولی دی۔ اوس په دویمه حصه کښې به دا ذکر کولے شی چه دَ شرک کولو نه علاوه د قیامت او دَ جزاء او سزا نه هم انکار کوی۔ مشرکان دَ توحید نه هم انکار کوی او دَ قیامت نه هم۔

خلاصه دَ سورة دعوی یعنی حشر او نشر بانډې دوه عقلی دلیلونه؛ اول مفصل او دویم مختصر، په شروع کښې دَ کافرانو د پاره زجر او په اخر کښې نبی کریم ﷺ د پاره تسلی او مینځ کښې دَ توحید دَ دعوے ذکر په طریقه د ترقئ، په نسبت سره تیرو شوُو سورتونو ته، دَ دعوے نه انکار کوُنکو (کَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ) د پاره تخویف دُنیوی او اُخروی او منونکو د پاره بشارت او دَ واقعاتو ذکر اشارةً۔

تفصیل

سورهٔ قٓ، الذاریات او الطور درے واړه سورتونو کښې یو قِسم مضمون ذکر شوے دے یعنی دَ قیامت ثبوت۔ بیا د دے مضمون درے حصے دی، اول حشر او نشر، دا په سورهٔ قٓ کښې كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ (ع ۱) کښې ذکر دے۔ دویم جزاء دریم سزا، په سورهٔ الذاریات کښې دَ جزا او سزا واقع کیدل ثابت کړے شویدی وَإِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ (ع ۱) او په الطور کښې د سزا ذکر دے؛ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ (ع ۱)۔

قٓ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ۝؛ دا ترغیب دے سره دَ زجر نه۔ دا دلوئے او عزت والا قرآن گواه دے چه تاسو ته پښتو نے رَسُول یمٔ او قیامت به خامخا راځی۔ د دینه روستو خو دَ شبهے څۀ ځائے پاتے نۀ وو لیکن هغوی خالص دَ عناد په وجه اعتراض کوی چه رَسُول بشر دے نو موږ ئے نۀ منو۔ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ الخ: دا شکوی

دے۔ کافران وائی چه دَ مرګ نه پس دوباره ژوندی پاڅیدل ډیره عجیبه خبره ده۔ هر کله چه مونږ خاورے شو نو بیا دوباره ژوند حاصلول خو دَ عقل او پوهے نه لرے خبره ده۔ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الخ دَ شکوے جواب دے۔ څوک چه مړی هغوی مونږ ته ښه معلوم دی۔ دَ هغوی دَ بدن ذرّه ذرّه مونږ ته ښه معلومه ده مونږ به یو په یو دوباره ژوندے کړو۔ بَلْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ (الآية) : هغوی دَ حشر او نشر نه انکار کړیدے چه ښکاره او صریح حق دے او هغوی سره دَ انکار هیڅ معقول دلیل نشته۔

اَفَلَمْ يَنْظُرُوا اِلَى السَّمَآءِ — تا — وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا (ع۱) : دا په حشر او نشر اولنے او تفصیلی دلیل عقلی دے۔ دا د قیامت ته منکر په دیکښ سوچ نکوی چه مونږ آسمان لره څنګه محفوظ او محکم کړخولے دے، زمکه مو پیدا کړه او غرونه مو پرے کیښودل او تازه میوے مو پکښ پیدا کړے۔ دَ آسمان نه مو اوبه نازلے کړے، باغونه او غلے صرف مونږ پیدا کړو او مړے زمکے ته مونږ ژوند او تازه والے ورکوو۔ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ : دا دَ سورت دعوٰی ده یعنی څنګه چه مونږ پورته ذکر شوو کارونو باندے قدرت لرو دغه شان دَ مړو دوباره ژوندی کولو باندے هم قدرت لرو۔ او څنګه چه مونږ باران ورولو سره مړه او غیر آباده زمکه کښ ساه واچوله او دَ هغے نه مو قِسم قِسم سبزیانے او وُنے راوُ ټوکولے، دغه شان به مړی هم دوباره راژوندی کړو او دَ زمکے نه به ئے راوُباسو۔

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ — تا — فَحَقَّ وَعِيْدِ ۝ : دا تخویف دُنیوی دے او بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ سره متعلق دے۔ دَ قریشو کافرانو نه مخکښ ډیر قومونه تیر شویدی مثلاً دَ نوح علیه السلام قوم، اَصحاب الرس، ثمودیان، عادیان، فرعونیان، قومِ لوط، اصحاب الایکه او قوم دَ تُبّع۔ دغه ټولو پیغمبرانو تکذیب اوکړو او دَ الله پاک دَ توحید او حشر نشر نه ئے انکار اوکړو نو په دُنیا کښ ټولو باندے عذاب راغے۔ اَفَعَيِيْنَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ الخ : دا زجر دے۔ آیا مونږ اول ځل انسان پیدا کولو سره ستړی او ستومانه شو چه اوس دَ هغوی دوباره ژوندی کولو باندے زمونږ قدرت پاتے نشو؟ نه! داسے خبره نه ده بلکه کافران دَ دوباره ژوندی کیدلو نه په شک کښ پراته دی۔

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ — تا — وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ۝ (ع۳) دا تخویف اُخروی دے۔ مونږ دَ انسانانو دَ پیدائش نه واخله تر دَ هغوی دَ ټولو ظاهری او باطنی اعمالو نه خبر یو۔ دَ هغوی دَ هرے خبرے دَ لیکلو دپاره مونږ دَ هغوی نبی او کس طرفته فرښتے مقرر کړیدی کله چه په ده باندے دَ مرګ مقرر وخت راشی نو ورته به او وئیلے شی چه دا هغه څیز دے چه ته به ترینه تختیدلے۔ دَ قیامت

په ورځ چه کله دے دوباره ژوندے کړے شي نو ورته به اُووئیلے شي چه ته دَ
تننۍ ورځ نه په غفلت کښې وے، ستا دَ سترګو نه پرده اُوچته شوه
اوحقیقت ستا په وړاندې ښکاره دے. بیا به حکم وشي چه دا سے سرکشه شریران او
دَحق دشمنان چا چه د الله تعالیٰ سره نور معبودان شریک کړی وُو، په ډیر زیات
سخت عذاب کښې واچوئ. اَلَّذِیْ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ کښې دَتوحید دَمسئلے
بیان دے علیٰ سَبِیْلِ التَّرَقِّیْ. کله چه دغه سرکشه کافران اومشرکان په دوزخ
کښې وغورځولے شي نو دوزخ به دَ هَلْ مِنْ مَّزِیْدٍ آواز کوی چه څما خیټه لاتراوسه
ډکه نۀ ده، ما له نور سرکشان هم پکار دی.

وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ — تا — وَلَدَیْنَا مَزِیْدٌ ۝ : دا دَ ایماندارو دپاره زیرے دے
دَاٰخرت. جنت به دَشرک نه ځان ساتونکوته نزدے کړے شي او هغوی ته
به اُووئیلے شي چه دا دے جنت دکوم وعده چه د هر مؤمن او دَ الله پاک طرفته
رجوع کوونکی سره کړے شوے وه. اے د الله تعالیٰ نه ویرېدونکو! اَمن اوسلامتیا
سره دِے ته داخل شئ او دِلته همیشه اوسیږئ. دوی ته به جنت کښې دَ
خونبے هر څیز ملاویږی اوهلته به دَدوی دَخواهش نه زیات نعمتونه وی.

وَکَمْ اَهْلَکْنَا قَبْلَهُمْ — تا — وَهُوَ شَهِیْدٌ ۝ : دا هم تخویف دُنیوی دے.
مونږ دَدے مکے والو نه زیات طاقتور قومونه تباه او هلاک کړی دی لیکن هیڅا
هم هغوی له زمونږ دَعذاب نه خلاص نکړے شو. دِیکښې دَ هر عقلمند او توجه
کار اخستونکی دپاره عبرت اونصیحت دے. وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ (الاٰیة)
دا دَقیامت په ثبوت باندې دویم او مختصر دلیل عقلی دے. مونږ دا ټول کائنات
صرف په شپږو ورځو کښې پیدا کړل او مونږ ستړی ستومانه نۀ یو نو دَانسانانو
دوباره ژوندی کول کوم مشکل کار دے چه مونږ یئے نشو کولے؟

فَاصْبِرْ عَلٰی مَا یَقُوْلُوْنَ (الاٰیتین) : دَ نبی کریم ﷺ ته تسلی ده. تاسو دَ
منکرینو په بد رد وئیلو باندې صبر کوئ او دَ الله تعالیٰ په عبادت او دَهغۀ په
تسبیح او حمد بیا نولو کښې مشغول اوسیږئ او انتظار کوئ چه دقیامت په ورځ
به دَدوی څۀ حال وی. کله چه شپیلئ پوک وهلے شي نو ټول به ولاړ وی

اِنَّا نَحْنُ نُحْیٖ الخ : مړل او ژوند زمونږ په اختیار کښې دے. دَقیامت په
ورځ به زمکه څیرے کړے شي او ټول خلق به په تیزئ سره راؤځی مونږته
به راشي، مونږ ته دا ډیره اسانه ده.

نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا یَقُوْلُوْنَ (الاٰیة) : دا هم نبی علیه السلام ته تسلی ده چه مونږ
ددوی په خبرو ښۀ پوهیږو، تاسو د هغې نه بے فکره شئ او ایمان والو ته
قرآن سره نصیحت کوئ ۞

سُوْرَةُ قٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة قٓ په مکه کښې نازل شوې او دا پنځه څلویښت (۴۵) ایتونه او درې رکوع دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○

شروع په نوم د الله چه بې حده مهربان نهایت رحم کونکے دے.

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ ① بَلْ عَجِبُوْۤا اَنْ جَآءَهُمْ

قٓ قسم دے پیرزو قران چه ډیر لوئے عزت والا دے. بلکه هغوی تعجب کښې شول که چه راغے هغوی ته

مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَیْءٌ عَجِیْبٌ ②

ویرونکے د هغوی نه نو اووئیل منکرینو دا د تعجب څیز دے.

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِیْدٌ ③

ایا کله چه مونږ مړه شوو او خاورې شو؟ دا بیا راتلل ډیر لرې دی.

قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ وَعِنْدَنَا

مونږ ته معلوم دی که څومره چه کموی زمکه د دوی نه وا او مونږ سره

كِتٰبٌ حَفِیْظٌ ④ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ

کتاب دے چه هر څه پکښې محفوظ دی فا هیڅ لشترخو دروغ ګنړی ئے رښتونے دین کله چه دوی ته راغے

فَهُمْ فِیْۤ اَمْرٍ مَّرِیْجٍ ⑤ اَفَلَمْ یَنْظُرُوْۤا اِلَى السَّمَآءِ

نو دوی په ګډوډ وهم کښې پراته دی. ایا نه ګوری دوی اسمان ته

فَوْقَهُمْ كَیْفَ بَنَیْنٰهَا وَزَیَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ

د ځان دپاسه څنګه جوړ کړے دے مونږ او ښائسته کړے مو دے په دې کښې نشته څه

فُرُوْجٍ ⑥ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَیْنَا فِیْهَا

سورے (عیب). او زمکه مونږ خوره کړه او اومو غورځول په دې باندې

رَوَاسِیَ وَاَنْۢبَتْنَا فِیْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِیْجٍ ⑦

درانه غرونه (غرونه) او زرغون کړیدی مونږ په دې کښې هر قسمه تازه ښائسته څیزونه.

تَبۡصِرَةً وَّذِكۡرٰى لِكُلِّ عَبۡدٍ مُّنِيۡبٍ ﴿٨﴾ وَنَزَّلۡنَا

دپاره د ښودلو او نصیحت ورکولو هغه بنده ته چه رجوع کوونکے وي (الله ته). او نازل کړے مونږ

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنۡۢبَتۡنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّ

له د آسمان نه اوبه د برکت والا بیا راز رغون کړل مونږ په هغے سره باغونه او

حَبَّ الۡحَصِيۡدِ ﴿٩﴾ وَالنَّخۡلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلۡعٌ

دانے چه د هغے فصل ریبلے کیږي ف- او کهجورے اوږدے چه د هغے وږي (غنچے)

نَّضِيۡدٌ ﴿١٠﴾ رِّزۡقًا لِّلۡعِبَادِ ۙ وَاَحۡيَيۡنَا بِهٖ بَلۡدَةً مَّيۡتًا ؕ

لاندې باندې وي- روزي ورکولو دپاره د بندګانو، او ژوندی کړل مونږ هغے سره مړه کلي،

كَذٰلِكَ الۡخُرُوۡجُ ﴿١١﴾ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوۡحٍ وَّ

دغه شان به وي راوتل د مړو (د قبرونو) نه ف٢- دروغژن ګڼړلی دي له دوي نه مخکښ د نوح قوم او

اَصۡحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوۡدُ ﴿١٢﴾ وَعَادٌ وَّفِرۡعَوۡنُ وَ

د کوهي والا، او ثمودیانو، او عادیانو او فرعون او

اِخۡوَانُ لُوۡطٍ ﴿١٣﴾ وَّاَصۡحٰبُ الۡاَيۡكَةِ وَقَوۡمُ تُبَّعٍ ؕ

رونړو د لوط، او خاوندانو د ځنګل او قوم د تبع،

كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيۡدِ ﴿١٤﴾ اَفَعَيِيۡنَا بِالۡخَلۡقِ

ټولو دروغژن وګڼړل رسولان نو ثابت شو عذاب ویرولو زما- ایا آوس مونږ ستړي شوي یو په اول ځل

الۡاَوَّلِ ؕ بَلۡ هُمۡ فِىۡ لَبۡسٍ مِّنۡ خَلۡقٍ جَدِيۡدٍ ﴿١٥﴾ ع ١٥

پیدا کولو سره له دا سے هیڅ کله نه دي بلکه هغوی دهوکه شویدي په نوي پیدا کولو کښې-

نکات:- ١ ترغیب سره د زجر نه او د قرآن دعظمت بیان- ٢ شکوی ٣ جواب شکوی- ٤ اضراب د بَلۡ عَجِبُوۡٓا نه- ٥ په حشر او نشر باندې روښے او مفصل عقلي دلیل- ٦ تخویف دنیوی-

موضح قرآن ف١ یعني ټول نه خاورے کیږي بلکه روح سالم پاتے کیږي- منه ف٢ د غلے دانے هغه دي چه

ورسره دَ هغې فصل هم ریبلے شي او دَ وُنې نه میوه اُوشوکولے شي او وُنه په ځائے پاتے شي. منه رحمه الله. ف۳ یعنی دَ قبرونه راوتل. منه رحمه الله تعالیٰ.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی کوم چه ددوی دَ بدن نو نو نه خوري. ف۲ یعنی لوح محفوظ.

تفسیر ۲ قٓ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ ۱۵ دا ترغیب دے سره دَ زجر نه. اَلْمَجِیْدُ ذوالمجد والشرف. (مدارک، روح) دعزت او شرافت والا دا ئے کلام چه دَ صفات جلالیه حامل دے او چه دَ هغې نه د صاحب کلام جلال او غلبه، لوئي او عظمت ظاهر دے. دقسم جواب محذوف دے ـــ دَ اخفش، مبرد او زجاج په نزد بائن: لَتُبْعَثُنَّ (خازن). دَ ابوحیان په نزد: انك جئتهم منذرا بالبعث (بحر، ج ۸ ص ۱۲). دَ حضرت شیخ رحمه الله په نزد: انك لرسول الله وان الساعة لاٰتیة. یعني دا دَ صفات جلالیه حامل، قران گواه دے چه قیامت به خامخا راځي او ته ریښتونے رسول یې.

۳ بَلْ عَجِبُوْٓا: دا شکوه ده. بَلْ اضراب دپاره دے او دَه معطوف علیه محذوف دے. ای فشکوا بل عجبوا الخ. (روح ج ۲۶ ص ۱۷۲) یعني دَ قران دَ شهادت باوجود دَ دوی په قیامت کښ شك دے. ته، شك هم نه دے بلکه صرف دے وچه نه ئے نه مني چه دوی ته دَیو بشر په رسول کیدلو باندے حیرانتیا او تعجب دے. حضرت شیخ رحمه الله فرمائي، ما بقي موضع شبهة بل عجبوا الخ یعني دَ دوی انکار په شه شبه باندے مبنی نه دے حکه چه دَ شبې څه گنجائش نشته بلکه دوی ته تعجب دے چه دوی ته هم دَ دوی نه یو بشر پیغمبر رالیږلے شوید دے. فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ الخ: دا ددوی دَ تعجب تفسیر او دَ تعجب دَ محل بیان دے. کله چه کافرانو ته اورولے شي چه تاسو به دمرگ نه پس ژوندي کولے شي نو وائي داخو ډیره دَ حیرانتیا خبره ده. ۶ ءَاِذَا مِتْنَا الخ، دَ اِذَا جزاء مقدر ده: ای نحشر (الشیخ) یا نرجع (روح) آیا چه مونږ مړه شو نو بیا به هم راپاسولی شو؟ دا خبره خو بالکل ناممکنه ده او عقل ئے نه مني او دَ عقل او امکان نه ډیره لرے ده، بعیدٌ عن العقل (الشیخ) بعید عن الامکان. (بیضاوی، روح)

۴ قَدْ عَلِمْنَا (الاٰیة)، دا دَ شکوے جواب دے. دا دَ کافرانو دَ استبعاد (د قیامت لرے گنړلو) رد دے. چه کله مونږ مړه شو، خاوره شو نو بیا به څنګه ژوندي کولے شو. وے فرمائیل دَ مړو کومے حصے چه په زمکه کښ خوړلے شي هغه مونږ ته معلومے دي، یو ذره هم زمونږ دَ علم نه بهر نه ده. نو ددوی دوباره ژوندي کول مونږ دپاره هیڅ مشکل کار نه دے.

ای ما تاکل الارض من لحومهم و دماءهم وعظامهم لا یعزب

عن علمنا شیء (معالم وخازن ج ۶ ص ۲۳۳)۔ رد لاستبعادهم الرجع لان من لطف علمه حتی علم ما تنقص الارض من اجساد الموتی وتأکله من لحومهم وعظامهم کان قادرًا علی رجعهم احیاء کما کانوا۔ (مدارک ج ۴ ص ۱۳۳)۔

مو نږ سره یو داسے کتاب هم شته چه په هغې کښې د څیزونو او د بنیادم د اعمالو ټول تفصیلات محفوظ دي۔ د دے نه مُراد لوح محفوظ او علمِ الٰهي دے۔ حاصل دا دے چه هر څیز د الله تعالیٰ په عِلم کښې موجود دے۔

۵ بَلْ كَذَّبُوْا (الآیة)؛ دا دَ بَلْ عَجِبُوْا نه اضراب دے: الحق الامر الظاهر البین۔ او د دے نه مراد بعث بعد الموت دے۔ المراد بالحق الاخبار بالبعث (روح ج ۲۶ ص ۱۷۵)۔ مریج مضطرب، ملبس، مختلط۔ (خازن، روح) مریج فلس یقال مرجت امانات الناس ای فسدت (صراح) قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ۔ دوی په حشر او نشر باندې نه صرف تعجب او حیرانتیا ښکاره کړے ده بلکه د دے واضح او روښانه حقیقت نه ئے صفا انکار کړے دے، او دے باره کښې پریشانه او مُتردّد دي، کله د شك او تردّد اظهار کوي او کله صفا انکار کوي۔ یا دوی په یو غلط او باطل خیال باندې قائم دي۔

۶ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْا ۔۔ تا ۔۔ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا دا د قیامت په ثبوت او حشر نشر باندې اولنے او تفصیلي عقلي دلیل دے چه د هغې حاصل دا دے چه هر کله الله تعالیٰ په دے ټولو کارونو باندې قادر دے نو هغه د مړو دوباره ژوندي کولو باندې هم قادر دے۔ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْا اِلَى السَّمَاۤءِ الخ، دا د عالَم علوي (آسمانونو) سره استدلال دے۔ آیا دے انکار کونکو چرے د خپل ځان د پاسه آسمانونو ته نه دي کتلي چه مونږ هغه څومره مضبوط او ښائسته پیدا کړي دي او د ستنو نه بغیر مو اودرولي دي۔ او په ستورو ستورو سره مونږ هغوی ته ښائست ورکړے دے او په هغې کښې هیڅ چاودے او سورے نشته۔ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا (الآیة)، دا عالَمِ سفلي (زمکے) طرفته اشاره ده۔ او زمکه مونږ څنګ خوره کړے ده او په هغې باندې مونږ غرونه ایښي دي، دے د پاره چه په دیکښې بے قراري او حرکت پیدا نشي او په دیکښې مونږ هر قِسمه تروتازه سبزیانے پیدا کړلے چه هغې سره د زمکے په ښائست او تازګۍ کښې زیاتوالے اوشي۔ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى (الآیة)؛ دا د پورته ذکرشوو افعالو علت دے یعني مونږ دا ټول هر څه حکه اوکړل چه د الله پاك طرفته رجوع کونکے او د پوهے اراده لرونکے هر بنده له پوهه کړے شي او نصیحت حاصل کړي۔

۷ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاۤءِ؛ دلته بیا د عالَمِ علوي (آسماني دنیا) ذکر دے مُّبٰرَكًا، کثیر المنافع۔ الحصید فصل چه د پخیدلو نه پس ریبلے شي۔ بٰسِقٰتٍ:

لوړ، بلند۔ طَلْعٌ نَّضِيدٌ، دَ میوې لاندې باندې غنچکې۔ او موږ د آسمان نه باران اُوَرَوْلو چه پکښې بې شماره برکتونه او فائدې دي او دَ هغې په ذریعه موږ شنه او تازه باغونه او مختلف قِسمه دَغلو تروتازه آباد فصلونه پیدا کړل او دَ کهجورو لوړې او اُوچتې وُنې صوبیږي اوکړے چه دَ میوو لاندې باندې غنچکې پرې بارکړے شوې وي۔ دا ټول دَ بندګانو دَ رزق سامان دے۔ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ الخ: دلته بیا عالَم سفلی سره دلیل راوړے شوے دے۔ او دغه دَ رحمت باران سره موږ مړه او غیرآباده زمکه کښې ژوند پیدا کړو او هغه موآباده او دَ کروندې قابله وګرځوله۔ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ o: دا دَ سُورت مرکزی دعوی ده۔ څنګه چه باران سره مړه زمکه ژوندۍ کیږي دغه شان به مړي هم دَ زمکې نه راوځي؛

اى كما حييت هذه البلدة الميتة كذلك تخرجون احياء بعد موتكم۔ (مدارك ج ۴ ص ۱۳۴)۔

۸ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ ـ تا ـ فَحَقَّ وَعِيْدِ o: دا تخویف دُنیوی دے۔ دَ پیغمبرانو دروغ ګنړونکو او دَ قیامت نه انکار کوونکو دپاره او دا دَ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ سره متعلق دے۔ یعني دغه کفارو قومونو پشان دَ قریشو کافرانو هم دَ قیامت او حشرنشر نه انکار اوکړو څنګه چه په هغه سرکشه قومونو باندې دَ الله تعالی عذاب راغے دغه شان به دقریشو کافرانو باندې هم راځي۔ اَصْحٰبُ الرَّسِّ: دا خلق په یو کوهي باندې آباد وو او بُت پرستي ئے کوله۔ دَ دوی طرفته حضرت حنظله بن صفوان علیه السلام راولیږلے شو۔ (بیضاوی، روح) اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ دَ دوی طرفته حضرت شعیب علیه السلام راولیږلے شو۔ قَوْمُ تُبَّعٍ، تبع حمیری ترې مُراد دے چه ایمان ئے راوړے وُو لیکن دهغهٔ دَ دعوت او کوشش باوجود هم دهغهٔ قوم ایمان راونړلو۔ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ الخ، ددوی نه هر یو قوم دَخپل پیغمبر تکذیب اوکړو او دَ هغوی دَ توحید دَ راوړي پیغام او حشر نشر وغیره نه ئے انکار اوکړو نو دَ عذاب وعده په هغوی باندې ثابته شوه او په مختلف قِسمه عذابونو سره هغوی په دُنیا کښې تباه او برباد شول۔

۹ اَفَعَيِيْنَا (الآية): دا زجر دے۔ منکرین دَ قیامت او بعث بعد الموت نه انکار کوي او نړ ئے مني۔ آیا دَ دوی دا خیال دے چه دَ مخلوق اول ځل پیدا کولو سره موږ ستړي ستومانه شوي یُو او اُوس په دوباره پیدا کولو باندې زموږ قدرت نشته؟ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ الخ، نه، دا خبره نړ ده، زموږ په قدرت کښې خو هیڅ فرق نړ دے راغلے بلکه دوی پخپله دَ دویم پیدائش یعني دَ بعث بعد الموت باره کښې په شك او شُبه کښې پریوتلي دي او دا دَ عقل نه لرې ګنړي؛

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ

او یقینا مونږ پیدا کړیدے انسان لره او مونږ پوهیږو په هغه خبرو چه راځي ذهن په

نَفْسُهُ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾

زړه کښې، او مونږ هغه ته زیات نزدے یو د مرئ د رګ نه هم

إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ

کله چه اخلي دوه اخستونکي (فرشتے) ښی طرفته او ګس طرفته

قَعِيدٌ ﴿١٧﴾ مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ

ناستے وی دوی۔ نه وائی هیڅ خبره لیکن هغه سره یو ساتونکے

عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ۖ ذَٰلِكَ

حاضروی وی۔ او راغله بیهوشي د مرګ سره حقیقة، دا هغه

مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ۚ ذَٰلِكَ

(مرګ) دے چه ته تربینه په ښتک کیدلے. او پوک وهلے شوه شپیلئ ته، دا ده

يَوْمُ الْوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَائِقٌ

ورځ د ویرولو. او راځي هر یو نفس هغه سره وی یو شړونکے

وَشَهِيدٌ ﴿٢١﴾ لَّقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا

او یو حال بیانونکے (ګواه) وی. ته ناخبره وے له دے ورځے نه اوس مونږ لرے کړه

عَنكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ

ستانه ستا تیاره نو ستا سترګے نن ډیرے تیزے دی. او وائی

قَرِينُهُ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ

فرشته د هغه چه ملګرے دے دا هغه کوائف چه زما سره حاضر وه دلته. او غورځوئ تاسو دواړه په دوزخ کښې

كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾

هر ناشکره مخالف لره. د نیکئ نه منع کونکے د حد نه تیریدونکے شبه کښې اچونکے.

الَّذِیۡ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ فَاَلۡقِیٰهُ فِی الۡعَذَابِ

چا چه گرځولے دے ئے الله سره بل معبود نو اُغورځوئ هغه په سخت

الشَّدِیۡدِ ﴿۲۶﴾ قَالَ قَرِیۡنُهٗ رَبَّنَا مَاۤ اَطۡغَیۡتُهٗ وَ لٰکِنۡ

عذاب کښې۔ وُبه وائي شیطان ملګرے د هغه رَبه زمونږه! ما نه دے ګمراه کړے دَه لیکن

کَانَ فِیۡ ضَلٰلٍۭ بَعِیۡدٍ ﴿۲۷﴾ قَالَ لَا تَخۡتَصِمُوۡا لَدَیَّ وَ قَدۡ

دے وُو لاره هیرونکے لرے په بوتلے ف۔ او به وائي (الله) جهګړه مکوئ ما ته خوا کښې او ما

قَدَّمۡتُ اِلَیۡکُمۡ بِالۡوَعِیۡدِ ﴿۲۸﴾ مَا یُبَدَّلُ الۡقَوۡلُ لَدَیَّ

تاسو مخکښې وېرولي وي د عذاب نه۔ نه بدلیږي خبره سره زما

وَ مَاۤ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِیۡدِ ﴿۲۹﴾ ع

او زه ظلم نکوم په بندګانو باندې۔ ف۔

نکات: ۔ ۱ زجر۔ ۲ تخویف اُخروی۔ ۳ بیان دَ توحید علیٰ سبیل الترقی۔

موضح قرآن ف۱ دَ مرګ راتلل مراد دے چه په هغې کښې ساه کرځي دَ زړه نه، د ما غو نه چه د هغې پریکولو سره مرګ واقع کیږي، الله تعالیٰ دَ دَ تنه نه نزدے دے او آخري راتلل یهر دے دَ روح نه۔ منه رح ف۲ کوم څځه چه دَ هغه دَ خلے نه وځي هغه لیکي، نیکي دَ ښي طرف والا او بدي دَ کس طرف والا منه رح ف۳ یعنی لیکلو دپاره تیار ناست دی۔ منه رح ف۴ یو فرشته شړونکے ده (دَ حشر میدان ته) او دَ یو بے سره عملنامه ده۔ ف۵ فرشته به اعمال حاضر کړي۔ ف۶ د ملګرے شیطان دے خپل ځان بے ګناه ثابتول غواړي۔ ف۷ خبره نه بدلیږي یعنی دَ کافر بخښنه نشته۔ منه رحمه الله تعالیٰ۔

فتح الرحمن ف۱ یعنی کراماً کاتبین۔ ف۲ مترجم وائي یعنی چرے نیکه خبره وي نو دَ ښي طرف فرشته ئے لیکي او که بده خبره وي نو دَ کس طرف والا فرشته ئے لیکي۔ والله اعلم۔ ف۳ مراد تربیه جنس شړونکے او ګواهي ورکونکے دے۔ ف۴ دَ بادشاهانو عادت دے چه قیدي لره دغوي وړاندې په دوه کسه راوستلے شي۔ دے دپاره دوه فرشتو ته خطاب دے۔ ف۵ یعنی دَ اِنسي او جنّي شیطانانو ته۔

تفسیر: ۱ۄ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ــ تا ــ وَتَقُوۡلُ هَلۡ مِنۡ مَّزِیۡدٍ ۱۵

دا تخویف اُخروی دے۔ تَفۡسُهٗ نه روستو تُحَاسِبُهٗ مقدر دے۔ قاله الشیخ رحمه الله. یعنی مونږ انسان پیدا کړے او مونږ دَده دَ زړه دَ وسوسو او خطراتو نه هم خبر یُو، مونږ به دَ هغے حساب کوُو۔ حَبۡلِ الۡوَرِیۡدِ کښ اضافت بیانی دے او دَ دینه مُراد دَ ژوند رګ دے چه دَ سر نه شروع کیدلو سره دَ حلق نه تیریږی او زړه ته رسیږی۔ اِذۡ یَتَلَقّٰی کښ اِذۡ، اَقۡرَبُ سره متعلق دے یعنی هر کله چه دَ انسان ښی او کس طرفته ناستے کراماً کاتبین (فرشتے) دَده خبرے لیکی، مونږ دغه وخت دَه ته دَده دَ ژوند دَ رګ نه هم زیات نزدے یُو۔ مَا یَلۡفِظُ مِنۡ قَوۡلٍ الخ: انسان چه څه خبره هم دَ ژبے نه راوُباسی دَ هغے دَ لیکلو دپاره بیو نګران هر وخت تیار ناست وی۔ کچرے نیکه خبره وی نو ښی طرف والا او که بده خبره وی نو دَ کس طرف والا فرشته ئے لیکی۔

۱۱ وَجَآءَتۡ (الآیة): دا دَ سکرات الموت منظر دے۔ د ذٰلِكَ نه مخکښ یُقَالُ لَهٗ مقدر دے۔ بالحق ای حقیقة الامر (بیضاوی) یعنی دَ مرګ سختی به حقیقةً او ضرور راځی۔ دغه وخت به دَ بعث نه منکرینو ته اُوویلے شی چه دا هغه مرګ دے چه تاسو ترینه تختیدلئ او دا دَ حشر نشر مقدمه ده۔ وَنُفِخَ فِی الصُّوۡرِ الخ: دَ دے نه پس به شپیلئ پوُک وهلے شی او دا به دَ عذاب دَ وعدے پوره کیدلو ورځ وی۔ دَ دے نه مراد دویمه شپیلئ ده چه د دے سره به ټول مخلوق فوراً را ژوندی شی۔ وَجَآءَتۡ کُلُّ نَفۡسٍ (الآیة): دَ دے نه پس به هر سړے په میدان حشر کښ حاضروی او هر چا سره به دوه فرشتے وی۔ یوه به ئے دَ حشر میدان ته شړی او دویمه به دَ دَه دَ اعمالو ګواه وی۔ یو حدیث کښ راځی چه دَ دے نه د هغه نیکئ او بدئ لیکونکے دوه فرشتے مُراد دی۔ یوه به سائق وی او بله شهید۔

وفی حدیث اخرجه ابونعیم فی الحلیة عن جابر مرفوعاً تصریح بان ملك الحسنات وملك السیئات احدهما سائق والآخر شهید۔ (روح ج ۲۶ ص ۱۸۳)۔

۱۲ لَقَدۡ کُنۡتَ (الآیة): دَ دے نه مخکښ یُقَالُ مقدر دے (روح) دَ هٰذَا نه یا دَ اعمالو کتاب مراد دے (حضرت شیخ رح) یا دَ حشر ورځ۔ دَ مجرم په لاس کښ به دَ هغه عملنامه ورکړے شی او ورته به اوویلے شی چه تر اوسه پورے دَ دے نه ناخبره وے یا دَ حشر دَ ورځے نه غافل وے۔ نن مونږ ستا دَ سترګو نه پرده لرے کړے ده او ستا نظر تیز شویدے او ته خپله عملنامه پخپله لوستے شے او دَ حشر سختی او قسما قسم عذابونه پخپله وینے۔ یا مطلب دا دے چه دَ قیامت په ورځ به هر کافر ته هم پوهه او عقل حاصل شی او هغه به حق اُومنی لیکن باوجود: کل احد یکون یوم القیٰمة مستبصراً حتی للکفار فی

الدنیا یکونون یوم القیامة علی الاستقامة لکن لاینفعهم ذلك - (ابن کثیر ج ۴ ص ۳۲۵)-

۳ ﴿وَقَالَ قَرِيْنُهُ﴾ (الاٰیة)، دَ قرین نه مُراد فرشته ده کومه چه دَ انسان په اعمالو باندِ مقرره ده. هغه به دَ کافر اعمال پیش کوُلو سره عرض اوکړی چه ما سره خو دغه د اعملونه دی چه دَ کمی بیشی نه بغیر حاضر دی- ﴿اَلْقِيَا فِىْ جَهَنَّمَ﴾: دَ بعضو په نزد اَلْقِيَا صیغه دَ واحد ده او الف دَ نون تقیله نه مُبدّل دے او دَ بعضو په نزد تثنیه دَ تکرار دپاره ده، دپاره دَ افادهٔ تاکید. (روح) او دَ بعضو په نزد صیغه دَ تثنیه ده خو خطاب یوته دے ځکه چه عرب عام طور باندِ دَ واحد نه دَ تثنیه صیغے سره خطاب کوی (ابن کثیر) دَ امام ابن جریر او نورو حضراتو په نزد خطاب دَ تثنیه سائق او شهید سره دے (ابن جریر) او حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی: تثنیه په حقیقت کښ محمول ده او دلته تکرار وغیره مُراد نهٔ دے بلکه هغه دواړه فرشتے ترے مُراد دی کومے چه به دَ ئ لره دَ سر او خپو نه نیولو سره دوزخ ته وغورځوی لکه چه ارشاد دے ﴿يُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِىْ وَالْاَقْدَامِ﴾ (الرحمٰن ع ۲)- لله در الشیخ اتاد فاجاد-

﴿عَنِيْدٍ﴾: سرکش، ﴿مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ﴾: دَ اسلام نه سختئ سره منع کوُنکے- ﴿مُعْتَدٍ﴾: بے انصافه، دَ حق دَ حدودو نه تیریدونکے، دَ توحید نه منکر- ﴿مُرِيْبٍ﴾: دَ الله پاك په وحدانیت او حشر نشر کښ شك کوُنکے او نورو خلقو له هم شك شبهو کښ اچوُنکے- (ابن کثیر، بیضاوی، مظهری، خازن) دغه دواړو فرشتو ته به حکم وی چه دا جهګړه کوُنکے دَ جهنم په ډیر سخت عذاب کښ وغورځوئ- دوی دَ هغه تهولو بدو نه علاوه دَ الله پاك سره شرك هم کوُلو-

۴ ﴿الَّذِىْ جَعَلَ﴾ (الاٰیة): دَ توحید دَ مسئلے ذکر دے علی سبیل الترقی- په نسبت سره دَ تیرو شوُو سورتونو ته یعنی چا چه دَ الله تعالیٰ نه سوا بل څوك کارساز او معبود اوګرځوُلو او غیر الله ئے متصرف او مختار ګڼړلو سره په حاجتونو او مصیبتونو کښ راوبللو، هغه ته به دَ ټولو نه سخت عذاب ورکوی- ﴿قَالَ قَرِيْنُهُ﴾ (الاٰیة): دلته دَ قرین نه شیطان مراد دے- دا دَ یو مقدر کلام جواب دے- کافر به عذر پیش کړی چه اے زما پروردګاره! زما هیڅ قصور نشته، زهٔ خو شیطان ګمراه کړے یم نو شیطان به جواب ورکړی، زمونږ پروردګاره! ما خو دے نهٔ دے ګمراه کړے بلکه دے پخپله ګمراه وُو او دَ هدایت دَ لارے نه ډیر زیات لرے وُو- (مدارك)

۵ ﴿قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا﴾: حکم به وُشی، اوُس جهګړے مکوئ، اوُس دَ جهګړے هیڅ فائده نشته- ماستاسو ټولو دپاره دَ عذاب فیصله کړے ده- دَ دے نه

لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنۡكَ وَمِمَّنۡ تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ اَجۡمَعِیۡنَ ۝ (سورۂ صٓ) مراد دے (خازن، روح)۔

دے دپاره تاسو ټول تابعین او متبوعین به دوزخ ته ځئ۔ مَا یُبَدَّلُ الۡقَوۡلُ لَدَیَّ (الآیة)؛ دلته ځما فیصلے نه بدلیږی۔ ما فیصله کړیده چه د ابلیس منونکي به د دوزخ خشاک جوړوم او ځه په بندګانو باندې ظلم نکوم او چاته بغیر د څه ګناه نه سزا نه ورکوم۔ حضرت شیخ رحمه الله فرمائی: القول کښ الف لام د عهد خارجي دپاره دے او د دے نه اَلۡقِیَا فِیۡ جَهَنَّمَ الخ والاقول مراد دے یعنې ما د دے مجرمانو په دوزخ کښ د غورځولو حکم ورکړے دے او اُوس په دیکښ بدلون نه کیږی ؛

یَوۡمَ نَقُوۡلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امۡتَلَئۡتِ وَتَقُوۡلُ هَلۡ

په کومه ورځ چه مونږ او وایو دوزخ ته ئله آیا ته ډک شوے؟ او هغه اووائی نور هم

مِنۡ مَّزِیۡدٍ ۝۳۰ وَاُزۡلِفَتِ الۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِیۡنَ غَیۡرَ

څه شته؟ (ف ط) او نزدے به راوړے شی ئله جنت ویریدونکو دپاره چه لرے به

بَعِیۡدٍ ۝۳۱ هٰذَا مَا تُوۡعَدُوۡنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ حَفِیۡظٍ ۝۳۲

نه وی. دا هغه دے چه تاسو سره ئے وعده شوے وه د هر یو رجوع کونکی یاد لرونکی دپاره.

مَنۡ خَشِیَ الرَّحۡمٰنَ بِالۡغَیۡبِ وَجَآءَ بِقَلۡبٍ مُّنِیۡبِ ۝۳۳

څوک چه ویریږی ئله د رحمٰن نه بغیر د لیدلو نه او راغلو ئے وی په زړه د رجوع کونکی سره (الله ته)

ادۡخُلُوۡهَا بِسَلٰمٍ ذٰلِكَ یَوۡمُ الۡخُلُوۡدِ ۝۳۴ لَهُمۡ مَّا

ننوځئ دے (جنت) ته سلامتیا سره، دا ورځ د همیشه اوسیدلو ده ئله۔ د دوی دپاره دی هلته

یَشَآءُوۡنَ فِیۡهَا وَلَدَیۡنَا مَزِیۡدٌ ۝۳۵ وَكَمۡ اَهۡلَكۡنَا

هغه څه چه دوی ئے غواړی او مونږ سره دی څه زیاتی هم ئله۔ او څومره هلاک کړل مونږ

قَبۡلَهُمۡ مِّنۡ قَرۡنٍ هُمۡ اَشَدُّ مِنۡهُمۡ بَطۡشًا فَنَقَّبُوۡا

د دوی نه مخکښ قومونه ئله چه طاقت ئے زیات وو د دوی نه بیا ئے اوګرځول

فِي الْبِلَادِ ۗ هَلْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

په ښارونو کښې (ځایونو پناهونو) چرته شته دَ تښتېدو ځائې؟ بیشکه په دے کښې دَ

لَذِكْرَىٰ لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ

نصیحت ځائې دے لَه هغه چالره چه یې کښې زړهٔ شته یا یې کیښنود غوږ چه زړه یې

شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا

حاضر وي. او مونږ یقیناً پیدا کړل لَه آسمانونه او زمکه او کوم څه چه

بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ۖ وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُغُوبٍ ﴿٣٨﴾

دَ دے په مینځ کښې دی په شپږو ورځو کښې، او مونږ ته هیڅ ستومانی اُونه رسیدله -

فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

نو ته برداشت کوه هغه څهٔ چه دوی یې وائي او پاکی بیانوه سره دَ صفتونو دَ خپل رب

قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ

دَ نمر ختلو نه مخکښې او مخکښې دَ ډوبیدلو نه وړاندې او څه دَ

اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ ﴿٤٠﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ

شپے نه وایه د هغهٔ پاکی او روستو دَ سجدو نه وړاندې او غوږ کیږده په کومه ورځ چه

يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يَسْمَعُونَ

اواز اوکړي اواز کوونکے دَ نږدے ځائے نه وړاندې - په کومه ورځ چه به واوري

الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا نَحْنُ

سخته کریکه په حقه سره، دغه ورځ ده دَ راوتلو - مونږ

نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ

ژوندي کوو ټول او مړه کوو او هم مونږ ته دی ورتلو بیرته راتلل. په کومه ورځ چه زمکه اوڅیري

عَنْهُمْ سِرَاعًا ۚ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَحْنُ

راوبه ځي ټول په تیزۍ سره، دا جمع کول په مونږ باندې آسان دی. مونږ ته

اَعۡلَمُ بِمَا یَقُوۡلُوۡنَ وَمَاۤ اَنۡتَ عَلَیۡهِمۡ بِجَبَّارٍ

ښه معلوم دی کوم څه چه دوی وائی ئې او ته نه یې په دوی باندې زور کوونکے ،

فَذَکِّرۡ بِالۡقُرۡاٰنِ مَنۡ یَّخَافُ وَعِیۡدِ ﴿۴۵﴾

پس ته نصیحت ورکړه قران سره هغه چاته څوک چه ویریږی زما د ویرولو نه۔

نکات: ۱ د آخرت بشارت۔ ۲ تخویف دنیوی۔ ۳ په حشراو نشر باندې دویم او مختصر عقلی دلیل۔ ۴ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته تسلی۔ ۵ همدارنګه تسلی نبی علیه السلام ته۔

موضح قرآن ف ۱ د دوزخ فراخوالے په دومره خلقو سره نه ډکیږی. منه. ف ۲ په دغه ورځ چه څه ملاؤشی هغه به همیشه وی، د دے نه مخکښې په هیڅ یوه خبره همیشه پاتے کیدل نه وو. منه. ف ۳ هغه نعمتونه چه د دوی په خیال کښې هم نشته. ف ۴ دا دوه وختونه د الله پاک د یاد دی. د دے وختونو کښې دعا او عبادت قبلیږی. ف ۵ یعنی د ماخذ نه پس. منه. ف ۶ وائی چه شپیلئی به د بیت المقدس په ګټه باندې پوکے وهلے شی. یا دا مراد دے چه د هغې آواز به هر ځائے کښې نزدے معلومیږی. منه رحمه الله تعالیٰ۔

فتح الرحمٰن ف ۱ یعنی هر څومره چه پکښې ورغورځولی شی نور زیات طلب به کوی. ف ۲ او دا تصویر او نقشه د هغې ده چه ټول به په آوریدلو د آواز کښې یو شان برابر وی۔

تفسیر ۴۳ یَوۡمَ نَقُوۡلُ (الآیة)؛ یَوۡمَ د فعل مقدر اُذۡکُرۡ د پاره مفعول دے یا ظَلَّامٍ سره متعلق دے یعنی د هغې ورځے نه خلق اوویرولی شو په کومه ورځ چه به د دوزخ نه پوښتنه اوشی، آیا د کافرانو او مشرکانو سره ستا خیټه ډکه شوے ده او ته صورشوے یې؟ نو هغه به عرض اوکړی، زما خیټه خولا تراوسه نه ده ډکه شوے، آیا نور څوک زیاتی کافران او مشرکان شته؟ دغه ورځ به مونږ بندګانو سره بے انصافی نه کوو او هیچا ته به د څه ګناه نه بغیر سزا نه ورکوو۔

۴۴ وَاُزۡلِفَتِ — تا — وَلَدَیۡنَا مَزِیۡدٌ، دا بشارتِ اُخروی دے. غَیۡرَ بَعِیۡدٍ د محذوف مصدر صفت دے او اُزۡلِفَتۡ د پاره مفعول مطلق دے تاکید د پاره؛ ای ازلافًا غیر بعید (روح) کوم خلق چه د شرک او ګناهونو نه ځان ساتی، جنت به هغوی ته بالکل نزدے کړے شی. هٰذَا مَا تُوۡعَدُوۡنَ (الآیة): د دے مخکښې وَیُقَالُ لَهُمۡ مقدر دے۔ او هغوی ته به اُوویلے شی،

دا دے هغه جنت دکوم چه تاسو کښې هر یو الله طرفته رجوع کوونکی او خپلو ګناهونو یادوونکو سره ته ي کوونکو سره وعده کړے شوے وه.

قال لی مجاهد: الا انبئك بالاواب الحفیظ؟ هو الرجل یذکر ذنبه اذا خلا فیستغفر الله تعالیٰ منه. (روح ج ۲۶ ص ۱۸۹)۔

قوله مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ (الآیة)، دا د اَلْمُتَّقِیْنَ یا اَوَّابٍ نه بدل دے (بحر، روح)۔ دے صورت کښې به د اُدْخُلُوْهَا نه مخکښې یُقَالُ لَهُمْ مقدر وی یا مبتدأ ده او اُدْخُلُوْهَا په تقدیر د یُقَالُ لَهُمْ ددې خبر دے۔ (مدارك) یا دا منادیٰ ده او حرف نداء محذوف دے، ای یا من خشی الرحمٰن الخ او اُدْخُلُوْهَا الخ مقصود بالنداء دے۔ (الشیخ رحمه الله تعالیٰ)۔ بِالْغَیْبِ یعنی بغیر د الله پاك د لیدلو نه دهغه دعذاب نه اُویریږي یعنی خشی عقابه وهو غائب من الله تعالیٰ یعنی فی الدنیا حین لم یره. (مظهری ج ۹ ص ۳۰۷)۔ قَلْبٍ مُّنِیْبٍ: دَ الله طرفته رجوع کوونکے زړه یعنی دا جنت هغه خلقو دپاره دے چه په نالیدلو د الله تعالیٰ نه ویریدل او الله تعالیٰ سره ئے مینه محبت ساتلو، دهغه حکمونه ئے منل او دګناهونو نه ئے ځان بچ ساتلے وو۔ بِسَلٰمٍ: یعنی جنت ته سلامتیا سره داخل شئ، دلته به دعذاب او هر فکر او غم نه محفوظ او سلامت اوسیږئ۔ دَ جنت نعمتونه به دَ زوال نه محفوظ وی او تاسو به دَ مرګ نه محفوظ یئ۔ ذٰلِكَ یَوْمُ الْخُلُوْدِ: دغه شان نن ورځ دَ همیشه ژوند ابتداء او شروع ده۔ لَهُمْ مَّا یَشَآءُوْنَ (الآیة)، دوی ته به په جنت کښې هرهغه څیز ملاویږي دکوم چه دوی خواهش کوی بلکه هلته به نور هم بے شماره نعمتونه وی چه دَ دوی په وهم او ګمان کښې به هم نه وی او دَ دوی دَ خواهش نه به بهر وی۔

قوله وَكَمْ اَهْلَكْنَا: دا تخویف دُنیوی دے۔ بَطْشًا: قوت، یا سخت نیول۔ نَقَّبُوْا فِی الْبِلَادِ: هغوی مختلفو حیلو او تدبیرونو سره په ښارونو قبضه وکړه او هغه ئے تابع او کرځول۔ دے صورت کښې به هَلْ مِنْ مَّحِیْصٍ حالیه جمله وی۔ یعنی هغوی ښارونه خو تابع کړل خو آیا هغوی ته دَ عذاب نه بچ شول؟ یا مطلب دا دے چه زمونږ دَ عذاب په وخت کښې ئے دَ هغې نه بچ کیدلو دپاره ډیرے حیلے، بهانے جوړے کړے لیکن آیا زمونږ دَ عذاب نه خلاصے ورکړے شو؟ اوس به دا جمله دَ ماقبل سره متعلق وی، دلرے لرے ښارونو سفر به ئے کولو: ساروا فیها یبتغون الارزاق والمتاجر والمکاسب اکثر مما تحاطفتم انتم بها. (ابن کثیر، ج ۴ ص ۲۲۹)۔

دَ مکے والونه مخکښې مونږ ډیر قومونه هلاك کړیدی چه په قوت او رُعب کښې دَ دوی نه زیات وو او دَ دولت ذریعے ورسره هم زیاتے وے، او دَ عذاب

نه بچ کیدلو دپاره هغوی هم ډیر منډې اُووهلې او ډیرې حیلې بهانې ئې اوکړې نو آیا کوم یو څیز او قوت، شوکت او مال دولت یا د هغوی حیلې جوړولو هغوی لره د الله تعالیٰ د عذاب او قضا نه خلاص کړل؟ دا استفهام انکاري دې یعنی هیڅ څیز هم هغوی لره د الله تعالیٰ د عذاب نه خلاص نکړل.

۲۰ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ (الآیة)، قَلْبٌ: عقل، اَلْقَی السَّمْعَ: غور سره ئې واوریدل. د تیرو شوو قومونو په تباهئی کښ هر سړی دپاره عبرت او نصیحت دې خو که چه د عقل او پوهې خاوند وی او زړهٔ حاضر کړی او غور سره اوریدل د هغهٔ عادت وی. (خازن).

۲۱ وَلَقَدْ خَلَقْنَا (الآیة)، دا د قیامت د ثبوت دپاره دویم او مختصر عقلی دلیل دې. لُغُوْبٌ: ستومانی او ستړې والې. مونږ زمکه او آسمانونه او څهٔ چه د دې په مینځ کښ دی ټول مخلوق مونږ په شپږ ورځو کښ پیدا کړیدی او دې سره مونږ ته هیڅ قسم ستړې والې او ستومانی رانغله. کوم قادر او طاقتور ذات چه دا ټول کائنات پیدا کړل او نهٔ ستړې ستومانه او نهٔ کمزورې شو. هغه د مړو دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دې، من قدر علی خلق العالم فهو قادر علی بعثهم والانتقام منهم. (مظهری ج ۹ ص ۵۷)

۲۲ فَاصْبِرْ، دا آیت نبی علیه السلام دپاره تسلی ده. د نمر ختلو نه مخکښ د صبا مونځ د نمر پریوتلو نه مخکښ د ماسپخین او ماخیګر مونځ او د مِنَ الَّیْلِ نه د ماښام او ماسخوتن مونځ او د اَدْبَارَ السُّجُوْدِ نه د فرائضو نه روستو سنتونه او نفلونه مُراد دی. (خازن، مظهری، مدارک وغیره). حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی چه د دې آیت د نزول په وخت صرف دوه مونځونه سحر او ماخیګر او د شپې د تهجد مونځ مشروع وو. قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ سره د سحر مونځ، قَبْلَ الْغُرُوْبِ سره د ماخیګر مونځ، مِنَ الَّیْلِ سره د تهجد مونځ او اَدْبَارَ السُّجُوْدِ سره نوافل مراد دی یعنی د مشرکانو غیر مناسب خبرو او د هغوی د بې ځایه الزامونو او اعتراضاتو باندې صبر کوئ او د الله پاك تسبیح او تحمید په ځائې راوړئ. سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ کښ د عذاب الٰهی نه د بچ کیدلو دپاره د توحید بیان دې.

۲۳ وَاسْتَمِعْ: یَوْمَ، استمع سره متعلق دې، اَلْمُنَادِ: منادی کونکې، جبرئیل علیه السلام. (روح) مَّكَانٍ قَرِیْبٍ: هر سړې به دا خیال کوی چه آواز کونکې د لته چرته نزدې دې او د هغهٔ آواز به هر څوك اوری. بِالْحَقِّ: یعنی صیحه (د شپیلئی آواز) به واقعی او حقیقی وی، وهم او خیال به نهٔ وی. ذٰلِكَ یَوْمُ الْخُرُوْجِ، دا اِسْتَمِعْ دپاره مفعول دې. او انتظار کوه هر کله چه د حشر او نشر دپاره د اسرافیل علیه السلام دویم ځل شپیلئی پوك وهی چه هغه سرې حقیقةً اوری.

دغه ورځ د هغه دا اعلان غور سره واوره چه نن ورځ د قبرونو نه ژوندی کيدلو سره د راوتلو ورځ ده او دا هغه ورځ ده د کومے نه چه کافرانو او مشرکانو انکار کولو۔

۴۴ اِنَّا نَحۡنُ نُحۡيٖ : څنګه چه په دُنيا کښ مرلے او ژوندے زمونږ په اختيار کښ وُو او د بل چا هيڅ تصرّف نه وُو، دغه شان اوس د دوباره ژوندی کولو نه روستو به د ټولو پيشی هم زمونږ په مخکښ وی۔ يَوۡمَ تَشَقَّقُ الخ، ظرف اَلۡمَصِيۡرُ سره متعلق دے۔ يعنی په کومه ورځ چه زمکه اُوچوی او ټول خلق به منډے منډے د قبرونو نه راوځی، دغه ورځ به ټول زمونږ په وړاندې پيش کړے شی او دا د انسانانو دوباره ژوندی کول مونږ دپاره اسانه خبره ده۔

۴۵ نَحۡنُ اَعۡلَمُ (الاٰية) : دا هم نبی عليه السلام ته تسلی ده۔ د عنادګرو د خبرو نه مونږه ښه خبر يُو۔ د هغوی له طرفه د توحيد او رسالت، بعث او حشر نشر نه انکار زمونږ نه پټ نه دے۔ د هغے سزا ورکول زمونږ کار دے او تاسو په هغوی باندی زبردستی سره منل نشئ کولے ځکه چه ته جبّار نه يے بلکه مبلّغ او ناصح يے۔ په دے وجه کوم خلق چه زمونږ د عذاب نه ويريږی يعنی مؤمنان تاسو هغوی ته قرآن اوروُلو سره پند او نصيحت کوئ۔ معاندين که نه منی نو ايمان والو ته خو به د هغے فائده ضرور رسيږی۔ فَذَکِّرۡ فَاِنَّ الذِّکۡرٰی تَنۡفَعُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ۔ قرآن چه د لوئے عظمت او شان شوکت او هيبت نه ډک دالله کلام دے، او په توحيد او رسالت او حشر نشر باندی شاهد او ګواه دے۔ تاسو د دے په تبليغ کښ مشغول اوسيږئ۔ کوم خلق چه دالله تعالیٰ نه ويريږی هغوی به د دے نه فائده اخلی او نصيحت به ترينه حاصلوی۔

واٰخر دعوٰنا ان الحمد لله رب العٰلمين۔

سُورهٔ قٓ کښ د توحيد آيت

① اَلَّذِيۡ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ، نفی د هر قسمه شرک۔

✣ ✣ ✣ ✣ ✣ ✣ ✣

سُوْرَةُ الذّٰرِیٰتِ

ربط

سُورهٔ قٓ کښې ذکر شو چه قیامت او د قبرونو نه ژوندی راپاڅیدل او حشر نشر حق دی۔ اُوس به په سورهٔ الذّٰریٰت کښې په طور دَ ترقی ذکر کیږی چه صرف حشر او نشر نهٔ دے بلکه جزاء او سزا به هم وی۔ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۙ وَّاِنَّ الدِّیْنَ لَوَاقِعٌ۔

خلاصه

په شروع کښې جزاء او سزا بانې یو شاهد (گواه) او دَ حشر نشر یوه نمونه۔ دَ دعوے ثابتولو دپاره دوه عقلی دلیلونه۔ دَ دواړو دلیلونو په مینځ کښې دَ تخویف دُنیوی پنځه نمونے او دَ عذاب دفع کولو دپاره دَ اُمورِ ثلاثه بیان۔

تفصیل

وَالذّٰرِیٰتِ ذَرْوًا — تا — فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ٥ دا په جزاء او سزا بانې شاهد دے۔ څنګه چه هواګانے اُوریځو لره راپورته کوی او بیا چرته دَ رحمت باران کیږی او چرته ګلئی وریږی۔ دغه شان به په قیامت په ورځ په مؤمنانو بانډے دَ الله تعالیٰ رحمت وی او په کافرانو به عذاب وی۔ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ۙ دا دَ حشر او نشر نمونه ده۔ څنګه چه په شپه کښې په آسمان بانې دستورو یو فراخه اولوئے جال ښکاره کیږی دغه شان به مړی دَ زمکے نه را ښکاره کیږی۔

اِنَّكُمْ لَفِیْ قَوْلٍ — تا — مَنْ اُفِكَ ؛ زجر دے۔ دَ دا سے دلائلو او شواهدو باوجود تا سو بیا هم په باطل بانې قائم یئ۔ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ — تا — تَسْتَعْجِلُوْنَ ٥، دا تخویف اُخروی دے۔ خیالی او نامناسبه خبرے کوُنکی او په جزا او سزا کښې شک کوُنکی به دَ الله پاك د رحمت نه لرے او دَ دوزخ خشاك وی۔ اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ (الآیة) ؛ دا بشارت اُخروی دے۔ متقیان او دَ شرك نه ځان ساتونکی به په جنت کښې وی او دَ الله تعالیٰ ورکړے شوی نعمتونو نه به فائده اخلی۔ اِنَّهُمْ كَانُوْا — تا — وَالْمَحْرُوْمِ ٥ دا دَ متقیانو صفات دی چه هغوی به نیکئ کولے او دَ شپے به کم اُوده کیدل او دَ شپے اکثره حصه به ئے په عبادت او استغفار کښې تیروُله او هر سوالګر او ضرورتمند سره به ئے مالی امداد کوُلو۔ دلته دَ عذاب دفع کولو دپاره دَ درے کارونو ذکر دے؛

یعنې شرك نه کوئ، ظلم نه کوئ، او احسان کوئ۔

وَفِي الْأَرْضِ اٰيٰتٌ ـ تا ـ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝: دا دَ قیامت په ثبوت باندې اولنے عقلي دلیل دے یعنې په زمکه کښې او پخپله ستاسو په نفسونو کښې نښې موجودے دی، لیکن دَ فکر او غور کولو ضرورت دے۔

وَفِي السَّمَآءِ ـ تا ـ تَنْطِقُوْنَ ۝: دَ آسمان نه باران هم نازلیږی او کلئ هم وریږی۔ دا دَ جزاء او سزا نمونه ده۔ دَ زمکے او آسمان په رب باندې قسم چه حشر نشر حق دے څنګه چه تاسو دَ خپلو خُلو نه الفاظ راوباسئ دغه شان به تاسو هم دَ زمکے نه راویستلی شئ۔ هَلْ اَتٰىكَ ـ تا ـ الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۝ (ع۲) دا دَ تخویف دُنیوی دَ پنځو نمونو نه اوله نمونه ده۔ دَ حضرت ابراهیم عليه السلام قصه دَ تمهید په طور بیان شوے ده او دَ لوط عليه السلام دَ قوم عبرتناك حشر دَ تخویف دُنیوی اوله نمونه ده۔ دا خلق دَ آخرت د جزاء او سزا نه غافله شوی وُو او په ګناهونو کښې ښکیل شوی وُو، نو الله تعالیٰ په دردناك عذاب سره هلاك کړل۔ وَفِيْ مُوْسٰى ـ تا ـ وَهُوَ مُلِيْمٌ ۝: دا دَ تخویف دُنیوی دویمه نمونه ده۔ فرعون او دَ هغه قوم دَ کفر، شرك، عناد او انکار په سزا کښې غرق کړے شول۔

وَفِيْ عَادٍ ـ تا ـ كَالرَّمِيْمِ ۝: دا دَ تخویف دُنیوی دریمه نمونه ده۔ دَ عاد قوم په تیزے سیلئ سره هلاك کړے شول۔ وَفِيْ ثَمُوْدَ ـ تا ـ مُنْتَصِرِيْنَ ۝: دا دَ تخویف دُنیوی څلورمه نمونه ده۔ دَ ثمود قوم یو زوره چغه کی تندر سره هلاك کړے شو چه دَ هغے مخے ته هغوی یوه لمحه هم ټینګ نه شول۔

وَقَوْمَ نُوْحٍ (الاٰیة) : دا دَ تخویف دُنیوی پنځمه نمونه ده۔ دا دے ټولو نه مخکښې دَ نوح عليه السلام قوم سرکشه طوفان کښې غرق کړے شول۔

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا ـ تا ـ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝: دَ تخویف دُنیوی پنځه نمونو ذکر کولو نه پس دَ سورت په دعوی باندې دویم عقلي دلیل دے۔ دا دومره فراخه او هلاله آسمان پیدا کول، زمکه د فرش په شان هواره جوړول او د هر څیز څو څو قسمونه پیدا کول زمونږ دَ قدرت کامله یوه ادنیٰ کرشمه ده، دے دپاره دَ انسانانو دوباره پیدا کول هم زمونږ دَ قدرت نه لرے نه دی۔ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ (الاٰیتین) : دَ توحید بیان علیٰ سبیل الترقی۔ دَ الله پاك طرفته رجوع اوکړئ او هغه سره هیڅوك شریك مه جوړوئ۔

كَذٰلِكَ مَآ اَتَى ـ تا ـ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ۝: شکوی دَ مشرکانو دپاره۔ دَ دوی نه مخکښې چه څومره مشرکان او کافران تیر شوی دی دَ هغوی هم دا حال وُو۔ چه کله به هم هغوی ته یو پیغمبر راغے نو هغه ته به ئے جادوګر او مجنون ویل شروع کړل، آیا هغوی خپلو نسلونو ته هم دَ دے خبرے وصیت کړے

ولو؟ نه، بلکه دوی هم سرکشه او باغیان دی او پخپله دا سے خبرے کوی. فَتَوَلَّ عَنْهُمْ (الآیتین): دا نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته تسلّی ده. تاسو دوی ته دَ تبلیغ حق ادا کړے دے، نو تاسو مؤمنانو ته پند او نصیحت کوئ ځکه چه دے سره هغوی ته فائده رسیږی.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ (الآیة): دا دَ ما قبل دپاره علت دے. تاسو دوی ته دَ عبادت کولو تعلیم ورکوئ ځکه چه دوی دَ دے مقصد دپاره پیدا کړے شوی دی. دَ دوی دَ پیدا کولو نه ځما ځه ذاتی غرض مقصود نهٔ دے بلکه ځهٔ پخپله دَ دوی دَ ټولو ضرورتونه او حاجتونه پوره کوم. فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا (الآیتین) دا تخویف دُنیوی دے. دِے ظالمانو ته به هم دَ مخکنو ظالمانو پشان دَ عذاب ځه حِصه ملاویږی. دوی دِ جلتی نکوی. په کومه ورځ چه دوی باندِ وعده کړے شوے عذاب راشی هغه ورځ به دَ دوی دپاره ډیره زیاته دَ هلاکت او تباهئ ورځ وی.

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتُّوْنَ اٰيَةً وَثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

له سورة ذاریات مکه کښ نازل شو او دیکښ شپیته (۶۰) آیتونه او درے رکوعگانے دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع په نوم دَ الله چه بے حده مهربان ځانیته رحم کوونکے دے.

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ① فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ② فَالْجٰرِيٰتِ

قسم دے په هواگانو چه الوزی په الوتلو سره، بیا پورته کوونکی دَ دروند وریځو لره بیا په نرمئ سره

يُسْرًا ③ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ④ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ

تلونکی، بیا تقسیموونکی حکم (دَ الله) سره وعده بیشکه کومه وعده چه کړے شوے ده تاسو سره

لَصَادِقٌ ⑤ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ⑥ وَالسَّمَاۗءِ

پس هغه رښتونے ده، او بیشکه انصاف کیدل ضروری دی، قسم دے په اسمان چه

ذَاتِ الْحُبُكِ ⑦ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ⑧

چال لرونکے دے (دَ ستورو) له وړاندې تاسو بے پروا تونکی بی ځکه دیوے جګړے په خبره کښ.

يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ۝٩ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ۝١٠

گرځولے شي دَ هغې نه هغه څوک گرم چه گرځولي شوې دي ف۱ لعنت کړے شویدې ف۲ اٹکل خبرے کوونکي

الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ۝١١ يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ

چه په غفلت کښ دي ناخبره ف۳ تپوس کوي کله ده

يَوْمُ الدِّيْنِ ۝١٢ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ۝١٣

دَ انصاف ورځ (قیامت). کومه ورځ چه هغوی سم اوکاږه ګه اور بانې پریوتي.

ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ۭ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ۝١٤

اُوڅکئ خوند دَ خپل عذاب، دا هغه دے چه تاسو ئې تلوار کوله.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝١٥ اٰخِذِيْنَ مَآ

بیشکه ویریدونکي (د الله نه) به په باغونو او چینو کښ دي. اخلي څه چه

اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ۝١٦ۭ

ورکړي دوي ته د دوي رب، دوي وو د دے نه مخکښ نیکي کوونکي.

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ۝١٧ وَبِالْاَسْحَارِ

دوي وو چه د شپے لږه حصه به اُوده کیدل. او د صبا په وخت

هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ۝١٨ وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّاۗىِٕلِ

کښ به ئې معافي غوښتله. او د دوي په مال کښ حصه وه د سوال کوونکو

وَالْمَحْرُوْمِ ۝١٩ وَفِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ۝٢٠ وَ

او محتاجه (چه سوال نکوي) دپاره ف۴. او په زمکه کښ نښے (د قدرت) دي یقین کوونکو دپاره ګه او

فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝٢١ وَفِي السَّمَاۗءِ

په خپله ستاسو نفسونو کښ، نو آیا تاسو نه وینئ. او په آسمان کښ دے

رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ۝٢٢ فَوَرَبِّ السَّمَاۗءِ وَ

رزق ستاسو او دکوم چه تاسو سره وعده اوکړے شوه ف۵ ف۶. نو قسم دے په رب د آسمان او د

الْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَاۤ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿۲۳﴾

زمکے چه دا خبره ریښتیا ده لکه چه تاسو خبرے کوئ (ئی ویلی شئ).

هَلْ اَتٰىكَ حَدِیْثُ ضَیْفِ اِبْرٰهِیْمَ الْمُكْرَمِیْنَ ﴿۲۴﴾

آیا رسیدلے ده تا ته خبره د ابراهیم د میلمنو چه عزت والا وو.

اِذْ دَخَلُوْا عَلَیْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ

کله چه راورسیدل هغه ته نو وے ویل سلام، هغه او ویل سلام دے، دا خلق دی

مُّنْكَرُوْنَ ﴿۲۵﴾ فَرَاغَ اِلٰۤى اَهْلِهٖ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِیْنٍ ﴿۲۶﴾

نا آشنا، بیا په تیزئ سره لاړه خپل کور ته نو راغے (ئے) راوړو یو سخے وریت کړے شوے غوښین

فَقَرَّبَهٗۤ اِلَیْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ

نو وړاندے ئے کړو هغوی ته، اوئے ویل تاسو ولے خوراک نه کوئ؟ پس وویریدو په زړه کښې د هغوی

خِیْفَةً ؕ قَالُوْا لَا تَخَفْ ؕ وَ بَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِیْمٍ ﴿۲۸﴾

نه په ویرے سره، وے ویل مه ویریږه، او زیرے ئے ورکړو هغه ته د یو هلک هوښیار.

فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِیْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَ قَالَتْ

پس مخے ته راغله د هغه بی بی ویناسره نو وهلو ئے خپل تندے او وئے ویل

عَجُوْزٌ عَقِیْمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ؕ اِنَّهٗ

چرته بوډۍ شنډه زوے کوی. هغوی او ویل همدا رنګے ویلے دی رب ستا، هغه چه دے

هُوَ الْحَكِیْمُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۰﴾

هم هغه دے حکمت والا خبردار.

نکات: ۱ په حشر ونشر، او جزاء او سزا باندے شواهد (ګواهان). ۲ جواب د قسم. ۳ دا رنګے شاهد په قیامت باندے. جواب د قسم محذوف دے انکم لتحشرون. ۴ د قیامت د منکرینو د پاره زجر. ۵ تخویف اخروی. ۶ بشارت اخروی او بیان د امورِ ثلاثه د پاره د عذاب دفع کولو. ۷ د قیامت په ثبوت باندے عقلی دلیل. ۸ د تخویف دُنیوی پرمبنی نمونه.

موضح قرآن

ف۱ دا قسم دے په هواګانو باندې چه اول سیلئ راشي نو ګرد او غبار والوزوي او وریځ جوړه شي بیا په هغې کښې اوبه جوړیږي، بیا هغه پیټې اُوچتولو سره ګرځي بیا چه کله وریالو ته نږدے شي نو نرمے هواګانې چلیږي، بیا چه د کوم ځائے خومره حصه وي د الله په حکم سره هغه هلته اُورسوي او ورے وَروي. منه ف۲ اسمان جال لرونکے یعني ستوري دي پکښې د جال پشان، او د جګړے خبره هغه د آخرت ژوند دے. څوک چه هغه نه مني هغه د الله پاک د دربارنه راوګرځیده. ف۳ د دین په خبره کښې اټکل او تخمین سره وینا کوي. منه ف۴ هغه مسکین چه محتاجه وي او غوښتنه نکوي. منه ف۵ هره یوه راتلونکے خبره چه ده د هغې حکم د اسمان نه راځي. منه ف۶ یعني څنګه چه پخپلو خبرو کښې شک نشته دغه شان د هغه په کلام کښې شک نشته. منه ف۷ یعني څنګه به اُوزیږ ولې شي. منه

فتح الرحمٰن

ف۱ یعني رزقونه او مصیبتونه. ف۲ مختلف صورتونه لکه د زمری شکل، د ګډ وری شکل او د لرم شکل. ف۳ یعني په خارج کښې د موجیدلو نه مخکښې په عالم ملکوت کښې رزق او عذاب او د هغې مثال متصور کیږي. ف۴ څنګه چه پخپلو خبرو یقین لرئ چه څه یقینًا خبرے کوم دغه شان پدے خبر هم یقین لرل پکار دي.

تفسیر

۱ وَالذّٰرِیٰتِ ذَرْوًا ـ تا ـ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۝: دا په حشر او نشر او جزاء او سزا باندې دلیل دے. قسم دے په هواګانو چه اُوچتوي او خورَوي. بیا بوجه (اُوبه د وریځو په شکل کښې) اُوچتوي او په مزه مزه روانے وي، بیا د الله تعالیٰ په حکم سره د الله پاک حکم تقسیموي یعني چرته باران وریږي او چرته نه کلیږي. اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ ـ تا ـ لَوَاقِعٌ ۝: دا جواب د قسم دے یعني د کوم څیز چه تاسو سره وعده کیږي یعني حشر او نشر هغه حق دے او د قیامت په ورځ به جزاء او سزا ضرور وي. اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۝: دا اول دوه قسمونو سره متعلق دے یعني څنګه چه وریځې پورته کوي دغه شان به تاسو هم پورته کولے شي. دا په دُنیا کښې د حشر او نشر یوه نمونه ده. وَاِنَّ الدِّیْنَ لَوَاقِعٌ ۝: دا دوه روستنو قسمونو سره متعلق دے. یعني څنګه چه هوا وریځې لره اُوچتولو سره بوځي دالله په حکم سره نو چرته باران کیږي او چرته نه کلیږي. دغه شان به د قیامت په ورځ جزاء او سزا وي. په مؤمنانو باندې به د رحمت باران وَریږي او په کافرانو باندې به د کلئي پشان عذاب نازلیږي. دا په دُنیا کښې د جزا او سزا نمونه ده.

۳ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ، بنائست او بنګلا یا ستوري. (بیضاوي، مدارک) د قسم جواب محذوف دے: اِنَّكُمْ لَتُحْشَرُوْنَ: په هغه اسمان قسم په کوم چه د

ستورو دَ بنا ئست او ښکلا حال خوړ دے چه تاسو به ضرور دَ مرګ نه پس را پورته کړلے شئ - دا په حشر نشر باندې شاهد دے یعنې څنګه چه دَ شپې ناڅاپه اسمان باندې ستوري را ښکاره شي دغه شان به تاسو هم ناڅاپه دَ زمکے نه را ښکاره کیدلو سره بهرته را ووځئ - تر دے ځائے پورے دَ قیامت دَ ثبوت دعوٰی او جزاء او سزا مکمل کړے شوه.

۴ اِنَّكُمْ لَفِىْ: دا زجر دے دَ کافرانو دپاره چه دداسے واضحه نمونو کتلو سره هم ایمان نۀ راوړي - دا خلق په یوه مختلفه خبره باندې قائم دي. ځینې چه په حشر او نشر کښې شك کوي او ځینې چه انکار کوي هغوی په یوه اتفاق او خپل مینځ کښې یوه موافقه خبره باندې نۀ قائمیږي. هر هغه څوك چه الله تعالیٰ دَ حق نه ګرځولے دے هغه په قیامت باندې دَ ایمان راوړلو نه هم ګرځولے شویدے.

انهم فى قول مختلف فى وقوعه فمنهم شاك ومنهم جاحد ثم قال يؤفك عن الاقرار بأمر القيامة من هو المأفوك (مدارك ج ۴ ص ۱۳۱).

۵ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ - تا - تَسْتَعْجِلُوْنَ: دا دَ قیامت نه انکار کوونکو دپاره تخویف اُخروي دے. قُتِلَ، لُعِنَ الْخَرّٰصُوْنَ: دروغو، اټکل او ګمان سره حکم لګوونکي - غَمْرَةٍ: جهالت او غفلت (ناپوهي، ناخبري). يُفْتَنُوْنَ ٥: په اور کښې به سوزولے شي - (مظهري، روح، مدارك). قیامت لره خالص په خپل خیال او ګمان سره دروغ ګڼړونکي چه په ناپوهئ او ناخبرئ کښې بیهوشه پراته دي، په دوی باندې دَ الله پاك لعنت شوے دے او دَ الله تعالیٰ دَ رحمت نه محرومه دي او محض دَ استهزاء او انکار په غرض سوال او اعتراض کوي چه دَ جزاء او سزا ورځ به کله راځي - يَوْمَ دپاره عامل مقدر دے: اى هو كائن يعنى الجزاء. (بحر) یعنې جزاء او سزا خامخا په هغه ورځ کیدونکے ده په کومه ورځ چه به دوی په اور کښې سوزولي شي او ورته به ویلے شي چه نن دَ خپلو کړو عملونو سزا وڅکئ، دا هغه عذاب دے چه تاسو به ئے دَ زر راتللو مطالبه کوله. ذُوْقُوْا نه مخکښې يُقَالُ لَهُمْ مقدر دے.

۶ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ - تا - وَالْمَحْرُوْمِ ٥: دا بشارت اُخروي دے او دَ عذاب دفع کولو دپاره دَ اُمورِ ثلاثه بیان دے یعنې شرك مکوئ، ظلم مکوئ او احسان کوئ - اَلْمُتَّقِيْنَ: دَ شرك نه ځان ساتونکي - دا دَ اول اَمر بیان دے - دا خلق به دَ جنت په باغونو او چینو کښې وي او هلته به دَ الله تعالیٰ ورکړے شوي نعمتونه حاصلوي او دَ هغې نه به نفع اخلي - اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ١٥ دا دَ دویم امر بیان دے - یعنې دوی دَ دے نه مخکښې په دُنیا کښې ظلم نۀ کولو. كَانُوْا قَلِيْلًا (الاية): مَا زائده دے - دوی به دَ شپې دَ الله پاك په عبادت کښې مصروف او مشغول اوسیدل او خوب به ئے کم کولو - وَبِالْاَسْحَارِ (الاية): او دَ

پیښمنی په وخت کښې به پاڅیدل. دَ الله تعالیٰ نه به ئې دَ خپلو ګناهونو معافی غوښتله. وَفِیْٓ اَمْوَالِهِمْ (الاٰیة): او دَ دوی په مالونو کښې دَ هر سوالګر او محتاج حصه وه یعنې په مسکینانو او محتاجانو باندې به ئې احسان کولو.

۱۳ وَفِی الْاَرْضِ – تا – تَنْطِقُوْنَ ۝: دا دَ قیامت په ثبوت باندې عقلی دلیل دے. په زمکه کښې او ستاسو په خپلو ځانونو کښې هم دَ یقین لرونکو دپاره دلائل موجود دی. تاسو غور او فکر کوئ لوسره په هغې باندې دَ پوهیدلو کوشش وَلے نکوئ؟ الله پاک څنګه قدرت او حکمت سره زمکه پیدا کړے ده نو هغه په دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دے. وَفِی السَّمَآءِ رِزْقُکُمْ الخ، یعنی د اسمان نه دَ رحمت باران نازلوی چه هغې سره مختلف قسمه رزق پیدا کوی. وَمَا تُوْعَدُوْنَ ۝: یعنې ملائی هم د اسمان نه راغورځیږی. فَوَرَبِّ السَّمَآءِ (الاٰیة): دَ زمکے او اسمان په رَب باندې قسم، حشر او نشر هم دغه شان حق دی څنګه چه تاسو خبرے کوئ او دَ خلے نه الفاظ راوُباسئ. دغسے به تاسو هم دَ قبرونو نه راوبیستلی شئ. قَالَ الشیخ رحمه الله تعالیٰ. یا مطلب دا دے چه دَ خبرو په وخت تاسو څنګه دا یقین کوئ چه تاسو خبرے کوئ دغه شان حشر او نشر هم یقینی او قطعی دے:

کما انه لا شك لکم فی انکم تنطقون ینبغی ان لا تشکوا فی تحقق ذٰلك. (بیضاوی)

۱۴ هَلْ اَتٰىكَ – تا – الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ ۝: دا دَ تخویف دُنیوی دَ پنځو نمونو نه اَولنۍ نمونه ده. اَصل نمونه خو دَ لوط علیه السلام دَ قوم دَ هلاکت ده او دَ دے نه مخکښې د حضرت ابراهیم علیه السلام قِصّه دَ هغې تمهید دے. ایا دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دَ مُعزّز میلمنو قصه تاسو ته نۀ ده رارسیدلے؟ دا عزتمند میلمانۀ فرښتے وے چه دَ ښکلی ځوانانو په شکل کښې هغوئ تراغلل. اِذْ دَخَلُوْا (الاٰیة): کله چه دغه میلمانۀ حضرت ابراهیم علیه السلام ته راورسیدل نو سلام ئې اوکړو. دوئ هم دَ سلام جواب ورکړو او په زړۀ کښې ئې ووئیل چه نا اشنا خلق دی، پته نۀ لګی چه څوك دی؟ خیال ئې اوکړو چه اول خو دَ دوی دَ میلمستیا خوراك، څښاك انتظام کول پکار دی. روستو به ئې بیا نیښه پته معلومه کړم. فَرَاغَ اِلٰٓی اَهْلِهٖ الخ، نو فوراً ئې کور ته تشریف یوړو او ډیر زر ئې یو خوړب او تازه سخے وریت کړو او حاضر ئې کړو، د هغوی مخے ته ئې کیښودو. خو کله چه ئې ولیدل چه هغوی خوراك دپاره هغې ته لاس نۀ وړاندې کوی نو ورته ئې فرمائیل، تاسو وَلے خوراك نکوئ؟ او اُویرېدۀ هم څکه چه د هغه زمانے دا دستور وُو چه چا به یو سړی ته نقصان رسول غوښتل بیا به ئې تری څۀ غلا کوله نو دَ هغۀ دَ کور ډوډۍ به ئې نۀ خوړله دپاره دَ دے

چه نمك حرامي اُونشي - حضرت ابراهيم عليه السلام پوهه شو چه شايد دُغه نقصان په اراده سره راغلي وي - حضرت ابراهيم عليه السلام دَدومره لوئے شان باوجود هم په غيبو باندې عالِم نۀ وُو تر څو چه ورته فرشتو ونۀ ويل نۀ وُو چه مونږ د الله تعالیٰ فرشتې يُو او ورے سره ئے د يُو پوهے او علم والا ځوي زيرے هم ورکړو - دا ځوئے حضرت اسحاق عليه السلام دے -

۲۹ فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ : صَرَّةٍ : کريکه ، چغه ، اُوچت اَواز - کله چه دا خوشخبري حضرت ساره عليها السلام واوريدله نو يُو کريکه ئے اُووهله او دَ تعجب نه ئے دَلاس گوتے په خُلۀ کښې کيخودلے چه څۀ مره شوم ، څۀ بُوډئ شوے اوشنړه يم ، څنګه به مِ ماشوم پيدا شي ؟ يٰوَيْلَتٰىٓ ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ وَّهٰذَا بَعْلِيْ شَيْخًا - ضربت باطراف اصابعها جبهتها فعل التعجب - (مدارک ج ۴ ص ۱۴۱)

شيعه گان جاهلان دَدے نه ماتم ثابتوي چه سراسر جهالت او حماقت دے. دَ شيعه گانو ماتم (څان او سينه وهل) دَحضرت ساره رضي الله عنها دَدے فعل سره هيڅ تعلق هم نۀ لري - ماتم په مړي باندې دغم دَ اظهار دپاره کولے شي ليکن دحضرت ساره رضي الله عنها فعل دَ ځوي خوشخبري اَوريدلو سره دَ تعجب دَ اظهار دپاره وُو -

دغه شان په ماتم کښې مخ او سينه وهلے شي ليکن هغے دَ ښځو دعادت موافق لاس په تيزئ سره په خُلۀ باندې کيښودو او تعجب کړے وُو -

قَالُوْا كَذٰلِكِ (الاٰیة) : فرشتوئے مور بي بي ته جواب ورکړو - بي بي ! ستا رَب همدا رنګے فرمائيلي دي چه هم په دے حالت کښې به ستا ځوئے پيدا کيږي ، هغه ډېر لويو حکمتونو مالك او په ټول هر څۀ خبردار دے. هغه دَ بُوډا خاوند نه يُوے بُوډئ له ځوئے ورکولے شي ، دا هغۀ ته هيڅ ګرانه نۀ ده ؞

الحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات ؞

۲۶ شعبان المعظم ۱۴۲۸ھ
۹ ستمبر ۲۰۰۷ء



قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٣١﴾ قَالُوْۤا

وے وئیل نو بیا څه مطلب دے ستاسو اے لیږلے شوؤ. هغوئ او وئیل

اِنَّاۤ اُرْسِلْنَاۤ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِیْنَ ﴿٣٢﴾ لِنُرْسِلَ

مونږ لیږلے یو په یو ګنهګار قوم باندے چه راپریږدو

عَلَیْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِیْنٍ ﴿٣٣﴾ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ

په هغوی باندے کاڼری د خټے. چه نښے کړے شویدی له طرفه

رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِیْنَ ﴿٣٤﴾ فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ

د رب ستا د حدنه وتونکو دپاره. بیا مونږ بچ او ویستل څوک چه وو

فِیْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِیْهَا

هلته مؤمنان پس او نه موندل مونږ هغه ځائے

غَیْرَ بَیْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِیْهَاۤ

سیوا د یو کور نه مسلمانان او باقی پریخودله مونږ په هغے کښ

اٰیَةً لِّلَّذِیْنَ یَخَافُوْنَ الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ ﴿٣٧﴾

نښه د هغه خلقو دپاره څوک چه ویریږی د عذاب دردناک نه هم

وَفِیْ مُوْسٰۤى اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى فِرْعَوْنَ

او لا نښه ده د موسٰی په حال کښ کله چه اولیږه مونږ هغه فرعون ته

بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ

ښکاره دلیل سره پس هغه مخ واړولو په خپل زور طاقت سره او وے وئیل

سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٣٩﴾ فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ

جادوګر دے یا لیونے نو مونږ اونیولو هغه او د هغه لښکر

فَنَبَذْنٰهُمْ فِی الْیَمِّ وَهُوَ مُلِیْمٌ ﴿٤٠﴾ وَفِیْ

پس اوغورځولو مونږ هغه په دریاب کښ او هغه ملامت کړ شوے وو. او نښه ده په

عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ﴿۴۱﴾

عادیانو کښې ۳۵ کله چه مونږ اولیږله په هغوی باندې هوا د خیر نه خالي ۳۶ .

مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ اِلَّا جَعَلَتْهُ

نه ئې پریخودو هیڅ څیز چه په هغې به تیریدله لیکن هغه به ئې گرځوله

كَالرَّمِيْمِ ﴿۴۲﴾

لکه واښه زړیدلے تکړے تکړے .

نکات ۳۵ د تخویف دنیوی دویمه نمونه ۱۲ ۳۶ د تخویف دنیوی دریمه نمونه ۱۲ .

موضح قرآن ۳۵ نښه ده په عادیانو کښې یعنې د عادیانو په هلاکیدلو کښې ۱۲ .

فتح الرحمٰن ۳۵ یعنې نښې د هغه کانړو د باران موجود دي ۱۲ .

تفسیر ۳۴ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ . اوس حضرت ابراهیم علیه السلام تپوس اوکړو اے د الله لیږلے شوو تاسو کوم مقصد د پاره لیږلے شوے یئ ؟ قَالُوْۤا اِنَّاۤ اُرْسِلْنَاۤ الخ وے وئیل مونږ د یو مجرم قوم (قوم د لوط) طرف ته لیږلے شوی یو د دے د پاره چه په هغوی کښې د حدود نه تجاوز کونکو باندې د خټې نه پخ کړے شوو خښتو باران اوورووو چه په هغې به د دوی نومونه لیکلے شوے وو او د دغه شان پد ے طریقه هغوی د زمکے د مخ نه ختم کړو مسومة معلمة علی کل واحد منها اسم من یهلك به (مظهری ج ۹ ص ۸۲)

۳۵ فَاَخْرَجْنَا الخ ، د عذاب نازلیدلو نه مخکښې مونږ د لوط د قوم د کلونه مؤمنان بهر ته اوویستل . فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا الاٰیة د دے کلو مسلمانان څومره وو ؟ سیوا د یو کور د مسلمانانو نه هیڅ یو مسلمان هلته مونږ اونه موندلو او هغه هم د لوط علیه السلام کور وو . وَتَرَكْنَا فِيْهَاۤ اٰيَةً الاٰیة کوم خلق چه د الله د دردناک عذاب نه ویریږي او د عذاب اثار او علامات لیدلو سره عبرت حاصلوی هغوی د پاره د لوط د قوم هلاک شوو کلو کښې د عذاب څینے نښے مونږ باقي پریخودلے د دے د پاره چه خلق د هغے نه عبرت حاصل کړي . د نښے نه مراد هغه کانړي دي کوم چه په هغوی ورولے شوي وو یا د تور رنګ بدبویه لړونکے اوبه مراد دي چه په هغه کلو کښې خورے شوي دي (ابن کثیر ، مظهري) یا مطلب دا دے چه مونږ دا دردناک عذاب د ویره وونکو د پاره د عبرت او نصیحت علامه اوګرځوله - (خازن و معالم)

ؐله وفی موسٰی الخ دا دَ تخویف دنیوی دویمه نمونه ده او فیها باندے معطوف دے ای وترکنا فی موسٰی اٰیةً (روح، مدارک) دَ موسٰی علیه السلام قصه مونږ دَ عبرت او نصیحت سامان اوګرځوله کله چه مونږ هغه فرعون ته واضح دلائلو او غالب معجزات سره اولیږه نو هغه دَ خپل مملکت اراکین او دَ خپل لوئے لښکر سره انکار اوکړو او اعراض ئے اوکړو او موسٰی علیه السلام ته ئے جادوګر او لیونے وئیل شروع کړل. معجزات او دَ عادت خلاف کارونه ئے اولیدل وے وئیل دا خو جادوګر دے او کله چه ئے دَ توحید او حشر نشر خبرے واوریدلے چه دَ هغه دَ عقل ناقص نه پورته وے نو هغه ئے مجنون اوګرځولو (مظهری). فَاَخَذْنٰهُ الاٰیة. نو مونږ او دَ هغه دَ حکومت اهل کاره او دَ هغه لښکر او ټیوه په دریاب کښ ے غرق کړل فرعون دَ خپل کبر او غرور او عناد دَ وجے نه دَ ملامتیا قابل وو او دَ مذمت قابل وو نو هغه ته په دُنیا کښ هم دَ هغے سزا ملاؤ شوه.

ؑله وَفِیْ عَادٍ. دا دَ تخویف دنیوی دریمه نمونه ده او په تیر شوے معطوف علیه باندے معطوف دے دَ قوم عاد هلاکت هم مونږ دَ عبرت نښه اوګرځوله کله چه مونږ په هغوئ باندے یوه هوا مسلط کړه چه دَ هر قسم خیر او برکت او دَ هر قسم نفع نه خالی وه او دومره تنده او تیزه وه چه په کوم څیز باندے به تیره شوه نو هغه به ئے ریزه ریزه کړو.

وَفِیْ ثَمُوْدَ اِذْ قِیْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰی

او نښه ده په ثمود یانو کښ ؑله کله چه اوو ئیلے شو هغوی ته نفع واخلئ تر یو

حِیْنٍ ﴿۴۳﴾ فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ

وخت پورے. بیا ئے سرکشي اوکړه دَ خپل رب دَ حکم نه پس اونیول هغوئ

الصّٰعِقَةُ وَهُمْ یَنْظُرُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوْا

تندر او هغوی کتل. بیا دَ هغوئ طاقت نه وو

مِنْ قِیَامٍ وَّمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِیْنَ ﴿۴۵﴾ وَقَوْمَ

چه پاڅي او نه وو چه بدله واخلي. او هلاک کړل مونږ قوم

نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِیْنَ ﴿۴۶﴾ ع ۲

دَ نوح قوم دَ دوی نه مخکښ. بیشکه هغوئ وو خلق نافرمان.

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿۴۷﴾

او جوړ کړے مونږ آسمان د قدرت په لاسونو خپلو او هر شئ حٔمونږ په قدرت کښې دے

وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿۴۸﴾

او زمکه مونږ غوړولے ده نو ښه غوړوونکي یو مونږ .

وَمِنْ كُلِّ شَیْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ

او د هر څیز جوړے مونږ جوړے کړیدي

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ؕ

دے د پاره چه تاسو پند واخلئ فتد . پس او تښتئ د الله طرف ته ځله ،

اِنِّیْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾ وَلَا تَجْعَلُوْا

زه د هغه نه طرف ښکاره ویروونکے یم تاسو له او مه کرځوئ

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ؕ اِنِّیْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ

د الله سره بل خوک معبود . زه د هغه نه طرف ویروونکے یم تاسو

مُّبِيْنٌ ﴿۵۱﴾ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

له ښکاره . دغه شان د هغوئ نه مخکښې خلقو ته

مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾

رسول راغے هغه ته نے دا او وئیل چه جادوګر دے یا لیونے .

اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾

آیا دے وصیت کوئو سره مرګ دی یو بل ته (داسے نه ده) بلکه دا خلق سرکش دی .

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ وَّذَكِّرْ

پس ته مخ واړوه له دوی نه او س په تا ملامتیا نشته . او نصیحت کوه

فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾

ځکه چه یو هول په کار راځی مؤمنانو ته .

نکات: ۱ ځلورمه نمونه ۱۲۔ ۲ پنځمه نمونه ۱۲ ۳ دَ سورت په دعوی باندے عقلی دلیل ۱۲ ۴ دَ توحید بیان علی سبیل الترقی ۱۲۔ ۵ شکوی سره دَ تسلئ نه ۱۲۔

فتح الرحمٰن | ۱ یعنی اعلیٰ او ادنیٰ ۱۲۔

تفسیر | ۴۳ وَفِیْ ثَمُوْدَ۔ دا دَ تخویف دنیوی ځلورمه نمونه ده دَ قوم ثمود تباهی هم عبرتناکه وه کله چه هغوئ ته او وئیلے شو چه دَ الله دَ نعمتونو نه پټول عمر فائده واخلئ او دَ الله دَ پیغمبر خبره او منئ لیکن هغوئ دَ الله دَ حکم نه سرکشی اوکړه نو هغوئ کتل چه یو خوفناک آواز اوتندر هغوئ اونیول او هغوئ دَ هغے په مخکښ لږ ساعت هم او نهٔ دریدل او دَ هغے نه ئے خپل ځانونه بیچ نکړے شول او نهٔ ئے دَ عذاب مقابله اوکړه۔

۴۶ وَقَوْمَ نُوْحٍ الآیة، دا دَ تخویف دنیوی پنځمه نمونه ده قوم نوح دَ مقدر فعل مفعول دے ای اهلکنا قوم نوح (مظهری ج ۹ ص ۸۹) او دَ دے ټولو سرکش قومونو نه مخکښ مونږ دَ نوح قوم هلاک کړو هغه خلق هم سرکش وو او دَ خدائے باغیان او نافرمان وو۔

۴۷ وَالسَّمَآءَ ـــــ نه تر ـــــ تَذَكَّرُوْنَ، دَ تخویف دنیوی پنځه نمونو ذکر کولو نه روستو دَ سورت په دعوی باندے دویم عقلی دلیل دے۔ اَیْدٍ طاقت او قوت مُوْسِعُوْنَ قادرون (مدارک) مونږ آسمان خپل قدرت او قوت سره پیدا کړے دے او ځمونږ قدرت په هر څه احاطه کوونکے دے زمکه مونږ دَ فرش په شان هموار کړخولے ده۔ څوک دے چه دا کار ځمونږ نه په ښه طریقه سرته اورسوی؟ مونږ هر څیز جوړه پیدا کړے دے۔ حیوانات کښ نر ښځه، او باقی څیزونو کښ مختلف قسم انواع مثلاً د رنګ او خوند او بوئ قسمونه، میوو او غلو او سبزیانو کښ مختلف اجناس۔ لیس المراد تعیین تعدد التثنیة بل المراد اصناف المخلوقات یعنی خلقنا من کل شیٔ اصناف ذات عدد فوق الواحد (مظهری ج ۹ ص ۸۹)۔ دا ټول هر څه ئے دَ دے دَ پاره اوکړل چه تاسو عبرت حاصل کړئ۔ په عجائب المخلوقات کښ غور اوکړئ او خپل خالق او معبود حقیقی او پیژنئ او دَ هغهٔ په قدرت کامله او پټ حکمت باندے ایمان راوړئ کوم قادر مطلق چه دا ټول هر څه پیدا کړیدی هغه دَ مړو دوباره ژوندی کولو باندے هم قادر دے۔

۵۰ فَفِرُّوْا اِلَی اللّٰهِ، دا دَ توحید بیان دے علی سبیل الترقی۔ په پورتنو دلائلو کښ غور فکر اوکړئ او دَ الله طرف ته منډه کړئ یعنی شک پریږدئ دَ الله توحید او منئ دَ کفر او انکار نه منع شئ دَ شیطان اطاعت پریږدئ په الله ایمان راوړئ او دَ هغه دَ احکامو تعمیل اوکړئ۔ ای من الشرک

الى الايمان بالله اومن طاعة الشيطان الى طاعة الرحمٰن (مدارك ج ۴ ص ۱۴۳). زه د الله له طرفه ښکاره بیانوونکے او د هغهٔ د عذاب نه ویروونکے یم. ولا تجعلوا مع الله الاٰیة د الله سره د خپل ځان نه جوړ شوی معبودان مهٔ شریکوئ او په حاجتونو کښې د الله نه سیوا هیڅوک مهٔ رابلئ زهٔ د الله له طرفه ښکاره ویروونکے یم او هره خبره واضح او ښکاره بیانوونکے یم.

۵۵ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الخ دا په مشرکانو باندې شکوې ده او نبي علیه السلام ته تسلي ده د مشرکانو همیشه دا طریقه پاتې شویده چه کله هم هغوئ ته پیغمبر راشي نو هغهٔ ته جادوګر او لیونے وئیل شروع کړي.

اَتَوَاصَوْا بِهٖ الخ آیا د تیر شوي زمانے مشرکانو خپلو نسلونو ته دا وصیت کړیدے او تللي دي چه هغوئ هر پیغمبر ته دے القاب سره یاد کړے دے؟

داسې نه ده بلکه تیر شوي نسلونه پخپله سرکش او باغیان دي او د خپل باطني خباثت او ناپاکئ د وجې نه دا شان غبث او بیهوده خبرے کوي. فَتَوَلَّ عَنْهُمْ. تاسو د دوئ د خبرو پرواه مهٔ کوئ او د دوئ نه اعراض اوکړئ په تاسو باندې هیڅ ملامتیا نشته ځکه چه تاسو د هغوئ د پوهولو او د وعظ او تبلیغ حق ادا کړے دے او په هغوئ باندې موحجت خداوندي قائم کړیدے. لیکن مؤمنانو ته وعظ نصیحت کوئ ځکه چه دے سره هغوئ ته ډیره فائده کیږي دے سره د هغوئ ایمان تازه او یقین محکم کړئ.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾

او ما چه کوم پیریان او انسانان پیدا کړي دي قله نو د عبادت د پاره.

مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ اُرِيْدُ

زهٔ نهٔ غواړم د هغوئ نه خوراک او نه غواړم

اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿۵۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ

چه ما ته خوراک څښاک راکړي. بیشکه الله دے روزي ورکوونکے ۵۸

ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ﴿۵۸﴾ فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

طاقتور مضبوط دے. پس د دے ګنهګارانو د پاره هم حصه ده

ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۵۹﴾

۵۹ (عذاب) لکه چه حصه د (عذاب) وه د هغوی د ملګرو او س دې تلوار نه کوي څما نه.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ يَّوْمِهِمُ
پس هلاکت دے انکار کوونکو دپاره د هغې ورځې نه

الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٦٠﴾ ع ۳ ۱۲ ۲
د کوم چه هغوی سره وعده شوې ده.

نکات ے علت د ماقبل دپاره ۱۲. ے تخویف ۱۲.

فتح الرحمٰن ے مترجم وائي یعنی انسانان غلام نوکر د دے دپاره نیسی چه د هغوئ سره د خوراک څښاک په څیزونو کښې امداد اوکړي په خلاف د الله (چه هغه داسے نه دے) والله اعلم ۱۲.

تفسیر ۱ه دا د ماقبل علت دے یعنی هغوئ ته پند نصیحت کول او د توحید دعوت ورکول د دے دپاره دے چه هغوئ او د هغوی نه علاوه پیریان ما صرف د دے دپاره پیدا کړیدی چه هغوئ ځما بندګي او اطاعت اوکړي او ځما په عبادت او رابللو کښې ځما سره څوک شریک نکړي د هغوئ په پیدا کولو کښې ځما کوم ذاتي فائده نه وه. ما ارید منهم، د هغوئ د پیدا کولو نه ځما مقصد دا نه وو چه زه د رزق په حاصلولو کښې او معاشي کسب کولو کښې د هغوی نه امداد حاصل کړم څنګه چه د دنیا د مالکانو دستور دے زه خو د رزق او معاش نه بے پرواه یم (کشاف، بحر) یا مطلب دا دے چه ما هغوئ د دے دپاره نه دي پیدا کړي چه هغوئ د خپل ځان او ځما د نورو مخلوق د رزق او معاش انتظام اوکړي بلکه هغوئ ما د خپل عبادت دپاره پیدا کړیدی او د مخلوق د رزق کفیل او ذمه وار خو زه پخپله یم. د دے صورت کښې به مضاف محذوف وي. ای یطعموا عبیدي (ابن کثیر، خازن).

ته اِنَّ اللّٰهَ الاٰیۃ. الله تعالیٰ پخپله د ټول مخلوق رازق او د ټولو د روزئ ذمه وار دے هغه د لوئے قوت مالک او صاحب د اقتدار دے د ټول مخلوق د رزق ذمه واري د هغه دپاره معمولي خبره ده.

ته فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ الاٰیۃ دا تخویف دنیوی دے د مکے دے ظالمانو او مشرکانو دپاره د عذاب یوه حصه خاص کړے شوې ده څنګه چه د تیر شوو قومونو د دوئ پشان ظالمانو ته د عذاب حصه اوځکولے شوه د دے وجے نه دوئ د تلوار نه کوی د دوئ د حصے عذاب به دوئ ته ملاویږي د عذاب د مقرر وخت د راتللو انتظار دے. فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا الاٰیۃ

دَ کوټے ورځ دَ عذاب وعده چه دے کافرانو سره شوېده هغه ورځ به دَ دوئ دَپاره ډیره زیاته دَ هلاکت او دَ دوئ دَ تباهئ او بربادئ ورځ وی دے ورځ نه دَ جنګ بدر ورځ مراد ده چه په هغې کښ دَ کفر او دَ شرک سردارانو دَ یو موقې او بے اسلحے مسلمانانو په لاس دَ قتل او قید دَ ذلت نه دَ ډک عذاب مزه اوڅکله. یا دَ دینه دَ قیامت ورځ مراد ده (بحر، خازن) دے صورت کښ به دا تخویف أخروی وی یعنی په آخرت کښ دَ موجوده او تیر شوو ظالمانو او سرکشانو دَپاره یو شان عذاب دے. دَ دے وجے نه هغوئ دِ تلوار نهٔ کوی دَ قیامت په ورځ به ټول مخکینی او روستنی مشرکان او ظالمان دَ عذاب مزه څکی. هغه ورځ به دَ دوئ دَ هلاکت او تباهئ ورځ وی.

سورۂ الذاریات کښ دَ توحید آیت

۱۔ ولا تجعلوا مع اللّٰه الٰهًا آخر. نفی دَ شرک دَ هر قسم شرک نه.

---

۱ سورة الطور

ربط سورة الذاریات کښې ئے فرمائیلی وو ان الدین لواقع. یعنی جزاء اوسزاء به ضرور وی اوس په سورة الطور کښې ئے په طور د ترقئ اُوفرمائیل ان عذاب ربك لواقع ٥ ماله من دافع ٥ منکرینو باندے به د قیامت په ورځ عذاب واقع وی او د الله عذاب جزاء اوسزاء هیڅوک نهٔ شی منع کولے او نهٔ په څوک د هغې نه په تیښته ځان خلاص کړے شی.

خلاصه د سورت په دعوی باندے دوه عقلی دلیلونه او دوه نقلی دلیلونه (یو موسٰی علیه السلام سره اویو تیر شوی کتابونو سره) او یو دلیل وحی په مینځ کښې او په آخر کښې د نبی علیه السلام د پاره تسلّی. باقی تخویف، بشارتونه او زجرونه.

تفصیل وَالطُّوْرِ، دا اشاره ده دلیل نقلی طرف ته یعنی کوه طور ګواه دے چرته چه په موسٰی علیه السلام وحی نازله شوه وَكِتٰبٍ مسطور، دا دلیل نقلی دے تیر شوو کتابونو سره یعنی تیر شوی کتابونه هم ګواه دی چه جزاء اوسزاء به واقع کیږی او څوک هغې لره منع کوونکے نشته وَالْبَیْتِ الْمَعْمُوْرِ، دا دلیل وحی طرف ته اشاره ده. بیت معمور چرته چه نبی علیه السلام باندے وحی نازله شوے وه هغه هم ګواه دے هلته په هغهٔ باندے دا حکم نازل شوے وو. والسقف المرفوع، دا اولنے دلیل عقلی دے د اُوچت کړے شوی اسمان د احاطے نه تاسو نهٔ شئ وتلے سمندر تاسو د هرطرف نه بند کړی یئ او ستاسو نه چاپیره شوے دے. دغه شان تاسو د الله د قدرت د احاطے نه بهر ته نهٔ شئ وتلے او د سمندر پشان به د الله عذاب تاسو د هرطرف نه راګیر کړی. دغه شان انّ عذاب ربك تا دافع، دا جواب قسم دے او پورتنی ذکر شوی پنځه ګواهان دی چه جزاء اوسزاء به ضرور واقع کیږی او هغه هیڅوک هم نهٔ شی بندولے. یوم تمور السماء تا ما کنتم تعملون ٥ دا د جزاء اوسزاء نه د یو شق (حصے) یعنی تخویف اُخروی بیان دے کومه ورځ چه به آسمان حرکت اُوکړی اُوخوزیږی او غرونه د خپل ځائے نه روان شی هغه به د دروغژنو د پاره د هلاکت ورځ وی چا چه خپل ټول عمرونه په عبث او بیهوده لوبو توقوکښې تیر کړی وی. دغه ورځ به هغوئ جهنم ته اُوغورځولے شی او هغوئ ته به اُوئیلے شی. دا هغه جهنم دے کوم چه تاسو نهٔ منلو. آیا دا هم جادو دے؟ آیا دا هم تاسو نهٔ لیدلو

ځکه چه تاسو په دُنیا کښې حق ته جادو اُوئیلو اوډ واضح دلائیلو لیدلو باوجود هم تاسو اُوئیل موتږ ته خو هیڅ په نظر نهٔ راځي. اُوس صبر کوئ یا بے صبری کوئ ډ خپلو عملونو سزاء به څکئ.

ان المتقین ــــ تا ــــ هو البر الرحیم (ع۱) ډجزاء او سزاء دویمه حصه یعنی ډ بشارت اُخروی بیان دے. ډ شرک نه ځان ساتونکی به په جنت کښې نعمتونو کښې خوشحال او تازه وی او ډ عذاب نه به په امن کښې وی هر قسم ډ خوراک او څښاک څیزونه به حاضروی په تختونو باندے به آرام کوی ډ جنت حورے به ډ هغوئ سره یو ځائے وی او محبت کوونکی به وی ډ اُوچتے درجے والا مؤمنانو سره به ډ هغوئ ډ کمے درجے والا اولاد څوک چه مؤمنان وی ډ پلرونو او نیکونو سره په اُوچتو درجو کښې ځائے ورکولے شی. هر قسم میوے او هر قسم غوښه به ورکولے شی ډ پاکو شرابو پیالئ او جامونه به په هغوئ کرځولے شی ډ ریښتونو ملغلرو پشان خائسته او ښکلی خادمان به ډ هغوئ خدمت ته حاضروی. جنتیان به خپل مینځ کښې خبرے کوی چه مونږ سره خو ډیره زیاته خطره او ویره وه. لیکن الله خالص خپل فضل او احسان سره مونږ ډ جهنم ډ اُور (او عذاب) نه بچ اُوساتلو ځکه چه مونږ په دنیا کښې صرف دغه مُحسن او مهربان ته آوازکولو او هغهٔ سره مونږ هیڅوک نهٔ شریکولو دے ایت کښې ډ توحید بیان دے علی سبیل الترقی اوډ توحید ثمره ده.

فذکر فما انت. الایة. دا نبی علیه السلام ته تسلی ده تاسو په وعظ او نصیحت کښې معروف اُوسیږئ تاسو ډ الله ریښتونی رسول یئ ډ الله په مهربانئ سره نهٔ یئ مجنون. لکه عنادکوونکی وائی.

ام یقولون. الایة. دا شکوی ده. کله وائی چه هغه شاعر دے ښهٔ ده صبر کوئ اخر مرګ به ډ هغهٔ خاتمه اوکړی.

قل تربصوا. الایة. داډ شکوے جواب دے. تاسو هم انتظار کوئ زهٔ هم انتظار کوم تر دے ده چه ډ دواړو انجام ښکاره شی.

ام تامرهم. الایة. ډ پیغمبر علیه السلام په باره کښې چه هغوئ څهٔ وائی ډ هغے منشاء عقل او فهم نهٔ دے بلکه ډ هغوئ ډ سرکشئ او عناد نتیجه ده.

ام یقولون تقوله الایة. شکوی. کله وائی دائے ډ خپل ځان نه جوړکړے دے. فلیاتوا الایة. ډ شکوے جواب دے. که چرے هغوئ دے دعوی کښې ریښتونی دی نو هغوئ دِ هم دغه شان کلام جوړکړی اوراؤړِی.

ام خلقوا من غیر شیئ ــــ تا ــــ سحاب مرکوم دا زجرونه دی ډ مشرکانو مختلفو باطلو خیالاتو باندے هغوئ ته تنبیه ورکړے شویده

ایا هغوئ د څۀ مقصد نه بغیر پیدا کړے شویدی یا هغوئ پخپله خالق دی چه هغوئ د خالق حقیق عبادت نۀ کوی؟ یا هغوئ د زمکے او آسمان خالق دی چه د اصل خالق د عبادت نه اعراض کوی؟ ایا هغوئ د خدائے د خزانو مالک او نګران دی چه نبوت او رزق وغیره چا ته ورکول اوغواړی تو ورئے کړی؟ یا هغوئ ته آسمان ته ختلو سره د فرشتو کلام آوریدلو او غیبی اُمورو باندے علم حاصلولو سره قدرت حاصل دے او هغوئ غیب معلوم کړلو او راغلل چه محمد صلی الله علیه وسلم باندے به مخکښ مرګ راځی د هغوئ ته. د هغوئ د جهالت او بے وقوفئ دا حال دا دے چه پخپله خولونړه نۀ خوښوی لیکن فرشتو ته د خدائے لونړه وائی. ایا تاسو د هغوئ نه په تبلیغ باندے تنخوا غواړئ چه هغوئ د دے مالی بوجهه په وجے سره ستاسو تابعدارۍ نۀ کوی؟ ایا هغوئ په غیب عالمان دی چه دعوی کوی چه قیامت به نۀ راځی؟ آیا هغوئ د پیغمبر علیه السلام او د مسلمانانو خلاف منصوبے جوړه وی؟ یا دلرئ! د کافرانو منصوبے به پخپله په هغوئ باندے ورګرځولے شی. آیا د الله نه سیوا د هغوئ بل څوک اِلٰه (کارساز) شته دے؟ چه هغوئ د الله د عذاب نه خلاص کړی؟ د هغوئ سرکشی دے حد ته رسیدلے ده چه کۀ چرے د آسمان یوه ټکړه د عذاب په صورت کښ په هغوئ نازل کړے شی او هغه اُوینی نو وائی به چه دا عذاب نۀ دے بلکه د باران رحمت نه ډکه وریځ ده۔

فذرهم حتی یلقوا۔ تاسو د دے معاندینو نه اعراض اُوکړئ او د هغے ورځے انتظار اُوکړئ کله چه په هغوئ باندے بیهوشی راشی او د هغوئ هیڅ حیله به هغوئ د الله د عذاب نه خلاص نکړے شی او نۀ به د هغوئ امداد کوی۔

وَاِنَّ للذین ظلموا الآیة۔ دا تخویف دنیوی دے، دے ظالمانو او سرکشانو دپاره د هغے نه مخکښ هم دُنیا کښ عذاب دے۔

واصبر لحکم ربك الآیة۔ دا په آخر کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره دویم ځل د تسلئ ذکر دے تاسو د الله د حکم انتظار کوئ موتر ستاسو محافظ او نګهبان یُو او د ماښځه په وختونو کښ په تسبیح او حمد وئیلو کښ مصروف اُوسیږئ۔

سُوْرَةُ الطُّوْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة طور مکه کښې نازل شوې ده او په دې کښې یو کم پنځوس آیتونه او دوه رکوع گانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بخونکے مهربان دے.

وَالطُّوْرِ ۝۱ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ۝۲ فِيْ رَقٍّ

قسم دے په طور لره. او په کتاب لیکلے شوی. په پاڼړو

مَّنْشُوْرٍ ۝۳ وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ۝۴ وَالسَّقْفِ

خوړو کښې ف ۱ او په کور آباد کړے شوی باندے ف ۲ او په چت

الْمَرْفُوْعِ ۝۵ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ۝۶ اِنَّ

اوچت کړے شوی لره ف ۳. او په سیند جوش وهونکی (لوړ) باندے ف ۴ بیشکه

عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۝۷ مَّا لَهٗ مِنْ

عذاب د رب ستا لره واقع کیدونکے دے هغه څوک هم نشی

دَافِعٍ ۝۸ يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ۝۹

لرے کولے. کومه ورځ چه وخوځیږی آسمان په خوزیدلو سره ف ۵.

وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ۝۱۰ فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

او روان شی غرونه روانیدلو سره. پس خرابی (تباهی) ده دغه ورځ باندے

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝۱۱ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ

دروغ گڼړونکو لره. چه په (بیکاره) خبرو کښې

يَّلْعَبُوْنَ ۝۱۲ يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ

لوبے (مشغولیت) کوی. کومه ورځ چه تیله وهلے به شی دوی دوزخ ته

دَعًّا ۝۱۳ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا

په تیله وهلو سره ف ۶. دا دے هغه اور چه تاسو

تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ

دروغ گڼړلو - آیا اوس دا جادو دے یا تاسو

لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا

نه وینئ - ننوځئ دېته پس صبر کوئ یا نه

تَصْبِرُوْا ۚ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ

کوئ برابر دے تاسو ته د هغه بدله به بیا موندئ

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾

کوم چه تاسو کول -

نکات: سله د سورت په دعوی باندے دا اوّلنے دلیل نقلی دے ۱۲-
سله دویم دلیل نقلی - سله دلیل وحی ۱۲ - سکه اوّلنے عقلی دلیل ۱۲-
سه دویم عقلی دلیل ۱۲ - سله تخویف اُخروی (د آخرت د عذاب ته ویره ول) -

موضح قرآن ف له ښائی دا ئے لوح محفوظ ته وئیلی دے ۱۲ منه ۲۷ -
ف ۲ له ښائی چه دے ته کعبه مراد ده یا اُوم آسمان دپاسه (د کعبے په محاذات) د فرشتو کعبه ده د طواف کولو د پاره ۱۲ منه ۲۷ -
ف ۳ یعنی په آسمان باندے ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ - ف ۴ د آسمان د پاسه (د عرش د لاندے) یو دریاب دے ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ -

فتح الرحمٰن ف له یعنی په تورات یا قرآن کښ ۱۲-
ف ۲ له یعنی آسمان ۱۲-

تفسیر: ۲ له دا د سورت په دعوی باندے اولنے دلیل نقلی دے موسیٰ علیه السلام سره یعنی کوه طور هم گواه دے چه حشر، نشر، جزاء او سزاء حق ده چرته چه په موسیٰ علیه السلام باندے وحی نازل شوے وه چه اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِیَةٌ اَكَادُ اُخْفِیْهَا لِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعٰی (طٰهٰ ۱) دا د قبیلے د ذکر د مکان ته او مراد مکین دے -
وكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ فِیْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ، دا دویم نقلی دلیل دے تیر شوؤ کتابونو سره. رَقٍّ، باریکه او ترئ څرمن وغیره، په کوم چه هغه لیکلے شی یعنی تیر شوی کتابونه هم گواه دی چه جزاء او سزاء به واقع وی ځکه چه په هغے کښ هم دا مضمون نازل کړے شوید ے. وَالْبَیْتِ الْمَعْمُوْرِ، دا دلیل وحی دے

بیت المعمور په اوم آسمان باندې د خانه کعبې په مقابل د فرښتو عبادتخانه ده چه هلته هره ورځ اویا زره فرښتې عبادت د پاره راځي چه یوځل راشي بیا د قیامت ترورځې پورې د هغوئ نمبر نه راځي (صحیحین) یعنی بیت الله هم ګواه دې چرته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې وحي نازل شوې وه یعنی بیت المعمور کښ هم دا حکم شوې وو.
۳ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ o دا اولنی عقلي دلیل دې او د سقف مرفوع نه اوچت آسمان مراد دې یعنی اوچت آسمان چه تاسو ټولو باندې ئې احاطه کړې ده هغه هم ګواه دې چه تاسو د احاطې نه نشئ وتلې او نشئ تښتیدلې- تائید: یٰمعشر الجن والانس ان استطعتم ان تنفذوا من اقطار السمٰوٰت والارض فانفذوا ط لا تنفذون الا بسلطان o (۳۳) وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ دا دویم دلیل عقلي دې. اَلْمَسْجُوْرِ د اوبو نه ډک کړې شوې قال قتادة البحر المسجور المملوء وهذا معروف من اللغة رجحه الطبري (طبري، بحر) دا د اوبو نه ډک سمندر هم ګواه دې چه لکه څنګه هغه تاسو باندې د هر طرف نه احاطه کړې ده. دغه شان به د قیامت په ورځ د الله عذاب تاسو د هر طرف نه راګیر کړي یئ.
۴ اِنَّ عَذَابَ، دا د ذکر شوو د پنځو شواهدو (ګواهانو) په صورت د قسمونو جواب دې یعنی د حشر او نشر نه روستو به جزاء او سزاء هم وي او د الله د عذاب نه به څوک تښتیدلې هم نشي او نه به څوک د چا نه عذاب لرې کولې شي.
۵ یَوْمَ تَمُوْرُ، دا تخویف اُخروي (د آخرت د عذاب نه ویرول) دی تمور، تدور، وتضطرب (ابن کثیر، روح) آسمان به اوچورلیږي او او به خوزیږي او بیا به ټکړې ټکړې شي په زمکه به را اوغورزیږي. یَوْمَ، فَوَیْلٌ روستو سره متعلق دې یعنی کله چه آسمان زرې زرې شي او راپریوځي او غرونه د خپل ځائې نه لرې شي د زمکې سره هموار شي دغه ورځ به د توحید، قیامت او د نورو اعتقاداتو دروغ ګنړونکو د پاره د هلاکت او تباهۍ ورځ وي چاچه خپل ژوند په عبث بیکاره او باطلو خبرو کښ ضائع کړو او همیشه د باطل په تائید او د حق دروغ ګنړلو کښ مشغول او لګیا وو.
۶ یَوْمَ یُدَعُّوْنَ، یُدَعُّوْنَ، هغوئ به دیکه کولې شي او غورځولې به شي یدفعون الیها بعنف (بیضاوي) هٰذِهِ النَّارُ نه مخکښ فیقال لهم مقدر دې (مدارک) په کومه ورځ چه به دروغ ګنړونکي په دیکو دیکو جهنم ته غورځولې شي هغه وخت به هغوئ ته وئیلې شي دا هغه جهنم دې چه څمونږ

پیغمبر علیه السلام به تاسو ته هغې ته ویرولئ. لیکن تاسو به هغه نه منلو. أَفَسِحْرٌ هَٰذَا - الآیة - اوس اوایئ ایا دا هم جادو دے او ستاسو نظرونه بند کړے شویدی چه د هغې په وجے سره تاسو ته دوزخ په نظر نهٔ راځی. لیکن په حقیقت کښ هیڅ هم نشته. ۹ ځکه چه په دنیا کښ تاسو د انبیاؤ علیهم السلام معجزاتو ته جادو وئیلے وو او نظر بندئ سره تاسو د هغې نه تعبیر کړے وو. ایا هم هغه شان به دا جهنم هم تاسو ته په نظر نهٔ راځی. ۹ ځکه چه په دُنیا کښ به تاسو دلائیل او معجزات لیدل او وئیل به مو چه موږ نهٔ ځو آورو او نهٔ ځو ویتو کنتم تقولون للوحی هذا سحرا فهذا المصداق ایضا سحر (ام انتم لا تبصرون) هذا ایضا کما کنتم لا تبصرون فی الدنیا ما یدل علیه وتقریع وتهکم (بیضاوی).

که اِصْلَوْهَا - الآیة - اوس صبر کوئ یا بے صبرئ سره چغې سورے وهئ ستاسو د پاره برابر ده دے سره به تاسو ته هیڅ فائده نهٔ رسیږی. اوس به ستاسو داخلیدل جهنم ته وی. دے کښ تاسو سره هیڅ زیاتے او بے انصافی اُونکړے شوه دا ستاسو د خپلو اعمالو یعنی کفر، شرک، عناد او د تکذیب سزاء ده کوم کښ چه تاسو ټول عمر مشغول وئ.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَاكِهِينَ

ځوک چه ویریدونکی دی هغوی به باغونو کښ ته دی او نعمتونو کښ میوے خوړونکی

بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ ۖ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ

کوم چه هغوی ته ورکړی دی د هغوی رب او بچ کړل هغوی رب د هغوی

عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا

د عذاب د دوزخ نه. خوری او څکئ په هضمیدو نکے

بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ سُرُرٍ

په بدله د هغه کارونو کوم چه تاسو کول. تکیه وهونکی به وی په تختو باندے

مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾

چه برابر به خواره شوی وی په قطار باندے او په نکاح به کړو مونږ هغوی ته حورے د غټو سترګو والا.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم

او کوم خلق چه یقین اوکړو ئه او د هغوئ پسې لاړه روان شول د هغوی اولاد

بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا

ایمان سره اورسول موبږ هغوی ته د هغوئ اولاد او نه کړل

أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ ۚ كُلُّ

کم موبږ د هغوی نه د هغوئ د عملونو نه یو ذره هم هر

امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾ وَأَمْدَدْنَاهُم

انسان په خپل کړو (عملونو) کښې اېښتې دے او موبږ به ویر ورلے اوکړو هغوی ته

بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَازَعُونَ

د میوو ئه او د غوښو کوم چه د هغوئ زړه غواړی. اخلی به یو د بل نه

فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾

هلته پیالئ (د شرابو) چه نه به په هغه شرابو کښې بیکاره وینا وی او نه به په گناه کښې غورځول وی.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ

او چاپیره به گرځی ئه د هغوی نه هلکان د هغوی لکه چه هغه

لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ

ملغلرے دي په پرده کښې ساتلے شوے. او مخ به اوکړو ځینے د هغوی نه ئه

عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوا إِنَّا كُنَّا

نورو ته یو بل نه به تپوس کوی وائی به موبږ وو

قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللَّهُ

د دینه مخکښې په خپلو کورونو کښې ویریدونکی. پس احسان اوکړو الله

عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾

په موبږ باندے او بچ ئې کړو موبږ د عذاب گرم نه .

نکات: ــلہ بشارت ۱۲۔

موضح قرآن ف ۱ د نیکانو او کاملانو اولاد ته دا فائده ده چه که چرې هغوئ ایمان راوړې او د هغوئ په لاره روان شي نو د هغوئ درجاتو ته به ئې اورسوي د کاملانو او نیکانو عملونه به دوئ باندې نه شي تقسیمولې لیکن د هغوئ د خوشحالولو د پاره به په دوئ باندې فضل او احسان وي او که چرې د کاملانو په لاره نه وي تللي نو د نورو خلقو پشان به وي ۱۲ منه رحمه. ف ۲ یعني د دوزخ لوږې او پراس هم مونږ ته اونه رسیدو ۱۲۔

تفسیر: ۸ اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ، دا بشارت (زیرے) دے د آخرت ترک او تکذیب نه او د الله د نافرمانئ نه د ځان ساتونکو به د جنت په باغونو کښې او په قسم قسم نعمتونو کښې ژوند تیرونکي وي۔
فٰكِهِیْنَ، د الله ورکړې شوې عزت او د الله بې انتهاء انعاماتو کښې به خوشحال او ترو تازه وي او د جهنم د عذاب نه به محفوظ وي. كُلُوْا وَاشْرَبُوْا، د دینه مخکښې یقال لهم مقدر دے هغوئ ته به وئیلې شي چه د جنت د خوراک څیزونو او د څکلو څیزونو نه چه خومره غواړئ خورئ او څکئ د دې ځائې هر څیز خوش هضمه او صحت ورکوونکے دے دا ستاسو د نیکو عملونو انعام دے. مُتَّكِئِیْنَ، دا د کلوا د ضمیر نه حال دے. حالٌ من الضمیر فی کلوا واشربوا (مدارک ج ۴ ص ۱۴۵) قطار په قطار به په تختونو باندې عزت اکرام، راحت او آرام سره تکیه لګوونکي وي. حُوْرٍ، د حَوْرَاءُ جمع ده یعني د داسې سترګو والا چه د هغې تور والې به خپل ځائې باندې او سپین والې په خپل ځائې ډیر زیات وي. عِیْنٍ، د عَیْنَاءُ جمع ده یعني د غټو سترګو والا یعني جنت کښې به مونږ داسې ښائسته او ښکلې حورې د هغوئ بیبیانې اوګرځوو. حاصل دا دے چه په جنت کښې به هغوئ ته هر قسم د خوند او مزې ژوند حاصل وي۔
۹ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الاٰیة. ما التناهم ای ما نقصنا هم (خازن، روح) یعني مونږ به نه کموو. کوم مؤمنان چه د خپل ایمان او عمل په وجې سره د جنت په اعلیٰ او اوچتو درجو کښې وي مونږ به د هغوئ اولاد چه په ایمان او عمل کښې د هغوئ تابعداري کوي لیکن د هغوئ مرتبې ته نه وي رسیدلې. مونږ به هغوئ ته هم د خپلو پلارانو نیکونو درجاتو کښې ځائې ورکړو. او د دې په وجه به د هغوئ د پلارانو او نیکونو په درجاتو کښې او مرتبه کښې هیڅ کمے نه کوو او نه به د هغوئ د کوم یو عمل ثواب کم کړو لیکن هر کافر به د خپلو مشرکانه عملونو په وجې سره په جهنم کښې

غوږ ځیں لے وی دَهغهٔ موږ پلار چه هرڅومره هم نیک او صالح وی مشرک او کافر اولاد ته دَ موږ پلار نیکی هیڅ فائده نهٔ ورکوی. کل امرئ کافر بما عمل من الشرك مرتهن فی النار (معالم ج ۶ ص ۲۵۱) قال الجمهور وابن عباس وابن جبیر وغیرهما ان المؤمنین الذین اتبعتهم ذریتهم فی الایمان یکونون فی مراتب ابائهم وان لم یکونوا فی التقوی والاعمال مثلهم کرامة لابائهم فبایمان متعلق بقوله واتبعتهم (بحر ج ۸ ص ۱۴۸) دَ بِاِیْمَانٍ وَاتَّبَعَتْهُمْ سره متعلق کیدلو تائید دَ دے آیت نه کیږی. وَمن صلح من ابائهم وازواجهم وذریتهم (مؤمن ۱۶)

۱۸ وَاَمْدَدْنٰهُمْ، دَ جنتیانو دَ پاره دَ زیاتو انعاماتو ذکر دے. دَ پورتنو ذکر شوو نعمتونو نه علاوه به موږ هغوئ ته دَ هغوئ دَخواهش او خوښئ میوے او مختلف قسم غوښے هم ورکړو او هلته به دَ پاکو صافو شرابو پیالئ او جامونه په هغوئ کرځولے شی. هغه شراب به دا سے پاک صاف وی چه دَ نشے او خراب خوند نه پاک او خالی وی او دَ هغے څکلو سره به هیڅ بے فائدے او لغوه خبره او څهٔ دَ ګناه څیز نهٔ ظاهر یږی لکه چه دَ دُنیا شراب دَ کړو وړو خبرو او دَ ګناه مجموعه (سر) وی ای لایکون فیها ما یؤثمهم ولا یجری بینهم ما فیه لغو واثم کما یجری بین شربة الخمر فی الدنیا (خازن ج ۶ ص ۲۵۱).

۱۹ وَیَطُوْفُ. الآیة. هلته به دَ هغوئ دَ خدمت دَ پاره داسے تو عمره هلکان موجود وی چه په حسن او جمال کښ به دَ صفا ملغلرو په شان وی کومے چه په پردو کښ پټے ساتلے شوی وی او دَ انسان لاس هم هغے ته نهٔ وی رسیدلے.

۲۰ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ، دا دَ جنتیانو خپل مینځ کښ خبرے دی چه دے سره به هغوئ دَ انعاماتو او احساناتو اقرار کوی او دَ هغهٔ دَ احساناتو شکر به ادا کوی. یَتَسَآءَلُوْنَ، خپل مینځ کښ به خبرے کوی او دَ دُنیا دَ ځینو حالاتو ذکر به کوی، هغوئ به وائی په دُنیا کښ خو موږ ډیر ویریدلو چه موږ ډیر ګناهګار یو دَ الله دَ عذاب نه به څنګه بچ شو. فَمَنَّ اللّٰهُ الآیة. لیکن الله تعالیٰ په موږ ګناهګارو باندے څومره لوئے احسان اوکړو چه محض په خپل رحمت سره ئے زمونږ ګناه معاف کړه او موږ ئے دَ جهنم دَ عذاب نه اوساتلو.

إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُ هُوَ

مونږ د مخکښې نه هغه رابللو لره ، بیشکه هغه دے

الْبَرُّ الرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَا أَنتَ بِنِعْمَتِ

نیک معامله کوونکے مهربان اوس ته نصیحت کوه چه ته نه په فضل

رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ

د رب خپل سره نه د پیریانو نه خبر اخستونکے او نه لیونے یې. آیا دوی وائی

شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ

دا شاعر دے هله مونږ انتظار کوو په ده بانډې حوادث د زمانې . ته اووایه

تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾

تاسو انتظار کوئ چه زه هم ستاسو سره انتظار کوونکے یم .

أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا ۚ أَمْ هُمْ

آیا د دوی عقلونه هغوی ته دا ښائی یا دوی

قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ۚ بَل

قوم دے سرکش یا دوی وائی دا قرآن ئې په خپله جوړ کړے دے هیڅ

لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن

(خبره) داسې نشته لیکن هغوی ایمان نه راوړی . پس پکار ده چه راوړی څه خبره د دې په شان که چرې

كَانُوا صَادِقِينَ ﴿٣٤﴾ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ

هغوی رښتونی دی . آیا هغوی پیدا شوی دی په خپله کله

شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ

یا هغه دے پیدا کوونکی دی . یا هغوی پیدا کړل آسمانونه

وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ

او زمکه هیڅ (کله) داسې نه ده بلکه هغوی یقین نه کوی. آیا هغوی سره دی

خَزَآئِنُ رَبِّكَ اَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ ﴿۳۷﴾

خزانے دَ رب ستا الله یا هغوی واکداران دی.

اَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ فَلْيَاْتِ

آیا هغوئ سره اندرپایه ده چه په هغے (ختیزی آسمان ته) اوریدل کوی نو پکار ده چه راوړی

مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ اَمْ لَهُ الْبَنٰتُ

کوم څیز چه آوری دَ هغے ته یو ښکاره دلیل سره. ۳ آیا هغه دپاره لونړه دی

وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۳۹﴾ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ

او ستا دپاره ځامن دی. آیا ته غواړے دَ هغوئ نه بدله نو په هغوئ باندے

مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۰﴾

تاوان بوج دے.

نکات: ۱ علت دے ماقبل دَ پاره دَ توحید بیان علیٰ سبیل الترقی او دَ توحید ثمره ۱۲. ۲ تسلی ده نبی علیه السلام دَ پاره ۱۲. ۳ شکوه ۱۲ ۴ جواب دَ شکوے ۱۲. ۵ شکوی ۱۲. ۶ جواب دَ شکوے ۱۲.

تفسیر: ۳ اِنَّا كُنَّا مِنْ. الآیة. دا دَ ماقبل دَ پاره علت دے او دَ توحید بیان دے علیٰ سبیل الترقی دَ تیر شوو سورتونو نه او دَ توحید ثمره ده یعنی الله تعالیٰ ځموږ ګناهونه معاف کړل او موږئے دَ جهنم نه اوساتلو دَ دے وجے نه چه موږ به په دنیا کښ حاجتونو او مصیبتونو کښ صرف هغهٔ ته آواز کولو او دَ هغهٔ سره په را بللو کښ موږ هیڅوک نهٔ شریکول. دا دَ عذاب نه محفوظ کیدلو او په توحید باندے دَ قائم پاتے کیدلو ثمره او نتیجه ده. بیشکه الله تعالیٰ ډیر لوئے محسن او مهربان دے.

۴ فَذَكِّرْ. الایة. دا نبی علیه السلام ته تسلی ده. وے فرمائیل تاسو دَ وعظ او تبلیغ سلسله جاری ساتئ او دَ مشرکانو کاهن او مجنون وئیلو سره تاسو خفګان مهٔ کوئ تاسو دَ الله مهربانئ سره نهٔ کاهن یئ او نهٔ مجنون، په تاسو دَ الله لوئے احسان دے او تاسو دَ الله رښتونی رسول یئ دَ دے وجے نه تاسو خپل منصبی فرائض سرته رسوئ.

۵ اَمْ يَقُوْلُوْنَ، دا شکوی ده. رَيْبَ الْمَنُوْنِ، دَ زمانے حوادث (خازن، مدارک)

معاندین خو کله وائي چه هغه شاعر دے ترڅو چه هغه ژوندے دے د هغهٔ د اشعارو ترقي ده او موږ د هغهٔ د مرګ انتظار کوونکي یو کله چه هغه سترګے پټے کړي او مړ شي نو دا ټوله لوبه ختمه شي. قُلْ تَرَبَّصُوْا. الآیة. دا جواب دے د شکوے تاسو او فرمایئي هاؤ! تاسو هم انتظار کوئ زهٔ هم انتظار کوم مرګ خو په ټولو راځي لیکن تاسو ته به معلومه شي چه د عزت مرګ به د چا وي او د ذلت او رسوائي مرګ به د چا په حصه کښ راځي. لکه چه دغه عناد ګرو د بدر په میدان کښ اولیدو آخر ذلت او رسوائي هغوئ د پاره مقدر وه (مظهری، خازن). اَمْ تَاْمُرُهُمْ. الآیة. مشرکانو د عقل او د پوهے دعوه کوونکي وو او ځان ته به ئے د عقل خاوندان وئیل. ام منقطعه دے په معنی د بل یعني ایا د هغوئ عقلونه هغوئ دے متضاد بیانونو باندے آماده کوي چه کله پیغمبر علیه السلام ته کاهن او کله مجنون او کله شاعر وائي. داسے نهٔ ده! بلکه دا خلق سرکشئ او عناد کښ د حد نه تیر شویدي او دا ټولے فضول خبرے د هغوئ د عناد او تکبر، سرکشئ او ظلم نه را پیدا شویدي.

۲ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ. دا هم شکوه ده کله وائي هغهٔ دا قرآن د ځان نه جوړ کړے دے. دا خبره نهٔ ده بلکه هغوئ چونکه ایمان نهٔ راوړي د دے وجے نه خالص د ضد او عناد په وجے سره داسے خبرے کوي. فلکفرهم وعنادهم یرمونه بهذه المطاعن مع علمهم ببطلان قولهم وانه لیس بمتقول لعجز العرب عنه (مدارك ج ۴ ص ۱۴۶). فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ. الآیة. دا د شکوے جواب دے که چرے هغوئ دے دعوی کښ رښتوني دي چه دا قرآن محمد (صلی الله علیه وسلم) د ځان نه جوړ کړیدے نو هغوئ دے هم دغه شان کتاب جوړ کړي. که چرے محمد صلی الله علیه وسلم خالص د اهلِ زبان کیدلو په وجے سره داسے کلام جوړولے شي نو دوئ هم اهلِ زبان دي دغه شان کلام دے جوړ کړي او پیش دے کړي. لیکن دا خبره د هغوئ د قدرت او طاقت نه بهر ده چه دا دے خبر واضح دلیل دے چه قرآن د الله تعالیٰ کلام دے او د بشر جوړ کړے شوے کلام نهٔ دے.

کله اَمْ خُلِقُوْا ــــ تا ــــ مَرْكُوْمٌ ه زجرونه دي مشرکانو ته د هغوئ په ضد او عناد باندے تنبیه ورکړے شویده. من غیر شئ ای من اجل لا شئ من العبادة والمجازاة (مظهری ص۹۹). ایا هغوئ معلومه کړیده چه هغوئ د جزاء او سزاء د پاره نهٔ دي پیدا کړے شوي. بلکه هغوئ بالکل بے مقصده پیدا کړے شویدي؟ او د دے وجے نه د هغوئ

په نیکو کارو نوکښې څهٔ مینه او رغبت نشته یا هغوئ خپله خپل ځانونه خالق ګنړی؟ او د دے وجے نه د خپل خالق حق نهٔ پیژنی.
أَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ الخ ایا زمکه او آسمان خپله هغوئ پیدا کړی دی او د دے وجے نه د خالق حقیقی شکر او عبادت نهٔ اداکوئ؟ بَلْ. بلکه هغوئ یقین کول نهٔ غواړی د دے وجے نه د قدرت په دلائیلو کښې غور فکر نهٔ کوی ډے د پاره چه خبره د هغوئ په عقل او پوهه کښې راشی (مدارک) یعنی د دے خبرو نه یوه خبره هم نهٔ منی.
۸ﻠﻪ أَمْ عِندَهُمْ ایا هغوئ د الله د خزانو مالکان دی. ایا د الله رحمت، نبوت او رزق وغیره د هغوئ په لاس کښې دی. یا هغوئ د الله تعالیٰ د خزانو نګران او محافظ دی چه چا ته اوغواړی نو ورے ئے کړی او چه چا ته اوغواړی نو بند ئے کړی ایا هغوئ د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت نه ځکه انکار کوی چه د نبوت تقسیم د هغوئ په لاس کښې دے او هغوئ تا ته نبوت نهٔ دے ورکړے؟ نا! د هغوئ انکار محض عنادًا دے. أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ الخ، دوئ د محمد صلی الله علیه وسلم د مرګ انتظار کوونکی دی او هغوئ خیال کوی چه ستا سو مرګ به د هغوئ نه مخکښې وی. ایا هغوئ آسمان ته اندرپایه لګولے ده او هغوئ آسمان ته ختلو سره د فرشتو خبرے اوریه هغوئ چه د الله د طرفه کوم احکام نازلیږی هغه هلته اوری او هغوئ ته دا دے معلومه شویده چه ستا سو وفات به د هغوئ نه مخکښې وی؟ (مدارک) کهٔ چرے حقیقت کښې دا سے وی چه د دوئ نه چا هلته اوریدل کړے وی او راغلے دے هغه دے د دے ثبوت پیش کړی
۹ﻠﻪ أَمْ لَهُ الْبَنٰتُ. الآیة- دا د هغوئ د جهالت او حماقت بیان دے چه لوڼړه ځان د پاره نهٔ خوښوی لیکن فرښتے د خدائے لوڼړه ګرځی او هغه د خدائے په دربار کښې سفارشیانے ګنړی او د هغوئ عبادت کوی.
أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا. الایة. ایا د هغوئ د انکار وجه دا ده چه تا سو تعلیم او تبلیغ، وعظ او نصیحت باندے د هغوئ نه د تنخوا یا څهٔ معاوضے طلب کوئ؟. او هغوئ سره د دغه تاوان د بوجهـ د لاندے د راګیرودلو خطره ده چه کهٔ چرے وے مثل تو تنخواه ورکول به لازمی کیږی. خبره په اصل کښې هغه ده چه د عناد او سرکشئ د وجے نه ئے نهٔ منی.

أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ

۲ایا هغوئ ته خبر دے د غیب نه نو هغوئ ئے لیکی . ۳ایا

يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ

غواړي څه فريب کول، پس هغوی چه منکر دي هغوی

الْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ

راځي په فريب. آيا هغوی د پاره څوک بل معبود دے د الله نه سيوا. هغه الله پاک دے له

اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾ وَإِنْ يَرَوْا كِسْفًا

د دوی د شريک جوړولو نه. او که چرے اووينی يوه ټکړه

مِنَ السَّمَاءِ سَاقِطًا يَقُولُوا سَحَابٌ مَرْكُومٌ ﴿٤٤﴾

د آسمان نه راپريوتونکے وائي دا وريځ ده غټه (پنډه).

فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي

پس ته پريږده هغوی تر دے چه اووينی ٤٢ له خپله هغه ورځ چه په هغې کښې به

فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ

په هغوی راپريوځي تندر وی. کومه ورځ چه به پکار نه راځي د هغوی

كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّ

فريب بيخ هم او نه به د هغوی امداد نه راورسيږي. او د

لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ

دغه ګنهګارانو د پاره عذاب دے د دينه مخکښې هم ٤٣ ليکن

أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٧﴾ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

ډير په دوی کښې نه پوهيږي. او ته صبر کوه ٤٤ له انتظار کولو سره د خپل رب حکم ته

فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ۖ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ

پس ته خمونږ د سترګو په وړاندے يې او پاکي بيانوه د خپل رب صفتونو سره کوم وخت چه ته

تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿٤٩﴾

پاځې. او څه (حصه) د شپه کښې وايه پاکي او د ستورو د شا کرځولو په وخت

نکات: سلـ تخویف دُنیوی ۱۲. سلـ ۲ دَ تسلئ ذکر دویم ځل ۱۲.

موضح قرآن: ف پریږده هغوئ یعنی چه خبرے جوړے کړی او لوبے اُوکړی ۱۲ منه رحمه الله تعالٰی.

تفسیر: سلـ ۲۰ اَمْ عِنْدَهُمُ. الآیة. 'ایا هغوئ په غیبو باندے پوهیږی او هغوئ را تلونکی وخت کښ واقع کیدونکی دَ غیب خبرے دَ لوح محفوظ نه لیکلی دی؟ چه دعوه کوی اوکرځی چه اول خو به قیامت نهٔ راځی او کهٔ چرے راشیٔ هم تو مونږ به دَ عذاب نه بچ ساتلے شو.
اَمْ یُرِیْدُوْنَ کَیْدًا. الآیة. 'ایا هغوئ دَ پیغمبر خلاف څهٔ فریب جوړوی؟ یا دلرئ دَ کافرانو سازشونه به په هغوئ باندے اُلټه کولے شی او پیغمبران به دَ هغے نه بچ ساتلے شی. لکه چه دَ هغوئ دَ قتل سازش دَ نبی علیه السلام دَ پاره ناکام کړے شو او پخپله هغوئ دَ بدر په جنګ کښ قتل کړے شول او دَ قید کیدلو سزاء ورکړے شوه.
سلـ ۲۱ اَمْ لَهُمْ اِلٰهٌ. الآیة. 'ایا دَ الله تعالٰی نه سیوا دَ هغوئ دَ پاره بل کوم کارساز دے؟ چه هغوئ ته روزی ورکوی دَ هغوئ امداد کوی یا ئے دَ الله دَ عذاب نه بچ ساتی؟ نه! نه! الله دَ شرک نه پاک دے او دَ هغهٔ نه سیوا څوک کارساز نشته، څوک رازق، څوک امداد کوونکے او څوک دَ هغهٔ دَ عذاب نه بچ کوونکے نشته. وَاِنْ یَّرَوْا. الآیة. دَ هغوئ دَ عناد او سرکشئ داحال دے چه کهٔ چرے مونږ په هغوئ باندے دَ آسمان نه یو ټکړه دَ عذاب په غرض را اُوغورځوو نو بیا هم هغوئ ایمان نهٔ راوړی او چه هغه اُوینی نو وائی به چه داخو وریځ راروانه ده او اوس به په مونږ باندے وریځ دَ رحمت باران اُوورَوی هغوئ به دَ هغے دَ لاندے کیږ کړے شی او هلاک به شی لیکن ایمان به راؤنړی یعنی لوعذبنا هم باسقاط بعض من السماء علیهم لم ینتهوا عن کفرهم حتّٰی یهلکوا (مظهری ج ۹ ص ۱۰۰).
سلـ ۲۲ فَذَرْهُمْ. یَوْمَهُمُ نه دَ نفخ اولٰی ورځ مراد ده چه دَ هغے آوریدلو سره به په ټولو بیهوشی راشی (مدارک) تاسو دَ دوئ نه اعراض اُوکړئ او دَ هغه ورځے انتظار اُوکړئ کله چه ویرے اُوکبراویدلو سره به هغوئ حقیقت ښکاره او ظاهر شی په دغه ورځ به دَ الله دَ عذاب نه دَ بچ کیدلو دَ پاره دَ هغوئ هیڅ حیله کامیاب نهٔ شی او نهٔ به دَ هغوئ دَ ځان نه جوړ کړے شوو معبودانو او ګمراه کوونکو پیشوایانو او دَ تورو سفارشیانو دَ طرفه نه څهٔ مدد ملاویږی او هغوئ به په هیڅ طریقه هم دَ خدائے دَ عذاب نه بچ کیدلے نهٔ شی.
سلـ ۲۳ دُوْنَ ذٰلِکَ، دَ دیته مخکښ یعنی دَ قیامت دَ عذاب نه مخکښ هم

دردناک عذاب دے لیکن دوئ ته پوهیږي. دینه جنګ بدر کښ قتل او قید، قحط سالی او د قبر عذاب مراد دے وهو القتل ببدر و القحط سبع سنین وعذاب القبر (مدارک ج ۴ ص ۱۴۷، خازن ج ۶ ص ۲۵۴)

۴۴ه وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ. الآیة. دا نبی علیه السلام د پاره دویم ځل تسلي ده تا سو د دوئ په تکلیفونو رسولو باندے صبر کوئ او د هغې پرواه مه کوئ او د الله د فیصلے مطابق هغوئ باندے د را تلونکي عذاب انتظار کوئ هغوئ تا ته هیڅ نقصان نه شی رسولے ځکه چه تا سو ځمونږ په حفاظت او نګرانئ کښ یئ. ای اصبر علی اذا هم ولا تبالهم فانک بمرأی منا وتحت کلأتنا والله یعصمک من الناس (ابن کثیر ج ۴ ص ۲۴۵).

حِيْنَ تَقُوْمُ، یعنی کله چه د ښځے پاسئ تول ورځ د فرصت د وختونو موافق د الله تسبیح او تحمید بیانوئ او د شرک نه د الله پاکی بیان کړئ. وَمِنَ الَّيْلِ، او بیا په اوله شپه کښ هم. وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ، او د ستورو را تلونکے ورځ کښ هم غرض دا دے چه هر وخت د الله تعالی یاد او د هغه په تسبیح او تحمید کښ مصروف او مشغول اوسیږه هم دا الله تعالی ستا ناصر او حافظ دے دشمن تا ته هیڅ نقصان نه شی رسولے هغه ئ بخیله تر دے ده چه د الله تعالی په ګرفت کښ را تلونکے دے. وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ، نه مراد دویمه ورځ ده لکه چه ارشاد دے. وهو الذی یتوفاکم بالیل ویعلم ما جرحتم بالنهار ثم یبعثکم فیه (انعام ع ۷) دلته فیه نه دویمه ورځ مراد ده.

سورة والطور کښ د توحید آیتونه

---

① ام لهم اله غیر الله (۲۶) نفی د هر قسم شرک ۱۲.
② وسبح بحمد ربك حين تقوم ومن الليل فسبحه وادبار النجوم. نفی د هر قسم شرک ۱۲.

سورۃ النجم

ربط په سورۃ طور کښ ذکر اُوشو چه جزاء او سزاء حق ده او د قیامت په ورځ په هیڅوک چا نه عذاب نهٔ شی دفع کولے۔ اوس په سورۃ نجم کښ ئے اُوفرمائیل چه د خدائے په دربار کښ هیڅوک شفیع غالب نشته چه څوک د الله د عذاب نه بچ اُوساتی۔ نهٔ لات، نهٔ منات، نهٔ عزّی، نهٔ فرشتے او نه دوئ د را بللو لائق دی۔

خلاصه دا سورت په مخکنو سورتونو متفرّع دے او د ده مقصود بالذات نفی د شفاعت قهری ده۔ تمهید سره د ترغیب نه۔ اوله دعوی لات، منات او عزّی ته آواز مهٔ کوئ۔ دویمه دعوی، فرشتے شفیع غالب مهٔ گنړئ۔ د هر دواړو دعوؤ دوباره ذکر په طریقه د لف اونشر مرتب، په آخر کښ تسلی، زجر او دلیل نقلی انبیاء علیهم السلام سره په آخر کښ د سورت د دعوے اعاده۔

تفصیل

والنجم اذا هوی ـــ تا ـــ لقد رأی من ایت ربه الکبری ۰ دا تمهید دے چه په دے کښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صداقت بیان دے تا سو د الله رښتونی رسول یئ ځکه چه وایئ د الله پاک د طرف نه ئے د وحی په بناء وایئ د جبرائیل علیه السلام پشان قوی او امانت دار فرشته په هغوئ وحی راوړی او هغهٔ دغه فرشته د هغے په اصلی شکل کښ دوه ځل لیدلے ده۔ دینه معلومه شوه چه هغوئ (صلی الله علیه وسلم) د الله تعالی رښتونے رسول دے او په هغوئ باندے د الله تعالی وحی نازلیږی لهٰذا هغه اُومنئ۔

افرأیتم اللّت والعزّی ۰ ومنوۃ الثالثة الاخری۔ دا د سورت اوله دعوی ده چه دا معبودانِ باطله په حاجتونو کښ مهٔ رابلئ۔ الکم الذکر ـــ تا ـــ ضیزی ۰ دا دویمه دعوی ده چه فرشتے شفیع غالب مهٔ گنړئ او هغوئ ته په حاجتونو کښ آواز مهٔ کوئ۔ ان هی الا اسماء ـــ تا ـــ والاولی دا د اولے دعوے اعاده ده په طریقه د لف او نشر مرتب مشرکانو دا نومونه خپل د ځان نه جوړ کړے شوو معبودانو ته ورکړی دی چه هغوئ حاجت روا کارساز، نفع او ضرر رسوونکی دی حال دا دے چه په حقیقت کښ هغوئ د دے صفتونو نه خالی دی۔ د

مشرکانو په وینا هغوئ حاجت روا او کارساز نهٔ شي جوړیدلے.
وکم من ملك ـــ تا ـــ من الحق شيئاه (ع ۲) دا د دویمے دعوے اعاده ده یعنی فرښتے شفیع غالب نهٔ دي هغوئ خو د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر ژبه هم نهٔ شي پرانستلے. دا د مشرکانو خالص باطل گمان دے چه فرښتے شفیع غالب دي.
فاعرض ـــ تا ـــ اعلم بمن اهتدیٰ. دا نبي علیه السلام ته تسلي ده او مشرکانو ته زجر دے او اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ. الآية. جمله معترضه ده د پاره د بیان د وسعت علم د الله تعالیٰ یعنی الله تعالیٰ په هرڅهٔ عالم دے. ولله ما في السموٰت والارض. جمله معترضه ده د پاره د بیان توحید.
لیجزي الذین آساءوا تخویف اُخروي دے. ویجزي الذین احسنوا ـــ تا ـــ واسع المغفرة ط بشارت اُخروي دے. افرأیت الذي تولیٰ ـــ تا ـــ فهو یریٰ دا زجر دے ایا مشرکان په غیب عالمان دي چه فرښتے به د هغوئ شفاعت کوي.
ام لم ینبأ بما ـــ تا ـــ فغشها ما غشیٰ ه دا دلیل نقلي دے د صحف موسیٰ او ابراهیم ن فبای الآء ربك تتماریٰ ه دا زجر دے.
هذا نذیر ـــ تا ـــ کاشفة ه دا تخویف اُخروي دے. افمن هذا ـــ تا ـــ سمدون ه دا زجر دے. فاسجدوا لله واعبدوا. دا د سورت خلاصه ده چه صرف د الله عبادت کوئ او صرف هغهٔ ته اواز کوئ اولات، منات، عزیٰ ته اواز مهٔ کوئ او فرښتے شفیع غالب مهٔ گنړئ.

سُوْرَةُ النَّجْمِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اِثْنَتَانِ وَسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة نجم مکه کښې نازل شوې ده او دے دوه شپیته ایتونه او درے رکوع گانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ۙ① مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ

قسم دے په ستوري بانديے کله چه پریوځي ۱ نه دے گمراه شوے ستاسو ملگرے ما

وَمَا غَوٰى ۚ② وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۗ③

او نه بے لارے تللے دے او نه وائي هغه د خپل نفس خواهش سره.

اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ۙ④ عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ

دا حکم دے لیږلے شوے هغه ته ښودلے دے سخت

الْقُوٰى ۙ⑤ ذُوْ مِرَّةٍ ؕ فَاسْتَوٰى ۙ⑥ وَهُوَ

قوتونو والا کله چه خاوند د قوت دے بیا لیغ (برابر) کیناست او هغه وو

بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى ؕ⑦ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ۙ⑧

په غاړه لوړه د آسمان بانديے بیا نږدے راغلے او ښه نږدے راغلے.

فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۚ⑨ فَاَوْحٰٓى

پس پاتے شو فرق د دوه لیندو برابر یا د دینه هم نږدے. بیا ئے حکم اولیږه

اِلٰى عَبْدِهٖ مَآ اَوْحٰى ؕ⑩ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ

الله په خپل بنده بانديے کوم چه ئے چه اولیږل دروغ ئے او نه وئیل د رسول زړه

مَا رَاٰى ⑪ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ⑫

څه چه ئے اولیدل. اوس آیا تاسو د هغه سره جگړه کوئي په هغے کښې کوم چه هغه اولیدل ئې

وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ۙ⑬ عِنْدَ

او ده هغه لیدلے دے که راکوزیدونکے یو ځل بیا هم هلته دے

سِدۡرَةِ الۡمُنۡتَهٰی ﴿۱۴﴾ عِنۡدَهَا جَنَّةُ
سدرة المنتهٰی سره جنت دے

الۡمَاۡوٰی ﴿۱۵﴾ؕ اِذۡ یَغۡشَی السِّدۡرَةَ مَا یَغۡشٰی ﴿۱۶﴾ۙ
دَ ارام او سیدلو. کله چه پټوله هغه بیره هغه څه چه پټوله ئے وے

مَا زَاغَ الۡبَصَرُ وَ مَا طَغٰی ﴿۱۷﴾ لَقَدۡ رَاٰی
نه دی کږ شوی سترګے او نه ئے د حد نه تجاوز کړے دے بیشکه او لیدل ده هغه

مِنۡ اٰیٰتِ رَبِّهِ الۡکُبۡرٰی ﴿۱۸﴾
د خپل رب د پیرے لوئے نشانے.

نکات: ۱ تمهید د پاره د بیان ئے صداقت د نبي علیه السلام ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ یعنی ډوب شي ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ۔
ف۲ نبي علیه السلام ته د نبوت په ابتداء کښ حضرت جبریل په نظر راغے په خپل اصلي شکل او صورت کښ چه په یو کرسئ باندے ناست دے چه آسمان ئے ټول تر غاړه ډک کړے دے چه دائے اولیدو او ویرېدو تو سورة مدثر نازل شو. شدید القوی ذو مرة صفتونه ئے په سورة کوثر کښ د حضرت جبریل کړخولی دی۔
ف۳ دویم ځل ئے جبریل په خپل صورت کښ اولیدو د معراج په شپه د اوو آسمانونو د پاسه چرته چه اوته د بیرے ده. دغه حد دے د ښکته او د پورته، ښکتني خلق پورته نه شي تللے او پورتني خلق ښکته نشي راکوزیدے هلته ئے جنت هم اوکتو. دغه اونه د سروزرو په شان خائسته رنګ پتنګانو پټوله چه هغه زړه راښکونکی وو. او نورے نښانے ئے هم اولیدے نو د هغے علم الله تعالیٰ ته دے ۱۲۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی محمد صلی الله علیه وسلم ۱۲۔
ف۲ یعنی هغه وخت کوم چه د الله نور د هر طرف نه د بیرے احاطه اوکړه او دا د معراج شپه وه ۱۲۔

تفسیر: ۲ والنجم ـــــ تا ـــــ الکبرٰی ○ دا تمهید دے د پاره د اثبات د صداقت د رسول الله صلی الله علیه وسلم۔

مَا ضَلَّ، جواب قسم دے، ضلال یعنی لاره نه ملاویدل او غَوَایَة، لاره موند لو نه روستو بے لاره کیدل ـ الضلال ضد الهدایة

والهي ضد الرشد يعني هو مهتد راشد (مظهري ج ۹ ص۱۱۰) . قسم دے
په ستورو باندے چه کله هغه پریوځي یعني ډوبیږي. محمد صلی الله
علیه وسلم په غلطه لاره نۀ دے بلکه په سمه لاره دے یعني د ستورو
شکته راتلل په دے ګواه دي چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندے
د آسمان نه فرښته راکوزیږي او وحي راوړي او د هغوئ دا فرمائیل چه
په ما وحي راځي غلط نۀ دي او نۀ د عقل نه خلاف دي.

۳ وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ. الاية. د الله د طرفه چه هغوئ کوم قرآن
پیش کوي هغه د خپلے رائے او خواهش نه نۀ جوړوي بلکه د الله پاک د
طرفه په هغۀ باقاعده وحي راځي. اي ما يصدر نطقه فيما اتاكم به من
جهته عز وجل كالقرآن او من القرآن عن هوى نفسه ورأيه أصلا (روح
ج ۲۷ ص۴۶). إِنْ هُوَ. الآية. د هُوَ نه مراد قرآن دے یعني دا قرآن وحي ده
چه د الله تعالیٰ د طرفه په تاسو ته لیږلے شي (بیضاوي).

۴ عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ، شديد القوي د مضبوط قوتونو والا نه مراد
جبرائیل علیه السلام دے چه د هغۀ د قوتونو اندازه د دینه کیږي
چه هغه د نوح علیه السلام د قوم کلي پورته کړل په هوا کښ ئے نسکور
کړل او په زمکه ئے راوغورځول او د آسمانونو نه تر زمکے پورے سفر
د سترګو په رپ کښ کوي او د هغۀ د یو زوږ چووتکي چغے سره د قوم ثمود
زړونه اوچودل (قرطبي). ذُو مِرَّةٍ، په عقل او پوهه کښ کامل یا خائسته
او ښکلي صورت او کډ قامت والا. ذو منظر حسن (مدارک ج ۴ ص۱۲۰)
ذو هيئة حسنة قيل هو جسم طويل حسن (بحر ج ۸ ص۱۵۸) ذو مرة
حصافة في عقله ورأيه (بیضاوي) حاصل دا دے چه دا قرآن پاک تاسو
د خپله ځانه نۀ دے جوړ کړے بلکه د جبریل علیه السلام په شان
طاقتور او قوي د عقل، پوهے او خائسته ښکلي صورت والا فرښتے د الله
د طرفه په تاسو نازل کړے دے.

۵ فَاسْتَوَىٰ، دا غار حراء سره مخے ته راتلو نکے واقعے طرف ته اشاره ده.
الْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ، د آسمان هغه حصه چه د لرے نه د زمکے سره ملاؤ شوے په
نظر راځي. قَابَ، هغه فاصله چه د لیندے د وسط (مینځ) نه تر ووتر پورے
وي د هغه شان په هره لینده کښ صرف یو قاب شو. د دے وجے نه په
ترکیب کښ قلب متلو ته ضرورت نشته لکه چه ځنو وئیلي دي چه دا په
اصل کښ قابي قوس وو وعن مجاهد والحسن ان قاب القوس ما بين
وترها ومقبضها، ولاحاجة الى القلب (روح ج ۲۷ ص ۴۸) حضرت شیخ فرمائي
چه دا په اصل کښ قاب قوس وو بیا تثنیه کړے شو او کله چه مرکب

تثنیه کولے شي نو دَ تثنیه علامت کله صرف دَ یو حرف سره او کله دَ دوؤ جزء ونو سره لګولے شي. دلته دَ تثنیه علامه دَ دویم جزء سره لګولے شوی ده (رضی) دا شان دَ دهٔ اصل قابی قوسین متلو ته ضرورت نشته. دَ اهلِ عربو طریقه وه چه کله به دوه تنه سره وخپل مینځ کښ دوستانه او ورورولی جوړوله نو خپلے خپلے لیندے به ئے یوه دَ بلے سره په دے طریقه ملاوولے چه دَ یوئے قاب به په بله منطبق او چسپان شو او بیا به ئے هغه جُدا کړے دَ هغے نه به ئے یو غشے اُویشتلو چه هغے ته به دَ دوئ مقصد دا وو چه تن هغه دواړه ورونړه دی او دَ یو رضا دَ بل رضا ده او دَ یو ناراضګی دَ بل ناراضګی ده (روح) اَوْ په معنٰی دَ بَلْ دے (مدارک، روح) یعنی جبریل علیه السلام په خپل اصلی او حقیقی شکل وصورت کښ دَ آسمان په اُفق (کناره) باندے نیغ (برابر) او ودرید و ښکاره شو. نبی علیه السلام چه کله هغه اُولیدو نو بیهوشه جبریل علیه السلام په انسانی شکل کښ راوړاندے شو او نبی علیه السلام ته ډیر زیات رانزدے شو تر دے چه دَ دوؤلیندو په مقدار بلکه دَ دینه هم زیات نزدے شو او نبی علیه السلام ئے سینے سره یو ځائے کړو زور ئے ورکړو کله چه نبی علیه السلام په هوش کښ راغے نو وے فرمائیل اے جبرئیل! مما په خیال کښ خودا نهٔ راتلل چه دَ الله کوم یو مخلوق په دا سے شکل او صورت کښ هم شته. دا آولنئ وحی ته روستو واقعه ده وکانت هٰذه الرؤیة الاولی فی اوائل البعثة بعد ماجاءه جبریل علیه السلام اوّل مرّة فاوحی الله الیه صدر سورة (اقرأ) ثم فتر الوحی..... حتی تبدی له جبریل ورسول الله صلی الله علیه وسلم بالابطح فی صورته التی خلقه الله علیها (ابن کثیر ج۴ ص۲۴۸) نبی علیه السلام په خپل ژوند کښ دوه ځل په خپل اصلی صورت کښ لیدلے دے یو ځل په زمکه چه دَ کوم ذکر دَ دے آیتونو په تفسیر کښ شوے دے او یو ځل په آسمان کښ چه دَ هغے ذکر به مخکښ راشی وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰی، دَ نبی علیه السلام نه علاوه هیڅ یو پیغمبر جبریل په اصلی شکل کښ نهٔ دے لیدلے قیل مَا رَاٰه احد من الانبیاء فی صورته غیر محمد علیه الصلوٰة والسلام مرتین، مرّة فی السماء ومرة فی الارض (بیضاوی). ۶ـه فَاَوْحٰی دَ اَوْحٰی فاعل جبریل علیه السلام دے. عَبْدِهٖ کښ ضمیر مجرور ذات دَ باری تعالٰی ته راجع دے. (فَاَوْحٰی) جبریل علیه السلام (الی عبده) الی عبد الله (مدارک ج۴ ص۱۴۸) جبریل علیه السلام دَ الله تعالٰی عظیم الشان او جلیل القدر بنده ته وحی راوړه دَ وحی ابهام

د تعظیم او لویئ د پاره دے (روح، قرطبی). مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ الآية نبی علیه
السلام چه خپلو سترګو سره د کوم څیز لیدل اوکړل د هغهٔ زړهٔ هغه
معلوم کړو چه دا جبریل امین دے د هغهٔ زړهٔ دا اُونهٔ وئیل چه ما هغه
اُونهٔ پیژندو. حاصل دا دے چه نبی علیه السلام جبریل علیه السلام
د هغهٔ اصلی صورت کښ پوره یقین او اعتماد سره لیدلے دے او د هغهٔ باره
کښ ئے زړهٔ کښ هیڅ شک او شبه واقع نهٔ شوه. یعنی انه راٰه بعینه وعرفه
بقلبه ولم یشك فی ان ما راٰه حق (مدارک) اَفَتُمٰرُوْنَهٗ. الآية. دے کښ
خطاب مشرکانو سره دے څوک چه وائی چه دا ټول خوب او خیال دے
په ویخه هغهٔ هیڅ نهٔ دی لیدلی تُمٰرُوْنَهٗ، د مراء نه دے ای تجادلونه
(روح) یعنی د کوم څیز چه محمد صلی الله علیه وسلم خپلو سترګو سره مشاهده
(لیدل) کړیدی آیا د هغه څیز باره کښ تاسو د هغهٔ سره جهګړه او بحث
کوئ؟ که یو مشکوک او مشتبه خبره وے نو د بحث او جهګړے څهٔ
ګنجائش به هم وے لیکن دا خو یو مشاهده وه چه د هر قسم شک او شبهے
نه پوره ده. ۞ وَلَقَدْ رَاٰهُ، دا د جبرئیل علیه السلام دویم ځل په
اصلی شکل کښ د لیدلو بیان دے دا واقعه د معراج په شپه پیښه شوه
عِنْدَ او اِذْ ظروف راٰی سره متعلق ده. سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى، د بیرے په شان په
اووم آسمان باندے یوه اُونه ده چه د هغې میوه د لویو لویو چاټو برابره
هغې ته تر دے د جبرئیل علیه السلام مقام دے او هم دغه د هغهٔ د پرواز
مُنتهٰی او آخر دے. مَا يَغْشٰى، نه د الله نور او فرښتے مراد دی په هغې
باندے دومره زیاتے فرښتے وے چه اونه په هغې کښ پټه شوے وه
غشیها نور الرب او الملائكة تقع علیها كما یقع الغربان علی الشجرة
(قرطبی ج ۱۷ص ۹۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم جبرئیل امین د هغهٔ
په اصلی شکل کښ صرف په زمکه باندے یو ځل نهٔ دے لیدلے بلکه
دویم ځل ئے په آسمان باندے سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى سره د هغهٔ په اصلی
شکل کښ لیدلے دے. هلته سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى سره جنت الماوی هم دے
چه د متقیانو مقام دے دغه وخت سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى د الله نور او د الله تعالی
تجلّی سره روښانه پرقیدو نکے وه او په هغې باندے د فرښتو دومره
زیاته بیړه او ګڼړتیا وه چه اُونه د هغوئ نه شا ته پټه وه هلته ئے هم
جبریل صفا صفا او واضح اُولیدو د هغهٔ په لیدلو کښ د هغهٔ سترګے یو خو
بل خوا نهٔ وے کړځیدلے او نهٔ د هغې نه مخکښ نظر تللو سره د بل کوم
څیز طرف ته اُوچتے شوے وے یعنی دلته هم هغوئ (صلی الله علیه وسلم)
جبرئیل علیه السلام پوره یقین او وثوق سره اُولیدو وقال ابن عباس

ای ما عدل یمینا ولا شمالا ولا تجاوز الحد الذی رأی (ابن کثیر، قرطبی) ای اثبت ما راٰه اثباتا مستیقنا صحیحا من غیر ان یزیغ بصره او یتجاوزه (کشاف)

۸ه لقد رای - الآیة - دَ دے نه علاوه هم نبی علیه السلام دَ قدرت ډیرے لوئے لوئے او عظیم الشان نښے (قدرت) اُولیدلے - دَ دے نه لو خبره ته معلومه شوه چه نبی علیه السلام دَ الله تعالیٰ رښتونے پیغمبر دے ځکه چه دا مشاهدات صرف یو پیغمبر ته نصیب کیدے شی او دَ پیغمبر نه علاوه بل څوک دَ دے طاقت نهٔ لری او جبرئیل امین په نبی علیه السلام وحی راوړی دَ الله تعالیٰ دَ طرفه دَ دے وجے نه دَ هغهٔ په رسالت ایمان راوړئ او دَ الله تعالیٰ وحی اُومنئ او په هغے عمل اُوکړئ۔

اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ﴿۱۹﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ

ایا پس وینئ تاسو لات او عزیٰ او مناة دریم

الْاُخْرٰى ﴿۲۰﴾ اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ﴿۲۱﴾

روستنے - ایا تاسو ته ملاؤ شویدی ځامن او هغهٔ دَ پاره لوڼړه شه

تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ﴿۲۲﴾ اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ

دا تقسیم خو ډیر ناکاره دے ول دا تول تو موته دی

سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

چه ایښی دی ئه تاسو او پلارانو او نیکو ستاسو نهٔ دے نازل کړے الله

بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ

دَ دوی دَ پاره څهٔ دلیل روان دی خالص په گمان ئه

وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنْ

او خواهش دے دَ زړهٔ او راغلی دی هغوئ ته دَ طرفه

رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿۲۳﴾ اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾

د رب د هغوئ لار ښوونه آیا ملا ویړی انسان (کافر ته) کوم څه چه هغه غواړی ۱۲

۵ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ

پس د الله په لاس کښې ده ټوله نیکی روستونئ او مخکنئ او ډیرې فرښتې دی

فِی السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِیْ شَفَاعَتُهُمْ شَیْئًا اِلَّا

په آسمانونو کښې هله هیڅ پکار نهٔ راځی د هغوئ سفارش لیکن

مِنْۢ بَعْدِ اَنْ یَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ یَّشَآءُ

چه کله حکم ورکړی الله تعالیٰ د چا د پاره چه اوغواړی

وَیَرْضٰى ﴿۲۶﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

او خوښ ئے کړی. کوم خلق چه یقین نهٔ لری په آخرت باندے

لَیُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِیَةَ الْاُنْثٰى ﴿۲۷﴾ وَمَا لَهُمْ

هغوئ نوموته ږدی د فرښتو نوموته د ښځو او هغوئ ته

بِهٖ مِنْ عِلْمٍ ؕ اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ

د دے هیڅ خبر نشته روان دی خالص په ګمان او بیشکه

الظَّنَّ لَا یُغْنِیْ مِنَ الْحَقِّ شَیْئًا ﴿۲۸﴾

ګمان هیڅ پکار نهٔ راځی په حق خبره کښې

نکات: ۱ د سورت اوله دعوی د الله تعالیٰ نه سیوا په حاجتونو کښې هیڅوک غائبانه مهٔ رابلئ ۱۲. ۲ د سورت دویمه دعوی ذکر کول، نفی د شفاعت قهری ۱۲. ۳ اوله دعوی دوباره ذکر کول ۱۲. ۴ علت د ما قبل د پاره ۱۲. ۵ د دویمے دعوے دوباره ذکر کول ۱۲. ۶ زجر (تنبیه) مشرکانو ته ۱۲.

موضح قرآن ف ۱ دا نوموته دی د بتانو کافرانو به ویل دا د الله تعالیٰ لونړه دی د دوئ میانځے د پیر یا تو لونړه دی ۱۲ منه ۲۷

ف ۲ یعنی د بتانو عبادت سره څه ملا ویړی کیږی هغه ده کومه چه الله تعالیٰ ورکړی. روستو او مخکښی یعنی د آخرت او دُنیا بادشاهی ۱۲.

فتح الرحمٰن ف۷ یعنی هغه وخت کوم چه د الله تور د هر طرف نه د بېرې احاطه اوکړه او دا د معراج شپه وه ۱۲۔

تفسیر: ۹ اَفَرَءَیۡتُمُ، د تمهید نه روستو د سورت د اولنۍ دعوی ذکر دے یعنی په حاجتونو او مصیبتونو کښې دغه د ځان نه جوړ کړے شوی معبودان غائبانه مه رابلئ کله چه ثابته شوه چه محمد صلی الله علیه وسلم رښتونی رسول دے او په هغهٔ وحی راځي نو دغه ربّانی وحی اومنئ چه دا وائي چه په مصیبتونو او حاجتونو کښې باطل معبودان مه رابلئ اَللّٰتَ، دِے کښې دوه قراءتونه دی اول په تخفیف د تاء او دویم په تشدید د تاء په اول صورت کښې دا د لویٔ نه مشتق دے چه معنیٰ ئے را تغیتتل دی او چورلول دی مشرکانو به د دے بُت د عبادت د پاره اعتکاف کولو او د هغهٔ طواف به ئے کولو د دے وجے نه دِے نوم سره نوم کیښودلے شو. وَالاصل لویة بزنة فعلة من لوی لانهم کانوا یلوون علیه ویعتکفون للعبادة، او یلتون علیه ای یطوفون مخخف بحذف الیاء وبدلت واوه الفا، وعوض عوض عن الیاء تاء فصارت کتاء اخت وبنت (روح ج ۲۷ ص ۵۵) د دویم قراءت مطابق دا اَللّٰتّ یَلُتُّ نه اسم فاعل دے او د دے معنیٰ ده اُوبو یا کوم نرم بهید ونکی څیز کښې څهٔ شے حل کول. په عربو کښې یو سړے وو چه د حج په موسم کښې به ئے غوړ و سره ستوان ملاوول په حاجیانو باندے به ئے خوړل او اَللّٰت به خلقو د دے وجے نه ښهٔ ئي ترلو کله چه هغه مړ شو نو د هغهٔ په شکل ئے بُت جوړ کړو او د هغهٔ عبادت ئے شروع کړو او هغهٔ به ئے رابللو. اللّات بالتشدید علی انه سمی به لانه صورة رجل کان یلت السویق بالسمن ویطعم الحاج (بیضاوی) اَلۡعُزّٰی، دا یوه شیطانه (ښځه پیرئ) وه چه په وادئ نخله کښې د کیکر د ریو ونو سره اوسیدله هلته ئے یوه عبادت ځاته هم جوړه کړے وه او د عُزی په نوم ئے څو بتان تراشلی وو په مختلفو ځایونو کښې ئے ایښی وو مشرکانو چه به کله د وادئ نخله عبادت ګاه ته راتلل د هغے د عبادت او رابللو د پاره نو هغه شیطانې به د هغوئ سره خبرے هم کولے. وکانت بوادی نخلة الشامیة فوق ذات عرق فبنوا علیها بیتا وکانوا یسمعون منها الصوت...... عن ابن عباس کانت العزی شیطانة تأتی ثلاث سمرات ببطن نخلة (قرطبی ج ۱۷ ص ۹۹) د فتح مکے نه روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت خالد بن ولید ته حکم ورکړو چه هغه درے واړه اُونے پرېکړی. کله چه هغهٔ دوه اُونے پرېکړے او درېمه ئے پرېکوله نو د هغے نه یو بد شکله جادوګره

بنځه را اوتله چه ویښته ئے خواره (گډوډ) وو او چغې سورې ئے شروع کړے حضرت خالد بن هغه اوو ژله (روح، خازن، قرطبی). مَنَاةَ، دا یو بت وو چه منډ آستانه ئے د مکے او مدینے میځ کښ واقع وه مشرکانو د هغې په قربانگاه باندې د هغې د نزدیکت حاصلولو د پاره قربانئی وړکولے او د هغې په برکت سره به ئے د باران طلب کولو کانوا یریقون عنده الدماء یتقربون بذلك الیه (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۰۱) یو قرأت کښ مناءة دے و مناءة مکی مفعلة من النوء کانهم کانوا یستمطرون عندها الانواء تبرکا بها (مدارک ج ۴ ص ۱۴۹).

أفرأیتم په معنی د أخبرونی دے یعنی ما ته اوښایئ صحیح چه دالات، مناة، عزّی کوم چه تاسو رابلئ آیا هغوئ ستاسو د نفع او نقصان اختیار لری؟ آیا هغوئ متصرف او قادر دی؟ چه تاسو هغوئ په عبادت او را بللو کښ د خدائے سره شریک گرځولی دی. افرأیتم هذه الالهة هل نفعت او ضرت حتی تکون شرکاء لله (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۰۲)

أخبرونی عن الهتکم هل لها شیء من القدرة والعظمة التی وصف بها رب العزة فی الای السابقة وقیل المعنی أظننتم هذه الاصنام التی تعبدونها تنفعکم (روح ج ۲۷ ص ۵۶) استفهام انکاری دے یعنی هغوئ نه قادر او متصرف دی او نه د نفع او نقصان اختیار لری د دے وجے نه په مصیبتونو او حاجتونو کښ هغه مه رابلئ.

ــلـه أَلَكُمُ الذَّكَرُ، دا د سورت د دویمے دعوے بیان دے یعنی د الله په دربار کښ هیڅوک شفیع غالب نشته. مشرکانو د خپل ځان د پاره ځامن خوښوی لیکن دے سره فرښتے د خدائے لونړه گرځوی یعنی فرښتے الله ته دومره خوښے دی لکه چه یو پلار ته لونړه محبوب وی د دے وجے نه الله تعالی په د فرښتو سفارش هرگز نه رد کوی. وے فرمائیل دا تقسیم خو بالکل په بے انصافئ مبنی دے او د عدل او انصاف نه خلاف دے ځکه چه هغوئ کوم څیز خپل ځانونو د پاره نه خوښوی د هغې نسبت د الله تعالی طرف ته کوی هیڅ پاک نه محسوسوی د دے وجے نه د هغوئ دا وئیل غلط دی او په بے انصافئ مبنی دی چه فرښتے د خدائے لونړه دی او د هغه په دربار کښ شفیع غالب دی.

ــلـه إِنْ هِيَ، دا د اولے دعوے دوباره ذکر دے په طریقه د لف او نشر مرتب. دا باطل معبودان خالص نومونه دی چه تاسو او ستاسو پلارانو نیکونو د خپلو خواهشاتو مطابق تجویز کړیدی هغوئ ته معبود، کارساز، حاجت روا وئیل محض ستاسو الفاظ دی لیکن په حقیقت کښ هغوئ

دَ دے صفتونو نه بالکل خالي دي هغوئ نهٔ معبود نهٔ کارساز دي نهٔ شفیع او حاجت روا هغوئ دَ پاره دا نومونه کیښودل شکاره گمراهي ده ځکه چه دَ دغه خود ساخته معبودانو په معبود کیدلو باندے الله هیڅ دلیل نهٔ دے نازل کړے۔ ماجعل الله علی الوهیتها و استحقاقها للعبادة حجة (مظهري ج ۹ ص ۱۱۸)۔

۲ له اِنۡ یَّتَّبِعُوۡنَ، دَ خطاب نه غیبت طرف ته التفات دے دا هغه طرف ته اشاره ده چه دا بے وقوف دَ خطاب لائق نهٔ دي لکه چه روستو اره شاد دے۔ فاعرض عن من تولی الخ دَ دغه باطلو معبودانو دے صفتونو سره راپللو باندے دَ مشرکانو سره هیڅ دلیل نشته هغوئ محض په گمان او اټکل سره او دَ پلار نیکهٔ لیدلو او بیا مونږلو سره او دَ خواهشاتِ نفس په تابعدارئ کښ دا ټول هرڅهٔ کوي۔

وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ الآیة۔ حال دا دے چه هغوئ ته دَ الله دَ طرف نه هدایت راغلے دے دَ الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دَ الله کتاب دَ هغوئ په مخکښ دَ هدایت او رشد دَ رڼا مناره دے دي لیکن هغوئ دَ دینه دَ رڼا حاصلولو په ځائے دَ خپلو خواهشاتو نه روستو روان دي متره دے وهي۔

۳ له اَمۡ لِلۡاِنۡسَانِ۔ الآیة۔ ام منقطعه دے او استفهام انکاري دے۔ (بیضاوي)۔ یعنی دا نهٔ شي کیدے چه انسان دَ کوم څیز آرزو او تمنا کوي هغه حاصل شي یا دَ هغهٔ دَ تمنا مطابق اوشي لهٰذا دا هرگز نهٔ شي کیدے چه مشرکان خپلو خواهشاتو سره لات، منات او عزّٰی وغیرها معبود، کارساز، حاجت روا او سفارشیان جوړکړي نو دَ هغوئ جوړولو سره دا ټول هرڅهٔ جوړ شي او دَ هغوئ دا تمنا او آرزو پوره شي چه دا معبودان به دَ خدائے په دربار کښ دَ هغوئ سفارش کوي او دَ الله دَ نزدیکت وسیله جوړه شي۔ ای لیست الاشیاء والشهوات تحصل بالامانی بل لله الامر وقولکم ان الهتکم تشفع وتقرب زلفی لیس لکم ذٰلك (بحر ج ۸ ص ۱۶۳) والمراد نفی ان یکون للکفرة ما کانوا یطمعون فیه من شفاعة الالهة والظفر بالحسنی عند الله تعالی یوم القیامة (روح ج ۲۷ ص ۵۸)

۴ له فَلِلّٰهِ الۡاٰخِرَةُ وَالۡاُوۡلٰی، دا دَ ماقبل دَ پاره علت دے یعنی دَ دُنیا او دَ آخرت ټول اُمور او معاملات په الله تعالی پورے مختص او دَ هغهٔ په لاس کښ دي او هغه دَ بل چا دَ شرکت نه بغیر متصرف او مختار دے نو بیا ځنگه کیدے شي چه دَ الله دَ فیصلے نه خلاف دَ هغوئ دا تمنا پوره شي چه دَ هغوئ خود ساخته معبودان به دَ خدائے په دربار کښ دَ هغوئ سفارش

کوی. ۵ــله وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ ۔الآیة۔ دا د سورت د دویمے دعوے اعاده ده د الله بیشماره فرښتے کومے چه په آسمانونو کښ اوسیږی او هر وخت د الله په عبادت کښ مصروف او د هغهٔ عبادت ته ئے ملا تړلے ده د دومره نزدیکت او پاکئ بیا تولو یا وجود هم د الله د اجازت نه بغیر د چا سفارش نهٔ شی کولے د دے وجے نه هغوئ هم شفیع غالب نهٔ دی بلکه د الله د حکم پابند دی فرښتے به صرف د هغه خلقو سفارش کوی د چا سفارش چه الله اوغواړی او هغه صرف د توحید والا دی د چا نه چه گناه شوی وی مشرکانو په حق کښ خو به فرښتو ته د شفاعت اجازت نهٔ ملاویږی. لمن یشاء ویرضی ای من اهل التوحید (معالم وخازن ج ۶ ص ۲۶۴).

۶ــله اِنَّ الَّذِیْنَ ، دا مشرکانو د پاره زجر دے کوم خلق چه په آخرت ایمان نهٔ راوړی هغوئ فرښتو له د ښځو صفتونو سره متصف کوی او وائی چه فرښتے د خدائے گونړه دی (عیاذاً بالله) د هغوئ دا دعوی بالکل باطل ده بے دلیله ده او د هغوئ په جهالت او بے وقوفتیا باندے مبنی ده هغوئ خالص د یو باطل خیال او قیاس وهم نه روستو منړے وهی چه هغوئ د خپلو مشرکانو پلارانو او نیکونو نه حاصل کړے دے ایا وهم او خیال سره هم حقیقت ثابتیږی؟ حقیقت ثابتولو د پاره خو د یقینی او قطعی دلیلونو ضرورت وی.

فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰی ۙ عَنْ ذِكْرِنَا

پس ته مخ واړه وه د هغه چا نه څوک چه مخ واړه وی ئے موړ. د یاد نه ځله

وَلَمْ یُرِدْ اِلَّا الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا ؕ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ

او هیڅ نهٔ غواړی لیکن ژوند د دُنیا. پس تر دے ځائے پورے

مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ

اورسیدو د هغوئ علم ملے بیشکه رب ستا دے ځله ښهٔ

اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِیْلِهٖ ۙ وَهُوَ

خبردار په هغه چا څوک چه گمراه شو د هغهٔ د لارے نه او هغه ښهٔ

أَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدَىٰ ﴿۳۰﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ

خبر دے په هغه چا چه سمه لار ئے اوموندله - او الله د پاره دی ټول څه چه دی په اسمانونو کښ

وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا

او په زمکه کښ دے د پاره چه هغه بدله ورکړی ؁ بدی کوونکوته

بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا

د هغوئ د بدئ او بدله ورکړی نیکی کوونکوته د هغوئ د نیکئ

بِالْحُسْنَى ﴿۳۱﴾ الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ

په نیکئ (جنت) سره - څوک چه ځان ساتی د لویو ګناهونو نه

وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ

او د بے حیائئ د کارونو نه لیکن د (وړو ګناهونو نه) بیشکه ستا د رب فراخي ده

الْمَغْفِرَةِ ۚ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنْشَأَكُمْ مِنَ

په بخشش کښ هغه ښهٔ خبر دے ستاسو نه کله چه هغهٔ را پیدا کړئ د

الْأَرْضِ وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ ۖ

زمکے نه او کله چه تاسو بچي وئ په خیټو د میاندو کښ

فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ

پس مهٔ بیانوئ خپل صفتونه هغهٔ ته ښهٔ معلوم دی هغه څوک چه

اتَّقَىٰ ﴿۳۲﴾ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿۳۳﴾ وَأَعْطَىٰ

متقیان دی - ایا تا لیدلی دی هغه څوک چا چه مخ اوګرځولو ؁ او را ئے وړه

قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿۳۴﴾ أَعِنْدَهُ عِلْمُ الْغَيْبِ

لږ (ایمان) او سخت شو ل - ایا هغهٔ سره خبر دے د غیب ؁

فَهُوَ يَرَىٰ ﴿۳۵﴾ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ

نو هغه ئے وینی ایا هغهٔ ته خبر نهٔ دے رسیدلے د هغے کوم چه په پاڼو کښ د

مُوسٰى ﴿۳۶﴾ وَ اِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰۤى ﴿۳۷﴾ اَلَّا

^۲۳ د موسٰی او د ابراهیم چه پوره والے ئے اوکړو په خپل قول ول^۴ چه نشی

تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ﴿۳۸﴾ وَ اَنْ لَّيْسَ

پوره ته کولے ^۵ هیڅوک پورته کولو والا بوج د بل چا. او دا چه هغهٔ ته ملاو یږی

لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿۳۹﴾ وَ اَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ

انسان ته کوم چه هغهٔ کړی دی . او دا چه د هغهٔ د کړو جزا به هغهٔ ته ضرور

يُرٰى ﴿۴۰﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿۴۱﴾

اوښودلے شی. بیا هغهٔ ته بدله ملاویدل دی د هغے پوره بدله.

وَ اَنَّ اِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى ﴿۴۲﴾

او دا چه ستا رب ته د ټولو رسیدل دی.

نکات: سل زجر سره د تسلئ ته ۱۲. سل جمله معترضه ۱۲. سل جمله معترضه د پارهٔ د بیان توحید ۱۲. سل لام د پارهٔ د عاقبت دے. سه زجر ۱۲. سل دلیل نقلی د ابراهیم او موسٰی علیهما السلام صحیفو سره ۱۲.

موضح قرآن | ف یعنی لږ شان ایمان ئے راوړو د هغهٔ زړهٔ سخت شو ۱۲. ف۲ یعنی د الله تعالیٰ حق ۱۲.

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی دا انتهاء ده د هغوئ د علم ۱۲.

تفسیر: ^۱ فَاَعْرِضْ. الآیة. دا نبی علیه السلام ته تسلی ده او مشرکانو ته زجر دے د ذکر نه مراد قرآن دے (روح) کوم خلق چه د قرآنی تعلیماتو نه اعراض کوی توحید، رسالت او حشر نشر ته منکر دی د هغوئ مخ اوګرځوه تاسو د تبلیغ حق ادا کړین دے لیکن دا خلق محض د ضد او عناد په وجے سره په انکار باندے ټینګ ولاړ دی او د آخرت په مقابله کښ د نیوی ژوند اصلی ژوند ګنړی د هغوئ د علم انتها بس هم دا ده د هغوئ د پوهے او فهم رسائی بس هم تر دے پورے ده د هغوئ نظرونه د فانی دُنیا په ښائست او تازګئ او د ځوږو عیش او مزو باندے محکم شوی دی او د آخرت ژوند د هغوئ د نظرونو نه پټ پاتے شویدے

داسې خلقوته چه ته هر څو مره تبلیغ اُوکړې د هغوئ عناد، سرکشۍ او نافرمانۍ
په نوره لا زیاتیږي د دې وجې نه تاسو د هغوئ نه اعراض اُوکړئ۔
۱۸ اِنَّ رَبَّكَ، دا جمله معترضه ده یعنی الله تعالیٰ ټول ښه پیژنی
کوم خلق چه همیشه گناه کوی او هدایت نه قبلوی هغه هم پیژنی
او هغه هم د هغې په علم کښې دی کوم چه هدایت قبلوی او د هدایت
قبلولو صلاحیت لری دا خلق د اول قبیل نه دی د دې وجې نه تاسو
د هغوئ په وجه خپل ځان مهٔ په تکلیف کوئ او مشقت مهٔ اُوچتوئ
هو جل شأنه المبالغ فی العلم بمن لا یرعوی عن الضلال ابداً،
وبمن یقبل الاهتداء فی الجملة لا غیره سبحانه فلا تتعب نفسك فی
دعوتهم ولا تبالغ فی الحرص علیها فانهم من القبیل الاول (روح ج ۲۷
ص ۶۰) ۱۹ وَلِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ، دا جمله معترضه ده
د پاره د بیان توحید دا ټول کائنات د فرش نه واخله تر عرشه پورې د
الله مخلوق او مملوک دی صرف هغه په دې کښې متصرف او مختار دې
او په تصرف او اختیار کښې هغهٔ سره هیڅوک شریک نشته هغه پخپله
اراده او خوښه چه څهٔ اُوغواړی هغه کوی. څوک هم د هغهٔ په مخکښې د ساه
اخستلو جراءت نهٔ شی کولے او نهٔ څوک د هغهٔ په دربار کښې شفیع غالب
شته. ۲۰ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ، لام عاقبت د پاره دې او دا اعلم بمن ضل
سره او يَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا، اعلم بمن اهتدی سره متعلق دې په
طریقه د لف او نشر مرتب. الله تعالیٰ هدایت موندونکی او گمراهان ښهٔ
پیژنی چه د هغې انجام دا دې چه هغه به گمراهانو او بد کارانو ته د هغوئ
د اعمالو سزاء ورکوی او نیکانو خلقو ته به د هغوئ د نیک کارونو جزاء
ضرور ورکړی. اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ. الآیة۔ د اَلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا نه بدل دې
یا د هغهٔ صفت دې یعنی محسنین هغه خلق دی چه د بے حیائۍ او د لویو
گناهونو نه پوره اجتناب کوی. لیکن صغائر (واړهٔ گناهونه) او معمولی
خطاگانے د هغوئ نه کیږی د الله تعالیٰ بخشش او رحمت دومره فراخ
دې چه هغه به د لویو گناهونو نه ځان ساتونکوله صغیره او واړهٔ گناهونه
خالص په خپله مهربانئ سره معاف کړی. او صرف دا نهٔ بلکه د شرک
نه ځان ساتونکو ته که اُوغواړی نو لوئے گناهونه به هم معاف کړی.
هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ. الآیة۔ الله تعالیٰ تاسو ټول د هغه وخت نه پیژنی کله چه
هغه ستاسو نیکه آدم علیه السلام د خاورې نه پیدا کړو بیا تاسو د
خپلو میاندو په رحمونو کښې د جنین په شکل کښې وئ
هغه وخت هم هغهٔ ته تاسو معلوم وئ یعنی هغه ستاسو د ټول حقیقت

نه خیر دے او ستاسو هیڅ څیز او هیڅ عمل د هغهٔ نه پټ نه دے دَ دے وجے نه تاسو ځپله دَ ځپلے تقوٰی او پاکئ دعوٰی مهٔ کوئ کوم خلق چه په حقیقت کښ متقیان دی او دَ ځپل الله دَ احکامو پابندی کوی ځپل ظاهر او باطن ئے دَ رزائیلو او خباثت نه پاک کړیدے الله تعالیٰ هغوئ بښهٔ پیژنی هغهٔ ته دَ چا دَ ښودلو ضرورت نشته۔

۲۱ے اَفَرَءَیْتَ ــــ تا ــــ یَرٰی، دا معاندینو دَ پاره زجر (تنبیه) ده دا ایت دَ ولید بن مغیره په حق نازل شو په شروع کښ هغه دَ نبی علیه السلام سره کیناستو او وعظ نصیحت به ئے اوریدلو او دَ اسلام نه په متاثر کیدو و دَ قرآن تعریف به ئے هم کولو ځنے مشرکانو هغهٔ ته دَ حق گوئی او اسلام ته دَ رغبت او میلان غیرت واچولو هغهٔ ته ئے اُوئیل دَ ځپل پلار نیکهٔ دین پریږدے او هغوئ ته گمراه وائے۔ هغه جواب ورکړو دَ الله دَ عذاب نه ویریږم دے سره مشرک اُوئیل دَ عذاب نه دَ بچکیدلو ذمه واری زهٔ اخلم۔ پس هغه دَ اسلام نه واپس اُوگرځیدو او کومه حقه خبره چه ئے په ژبه وئیله هغے ته متع شو۔ کان الولید مدح القرآن ثم امسك عنه فنزل (واعطی قلیلا) ای من الخیر بلسانه (واکدی) ای قطع ذلك وامسك عنه (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۱۱)۔

۲۲ے اَعِنْدَهٗ۔ الاٰیة۔ ایا هغه په غیب پوهیږی او دَ غیب دَ پردے نه اخوا هغه لیدل کوی او هغهٔ ته معلومه شویده چه هغه به دَ چا په سفارش او امداد سره دَ الله دَ عذاب نه بچ شی؟ استفهام انکاری دے یعنی هغه په غیب نهٔ پوهیږی او دَ فرښتو یا دَ چا په شفاعت او ضمانت دَ الله دَ عذاب نه نهٔ شی بچ کیدلے۔

۲۳ے اَمْ لَمْ یُنَبَّاْ ــــ تا ــــ مَا غَشّٰی، دا دلیل نقلی دے دَ ابراهیم او موسٰی علیهما السلام صحیفو سره اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ نه واخله تر اَظْلَمَ وَاَطْغٰی پورے دَ دواړو صحیفو مشترک بیان دے۔ او والمؤتفکة۔ الاٰیة دَ ابراهیم علیه السلام په صحیفو کښ نشته ځکه چه دا دَ قوم لوط کلی دی چه دَ ابراهیم علیه السلام نه روستو هلاک کړے شو۔ اَلَّذِیْ وَفّٰی، هغه ابراهیم چا چه دَ الله احکام پوره کړل او وعدے ئے سر ته اُورسولے کومے چه الله دَ هغهٔ نه اخستے وے۔

۲۴ے اَلَّا تَزِرُ، دَ دغه صحیفو مضمون دا دے چه هیڅ یو نفس دَ بل چا دَ گناهونو بیټے نهٔ شی اُوچتولے ځکه چه هر انسان ته به دَ ځپلو نیکو اعمالو ثواب ملاویږی او دَ بل سړی نیکئ به دَ هغهٔ په اعمالنامه کښ نهٔ شی لیکلے۔ دَ قیامت په ورځ به دَ هر سړی سعی او کوشش نتیجه مخے ته

دی او هر سړی ته به د هغهٔ د خپلو اعمالو مطابق پوره پوره جزاء او
سزاء ورکولے شي او د قیامت په ورځ به د ټولو منتها د الله ذات وی
او ټول به د هغهٔ په مخکښې حاضر بیږی. د دے آیت نه په ظاهره
معلومیږی چه د یو انسان دُعاء هم د بل په حق کښې فائده مند نهٔ ګرځی
حال دا دے چه په قرآن او حدیث کښې د نورو د پاره د دُعا کولو ترغیب
ثابت دے. حضرت ابن عباس رض فرمائی دا حکم د مخکنو امتونو د پاره
وو اوس د اُمت محمدی په حق کښې منسوخ دے ځکه چه د الله تعالیٰ
ارشاد دے الحقنا بهم ذریتهم الآیة - (الطور ع ۱) یعنی د پلار نیکهٔ
نیکئ سره به د هغوئ اولاد ته د هغوئ درجات ورکولے شي قال ابن
عباس رض هذا منسوخ الحکم فی هذه الشریعة بقوله الحقنا بهم ذریتهم
...... قال عکرمة کان ذلك لقوم ابراهیم وموسی فاما هذه الامة
فلهم ما سعوا وما سعی لهم غیرهم (معالم وخازن ج ۶ ص ۲۶۸) - او کچرے
مَا سَعٰی نه مراد ایمان وی لکه چه د سیاق او سباق نه معلومیږی نو دے
صورت کښې به د منسوخ کیدلو ضرورت نهٔ وی. یعنی یو انسان ته
به د هغهٔ د ایمان نه بغیر د نورو څیز هیڅ فائده نهٔ شي رسیدلے د ایمان
نه بغیر نهٔ د چا دُعا فائده ورکوونکے ده نهٔ خپل نیک عمل. تحقیق دا دے
چه د یو سړی دُعا او استغفار د بل مؤمن په حق کښې د جهګړے او نزاع
اختلاف ځائے نهٔ دے دا د ټولو په نزد جائز او مفید دے او د قرآن
نه ثابت دے.

(۱) وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ (التوبة ۱۳) ۔ (۲) ربنا اغفر لنا
ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان (حشر ع ۲) اختلاف په دے کښې
دے چه د یو سړی د عمل ثواب بل سړی ته ملاویږی یا نه. لکه چه
معتزله او شوافع د دے قائیل دی علامه ابن قیم د دے جواب ورکوی
په کوم کښې چه د بل سړی د طرفه د غلام آزادولو ذکر دے. لیکن چه
د دے مطلب دا دے چه د بل چا د طرفه غلام آزادکړی هغهٔ د پاره
دُعا اُوکړے شي. لیکن د عبادات مالیه ثواب د احناف او شوافع وغیره
د ټولو په نزد بل چا ته بخل جائز دی. باقی پاتے شو د قرآن د تلاوت
ثواب، نو د احنافو په نیز د دے هبه کول جائز وی خو د شوفعو په نیز جائز نهٔ دی
امام ابن همام په فتح القدیر کښې پدے باندے ګنر حدیثونه پیش کړیدی باقی پاتے شوه دا شبه
چه د مال او چارپائے ثواب یو مړی ته بخل. وجعلوا لله مما ذرأ من
الحرث والانعام نصیبا فقالوا هذا لله بزعمهم وهذا لشرکائنا. الآیة.
(ع ۱۶ - سورة انعام) نه خلاف دے نو د دے جواب دا دے چه د دے

آیت ایصال ثواب سره هیڅ ټکراؤ نشته ځکه چه د دے مطلب دادے
چه مشرکانو به خپلو معبودانو باطلؤ لره حاجت روا، کار ساز او مافوق
الاسباب نافع، او ضار ګڼړلو سره د هغوئ د خوشحالولو او د هغوئ د
نزدیکت حاصلولو د پاره په ځائے ورکښ د هغوئ حصے مقرر ولے
چه ښکاره شرک دے لیکن په ایصال ثواب (بل ته ثواب رسولو
کښ) داڅیز نه شي موندلے.

وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُ هُوَ
او داچه هغه ۲۵ خندول او ژړول کوي. او داچه هغه
أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ
مړهٔ کول او ژوندي کول کوي. او داچه هغهٔ پیدا کړل جوړه
الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا
نر او ښځه د يو څاڅکي نه کله چه هغه
تُمْنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيْهِ النَّشْأَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٤٧﴾
اوڅڅولے شي. او داچه د هغهٔ په ذمه دی دویم ځل راپاڅول.
وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُ هُوَ
او داچه هغهٔ دولت ورکړو او خزانه او داچه هغه دے
رَبُّ الشِّعْرَىٰ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا
رب ۲۶ د شعرٰی دے. او داچه هغهٔ هلاک کړل عادیان ۲۷ چه
الْأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَ فَمَا أَبْقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوْمَ
مخکني او ثمودیان پس هیڅوک ئے باقي پرے نښودل. او قوم
نُوحٍ مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا هُمْ
د نوح مخکښې د هغوئ نه هغوئ وو

أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴿٥٢﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ﴿٥٣﴾

ظالمان او شرارت کوونکی . او را نسکوره کړې شوې ۲۸ کلی ئے بښکته را اُوغورځول

فَغَشَّاهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ

پس را اُوغورځيدل په هغه (کلی) کوم څه چه را اُوغورځيدل ف۱ . اوس به کوم کوم نعمتونه د خپل رب

تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ

۲۹ له دروغ گڼړې . دا یو ویره وونکے دے د ویره وونکو

الْأُولَىٰ ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن

مخکنو نه . را اُورسیده را تلونکې (قیامت) ۳۰ له نشته هیڅوک د هغې دپاره

دُونِ اللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ

سیوا د الله نه ښکاره کوونکے ایا تاسو د دې خبرې نه ۳۱ له

تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾

تعجب کوئ او خاندئ او نه ژاړئ .

وَأَنتُمْ سَامِدُونَ ﴿٦١﴾ فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا ﴿٦٢﴾ ع

او تاسو لوبې کوئ . پس سجده اُوکړئ د الله په مخکښ او بندگی اُوکړئ ۳۲ له

نکات: ۱ د الله تعالیٰ د عظمت شان او کامل قدرت بیان دے ۱۲ -
۲ تخویف دنیوی ۱۲ - ۳ تخویف اخروی ۱۲ - ۴ زجر ۱۲ - ۵ د سورت خلاصه ۱۲ -

موضح قرآن ف۱ شعرٰی یو غټ ستورے دے چه عربو به د هغې عبادت کولو ۱۲ منه . ف۲ یعنی د کاڼړو باران ۱۲ منه

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د کاڼړو باران ئے پرے اُوکړو ۱۲ -

تفسیر: ۲۵ له وَاَنَّهٗ هُوَ - دلته نه د الله د عظمت شان او د هغه د قدرت کامله بیان دے هر څیز د هغهٔ په تصرف او اختیار کښ دے او د هغهٔ د اقتدار د لاندې دے خندول او ژړول د هغهٔ په اختیار کښ دی چا ته چه اُوغواړی آرام او راحت سره خوشحالئ

ورکولو سره هغه خندوی او چا ته چه اُوغواړی نو په دردونو او مصیبتونو
کښې ئې مبتلاء کړی دَ دیتو په اُوښکو سره ئې ژړوی مرګ او ژوند
هم دَ هغهٔ په قبضه کښې دے او په تصرف کښې وَ اَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوۡجَیۡنِ۔ تُمۡنٰی
یعنی نُطفه دَ مور په رحم کښې اچولے شي ای تدفق فی الرحم (روح)
کله چه دَ نر نطفه دَ ښځې په رحم واچولے شي نو محض خپل قدرت
کامله سره هغه دَ دغه نطفې نه نر او دَ هغې نه ښځه پیدا کوی وَاَنَّ عَلَیۡهِ
الآیة۔ بیا دَ قیامت په ورځ دوباره ژوندی کول هم دَ هغهٔ کار دے چا چه
دَ دے مړې نطفې نه نر او ښځه پیدا کړل هغه دَ انسانانو دَ مرګ نه
روستو دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دے. وَاَنَّهٗ هُوَ اَغۡنٰی وَاَقۡنٰی،
پیدا هم صرف هغهٔ کړل بیا ژوند کښې دَ دولت تقسیم هم دَ هغهٔ په لاس
کښې دے هغهٔ خپل حکمت بالغه سره چا ته چه اُوغواړی غني او مالدار ئې
اوګرځوی او چا ته چه اُوغواړی نو فقیر او غریب ئې کړی۔ قال الاخفش
اقنٰی افقر۔ (روح، قرطبی) قال ابن زید اغنی من شاء وافقر من شاء
(قرطبی ج ۱۷ ص ۱۱۸، ابن کثیر ج ۴ ص ۲۵۹)۔
۲۶ وَ اَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعۡرٰی۔ الشِّعۡرٰی، دا یو روښانه ستورے دے چه
ځنې عربو به دَ دے عبادت کولو یعنی دَ شعری ستوري خالق او مالک
هم صرف الله تعالیٰ دے دَ دے وجے نه دَ دے عاجز مخلوق په ځائے
دَ هغه خالق عبادت کول پکار دی او دَ لات، منات پشان شِعۡرٰی هم
دَ عبادت لائق نهٔ دی۔ هو کوکب یطلع بعد الجوزاء فی شدة الحر
وکانت خزاعة تعبدها (مدارک ج ۴ ص ۱۵۱) وتخصیصها فی الذکر ههنا
للاشعار بانها مخلوقة لله تعالیٰ لایستحق العبادة مثل اللات والعزی
ولعل قوما عبدوها فی زمن ابراهیم علیه السلام ایضا ولذلک ورد
التخصیص بذکرها فی صحف ابراهیم وموسٰی (مظهری ج ۹ ص ۱۳۲)۔
۲۷ وَ اَنَّهٗ اَهۡلَكَ۔ دَ عَادِ اُولیٰ نه دَ هود علیه السلام قوم مراد دے ځکه
چه هغه دَ نوح علیه السلام دَ قوم نه روستو دَ باقی ټولو سرکش قومونو نه
مخکښې هلاک شو۔ دَ دے وجے نه هغهٔ ته الاُولیٰ اُو ئیلے شو یا دا صفت
دَ دویم عاد یا نو نه دَ ممتاز کولو دَ پاره دے چه دَ دینه یا خو قوم ثمود مراد
دے یا دَ عمالقه قبیله بنو سقیم بن هزال (روح) یعنی تیر شوی سرکش
او کافر قومونه مثلاً عاد، ثمود او دَ هغوئ نه مخکښې قوم نوح الله تعالیٰ
هلاک کړیدی او دَ هغوئ نه ئې هیڅوک هم پرے نهٔ ښودل ځکه
چه هغوئ ډیر بے انصاف او دَ حد نه تجاوز کوونکی وو دَ هغوئ بے انصافی
دا وه چه هغوئ دَ خدائے عاجز مخلوق دَ قادر او قیوم خدائے سره شریکان

جوړول او دَ خدائے نه سیوائے هغوئ رابلل او دَ هغوئ دَ عناد او سرکشئ داحال وو چه دَ حق پیژندلو با وجود ئے خالص دَ ضد او حسد دَ وجے نه دَ هغے نه انکار کولو۔

۲۸ وَالْمُؤْتَفِكَةَ، دیته دَ لوط علیه السلام دَ قوم کلی مراد دی او دا دَ موسیٰ علیه السلام دَ صحیفو مضمون دے المؤتفكة کوم چه را نسکوره کړے شوی وی۔ دَ لوط علیه السلام قوم دَ لاندے نه پورته کړے شو او نسکوره را اُوغورځولے شول۔ یعنی مدائن قوم لوط علیه السلام ائتفکت بهم ای انقلبت وصار عالیها سافلها (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۲۰) فَغَشّٰهَا۔ الآیة۔ داکلی نسکوره کړے شول او دَ کاڼو باران پرے اُووروولے شو۔ دومره کاڼی پرے اُووروولے شو څه تپوس به ئے کوے چه دَ هغے دَ لاندے تول کلی راګیر کړے شول څومره عبرتناک انجام وو دَ دغه کلو۔

۲۹ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ۔ الآیة۔ تخویف دُنیوی دا خطاب هر سرکش او مکذب ته دے، ته دَ الله تعالیٰ په کوم یو نعمت کښ شک کوے او هغه دَ الله تعالیٰ دَ طرفه نه ګڼړے او غیر الله ته آواز کوے۔ هٰذَا نَذِیْرٌ۔ الآیة۔ اشاره قرآن مجید یا محمد صلی الله علیه وسلم طرف ته ده حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دَ تیر شوو ویره وونکو پیغمبرانو دَ قافلے نه آخری رکن دے څنګه چه تیر شوو سرکش قومونو دَ خپلے خپلے زمانے پیغمبران دروغ اُوګڼړل او تباه او برباد شول اے دَ مکے مشرکانو! واورئ څمونږ دَ آخری پیغمبر دروغ ګڼړونکو۔ که چرے تاسو دَ ضد او عناد نه منع نشوئ نو ستاسو انجام به هم دَ دغه قومونو پشان وی۔

۳۰ اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ۔ دا تخویف اُخروی دے۔ اَلْاٰزِفَةُ، ډیر زر راتلونکے۔ دا دَ قیامت نوم دے۔ کَاشِفَةٌ، یا دَ نفس مقدر صفت دے یا مصدر دے (روح) یعنی قیامت په سر راُورسیدو او دَ الله نه سیوا دَ هغهٔ دَ معین وخت نه هیڅوک پرده نهٔ شی پورته کولے سره دَ دے چه قیامت ډیر نزدے دے لیکن دَ هغهٔ دَ ظهور وخت دَ الله نه سیوا هیچا ته معلوم نهٔ دے۔ ۳۱ دا منکرینو ته زجر (تنبیه) ده اے دَ مکے قریشو تاسو په دے قرآن متحیر یئ او دَ بے وقوف توب په وجه دَ دیته انکار کوئ او په دے پورے توقے کوئ لیکن تاسو دَ وعد او وعید ایتونو آوریدلو سره خپلے سرکشئ او خویونو عادتونو باندے کله هم ژړا رانغله او تاسو دَ حق نه څوارولو پوره غفلت کښ پریوتلی یئ (اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِیْثِ) ای القرآن (تعجبون) انکارا (وتضحکون) استهزاء (ولا تبکون) تحزنا علی ما فرطتم (بیضاوی) ولا تبکون لسماع وعده ووعیده (جلالین)۔

۳۲ه فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا، دا په آخر کښې دَ سورت خلاصه ده یعنی صرف الله تعالیٰ ته سجده او صرف دَ هغهٔ عبادت اُوکړئ په مصیبتونو او حاجتونو کښې فرشتے، لات، عزّیٰ او منات وغیره مهٔ رابلئ ځکه چې څوک دَ الله په دربار کښې شفیع غالب نهٔ شی. فاسجدوا لله خاصة واعبدوا الله خاصة (الشیخ رحمه الله تعالیٰ) ای اعبدوه دون غیره (مظهری ج۹ ص۱۳۴) وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین والصلوٰة والسلام علی سید المرسلین وآله واصحابه اجمعین.

سورة النجم کښې دَ توحید آیتونه او دَ هغې خصوصیات

۱: افرءیتم اللٰت والعزّٰی ٥ ومنٰوة الثالثة الاخرٰی ٥ (۱۶) نفی دَ شرک فی التصرف.

۲: الکم الذکر وله الانثٰی ٥ تلک اذا قسمة ضیزٰی ٥ نفی دَ شفاعت قهری دَ ملائکه علیهم السلام.

۳: ان هی الا اسماء سمیتموها ـــ نه تر ـــ فلله الاٰخرة والاولٰی ٥ نفی دَ شرک اعتقادی او نفی دَ شفاعت قهری دَ معبودان باطله نه.

۴: وکم من ملک فی السمٰوٰت ـــ نه تر ـــ وان الظن لا یغنی من الحق شیئا ٥ (۲۶) نفی دَ شفاعت قهریه دَ ملائکه علیهم السلام نه.

۵: وانه هو اضحک وابکٰی ـــ نه تر ـــ فغشّٰها ما غشّٰی ٥ (۳۶) نفی دَ شرک فی التصرف او بیان دَ قدر او تصرف او اختیار دَ الله تعالیٰ.

۶: فاسجدوا لله واعبدوا ٥ نفی دَ هر قسم شرک او امر په عبادت خالص کولو سره دَ الله تعالیٰ دَ پاره.

نن په تاریخ جمادی الثانیه سنه ۲۶ جولائی ۲۰۰۵ء ورځ دَ ټیلے وخت دَ ماز یګر پنځه بجے او اتهٔ دیرش منټه دَ پاسه دَ سورهٔ نجم پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو. فلله الحمد فی الاولی والاٰخرة والصلوٰة والسلام علی الشفیع المشفع یوم الازفة وعلی اٰله وصحبه الذین کانوا اتقی الامة واهدی الائمة.

بنده عبد المالک حقانی عفی الله عنه

له سورة القمر

ربط په سورهٔ نجم کښ ذکر شوے وُو چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا هیڅوک مهٔ رابلئ او هیڅوک دَ هغه په دربار کښ شفیع غالب مهٔ ګنړئ اوس په سورهٔ القمر کښ دَ دے علت او دلیل ذکر کړے شوے دے یعنی دَ دے وجه نه چه کارساز او هرڅیز په یو اندازه باندے پیدا کولو والا صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے. دَ سورهٔ قمر دا دعوی دَ سورت په آخر کښ اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ کښ ذکر شویده. دَ سورهٔ قمر نه واخله تر سورهٔ حدید پورے دَ هر سورت دعوی دَ هغه په آخر کښ ذکر شویده.

خلاصه په شروع کښ او آخر کښ شکوی، تسلّی، زجر، تخویف اُخروی، بشارت اخرویه، او په مینځ کښ پنځه نمونے او دَ دینه روستو التفات دَ اهل مکه طرف ته په غرض دَ تنبیه او په آخر کښ دَ سورت دعوی.

تفصیل

اقتربت الساعة وانشق القمر تمهید دَ پاره دَ تخویف اخروی سره دَ زجر وان یروا ـــ نه تر ـــ فما تغن النذر دا شکوی ده. دَ شق قمر معجزه ظاهر شویده چه دَ قرب قیامت دلیل دے لیکن مشرکان په سرکشئ کښ سرګردان (حیران) دی. معجزات ته جادو وائی او دَ خپلو خواهشاتو تابعداری کوی حال دا دے چه هغوئ ته قرآن دَ حکمت او هدایت نه ډک کتاب راغلے دے او هغوئ دَ تیر شوو سرکش قومونو عبرتناکے قصے هم اوریدلے دی. فَتَوَلَّ عَنْهُمْ تسلّی ده نبی علیه السلام ته دے سرکش او نافرمانو باندے دَ الله حجت تمام شوے دے اوس تبلیغ او ویرولو سره هغوئ ته هیڅ فائده نهٔ کیږی دَ دے وجے نه دَ هغوئ نه اعراض اوکړئ.

یَوْمَ یَدْعُ الدَّاعِ ـــ نه تر ـــ هٰذَا یوم عسر ، دا تخویف اخروی دے دَ قیامت په ورځ چه کله شپیلئ کښ پو کولے شی نو ټول خلق به دَ قبرونو نه راوځی دَ ویرے او دَ دهشت په عالم کښ به دَ ملخانو پشان دَ بلونکی طرف ته منډے وهی. دغه ورځ به کافران وائی نن ورځ خو ډیر سخته او ګرانه ده. کذبت قبلهم قوم نوح ـــ نه تر ـــ فهل من مدکر. دا دَ تخویف دنیوی اوله نمونه ده. دَ قریش دَ مشرکانو نه مخکښ دَ نوح علیه السلام قوم خپل پیغمبر دروغ اوګڼړلو او هغوئ باندے ئے مختلف قسم

عیبونه اولګول آخر هغه سرکش او نافرمان قوم طوفان سره هلاک کړے شو. دا قصّه دَ روستو راتلونکو دَپاره دَ عبرت باعث ده دَ دے وجے نه دَ قرآن پۀ نصیحت باندے عمل اوکړئ دے دَپاره چه دَ هغوئ پشان انجام نه بیج شئ.

كَذَّبَتْ عَادٌ ——— نه تر ——— فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ○ دا دَ تخویف دنیوی دویمه نمونه ده. دَ عاد قوم هم خپل پیغمبر هود علیه السلام دروغ اوګڼړلو نو تاسو اولیدۀ چه مونږ په هغوئ باندے څنګه دردناک عذاب مسلط کړو ډهوا په یو تیز او تند طوفان سره مونږ هغوی هلاک کړل او دَ راتلونکو نسلونو دَپاره مونږ هغوئ عبرت اوګرځولو. كَذَّبَتْ ثَمُودُ ——— نه تر ——— فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ○ دا دَ تخویف دنیوی دریمه نمونه ده دَ ثمود قوم هم دَ پیغمبرانو نه انکار اوکړو خپل دَ هدایت دَپاره ولے بشر پاتے شوے ووچه مونږ دَ هغه تابعداری اوکړو. دا خو به لیونتوب او بے وقوف توب وی. آخر دا چه هغوئ ته دَ کیتے نه دَ اوښے راویستلو معجزه هم اوښودلے شوه لیکن بیا هم په خپل عناد او انکار باندے قائم پاتے شول او اوښه ئے اووژله او دَ خدائے په عذاب سره تباه او برباد کړے شول.

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ ——— نه تر ——— فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ○ دا دَ تخویف دنیوی څلورمه نمونه ده. دَ لوط قوم هم دَ پیغمبرانو تکذیب اوکړو او حضرت لوط علیه السلام ئے دَ خپلو میلمنو باره کښ پریشانه کړو نو هغوئ هم سخت ویروونکی عذاب سره ختم کړے شول. وَلَقَدْ جَاءَ آلَ فِرْعَوْنَ ——— نه تر ——— عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ دَ تخویف دنیوی دا پنځمه نمونه ده فرعون او دَ هغه قوم هم تکذیب اوکړو او ټولے معجزے ئے دروغ اوګڼړلے نو په هغوئ ډیره سخته نیوکه اوشوه او هغوئ په دریاب کښ غرق کړے شول.

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ الآية التفات اهل مکه طرف ته دا زجر دے دَ مکے مشرکان نه خو دَ تیر شوو کافرانو نه ښۀ دی او نۀ هغوئ دَپاره دَ عذاب نه څۀ دَ خلاصی چیټۍ شته دَ دے وجے نه دَ هغوئ انجام به هم هغه وی کوم چه دَ تیر شوو سرکش قومونو شوے دے. اَمْ يَقُولُونَ ——— نه تر ——— اَمَرُّ دا شکوه ده مشرکان وائی چه مونږ دله به بدله اخلو. لیکن ډیر زر به شکست اُخری تیښته به اوکړی. دا خو معمولی عذاب دے اصل عذاب خو به دَ قیامت په ورځ وی چه ډیر زیات دهشتناک دے. اِنَّ الْمُجْرِمِينَ ——— نه تر ——— مَسَّ سَقَرَ. دا تخویف اخروی دے مجرمان چه په دنیا کښ ګمراهئ او سرکشئ په نشه کښ ورک دی کله چه هغوئ په جهنم کښ راښکلے شی هغه وخت به هغوی ته وئیلے شی اوس لږ شان نیبے وهونکے اور هم اوڅکئ.

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ـــــ نه تر ـــــ بالبصر . دا د سورت دعوی ده یعنی د هر څیز پیدا کولو والا صرف الله تعالیٰ دے او په ټول کائنات کښې صرف هغه متصرف او مختار او کارساز دے . لهٰذا د هغهٔ نه سیوا حاجتونو کښې بل چاته آواز مهٔ کوئ او نه چه څوک د هغه په مخکښې شفیع غالب اوګڼړئ . وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا ـــــ نه تر ـــــ مستطر دا تخویف دنیوی او اخروی دے ستاسو پشان سرکش او ظالمان مونږ مخکښې هلاک کړیدی د هغوئ د بد انجام نه عبرت حاصل کړئ او ستاسو هره خبره لیکلے شی . د قیامت په ورځ به د هر عمل پوره پوره جزاء او سزاء ملاویږی . ان المتقین ـــــ نه تر ـــــ ملیك مقتدر دا بشارت اخروی دے . متقیان او پرهیزګار خلق به د جنت په نعمتونو کښې د الله تعالیٰ سره خوشحال ترو تازه وی .

سُوْرَةُ الْقَمَرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سوره قمر مکه کښې نازل شوې ده او دې کښې پنځه پنځوس ایتونه او درې رکوع ګانې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع د الله په نوم چې ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۝١ وَاِنْ

رانژدې شوه قیامت او دوه ټکړې شوه سپوږمۍ او که چرې

يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ

هغوئ اووینې څه نښه نو مخ واړوي او وائي دا جادو دے

مُّسْتَمِرٌّ ۝٢ وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ

د پخوانه راچلیږي او دروغ ئې اوګڼل او روان شول دوئ په خپلو خواهشاتو پسې

وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ۝٣ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ

او هر کار مقرر دے په وخت باندې او راغلي دي هغوي ته

مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ۝٤ حِكْمَةٌۢ

احوال چې په هغې کښې تنبیه کیدے شي پوره د عقل

بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ۝٥ فَتَوَلَّ

خبره ده بیا پس په کار نه راځي دوي ډیرونکي . نو ته مخ واړوه

عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ۝٦

د دوي نه طرف په کومه ورځ چې آواز اوکړي اواز کوونکے یو ناخوښه څیز ته هم

خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ

خوار به وي سترګې د هغوي د قبرونو نه به راوځي

كَاَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِيْنَ

لکه چې هغوي ملخان دي . خواره واره منډې به وهي

إِلَى الدَّاعِ ۖ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ

ده غه بلونکي طرف ته، وائي به كافران دا ورځ

عَسِرٌ ﴿٨﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ

سخته راغله. دروغ گڼلې دي د دوي نه مخکښ که د نوح قوم

فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ﴿٩﴾

بيا ئې دروغژن او وئيل څمونږ بنده ته او وې وئيل ليونې دے او اوئې رټلو هغه.

فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ ﴿١٠﴾

پس اواز ئې اوكړو خپل رب ته شه چه زه عاجز شوے يم نو بدله واخله ته.

فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿١١﴾

بيا مونږ پرانستلې دروازې د آسمان په اوبو ډيرو راتويه ووتکو سره.

وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ

او روانې كړې مونږ د زمكې نه چينې پس يو ځائې شوے تولې اوبه

عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾ وَحَمَلْنَاهُ عَلَىٰ ذَاتِ

په يو كار چه مقرر شوے وو. فِـ او مونږ هغه سوار كړو له په يو ه (كشتۍ)

أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً

د تختو او ميخونو والا باندے. تلله په څمونږ د سترګو په وړاندے بدله اخستلو د پاره

لِّمَن كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾

هغه چا د پاره چه د هغه قدر ئې نه وو پيژندلے فِ فِ ۲

نكات ـ ۱ تمهيد د پاره د تخويف أخروى ۱۲ ـ ۲ تخويف أخروى ۱۲.
ـ ۳ د تخويف دنيوى اوله نمونه ۱۲.

موضح قرآن فِ۱ د حج په ورځو كښ نيمه شپه وه كافران جمع وو. نبي عليه السلام پوهول (دعوت ئې وركولو) هغوئ پو نښه اوغوښتله نبي عليه السلام اوفرمائيل آسمان طرف ته اوګورئ

سپوږمۍ دوه ټکړے شوه یو ټکړه دَ هغې نه مشرق طرف ته لاړه او بله مغرب طرف ته. کله چه ښه اولیده له بیا خپل مینځ کښې سره یوځائے شوه دا نښه وه دَ قیامت چه رانلونکی وخت کښې به ټول هرڅهٔ هم دا شان اوچوی. ف۲ یعنی دَ هغوئ عذاب به هم په یو مقرر وخت راځي ۱۲ منه. ف۳ یعنی حساب دَ پاره ۱۲. ف۴ یعنی حضرت نوح علیه السلام ۱۲ منه.

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی دَ قوم هلاکت ۱۲. ف۲ یعنی دَ نوح دَ انتقام دَ پاره.

تفسیر | ۲ه اقتربت الساعة ــــ نه تر ــــ فما تغن النذر. دا تخویف اُخروی دَ پاره تمهید او زجر دے سره دَ شکوی نه یعنی څنګه چه سپوږمۍ دوه ټکړے شوه دا شان به تاسو هم فناء شئ او څنګه چه دَ سپوږمۍ دوه ټکړے دوباره یوځائے شوے دغه شان به تاسو هم دوباره ژوندی کړے شئ دَ قبرونو نه به پاڅولے شئ. انشق القمر نه دَ سپوږمۍ دَ دوه ټکړو کیدلو معجزه مراد ده چه دَ مکے دَ مشرکانو په مطالبه باندے الله تعالیٰ ظاهر کړه کله چه مشرکانو دَ هغې مطالبه اوکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم الله تعالیٰ ته درخواست اوکړو چه هغوئ ته دا معجزه ښکاره کړي بشارت چه هغوئ ایمان راوړي نو الله تعالیٰ دَ خوار لسے شپے سپوږمۍ دوه ټکړے کړه دَ توحید او رسالت په صداقت ئے یو ډیر روښانه او واضح دلیل قائم کړو. انشق القمر وذلك علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم قبل الهجرة بنحو خمس سنين فقد صح من رواية الشيخين وابن جرير عن انس ان اهل مكة سألوه عليه الصلوٰة والسلام ان يريهم اية فاراهم القمر شقتين حتى رأوا حراء بينهما (روح ج ۲۷ ص ۷۴) وكانت ليلة البدر، فسأل رسول الله صلی الله علیه وسلم ربه ان يعطيه ما قالوا فانشق القمر فرقتين (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۲۷).

۳ه وَإِن يَرَوْا الاية. مستمر مضبوط او پوخ یا رازوان. مستمر. قوی شدید يعلو كل سحر (مظهری ج ۹ ص ۱۳۵) ای مار ذاهب يزول ولا يبقى (مدارك ج ۴ ص ۱۵۲) دَ مشرکانو عناد او سرکشي، ضد، حسد دے حد ته رسیدلے وُو چه دَ داسے حیرانوونکو معجزات لیدلو کتلو سره ئے هم ایمان رانهٔ وړو او هغې ته ئے مضبوط او لاجواب جادو اووئیل دَ هغوئ عادت بس دا وو چه کله به ئے هم څهٔ معجزه اولیده له نو هغې ته به ئے چلیدلے جادو وئیلو او وئیل به ئے دا کوم باقی پاتے کیدونکے څیز نهٔ دے نزدے ده چه دَ دے اثر به زائل شي.

۴ه وَكَذَّبُوا الاية دے سرکشانو داسے لوئے معجزے هم دروغ اوګڼړلے

او دَ خپلو خواهشاتو تابعداری ئے اوکړه. لیکن دَ دوی تکذیب سره د
الله په فیصله باندے هیڅ اثر او نه شو. الله تعالیٰ فیصله کړے ده چه
حق دین به غالب کوی او دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلم مشن به کامیابوی
او دَ دین دشمنان به خوار او ذلیل کړی دَ دے وجے نه دَ الله تعالیٰ هره فیصله
به خپلے انتها او آخرته رسیږی. ای وکل امر من الامور منته الی غایة
یستقر علیها لا محالة ومن جملتها امر النبی صلی الله علیه وسلم فسیصیر
الی غایة یتبین عندها حقیقته وعلو شانه (روح ج ۲۷ ص ۷۹).
ﻫ ولقد جاءهم. مزدجر. دَ منع کیدلو ځائے او دَ عبرت ځائے. حکمة
بالغة. دا دَ ما نه بدل دے یا دَ مبتداء محذوف خبر دے بدل من ما
او هو حکمة (مدارک ج ۴ ص ۱۰۳) یعنی دَ دے معاندینو ته په قرآن کښ دَ
تیرشوو سرکش قومونو دَ عبرتناک انجام دومره ډیر واقعات راغلی دی چه
په هغے کښ دَ عبرت کافی سامان موجود دے او کوم سړے چه اخلاص سره دَ
عناد او سرکشئ نه واپس راتلل غواړی هغه دَ پاره دے واقعات کښ دَ تنبیه
او ویرولو کافی مواد موجود دی او هغه ټول حکمت او پوهه ده او دَ دهٔ هره
خبره دَ حکمت زجر انتهاء ته رسیدلے ده. یعنی القرآن حکمة تامة قد
بلغت الغایة فی الزجر (معالم وخازن ج ۶ ص ۲۷۴) فما تغن النذر مصدر
دے په معنیٰ دَ انذار یعنی کوم خلق چه دَ داسے لویو معجزاتو لیدلو او دَ
قرآن پشان دَ عبرت او حکمت نه ډک کتاب اوریدلو او دَ تیرشوو قومونو دَ
عبرتناک انجام پیژندلو باوجود ایمان نهٔ راوړی اوس به هغوی ته تبلیغ
او ویرولو سره هیڅ فائده نه وی. فتول عنهم. دا رسول الله صلی الله علیه
وسلم ته تسلی ده یعنی تاسو دَ تبلیغ او انذار حق ادا کړیدے او په مشرکانو
باندے تاسو دَ الله حجت قائم کړیدے اوس به زیاتے وعظ او نصیحت په
هغوی هیڅ اثر نهٔ کوی ځکه چه دَ هغوئ په زړونو باندے دَ جباریت مهر
لګیدلے دے دَ دے وجے نه اوس تاسو دَ دوئ نه اعراض اوکړئ یعنی ای
شیء تغنی النذر عمن کتب الله علیه الشقاوة وختم علی قلبه (ابن کثیر
ج ۴ ص ۲۶۳) فتول عنهم لعلمك ان الانذار یعنی فیهم (مدارك ج ۴ ص ۱۰۳)
ځکه چه بل ځائے ارشاد دے. فاعرض عمن تولی عن ذکرنا (النجم ع ۲).
ﻟﻪ یوم یدع. دا تخویف اخروی دے او ظرف یخرجون متأخر
سره متعلق دے او خشعا ابصارهم جمله دَ ضمیر یخرجون نه حال
دے نکر یو ویرونکے څیز چه دَ هغے سره مخکښ هیڅ واسطه نهٔ وی
پړیوتلے دَ قیامت سختی وغیره او دهشت مراد دے (مدارک) او
داعی نه مراد حضرت اسرافیل علیه السلام مراد دے (روح) په

کومه ورځ چه دَ حضرت اسرافیل علیه السلام شپیلۍ پوکولے شي او ټول په میدان محشر کښ دَ قیامت ویروونکي منظر طرف ته راوبللے شي نو ټول خلق به دَ قبرونو نه را اوځي دَ ویرے دَ وجے نه به دَ هغوی سترگے ټیټے او خوارے ذلیل وي او هغوئ به ملخانو پشان په زمکه خواره شوے وي او دَ آواز کوونکي طرف ته به منډے وهي کافران او مشرکان به دغه وخت چغے وهي چه نن ورځ خو ډیره سخته او مشکل ده ځکه چه هغوئ ته به خپل انجام په نظر راشي. دَ قیامت ورځ به یقیناً چه دَ کافرانو دَپاره ډیره سخته وي لیکن مؤمنان به دغه ورځ کښے دَ سختۍ نه محفوظ وي اگر چه دَ قیامت دَ هولناک منظر په وجه باندے به وقتي طور ویره په دوی باندے هم راغلے وي. وفیه اشارة الی ان ذلك الیوم یوم شدید علی الکافرین لا علی المؤمنین (خازن ج ۶ ص۲۴۳)

که کذبت قبلهم، دا دَ تخویف دنیوی اوله نمونه ده دَ تیرشوؤ سرکش قومونو حال ئے بیان کړو مشرکانو دَ قریش ته عبرت ورکول مقصود دے اول قومونو دَ خپل خپل وخت پیغمبران او صحیفے دروغ اوگڼړلے آخر دَ دغه جرم په سزا کښے تباه او برباد شول دَ قریش مشرکانو ته دَ الله آخري پیغمبر او دَ هغهٔ آخري کتاب راغلے دے چه په هغے باندے پوهیدل مونږ دَ دوئ دَپاره آسان کړیدي که چرے هغوئ خپل موجوده دَ عناد خوئ خصلت باندے قائم پاتے شي نو دَ هغوی حشر به هم دَ تیرشوو قومونو پشان وي دَ قریش کافرانو نه مخکښ دَ نوح قوم ځمونږ دَ بنده نوح علیه السلام تکذیب کړیدے او صرف تکذیب ئے او نهٔ کړهٔ بلکه دَ عناد او سرکشۍ په وجه ئے هغوی دَ سپک کنړلو او توقوکولو نشانه هم اوگرځوله او دَ هغه په شان کښے ئے بے ادبي هم اوکړه هغه ته ئے لیونے او وئیل ځکه چه هغه په سوونو کلونو نه صرف یوه خبره (دَ الله دَ توحید) بیا بیا کوله. دَ دهٔ عقل په ځائے نهٔ دے پاتے شوے. معلومیږي چه ځمونږ دَ کوم معبودانو مخالفت کوي هغوئ ناراض شول دَ دهٔ عقل او پوهه ئے ختمه کړیده. (معاذًا بالله تعالیٰ).

ځکه چه دَ عاد قوم سرکشانو حضرت هود علیه السلام ته وئیلے وو. ان نقول الا اعتراک بعض الهتنا بسوٓءٍ (هود ۵۴) قال مجاهد وازدجر استطیر جنوناً (ابن کثیر، بحر)

ښه فَدَعَا رَبَّهٗ کله چه نوح علیه السلام دَ خپل قوم نه ناامید شو نو دَ الله نه ئے دُعاء اوغوښتله چه زهٔ دَ دوی دَ عناد او سرکشۍ په وجه سره مغلوب شوے یم او اوس هغوئ ایمان نهٔ راوړي دَ دے وجے نه اوس هغوئ هلاک کړه او ځما بدله ترینه واخله ځکه چه زهٔ دَ دوئ بدله نهٔ شم

اخستلے ۔ فَفَتَحْنَا اَبْوَابَ السَّمَآءِ الخ نو مونږ دَ آسمان دروازے پرانستلے او
په هغوئ باندے دَ ناوُو پشان اوبه را توئیدل شروع شول ۔ دَ آسمان
دروازے پرانستل کنایه ده دَ ډیر زیات باران نه ۔ او دَ زمکے نه هم مونږ
چینے راووېستلے ۔ فَالْتَقَى الْمَآءُ الخ دَ زمکے او آسمان اوبه یوځائے شوے هغه
اندازے ته اورسیدلے کوم چه الله مقرر کړے وه یعنی دَ اوبو سطح دومره اوچته
شوه څومره چه الله ته منظوره وه ۔ یا علی تعلیلیه دے او مطلب دا دے چه دَ زمکے
او آسمان اوبه دَ هغه مقصد پوره کولو دَپاره یوځائے شوے کوم چه الله تعالٰی
مخکښ مقدر کړے وو یعنی دَ نوح علیه السلام دَ قوم تباهی او هلاکت ۔ او علی
امر قدره الله تعالٰی وکتبه فی اللوح المحفوظ وهو هلاک قوم نوح بالطوفان و
(علی) علیه للتعلیل (روح ج ۲۷ ص ۸۲).

۹ وَحَمَلْنٰهُ ۔ دُسُرٍ ، جمع ده دَ سار یعنی میخونه دَ تختو او میخونو والا نه مراد
کشتئ ده چه دَ لرګو تختے میخونو سره خپل مینځ کښ یوځائے کړے شوے وی او
تیار کړے شوے وه ۔ بِاَعْیُنِنَا ، څمونږ دَ سترګو په وړاندے یعنی څمونږ په نګرانئ
او حفاظت کښ (بیضاوی، مدارک) . نوح او هغه سره مؤمنان مونږ په کشتئ کښ
سوارهٔ کړل چه څمونږ په حفاظت او نګرانئ کښ چلیدله ۔ دغه شان مونږ
هغوئ دَ طوفان نه بچ اوساتل او ټول مشرکان مونږ غرق کړل دا مونږ دَ هغوی
نه دَ هغه سړی انتقام او بدله واخستله هغوی چه دَ کوم ناشکری کړے وه دینه
مراد نوح علیه السلام دے ځکه چه هر پیغمبر دَ خپل قوم دَپاره دَ الله نعمت
وی چه دَ هغه قدردانی او شکر دا دے چه په هغه باندے ایمان راوړے شی
او دَ هغه تابعداری اوکړے شی ۔ ای فعلنا ذلک جزاء لنوح علیه السلام فانه
کان نعمة انعمها الله تعالٰی علی قومه فکفروها وکذا کل نبی نعمة من الله
تعالٰی امته (روح ج ۲۷ ص ۸۳) .

وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۵﴾

او مونږ هغه پریخودل نه نښے دَپاره ایا څوک شته نصیحت اخستونکے ف

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۱۶﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

پس څنګه وو څما عذاب او څما ډیرول. او مونږ آسان کړو

الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۷﴾

قرآن پوهیدلو دَپاره پس شته څوک پوهیدلو والا ۔

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ⑱

دروغ اوګڼړلو عادیانو پس څنګه شو څما عذاب او څما ویرول.

إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا

موږ اولیږله په هغوئ باندې هوا تېزه

فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُسْتَمِرٍّ ⑲ تَنْزِعُ النَّاسَ

د یوې بدې ورځې چه همیشه وی د هغې بدی وی. راویستل به ئې خلق

كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُنْقَعِرٍ ⑳ فَكَيْفَ

لکه چه هغوئ د کجورو تنې دی د بېخ نه ویستلې شوې. پس څنګه وو

كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ㉑ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ

څمونږ عذاب او ویرول. او موږ آسان کړو قرآن

ع ۲۲ / ۸ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ㉒ كَذَّبَتْ

پوهیدلو د پاره آیا شته څوک پند اخستونکے. دروغ اوګڼړل

ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ㉓ فَقَالُوا أَبَشَرًا مِنَّا

ثمودیانو ویروونکی. پس وې وئیل آیا یو سړے څمونږ نه

وَاحِدًا نَتَّبِعُهُ إِنَّا إِذًا لَفِي ضَلَالٍ

یواځې موږ د هغه په وینا باندې لاړ شو نو موږ خو په غلطئ کښې پریوتلو

وَسُعُرٍ ㉔ أَأُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْ بَيْنِنَا بَلْ

او لیونتوب کښې. آیا نازل شو په هغهٔ باندې نصیحت څمونږ د ټولو نه سیوا (رحی لاده)

هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ㉕ سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَنِ

بلکه دا دروغژن دے لوئی کوونکے اوس به پوهه شی چه صباله څوک

الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ㉖

دروغژن دے او لوئی کولو والا.

نکات سـ۱ دَ تخویف دنیوی دویمه نمونه . سـ۲ دَ تخویف دنیوی دریمه نمونه ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعنی دنیا کښ دَ هغه وخت نه کشتئ پاتے شوے یا هغه کشتئ په جودی غر باندے پاتے شوه چه په جودی غر باندے په نظر راځی دَ ډیرو پیړو دَ امت خلقو هم اولیدله ۱۲ منه. ف۲ یعنی بدی پوره نه شوه ترڅو پورے چه ئے ټول ختم نکړل دَ نحوست ورځ هغوئ باندے وه دا نه چه همیشه ۱۲ منه.

تفسیر

ـله وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَا ، مونږ دا قصه دَ عبرت او نصیحت یو دلیل او نښه اوګرځوله آیا څوک شته دَ دینه عبرت حاصلوونکے ؟ نُذُرِ مصدر دے په معنیٰ دَ انذار او استفهام تعظیم او تعجیب دَ پاره یعنی څما ویره او څما عذاب څومره زیات دهشتناک او دَ عبرت نه ډک دے . وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ الْاٰيَة دَ ټولو واړو قصو نه روستو دا ذکر شویدے دَ هر یو قصے نه روستوئے وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْبَآءِ الْاٰيَة مضمون ورپیاد کړو او تنبیه ئے ورکړه چه هره قصه په خپل ځائے دَ عبرت نه ډکه ده او کافی او مستقل ده . مونږ قرآن دَ هغوئ په ژبه کښ نازل کړو دے کښ مونږ دلائل ، اخبار او حالات دَ تیرشوو امتونو او وعد ، وعید (خوشخبریانے او ویرول) ذکر کړل دَ پند او نصیحت حاصلولو دَ پاره مونږ آسان کړیدے آیا څوک شته چه دَ دینه نصیحت حاصل کړی او دَ دے انوار او برکات سره خپله سینه روښانه کړی ؟

ـله كَذَّبَتْ عَادٌ دا دَ تخویف دنیوی نمونه ده دَ قوم عاد انجام هم ډیر زیات عبرتناک دے . مونږ هغوئ ته خپله پیغمبر اولیږه او هغوئ مونږ او ویرول او په تکذیب او انکار باندے مونږ هغوئ په کوم قسم هولناک عذاب سره هلاک کړل صرصر ډیر زیات تیز او تند طوفان دَ باد . يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ، هغه ورځ دَ دغه قوم دَ پاره دَ همیشه بد بختئ ورځ وه ځکه چه دَ دغه ورځ نه واخله تر دَ قیامت پورے به دَ عالم برزخ په عذاب کښ اوسیږی . او هغے نه روستو به دَ جهنم په عذاب کښ همیشه دَ پاره داخل کړے شی . مستمر دَ یوم صفت دے یا نحس دَ پاره نَخْلٍ اسم جنس دے دَ دے وجے نه مذکر او مؤنث دواړو طریقو سره مستعمل دے . په اعتبار دَ لفظ مذکر لکه چه دلته دے نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ، او په اعتبار دَ معنیٰ مؤنث دے لکه چه په سورة الحاقه کښ كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ

خاویة. منقعر، دَ بیخ نه ویستل شوي. مونږ دَ عاد په قوم باندې ډیر زیات ټنډ او تیز طوفان دَ هوا مسلط کړو او هغه ورځ دَ هغوئ دَ همیشه بد بختۍ ورځ ثابته شوه دَ هوا طوفان داسې تیز او زوراور وو چه انسانان به ئې دَ زمکې نه اوچتول او راغوړ ځول به ئې او هغوئ به دَ کجورو دَ ویستلې شوو تنو پشان په هوا کښې الوتل او راپریوتل به. فکیف کان عذابی ـــــ نه تر ـــــ فهل من مدکر. ځمونږ عذاب څومره هیبتناک وو. دغه شان مونږ په قرآن کښې دَ تیرشوو قومونو احوال بیانوو دې دَ پاره چه څوک دَ دې نه عبرت حاصل کړي. دَ قرآن نه پند نصیحت حاصلول آسان دي لیکن څوک چه زده کولو والا خو چه وي.

لله كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ، دا دَ تخویف دنیوي دریمه نمونه ده. النذر دَ نذیر جمع ده دَ ټولو انبیاء علیهم السلام چونکه یو پیغام دې دَ دې وجې نه دَ یو پیغمبر تکذیب لکه چه دَ ټولو تکذیب دې. فان تکذیب احدهم وهو صالح علیه السلام هنا تکذیب للکل لاتفاقهم علی اصول الشرائع (روح ج ٢٧ ص ٨٧) بَشَرًا دَ پاره ناصب محذوف دې علی شریطة التفسیر (مدارک، روح) سُعُرٍ، لیونتوب او بې عقلي (قرطبي) دَ ثمود قوم سرکش او مغرور سردارانو اووئیل مونږ دَ خپل قوم یو شړ پیغمبر او منو او دَ هغه منونکي جوړ شو؟ که چرې مونږ داسې اوکړو نو زمونږ دا کار به ټول غلط وي دا به ښکاره بې عقلي او لیونتوب وي چه مونږ دَ یو بشر تابعدار او فرمانبردار جوړ شو ځکه چه په یکښې خو ځمونږ ښکاره توهین او رسوائي ده او دا دَ ټولو نه لوئې تاوان دې یقولون لقد خبنا وخسرنا ان سلمنا کلنا قیادنا لواحد منا (ابن کثیر ج ٤ ص ٢٦٥).

تله ءَاُلْقِيَ الذِّكْرُ. دَ خپلې حیرانتیا اظهار ئې اوکړو هغوی اووئیل ایا دا صالح پاتې شوې وو چه په هغه باندې وحي رالیږلې شي حال دا دې چه په مونږ کښې ډیر لوئې لوئې خلق موجود دي چه دَ صالح علیه السلام په مقابله کښې دَ وحي نازلیدلو دَ پاره زیات مستحق دي دَ دې وجې نه هغه العیاذ بالله غلط بیاني کوي او په مونږ باندې لوئي کول غواړي دغه ناپوهه خبیانو دنیوي دولت او شان شوکت دَ استحقاق نبوت دلیل گرځولو. سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا الاٰیة دَ دینه مخکښې قیل مقدر دې الله تعالیٰ حضرت صالح علیه السلام ته اوفرمائیل صباله چه کله په دوي باندې عذاب راشي نو هغوئ ته به معلومه شي چه کذاب او متکبر څوک دې. حکایة لما قاله سبحانه وتعالیٰ لصالح علیه السلام وعدا له ووعیدا لقومه (روح ج ٢٧ ص ٨٨).

إِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ

مونږ لیږو کله اوښه دَ هغوئ دَ امتحان دَ پاره نو ته انتظار کوه

وَاصْطَبِرْ ﴿۲۷﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ

او صبر کوه . او واوروه هغوئ ته چه اوبه تقسیم شویدی

بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿۲۸﴾ فَنَادَوْا

دَ دوی مینځ کښې هر نمبر ته رسیدل پکار دی وا پس آواز اوکړو

صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ

هغوی خپل ملګری ته پس نو هغه راواخستله او پرې کړے رخپے دَ اوښې وانو څنګه شو

عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً

زما عذاب او زما ویرول . مونږ اولیږله په هغوئ چغه

وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ

یوه پس شول لکه ټوټې ټوټې شپول جوړوونکي وابښه مه او

يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾

مونږ آسان کړو قرآن نصیحت قبلولو دَ پاره پس شته څوک نصیحت قبلوونکے .

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا

دروغ اوګڼل دَ قوم لوط ویروونکي . مونږ اولیږله

عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ نَّجَّيْنَاهُم بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾

په هغوئ باندې سیلئ ور وونکي سیوا دَ لوط دَ کور والا نه هغوئ مونږ او ساتل دَ پیشمنې په وخت

نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَن شَكَرَ ﴿۳۵﴾

خپل فضل سره مونږ دغه شان بدله ورکوو هغه چا ته چه حق او مني

وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾

او ویرولے وو هغوئ لره خمونږ د نیولو نه (لوط ؑ) پس شک اوکړو هغوی په ویرولو کښې

وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ

او بیشکه غوښتلے وو هغوی د لوط نه د هغه میلمانه ځکه نو موږ ړندے کړے د هغوی سترگے

فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ

اوس اوڅکئ ځما عذاب او ځما ویرول او پریوت په هغوی

بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ

سحر وختي عذاب کوم چه مقرر وو اوس اوڅکئ ځما عذاب

وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ

اوځما ویرول ۔ او موږ آسان کړو قرآن دپاره د یادولو پند اخستلو

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾ ع ۱۸

آیا شته څوک یادولو پند اخستلو والا۔

نکات ۱ د تخویف دنیوی ځلورمه نمونه ۱۲۔

موضح قرآن ف هغه اوښه چه په کومو اوبو ته ورتلله ټول حیوانات په تښتیدل نو الله تعالیٰ نمبر مقرر کړو چه یوه ورځ به اوښه ځي او یوه ورځ به ټول څاروي ځي ۱۲ منه۔ ف۲ یوه بدکاره ښځه وه د هغې څاروي ډیر وو خپل یو اشنا ته او لمسوه هغه د اوښې خپے پریکړے ۱۲ منه۔

فتح الرحمٰن ف۱ حظیره هغه شپول دے چه د اوچو لرګو او ازغو (غنو) نه د کړو، چیلو د پاره جوړ کړے شوي وي او هغه د زمانے تیریدلو سره د څارووخپو سره پائمال شي تکړے تکړے شي الله تعالیٰ هغې پائمال شوي شپول سره تشبیه ورکړه ۱۲۔

تفسیر ۲۷ اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ۔ موږ اوښه د هغوئ د امتحان او ابتلاء د پاره لیږونکی یو تاسو انتظار کوئ او د دوی تکلیف رسولو باندے صبر کوئ او گورئ چه هغوی د اوښے سره څه معامله کوي۔

وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ الْاٰیَةَ۔ شِرْبٌ د اوبو حصه یا د اوبو څکلو نمبر۔ او تاسو هغوئ خبر کړئ چه د کوهي اوبو باندے به نمبر مقرر وي شي او هر یوه ډله به په خپل نمبر حاضریږي۔ او په به حاصلوي یوه ورځ به اوښه اوبه څکي او د هغې د نمبر په ورځ به تاسو خلق خپل څاروو ته اوبه نه ورکوي او

ستاسو د نمبر په ورځ به اوبه او به نه څکی. فنادوا صاحبهم الاٰیة لیکن ډیرے زمانے پورے هغوی په دے قائم پاتے نهٔ شول او د اوښے د وژلو پروګرام ئے جوړ کړو او یو ځوان ئے را اوغوښتلو دے کار ته ئے تیار کړو هغه د دے کار ذمه واری واخستله او د اوښے خپے ئے پریکړے وے وژله. فتعاطی فاجترأ علی تعاطی الامر العظیم غیر مکترث .... او فتعاطی الناقة فعقرها او فتعاطی السیف (مدارک ج ۴ ص۱۰۱) فکیف کان عذابی ونذر.

ځله انا ارسلنا علیهم الاٰیة مونږ په هغوی باندے زړهٔ چوونکے چغه اولیږله. چه هغے سره هغوي د پائمال شوے اوچ ګیاه پشان ریزه ریزه شول.

ولقد یسرنا القراٰن للذکر فهل من مدکر.

ثله کذبت قوم لوط، دا د تخویف دنیوی څلورمه نمونه ده. حاصب کانړی کوم چه د لوط علیه السلام د قوم په کلو باندے اوورولے شو. د لوط علیه السلام قوم هم د انبیاء علیهم السلام تکذیب اوکړو نو مونږ د هغوی کلی نسکوره کړل په هغوی مونږ د کانړو بارانات اوکړو او د هغے نه مخکښ مونږ سحر وختی لوط علیه السلام او مؤمنانو ته د کلی نه د وتلو حکم ورکړو هغوی مو د عذاب نه محفوظ کړل دا په هغوی زمونږ انعام او احسان وو ځکه چه هغوئ ځمونږ شکر ویستونکی بندګان وو او شکر ادا کوونکو ته مونږ هم دا شان جزاء ورکوو.

ولقد انذرهم الاٰیة حضرت لوط علیه السلام هغوئ ځمونږ د نیولو نه خبر کړل لیکن هغوئ ویرول دروغ اوګڼړل او په هغے کښ ئے شک اوکړو او یقین ئے اونکړو. ای شکوا فیما انذرهم به الرسول ولم یصدقوه (قرطبی ج ۷ ص۱۳۲).

ځله ولقد راودوه الاٰیة، کله چه حضرت لوط علیه السلام ته د ښائسته ځوانانو په شکل کښ فرښتے راغلے نو د لوط علیه السلام بدکردار خلقو د هغهٔ میلمنو د خپل خواهش نفسانی د ښنا نے جوړولو په خاطر د حضرت لوط علیه السلام نه مطالبه اوکړه چه هغه د دوئ په کار کښ مانع او نه ګرځی او د خپلو میلمنو حفاظت او بچاؤ د هغوی نه اونکړی. کله چه هغوی په بد نیت د هغه کورته ننوتل نو جبریل علیه السلام په هغوی خپل وزر او وهلو چه هغے سره دوی ټول ړانده شول او مونږ اوفرمائیل اوس به تاسو هغه عذاب څکئ چه د کوم نه تاسو لوط علیه السلام ویرولئ. وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ الاٰیة نو د صباح وخت کښ هغوی باندے هغه عذاب راغلے او هغوی ئے ختم کړل. فذوقوا عذابی ونذر اوس د هغه عذاب مزه اوڅکئ د کوم نه چه لوط علیه السلام تاسو ویرولئ ای ما انذرتکم به علی لسان لوط من العذاب (مظهری ج ۹ ص۱۴۱)، ولقد یسرنا الاٰیة مونږ قراٰن د پند او نصیحت د پاره آسان کړیدے ایا څوک شته چه د دهٔ نه نصیحت زده کړی.

وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوْا

او بیشکه شول راغلی وو فرعون او د فرعون قوم ته ویروونکی. دروغژن کړل هغوی

بِاٰیٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِیْزٍ

خپلو دلائل ټول بیا اونیول موږ هغوی په نیولو د غالب

مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ اَكُفَّارُكُمْ خَیْرٌ مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ

او قادر ذات. اوس ستاسو هغه چه څوک منکر دی آیا دوی بهتر دی د هغه ټولو نه لله

اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِی الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ اَمْ یَقُوْلُوْنَ

آیا ستاسو د پاره خلاصے لیکلے شوی دے په پاڼرو کښ. آیا وائی لله

نَحْنُ جَمِیْعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَیُهْزَمُ الْجَمْعُ وَیُوَلُّوْنَ

څموږ د ټولو ډله ده بدله اخستونکے. اوس به شکست اوخوری دا ډله او او به تښتی

الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ

شا گرځوونکی. بلکه قیامت دے د هغوی د وعدے وخت لله او هغه وخت دے

اَدْهٰی وَاَمَرُّ ﴿٤٦﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِیْنَ فِیْ ضَلٰلٍ

ډیر سخت او ډیر ترخه. کوم خلق چه گنهگار دی په غلطئ کښ پریوتلی دی

وَّسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ یَوْمَ یُسْحَبُوْنَ فِی النَّارِ عَلٰی

او په لیونتوب کښ. کوم ورځ چه راښکلے به شی ٢٢لله په اور کښ

وُجُوْهِهِمْ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ اِنَّا كُلَّ

پړمخ. او څکئ مزه د اور موږ هر

شَیْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ

څیز ٢٣لله پیدا کړو مخکښ اندازه کولو سره. او څموږ کار خو بس دغه یو ستی خبره ده

كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَآ اَشْیَاعَكُمْ

لکه د سترگو رپول شو. او موږ تباه کړی دی لله ستاسو غونډے ډلے

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۵۱﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ

پس شته څوک پند اخستونکے. او کوم څیز چه هغوی کړیدے او لیکلے شو

فِي الزُّبُرِ ﴿۵۲﴾ وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّكَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿۵۳﴾

په پاڼرو کښ. او هر وړوکے او لوئے لیکلے شویدے.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ﴿۵۴﴾ فِيْ مَقْعَدِ

کوم خلق چه ویریدونکي دي فلا په باغونو کښ دي او په نهرونو کښ به ناست وي. ناست به وي په

صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۵۵﴾ ع ۱۰

مجلس رښتونی کښ په نزد دَ بادشاه دَ چا چه په ټولو قبضه ده.

نکات سلہ دا دَ تخویف دنیوی پنځمه نمونه ۱۲. سلہ التفات په طرف دَ اهل مکه او هغوی ته تنبیه ۱۲. سلہ شکوی ۱۲. سلہ جواب شکوی سلہ ذکر دَ دعوی سورت ۱۲. سلہ تخویف دنیوی ۱۲ سلہ بشارت اخروی ۱۲.

فتح الرحمن فلہ یعني په زړ موجودیدلو کښ مراد اسانیدل دي ۱۲.

تفسیر ۵۱ه وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ، دا آیت دَ تخویف دنیوی پنځمه نمونه ده. فرعون او دَ هغه قوم ته مونږ ویرونکي اولیږل او دلائلو، معجزات سره ئے هغوی پوهه کړل لیکن هغوی څمونږ دَ ټولو معجزونه انکار اوکړو نو مونږ هغوی په دریاب کښ غرق کړل جهنم کښ مونږ اوغورځول او داسے مو او نیول لکه چه یو لوئے طاقتور او صاحب دَ اقتدار بادشاه مجرمان نیسي چه څوک هغه نه شي مغلوب کولے او نه هغه څوک دَ بدلے اخستلو نه منع کولے شي.

لہ اَكُفَّارُكُمْ الاٰیة دا التفات دَ مکے والو طرف ته دے او زجر دے اے دَ عرب خلقو! آیا ستاسو دَ قوم کافران. دَ قوم نوح، قوم عاد، قوم ثمود قوم لوط او قوم فرعون دَ کافرانو نه ښهٔ دي او دَ هغوی نه زیات زورآور او طاقتور دي چه دَ خپل قوت، طاقت او دنیوی شان شوکت په وجه سره به څمونږ دَ عذاب نه بېچ شي. یا په کوم یو آسماني کتاب کښ هغوی دپاره دَ عذاب نه دَ خلاصي او معافئ خط لیکلے شویدے او نازل شوے دے؟ استفهام انکاري دے یعني دواړو خبرو کښ یوه هم نشته. دَ دے وجے نه دَ عرب کافرانو تاسو دَ الله دَ عذاب نه هرګز نشئ خلاصیدلے.

۲۰ه اَمْ يَقُوْلُوْنَ الْآيَة. دا شکوی ده آیا دَ عربو کافران خپل قوت طاقت باندے مغرور دی او وائی چه مونږ یو مضبوط جماعت یو دَدے وجے نه مونږ مغلوب او مقهور نشو کیدلے او خپلو دشمنانو نه بدله اخستلے شو. سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ الْآيَة دا جواب شکوی دے او دَ مشرکانو دَ قول رد دے. دا شان تسلّی ده نبی علیه السلام ته. نزدے ده وخت راتلونکے دے چه دَ هغوئ کبر او غرور به دَ خاورو سره ملاؤ شی او هغوئ به ذلت نه ډک شکست او خوری او په میدان کښ به دَ هغوی شپے تیښتے نشی او هغوی به دَ بزدلو پشان شاګرځوونکی په تیښته لاړ شی دا آیت په مکه مکرمه کښ نازل شو لا تر اوسه جهاد فرض شوے هم نه وو او دَ هجرت نه روستو دَ بدر په میدان کښ دا ریښتونے پیشن ګوئی ظاهر شوه دا دَ نبی علیه السلام دَ صداقت دلیل دے وَقَدْ كَانَ هٰذَا يَوْمَ بدر وهو من دلائل النبوة لان الآية مكية وقد نزلت حيث لم يفرض جهاد ولا كان قتال (روح ج ۲۷ ص۹۲).

۲۱ه بَلِ السَّاعَةُ الْآيَة دا خو به معمولی عذاب وی او دا دَ هغوی دَ بد اعمالو سزا نه ده دَ هغوی دَ پوره سزا ورځ خو دَ قیامت ورځ ده چه دَ هغے دهشت او هیبت او دَ هغے دَ عذاب سختوالے به دَ ټولو نه زیات وی او دَ هغے عذاب به دَ هر عذاب او سزا نه زیات تریخ وی او دَ ټولو نه به زیات دردناک وی. اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ الْآيَة. دا تخویف اخروی دے دَ قیامت په ورځ به ټول مجرمان هلاکت او په لمبے وهونکی اور کښ وی یا په دنیا کښ خساره او لیونتوب کښ دی قرآن پشان داسے روښانه کتاب نه دے هدایت نه حاصلول ټول لیونتوب او تاوان دے. فِي ضَلٰلٍ وَسُعُرٍ في هلاك ونيران (مدارك ج ۴ ص۱۶۸) وقال ابن عباس رضی الله تعالٰی عنهما: في خسران وجنون (روح ج ۲۷ ص۹۳).

۲۲ه يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ الْآيَة دَ دینه مخکښ يقال لهم مقدر دے دَ قیامت په ورځ چه کله مجرمین پړ مخے راښکلے شی او په جهنم کښ غورځولے شی هغه وخت به هغوی ته ووئیلے شی دنیا کښ تاسو دَ عیش او آرام مزے اخستلے نن دَ کرم لمبے وهونکی اور دَ درد مزه هم اوڅکئ.

۲۳ه اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ الْآيَة دا په آخر کښ دَ سورت دعوی ده چه دَ هر څیز اندازے سره پیدا کولو والا صرف الله تعالٰی دے. لهٰذا صرف هغه کارساز دے او په حاجتونو کښ صرف هغه رابلئ.

وَمَا اَمْرُنَا الْآيَة. دا دَ الله تعالٰی دَ قدرت کامله بیان دے وے فرمائیل دَ هر څیز پاره کښ څمونږ حکم صرف یوه دَ کُن کلمه وی. یعنی دَ سترګو دَ اشارے پشان یعنی کله چه مونږ دَ څهٔ کار اراده کوو نو هغه کار په هغه

ساعت کښې فوراً مکمل کیږی. وَمَا اَمرنا لشئ نرید تکوینه الا ان نقول له کن فیکون (مدارک ج ۴ ص۱۵۶).
۲۳ه وَلَقَدْ اَهْلَکْنَآ الایة، دا تخویف دنیوی دے. اشیاعکم ای اشباهکم فی الکفر من الامم الخالیة (قرطبی ج ۱۷ ص۱۴۹). اے دَ عربو مشرکانو! ستاسو نه مخکښې مونږ دا سے سرکش قومونه هلاک کړیدی آیا دَ هغوئ عبرتناک انجام نه هم تاسو هیڅ سبق زده نکړو. وکل شئ فعلوه الایة دا کافران چه هرڅه هم کوي دَ هغوی هرکار او هره خبره دَ هغوئ په اعمالنامه کښې لیکلے شی دَ دے وجے نه هغوی ته به دَ هغوی دَ هر عمل سزا ملاویږی. وکل صغیر الایة هره وړه او لویه خبره په لوح محفوظ کښې لیکلے شویده دَ دے وجے نه دَ قضا او تقدیر هیڅ فیصله نه شی بدلیدے.
۲۵ه اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ. دا بشارت اخرویه دے مقعد صدق هغه ځائے دے کوم چه دَ اهل صدق او صفا دَ پاره مقرر دے متقی او پرهیزګار خلق به دَ قیامت په ورځ عظیم الشان باغونو کښې وی چه په هغے کښې به دَ هر خیز نهرونه بهیږی دا مقام جنت دے دَ رښتونی او مخلص مؤمنانو دَ پاره تیار دے چرته چه به دَ عظیم الشان اوجلیل القدر شهنشاه قرب او نزدیکت هم هغوئ ته نصیب وی. واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

سورۂ القمر کښې دَ توحید آیت

۱. انا کل شئ خلقنٰه بقدر. دلیل په نفی دَ شرک اعتقادی ۱۲.

---

۱ سورۂ رحمٰن

ربط سورۂ قمر کښې ذکر اوشو چه دَ ټول کائنات خالق او دَ ټولو کار ساز صرف الله تعالیٰ دے اوس په سورۂ رحمٰن کښې ئے ترقی اوکړه وے فرمائیل چه کله کار ساز هغه دے نو دَ برکت والا نوم دَ هغه دے او هغه دَ برکات مرکز اوګنړئ. دَ سورت دا دعوی دَ دۀ په آخر کښې تبٰرک اسم ربک ذی الجلال والاکرام کښې ذکر شویده.

خلاصه په شروع کښې دعوی بیان ده بیا نهۀ عقلی دلیلونه یو خاص انداز سره علی سبیل التفصیل ذکر کړے شویدی. په دویمه رکوع کښې دَ منکرین دعوی دَ پاره تخویف دنیوی او اخروی او په آخری رکوع کښې منونکو (مؤمنانو) دَ پاره بشارت اخرویه ذکر شویدے. دے سورت کښې الله تعالیٰ دَ خپل بیشماره نعمتونو یادونه اوکړه او وے فرمائیل چه اوښائی دَ دے نعمتونو نه دَ کوم یو نعمت نه تاسو انکار کوئ چه هغه دَ خدائے له طرف نه نۀ دی دا دَ دے خبرے دلیل دے چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا څوک برکات ورکوونکے نشته کوچرے دا دعوی نۀ منی نو په آخرت کښې به سخت عذاب وی او که چرے منئ نو په آخرت کښې به دَ جنت نعمتونه درکړے شی.

تفصیل

الرحمٰن ــــ نه تر ــــ والریحان دا دَ الله تعالیٰ دَ وحدانیت او دَ هغه دَ رحمت او قدرت او دَ هغه دَ نعمتونو بیان دے. هر څیز هغه پیدا کړو او هر نعمت هغۀ ورکړے دے. الرحمٰن ۝ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۝ دا اولنے عقلی دلیل دے. دغه مهربان (خدائے) انسان ته قرآن زده کړو. خَلَقَ الْاِنْسَانَ الخ دا دویم عقلی دلیل دے. او هغۀ ته ئے په زړۀ کښې چه څۀ دی دَ هغے اظهار استعداد ورکړو. وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا الخ دا دریم عقلی دلیل دے. ټول علویات او سفلیات (زمکه آسمانونه) دَ هغه په مخکښې عاجز دی. هغه انسان ته عقل ورکړو چه دَ هر څیز مقام او پیژنی او دَ هغے مناسب سلوک اوکړی هغۀ زمکه دَ خپل مخلوق دَ پاره پیدا کړه دَ دے دَ پاره چه په هغے کښې میوے او غلے پیدا کړی. خَلَقَ الانسان ــــ نه تر ــــ من النار. دا څلورم عقلی دلیل دے چا چه انسان دَ خاورو نه او پیریان دَ اور نه پیدا کړل دَ شان او برکت والا نوم هغه دے. رَبُّ الْمَشْرِقَیْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَیْنِ. دا پنځم عقلی

دلیل دے. مشرق او مغرب یعنی دَ ټول کائنات مالک هم هغه دے. مَرَجَ الْبَحْرَیْنِ
ـــــ نه تر ـــــ وَالْمَرْجَانُ. دا شپږم عقلی دلیل دے هغه دَ خوږو او ترخو
اوبو دوه دریابونه. یوځائے داسے روان کړی دی چه په خپل مینځ کښ یوځائے
سره روان دی او یو بل سره نهٔ ګډ وډ کیږی او دَ هغے نه دَ وړوکی او لوئے
جسم ملغلرے راوځی. وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ فِی الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ. دا اووم عقلی
دلیل دے دَ الله تعالیٰ په قدرت سره په دریابونو او سمندرونو کښ دَ غرونو
پشان اوچت جهازونه امن او سلامتیا سره روان دی. كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا ـــــ نه تر
وَالْاِكْرَامِ (۲۶). دا اتم عقلی دلیل دے دَ زمکے او آسمان ټول مخلوق الله ته
محتاج او هغهٔ ته سوال کوونکی دی او په ټول کائنات کښ هغه پخپله خوښه
او مرضیٔ تصرف کوی. دے ټولو دلائلو نه ثابته شوه او واضح ده چه دَ چا قدرت
او رحمت دا حال وی دَ برکات مرکز صرف هغه کیدیشی. سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَا
الثَّقَلٰنِ. دا دَ تخویف دنیوی تمهید دے. يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ الآیة دا
تخویف دنیوی طرف ته اشاره ده که چرے تاسو دَ الله دَ عذاب نه بچ
کیدلو دپاره دَ زمکے او آسمان سرحدونو نه وتلو سره چرته دَ تللو کوشش
کوئ نو داسے تاسو نه شئ کولے. يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا ـــــ نه تر ـــــ خَمِيمٍ اٰنٍ. منکرینو
دپاره تخویف اخروی دے. دَ قیامت په ورځ به تاسو دَ اور په لمبو کښ
غورځولے شئ او تاسو به دَ هغے نه بچ نکړے شئ. دَ قیامت په ورځ چه کله
آسمان ټکړے ټکړے شی دغه وخت به دَ هغه رنګ تک سور وی. دَ قیامت
په ورځ به دَ انسانانو او پیریانو نه دَ هغوئ دَ ګناهونو متعلق دَ سوال ضرورت
نهٔ وی ځکه چه دَ مجرمانو پیژندګلو به دَ هغوی دَ مخونو نه اوشی او دَ هغوئ
اندامونه به پخپله خبرے اوکړی او دَ ټولو ګناهونو تفصیل به بیان کړی.
هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الخ دا هغه جهنم دے دَ کوم نه چه مشرکان ویرولے شول او
هغوئ به دا نهٔ منل. اوس به دَ جهنم اور او دَ ګرمو اوبو جوش وهونکو
مینځ کښ چکر لګوی. وَلِمَنْ خَافَ ـــــ نه تر ـــــ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ (۷۶).
دا بشارت اخروی دے کوم خلق چه دَ قیامت په ورځ دَ خدائے په عدالت
کښ دَ پیشئ نه ویریږی او دَ هغهٔ دَ نافرمانئ نه ځان ساتی هغوئ دپاره
به مختلف قسم باغونه وی چه په هغے به هر قسم میوے او ونے بوټی وی او
په هغے کښ به چینے روانے وی دَ هرے میوے به مختلف اقسام وی.
مُتَّكِئِينَ الخ اعلیٰ قسم ریښمین بسترو باندے به آرام کوونکے وی او دَ اونو
میوے به دومره نزدے وی چه دَ بسترونه به هغے ته لاسونه رسیږی
فِيهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ الخ په جنت کښ به هغوی دَپاره داسے حورے وی
چه دَ شرم او حیاء نه به ئے سترګے ښکته کړے وی او دَ دوی نه مخکښ به هیڅ

پیړی او انسان هغوی ته لاس ندي وړي هم نه وي وړاوړے. ډېرښائسته او د رنګ صفائۍ کښې به د یاقوت او مرجان پشان وي دنیا کښې هغوی نیک کارونه کړي وو نو د هغې جزاء هم هغوی ته نیکه ملاؤ شوه.

وَمِنۡ دُوۡنِهِمَا جَنَّتٰنِ الخ د دینه علاوه به هغوی ته نور باغونه هم ملاویږي چه په هغې کښې به چینې روانې وي. د حسن او جمال صورت لرونکې او پاک دامنې حورې به وي اعلیٰ قسم فرشونو او قالینونو بانديې به آرام کوونکې وي.

تَبٰرَكَ اسۡمُ رَبِّكَ ذِى الۡجَلٰلِ وَالۡاِكۡرَامِ په آخر کښې د سورت د مرکزي دعوی ذکر دے یعنې برکت ورکولو والا صرف الله تعالیٰ دے او برکت د هغه په نوم کښې دے.

سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً فِيْ ثَلٰثِ رُكُوْعَاتٍ

سورة رحمٰن په مکه کښې نازل شوې ده ددې آیتونه اته اویا دي او درې رکوعات دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکې دے.

اَلرَّحْمٰنُ ۝ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۝ خَلَقَ

ده رحمٰن ښودلے دے قرآن پیدا ئے کړو

الْاِنْسَانَ ۝ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝ اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ

انسان. بیا ئے اوښودله هغه ته خبره کول. نمر ته او سپوږمۍ

بِحُسْبَانٍ ۝ وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۝

د پاره یو حساب دے جهاړے او ونې مشغول دي په سجده کښې

وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۝ اَلَّا تَطْغَوْا

او آسمانونه ئے اوچت کړل او ایښې ئے ده تله چه زیاتے اونکړئ

فِى الْمِيْزَانِ ۝ وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ

په تله کښې. او برابر کوئ تول کښې انصاف سره

وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ۝ وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا

او مه کموئ تول او زمکه ئے هغه خوره کړه

لِلْاَنَامِ ۝ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ

خلقو د پاره. دیکښې میوے دي او کجورے چه د هغے په

الْاَكْمَامِ ۝ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ۝

میوه باندے پرده ده او په دیکښې غلے دي چه هغے سره بوس دي او ګلونه خوشبوئي لرونکي هم

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ

تاسو کوم کوم نعمتونه سره د رب خپل دروغ ګڼړئ تاسو دواړه و پیدا کړے ئے دے انسان ئے

مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ الْجَانَّ

دَ کړنګېدونکې خټې نه لکه کودره اوپیدا ئې کړو پیرے

مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ﴿١٥﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

دَ خالص شغلې دَ اور نه بیا په کوم کوم نعمت دخپل رب تاسو دواړه

تُكَذِّبٰنِ ﴿١٦﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾

دروغ ګنړئ. مالک دے دَ دوؤ مشرقونو او دَ دواړو مغربونو ٢

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٨﴾

بیا په کوم کوم نعمت دَ خپل رب دروغ ګنړئ تاسو دواړه

نکات: ١ دَ توحید بیان ١٢. ٢ توحید بانی ے اولنی عقلی دلیل ١٢. ٣ دویم عقلی دلیل ١٢. ٤ دریم عقلی دلیل ١٢ ٥ څلورم عقلی دلیل ١٢. ٦ پنځم عقلی دلیل ١٢.

موضح قرآن ف دَدے سورت دَ نازلیدو سبب، کله چه نبی علیه السلام کافرانو ته دَ رحمٰن دَ نوم خبر ورکړو هغوی ته اووئیل موږ رحمٰن نه پیژنو. او وائی چه دَ مکے خلقو په الزام لګولو چه فلانکے فلانکے محمد صلی الله علیه وسلم ته قرآن رسوی او وړزده کوی. دَ هغوی دَ قول رد کولو دَ پاره دا سورت نازل شو تفسیر حسینی هم دا شان لیکلی دی..

... ف یعنی پیریان او انسانان ١٢ منه

ف٢ یعنی دَ ژمی او ګرمیٔ دوه مشرقین، دغه شان دوه مغربین ١٢.

فتح الرحمٰن ف١ اشاره دیته ده چه کدانو غلو پانړے دَ هغوی دَ خاروو دَ پاره دَ خوراک واښه دی دَ دینه علاوه نعمت دے ١٢. ف٢ یعنی په ژمی کښې دَ نمر دَ پاره یو مشرق او مغرب دے او په ګرمئ کښې بل مشرق او مغرب ١٢.

تفسیر ٢ اَلرَّحْمٰنُ ـــ نه تر ـــ وَالرَّیْحَانُ، دَ الله دَ وحدانیت بیان دے چا چه دا ټول هر څه پیدا کړل او دا ټول نعمتونه ئے ورکړل هغه کارساز او برکات ورکوونکے دے دا صفت دَ الله په عام رحمت بانده دلالت کوی دا سے عام رحمت چه په هغې کښې دَ مؤمن او کافر او دوست دشمن هیڅ امتیاز نشته. لکه چه دَ الرحمٰن نه روستو دَ کوم انعامات ذکر دے هغو ټولو کښې شریک دی او دَ هغې په ذکر کښے یو خاص ترتیب

ملحوظ دے دَ ټولو علویات او سفلیات خالق او مالک صرف هغه دے او دا ټول انعامات هم دَ هغهٔ دَ طرفه دی. دَ دے وجے نه دوارهٔ ئے یو ځائے یو دَ بل نه روستو ذکر کړل. اَلرَّحْمٰنُ ۞ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۞ دا په توحید باندے اولنے عقلی دلیل دے. هغه بادشاه څوک چه ډیر زیات مهربان دے دَ پوره تنه ئے قرآن نازل کړے دے او خپل پیغمبر ته ئے دَ هغے تعلیم ورکړے دے او دَ هغوی ۲ په ذریعه ئے ټولو انسانانو ته رسولے دے چه دَ بنی آدم دَ پاره دَ هغه دَ ټولو نه لوئے انعام او احسان دے او په کوم چه دَ دینی او دنیوی سعادت مدار دے. ای علمه نبیه صلی الله علیه وسلم حتی اداه الی جمیع الناس (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۰۲) خلق الانسان ۞ علمه البیان ۞ دا په توحید باندے دویم عقلی دلیل دے لاندے په زمکه ئے انسان پیدا کړو او دَ خپل زړه خبرے بل ته رسولو دَ پاره ئے هغه ته دَ بیان او اظهار ملکه او طریقه ورکړه دے دَ پاره چه څنګه هغه پخپله قرآن زده کړے دے دغه شان نور هم ورباندے پوهه کړی. لان البیان هو الذی به یتمکن عادة من تعلم القرآن وتعلیمه (روح ج ۲۷ ص ۹۹).

۳ الشمس والقمر. الآیة. دا دَ توحید دریم عقلی دلیل دے. کوم څیزونه چه دَ هغه په کامل قدرت او عجیبه کاریګرئ باندے دلیل دے هغه ئے هم په هغه ترتیب سره ذکر کړل اول ئے پورتنی څیزونه. بِحُسْبَانٍ دپاره متعلق محذوف دے ای یجری بحسبان (روح). نمر او سپوږمئ په یو حساب او مقرر اندازه سره روان دی چلیږی دَ هغوی رفتار معین. او دَ هغوی لاره متعین او دَ هغوئ منزل معلوم دے کوم چه هغه په یو معینه موده کال یا میاشت کښ قطع کوی. هغے نه روستوئے دَ خکتنو څیزونو ذکر اوکړو. وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ یَسْجُدَانِ. النجم نه مراد هغه شینکی دی کوم چه دَ زمکے نه راوځی دَ زمکے په مخ باندے خوریږی او په تنه باندے نه اودریږی یعنی دَ خیلو والا بوټی. او الشجر نه مراد هغه شنه بوټی دی چه په تنه باندے اودریږی او قد لرونکی کرځی یعنی اونے یا بوټی. (مدارك، روح، بحر).

یعنی دَ اونو بوټو ټول اقسام هم دَ الله تعالٰی په مخکښ سر په سجده او دَ هغه دَ حکم تابعدار دی دَ اونو بوټو سجده کول دَ کامل انقیاد تابعداری او په پوره ډول دَ تصرف دَ لاندے کیدلو نه کنایه ده یعنی په زمکه باندے چه څومره شینکی او راټوکیدل دی ټول دَ الله دَ تکوینی احکامو پابند دی. ینقادان الله فیما یرید بهما طبعا انقیاد الساجد من المکلفین طوعا (بیضاوی) لما ذکر تعالی ما انعم به من منفعة الشمس والقمر وکان ذلك من الآیات العلویة ذکر فی مقابلتهما من الآثار السفلیة النجم

والشجر (بحر ج ۸ ص ۱۸۹). پوره ته نمر سپوږمۍ روان دي او لاندے ئے اونے بوټي پیدا کړل او په هغے کښ ئے د نمر سپوږمۍ ته د اثر قبلولو استعداد ایښے دے.

ته والسماء د علویات ذکر! پورته ئے آسمان پیدا کړو او د آسمان ئے اوچتوالی یو اندازه ئے مقرر کړه. المیزان نه عدل او انصاف مراد دے عن مجاهد وقتادة والسدی ای وضع فی الارض العدل الذی امر به (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۵۴) یعنی هغهٔ حکم ورکړے دے چه په هر کار کښ د عدل او انصاف نه کار واخلئ دے صورت کښ به د عدل معیار قرآن وی ځکه چه دے معامله کښ صرف قرآن میزان او معیار کیدے شی. علی هذا المیزان القرآن لان فیه بیان ما یحتاج الیه وهو قول الحسین بن الفضل (قرطبی) په دے صورت کښ به د آینو حاصل داوی چه په دنیا کښ قرآن میزان د عدل دے هره خبره د ده په رڼا کښ اوتلئ دا میزان د نظر نه مهٔ غورځوئ او د دے میزان د فیصلے نه تجاوز مهٔ کوئ وَاَقِیْمُوا الْوَزْنَ هر څیز په ښهٔ نیت سره پهٔ دے میزان باندے صحیح صحیح اُوتلئ او په هغے کښ کمے مهٔ کوئ.

حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی چه المیزان نه مراد عقل دے او دا یو تمثیل دے انسان په تللو کښ درے طریقو سره نقصان کوی. اول دا چه په تله کښ څه نقصان پیدا کړی. دویم دا چه تله صحیح وی لیکن لاس سره تله یو طرف ته ګکوی. دریم دا چه لاس سره خوځنګ ورکول هم نهٔ کوي لیکن بله کومه طریقه سره کمه وړ کړه کوی. دلته ئے دے دریوارو طریقو نه منع اوفرمائیله د تمثیل حاصل دا دے چه ځنګه تله د دے د پاره ده چه هغے سره هر څیز عدل او انصاف سره او تللے شی دغه شان د عقل او انصاف تلے سره دا تول کارونه اوتلئ او فیصله اوکړئ د کوم پاک ذات صفتونه او افعال چه دا وی کوم چه دلته ذکر شول ایا د هغه نه سیوا بل څوک برکات والا کیدے شی؟

هه وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا د سفلیات (د ځکنتو څیزونو) ذکر! او الله زمکه د خلقو د پاره پیدا کړیده دے د پاره چه هغوئ د دینه هر قسم فائده پوره کړی په کوم کښ چه هر قسم میوے پیدا کیږی. خاص طور د کجورے اونے چه د هغے درانه درانه ګنګوچی رانوړندے وی. والحب ذوالعصف او هر قسم غلے پیدا کیږی چه د هغے باقی اجزاء د بوسو په شکل کښ د څاروو د خوراک د پاره په کار راځی. وَالرَّیْحَانُ، د خوراکي څیزونو او میوو نه علاوه په زمکه کښ خوشبوئی لرونکی بوټی هم وی چه د هغے خوشبوئی زړه او دماغ خوشبویه او تازه کړ ځوی. هو کل مشموم طیب الریح من النبات (روح ج ۲۷ ص ۱۰۳)

لـه فَبِاَيِّ اٰلَآءِ الخ دا آیت دے سورت کښ بیا بیا راغلے دے او په دیکښ پیریانو او انسانو سره خطاب دے ډهر نعمت ذکر کولو نه روستوئے دا آیت مقرر کړیدے پیریان او انسانان ئے خبر کړیدي چه دا ټول نعمتونه ډالله له طرف نه دي او تاسو ډکوم نعمت نه انکار کولے شئ چه هغه ډالله له طرف نه نۀ دے. حاصل دا دے چه هر نعمت ډهغه له طرفه دے. لهٰذا هغه برکات ورکوونکے دے او ډهغه په نوم کښ برکت دے. حدیث کښ راغلے دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سورة رحمٰن صحابو رضي الله عنهم ته اولوست واوئے رولو نو هغوئ خاموش پاتے شول نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ستاسو نه پیریانو ښۀ جواب راکړو کله چه ما دا سورت اولوستلو او کله چه زۀ فباىّ الآء ربکما تکذبٰن ته راورسیدلم نو هغوئ هرځل ما ته جواب راکولو لا بشيءٍ من نعمك ربنا نکذب فلك الحمد. اے څمونږ پروردګاره! مونږ ستا ډهیڅ یو نعمت نه هم انکار نه کوو. ټول صفتونه تا لره دي. دینه روستو صحابهٔ کرام هم هغه شان جواب ورکول شروع کړل (ابن کثیر ۲۷۰/۳)

که خلق الانسان، دا ډ توحید څلورم عقلی دلیل دے. الانسان نه حضرت آدم علیه السلام مراد دے. صلصال او چه خاوره چه ټکولو سره آواز اوباسی. الفخار، کود نړئ یعنی هغه خاوره چه اور کښ پخه شوے وی. مَارِجٍ، ډاور لمبه چه په هغے کښ لوګے نه وی الله پاک انسان ډخاورے نه پیدا کړو او ډ جان ډ پیریانو مشر نیکه ئے ډاور ډ لمبے نه پیدا کړو. اے پیریانو انسانانو لږ سوچ خو اوکړئ ستاسو پیدا کول هم په تاسو ډالله احسان دے تاسو ډ هغهٔ کوم یو نعمت نه منئ. بیا دا ډ هغهٔ ډ قدرت او صفت کمال دے چه ډ خاورے او اور نه هغه څنګه ښۀ طریقے سره پیدا کړی دا ډ هغهٔ ډ قدرت او وحدانیت دلیل دے.

ئه رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ، دا ډ توحید پنځم عقلی دلیل دے دوه مشرقونه او دوه مغربونه ډ یخنئ موسم او ډ ګرمئ موسم مشرق او مغرب مراد دي. ډ ټول کال دوران کښ ډ مختلف ځایونو نه راوتل او مختلف ځایونو کښ ډوبیدل او پریوتل دا هم ډالله کار دے. دغه شان دے سره موسم بدلیږي. ډ دے وجے نه ډ مشرق او مغرب بدلیدلو کښ ډ انسانانو ډ پاره بے شماره فائدے دي او دا بدلون راوستل هم ډالله ډیر لوئے نعمت دے چه ډ دینه انکار نشی کیدلے. دا ټول برکتونه او نعمتونه ډالله په اختیار کښ دي.

مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ﴿۱۹﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ

روان کړے ئے دی دوه دریابونه چه یو ځائے ښکاره کیږی. دوارو مینځ کښ یوه پرده ده

لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿۲۰﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۱﴾

چه په یو بل زیاتے نه کوی. پس کوم کوم نعمت به د خپل رب دروغ ګنړئ دواړه.

يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۲۲﴾ فَبِاَيِّ

راوځی د دے دواړو نه ملغلرے او مرجان. بیا کوم کوم

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۳﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَـٰٔتُ

نعمت د خپل رب دروغ ګنړئ. او خاص هغه ذات دی له بیړو (جهازونه) تلونکی لوی لوی

فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۲۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

کوه شوی او چتے ولاړے په دریاب کښ لکه غرونه. پس کوم کوم نعمتونه د خپل رب به

تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۵﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿۲۶﴾ وَّيَبْقٰى

دروغ ګنړئ. څه چه دی په زمکه باندے فنا کیدونکی دی. او باقی به پاتے وی

وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿۲۷﴾ فَبِاَيِّ

ذات ستا د رب د بزرګئ او لوئے والا. پس کوم کوم

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۸﴾ يَسْـَٔلُهُ مَنْ فِي

نعمتونه به د خپل رب دروغ ګنړئ. د هغه نه سوال کوی ټول څه چه دی په

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ

آسمانونو کښ او زمکه کښ، هره ورځ هغه په

شَاْنٍ ﴿۲۹﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾

یو کار کښ دے ۱۰ پس کوم کوم نعمتونه به د خپل رب دروغ ګنړئ.

سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

ذر فارغیدونکی یو ټله ستاسو (حساب) طرف ته اے دوه درنو قبیلو بیا کوم کوم نعمتونه

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۲﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ
په ډخپل رب دروغ ګڼړئ. اے ټولیه ډ پیریانو او انسانانو
اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ
که چرے تاسو کولے شئ چه اوځئ ډ اطراف نه
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ
ډ آسمانونو او ډ زمکے نه نو اوځئ نه شئ وتلے
اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۳﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾
بغیر ډ سند نه ملے بیا کوم یو نعمت ډ خپل رب دروغ ګڼړئ.

نکات سل شپږم عقلی دلیل ۱۲ - سلے اووم عقلی دلیل ۱۲ سلے اتم عقلی دلیل ۱۲ سلے نهم عقلی دلیل ۱۲ سلے تمهید ډ پاره ډ تخویف ۱۲ -

موضح قرآن ف یعنی ستاسو ډحساب کولو قصد به اوکړو ۱۲ -

فتح الرحمٰن فل یعنی په عذاب ورکولو یا نعمت ورکولو کښ ډ نیک بختانو یا بد بختانو نه یا ژوندی کولو او مړ کولو کښ ۱۲ -

فل یعنی او هغه قدرت ستاسو چرته دے ۱۲ -

تفسیر فه مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ. دا شپږم دلیل دے توحید باندے مَرَجَ اَرْسَلَ واجری. وے بهیول یا جاری نے کړل دوه دریابونه خوږه او تریو ډ هغه ډ قدرت کامله کارنامه او ګورئ چه هغه دوه دریابونه یو ځائے روان کړی دی چه ډ هغے او به یو ځائے روانے دی او ډ هغوئ مینځ کښ ظاهری طور باندے هیڅ یو پرده مانع نشته محض ډ الله ډ قدرت پرده ده چه هغه خپل مینځ کښ یو ځائے کیدلو نه نه پریږدی او دواړه دریابونه ډ خپلو حدود نه وتلو سره ډ یو بل په حدو کښ نه داخلیږی ډ دے دواړو ډ ژوړ والی نه ورے او لوئے ملغلرے را اوځی. المرجان ورے ملغلرے. اللؤلؤ والمرجان کبار الدر وصغاره (بیضاوی، ابن کثیر).

فله وَلَهُ الْجَوَارِ الْاٰيَة. دا ډ توحید اووم دلیل عقلی دے ډ کشتئ او ډ غرونو پشان اوچتے اوچتے بحری بیړئ ډ الله تعالیٰ په تصرف او اختیار کښ دی هغه دا په خپل پوره قدرت او صحیح برابر تدبیر سره چلوی او منزل

مقصود ته ئے رسوی او ښائی چه دَ الله دَ کوم یو نعمت نه به سترګے پټے کړئ دَ دا سے قادر او مختار او منعم محسن په نوم کښ برکت دے.

ﷲ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ، دا اتم عقلی دلیل دے په توحید باندے دا ټول مخلوق به آخر فنا شی صرف الله به دَ خپل بے پروا شان سره او دَ فضل او انعام صفت سره باقی پاتے وی. فسر بعض المحققين (الجلال) بالاستغناء المطلق و (الاكرام) بالفضل التام (روح ج ۲۷ ص ۱۰۹). څوک چه فانی دے هغه په هیڅ طریقه هم دَ ربوبیت مستحق نشی کیدلے. دَ دے وجے نه صرف الله تعالیٰ کارساز او برکات ورکوونکے دے چه دَ ټولو نه بے پروا لیکن دَ ټولو منعم او مربی دے چه دَ هغهٔ نعمتونه دَ حساب او اندازے نه بهر دی.

ﷲ يَسْـَٔلُهٗ الاية، دا دَ توحید نهم عقلی دلیل دے دَ زمکے او آسمان ټول مخلوق فرښتے، پیغمبران، اولیاء الله پیریان او دَ دوی نه علاوه ټول په خپل وجود او بقاء کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی او هر حاجت دَ هغه نه غواړی او هغه په هر وخت او ساعت کښ په څهٔ نه څه شان (او کار) کښ وی دَ ټولو کائنات نظام دَ هغهٔ په لاس کښ دے او دا نظم نسق (انتظام) مسلسل بغیر دَ څه قطع کیدلو نه چلیږی دغه شان هر ساعت بے شماره کارونه دَ هغهٔ دَ ذات سره تړلے دی کوم بے مثل ذات ته چه ټول محتاج دی او دَ هغهٔ نه سوال کوی او دَ چا دَ بے انتهاء نعمتونو دَ بوج نه چه ټول دَ لاندے ګیر دے او پراته دی صرف هغه دَ ټولو کارساز او دَ برکات مرکز دے. يَوْمَ نه مراد مطلق وقت دے ای كُلَّ وَقْتٍ وحين يحدث امورا ويجدد احوالا كما روى انه عليه السلام تلاها فقيل له و ما ذلك الشأن فقال من شأنه ان يغفر ذنبا ويفرج كربا ويرفع قوما ويضع آخرين (مدارك ج ۴ ص ۱۰۶).

ﷲ سَنَفْرُغُ لَكُمْ الاية دا دَ تخویف دَ پاره تمهید دے. دا دَ یو نه بل کار کښ دَ مشغولیدلو نه کنایه ده او دلته دَ دینه محض ویرول مراد دے ځکه چه الله تعالیٰ لره یو شغل دَ بل شغل (یو کار دَ بل کار نه) مانع نه دے یعنی اے پیریانو او انسانانو زهٔ نزدے ده چه ستاسو نه انتقام او بدله اخستونکے یم او تاسو ته سزا ورکوونکے یم. يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ الاية دا تخویف دنیوی دے اے پیریانو او انسانانو که چرے تاسو کښ دا قدرت او استطاعت موجود دے چه تاسو دَ مرګ نه او همدا دَ عذاب دَ بچ کیدلو دَ پاره دَ زمکے او آسمانونو سرحدونو او اطرافو نه تیریدلو سره کوم یو محفوظ مقام ته اورسیږئ نو لړ شان اوځئ مونږ ته او ښائی نو صحیح ده لیکن یاد ساتئ! دَ خدائے په مقابله کښ دَ قوت طاقت او قهر غلبے نه

بغیر تاسو چرته نه شئ وتلے او نه شئ تللے۔ لیکن دا قوت او غلبه به تاسو ته
کوم ځائے نه نصیب شي ځکه دے وجے نه هرچرته چه تاسو لاړ شئ د خدائے
په ملک کښ به او سیږئ او نیولے به شئ۔

يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ

پریخودلے شي شله به تاسو د اور صفا او د لوګے سره ګډ کړے شوي لمبے

فَلَا تَنْتَصِرَانِ ﴿۳۵﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾

پس تاسو بدله نه شئ اخستلے۔ نو کوم کوم نعمتونه د خپل رب دروغ ګڼرئ۔

فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً

بیا چه کله اوچوی شله آسمان نو شي به ګلابي رنګ

كَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾

لکه رنګ شوے څرمن پس کوم کوم نعمتونه د خپل رب دروغ ګڼرئ۔

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا

په دغه ورځ به تپوس نه کیږي شله د هغه د ګناه نه د یو انسان نه او نه

جَآنٌّ ﴿۳۹﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۰﴾

د پیرې نه۔ بیا کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ د خپل رب۔

يُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ

پیژندلے به شي ګنهګاران خپلو مخونو سره بیا به نیولے شي

بِالنَّوَاصِيْ وَالْاَقْدَامِ ﴿۴۱﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

د تندو د ویختو نه او د خپو نه بیا کوم کوم نعمتونه د خپل رب

تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ يُكَذِّبُ بِهَا

دروغ ګڼرئ۔ دا دوزخ دے شله کوم چه دروغ ګڼرلو

الْمُجْرِمُونَ ﴿۴۳﴾ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ

گنهګارانو. ګرځي به هغوی د هغه (جهنم) په مينځ

حَمِيمٍ اٰنٍ ﴿۴۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۵﴾

او ګرمو اوبو. پس کوم يو نعمت د خپل رب دروغ ګڼړئ.

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾ فَبِاَيِّ

او څوک چه ويريږي ځله د اودريدلو نه د خپل رب په مخکښ هغه دپاره دوه جنتونه دي پس کوم

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۷﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾

يو نعمت د خپل رب دروغ ګڼړئ چه په هغې کښې ډير ښاخونه دي ف

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۹﴾

پس کوم يو نعمت د خپل رب دروغ ګڼړئ.

نکات سـ۱ تخويف اُخروي ۱۲۔ سـ۲ بشارت اُخروي ۱۲۔

موضح قرآن ف يعني دوه باغونه دي چه د هغې ونې ميوه لرونکي دي ۱۲ منه رح۔

تفسير سـ۱۳ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا الاٰية دا تخويف اُخروي دے اے د پيريانو او
انسانانو د قيامت نه انکار کوونکو دوه ډلو د قيامت په ورځ
به تاسو باندے لمبه وهونکے اور مسلط کولے شي او ستاسو سرونو باندے
به ويلے کړے شوے تانبه اچولے شي او تاسو به هيڅ يو حيلے سره دے
دردناک عذاب نه خپل ځانونه بچ نکړے شي نه به څوک ستاسو د ځان
نه جوړ کړے شوے سفارشي ستاسو څخه امداد اوکړے شي. تاسو به ضرور
دا عذاب څکئ. اي فلا تمتنعان من الله ولا يكون لكم ناصر (خازن ج۷ ص۷)
هله فاذا انشقت الاٰية۔ وردة، د ګلاب ګل. الدهان. سره څرمن. د قيامت
په ورځ چه کله آسمان ټکړے ټکړے شي هغه وخت به هغه د ډير سخت
ګرمئ په وجه د ګلاب د ګل پشان بلکه د دينه هم زيات د سور رنګ څرمن
پشان اوګرځي. وردة کالدهان. دواړه د کان خبر دے. يا کالدهان د وردة
صفت دے (روح) دا ويروونکے منظر به د قيامت په ورځ پيدا
کيږي.

ئك فَيَوْمَئِذٍ الاٰیة . ظرف یعرف سره متعلق دے او په اصل کښ فاء یعرف
باندے وه ظرف مقدم کړے شو نو فاء پرې باندے داخل کړے شوه (رضی)
حاصل دا دے چه دَ قیامت په ورځ به ګنهګار پیریانو او انسانانو ته
دَ هغوئ دَ ګناهونو باره کښ دَ تپوس کولو ضرورت نهٔ وی بلکه ګنهګاران
به دَ خپل مخصوص علامات په وجه سره پیژندلے شی او هغوی به دَ تندی
دَ ویښتونه او دَ خپونه نیولے شی جهنم ته به غورځولے شی یو وه فرشته
به ئے دَ ویښتونه او دویمه به ئے دَ خپونه اونیسی لکه چه په سورهٔ ق
کښ ارشاد دے اَلْقِيَا فِىْ جَهَنَّمَ الاٰیة ، دَ تثنیه صیغه په دوه وو دلالت
کوی او په حقیقت باندے محمول ده دَ تثنیه نه تکرار مراد نهٔ دے. سیماهم
دَ هغوئ په مخونو باندے به دَ جهنمیانو مخصوص علامات وی چه هغے سره
به پیژندلے شی. مثلاً دَ مخونو تور والے دَ سترګو شین والے او دَ غم او
خفګان علامات وغیره. سِیْمَا هُمْ علی ما روی عن الحسن سواد الوجوه
وزرقة العیون وقیل ما یعلوهم من الکآبة والحزن (روح ج ۲۷ ص۱۱۴).
ئله هٰذِهٖ جَهَنَّمُ . دَ دیته مخکښ یقال مقدر دے کله چه مجرمان راښکلے
شی او جهنم ته غورځولے شی دغه وخت به هغوئ ته وئیلے شی دا هغه
جهنم دے کوم چه مجرمانو نهٔ منلو اوس به دَ جهنم اور او ډیر زیات ګرمو
جوش وهونکو اوبو سره دَ هغوئ استقبال کولے شی. اٰن، دا سے ګرمے اوبه
چه دَ ګرمئ انتهائی درجے ته رسیدلے وی. اٰن متناه اناه وطبخه بالغ
فی الحرارة اقصاها .... اذا استغاثوا من النار جعل غیاثهم الحمیم
(روح ج ۲۷ ص۱۱۵).
ئله وَلِمَنْ خَافَ ، دا منونکو دَ پاره دَ آخرت زیرے دے دَ مقام نه دَ
آخرت ورځ حساب کتاب دَ پاره دَ الله پاک په دربار کښ دَ اودریدلو
ځائے مراد دے ظاهره ده چا سره چه دَ حساب کتاب ویره وی هغه به
خپل دَ اعمال کتاب دَ بدو نه دَ پاک ساتلو کوشش کوی. مَوْقِفُ الذی
یقف فیه العباد للحساب یوم القیامة فترک المعاصی (مدارک ج ۴ ص۱۶۰)
جَنَّتٰنِ ، نه دوه باغونه مراد نهٔ دی بلکه تثنیه تکرار دَ پاره ده یعنی مختلف
قسم باغونه (رضی) او دَ ضمائر تثنیه په اعتبار دَ لفظ سره ده کوم سړے
چه دَ آخرت دَ حساب او کتاب نه اوویریږی دَ الله اطاعت خپل دَ ژوند
دستور اوګرځوی. دَ قیامت په ورځ به هغهٔ ته ډیر باغونه ملاویږی چه
په هغے کښ به هر قسم میوے او نعمتونه. ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ، دا دَ فن جمع ده
چه دَ معنیٰ ئے قِسم ده یا دا دَ فَنَنٌ جمع ده په معنیٰ دَ څانګے یعنی دغه
باغونو کښ به مختلف قسم میوے لرونکے اونے وی. یا مطلب دا دے چه

دَ جنت اولے به دَ اوګدو اوګدو ښاخونو والا وي چه دَ هغې په وجه به سورے او ميوے زياتے وي اى ذَوَاتَا اَنْوَاعٍ من الاشجار والثمار..... وتفسيره بالاغصان على انه جمع فنن روى عن ابن عباس ايضا (روح ج ۲۷ ص ۱۱۱)

فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

په هغې دواړو کښې دوه چينې دي بهيږي . پس کوم کوم نعمت دَ خپل رب

تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۱﴾ فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجٰنِ ﴿۵۲﴾

دروغ ګڼرئ . دغه دواړو کښې به هره ميوه قسم قسم وي .

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۳﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى

پس کوم کوم نعمت دَ خپل رب به دروغ ګڼرئ . تکيه به لګولے وي

فُرُشٍۢ بَطَآىِٕنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ

په فرشونو چه دَ هغې استرونه به دَ غټو ريښمو وي ، او ميوے دَ هغه باغونو به

دَانٍ ﴿۵۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۵﴾ فِيْهِنَّ

راځوړند وي ملے پس کوم کوم نعمت دَ خپل رب دروغ ګڼرئ . هغے کښې په

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ

ښځے وي ښکته کتونکے دَ خپلو نظرونو نزديکت (کوروالے) به نه وي کړے هغوئ سره يو انسان دَ دوئ نه مخکښ

وَلَا جَآنٌّ ﴿۵۶﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾

او نه يو پيرى . پس کوم کوم نعمت دَ خپل رب به دروغ ګڼرئ .

كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ فَبِاَيِّ

هغه به داسے وي لکه لعلونه او مرجان . پس کوم کوم

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۹﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ

نعمت به دَ خپل رب به دروغ ګڼرئ . نه ده بدله لره دَ نيکئ

إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾

مګر نیکي ف . پس کوم کوم نعمت به د خپل رب دروغ ګڼرئ .

وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

او د دے دوه ونو سيوا دوه نور باغونه دي ﷺ پس کوم کوم نعمت د خپل رب

تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَامَّتَانِ ﴿٦٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

دروغ ګڼرئ . تک شنه لکه د تور پشان . پس کوم کوم نعمت به د خپل رب

تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾

دروغ ګڼرئ . په هغې کښ چينے خوټکيږي ونکے .

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾

پس کوم کوم نعمت به د خپل رب دروغ ګڼرئ .

موضح قرآن ف نيک بندګۍ د هغې بدله نيک ثواب ۱۲ منه .

فتح الرحمٰن ملے يعني په آسانه به رانيولے او ټولولے شي ۱۲ .

تفسير ۵۱ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ، دغه باغونو کښ به دوه چينے جاري وي چه د هغې اوبه به صفا خوږے او خوشبوئي لرونکي دے نه مراد تسنيم او سلسبيل دے قال الحسن البصري احداهما يقال لها تسنيم والاخرى السلسبيل (ابن کثير ج ۴ ص ۲۷۷) فيهما من كل فاكهة زوجان ، د جنت هره ميوه به کم نه کم دوه قسمه دي د هر يو خوند مزه به جدا وي . مُتَّكِئِينَ عَلَى فُرُشٍ ، بطائن جمع د بطانة ده مراد ترينه دننه حصه ده . اِسْتَبْرَقٍ غټ ريښم په کومو بسترو بانديے چه هغوئ آرام کوي د هغې دننه حصه به د اعلیٰ قسم پيړ او غټ ريښمونه وي . دينه اندازه کيدے شي چه بيا خو به د هغه بسترو غلاف د هغې نه هم زيات د اعلیٰ قسم وي . مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ، من ديباج ثخين واذا كانت البطائن كذلك فما ظنك بالظهائر (بيضاوي) وجنى الجنتين دان . او د دے باغونو د اونو ميوه ډيره جوخته به وي چه په ناستے او ملاستے به هغې ته لاس رسيږي .

۵۲ فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ . الآية . د خوراک څښاک د څيزونو نه علاوه به په

جنت کښ دَ جنسي سکون او آرام دَ پاره حورے هم وي چه په هغوئ کښ به دَ یوے خائسته او ښکلے رفیقه حیات (ښځے) ټول صفتونه موجود وي هغوئ به ټوله شرم او حیاء وي او دَ خپلو خاوندانو نه علاوه به دَ هیچا طرف ته سترګے (نظر) نه پورته کوي او هغوئ به وادهٔ شوے نه وي. چاته چه ملاؤ شي دَ هغوئ نه مخکښ به بل کوم پیرے یا انسان هغوئ ته لاس کړے هم نه وي وړے. کَاَنَّهُنَّ الْیَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ، دَ اخلاق حسن او خائست نه علاوه به هغوئ دَ ظاهري حسن او جمال تصویر هم وي. هغوئ به خائست کښ په رنګ او دَ مخ په خائست او پرقیدلو کښ او د رنګ په خائست کښ دَ یاقوت او مرجان او لعل جواهر پشان وي دا بے شماره نعمتونه به جنتیانو ته ملاویږي دا ټول به دَ الله انعام او احسان وي.

۴۱ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ الایة، دَ اول احسان نه دَ عقیدے او عمل احسان مراد دے او دویم احسان نه مراد ثواب او جنت دَ عقیدے او عمل صحیح کولو جزاء دَ آخرت ثواب او دَ جنت نه سیوا هیڅ نهٔ دے ای ما جزاء الاحسان فی العمل الا الاحسان فی الثواب وقیل المراد ما جزاء التوحید الا الجنة (روح ج ۲۷ ص ۱۲۰).

۴۲ وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ، دلته هم تثنیه تکرار دَ پاره ده لکه چه ثم ارجع البصر کرتین الایة (ملک ع ۱) یعنی ذکر شوو باغونو نه علاوه به هغوي ته نور باغونه هم ملاویږي. مُدْهَآمَّتٰنِ. دَ دغه باغونو اونے به ډیرے زیاتے شنے وي او دَ زیات شین رنګ په وجه به تور والي ته مائل په نظر راځي دا به دَ هغے دَ تازګئ دلیل وي اي سوداوان من شدة الخضرة من الري (قرطبي ج ۱۷ ص ۱۸۵). نَضَّاخَتٰنِ، غوټئ وهونکي یعني دغه باغونو کښ به دَ فوارو پشان چینے جوش وهونکے وي. فوارتان بالماء لا ینقطعان (مدارک ج ۴ ص ۲۰۱)

فِيْهِمَا فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ فَبِاَيِّ

په دغه (جنتونو) کښ میوے دي او کجورے ۴۳ او انار. پس کوم کوم

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ

نعمت دَ خپل رب دروغ ګنړئ. په دغه ټولو باغونو کښ ښځے دي

حِسَانٌ ﴿۷۰﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾

ښائسته. پس کوم کوم نعمت دَ خپل رب دروغ ګنړئ.

حُوۡرٌ مَّقۡصُوۡرٰتٌ فِی الۡخِیَامِ ﴿۷۲﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

حورے دی بندا کړے شوے په خیمو کښ. پس کوم کوم نعمت

رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۳﴾ لَمۡ یَطۡمِثۡہُنَّ اِنۡسٌ

دَ خپل رب به دروغ ګنړئ. لاس نه دے لګولے هغوی ته یو انسان

قَبۡلَہُمۡ وَ لَا جَآنٌّ ﴿۷۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا

دَ دوی نه مخکښ او نه یو پیری. پس کوم کوم نعمت دَ خپل رب به

تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۵﴾ مُتَّکِـِٕیۡنَ عَلٰی رَفۡرَفٍ خُضۡرٍ وَّ

دروغ ګنړئ. تکیه وهونکی به ناست وی په شنو بالختونو باندے ﷺ او

عَبۡقَرِیٍّ حِسَانٍ ﴿۷۶﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا

په قیمتی فرشونو باندے. پس کوم کوم نعمت دَ خپل رب

تُکَذِّبٰنِ ﴿۷۷﴾ تَبٰرَکَ اسۡمُ رَبِّکَ ذِی الۡجَلٰلِ

دروغ ګنړئ. ډیر لوئے برکت والا دے نوم ستا دَ رب چه ﷻ دَ لوئی والا دے

ع ۳ ۱۳ وَ الۡاِکۡرَامِ ﴿۷۸﴾

او عزت ورکولو والا دے. ف

نکات ۱۔ دَ سورت خلاصه ۱۲۔

موضح قرآن ف هر آیت کښ ئے دَ نعمت خبر داره ورکړو ځینے خو اوس فی الحال نعمت دے او دَ ځینے خبر ورکول نعمت دے ۱۲

تفسیر ۲۳ فِیۡہِمَا فَاکِہَۃٌ الآیة، دغه باغونو کښ به هر قسم میوے وی او دَ دینه علاوه به کجورے او دَ انار اونے هم وی۔ فِیۡہِنَّ خَیۡرٰتٌ حِسَانٌ۔ په دغه جنتونو کښ به داسے حورے هم وی چه ظاهری او باطنی حسن او جمال سره خائسته کړے شوے وی۔ خَیۡرٰتٌ، حسنِ اخلاق او حِسَانٌ حسن او جمال ظاهری طرف ته اشاره ده فسر الرسول صلی الله علیه وسلم لام سلمة ذلك فقال خیرات الاخلاق حسان الوجوه (بحر ج ۸ ص ۱۹۹)

حُوْرٌ مقصورات فی الخیام. خیام دَ خیمة جمع دہ داخیمه به ډېرو ډېر لوئے سوچه ملغلرے وی چه مینځ به ئے خالی وی او دَ هغے دننه فراخ والے به خو فرسخه وی (روح وغیره) یعنی هغه حورے به دلے پرده کښې ناستے وی حُوْرٌ الخ دخیرات نه بدل دلے (روح) لَمْ یَطْمِثْهُنَّ الاٰیة دَ هغوئ نه مخکښ به یو پیری یا انسان دغه (حورو) ته لاس هم نه وے وړے او هغه به اول ځل دوی ته ملاویږی.

ــ۲۳ــ مُتَّکِـِٕیْنَ الاٰیة، رفرفة دَ شین رنګ څادر چه په بستره باندے خورولے شی. فی الصحاح الرفرف ثیاب خضر تتخذ منها المجالس الواحد الرفرفة (قرطبی ج ۱۷ ص۱۹۱). عبقری، غټ (پیړ) ریښم یا په فرش باندے غوړولو دَ پاره نقش کړے شوے مفروشات یعنی قالینونه وغیره عن مجاهد انه الدیباج الغلیظ (روح). العبقری ثیاب منقوش تبسط .... والعبقری الطنافس الثخان (قرطبی) چرته چه هغوئ آرام کوی هلته به په فرش باندے شنے درئ او په هغے باندے به اعلیٰ قسم ښائسته قالینونه غوړولے شوی وی. حضرت شیخ قدس فرمائی لاندے به شنے درئ وی او دپاسه به پیړے نرم باریک قالینونه وی. دا دَ الله تعالیٰ بیشماره نعمتونه دی دیکښ دَ کوم یو نه انکار کوئ دا انعام او اکرام به هغه خلقو ته نصیب وی څوک چه دعوت او منی چه دَ الله نه سیوا څوک کارساز او برکات ورکوونکے نشته او برکت صرف دَ دغه (الله) نوم کښ دے.

ــ۲۵ــ تَبٰرَکَ اسْمُ رَبِّکَ الاٰیة په آخر کښ دَ سورت دعوی ذکر شویده یعنی برکت ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے او صرف دَ هغهٔ په نوم کښ برکت دے او دا په سورت کښ دَ ټولو ذکر شوو دلائلو او دَ نعمتونو دَ اقسام نتیجه ده. الله تعالیٰ دَ ټولو کائناتو مالک او په ټول عالم کښ متصرف او او مختار دے او دا ټول نعمتونه دَ هغه ورکړے شوی دی دَ دے وجے نه هغه په ټول کارساز دے او صرف هغه برکات ورکوونکے دے.

واٰخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

سورة رحمٰن کښ دَ توحید اٰیتونه او دَ هغے خصوصیات

۱- الرحمٰن علم القراٰن ـــــ نه تر ـــــ کل یوم هو فی شأن ۰ دَ شرک اعتقادی په نفی دلائل.

۲- تبٰرک اسم ربک ذی الجلال والاکرام. برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے.

د سورة الواقعه

ربط | سورة رحمٰن کښې ئے فرمائیلي وو تبٰرك اسم ربك ذی الجلال والاکرام یعنی د برکت والا نوم د الله دے او صرف هغه برکات ورکوونکے دے او س سورة الواقعه کښې ئے دوه ځل اوفرمائیل فسبح باسم ربك العظیم یعنی دے صفت (برکت ورکولو) کښې الله تعالیٰ د شریک نه پاک او څنړئ.

خلاصه | اذا وقعت الواقعه ــــ نه تر ــــ فکانت هبآء منبثا ه د قیامت احوال په طور د تمهید د پاره د احوال بیانولو د درے ډلو. وکنتم ازواجا ثلثة ــــ نه تر ــــ والسٰبقون السابقون د درے واړو جماعتونو اجمالی ذکر یعنی اصحاب المیمنة (د ښی طرف والا) او السٰبقون (په ښو کارونو کښې سبقت وړونکی) اولٰئك المقربون ــــ نه تر ــــ الا قیلا سلٰما سلٰما دا د السابقون د احوالو بیان دے په طریقه د لف نشر غیر مرتب دغه خلقو ته به خصوصی قرب او نزدیکت حاصل وی او هغوی به د نعمتونو باغونو کښې وی د جماعت کښې به د امت د مخکنو خلقو نه زیات وی او د روستنو نه به هم څنو خلقو ته دا مرتبه حاصل وی. هغوی د پاره به تختونه تیار کړے شوی وی او کم عمر هلکان به د هغوی په خدمت کښې مختلف قسم د څکلو څیزونه پیش کوی. د خوښے میوے او غوښه به حاضروی د ملغلرو پشان خائسته حورے به د هغوی ملګرے وی هلته به هیڅ بے هوده خرابه خبره نه وی او هغوی ته به د هر طرف نه د سلام تحفه ملاویږی.

واصحٰب الیمین ــــ نه تر ــــ وثلة من الاٰخرین دا د اول جماعت د احوال بیان دے. کوم خلقو ته چه په ښی لاس کښې اعمال نامے ملاویږی هغوی ته به داسے باغونو کښې سکونت میسروی چه په هغے کښې به بیشماره او عجیبه نا اشنا قسم میوے وی د هغه ځائے بیرے به ازغی نه لری. میوے به هیڅکله نه ختمیږی او نه به د هغے نه د خوراک کولو څه منع وی. فراخ سورے به پریږے او به او همعمرحورے به ئے په نکاح کښې وی دے ډله کښې به د مخکنو او روستنو نه ډلے ډلے شامل وی.

واصحٰب الشمال ــــ نه تر ــــ هذا نزلهم یوم الدین (۲۶) دا د دوېم ډلے د احوالو بیان دے اصحاب الشمال ته به ګرم هوا او جوش وهونکے اوبه ملاویږی او دا سوری به هم هغوی ته نصیحت نه وی هغوی دنیا کښې کبر او غرور کولو او همیشه به ئے ګناهونه کول او قیامت به ئے نه منلو بیشکه د

قیامت په ورځ به بتول مخکنی او روستنی جمع کولے شی او گمراهانو ته په جهنم کښ د خوراک د پاره زقوم ورکولے شی چه هغوئ به هغے سره خپلے خیټے ډکه وی او د پاسه به د تکی اوبه پشان جوش وهونکے اوبه څکی د قیامت په ورځ به د هغوی میلمستیا په دے طریقه کولے شی.

نحن خلقنکم ــــ نه تر ــــ فلولا تذکرون دا په توحید باندے اولنے عقلی دلیل دے . زه ستاسو د ټولو خالق یم بیا تاسو ولے نه منئ؟ دا راته اووائی ! د مرے نطفے نه خائسته انسان چا پیدا کړو ؟ او بیا مرگ د چا په قبضه او اختیار کښ دے ؟ مونږ ستاسو په ځائے باندے ستاسو پشان نور مخلوق پیدا کولو باندے هم قادر یو او دغه شان د قیامت په ورځ دوباره ژوندی کولو باندے هم قدرت لرو.

افرایتم ما تحرثون ــــ نه تر ــــ بل نحن محرومون (۲۶) دا په توحید باندے دویم عقلی دلیل دے دا راته اووائی . دا شنه تروتازه فصلونه څوک زرغونه وی ؟ که چرے مونږ اوغواړو نو مونږ به فصلونه تباه کړو او تاسو به خبرے جوړوونکے پاتے شئ.

افرایتم الماء الذی ــــ نه تر ــــ فلولا تشکرون دا په توحید باندے دریم عقلی دلیل دے . بنه ده دا راته اووایئ . دا اوبه کوم چه تاسو څکئ دا تاسو نازل کړیدی یا مونږ ؟ که چرے مونږ اوغواړو نو هغه به ترخ اوکړو خو مونږ د دے نعمتونو شکر تاسو ولے په ځائے نه راوړی او خونږ ور کړے شوی برکات نورو ته ولے منسوب کوئ ؟

افرایتم النار التی تورون ــــ نه تر ــــ ومتاعا للمقوین . دا د توحید څلورم عقلی دلیل دے . دا شان دا خو راته اووایئ چه دا اور کوم چه تاسو (روښانه) بلوی د هغے اونه چا پیدا کړیده . لرگے یو بل سره مګل او وهلو سره اور پیدا کول د عبرت باعث دے او مسافرو د پاره د فائدے خیز دے چه په ځنګل کښ هم اور حاصلولے شی.

فسبح باسم ربك العظیم د دلائلو نه روستو د سورت دعوی ذکر شویده د خپل لویئ والا رب په نوم تسبیح بیانوه او په برکت ورکولو کښ هغه د هر شریک نه پاک گڼړه.

فلا اقسم بمواقع النجوم ــــ نه تر ــــ انکم تکذبون ٥ (۲۶) د عظمت قرآن بیان او د تصدیق بالقرآن ترغیب دا قرآن یو ډیر عظیم الشان کتاب دے په لوح محفوظ کښ لیکلے شویدے هغه صرف پاک خلق مسح کوی هغه د رب العالمین له طرفه نازل شویدے . آیا د داسے عظیم کتاب پروا تاسو نه کوئ او هغه دروغ گڼړئ دروغ ته تاسو ملا تړلے ده ؟

فلولا اذا بلغت الحلقوم ــــ نه تر ــــ ان کنتم صٰدقین ۵ دا زجر دے. که چرے تاسو دے دعوی کښې رښتونی یئ چه قیامت به نه راځي او جزاء سزاء به نه وی نو ستاسو په وړاندے چه کله د چا روح او جان نو هغه بدن ته واپس کړئ راته اوښایئ.

وَ اَمَّآ اِنْ کَانَ ــــ نه تر ــــ اصحٰب الیمین ۵ دا د اول ټولی د حال دوباره ذکر دے. عام جنتیانو ته به په جنت کښې د سلام تحفه ملاویږی

وَ اَمَّآ اِنْ کَانَ نه تر تصلیة جحیم ۵ دا دویم جماعت د حال اعاده ده ګمراهانو ته به جوش وهونکے اوبه نصیب شي او به جهنم کښې به سوزیدل. اِنّ هٰذا لهو حق الیقین ۵ دا ټول هر څه حق دی او یقینی دی. فسبّح باسم ربک العظیم. په آخر کښې د سورت د دعوی اعاده (دوباره ذکر کول) دی یعنی په برکت ورکولو کښې الله د شریکانو نه پاک اوګڼړئ.

مختصر خلاصه

په شروع کښې د درے ډلو اجمالی ذکر. ۱ اصحاب المیمنه ۲ اصحاب المشئمة ۳ السابقون. بیا د درے ډلو د احوالو تفصیلی ذکر په طریقه د لف نشر غیر مرتب. او په آخر کښې د درے واړو د احوالو اجمالی اعاده مینځ کښې د توحید څلور عقلی دلائل بیانول. دینه روستو د عظمت قرآن بیان او د تصدیق بالقرآن ترغیب. او د دینه روستو زجر. دوه ځل د سورت دعوی ذکر کول یو ځل مینځ کښې او یو ځل په آخر کښې.

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

دا سورة الواقعه مکه کښې نازل شو او ددهٔ ایتونه شپږ نوي او درې ۳ رکوعات دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان ډیر رحم کوونکے دے

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا

کله چه واقع شي واقع کیدونکے له (قیامت). نشته د هغې واقع کیدلو د پاره هیڅ

كَاذِبَةٌ ﴿۲﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿۳﴾ اِذَا رُجَّتِ

یو نفس دروغ کوونکے ۱ ښکته کوونکے دے ۲ پورته کوونکے دے ۳ کله چه او خوځیږي

الْاَرْضُ رَجًّا ﴿۴﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿۵﴾

زمکه ډیر خوزیدلو سره او ټکړے ټکړے شي غرونه ټوټې ټوټې کیدلو سره.

فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ﴿۶﴾ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا

پس شي به ګرد الوځولے شوے او تاسو به شئ قسمه په

ثَلٰثَةً ﴿۷﴾ فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ

درے. پس د ښي لاس والا څومره ښه دي

الْمَيْمَنَةِ ﴿۸﴾ وَاَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ

د ښي لاس والا او د ګینړ لاس والا څومره بد خلق دي

الْمَشْـَٔمَةِ ﴿۹﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ﴿۱۰﴾ اُولٰٓئِكَ

د ګینړ لاس والا. او مخکښې کیدونکي ۵ خو مخکښې کیدونکي دي. هغه خلق دي چه

الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۱۱﴾ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۱۲﴾ ثُلَّةٌ

نزدے کړے شوي ۳ په باغونو د نعمتونو کښې لویه ډله ده چه

مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۴﴾

د مخکنونه ۲ او لږ دي د روستنونه ۴ ۳.

عَلٰى سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿۱۵﴾ مُّتَّكِـِٕیْنَ عَلَیْهَا

ناست دي په تختونو ودلو شو باندې ځه تکیه لګوونکي په هغې باندې

مُتَقٰبِلِیْنَ ﴿۱۶﴾ یَطُوْفُ عَلَیْهِمْ وِلْدَانٌ

یو بل ته مخامخ. ګرځي به د هغوی نه چاپېره هلکان

مُّخَلَّدُوْنَ ﴿۱۷﴾ بِاَكْوَابٍ وَّ اَبَارِیْقَ وَ كَاْسٍ

همیشه پاتې کیدونکي ګلاسونو او کوزو سره او پیالو ډکو د شراب

مِّنْ مَّعِیْنٍ ﴿۱۸﴾ لَّا یُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَ لَا

بهیدونکو سره چه نه به خوږیږي ځه هغې سره او نه

یُنْزِفُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَ فَاكِهَةٍ مِّمَّا یَتَخَیَّرُوْنَ ﴿۲۰﴾

به بکواس (فضول خبرې) کوي او میوې ځه خوښه چه هغوی خوښوي.

وَ لَحْمِ طَیْرٍ مِّمَّا یَشْتَهُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَ حُوْرٌ

او غوښې د الوتونکو مارغانو ځه قسم چه زړه ئې غواړي او ښځې خاشته

عِیْنٌ ﴿۲۲﴾ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ﴿۲۳﴾

غټو سترګو والا لکه د ملغلرو دانې په خپلو پردوکښ دننه ۵

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾

بدله د هغه کارونو کوم چه هغوئ کول.

نکات ۱ تمهید د پاره د بیان د درې ټولیو ۱۲ ۲ د درېم جماعت (ټولي) ذکر ۱۲.

موضح قرآن ۱ یعني یوه ډله ښکته بیایئ او یوه پورته بیایئ. ۲ یعني مخکښ تلونکي هغه دي چا چه په ایمان کښ مخکښ والې کړې دې. ۳ یعني د الله په رحمت کښ نږدې کړې شوي دي ۴ مخکښ ئې تیر شوو امتونو نه او وئیل او روستني ئې د دې امت (محمدیه) نه او وئیل یا مخکني او روستني د دې امت یعني اعلیٰ درجه خلق مخکني ډېر وو او روستني به لږ وي. ۵ یعني د غټو سترګو حورې به ګیر چاپېره

کړی چه په صفایئ کښې به د هغه ملګرو پشان وی کومې چه په سینې کښې پټې وی.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی ټول به مسلمانان شی کفر او دروغ جوړول به هلته نه وی ۱۲. ف۲ یعنی د تیرشوو امتونو نه ۱۲. ف۳ یعنی د امت محمدیه نه ۱۲.

تفسیر ۲ اذا وقعت الواقعة ـــــ نه تر ـــــ هباءً منبثًا. دا د درې واړو جماعتونو د احوال تمهید دے یعنی چه کله خلق په درې ډلو کښې تقسیم شی هغه وخت به کوم قسم حالت وی. حاصل دا دے چه کله قیامت قائم شی او خلق جمع شی دغه وخت به ټول خلق درې ډلو کښې تقسیم شی. اَلْوَاقِعَةُ نه قیامت مراد دے. کَاذِبَةٌ. فاعل په معنیٰ د مصدر دے. دا جمله معترضه ده د پاره د تاکید د اول جملے یعنی د هغې واقع کیدل دروغ نه دی بلکه حق دی او په دیکښې هیڅ شک نشته. ویجوز جعل الکاذبة بمعنی الکذب علی معنی لیس للوقعة کذب بل هی وقعة صادقة ...... او علی معنی لیس هی فی وقت وقوعها کذب لانه حق لا شبهة فیه (روح ج ۲۷ ص ۱۳۰).

۳ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ. دا د مبتداء محذوف خبر بعد خبر دے یعنی قیامت ځنې خلق ښکته او خوار ذلیل کوونکے دے د دینه مراد اصحاب الشمال (کافران مشرکان) خلق دی او ځنو خلقو لره اوچتوونکے دے دینه مراد السابقون او اصحب الیمین دی ای خافضة رافعة ترفع اقوامًا و تضع اخرین (مدارک ج ۴ ص ۱۶۲).

۴ اِذَا رُجَّتِ الْاَرْضُ الایة دا د اذا وقعت نه بدل دے. رَجٌّ ډیر سختئ سره خوځولے. د قیامت په ورځ به زمکه دومره سختئ سره او خوځول شی چه په زمکه باندے به هیڅ څیز ولاړ پاتے نه شی ټول عمارتونه به راوغورځیږی تردے چه غرونه به هم ذرے ذرے شی او هموار به شی. بَسٌّ، باریک کول غرونه به داسے باریک کړے شی چه هغه به د ګرد پشان والوځولے شی. ای حرکت تحریکًا شدیدًا بحیث ینهدم ما فوقها من بناء وجبل (وبست) فتت فتًا حتی صارت کالسویق المبسوس وهو الملتوت (مظهری ج ۹ ص ۱۶۵).

۵ وَّکُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً، دغه وخت به تاسو خلق په درے قسمونو کښې تقسیم شی. فاصحب المیمنة ـــــ نه تر ـــــ السّٰبقون دا د درے واړو قسمونو اجمالی ذکر دے. فاصحب المیمنة مرکب اضافی مبتداء ده ما اصحب المیمنة، جمله خبر دے او استفهام تعجب د پاره دے علی هذا القیاس واصحب المشئمة، الایة دا او والسابقون السابقون دواړه په اصحب

المیمنة یا ندے معطوف دی او معطوف علیه سره د معطوفین نه د اذا وقعت جزاء ده (روح) د شرط او جزاء حاصل مفهوم به دا وی کله چه قیامت قائم شی چه د هغې به قائمیدلو کښې هیڅ شک شبه نشته چه خفی خلقو له او چتوونکی او ځنوله ښکته کوونکے دے کله چه زمکه ډیر زیات سخت خوزولو سره او خوزولے شی او غرونه به ذره ذره کړے شی د ګرد پشان به والوزولے شی او ټول خلق به درے ډلے شی د اصحٰب الیمین حال به ډیر اعلیٰ او اکمل وی او اصحٰب الشمال به ډیر زیات په بد حال کښې وی او د سابقین به څه وائی هغوی خودی سابقین (مخکښې تلونکی) د هغوی سره خو به حساب کتاب هم نه وی. والمراد تعجیب السامع من شان الفریقین فی الفخامة والفظاعة کانه قیل (فاصحٰب المیمنة) فی غایة حسن الحال (واصحٰب المشئمة) فی نهایة سوء الحال (روح ج ۲۷ ص ۱۳۱) اصحٰب المیمنة نه د هر امت عام مؤمنان مراد دی چا ته چه اعمالنامے په ښی لاس کښې ورکولے شی او د اصحٰب المشئمة نه کافران او مشرکان مراد دی چا ته چه اعمالنامے په کینړ لاس کښې ورکړے شی. قال عطاء و محمد بن کعب اصحٰب المیمنة من اوتی کتابه بیمینه واصحٰب المشامة من اوتی کتابه بشماله (قرطبی ج ۱۷ ص ۱۹۸)

اَلسّٰبِقُوْنَ. هغه نیک خلق چه په هره نیکئ او طاعت کښې مخکښې مخکښې وی دا به انبیاء علیهم السلام او د هغوی کامل اتباع کونکی وی. السابقون الی الاسلام والطاعة ومراتب القرب الی الله تعالیٰ وهم الانبیاء علیهم السلام......ومن لحقهم من الامم بکمال متابعتهم (مظهری ج ۹ ص ۱۶۶)

له اولٰئک. دا د دریمے ډلے یعنی د السابقون د احوال بیان دے په طریقه د لف نشر غیر مرتب. فی جنّٰت المقربون سره متعلق دے د نعمتونو باغونو کښې به وی یعنی په جنت کښې د الله تعالیٰ اصل نزدیکت خو به سابقین ته حاصل وی د قرب خداوندی کومه درجه چه به هغوی ته ملاؤ وی بل هیچا ته به هغه نه وی ملاؤ شوی.

ثه ثُلَّةٌ من الاوّلین الآیة ثُلَّةٌ کثیرة یعنی کثرت سره. دا د مبتداء محذوف خبر دے. خبر مبتداء محذوف ای هم ثُلَّةٌ (مظهری ج ۹ ص ۱۶۸). ای هم ثلة والثلة الامة من الناس کثیرة (مدارک ج ۴ ص ۱۶۳) اولین نه مراد د امت محمدیه اولین او آخرین نه د امت محمدیه آخرین دی مطلب دا دے چه د امت محمدیه نه چه کوم خلق د سابقین مرتبه بیا مومی هغه به زیات د اول صدئ مؤمنان (صحابه، تابعین او اتباع تابعین رضی الله عنهم) وی او روستنو کښې دا رتبه موندونکی به هم لږ وی ځکه چه دا مرتبه کامل اتباع سره ملاویږی او کامل اتباع په اول صدئ کښې وه او هغه نه روستو د زمانے

تیرېږي نو سره په اتباع کښې ضعف راغلے لیکن د دے باوجود به هم د دوستو
نه ډېر خلق وي. هم الله تعالیٰ د کامل اتباع توفیق ورکړي. او هغوي به د دسا بقین
سره شامل وي. فالقول الثاني في هذا المقام هو الراجح وهو ان يكون المراد
بقوله تعالیٰ (ثلة من الاولين) اي من صدر هذه الامة (وقليل من
الآخرين) اي من هذه الامة (ابن کثیر ج ۴ ص ۲۸۴) يعني من الصدر
الاول من هذه الامة وهم القرون الثلاثة الصحابة والتابعين واتباعهم
قال رسول الله صلى الله عليه وسلم خير امتي قرني ثم الذين يلونهم
ثم الذين يلونهم الخ (مظهري ج ۹ ص ۱۶۷).

ـه علی سرر. دا د ضمیر مقدر خبر بعد خبر دے. موضونة زرو وودل شوي
دا سے کټونه چه د سرو زرو تارونو سره په ښکلے شوي وي او په هغې کښې
هیرے او جواهرات چراؤ شوي وي. خبر آخر للضمير المحذوف والموضونة
المنسوجة بالذهب مشبكة بالدر والياقوت (بيضاوي) متكئين اومتقابلين
دواړه د علی سرر د متعلق د فاعل نه حال هغوي به په جنت کښې په زرو ودل
شوو کټونو باندے تکیه وهونکي مخامخ ناست وي. يطوف عليهم. ولدان
مخلدون د هغوي د خدمت د پاره او په هغوي باندے د خوراک او څښاک
کولو د پاره چه کوم خادمان مقرر دي هغه به ډېر زیات خائسته کم عمر
هلکان وي او همیشه به د دغه عمر کښې وي زړېږي به نه. او نه به لوئېږي
انهم يبقون دائما في سن الولدان لا يكبرون ولا يتحولون عن شكل
الوصافة (بحر ج ۸ ص ۲۰۵) باكواب واباريق. الآية. جار مجرور يطوف
سره متعلق دے اکواب د کوب جمع ده یعني پیالئ چه د هغې څڅکوړے
او کنړه هم نه وي اباریق د ابریق جمع ده هغه لوښي چه څڅکوړے ئے هم
وي او د لاس نیولو (دستنه) هم وي دا د شراب څښلو مخصوص لوښي دي.
(باكواب) بآنية لاعرى لها ولاخراطيم والظاهر انها الاقداح وبذلك
فسرها عكرمة وهي جمع كوب (واباريق) جمع ابريق وهو اناء له خرطوم
قيل وعروة وفي البحر انه من اواني الخمر (روح ج ۲۷ ص ۱۳۶) معين، جاري
مراد شراب دی چه په جنت کښې به د هغې چینے جاري وي او که چرے معن
نه فعيل وي نو په معنیٰ د ډېر بوي المراد في هذا الموضع الخمر الجارية
من العيون...... وقيل هو فعيل من المعن وهو الكثرة (قرطبي ج ۱۷ ص ۲۰۳)

ـه لا يصدعون، الآية د جنت شراب به د دنیا د شراب نه بالکل مختلف
وي. لا يصدعون عنها. د جنت شراب سره به نه د سر درد وي ولا ينزفون
او نه به هغې سره د نشے کیفیت پیدا کیږي. لا تصدع رؤسهم من شربها
ولا يغلب على عقولهم ولا يسكرون منها (خازن ج ۷ ص ۱۶).

ٹله وَفَاكِهَةٍ. فَاكِهَةٍ او لَحْمِ دواړه پر اکواب باندے معطوف دی هغه هلکان به په جنت کښ دَ سابقین په خدمت کښ دَ هغوئ دَ خوښے میوے پیش کوی او دَ هغوئ دَ خواهش مطابق به دَ مارغانو غوښے حاضروی. وَحُوْرٌ الخ دا په وِلْدَانٌ باندے معطوف دے یا دا مبتداء ده او دَ دے خبر محذوف دے ای لهم حور. كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الخ دا دَ حور صفت دے یا دَ هغے نه حال دے (روح) دَ حورو تشبیه ئے دَ ریښتنو ملغلرو دَ مخونو په صفائئ او رونړوالی کښ او دَ ځرمن په صفائئ کښ ده په جنت کښ به هغوئ دَ پاره داسے ښځے وی چه دَ هغوئ سترګے به تورے او غټے وی او هغوئ به په ښائست او جمال کښ او دَ مخونو په رنړائی دَ هغه صفا ملغلرو پشان وی چه هغه دَ ګرد او غبار نه صفا ساتلے شوی وی.

جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ جَزَآءً دَ مقدر فعل دَ پاره مفعول لهٗ دے یا مفعول مطلق دے مفعول له ای یفعل بهم ذلك كله لجزاء اعمالهم او مصدر ای یجزون جزاء (مدارک ج ۴ ص ۱۶۳) دا ټول انعامونه دَ دوی دَ نیک عملو نو بدل له کښ به وی.

لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِيْمًا ﴿٢٥﴾ اِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا

نه به آوری ٹله هلته فضول خبرے او نه دَ ګناه خبرے لیکن یوه وینا سلام

سَلٰمًا ﴿٢٦﴾ وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ

سلام. او ښی لاس والا ٹله څه به وائی دَ ښی

الْيَمِيْنِ ﴿٢٧﴾ فِىْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ﴿٢٨﴾ وَّطَلْحٍ

لاس والو او سیرئ دَ بیرو به او نو کښ چه په هغے کښ ازغی نشته او کیلے

مَّنْضُوْدٍ ﴿٢٩﴾ وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿٣٠﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿٣١﴾

لاندے باندے او سورئ اوږده او اوبه بهیولے شوے

وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿٣٣﴾

او میوے ٹله ډیرے نه به پریکړے شوے وی او نه منع کړے شوے وی

وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ ﴿٣٤﴾ اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ اِنْشَآءً ﴿٣٥﴾

او فرشونه پورته کړے شوے مونږ پیدا کړی دی هغه ښځے په پیدا کولو سره

فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا اَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ لِّاَصْحٰبِ

پس اوګرځولے مونږ هغه نا وادۀ شوی محبت کوونکی همځولی فا د ډاړه د ښی

الْيَمِيْنِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ

لاس والو لویه ډله ده ګله د مخکنو نه. او لویه ډله ده

مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ مَآ اَصْحٰبُ

د روستنو نه فا او ګله د کینړ لاس والا څنګه دی د

الشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِىْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ﴿٤٢﴾ وَّظِلٍّ مِّنْ

کینړ لاس والا. په تیزه (سخته) ګرمئ کښ او په سوزوونکو اوبو کښ او په سوری کښ د

يَّحْمُوْمٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿٤٤﴾ اِنَّهُمْ

لوګي نۀ یخ دے نۀ د عزت. هغه خلق ؤ

كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوْا

د دے نه مخکښ ګله خوشحال او

يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوْا

ضد به ئے کولو (همیشه) دئ مله لویه ګناه باندے. او

يَقُوْلُوْنَ اَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا

وئیل به ئے ایا چه مونږ کله مړه شو او شو خاورے

وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٤٧﴾ اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾

او هډوکی ایا مونږ به بیا پا خولے شو او آیا زمونږ مخکنی پلرونه او نیکونه هم.

نکات سا د اول جماعت ذکر ۱۲ د دویم جماعت ذکر ۱۲.

موضح قرآن فا یعنی پس یکښ به څۀ هم مات نه وی ۱۲ مه رحمه الله تعالی فا ښے او کینړ دا چه د اعمالو کاغذ د چا په ښی لاس کښ راغلے هغه جنتی او که په کینړ لاس کښ ورکړے شو نو دوزخی.

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی د دنیا ښځې او حورې به خپلو خاوندانو سره محبوبې وي ۱۲ ف۲ یعنی شرک.

تفسیر

۱۸ لَا یَسْمَعُوْنَ ، جنت به هر لحاظ سره د امن او سلامتیا ځائے وي هلته به هیڅ جسماني او ذهني تکلیف نه وي هلته به څنګه چه د ژبې او خوراک څخاک خوند ونه حاصل وي نو دغه شان د جنتیا نو غوږونه به هم د خاشته او ښکلو آوازونو نه لطف حاصلوونکي او د هر تکلیف ورکوونکي آواز نه به محفوظ وي هلته به هیڅ فضول او بې فائدے خبرے نه وي او د طبیعت خلاف کړے وړے خبرے وغیره به نه اوري هلته به هر طرف نه د سلام آوازونه راځي فرښتے به جنتیا نو ته د سلام تحفے پیش کوي او جنتیان به خپل مینځ کښ یو بل ته دغه شان پیشکشې سره. ستړي مشي او پخیر راغلے وائي -(ابن کثیر، مظهري)

۱۹ و اصحٰب الیمین ، دا د اول جماعت یعنی د اصحٰب المیمنه د احوالو بیان دے. د اصحٰب الیمین به څه وائې د هغوی حال به ډیر ښه او اعلیٰ وي. فِي سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ، مخضود د ازغونه بغیر. د جنت میوه دار بوټي او ونے به د ازغونه خالي وي. دے د پاره چه د میوے حاصلولو په وخت کښ څه خوند او مزه کښ څه نقصان واقع نشي. څنګه چه په دنیا کښ د بیرو ونے د ازغونه ډکے وي لیکن په جنت کښ چه د بیرو مشابه کومے ونے وي هغه به د ازغونه خالي وي او د هغے میوے به لکه د چاټو پشان په جسامت او غټ والي کښ وي او ډیر زیات خوندناک او خوشبوئي لرونکي بوي.

سدر فی الجنة شجر علی خلقه له ثمر کقلال هجر طیب الطعم والریح (مخضود عا) من الشوک (بحر ج ۸ ص ۲۰۶) وَطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ، او د کیلو پلې به یو بل د پاسه وي د زمکے نه واخله تر ټوله اونه به د پلو نه ډکه وي اشاره د هغے ډیروالي ته ده. وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ . هلته به سورے فراخ او همیشه وي او هیڅ کله به ګرمي نه محسوس کیږي. وَمَآءٍ مَّسْکُوْبٍ او به په جنت کښ هر ځائے ملاویږي او روانے به وي او د هغے په حاصلولو کښ به هیڅ تکلیف نه وي.

۲۰ وَ فَاکِهَةٍ ، هر قسم میوے به په کثرت سره وي. لَا مَقْطُوْعَةٍ . همیشه به ملاویږي او په هیڅ وخت کښ به نه ختمیږي. وَلَا ممنوعة کله چه غواړي هیڅ وخت به څه منع او پابند نه وي. وَفُرُشٍ مرفوعة. او ډیر

زیات لوړ عالیشان او ښائسته فرشونه به وی د امام ابوعبیده په نزد د فرشونو نه مراد ښځې (حورې) دی ځکه چه په عرف کښې ښځې ته فرش ویلے شی او مَرْفُوعَة نه د مرتبے او چتوالے مراد دے. اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ دے باندے قرینه ده (روح). حضرت شیخ قدس سره فرمائی دلته مضاف مقدر دے ای ذَوَات فرش، او مراد ترینه حورے دی. اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ پدے دلیل دے مونږ حورے ابتداءً (نوی) پیدا کړی دی. دا شان به حورے یو نوے مخلوق وی. د ولادت نه بغیر به ئے الله پیدا کړی. فالمعنی انا ابتدأناهن ابتداء جدیدا من غیر ولادة ولاخلق اول (روح ج ۲۷ ص ۱۴۲) دے سره د ځنوزانګین رسمے لاړے نه د ګکیں ونکو) خیال باطل شو ځوک چه وائی چه د مشرکانو کوچنے جینکئ چه د بلوغ نه مخکښ وفات شوی دی هغه به حورے کرځولے شی. اَبْكَارًا، ناوادهٔ شوی به وی. عُرُبًا، جمع ده د عَرُوبٌ یعنی هغوی به د خپلو خاوندانو سره ډیرے محبت کوونکی وی. اَتْرَابًا د ترب جمع ده یعنی همعُمر (همزولی) اصحٰب الیمین د پاره به مونږ از سرنو (ابتداءً) په جنت کښ حورے پیدا کړو چه ناوادهٔ شوی او خاوندانو ته به د خپل حسن او جمال او ښائسته اخلاقو په وجه ډیرے زیاتے محبوب وی او په عمر کښ به هغوئ سره یو شان وی

۱۱ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ، اصحاب الیمین کښ به د امت محمدیه د اول صدر او د صدر آخر (آخری صدئ) مؤمنان کثرت سره وی. عن ابن عباس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم هما جمیعا من امتی (ابن کثیر ج ۴ ص ۲۹۴).

۱۲ و اصحٰب الشمال، دا دویم جماعت د احوال بیان دے. د اصحب الشمال څه تپوس کوئ! د هغوئ حال خو به ډیر زیات خراب او د نه وئیلو لائق وی. فِیْ سَمُوْمٍ الخ مبتدا "هم" محذوف دے او دا د اصحاب الشمال د بدحال بیان دے هغوئ ته به د یخے هوا او یخو اوبو په ځائے ډیر زیات ګرم او زهریله هوا او جوش وهونکے ګرمے اوبه نصیب کولے شی او ګرمئ نه د بچ کیدلو د پاره به هغوئ د پاره هیڅ سورے نه وی سوا د هغه لوږے نه کوم چه به د جهنم د اور نه پورته کیږی. د دوزخ والا به متوجه کړی د هغے په سوری کښ به د پناه اخستلو کوشش کوی لَا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ه لیکن هغه سورے به نه یخ وی او نه به څه فائده ورکوی هغے سره به د دوی په عذاب کښ څه قسم کمے نه راځی - اَلسَّمُوْمُ. الریح الحارة التی تؤثر تأثیر السم (مفردات راغب)

حمیم وهو الماء الشدید الحرارة (روح ج ۲۷ ص ۱۴۳) (یحموم) ای دخان شدید السواد .... (لا بارد) کسائر الظل (ولا کریم) ای لا نافع بوجه ما (مظهری ج ۹ ص ۱۷۶).

کله إنهم مترفین، په عیش او عشرت (خوشحاله زندګئ) او د خواهشات نفسانیه ؤ په اتباع کښ غرق او ډوب وو. الحنث العظیم، ډیره لویه ګناه یعنی کفر او شرک ..... دا خلق په دنیا کښ د خوشحالئ ژوند تیرولو او د خواهشات نفسانیو د روستو روان وو او د کفر او شرک پشان لویه ګناه باندے په ضد وو او د قیامت نه به ئے انکار کولو او هغه به د عقل او قیاس نه لرے ګڼړلو چه دا څنګه کیدے شی چه کله مونږ او څمونږ پلرونه او نیکونه د مرګ نه روستو خاورے شی او هډوکی ئے او زړ زیږی نو بیا به موږ دوباره ژوندے کړے شو او پاڅولے به شو.

قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ﴿٤٩﴾

ته اووایه کله مخکنی او روستنی

لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٥٠﴾

ټول جمع کیدونکی دی د یوې مقرر ورځې په وخت باندے

ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾

بیا تاسو هر څوک چه یئ اے ګمراهانو دروغ ګڼړونکو.

لَآكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِئُونَ

ضرور به خورئ د یوے زقوم اونے نه پس ډکوئ به

مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٥٣﴾ فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ﴿٥٤﴾

د هغے نه خیټے . بیا به څکئ په هغے باندے یوجوش وهونکے (ګرمے) اوبه.

فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نُزُلُهُمْ

بیا به څکئ لکه چه څکی اوښ سخت تږی شوے . دا میلمستیا ده کله د هغوی

يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٥٦﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا

دَ انصاف په ورځ — مونږ تاسو پیدا کړي یئ ۴۵ — بیا ولې نه منئ

تُصَدِّقُوْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ﴿٥٨﴾

رښتیا وا منئ — آیا وینئ خبر را کړئ ۴۶ کوم اوبه چه تاسو څڅوئ ئې

ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿٥٩﴾

آیا تاسو هغه پیدا کوئ — یا مونږ پیدا کوونکي یو ۴۷

نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ

مونږ اندازه کړې ده تاسو کښې مرګ — او مونږ نه یو

بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٦٠﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ

عاجز — ددې خبرې نه چه په بدله کښې راولو ستاسو په شان خلق

وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ

او تاسو او درو — په هغه جهان کښې کوم چه تاسو نه پیژنئ ئې ۴۸ او تاسو

عَلِمْتُمُ النَّشْاَةَ الْاُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾

پوهه شوي یئ له ۴۹ — په اول پیدائش باندې پس ولې نه یادوئ (قدرت د الله)

اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ﴿٦٣﴾ ءَاَنْتُمْ

آیا وینئ خبر را کړئ ۵۰ کوم څه چه تاسو کرئ. — آیا تاسو

تَزْرَعُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَآءُ

هغه زرغونه وئ — یا مونږ زرغونه وونکي یو. — که چرې مونږ اوغواړو

لَجَعَلْنٰهُ حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اِنَّا

نو او به ګرځوو هغه اوچ واښه ذره ذره پس تاسو به یئ او ګرځئ خبرې کوونکي چه مونږ

لَمُغْرَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾

خو ئې ضائع پاتې شولو. — بلکه مونږ بې نصیبه شو ۵۱.

نکات: سـ۱ـ توحید باندې عقلي دلیل. سـ۲ـ دویم عقلي دلیل ۱۲.

موضح قرآن ف۱ یعني دویم ځل پیدا کول ۱۲ منه رح. ف۲ یعني تاسو به بل جهان ته بوځو ستاسو په ځائې به دلته نور خلق آباد کړو منه رح. ف۳ یعني تاسو وائې چه مونږ خو تاوان یو ړ ته کړو بلکه مونږ محروم (بې نصیبه) یو ۱۲

فتح الرحمن ف۱ یعني دوباره پیدا کول ۱۲ ف۲ یعني مني ۱۲ ف۳ یعني د یو حال نه بل حال ته مني اړوم ترڅو چه انسان پیدا شي ۱۲

تفسیر ۱۷ قل ان الاولین ۵ دا د مشرکانو د انکار او تعجب جواب دې تاسو او وائې الله د پاره دا څه مشکل او ګران کار نه دې هغه به ټول مخکني او روستني خلق په هغه معلوم او یقیني ورځ کښ ضرور جمع کړي. ثم انکم الایة، دا د اهل جهنم طرف ته التفات دې. اې ګمراهانو او دروغ ګڼړونکو! د قیامت ورځ قائمیدلو نه روستو به تاسو ټول په جهنم کښ غورځولې شئ او هلته به تاسو ته د زقوم داسې د ازغونه ډک او ترخه ونه خوراک د پاره ملاویږي چه تاسو به هغه ښه په مړه خیټه خورئ. بیا چه کله هغوئ ډیر زیات تږی شي نو په هغې باندې به ډیرې زیاتې ګرمې جوش وهونکې اوبه تاسو ته د څښلو د پاره ملاویږي چه تاسو به هغه داسې څښئ لکه تږې اوښ چه اوبه څښي تږې اوښ په مړه خیټه اوبه څښي او بیا په خپله خیټه کښ د اوبو ذخیره هم جوړه وي دې د پاره چه روستو بکار راشي. حاصل دا دې چه دوزخیان به د تندې د وجې نه په ګرمو جوش وهونکو اوبو باندې د تږي اوښ پشان وریږي لیکن هغې سره به دوی ته هیڅ سکون هم نه ملاویږي بلکه هغه اوبه به د دوی کلمې ټکړې ټکړې کړي.

۱۸ هذا نزلهم الایة، د قیامت په ورځ به د کافرانو او مشرکانو (اصحاب الشمال) په داسې طریقه میلمستیا کیږي د خوراک د پاره به زقوم او څښلو د پاره به جوش وهونکې اوبه وي دیته ئې میلمستیا استهزاء او ټوکې د ټوقو مسخرو په طور اوویله ای رزقهم الذی یعدلهم، کالنزل الذی یعد للاضیاف تکرمة لهم، وفیه تهکم (قرطبي ج ۱۷ ص ۲۱۵).

۱۹ نحن خلقنکم، دا په توحید باندې اولنې عقلي دلیل دې دا شان د قیامت دلیل دې. په هر دلیل کښ ئې أفرأیتم سره تنبیه ورکړې چه هر دلیل واضح او روښانه دې تاسو په خپله سوچ او کړئ او را ته

او ښائي چه په دلائلو کښې کوم حقیقتونه ذکر دی هغه صحیح دی یا نه؟ اول دلیل کښې ئے اوفرمائیل تاسو ته ښه معلوم ده چه اول ځل مونږ تاسو پیدا کړئ. نو بیا تاسو دوباره ژوندی کول ولے نه منئ؟ چاچه تاسو اول ځل پیدا کړی یئ هغه په دوباره پیدا کولو باندے هم قادر دے اوځوک چه ستاسو دَ ټولو خالق دے صرف هغه برکات ورکوونکے دے بل ځوک نه دَے. ۲۰ه اَفَرَاَیۡتُمۡ دا دَ دے دلیل تفصیل دے. ښه ده دا خو راته اووایئ چه دَ ښځو په رحمونو کښې تاسو چه کوم دَ منی ماده غورځوئ دَ هغے نه کامل او مکمل انسان تاسو پیدا کوئ یائے مونږ پیدا کوؤ؟ مشرکانو دَ دے خبرے اقرار کولو چه الله تعالیٰ خالق دے. نَحۡنُ قَدَّرۡنَا الخ او مونږ ستاسو نه هر یو دَپاره دَ مرګ یو وخت مقرر کړے دے چه په هغے کښې هیڅ تقدیم او تاخیر نشی کیدلے. څنګه چه مونږ تاسو پیدا کړئ دغه شان ستاسو مرګ هم زمونږ په اختیار کښې دے. وما نحن بمسبوقین الخ، مسبوقین، مغلوبین یعنی مونږ دَدینه عاجز او مغلوب نه یو چه ستاسو انسانی شکلونه مسخ کړو او تاسو داسے شکلونو ته منتقل کړو چه ستاسو وهم او ګمان هم نهٔ وی. دَ قدرت دَ اظهار سره تخویف او ویرولو طرف ته هم اشاره ده ای لا یغلبنا احد علی ان نذهبکم ونأتی مکانکم اشباهکم من الخلق (روح ج ۲۷ ص ۱۴۲) قال الحسن ای نجعلکم قردة وخنازیر کما فعلنا باقوام قبلکم (قرطبی ج ۱۷ ص ۲۱۷)
۲۱ه ولقد علمتم الآیة او ولے پیدائش خو تاسو ته ښهٔ معلوم دے او منئ چه اول ځل تاسو الله پیدا کړے یئ نو بیا دَ دینه عبرت ولے نه اخلئ؟ چه ځوک اول ځل پیدا کول کوی هغه په دوباره پیدا کولو باندے هم قادر دے. (فَلَوۡلَا تَذَکَّرُوۡنَ) ای بانی قادر علی اعادتکم کما قدرت علی ابداءکم اول مرة (خازن و معالم ج ۷ ص ۲۳).
۲۲ه افرأیتم ما تحرثون، دا دویم عقلی دلیل دے. اوس دا اوښایئ دا تاسو چه په زمکه کښې کوم ایوه چلوئ تخم کرئ آیا دَ دغه دانو نه شنه تازه فصلونه تاسو پخپله پیدا کوئ یائے مونږ پیدا کوؤ؟ که چرے ستاسو اختیار کښې وی نو بیا خو تاسو یو موسم مه ګورئ او هر وخت هرځیز تاسو راټو کوئ او زرغونه وئ مشرکانو دَدے هم اقرار کولو چه ټول هرځهٔ الله تعالیٰ زرغونوی او هغه ئے کمال ته رسوی. لو نشاء الخ که چرے مونږ اوغواړو نو شنهٔ او آباد فصلونه به په آفتونو سره ذرے ذرے کړو نو تاسو به خبرے جوړوونکی پاتے شئ چه مونږ خو مره شو بلکه دَ ټول کال روزئ نه محروم شولو. التفکه التکلم

فیما لا یعنیك (قرطبی ج ۱۷ ص ۲۱۹)

أَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِىْ تَشْرَبُوْنَ ﴿٦٨﴾

آیا وینئ خبر راکړئ د هغه اوبو ۵۳ کوم چه تاسو څکئ.

ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ

آیا تاسو نازل کړی دی هغه د وریځ نه یا

نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ

موږ نازلوونکی یو. که چرې اوغواړو موږ او به ګرځوو هغه

اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ اَفَرَءَيْتُمُ

تروې پس ولې احسان نه منئ. آیا وینئ هغه

النَّارَ الَّتِىْ تُوْرُوْنَ ﴿٧١﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ

اور ۵۴ کوم چه تاسو بلوئ. آیا تاسو پیدا کړی پیداه

شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ

هغه اونه یا موږ پیدا کوونکی یو ف موږ

جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿٧٣﴾

هغه اونه ګرځولې ده یاد (او نصیحت) او استعمال د ځنګل والو د پاره ف۵

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٧٤﴾ فَلَآ

پس وایه پاکی د خپل رب نوم سره ۵۵ چه د ټولو نه لوئې دے پس

اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿٧٥﴾ وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ

زه قسم خورم ۵۶ د ستورو په پریوتو باندې ف۲ او دا قسم دے

لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿٧٦﴾ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٧﴾

۵۸ که پوهیږئ ډیر لوئې. بیشکه دا قرآن دے عزت والا.

فِىْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿۷۸﴾ لَّا يَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿۷۹﴾

لیکلے شوے دے په یو پټ کتاب کښ. دغه کتاب هغه څوک مسح کوی څوک چه پاک کړے شوی دی

تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۰﴾ اَفَبِهٰذَا

نازل شوے دے الله د پرورګار د عالم له طرفه. اوس آیا تاسو دے

الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَتَجْعَلُوْنَ

خبره کښ سستی کوئ او خپله حصه تاسو

رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾

دا اخلئ چه هغه دروغ ګنړئ.

نکات: ۱ دریم عقلی دلیل ۱۲. ۲ څلورم عقلی دلیل ۱۲. ۳ اول نقلی د دعوے ذکر کول ۱۲. ۴ د قرآن د عظمت بیان ۱۲.

موضح قرآن: ف۱ ډیرے شئے اونے داسے دی چه هغے ته یو بل وهلو سره اور را اوځی. څکښ تیر شوی سورة یٰسین کښ د دے بیان شوی دے. ف۲ یاد دا دے چه د دے اور نه د دوزخ د اور یاد حاصل شی او څنګل والا د پاره دے کښ ډیرے فائدے دی په څنګ کښ او ټول کاروته دے سره چلیږی. ف۳ یوه معنیٰ دا ده چه ایتونه د پیغمبرانو زړه کښ نازلیږی ۱۲ منه رح. ف۴ یعنی فرښتے دے کتاب ته لاسونه وراوړی هغه کتاب هم دا لیکلے شوے قرآن دے د فرښتو په لاس لوح محفوظ کښ ۱۲ منه رح.

فتح الرحمٰن: ف۱ یعنی لیږے ۱۲. ف۲ یعنی لوح محفوظ ۱۲.

تفسیر

۲۳ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الخ دا دریم عقلی دلیل دے. ښهٔ ده اوس را ته دا اوایئ چه دا خوږے اوبه کومے چه تاسو څکئ دا تاسو د وریځو نه نازل کړیدی یا موږ. د دے نازلوونکی یو؟ که چرے تاسو باران نازلولے شئ نو په خشک سالئ کښ څپله باران اووروئ د څه اخے ته ولے دعاګانے مشرکانو د دے خبرے اقرار هم کولو چه باران الله وروی. لَوْ نَشَآءُ الآية که چرے موږ اوغواړو نو اوبهٔ به بے مزے او ترخے اوګرځوو چه د څکلو

قابل به پاتے نهٔ شي۔ پس تاسو اووايئ ايا تاسو مالره د داسے کولو نه منع کولے شئ؟ هرګز نهٔ شئ، تو بيا د الله د نعمتونو شکر ولے نهٔ اداکوئ؟ او صرف هغه منعم او محسن او برکات درکوونکے ولے نهٔ ګنړئ؟۔ او غير الله په برکت ورکولو کښ د هغهٔ سره ولے شريکوئ؟ دا انتهائي بے عقلي او بد بختي ده۔

۲۴ اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الخ دا په توحيد باندے څلورم عقلي دليل دے ځينے اُونے داسے دي چه کهٔ چرے دغه لرګي او څانګے يو بل سره اُومږلے شي نو د هغے نه اُور رابسکاره شي۔ پخوا زمانه کښ د اُور حاصلولو دا طريقه وه په عربو کښ مَرخ او عَفَار توے دوه اُونے مشهورے وے چه په هغے کښ د اُور صلاحيت د نورو اُونو نه زيات وو اوس په آخر کښ را ته دا اُووايئ چه تاسو لرګے يو بل سره اُومږئ تاسو اُور بلوئ ايا دا اُونے تاسو پيدا کړيدي يا مونږ؟ ظاهر ده چه هر شينکے او د هر ورکي بوټي اولوئے اُونے خالق هم صرف هغه دے۔ نَحْنُ جَعَلْنٰهَا ۔الآية۔ مونږ د دے دنيا اُور عبرت ګرځولے دے چه دے سره د آخرت د اُور اندازه اُولګولے شي کوم چه د دينه څو چنده زيات سخت (ګرم) دے۔ او مسافرانو د پاره څوک چه په ځنګلونو او بيابانونو کښ ډيره اُولګوي، اُور مونږ ډير يو مفيد او د ضرورت څيز ګرځولے دے د اُور ضرورت څو هر ځائے دے ليکن د مسافرو ضرورت د دينه زيات وي۔ ځکه چه د سفر په دوران کښ په ځنګلونو کښ نيار پاخهٔ خوراک و نه هغوئ ته په لاس نهٔ راځي۔

۲۵ فَسَبِّحْ بِاسْمِ ۔الآية۔ د څلورو دلائيلو نه روستو اول ځل د سورت د دعوے ذکر دے۔ خطاب هر مخاطب سره دے هر هغه سړے چه په پورتنو ذکر شوو دلائيلو کښ غور فکر اُوکړي په هغهٔ لازم ده چه هغه د دينه د الله د قدرت کامله او د هغهٔ د وحدانيت سبق حاصل کړي او دا سے لوئے مالک او د اعلیٰ صفاتو والا پروردګار د هر شريک نه پاک اُوګنړي هغه کارساز او برکات ورکوونکے اُومنئ۔

۲۶ فَلَآ اُقْسِمُ ، دلته نه د عظمتِ قرآن بيان شروع کيږي۔ دا شان د تصديق بالقرآن ترغيب ورکړے شويدے۔ فَلَآ اُقْسِمُ کښ لام زائده دے په محاوراتو کښ په قسم باندے اکثر لَا زائده داخلولے شي لکه لاوالله وغيره۔ امام آلوسي فرمائيلي دي چه دا لا زائده دے د تاکيد د پاره (روح) او مَوَاقِعِ النُّجُوْمِ، د ستورو د ډوبيدا لوځايونه مراد دي۔ د ستورو ډوبيدل د هغوئ د فناء او زوال دليل دے او د دينه معلوميږي چه هغه د يو اُوچت او لوړ طاقت د تصرف د لاندے دي څنګه چه د آسمان

پر قیدونکي ستوري پټیږي او د هغې رڼا زائیل کیږي دغه شان به دا ټول جهان هم یو ځل فنا شي. لا مزیدة مؤکدة (مدارک) بمواقع النجوم اي بمساقط کواکب السماء ومغاربها ..... تخصیصها بالقسط لما في غروبها من زوال اثرها والدلالة علی وجود مؤثر دائم لا یتغیر ولذا استدل الخلیل علیه بالافول علی وجود الصانع جل وعلا (روح ص ۱۵۲ ج ۲۷)

۷۶ وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ - دا د قسم او جواب قسم مینځ کښ جمله معترضه ده د پاره د بیان د عظمت قسم یعنی که چرے تاسو ته د دے حقیقت علم وي نو دا یو عظیم الشان قسم او ګواه دے. اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ الخ دا جواب قسم دے دا قرآن ډیر اعلیٰ او اَحْسَنْ کتاب دے چه د دُنیاوي او دیني مصالح یوه ډیره قیمتي خزانه ده. فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ - هغه په لوح محفوظ کښ محفوظ او د هر قسم تغیر او تبدیل نه په امن کښ ساتل شوے دے. لَا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ه جمله د کتاب مکنون صفت دے. او اَلْمُطَهَّرُوْنَ نه مراد فرښتے دي چه د هر قسم ګناه او پلیتئ نه پاکے دي او مَسْ کنایه ده د لوح محفوظ په علومو باندے د اطلاع نه حاصل دا شو چه د لوح محفوظ په علومو باندے د فرښتو نه سیوا هیڅوک نشي خبریدلے. ونفی مسه کنایة عن لازمه وهو نفي الاطلاع علیه وعلی ما فیه (روح ج ۲۷ ص ۱۵۴) یا دا د قرآن صفت دے او المطهرون نه هغه خلق مراد دي چه د حدث اصغر او حدث اکبر نه پاک وي او نفي په معنیٰ د نهي ده او مراد دا دے چه قرآن مجید ته به صرف هغه خلق لاس وراوړي چه اودا سه کښ وي. المراد بالمطهرون المطهرون عن الحدث الاصغر والحدث الاکبر والمعنی لا ینبغي ان یمس القرآن الامن هو علی طهارة من الناس فالنفي بمعنی النهي بل ابلغ من النهي الصریح (روح ملخصًا) د دے په بناء د جمهور فقهاء مذهب دا دے چه بے اودسه انسان دے قرآن ته لاس نهٔ وراوړي. امام بخاري د دے اجازت ورکوي.

۷۸ تَنْزِيْلٌ، دا هم د قرآن صفت دے دا قرآن د هغه شهنشاه (ملک الملوک) د طرفه نازل شوے دے چه د ټول جهان پروردګار دے او د ټول کائنات مالک دے. اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ه نو ایا د دا سے اعلیٰ صفتو والا کتاب او د مالک کائنات د دا سے عظیم الشان حکمنامے نه بے پروایئ سره انکار کوئ او په ځائے د دے چه تاسو د دے لوئے نعمت قدر او کړئ د هغهٔ شکر ادا کړئ او په هغهٔ ایمان راوړئ او عمل پرے اوکړئ تاسو هغه دروغ ګنړلے دے او انکار مو کړے دے دا ډیره زیاته ناپوهي او بد بختي ده. رزقکم اي شکرکم قال ابن عباس: تجعلون شکرکم التکذیب (قرطبي ج ۱۷، ص ۲۲۸)

حضرت شیخؒ فرمائی: تاسو تکذیب د قرآن خپله حصه (نصیب) گرځوئ.

فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ

پس ولې نه دی کله چې روح اورسیږي حلق ته. او تاسو دغه

تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ

گورئ او مونږ هغه ته نزدې یو ستاسو نه

وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ

لیکن تاسو نه وینئ پس ولې نه دی که چیرې تاسو نه یئ

مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾

د چا په حکم کښې. نو ولې نه واپس کوئ هغه روح که چیرې یئ تاسو رښتونی ما

فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ

نو که چیرې هغه نه شو په مقرب خلقو کښې نو راحت دے

وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ

او روزي ده او باغ د نعمت او که چیرې لګ هغه شو

مِنْ أَصْحَٰبِ الْيَمِينِ ﴿٩٠﴾ فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ

د ښی لاس والو کښې نو سلامتي اورسیداله تا ته د

أَصْحَٰبِ الْيَمِينِ ﴿٩١﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ

ښي لاس والو نه وا او که چیرې څوک شو لګ د

الْمُكَذِّبِينَ الضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ

دروغ گڼرونکو گمراهانو نه نو میلمستیا ده د

حَمِيمٍ ﴿٩٣﴾ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾ إِنَّ هَٰذَا

جوش وهونکو (گرمو) اوبو. او غوړځول دي په اور کښې. بیشکه دا

لَهُوَ حَقُّ الْيَقِينِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ
خبره ده لايق د يقين پس بيانوه د نوم

رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٩٦﴾ ع ۱۶

د خپل رب سره ۲۳ چه د ټولو نه لوئے دے

نکات ۱ زجر معاندینو د پاره ۱۲۔ ۲ د دریم جماعت دوباره ذکر کول ۱۲۔ ۳ د اول جماعت دوباره ذکر کول ۱۲۔ ۴ د دویم جماعت دوباره ذکر کول ۱۲۔ ۵ د سورت دعوی دوباره ذکر کول ۱۲۔

موضح قرآن ف یعنی د هغوئ له طرفه زړه جمع اوساته (مطمئن شه) ۱۲

فتح الرحمٰن ۱ لفظ لَوْلَا داخل دے تَرْجِعُوْنَهَا باندے او د هغه دوباره ذکر د تاکید د پاره دے ۱۲۔

تفسیر ۲۹ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ، دا معاندینو باندے زجر (او تنبیه) ده اِذَا تَرْجِعُوْنَ مؤخر سره متعلق دے۔ او هم دا د لَوْلَا جواب دے حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ، وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ۔ دواړه جملے د مخکنی مضمون نه حال دی او فَلَوْلَآ دویم د بعد عهد په وجه سره د اول لَوْلَا اعاده ده او اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ د اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ اعاده ده۔ غیر مدینین ای غیر مملوکین و لا مقهورین (قرطبی ج ۱۷ ص ۲۳۱) غیر مجزیین (روح)۔ و ترجعونها جواب لقوله تعالٰی۔ فلولا اذا بلغت الحلقوم الخ (ایضًا) اوس به د عبارت ترتیب داسے وی۔ فلولا ترجعونها اذا بلغت الحلقوم ان کنتم غیر مدینین (کشاف) حاصل د معنی دا شو که چرے تاسو دے دعوی کښ رښتونی یئ چه تاسو د الله مملوک او د هغه د قدرت په وړاندے مغلوب او مقهور نه یئ او د جزاء او سزاء ورځ به نه راځی نو چه کله ستاسو نه د چا روح اوځی او خلق ترے را او رسیږی نو هغه ولے نه واپس کوئ۔ حال دا دے چه تاسو هغه وخت هلته موجود یئ لیکن مونږ د هغه مرګی وکی انسان ته ستاسو په نسبت زیات نزدے یو۔ لیکن تاسو مونږ نه شئ لیدلے او هغه وخت څخونږ د نیولو مخکښ تاسو ټول عاجز یئ۔ دا د دے خبرے دلیل دے چه تاسو ټول د الله مملوک او د هغه په وړاندے مغلوب او مقهور یئ۔ قیامت به ضرور راځی او هر سړے به د خپلو عملونو جزاء او سزاء بیا موندی ۱۲۔

۸۸ فَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ. دا دَ دریم جماعت دَ حال اعاده ده. فروح
وریحان دا خبر مقدم دَ مبتداء محذوف دے ای فله روح (روح) روح
رحمت، ریحان، رزق (روح، بحر، قرطبی) یا روح راحت او آرام او
ریحان، خوشبو (قرطبی) مقربینو ته به په آخرت کښې دَ نعمتونو نه
ډاسے ډک باغونه ملاویږی چه په هغے کښې به هر قسم راحت وی مختلف
قسم پاکیزه رزق او رنګارنګ ګلو سره به دَ هغوی دماغ خوشحال او معطر
(خوشبویه) کرځی دا ټول به دَ الله رحمت او دَ هغهٔ فضل وی.
۹۰ واما ان کان من اصحب الیمین دَ اولنی جماعت دَ حال اعاده ده. دَ
سلام نه مخکښې یقال لهم مقدر دے او من ابتدائیه دے یعنی کله چه
دَ اصحب الیمین کوم یو ته وفات کیږی نو هغه ته ویلے شی چه دَ
اصحاب الیمین له طرفه درپه تا باندے سلام وی. ای فیقال لــذلك
المتوفی منهم سلام لك یا صاحب الیمین من اخوانك اصحاب الیمین
ای یسلمون علیك (روح ج ۲۷ صنلا) یا من اصحاب الیمین دَ مبتداء محذوف
خبر دے یعنی هغوئ ته دَ فرشتو له طرفه دَ سلام تحفه ملاویږی او هغه
ته دا خوشخبری هم آوروی چه ته دَ اصحاب الیمین نه یئے. معناه فسلام
لك، انت من اصحاب الیمین. (طبری)
۹۲ وَأَمَّا إِنْ كَانَ مِنَ الخ دا دَ دویم جماعت دَ حال اعاده ده. که چرے هغه
دَ دروغ ګنړونکو او ګمراهانو نه وی. نوجوش وهونکو او بو سره به دَ هغه
میلمستیا کولے شی او هغهٔ ته به په جهنم کښې داخله ملاویږی چه په هغے کښې به هغه
همیشه اوسیږی او دَ هغے نه به هغه ته هیڅکله وتل نه نصیب کیږی. إِنَّ هَٰذَا
لَهُوَ حَقُّ الْيَقِينِ، دا ټول هر څه حق او یقینی دے.
۹۶ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ. په آخر کښې دَ سورت دعوی دوباره ذکر شویده
برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے دَ دے وجے نه په برکت
ورکولو کښې هغه دَ شریکانو نه پاک او ګڼړئ او دَ هر قسم شریک نه دَ هغه پاکی
او تنزیه بیان کړه. واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

سورة واقعه کښې د توحید ایتونه

او

د هغې خصوصیات

۱: فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ۝

د ټوله حل ❖

❖ ❖ ❖ ❖ ❖

سورة الحدید

سورۂ النجم کښې واضح کړے شوو چه د الله تعالیٰ سره څوک شفیع غالب نشته او نه د هغهٔ نه سیوا څوک په حاجتونو کښې د رابللو لائق شته هغې نه روستو په سورۂ قمر کښې بیان اُوکړے شو چه هر څیز اندازے سره پیدا کولو والا هم صرف هغه دے. بیا ئے په سورۂ رحمٰن کښې په طور د ترقئ اُوفرمائیل چه کله خالق، مالک او کارساز هم صرف هغه دے نو برکات ورکوونکے هم صرف هغه دے. بیا په سورۂ واقعه کښې اُوئیلے شو صرف الله برکات ورکوونکے اُوګنړئ او دے صفت کښې هیڅوک د هغهٔ سره شریک مه جوړوئ. اُوس به په سورۂ حدید کښې ذکر کولے شي چه کله تا سو دا مسئله اُوپیژندله نو اُوس د دے د اشاعت او خورولو د پاره خپل مال هم خرچ کړئ او جهاد هم اُوکړئ.

د سورۂ مجادلے نه واخله د سورۂ تحریم پورے د مضمون په اعتبار سره ټول سورتونه سورۂ الحدید سره متعلق دي. سورۂ الحدید کښې دوه مضامین ذکر شویدي. اول د الله تعالیٰ په لار کښې د مال خرچ کولو حکم. دویم د جهاد ترغیب. دینه روستو په څلور سورتونه، المجادله، الحشر، الممتحنه او الصف د سورۂ الحدید په دویم مضمون (ترغیب الی القتال فی سبیل الله) باندے په طور د لف نشر غیر مرتب وی او مخکښې (راتلونکی) څلور سورتونه (الجمعه، المنفقون، التغابن او سورۂ الطلاق) د سورۂ الحدید اول مضمون (انفاق فی سبیل الله) باندے متفرع دي. دینه روستو سورۂ التحریم کښې د سورۂ الحدید دواړه مضامین په طریقه د لف او نشر مرتب په طور باندے په منزله د تتمه اعاده کړے شویدي په اول څلورو واړو سورتونو کښې هر دویم سورت او د نورو څلورو سورتونو هر مخکنے سورت د تسبیح نه شروع کړے شویدے دے د پاره چه اصل مسئله یعني نفي د شرک په ذهن کښې اُوساتلے شي او د هغې نه لاپرواهي او غفلت رانشي او معلومه شي چه جهاد د دے مسئلے د پاره کولے شي د اولے مجموعے آخري سورت (الصف) او د دویمے مجموعے مخکنے سورت (الجمعه) کښې تسبیح جمع کړے شو د دے وجے نه د سورۂ الجمعه نه د سورۂ الحدید دویم مضمون شروع کیدونکے وو دغه شان د یو مضمون د ختمیدلو او د بل مضمون په شروع امتیاز او فرق اُوکړے شو.

خلاصه	تمهید د انفاق فی سبیل الله حکم، د هغې پنځه وجوه ترغیب الی القتال، د فتح بشارت (زیرے)

تفصیل

سورۃ الحدید کښ دوه مضامین ذکر شوی دی اول د توحید د اشاعت په خاطر د مال د خرچ کولو حکم، دویم د الله په لاره کښ د جهاد د ترغیب حکم. سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ــــ تا ــــ وَهُوَ عَلِیْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ کښ په طور د تمهید د توحید د مسئلے ذکر دے د کوم په خاطر چه به جهاد او انفاق کیږی دلته د توحید دے دره مراتب ذکر شوی دی دوه صراحةً او یو ضمناً اوله مرتبه د ټول کائنات خالق صرف الله تعالیٰ دے. یُحْیِیْ وَیُمِیْتُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ دویمه مرتبه په شاهی تخت باندے هغه یځیله مستوی (برابر) دے او هیڅ اختیار هغه چا ته نه دے سپارلے. ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ، دریمه مرتبه کله چه خالق، مالک، متصرف او مختار صرف هغه دے. تو کارساز او معبود هم هغه دے. اٰمنوا بالله الآیة - دا اول مضمون دے د الله تعالیٰ په لاره کښ د خرچ کولو حکم او خرچ کوونکو د پاره خوشخبری. وانفقوا مما جعلکم ــــ تا ــــ ان کنتم مؤمنین، دا د انفاق اوله وجه ده دا مال محماد دے ماخو ورځو د پاره ستاسو په تصرف کښ ورکړے دے او تاسو د الله سره وعده کړے ده چه تاسو به د هغه احکام منئ اوس د هغه حکم راغلے دے چه د هغه په لاره کښ مال خرچ کړئ. لهٰذا د هغه حکم اومنئ او مال خرچ کړئ هغه به تاسو ته خرچ کولو باندے اجرهم درکړی. وَهُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ الآیة. دا ترغیب دے یعنی د داسے رحیم او کریم بادشاه حکم اومنئ. دویمه وجه وَمَا لَکُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ. د اولے وجے نه په طور د ترقئ سره اوفرمائیل شو وجه ده چه تاسو د الله په لاره کښ خرچ نه کوئ حال دا دے چه تاسو به مرئ او ټول هر څه به دلته پاتے کیږی. اوس وخت دے خرچ اوکړئ کله چه وخت د لاس نه اوځی تو افسوس به کوئ. دریمه وجه من ذا الذی یقرض الله الآیة. (رع ۲) - موتږ او منله چه مال ستاسو دے او تاسو ګټلے دے لیکن دنیا کښ ئے د قرض په طور راکړئ زه به په دنیا د هغے څو چنده زیات درکړم.

یوم تری المؤمنین والمؤمنات الآیة - د الله په لاره کښ د خرچ کوونکو د پاره خوشخبری ده د آخرت. د انفاق فی سبیل الله د وجے نه به د قیامت په ورځ د هغوئ مخکښ روستو رڼا وی او هغوئ به په جنت

کښې همیشه اوسیږی. یوم یقول المنٰفقون والمنٰفقٰت ـــــ تا ـــــ وبئس المصیر، دا منافقانو ته دپاره تخویف اخروی دے هغوی به د انفاق د رنړا نه محروم وی هغوی به د مؤمنانو نه د توجه مطالبه کوی دے د پاره چه هغوی ته څه رنړا نصیب شی، لیکن د دوارو ډلو مینځ کښې به دیوال حائیل (پرده) واقع شی او منافقان به په عذاب کښې مبتلا وی او فدیه وغیره. یا بل کومے حیلے سره به د عذاب نه نشی بچ کیدلے.

الم یأن للذین اٰمنوا. الاٰیة. د ایمان والو د پاره زجر (تنبیه) ده او حق قبلولو او په حق باندے د قائم پاتے کیدلو ترغیب دے ایمان والو ته الله تعالٰی د احکامو په وړاندے د تسلیم او حکم منلو وړاندے سرښکته کول پکار دے او د اهل کتابو پشان د سختو زړونو والا جوړیدل نه دی پکار اعلموا ان الله یحیی الارض بعد موتها. الاٰیة. دا د انفاق دریمے وجے سره متعلق دے. د الله په لاره کښې د خرچ کوونکو په دولت کښې دا سے په څو چنده زیاتے کولے شی لکه چه څنګه د یوے دانے کرلو سره څو سوه دانے پیدا کیږی. ان المصدقین والمصدقٰت الاٰیة. ترغیب الی الانفاق د الله په لاره کښې خرچ کوونکو په دولت کښې څو چنده اضافے نه علاوه هغوی د ډیر لوئے اجر او ثواب هم مستحق دی.

والذین اٰمنوا بالله ورسله. الاٰیة. د الله په لاره کښې خرچ کوونکو مؤمنانو د پاره بشارت اخروی دے، دے خلقو ته به د صدیقین، شهداء مرتبه نصیب وی. والذین کفروا وکذبوا. الاٰیة. دا کافرانو د پاره تخویف اخروی دے. د انفاق څلورمه وجه. اعلموا انما الحیٰوة الدنیا. الاٰیة (ع ۳) که چرے په دُنیا کښې د دے بدله هم ملاؤ نه شی نو غم مه کوئی. دا دُنیا څه شے دے؟ دا خو محض د څو ورځو د ښائست او د فخر نمائش ځائے دے. څنګه چه شنه سمسور فصلونه په لږ وخت کښې تباه کیږی د دُنیا ښائست او تازګی هم دغه شان فانی ده. سابقوا الٰی مغفرةٍ من ربکم. الاٰیة. که چرے دُنیا کښې څه ملاؤ نه شی نو په آخرت کښې به د هغے بے حسابه اجر او ثواب ملاویږی او په جنت کښې به د زمکے او آسمان د فراخئ نه هم زیات مربعے ملاویږی. پنځمه وجه. ما اصاب من مصیبةٍ فی الارض الاٰیة. که چرے تاسو د الله په لاره کښې د دے وجے نه مال نه خرچ کوئ د دے د پاره چه د مصیبت په وخت به کار راشی نو دا خیال هم غلط دے ځکه چه کوم مصیبت تقدیر کښې لیکلے شوید ے هغه به ضرور راځی دولت سره نه شی دفع کولے. لکیلا تأسوا علٰی ما فاتکم ـــــ تا ـــــ هو الغنی الحمید، د پورتنی ذکر شوی توضیح علت دے او بخیلانو او نورو خلقو ته

دَ بُخل په کولو باندې امر کوونکو دَ پاره تخویف او ویرول دی.
لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَیِّنٰتِ ــــ تا ــــ اِنَّ اللّٰهَ قَوِیٌّ عَزِیْزٌ دا دَسورت دَ دویم مضمون یعنی جهاد فی سبیل الله بیان دے. موږ دَ بنی آدم دَ هدایت دَ پاره پیغمبران اُولیږل او په هغوئ باندے موږ کتابونه نازل کړل او دَ اُوسپنے پشان ډیر فائده مند او اوهم معدن پیدا کړو دے دَ پاره چه خلق دَ دے نه قِسم قِسم فائدے حاصلے کړی او دَ ټولو نه لویه دا چه دَ دے نه مختلف قسم اسلحه جوړه کړی او دَ الله تعالیٰ په لاره کښ جهاد اُوکړی او دغه شان دَ الله دَ دین مدد کوونکی دَ نورو نه جُدا شی. دَ لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا وَّاِبْرٰهِیْمَ ــــ تا ــــ وَکَثِیْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ (ع ۴) موږ دَ نوح او ابراهیم (علیهما السلام) په اولاد کښ مسلسل پیغمبران اولیږل تر دے چه عیسیٰ (علیه السلام) راغے دَ توحید په مسئله کښ مشرکانو سره مقابله اُوشوه نو حواریین دَ عیسیٰ (علیه السلام) سره ملګری شول او موږ هم هغوئ په مشرکانو باندے فتحیاب او غالب کړل. لیکن روستو خلقو دَ دُنیا نه کناره کشی اختیار کړه لیکن په هغے باندے هم پوره اُونه ختل او دَ فسق، فجور لارے اختیار کړه. یَاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ. الآیة - اهلِ کتابو ته دَ ایمان راوړلو او دَ خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم دَ ملګرتیا ترغیب دے. ای اهل کتاب چه عیسیٰ (علیه السلام) باندے تاسو ایمان راوړے دے. دَ

خدائے ته اُویریږئ او دَ هغهٔ آخری رسول باندے هم ایمان راوړئ او دَ هغهٔ ملګرتیا داسے اُوکړئ څنګه چه حواریون دَ عیسیٰ علیه السلام ملګرتیا اُوکړه. الله تعالیٰ به تاسو ته دوچند ثواب درکړی. لِئَلَّا یَعْلَمَ اَهْلُ الْکِتٰبِ ... الآیة. دے دَ پاره چه اهلِ کتاب دا خیال اُونکړی چه اُوس هغوئ جهاد نهٔ شی کولے. ځکه چه دَ هغوئ امام او امیر څوک نشته. لهذا اُوس محمد آخری پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) امام او امیر دے اُوس دے هغوئ په دهٔ باندے ایمان راوړی او دَ هغهٔ سره دے یوځائے جهاد اُوکړی.

خوشنویس
ارقم جان کلے خدرخیل بخشی پل پیښور

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة الحدید په مدینه کښې نازل شو او دا یوکم دیرش ایتونه او څلور رکوع دے.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نوم د الله چه بے حده مهربان نهایت رحم کونکے دے.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

پاکی بیانوی د الله څه چه په اسمانونو کښې دی ټول او په زمکه کښې او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ① لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

غالب او حکمتونو والا دے. هغهٔ د پاره ده ټوله بادشاهی د آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

او د زمکے ژوندی کول کوی او مړهٔ کول کوی او هغه ټول

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ② هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ

هر څهٔ کولے شی. هغه دے د ټولو نه اول او د ټولو نه روستو ښکاره

وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ③ هُوَ

او د ننه او هغه په ټول هر څهٔ خبر دے. (الله) هغه دے

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ

چا چه پیدا کړو اسمان ټوله او زمکه په شپږو

اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ

ورځو کښې بیا قائم شو په تخت باندے پیژنی هغه

مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا

کوم چه ننوځی په زمکه کښې او کوم چه راوځی د دے نه

وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ۚ

او څهٔ چه نازلیږی د اسمان نه او کوم څهٔ چه خیژی په هغے کښې

وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا
او هغه ستاسو سره دے چرته چه تاسو يئ او الله تعالىٰ په هغه څه چه
تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۴﴾ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ
تاسو کوئ هغه ويني. هغهٔ دپاره ده بادشاهي ټوله د اسمانونو
وَالْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۵﴾
او د زمکے او الله تعالىٰ ته واپس کيږي ټول کارونه.
يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ
داخلوي شپه په ورځ کښ او داخلوي ورځ
فِى الَّيْلِ ؕ وَهُوَ عَلِيْمٌ ۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۶﴾
په شپه کښ او هغه خبردے په خبرو د زړونو.

نکات:- ۱ د توحيد بيان ۱۲. ۲ د توحيد اوله مرتبه ۱۲. ۳ دويمه مرتبه ۱۲. ۴ د توحيد د دريمے مرتبے اعاده ۱۲.

تفسير:- ۲ سَبَّحَ لِلّٰهِ. الاٰية. دے ايت کښ د توحيد د مسئلے بيان دے د کوم په خاطرچه د مال خرچ کولو او د جهاد کولو حکم مخکښ راغے. مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، د زمکے او اسمان ټول مخلوق او د کائنات ټول نظام د هر قسم نه د الله په تنزه او تقدس باندے ګواه دی د کائنات ذره ذره زبان حال او زبان قال سره ګواهي ورکوي چه الله تعالىٰ وحده لاشريک دے په علم او قدرت کښ حکمت او صنعت کښ، اختيار او تصرف کښ او په ټولو صفاتو د کارسازۍ کښ هيڅوک د هغهٔ سره شريک نشته. ديته روستو د توحيد د دريو مراتب ذکر دے د دوؤ صراحةً او د يو تبعاً.

۳ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ. الاٰية. دا د توحيد اوله مرتبه ده يعني د ټولو خالق او پرورد ګار صرف الله تعالىٰ دے. مرګ او ژوند د هغهٔ په لاس کښ دے او هغه په هر څيز باندے قادر دے. هيڅ څيز د هغهٔ د تصرف او اقتدار نه بهر نهٔ دے. هغه على الاطلاق موجود اول دے هغهٔ نه مخکښ هيڅ څيز نهٔ وو. هغه ازلي دے د هغهٔ هيڅ ابتدا نشته هغه اخر دے هر څيز به فناوي ليکن هغه ابدي دے په هغهٔ

بانې به فنا نه راځي. وَالظَّاهِرُ : او هغه په ټولو بانې غالب دے، او د ټولو نه برتر (او اوچت) دے، او د هغه نه اوچت څوک هم نشته او د هغه نه سوا په کائناتو کښې هیڅوک متصرف او مختار نشته. وَالْبَاطِنُ : هغه هره پټه خبره بانې پوهه دے، هیڅ یو څیز د هغه نه پټ نشته. یا د دے نه مراد دا دے چه د هغه نه سوا څوک ځائے د پناه او رجوع نشته. نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د دے الفاظو تفسیر دا رنګے نقل شوے دے :

اللّٰهم رب السمٰوٰت السبع ورب العرش الکریم ..... أنت الاول فلیس قبلك شیء وانت الاخر فلیس بعدك شیء وانت الظاهر فلیس فوقك شیء وانت الباطن فلیس دونك شیء اقض عنا الدین واغننا من الفقر - وقال الطیبی المعنی بالظاهر فی التفسیر النبوی الغالب الذی یغلب ولا یغلب فیتصرف فی المکونات علی سبیل الغلبة والاستیلاء اذ لیس فوقه احد یمنعه وبالباطن من لا ملجأ ولا منجی دونه یلتجئ الیه ملتجی (روح ج ۲۷ ص ۱۶۷)

وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝ : د کائناتو یو څیز هم د هغه د علم نه بهر نه دے.

۴ه هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ : دا د توحید د دویمے مرتبے بیان دے یعنی د ټولو کائناتو پیدا کولو نه روستو د بادشاهئ په تخت بانې پخپله مستوی او برابر شو. د کائناتو ټول نظام د هغه پخپل لاس کښې دے او هیڅ معامله ئے چاته نه ده حواله کړے. نه په اختیار او تصرف کښې ورسره څوک حصه دار شته او نه په علم غیب کښې د هغه څوک شریک شته. هغه ته د زمکے او اسمانونو د هر څیز خبر دے. د علم او قدرت په اعتبار سره د هر چا سره دے او د هر انسان هر عمل د هغه د نظر په وړاندې دے.

۵ه لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ : دا د توحید د دریمے مرتبے اعاده ده. خالق او مالك هم هغه دے او د بادشاهئ په تخت بانې هم هغه مستوی دے او د کائناتو ټول معاملات د هغه طرفته راجع دی او په کائناتو کښې صرف هغه متصرف او مختار دے. يُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ : دا د الله تعالیٰ د اختیار او تصرف یوه نمونه ده یعنی د شپے او ورځے تلل راتلل او د هغے کمول زیاتول د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی او د هغه علم دومره زیات محیط او کامل دے چه هغه د سینو د پټو رازونو نه هم خبر دے. هر کله چه د ټولو کائناتو خالق او مربی او په ټولو کائناتو کښې بلا شرکت غیر متصرف او مختار دے نو لا محاله (خامخا) هغه د ټولو کارساز دے او په حاجتونو او مصیبتونو کښې ما فوق الاسباب د رابللو لائق هم صرف هغه دے. دا د توحید دریمه مرتبه ده. د توحید دا درے واړه مراتب د سورۂ انعام په

شروع کښې ذکر شوې دی او د ارتنګ د سورۂ حشر په آخري آیتونو کښې او بیا د سورۂ الناس
په ابتدائي آیتونو کښې هم ذکر کړې شي۔

اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ اَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ

یقین وکړئ تاسو په الله او د هغه په رسول باندې او خرچ کړئ د هغې نه چه کړي یئ تاسو الله

مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَ اَنْفَقُوْا

کښې درکړې دی خپل نائب کرځولو سره، نو پس کوم چه ستاسو نه ایمان راوړې دې او خرچ کوي

لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝۷ وَ مَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ

هغوی د پاره لوئې ثواب دے - او څه (عذر) دے تاسو ته چه یقین نه ساتئ په الله باندې،

وَ الرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَ قَدْ اَخَذَ

او رسول رابلي تاسو لره چه تاسو یقین وکړئ په خپل رب باندې او اخستې دے الله

مِيْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝۸ هُوَ الَّذِيْ

وعده مضبوطه کچرې تاسو یئ منونکي ف - (الله) هغه دے چه

يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖۤ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ

نازلوي هغه په خپل بنده باندې آیتونه واضح چه راوباسي تاسو لره د

الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝۹

تیرو نه رڼا ته، او الله تاسو سره نرمي کوونکے دے مهربان.

وَ مَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ لِلّٰهِ مِيْرَاثُ

او څه (عذر) دے تاسو لره چه خرچ نکوئ د الله په لاره کښې او الله ته باقي پاتے کیږي هر څه

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ

په آسمانونو او زمکه کښې هم، برابر نه دي ستاسو نه هغه چه خرچ اوکړو

مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قٰتَلَ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً

د مکے د فتحے نه مخکښې او جنګ ئے اوکړو، د دغه خلقو درجه ډیره لویه ده

مِّنَ الَّذِیْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَ قٰتَلُوْا ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ

دَ هغه خلقو نه څوک چه خرچ وکړی دَ دے نه روستو او جنګ ئې اوکړی، او ټولو سره الله وعده

اللّٰهُ الْحُسْنٰی ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ ﴿۱۰﴾

کړیده دَ نیکئ او الله خبر دے کوم څه چه تاسو کوئ ۱۷

نکات: ۱۔ دَ انفاق دَ مضمون ذکر، او ترغیب دَ انفاق په پنځو طریقو سره۔ ۲۔ اوله طریقه۔ ۳۔ دَ انفاق ترغیب او بشارت۔ ۴۔ دویمه طریقه۔

موضح قرآن ف۱ الله اقرار اخستے دے په دُنیا کښ دَ راتللو نه مخکښ او دَ هغے اثرونه ایښے دے په زړه کښ۔ منه رحمه الله۔

ف۲ هر څه باقی پاتے کیږی یعنی مالک فنا کیږی او ملک الله ته پاتے کیږی او همیشه دَ هغه مال وی، دَ فتح مکے نه مخکښ چه چا خرچ وکړو او جهاد ئې اوکړو هغوی لوئے درجے حاصلے کړے۔ منه رحمه الله۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په ورځ دَ اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ۔ ف۲ مترجم وائی یعنی هر څوک چه مړ شی کوم څه چه پریږدی دَ الله تعالیٰ په ملک کښ وی نو په هغے بانی بخل کول ډیره بده خبره ده۔ والله تعالیٰ اعلم۔

تفسیر ۶ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ: دا دَ سورت الحدید اول مضمون یعنی دَ انفاق فی سبیل الله بیان دے، او پنځه طریقو سره دَ خرچ کولو ترغیب ورکړے شوے دے۔ دا خطاب چونکه مؤمنانو ته دے، دے دپاره دلته اٰمِنُوْا په حقیقت بانی محمول نه دی یعنی ایمان راوړئ، بلکه مراد دا دے چه په ایمان بانی قائم پاتے شئ دا الله او دَ هغه دَ رسول ﷺ احکام اومنئ او عمل پرے وکړئ ځکه چه دا دَ ایمان تقاضا ده۔ وَ اَنْفِقُوْا: دا په اٰمِنُوْا بانی عطف دے۔ دَ حضرت شیخ قدس سره په نزد بانی دا عطف تفسیری دے او دَ ایمان دَ بعضو تقاضو تفسیر دے۔ حاصل دا دے چه الله تعالیٰ او دَ هغه دَ رسول ﷺ دَ احکامو تعمیل اوکړئ چه دَ هغے نه فی الوقت دَ ټولو نه زیات ضروری او اهم دا دے چه دَ دین دَ سربلندئ او اوچتوالی او دَ توحید دَ اشاعت او دَ شرک او کفر ختمولو دپاره مال خرچ کړئ۔

امر تعالیٰ عبادہ المؤمنین بالثبات علی الایمان وادامته و النفقة فی سبیل الله۔ (بحر، ج ۸ ص ۲۱۸)۔

۷ مِمَّا جَعَلَکُمْ مُّسْتَخْلَفِیْنَ فِیْهِ: دا دَ ترغیب الی الانفاق اوله طریقه ده حاصل دا دے چه دا مال خو په حقیقت کښ زما دے۔ ما تاسو په دے کښ څو ورځو دپاره تصرف کوونکی مقرر کړی یئ۔ اوس کچرے تاسو دَ دے مال نه

خٔه (حصه) خپلو په لاره کښې خرچ کړئ نو دغان نه به هیڅ هم ورنکړئ بلکه مال به خپل ځیزو واپس راکړئ. دے اند ازبیان کښې حکمت دا دے چه کچرے دا خبره دَ خلقو ذهنونو ته کوزه شی نو دَ الله تعالیٰ په لاره کښې خرچ کول به ورته سخت او گران نه وی بلکه ورته به اسان شی او خوشالئی سره به دَ دین په خدمت کښې مال خرچ کوی،

عبر جل شانه عما بایدیهم من الاموال بذلك تحقیقا للحق و ترغیبا فی الانفاق، فان من علم انها لله تعالیٰ وانما هو بمنزلة الوکیل یصرفها الی ما عینه الله تعالیٰ من المصارف هان علیه الانفاق۔ (روح ج ۲۷ ص ۱۶۹)۔

ف۸ فَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا: دا مال خرچ کولو طرفته ترغیب او بشارت دے. دا دَ الله تعالیٰ ډیره زیاته مهربانی ده چه دَ خلقو سره کوم مال دے هغه هم دَ هغهٔ دے لیکن بیا هم چه کوم خلق دَ هغهٔ په لاره کښې خرچ کوی هغوی ته به دُنیا او اخرت کښې ثواب او جنت ورکړی. وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ الآیة خطاب دے مؤمنانو ته او دَ ایمان نه حاصل معنیٰ مراد دے یعنی انفاق فی سبیل الله: ای ومالکم لاتنفقون فی سبیل الله. دا رنگے لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ ای لتنفقوا فی سبیل ربکم. او دَ میثاق نه دَ اَلَسْتُ وعده مراد نهٔ ده بلکه دَ بیعت هغه وعده مراد ده کومه چه هغوی دَ نبی کریم ﷺ په لاس باندې دَ بیعت په وخت کړے وه چه مونږ به دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول ﷺ ټول احکام منو. حاصل دا شو چه څهٔ وجه ده چه تاسو دَ الله تعالیٰ په لاره کښې خرچ نکوئ؟ حال دا دے چه دَ الله تعالیٰ پیغمبر تاسو ته دَ خرچ کولو ترغیب درکوی او حکم درکوی او تاسو دَ اوریدلو او منلو وعده کړے ده. کچرے تاسو ریښتونی مؤمنان یئ نو دَ هغهٔ حکم اومنئ او دَ الله تعالیٰ په لاره کښې شوق او جذبے سره خرچ اوکړئ. هذا ما قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ.

ف۹ هُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ: دا دویم اندازسره دَ انفاق ترغیب دے. الله په خپل خاص بنده حضرت محمد ﷺ باندې واضحه ایتونه او روښانه دلیلونه نازلوی دے دپاره چه تاسو دَ کُفر او شرك او دَ جاهلیت دَ تورو تیارو نه راوباسی او دَ ایمان او توحید په رڼا کښې مو ننه باسی. الله تعالیٰ ډیر مهربان او رحیم بادشاه دے، دَ هغهٔ حکم ضرور اومنئ او دَ ایمان او توحید رڼا په ټول جهان کښې خورولو دپاره بے دَ خٔه منعه کولو نه مال خرچ کړئ.

ف۱۰ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا: دا دَ انفاق او مال خرچ کولو دَ ترغیب دپاره بله طریقه ده. دَ اول نه په طریقه دَ ترقئ سره ئے اوفرمائیل چه دا مال

او دولت به ولته پاتے کیدی لیکن تاسو به پاتے نشئ ـ اوس وخت دے خرچ اوکړئ ـ کله چه دا موقعه ستاسو د لاس نه وُتي نو پښیمانه به شئ اګر خرچ وکړي نو لویه بدله او اجر به درته ملاؤ شي اوکه خرچ نکوئ نو اصل مال به مو هم اخر د لاس نه اوځي.

إِنَّ اللہ یورث کل شئ فیها ولا یبقی لاحد مال واذا کان کذلك فانفاقه بحیث انه یستخلف عوضا وهو الثواب اولی ـ (مظهری ج ۹ ص ۱۹)

دا زمکه چه په مختلف شکلونو کښ دولت راوباسي او دا اسمان چرته نه چه باران څکومي اور نرا وغیره راځي، زمکے سره ده دولت راویستلو کښ امداد کوي، دا به ما سره پاتے شي او تاسو به د دُنیا نه رخصت شئ ـ

سے لَا يَسْتَوِي مِنكُمْ، د فتح نه د اسلام غلبه مراد ده، خاص فتح مراد نه ده قاله الشیخ قدس سرهٔ ـ او د ځینو په نزد بانډې د دے نه صلح حدیبیه مراد ده ـ لیکن د جمهور و مفسرینو په نزد بانډې د دینه فتح مکه مراد ده ـ د فتح مکے نه مخکښ چونکه په عربو کښ هر طرفته د کفر غلبه وه او اسلام قبلول خپل ځان په مصیبتونو او تکلیفونو کښ د شور ځولو مترادف وو او دغه زمانه کښ د اسلام په خاطر د مالي او جاني قربانو ضرورت هم زیات وو او د فتح مکے نه روستو اسلام ته غلبه حاصله شوه او د حالاتو مخ بالکل بدل شو ـ د دے وجے نه ئے اوفرمایل چه کوم خلقو د فتح مکے نه مخکښ اسلام قبول کړو او د الله تعالیٰ په لاره کښ ئے مال خرچ کړو او جهاد ئے وکړو هغوي په مرتبه او اجر و ثواب کښ د هغه خلقو نه زیات او په هغوي بانډې فائق او برتر دي څوک چه د فتح مکے نه روستو اسلام راؤړي او مال خرچ کړي او په جهاد کښ شریك شي ـ لیکن د دے مراتبو د فرق باوجود په انعام کښ ټول شریك دي او هغه د جنت وعده ده او هغوي ټول د جنت حقداران دي ـ دا ایت ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم لره اهل جنت ګرځوي، او دا د دغه حضراتو دپاره ډیر لوئے فضیلت دے ـ د دے وجے نه د هغوي باره کښ د ژبے نه د طعن او عیب لګولو اجازت نشته ـ

(وَكُلًّا وعد الله الحسنیٰ) ای المتقدمون المتناهون السابقون والمتأخرون اللاحقون وعدهم الله جمیعا الجنة مع تفاوت الدرجات ـ (قرطبی ج ۱۷ ص ۲۴۱)

مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ

څوك دے دا سے چه ورله قرض ورکړي الله تعالیٰ ته په ښه شان بیا هغه دغه لره دوچنداکړي

لَهٗ وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۱﴾ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَ

دَ هغه دپاره او ده ته ملاؤشي ثواب دَ عزت. کومه ورځ چه ته وګورې ایماندار سړي ګله او

الْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ

ایماندارې ښځې چه تیزځي سره روان دی دَ هغوی رڼا دَ هغوی په وړاندې او دَ هغوی ښي طرفته

بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

خوشخبري ده تاسو ته نن ورځ باغونه دي چه لاندې دَ هغې نه نهرونه بهيږي

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾ يَوْمَ

همیشه اوسیدونکي دي په هغې، دا خبره چه دی بس هم دا دی لوئې مقصد حاصلیدل دي کومه ورځ چه

يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

وائي به ګله منافقان سړي او منافقانې ښځې ایمان والو ته

انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا

زمونږ طرفته وګورئ چه مونږ هم رڼا واخلو ستاسو دَ نور نه دَرڼا نه، ځواب به ورکړی شي واپس لاړشئ

وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ

روستو پس تلاش کړئ رڼا دَ ځان نو اودرولي به شي کَد وي په مینځ کښې یو دیوال چه

لَّهٗ بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ

په کښې به یو دروازه وي، دَ هغې دننه به رحمت وي او بهر طرف ته به

قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴿۱۳﴾ يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ؕ

عذاب وي. دوی به هغوی ته آواز وکړي، آیا مونږ نه وو تاسو سره کله

قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ

هغوی به اووائي ولې نه، خو تاسو خپل ځانونه غلولي وو او انتظار کولو تاسو دلته

وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ

او دهوکه کښې پریوتلئ او دهوکه شوئ په خپلو خیالونو باندې تر دې چه راغې حکم دَ الله

وَغَرَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿١٤﴾ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنكُمْ

او تاسو دهوکه کړي وو چل ټګي د الله د نوم نه دغه دهوکه باز - پس نن ورځ ستاسو نه نه قبلیږي ځله

فِدْيَةٌ وَلَا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ مَأْوَاكُمُ النَّارُ ۖ

فدیه ورکول او نه د کافرانو نه ، ستاسو د ټولو کور دوزخ دے ،

هِيَ مَوْلَاكُمْ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ

هغه ستاسو مدد ګار دے ، او ډیر بد ځائے دے د ورتللو ۔ آیا وخت نه دے راغلے ایمان والو

آمَنُوا أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ

ته چه زړونه ئے او ویریږي د الله د یاد د پاره او د کوم چه نازل شوے

مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن

ریښتونے دین او نه دِ کیږي د هغو په شان چه کتاب ورته ملاؤ شوے وو د دینه

قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَ

مخکښ بیا اوږده شوه په هغوی باندې زمانه پس سخت شول د هغوی زړونه ، او

كَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿١٦﴾ اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يُحْيِي

ډیر په هغوی کښ نافرمانه دي ۔ پوهه شئ چه الله ژوندئ کوي

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ

زمکه د هغې د مرګ نه پس ، مونږ واضح واورول تاسو ته ایتونه (نښې دلائل) چې

تَعْقِلُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَ

تاسو پوهیږئ ۔ بیشکه کوم خلق چه خیرات کونکي دي سړي او ښځې او

أَقْرَضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ

قرض ورکوي الله ته په ښه شان ، دوی ته به ملاویږي دوچند او دوی د پاره

أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١٨﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ

بدله ده د عزت ۔ او کوم خلق چه ایمان راوړي په الله او د هغه په رسولانو باندې

أُولَٰئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ ۖ وَالشُّهَدَاءُ عِندَ رَبِّهِمْ

هغوی دی رېښتونی مؤمنان او د خلقو حالات بیانوونکی دی د خپل رب په نزد،

لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا

دوی لره دے اجر د دوی او رنړا د دوی، او کوم خلق چه کافران شوي دي او دروغ ئے گڼلي دي

بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ⑲ ع

زمونږ خبرې دغه دي د دوزخ خلق۔

۷ ع ۱۸

نکات :- ۱ دریمه طریقه د پاره د انفاق۔ ۲ زجر او تخویف د پاره د منافقانو۔ ۳ زجر۔ ۴ دریمے طریقے سره متعلق۔ ۵ ترغیب د انفاق ۶ تخویف اُخروی۔

موضح قرآن

ف ۱ د قرض معنی دا ده چه دا وخت جهاد کښ مال خرچ کړئ بیا به تاسو د ډېرښتو خاوندان شئ او هم معنی د د وچیند کؤلو ده ځکه چه د مالك او غلام په مینځ کښ کته وټه نه وی څه چه ورکړه هغه د هغه دی او کوم چه ئے ورنکړه هغه هم د هغه دی د الله مختار دے۔) منه۔ **ف ۲** کوم وخت چه په پُل صراط باندې تیریږي نو سخته تیاره به وی، خپله د ایمان رنړا به ورسره مخکښ روانه وی او د عملونو رنړا به ښي طرفته وی ځکه چه ښهٔ عملونه ښي طرفته جمع کیږی۔ **ف ۳** کافران به پُل صراط باندې نهٔ ځی، هغوی به مخکښ دوزخ کښ او غورزولے شی لیکن چه کوم امت دے د نبی، کامل یا ناقص کلهٔ چه تیاره کښ راګیر شی نو د ایمان والو سره به رنړا وی، منافقان په رنړا کښ روان شول، مؤمنان تیزئ سره اووتل مخکښ لاړل دوی روستو پاتے شول، چغے ئے شروع کړے چه مونږ ته هم رنړا راکړئ، چا ورته اُووے چه رنړا د روستو نه راوړئ، هغوی چه روستو واپس شول نو د هغوی او د دوی په مینځ کښ دیوال اودرولے شو۔ یعنی رنړا په دُنیا کښ حاصلولے او ګټلے شی، هغه ځائے خو دوی روستو پریښودو۔

ف ۴ یعنی ایمان هغه دے چه زړهٔ نرم شی، اهل کتابو به د پیغمبرانو په صحبت کښ دا نرموالے موندلو۔ بیا څهٔ موده پس د هغوی زړونه سخت شول او اوس دا صفت مسلمانانو ته حاصلول پکار دی۔ **ف ۵** یعنی د عربو خلق جاهلان ؤ ولکه مړے زمکے، اوس ئے هغوی ژوندی کړل په ایمان سره او علم سره او ټول کمالات ئے پکښ پیدا کړل۔

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائی یعنی دُنیا ته لاړشی او رڼا حاصله کړئ دلته رڼا نشی حاصلیدے - **ف۲** یعنی دَ مسلمانانو شکست - **ف۳** یعنی دَ مرګ نیټه -

تفسیر

۳۲ مَنْ ذَا الَّذِیْ، دا دَ مال خرچ کولو دَ ترغیب دریمه طریقه ده فَیُضٰعِفَهٗ، دَ استفهام جواب دے - په دے وجه منصوب دے او دَ رفع په قرأت کښ یقرض باندې معطوف دے،

قال ابن عطیة هذا الرفع یعنی فی یضاعفه علی العطف ...... وقرأ عاصم فیضاعفه بالنصب بالفاء علی جواب الاستفهام - (بحر، ج ۸ ص ۲۱۹) -

حاصل دا چه مونږ. فرض کړه مال ستاسو دے، تاسو پخپله ګټلے دے او دَ پلار نیکه نه درته په میراث کښ ملاؤ شویدے - نو بس مونږ. اومنله! دَ قرض په طور ئے راکړئ، دُنیا کښ به دَ هغے نه څوچنده زیات واپس درکړم او دَ آخرت اجر او ثواب به دَ هغے نه علاوه وی.

۳۳ یَوْمَ تَرَی، ظرف دَ "لَهٗ اَجْرٌ کَرِیْمٌ" مقدر متعلق سره متعلق دے او دا مؤمنانو دپاره دَ آخرت بشارت دے. څوک چه دَ الله تعالیٰ په لاره کښ فراخه زړه سره مال خرچ کوی، دَ قیامت په ورځ چه کله مؤمنان په پُل صراط باندې تیریږی هغه وخت به دَ دوی مخکښ او ښی طرفته رڼا وی چه دَ هغے په وجه به په پُل صراط باندې صحیح سلامت تیرشی - دا رڼا به دَ دوی دَ ایمان او اعمالِ صالحه مونځ، روژے، حج، زکوٰة او انفاق فی سبیل الله وغیره وی - په دے وجه دَ اعمالِ صالحه مطابق به دغه رڼا کمه زیاته وی -

عن ابن مسعودؓ یؤتون نورهم علی قدر اعمالهم (قرطبی ج ۱۷ ص ۲۴۲) -

بُشْرٰىكُمُ الْیَوْمَ، دَ دے نه مخکښ یقال لهم مقدر دے - دَ جنت په دروازو باندې به فرښتے دَ دوی دَ استقبال دپاره ولاړے وی او دوی ته به وائی تاسو ته دَ نعمتونو باغونه مبارک وی چه په هغے کښ به دَ هر قسم مشروباتو نهرونه بهیږی او دا ستاسو دَ همیشه اوسیدلو ځائے دے، تاسو به دیکښ همیشه اوسیږئ او دا ډیر لویه کامیابی ده: ای یقال لهم ذلك والقائل الملائکة الذین یتلقونهم. (روح ج ۲۸ ص ۱۷۵)

۳۴ یَوْمَ یَقُوْلُ الْاٰیَة، دا دَ اول یَوْمَ نه بدل دے او منافقانو ته تنبیه او زجر دے. اُنْظُرُوْنَا، منافقان به مؤمنانو ته وائی زمونږ. طرفته وګورئ دپاره دَ دے چه ستاسو دَ رویانه رڼا کوونکو مخونو دَ رڼا په وجه مونږ. هم لاره اووینو. یا دَ اُنْظُرُوْنَا معنیٰ ده، اِنْتَظِرُوْنَا، یعنی تیز تیز مه ځئ، لږ. اودریږئ چه ستاسو په رڼا کښ مونږ. هم په پُل صراط باندې تیرشو. نَقْتَبِسْ، دَ اُنْظُرُوْا امر جواب کیدلو په وجه سره مجزوم دے (مظهری). قِیْلَ ارْجِعُوْا،

ځنګه چه به منافقانو په دُنیا کښې مؤمنانو پورے پوقے کولے دغه شان به دَ قیامت په ورځ مؤمنان په طور دَ استهزاء منافقانو ته اووائي چه اُوس په دے طریقه خو بیشتلو سره رنړا نه ملاویږی - لاړ شئ واپس دُنیا ته او دَ هلته ایمان راوړئ، نیک عمل اوکړئ، صدقه او خیرات ورکړئ نو رنړا به درته حاصله شی لیکن اوس دُنیا ته دَ واپس تللو سوال نه پیدا کیږی - فَضُرِبَ بَيْنَهُم: دَ دے نه پس به دَ دوارو ډلو په مینځ کښې دیوال پرده جوړه شی - دا به دَ جنت او دوزخ ترمینځه وی چه هغې کښې دروازه وی - دَ دغه دیوال دننه طرفته به دَ الله پاک رحمت وی او بهر طرفته به عذاب وی - فضرب بينهم بسور اى بحائط حائل بين شق الجنة وشق النار - (مدارک ج ۴ ص ۱۷۰) -

۵ له يُنَادُونَهُمْ: منافقان به مؤمنانو ته وائي، آیا مونږ په دُنیا کښې تاسو سره نه وُو؟ دُنیا کښې خو مونږ ستاسو په دین باندې وُو او تاسو سره مو یو ځائے مو ځونه کول، نو نن خو مونږ سره لږ امداد وکړئ - قَالُوا بَلَىٰ: مؤمنان به جواب ورکړی بیشکه تاسو خو مونږ سره وئ لیکن تاسو منافقت اوکړو، خپل ځانونه مو هلاک کړل - تاسو خو مسلمانی ظاهروله لیکن همیشه به دَ مُسلمانانو په مصیبتونو کښې دَ ګرفتار کیدلو په انتظار کښې وئ او حقیقت دا دے چه ستاسو دَ الله تعالیٰ په توحید او دین اسلام په صداقت کښې شک وُو او تاسو دَ زړه نه هیڅکله مسلمانان نه وئ - وَغَرَّتْكُمُ الْأَمَانِيُّ: تاسو لره مختلفو دروغژنو ارزوګانو په دهوکه کښې غورځولی وئ - تاسو دا خیال کولو چه اُوس په یو څو ورځو کښې دننه دَ اسلام نوم او نښان ختمیدونکے دے - په دے وجه تاسو دوه پریږده لاره اختیار کړے وه تر دے چه مرګ درته راغے:

الاماني الفارغة التي من جملتها الطمع في انتكاس الاسلام - (روح ج ۲۷ ص ۱۷۸) -

وَغَرَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ: په فتحه دَ غین صفت مشبهه دے او دَ دینه مُراد شیطان دے - شیطان تاسو لره دَ الله تعالیٰ باره کښې په دهوکه کښې اوساتلئ او تاسو ته یئ دا باور درکولو چه حشر او نشر نشته او حساب کتاب نشته، او که چرے بالفرض څه وی هم نو الله تعالیٰ ډیر زیات مهربانه دے، معافی به درته اوکړی؛ وغركم الشيطان بان الله غفور كريم لا يعذبكم او بانه لا بعث ولا حساب - (مدارک ج ۴ ص ۱۷۰) -

۶ له فَالْيَوْمَ: دَ دے وجے نه تاسو نن دَ جهنم نه په هیڅ طریقه هم نشئ بچ کیدلے - نن ستاسو او دَ کافرانو فدیه او معاوضه نشی قبلیدلے او نه به ستاسو څوک حامی او مددګار تاسو لره دَ عذاب نه خلاص کړی - نن به تاسو ځائے دوزخ ته ځئ، هغه ستاسو دَ همیشه اُوسیدلو ځائے دے - او نن جهنم ستاسو حامی او مددګار دے او هم هغه ستاسو ډیر بد ځائے

دے چه ډیر بد دا وسیدلو ځائے دے.

ﵟ۲ اَلَمۡ یَاۡنِ ﵞ دا زجر دے. ځنے مسلمانانو کښې د مال خرچ کولو په معامله کښې سستي راغلے وه - دا په هغوی باندې زجر او عتاب دے. یا دا منافقانو ته تنبیه ده چه هغوی د الله تعالیٰ په لاره کښې د خرچ کولو نه ډډه کوله دے صورت کښې به د اٰمَنُوا نه ایمان باللسان مراد وی لیکن سیاق سباق سره مناسب دا دے چه د دے نه مخلص مؤمنان مراد دی ځکه چه اکثر مخلصین همیشه د الله تعالیٰ د احکامو په وړاندې سرخکته کونکی او غاړه کیښودونکی وی:

والمعاتب علی ما قاله الزجاج طائفة من المؤمنین والا فمنهم من لم یزل خاشعا منذ اسلم الی ان ذهب الی ربه (روح ج ۲۸ ص ۱۷۸) الم یأن من انی الامر یأنی اذ جاء اناه ای وقته (مدارک).

او وَلَا یَکُوۡنُوۡا اَنۡ تَخۡشَعَ باندې معطوف دے، یا استیناف دے په صیغه د امر غائب. (بحر، مظهری). اَنۡ تَخۡشَعَ کښې اَنۡ مصدریه دے او جمله په تاویل د مفرد اَلَمۡ یَاۡنِ دپاره فاعل دے او مَا نَزَلَ ، ذکر الله باندې معطوف دے. فَطَالَ عَلَیۡهِمُ الۡاَمَدُ : یعنی د هغوی او د هغوی د پیغمبرانو په میځ کښې ډیره وقفه تیره شوه یا کفر او گناهونو کښې ډوبیدو سره د هغوی زمانه تیره شوه. حاصل دا دے چه ایا ایمان والو دپاره لا تراوسه پورے هغه وخت نه دے راغلے چه د الله تعالیٰ د ذکر، د قرآن د ایتونو په وړاندې یعنی د الله تعالیٰ د احکامو په مخکښې د دوی زړونه تسلیم او رضا سره عاجزه شي او سره د اطاعت نه هغه ته ښکته شي او دوی د هغه اهل کتابو (یهودو او نصارا و) په شان او نه گرځي چه په کفر او نا فرمانئ کښې ورننوتلو یا د انبیاء علیهم السلام د تعلیماتو او د هغوی د صحبت نه د محرومتیا په وجه ئے زړونه سخت شویدی چه د الله تعالیٰ د یو حکم، زجر، تهدید (ویرولو) او زیری ورکولو او د اٰخرت د عذاب نه ویرولو سره په هغوی باندې هیڅ اثر نه کیدلو، بلکه د هغوی نه خو په ښکاره طور باندې د الله تعالیٰ نافرمانه او باغیان گرځیدلی دی او په ایمان والو کښې خو د الله پاک رسول موجود دے، او د الله تعالیٰ نوی نوی احکامات نازلیږی نو هغوی له خو د الله تعالیٰ د احکاماتو په وړاندې مکمل طور باندې تسلیم او رضا پکار وه. ځنے روایاتو کښې موجود دی چه د کومو مسلمانانو نه د احکاماتو په تعمیل کښې سستي شوې وه، هغوی د دے ایت د نزول نه روستو هغه کمے پوره کړو.

ﵟ۳ اِعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ ﵞ دا ترغیب د انفاق دریم طریقے سره متعلق دے او د الله تعالیٰ په لاره کښې د خرچ کړے شوی مال په بدله کښې د خوځیدو ه

زیاتے ورکیږے د پاره مثال دے، څنګه چه الله تعالیٰ په مرګ او وُچه زمکه باندې باران اُوروی او هغې ته تازګی او ژوند ورکړی نو په هغې کښې ډګرولی شو دانونه څو سوه چنده دانے حاصلیږی۔ دغه شان الله تعالیٰ په خپله لار کښې خرچ کړے شوی مال له زیاتوی۔ دا ایتونه او مضامین مونږ دے د پاره واضح بیان کړو چه تاسو په دے پوهه شئ او عمل پرے اوکړئ۔

۱۹ف إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ، دا په مال خرچ کولو باندې ترغیب دے۔ اَلْمُصَّدِّقِيْن او اَلْمُصَّدِّقٰت کښې الف لام اسم موصول دے بالترتیب په معنیٰ دَ "الذین" او "اللاتی" او دواړه اسم فاعل په معنیٰ دَماضی دی۔ یعنی تَصَدَّقُوْا او تَصَدَّقْنَ په قرینه دَمعطوف۔ "اَقْرَضُوْا"؛ اسم موصول همیشه په جمله داخلیږی او دلته اسم فاعل باندې دَ هغې داخلیدل په ظاهره دَقاعدے نه خلاف معلومیږی۔ دَدے جواب دا دے چه دا قاعده دَ هغه اسماء موصوله د پاره ده چه صورةً او معنیً اسماء وی، او الف لام موصوله چونکه صورةً حرف دے او معنیً اسم دے۔ دَدے وجے نه مدخول هم اګرچه صورةً مفرد (اسم فاعل) دے لیکن معنیً جمله او په معنیٰ دَ فعل ماضی دے په قرینه دَ معطوف "اَقْرَضُوْا"۔ او س به اصل عبارت داسے وی: إِنَّ الَّذِيْنَ اَصَّدَّقُوْا وَ اَقْرَضُوا اللهَ الخ۔ (کشاف، روح، مدارک) کوم سړی او ښځے چه دَ الله تعالیٰ په لاره کښې خرچ کوی، هغوی ګویا چه قرض ورکوی الله پاک ته، هغوی ته به څو چنده بدله ورکوی او دَ اٰخرت اَجر او ثواب دَدے نه علاوه دے۔

۲۰ف وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا؛ کوم خلق چه صدقِ دل سره په الله تعالیٰ او دَهغه په رسول ؑ باندې ایمان راوړی او دَ هغه احکامو ته غاړه کیږدی او سره سرخکته کړی او دَ حق دین دَ اُوچتولو او دَ توحید دَ خورولو د پاره په فراخه زړه سره مال خرچ کړی۔ داسے خلق به دَ الله تعالیٰ په نزد دَ شهیدانو او صدیقینو په مرتبه کښې وی او په اٰخرت کښې به ورته هم هغه اجر ملاویږی او هغه ثواب او نور به ورکولے شی کوم چه دَ صدیقینو او شهداؤ د پاره دے:

یرید ان المؤمنین بالله ورسوله هم عند الله بمنزلة الصدیقین والشهداء وهم الذین سبقوا الی التصدیق واستشهد وا فی سبیل الله۔ (مدارک ج ۴ ص ۱۷۱)۔

چونکه څوک چه صدق دل سره ایمان راوړی او دَ الله پوره حکمونه اومنی او دَ الله تعالیٰ په لاره کښې مال خرچ کړی نو هغه دَ صدیقینو او شهداؤ مرتبه حاصلولے شی۔ په دے وجه نے اوفرمائیل: هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ وَالشُّهَدَآءُ۔ خیر سړے دَ ایمان او عملِ صالح دَانتهائی اخلاص باوجود هم نبی نشی جوړیدے لیکن دَنبیا نو ملګرتیا حاصلولے شی۔

دَدے وجے نه ئے په سورۂ نساء (ع ٩) کښې اوفرمائیل :

وَمَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ - الاٰية -

۱۱ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا : دا کافرانو پاره تخویف اُخروی دے. دَ توحید او نورو ضروریات دین نه انکار کوونکی او دَ الله پاک د ایتونو لره دروغ گنړونکی به دَ جهنم خښتان وی.

اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ

پوهه شئ چه ۱۲ دَ دُنیا ژوند دادی لوبې بوټې او بناؤ ښت

وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ۭ

او لوئی کول خپل مینځ کښې ریولی بانې او زیات طلب کول دَ مال او اولاد،

كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ

لکه حالت دَ یو باران ۱۳ چه بناښته کړی زمیندارانو ته دَ هغه شینکی بیا هغه (شینکی) طاقتور شی

فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ۭ وَفِى الْاٰخِرَةِ

پس ته وینے هغه چه زیړ شو بیا هغه شی ذرے ذرے واښه، او په آخرت کښې

عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ۭ

عذاب دے سخت، او معافی هم ده دالله دَ طرفه او رضامندی،

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ⑳ سَابِقُوْٓا

او دَ دُنیا ژوند خو بس هسه ادے مال دَ دهوکے دے - منډه دوهی ۱۴

اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ

دَ خپل رب معافئ طرفته او هغه جنت ته چه دَ هغے پلنوالے دے لکه دَ پلنوالی

السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۙ اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ

دَ آسمانونو او زمکے، تیار کړے شوے ۱۵ دپاره دَ هغو چه یقین وکړی په الله

وَرُسُلِهٖ ۭ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ

او دَ هغه په رسولانو باندی، دا فضل دَ الله دے ورکوی ئے چا ته چه وغواړی۔

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۱﴾ مَآ اَصَابَ مِنْ

او د الله فضل لوے دے۔ هیڅ مصیبت ځله

مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ

نه راځي په زمکه کښ او نه ستاسو په نفسونو کښ چه لیکلے

كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى

شوے نه وي مخکښ د هغے نه چه مونږ پیدا کړو هغه په دنیا کښ، بیشکه دا په

اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۲۲﴾ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا

الله آسان دے، د دے دپاره چه تاسو غم اونکړئ په هغے کوم چه تاسو ته په لاس رانغے او نه

تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ

غرور اوکړئ په هغے کوم در ته هغه درکړو او الله تعالیٰ نه خوښوي هر کبر کوونکے

فَخُوْرِ ۙ ﴿۲۳﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ

فخر کوونکے۔ هغه کسان چه بخیلي بخل کوي او خلقو ته هم امر کوي

بِالْبُخْلِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ

په بخل سره، او څوک چه مخ اوګرځوي نو الله تعالیٰ بخیله بے پرواه دے

الْحَمِيْدُ ﴿۲۴﴾ لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَ

او ستائيلے شوے دے۔ مونږ لیږلي دي خپل پیغمبران ښکاره دلائلو سره او

اَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ

نازل کړو مونږ هغوی سره کتاب او تله د دے دپاره چه خلق او دریږي

بِالْقِسْطِ ۚ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ

په انصاف باندې، او مونږ راولیږله اوسپنه په هغې کښې سخت جنګ دے

وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ

او د خلقو کار پرے چلیږي او د دے دپاره چه معلوم کړي الله چه څوک امداد کوي د هغه

وَرُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝۲۵ ع

او د رسولانو د هغهٔ په نالیدلے، بیشکه الله طاقتور دے غالب دے۔

نکات: ۱ـ څلورمه طریقه دپاره د ترغیب د انفاق۔ ۲ـ د دنیا د فناکیدو مثال۔ ۳ـ زیاتی ترغیب د انفاق۔ ۴ـ پنځمه طریقه دپاره د انفاق۔ ۵ـ زجر او تهدید دپاره د کبرژنو او بخیلانو (شومانو)۔ ۶ـ ذکر د مضمونِ جهاد۔

موضحِ قرآن ف۱ هر انسان د خپل عمر په شروع کښ لوبے کوی، بیا ډول او فیشن پسے گرځی بیا اعتبار او نوم حاصلولو پسے گرځی۔ او کله چه د مرلو وخت رانزدے شی نو د مال او اولاد په فکر کښ او خلی چه څما نه پس به څما د مال او اولاد څه حال وی۔ دا ټوله کوشش وی چه دوی اسوده حال او خوشاله وی۔ دا ټول د دهوکے له جنس نه دی، فانی او ختمیدونکی دی۔ څکښ به نور څه (نیک اعمال) په کار راځی او دا به هیڅ په کار رانشی۔ ف۲ کتاب او تله۔ یا خوځے تله همدے (جنتی) تلے ته ویلے دا حکم چه داهم د انصاف د اسبابو نه ده۔ یا ئے تله شریعت ته او ویله چه هغے سره د ریښتونی او دروغژن پته اولگی۔

تفسیر ۲۲ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا: دا د مال خرچ کولو د ترغیب څلورمه طریقه ده۔ په مصدرونو باندې تنوین د تنکیر د هغه افعالو د حقارت او سپکوالی او د قلت ظاهرولو دپاره دے۔ تاسیدا۔ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ (آل عمران ع۲۰)۔ تنوین د تنکیر، تحقیر او تقلیل دپاره اکثر په کلام کښ راځی۔ (رضی)

د الله په لاره کښ د خرچ کرے شوی دولت معاوضه کچرے په دنیا کښ د زیاتوالی په صورت کښ ملاؤ نشی نو دا هیڅ خبره نه ده، دا دنیا څه څیز دے؟ محض څو ورځے لوبے توقے دی، وختی ښائست او سِنگار ده او د لته د حسب او نسب د شرافت او د مال او اولاد د زیاتوالی په وجه یو بل باندې د خپلے لوئی ښایستولو او بخیله لوئی باندې د فخر کولو نه سوا نور څه شے دے؟

کچرے تاسو ته په دنیا کښ د هغے عوض ملاو نشی لے نو تاسو به هغه په خپلو فضولو خبرو کښ الوزئ ولے۔ د هغے اجر او ثواب محفوظ دے چه په آخرت کښ به درته ملاویږی۔ د دنیا دا ښائست او رونق وختی او فانی دے۔ دے سره محبت مه ساتئ او د آخرت فکر اوکړئ۔

۲۳ كَمَثَلِ غَيْثٍ: دا د دنیا د حقارت، سپکوالی او فناکیدو مثال دے۔

دا الکفار نه مراد زمیندار دے حکه چه هغه کله خپل فصل تر وتازه اوشین اووینی نو ډیر زیات خوشالیږی- دے صورت کښی به دا لفظ په خپله لغوی معنی باندې محمول وی، یعنی په زمکه کښی پټوونکے-
علی ما روی عن ابن مسعود، لانهم یکفرون ای یسترون البذر فی الارض-(روح ج ۲۷ ص ۱۸۴)-
یا د دے نه کافران خلق مراد دی او د هغوی د تخصیص وجه دا ده چه کافران چه د دنیا ښائست اووینی نو پکښی ډیر زیات مشغول او د هغان نه ناخبره شی لیکن مومنان د دنیا هر ښائسته او ښکلی څیز سره د الله تعالی په قدرت او وحدانیت باندې دلیل نیسی لکه چه ابونواس د نرګس د ګل په تحریف کښی ویلی دی،

عیون من لجین شاخصات ٭ علی اطرافها ذهب سبیك
علی قضب الزبرجد شاهدات ٭ (بان الله لیس له شریك)
(روح)-

د دنیا د بے ثباتئ او فنا مثال دا سے دے لکه چه د باران په وجه په زمکه باندې تروتازه، شنه بوټی چیچه وهی او غانګی او کتونکے چه هغه او وینی نو د خوشالئ نه په جامو کښی نه ځائیږی یعنی ډیر زیات خوشاله شی تر دے چه شنه بوټی خپله ځوانئ ته اورسیږی نو ډیر زیات ښائسته شی- دغه شان د دے دنیا ښائست او خکلاهم ګوروځے دے- وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ ؛ کوم خلق چه د آخرت نه بے خبره شی او په دنیا کښی تنوزی، په آخرت کښی به هغوی د پاره ډیر سخت عذاب وی- وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ : او کوم خلق چه په دنیا باندې آخرت ته ترجیح او غوره والے ورکړو او د الله تعالی د احکامو په ورانډے سر ښکته کړو او د الله تعالی په لاره کښی ئے مال خرچ کړو، هغوی ته به د الله پاک له طرفه بخشش او د الله پاک د رضا چیتئ ملاویږی- وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا: څوک چه د دنیا ژوند په سستئ او عیاشئ کښی تیر کړی او د آخرت نه غافل شی هغه د پاره دنیا د فریب او د دهوکے سامان دے او څوک چه د دنیا په ژوند کښی ئے د آخرت د پاره تیاری وکړه نو دا ژوند به یو بهتر ژوند ته د رسیدلو ذریعه جوړیږی،
(متاع الغرور) ای لمن عمل لها ولم یعمل للاخرة فمن اشتغل فی الدنیا بطلب الاخرة فهی له بلاغ الی ما هو خیر منه (خازن ج ۷ ص ۳۶)-

۲۳ سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ، دا انفاق فی سبیل الله نور زیات ترغیب دے- څوک چه د الله په لاره کښی د خرچ کولو عوض تاسو ته په دنیا کښی ملاوونشی، نو خفه به اوشی، الله تعالی به درته په آخرت کښی د دے اجر درکړی او

کښنا هونه به درته معاف کړی او په جنت کښې به درته مرتبې ورکړی، او دومره فراخه او پلن جنت به درکړی چه د هغې پوا زے پلنوالے هم د زمکے او اسمان د مجموعي فراخئي برابر دے. دا هغه خلقو دپاره دے چه په الله تعالی او د هغه په رسول صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړی او د هغه احکامات په سر سترګو اومنی او عمل پرے اوکړی. دا د الله تعالی فضل او احسان دے، هغه چه له چا ته اوغواړی نو ورلے کړی او هغه د ډیر فضل او کرم مالک دے، هغه سره هیڅ کمے نشته.

ف۲۵ مَا اَصَابَ: دا د مال خرچ کولو د ترغیب پنځمه طریقه ده یعني څه دے تاسو مال د دے وجے نه نه خرچ کوئ چه په تکلیفونو مصیبتونو کښې به مو بکار راشي نو دا هم کمزورے او بے خیال دے ځکه چه کوم آفتونه په زمکه راتلونکی دی مثلاً، قحط سالی، د فصلونو تباهي، زلزلے وغیره. یا چه کوم مصیبتونه په انسانانو باندې راتلونکی دی مثلاً، بیماری، نیستي وغیره، دا ټول په ازل کښې مقدر شوی دی او د واقع کیدلو نه مخکښې په لوح محفوظ کښې لیکلی شوی او په علم الٰهی کښې موجود دی. د دے وجے نه دا حوادث په مال او دولت یا نورو وسیلو سره بدلول ممکن نه دی. او هر څیز مقدر کول الله دپاره ډیر آسان دی ځکه چه د هغه علم په مَا کَانَ او مَا یَکُوْنُ باندې حاوی او محیط دے.

لِکَیْلَا تَاْسَوْا: جار او مجرور دپاره متعلق محذوف دے: ای اخبرنا کم بذلك لئلا تحزنوا. (روح ج ۲۷ ص ۱۸۷).

یعني مونږ تاسو د دے حقیقت نه ځکه خبر کړئ چه تاسو په خپلو نقصانانو باندې غم اونکړئ او په نفعو حاصلیدلو کښې په هوا نشئ ځکه چه ټول هر د الله پاك د طرفه نه مقدر دی دیکښې ستا سو هیڅ اختیار او دخل نشته.

ف۲٦ وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ: دا متکبرینو او بخیلانو دپاره زجر او تخویف دے. مُخْتَالٌ: نا زخرو سره تلونکے. فَخُوْرٌ: په نورو باندې ځان لوے ګنړونکے. الله تعالی کبر او لوئی سره تلونکے او په نورو باندې ځان لوے ګنړونکے نه خوښوی. چه نه خو بخیله د نیکئ په لاره کښې خپل مال خرچ کوی او نه نور خلق نیکئ کولو ته پریږدی بلکه هغوی ته هم د بخل تعلیم ورکوی. په اصل کښې بخل دا دے چه انسان د الله تعالی د دین او د توحید په لاره کښې مال نه خرچ کوی. وَمَنْ یَّتَوَلَّ: دا د ذکر شوو پنځو طریقو د انفاق سره متعلق دے. د شرط جزاء مقدر ده. فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ: د محذوف جزاء علت دے، مثلاً ومن یتول فانی له. قاله الشیخ رحمه الله تعالی.

یعني څوك چه د دومره واضح بیان نه پس هم نه منی بلکه اعراض اوکړی او د الله تعالی په لاره کښې خرچ نکوی نو هغه باندې لعنت دے ځکه چه خرچ کولو

سره به الله پاك ته هيڅ نفع نه وي، هغه خو د ټول کائنات نه بے پروا دے او د هر صفت مالك دے او د هغه هيڅ يو څيز ته ضرورت نشته.

۲۵ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا : د دے ځائے نه د سورت د دويم مضمون يعنی د جهاد في سبيل الله بيان شروع كيږی. اَلْبَيِّنٰتِ : واضحه معجزے. د الكتٰب نه جنس مراد دے او ټولو اسمانی كتابونو ته شامل دے. اَلْمِيْزَانَ، الكتٰب د پاره عطف تفسيری دے د قبيل د عطف الاسم على الاسم نه يعنی دواړه د يو څيز نومونه دی او تغاير محض لفظی او اعتباری دے لكه چه امام طحاوی فرمائيلی دی: حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى، او په يو قرأت كښ د دے نه روستو وَصَلٰوةِ الْعَصْرِ راغلے دے. امام طحاوی دے ته عطف الاسم على الاسم وائی. حاصل دا چه دا عطف تفسيری دے، د يو څيز د دوه نومونو نه يو په بل باندے معطوف شوے دے. اسمانی كتابونه چونكه د حق او باطل او شرائع الٰهيه د پاره ميزان دے نو ځكه ورته ميزان او وئيلے شو.

اَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ، يعنی موږ اوسپنه پيدا كړه:

(انزلنا الحديد) ای انشأناه وخلقناه. كقوله تعالیٰ: وانزل لكم من الانعام ثمٰنية ازواج. (قرطبی ج ۱۷ ص ۲۶۱).

بَأْسٌ شَدِيْدٌ، اوسپنه د سخت جنګ ذريعه ده ځكه چه ټول الات د جنګ د اوسپنے نه جوړيږی، واما الحديد ففيه البأس الشديد فان الات الحروب متخذة منه. (كبير)

وے فرمائيل موږ د بنيادمونو نه ډير پيغمبران اوليږل چه هغوی ته موږ ښكاره او واضح معجزات وركړل او په هغوی باندے موږ كتابونه نازل كړل چه د اسمانی شرائعو د پاره معيار او ميزان وُو، د پاره د دے چه خلق په هغے باندے عمل اوكړی او په دُنيا كښ عادلانه نظام قائم كړی. او موږ اوسپنه پيدا كړه چه په هغے كښ خلقو د پاره مختلف قسمه فائدے دی او د ټولو نه اهم فائده دا ده چه د هغے نه د جنګ سامان تياريږی. لِيَعْلَمَ اللهُ نه مجازاً اظهارِ حقيقت مراد دے ځكه چه الله تعالیٰ په هر څه عالم دے. موږ اوسپنه پيدا كړه چه د هغے نه د جنګ سامان او الات تياريږی، د دے د پاره چه موږ اوګورو او ښكاره كړو چه د دے الاتِ حرب سره څوك د الله تعالیٰ دين او چتولو او باطل ښكته كولو د پاره جهاد كوی او خپلے د ځان قربانی وركولو سره د الله د دين او د رسولانو امداد كوی.

اِنَّ اللهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ : الله پاك دا سے طاقتور او غالب دے چه هغه د دين دشمنان په يو ساعت كښ ختمولے شی ليكن الله تعالیٰ د ابتلاء او امتحان د پاره په اهلِ اسلام او ايمان باندے د كافرانو سره جهاد فرض كړے دے.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرٰهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي
او مونږ او لیږلو لوئے نوح ؑ او ابراهیم ؑ او اوموکړځوله ده هغوی دواړو
ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَ
په اولاد کښې پیغمبری او کتاب پس ځنې په کښې په سمه لاره دی او
كَثِيرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ
ډیر په کښې نافرمانه دی۔ بیا روستو اولیږل مونږ د هغوی په قدمونو باندې
بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاٰتَيْنٰهُ
لوئے پیغمبران او روستو اولیږلو مونږ عیسیٰ د مریم ځوئے او هغه ته مو ورکړو
الْإِنْجِيلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ
انجیل ، او کینښودله مونږ هغه سره د چلیدونکو په زړونو کښې
رَأْفَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَرَهْبَانِيَّةَ ۨ ابْتَدَعُوهَا مَا
نرمی او مهربانی ، او یو پریخودل د دنیا کوم چې هغوی نوے ځان راویستے وه ، مونږ
كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا
نه وه لیکلے دا په هغوی باندې لیکن وے کړې د الله د رضا طلب کولو د پاره ، پس لحاظ ئے
رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِينَ اٰمَنُوا
او نکړو د هغې ځنګه چې په کار وو د هغې لحاظ ، پس ورکړه مونږ هغه خلقو ته ئے ځوراک چې په هغوی
مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُونَ ﴿٢٧﴾ يٰٓأَيُّهَا
کښې مومنان وو بدله د هغوی ، او ډیر په خلقو کښې نافرمانه دی ۔ اے
الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوا بِرَسُولِهِ يُؤْتِكُمْ
مومنانو الله او ویریږئ د الله نه او یقین اوکړئ د هغه په رسول باندې درته به درکړی
كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهِ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُورًا
دوه حصې د خپل رحمت نه او او به ګرځوی ستاسو د پاره رڼا چې

تَمْشُوْنَ بِهٖ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾

هغې سره به تاسو ځئ او تاسو به معاف کړي، او الله معاف کوونکې دے مهربانه دے

لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ

دے دپاره چه معلومه نکړي اهل کتاب چه نشي موندلے څه خیز

مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَ اَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ

د الله د فضل نه او دا چه لوئے فضل د الله په لاس کښې دے ورکوي ئے

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾ ع

چا ته چه او غواړي او د الله فضل لوئے دے۔

نکات: بیان د تیر شوی اجمالی ایت تفصیل۔

موضح قرآن ف۱ دا د فقیرئ او ترک دُنیا رسم نصارا وُ راوویسته ځنګل کښې به ئے تکیه جوړه کړه په هغې به ناست وو، نه به ئے ښځې وه او نه ئے اولاد او نه به ئے د دُنیا کار کسب کولو (بس صرف عبادت به ئے کولو) نه به ئے د خلقو سره خبرے کولے۔ الله تعالیٰ په بندګانو باندې دا حکم نه وو فرض کړے لیکن چه کله ئے خپلو ځانونو باندې د تارک دُنیا نوم کیښودو، بیا ئے دے پرده کښې دنیا غوښتله۔ نو دا دیره لویه ګناه ده۔ ف۲ یعنی د دغه رسول تابعدارئ چه دا نعمتونه بیا مومئ، د نورو نه علاوه د هر عمل ثواب دوچند حاصل کړئ اوړنړا اخستلو سره ګرځئ یعنی ستاسو وجود به روښانه شي۔ ف۳ یعنی اهل کتاب به د پیغمبرانو حالات واؤریدل او ارمانونه افسوسونه به ئے کول چه مونږ خو د هغوی نه ډیر لرے پریوتلو او هغه درجات مونږ ته ملاویدل محال دی نو الله پاک دا پیغمبر راولیږلو، د دوی په صحبت او ملګرتیا کښې د مخکنو نه دوچند ثواب او کمال ملاویږے شي او د الله فضل نه دے بند شوے۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی محمد صلی الله علیه وسلم باندې۔
ف۲ یعنی محمد صلی الله علیه وسلم باندې۔

تفسیر ۲۸ے وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا: دا په تیر شوی ایت کښې اجمال دپاره تفصیل دے۔ مونږ نوح او ابراهیم ته رسالت او نبوت ورکړو او بیا مونږ د هغوی په اولاد کښې هم د رسالت نبوت او وحی

سلسله جاری کړه او د هغوی په اولاد کښې مو په زرګونو پیغمبران راولیږل لیکن د دے باوجود د هغوی ټول اولاد په هدایت باندې قائم پاتے نشول. په هغوی کښې ځنے خو د انبیاء علیهم السلام د تعلیما تو مطابق په هدایت او توحید باندې قائم پاتے شول لیکن اکثر د صراط مستقیم نه بے لارے شول په کفر، شرک او کبیرا هیئ کښې مبتلا شول: ای خارجون عن الصراط المستقیم۔ (روح)۔

۲۹ ثُمَّ قَفَّيْنَا: د هغوی نه روستو مونږه پرله پسے پیغمبران راولیږل تر دے چه په بنی اسرائیلو کښې مو د ټولو نه روستو عیسیٰ بن مریم علیه السلام راولیږه او په هغه باندې مو انجیل کتاب نازل کړو چه په هغے کښې د توحید د مسئلے او د شریعت د نورو احکامو بیان وُو۔ کومو خلقو چه د عیسیٰ علیه السلام تابعداری اوکړه مونږ د هغوی په زړونو کښې محبت او الفت پیدا کړو او هغوی خپل مینځ کښې یو بل سره ډیر د محبت او دوستئ سلوک کولو۔

وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا: رهبانیت، ګوشه نشینی او عبادت، د خلقو نه ځان لرے اختیارول او د الله تعالیٰ په عبادت کښې مشغولیدل۔ دا منصوب علیٰ شریطة التفسیر محذوف دے:

منصوب بفعل مضمر یفسره الظاهر ای وابتدعوا رهبانیة۔

(روح ج ۲۷ ص ۱۹۰)

اِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ: په کَتَبْنٰهَا کښې د ضمیر مفعول نه بدل دے یعنی د عیسیٰ علیه السلام د تابعدارانو نه بوے ډلے رهبانیت د خپل ځان نه جوړ کړے وُو۔ مونږ هغه په دوی باندې او نه وُو فرض کړے، مونږ خو په دوی باندې د الله رضا طلب کول فرض کړی وُو لیکن کوم شے چه هغوی پخپله ځان باندې فرض کړے وُو اخر هغوی د هغے حق هم ادا نکړو او په رهبانیت باندې ئے پوره عمل اونکړو: والمعنی ما کتبنا علیهم الا ابتغاء رضوان الله۔ (قرطبی)۔ یا استثناء منقطع ده یعنی رهبانیت مونږ په هغوی باندې نه وُو فرض کړے بلکه هغوی پخپله د الله پاک رضا طلب کولو د پاره هغه پخپل ځان باندې لازم کړے وُو لیکن بیا ئے هم د هغے حق ادا نکړے شو:

استثناء منقطع ای ما فرضناها نحن علیهم رأسا ولکن ابتدعوها والزموا انفسهم بها ابتغاء رضوان الله تعالیٰ۔ (روح)۔

یا استثناء متصل ده یعنی رهبانیت هغوی د ځان نه جوړ کړے وُو او مونږ د رضائے الٰهی حاصلولو د پاره په دوی مقرر کړے وُو:

استثناء متصل والمعنی انما تعبدناهم بها الاعلیٰ وجه ابتغاء مرضاة الله تعالیٰ۔ (کبیر)۔

په شروع کښې چه کومو خلقو رهبانیت اختیار کړے وُو د هغے وجه دا وه

چه هغه خلقو نه د جهاد طاقت لرلو او نه د أمر بالمعروف (یعنی تبلیغ). نو هغوی په کوټ کښې ناسته اختیار کړه لیکن روستو دغه خلقو د دے رعایت اونکړے شو۔

۳۰ف فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : دینه د عیسیٰ علیه السلام مخلص او قربانی ورکونکی حواریین مراد دی. چا چه د حق دین په خاطر جهاد اوکړو او د حق دین دعوت ئے خلقو ته ورکړو او د دین عیسوی ریښتونے اتباع کوونکی وو۔ حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: اے ابن مسعوده! بنی اسرائیل دوه اویا ډلوکښ تقسیم شول، په هغوی کښ صرف درے ډلے بچ پاتے شوے، باقی ټولے هلاکے او جهنمی اوګرځیدلے. اوله هغه چه د عیسیٰ علیه السلام دعوت ئے قبول کړو او د دشمنانو په مقابله کښ ئے د هغه امداد اوکړو او د کافرانو سره ئے جهاد اوکړو. د هغه خلقو باره کښ راغلی دی : فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ٥ (صف - ع ۲)۔

دویمه هغه چه د جهاد کولو طاقت ئے نه لرلو لیکن امر بالمعروف او نهی عن المنکر به ئے کولو. دریمه هغه چه د دے دواړو کارونو طاقت ئے نه لرلو، هغوی ګوشه نشینی او رهبانیت اختیار کړو او د الله تعالیٰ په عبادت کښ مشغول شول :

یا ابن مسعود ! اما علمت ان بنی اسرائیل تفرقوا (ثنتین و) سبعین فرقة کلها فی النار الا ثلاث فرق، فرقة اٰمنت بعیسیٰ علیه السلام وقاتلوا اعداء الله فی نصرته حتی قتلوا، وفرقة لم یکن لها طاقة بالقتال فامروا بالمعروف ونهوا عن المنکر، وفرقة لم یکن لها طاقة بالامرین، فلبسوا العباء وخرجوا الی القفار والفیافی (روح ج ۲۷ ص ۱۹۲ و کبیر، ج ۸ ص ۱۳۵ واللفظ له بتغییر)۔

وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ٥ : د دے درے واړو فرقو نه علاوه باقی اکثر د سمے لارے نه بے لارے شول په کفر او شرک او تثلیث او درے خدایانو منلو کښ اخته شول.

۳۱ف يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : دا خطاب یهودو او نصارا و ته دے چا چه په موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام باندې ایمان راوړے وو۔ دوی ته ئے وفرمائیل د الله تعالیٰ نه اویریږئ او حق خبره مه پټوئ او د الله په آخری پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړئ، الله تعالیٰ به درته دوچند رحمتونه او دوچند اجر او ثواب درکړی او د قیامت په ورځ به درله

رنړا در کړې چه په هغې کښې به تاسو روان يئ او ستاسو ټول تېر شوي
ګناهونه به معاف کړي ځکه چه هغه ډېر زيات بخښونکے او مهربانه دے.
دوچند اجر او ثواب ځکه چه ثواب خو به وي په تېرشوي پېغمبرانو باندې د
ايمان راوړلو او دويم ثواب به وي په حضرت خاتم النبيين ﷺ باندې
د ايمان راوړلو.

المعنى يا ايها الذين امنوا بموسىٰ وعيسىٰ عليهما السلام، امنوا
بمحمد صلى الله عليه وسلم ---- يؤتكم نصيبين من رحمته نصيبًا
على ايمانكم بمن امنتم به اولًا ونصيبًا على ايمانكم بمحمد
صلى الله عليه وسلم اخرًا - (روح ج ۲۷ ص ۱۹۲).

۳۲ لِئَلَّا يَعْلَمَ: په لا کښې دوه قوله دي- اول دا چه لا زائده تاکيد
دپاره دے- د اهلِ کتابو دا خيال وو چه د رسالت، نبوت او وحي رباني مستحق
صرف بني اسرائيل دي بل څوک نه دي- ددې وجې نه اوس هم کچرې
يو پيغمبر راځي نو په بني اسرائيلو کښې به راپيدا شي. تو د هغوی د باطل
خيال رد ئې اوفرمائيلو چه مونږ په محمد صلى الله عليه وسلم باندې د ايمان
راوړونکو سره د دوچند اجر و ثواب وعده ځکه کړيده چه اهلِ کتابو
ته ستاسو د نبوت يقين اوشي او هغوی ته معلومه شي چه د الله پاک
د فضل او احسان تقسيم د هغوی په قدرت او اختيار کښې نه دے بلکه
د الله تعالىٰ په اختيار او تصرف کښې دے، هغه چه ئې چا ته اوغواړي
ورېه ئې کړي، هيڅوک د هغې بندونکے نشته.

دوئيم دا چه لا زائده دے- دے صورت کښې به د يقدرون ضمير
فاعل د نبي عليه السلام او مؤمنانو نه کنايه وي يعني دے دپاره چه
اهلِ کتاب دا خيال اونکړي چه پيغمبر عليه السلام او اهلِ اسلام د الله تعالىٰ
د فضل او احسان مستحق نه دي؛

والتقدير: لئلا يعلم اهل الكتاب ان النبي (صلى الله عليه وسلم)
والمؤمنون لا يقدرون على شيءٍ من فضل الله- (كبير).

ليکن حضرت شيخ قدس سره فرمائي چه دے صورت کښې هم د يَقْدِرُوْن
ضمير اهلِ کتابو طرفته راجع دے او مطلب دا دے چه اهلِ کتاب دا
خيال اونکړي چه اوس زمونږ څوک امام او پيشوا نشته، نو اوس
مونږ جهاد د چا سره د الله تعالىٰ فضل او رضامندي نشو حاصلولے.
اوس خاتم النبيين صلى الله عليه وسلم تشريف راوړے دے، لهذا په
هغوی باندې ايمان راوړئ او هغوی سره ملګري شئ او د الله پاک د
دين د سربلندئ او د توحيد د اشاعت دپاره جهاد اوکړئ، الله تعالىٰ

به تا سو ته خپل فضل او رحمت درکړي. هغه سره د هیڅ څیز کمے نشته. او نه هغه د فضل او احسان هیڅ انتهاء نشته ؛

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ

سورة الحدید کښې د توحید ایتونه

او

د هغے خصوصیات

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ــ تا ــ وَهُوَ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ○ : نفي د شرك اعتقادي او بیان د درے مراتبو د توحید. د دوو صراحةً او د یو ے تبعاً ؛



سُوْرَةُ الْمُجَادِلَةِ

ربط سورۀ مجادله، حشر، ممتحنه او صف دا څلور واړه د سورۀ محمد په دویم مضمون یعنی ترغیب الی القتال فی سبیل الله پانې متفرع دي او دویم سورت د مسئلۀ توحید د بیان نه شروع شویدے د پاره د دے چه اصل مقصود مخکښې ته وی۔

خلاصه په طور د تمهید د ظهار د مسئلې بیان، د منافقانو په متراتو پانې زجرونه، د منافقانو د اصلاح د پاره درے قوانین، په شروع او اخر کښې د منافقانو د پاره تخویف دنیوی او اخروی۔

تفصیل

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ ــ تا ــ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝: د تمهید په طور د ظهار د مسئلې بیان دے کوم چه د کافرانو او منافقانو د پاره د طعن مبدأ وه۔ هغوی او وئیل گورئ جی! دا څنګه پیغمبر دے چه هغه د ښځې د ښځې شوهر مور سره نکاح جائز کړه۔ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ ــ تا ــ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ زجر او تخویف اخروی او دنیوی منافقانو او کافرانو د پاره۔ کوم کافران او منافقان چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ﷺ په احکامو پانې طعن او عیب لګوی او د هغے مخالفت کوی هغوی به په دنیا کښې هم ذلیله او رسوا وی او په اخرت کښې هم ورله د ذلت نه ډک عذاب تیار دے۔

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ (الآیة ــ ع ۳) اول زجر د پاره د منافقانو۔ دا زجرونه د اول درجے منافقانو او سرداړانو د پاره دی۔ دے خلقو به د جهاد ناکامولو د پاره پټے مشورے کولے او پروګرامونه به ئے جوړول حالانکه د دوی هیڅ یوه مشوره هم د الله تعالیٰ نه پټه نه وه۔ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى (الآیة): دویم زجر دے منافقانو د پاره۔ د هغوی د باطن خبث او پلیتی او د زړۀ عناد د ومره زیات شویدے چه باوجود د دے چه دوی د دا سے مشورو نه منعه کړے شویدی لیکن بیا هم نه منع کیږی او باقاعده د اسلام او پیغمبر علیه السلام او د جهاد خلاف منصوبے جوړوی او بیا د نبی کریم ﷺ په مجلس کښې د حاضرئ په وخت هم ډیره بد تمیزی او بے ادبی کوی۔

يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا تَنَاجَيْتُمْ ـ تا ـ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ: اول قانون دپاره د اصلاح د مؤمنانو . دے ایت کښې خطاب دے مؤمنانو ته لیکن مقصود د منافقانو اصلاح ده . وے فرمائیل هر کله چه مشوره کوی نو د نیکو کارونو مشوره کوئ، او د شر فساد خورولو، د اسلام د دشمنئ او د پیغمبر علیه السلام د مخالفت مشورے مه جوړوئ . يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا قِيلَ الخ: دا دوم قانون دے . منافقان به د نبی علیه السلام مجلس ته راتلل او بالکل نزدے به کیناستل او د اکابرینو اولوئے شان والا صحابه کرام رضی الله عنهم راتللو سره به ئے هم هغوی ته ځائے نه ورکولو نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه مجلس کښې راتلونکو ته ځائے ورکوئ.

يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا نَاجَيْتُمُ ـ تا ـ وَاللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ، دا دریم قانون دے . ځنے منافقانو به نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مجلس نه جدا کړو او پټے خبرے به ئے ورسره کولے دپاره د دے چه خلق دا اوګنړی چه دا خو ډیر خاص او مخلص خلق دی نو الله تعالیٰ حکم ورکړو چه کله د محمد صلی الله علیه وسلم سره ځنه مشوره کوی نو اول د الله تعالیٰ په لاره کښې صدقه ورکړئ دے دپاره چه په کارونو کښې مو برکت وی .

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا ـ تا ـ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَٰنِ هُمُ الْخَٰسِرُونَ .

(ع ۳): په اخر کښې د منافقانو دپاره زجر او تخویف دنیوی او اخروی دے . دوے به بخته منافقانو مسلمانانو سره د زړهٔ دوستی لرلے بلکه د الله تعالیٰ دشمنانو سره ئے دوستی ده . د دوے دو رنګه طریقے نه به دوی ته هیڅ فائده نه وی بلکه په دنیا او اخرت کښې به تاوان اخلی .

إِنَّ الَّذِينَ يُحَآدُّونَ (الآية): د دے تعلق د سورت د ابتدا سره دے . كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِىٓ (الآية): د فتحے زیرے مؤمنانو دپاره . لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ (الآية): د مخلص مؤمنانو مدح او بشارت اخرویه . د مخلص مؤمنانو شان دا دے چه هغوی د الله تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د دشمنانو سره دوستی نکوی اګرکه هغوی ئے ډیر نزدے رشته دار وی . الله تعالیٰ د هغوی نه راضی دے او هغوی ته به دومره انعامات او اعزازات ورکړی چه هغوی به هم راضی شی .

سُورَةُ الْمُجَادِلَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَانِ وَعِشْرُونَ آيَةً وَثَلٰثُ رُكُوعَاتٍ

دا سورة مجادله مدینه کښې نازل شو او دیکښې دوویشت ۲۲ آیتونه او درې رکوعګانې دي:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

شروع د الله په نوم چه بیحده مهربان نهایت رحم کونکے دے.

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا

یقینا واوریدلو الله خبره د هغه ښځې چه جګړه وے کوله تا سره د خپل خاوند په حق کښې

وَتَشْتَكِي إِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۚ

او فریاد یے کولو د الله په وړاندې او الله اوریدو سوال او جواب ستاسو دواړو،

إِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿١﴾ الَّذِينَ يُظٰهِرُونَ مِنْكُمْ

بیشکه الله اوریدونکے لیدونکے دے کوم خلق چه مور او وائي ستاسو

مِنْ نِسَائِهِمْ مَا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ

خپلو ښځو ته هغوی نه ګرځي د هغوی میانې ، د هغوی میانې نه خو هغه دي

إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنْكَرًا مِنَ

چه دوی زیږولے دي او هغوی وائي یوه ناخوښه

الْقَوْلِ وَزُورًا ۚ وَإِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٢﴾ وَالَّذِينَ

خبره او دروغ ، او الله تعالیٰ معاف کونکے بخښونکے دے. او کوم خلق چه

يُظٰهِرُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا

مور او وائي خپلو ښځو ته ، بیا کول غواړي هغه کار کوم چه یے ویلے دے

فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا ۚ ذٰلِكُمْ

نو آزادول پکار دي یو غلام لره مخکښې د دے نه چه خپل مینځ کښې یو بل ته لاس وروړي، دے سره به

تُوعَظُونَ بِهِ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٣﴾ فَمَنْ

تاسو ته نصیحت وي، او الله خبر دے د هغه نه کوم چه تاسو کوئ ﴿۲﴾ . پس کوم شخص چه

لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ

نه بیا مومی نو روژے دی شه دوه میاشتے پرله پسے مخکښې ددے نه

أَنْ يَتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّيْنَ

چه خپل میرمن کښې یو بل مسه کړی، پس څوک چه دا نشی کولے نو روټئ ورکول دی شپیتو (۶۰)

مِسْكِيْنًا ۭ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۭ وَتِلْكَ

مسکینانو ته، دا حکم دے دپاره دے چه تابعدارئ شئ دَ الله او دَهغهٔ دَرسول ﷺ، او دا

حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ④ اِنَّ

پولے تړلے دی الله، او کافرانو دپاره عذاب دے دردناک ۳۔ کوم

الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا

خلق که چه مخالفت کوی دَ الله او دَهغهٔ دَرسول ﷺ، هغوی خوارشول لکه چه

كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۭ

خوارشوی وو هغه خلق چه ددوی نه مخکښې وو، او مونږ نازل کړیدی آیتونه ډیر واضح

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ⑤ ۚ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ

او منکرینو دپاره عذاب دے دَرسوا ئئ۔ په کومه ورځ چه به الله راپاڅوی هغوی

جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۭ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ۭ

ټولو لره بیا به ورته خبرورکړی دَهغوی دَکارونو، الله هغه ټول شمارلی دی او هغوی هیرکړیدی

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ⑥ ع

او دَ الله په وړاندې دے هر څیز۔

نکات:۔ ۱ ذِکر دَ ظهار دَحکم په طور دَتمهید دپاره ۲ دَزجرونو دَ منافقانو۔ ۲ بیان دَکفارے دظهار۔ ۳ دَکفارے ړومبئ صورت۔ ۴ دویم صورت۔ ۵ دریم صورت۔ ۶ زجر دپاره دَ کافرانو او منافقانو او تخویف دُنیوی و اُخروی۔

موضح قرآن:۔ ف ا دا اسلام نه مخکښې (په زمانه دَجاهلیت کښې) چه

به سړی ښځې ته اُووئیل ته ځما مورې یې نو هغه به پرے ټول عُمر حرامه شمارلے شوه۔ دَ نبی علیه السلام په وخت کښې یو مُسلمان خپلے بی بی ته دا وُوئیل، بیا دوارهٔ پښیمانه وُو۔ دغه زنانه نبی علیه السلام ته راغله۔ نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل اُوس چرته یو ځائے کیدلے شئ۔ هغې زاری فریاد شروع کړو چه کور هم تباه کیږی اولاد هم پریشانه کیږی۔ دے باره کښې دا حکم نازل شو وے فرمائیل چه زیږ وُلے ته دے هغے مور ځنګه کیدے شی لیکن دَ خپلے کسنا خنئ په بد له کښې دِ کفاره ورکړی۔ نو هغې بی بی ته که دے ورځی بانه ورځې خو بهر حال بی بی ئے ده۔

نیغ ته مور یا خور یا لو ته ظهار وائی۔ ف۲ بیائے کول غوښتل د هغه کار کوم چه ئے وئیلی دی یعنی دائے غلط وئیلی دی که صحبت کول غواړی نو اول مرئیه ازاده کړی ف۳ که دَ مرئی ازادولو طاقت لے وی نو روژه نشته، او دَ روژے نیولو طاقت ئے وی نو دوه میاشتی ورکول نشته۔ طعام ورکول په اخر کښې دی۔ یعنی ورکوی نو اِنګولے او روټئ دِ دوه وخته ورکړی په مړه خیټه او که چرے غله ورکول غواړی نو هر یو مسکین ته دِ دوه سیره غنم ورکړی۔

فتح الرحمن ف۱ یوے بی بی ته خاوند اُووئیل: "اَنْتِ عَلَیَّ کَظَهْرِ اُمِّیْ"۔ ته په ما باندے ځما دَ مور پشا ان یے۔ دغه زنانه دَ نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضره شوه او دا واقعه ئے عرض کړه۔ نبی علیه السلام اُوفرمائیل ته ورباندے حرامه شوے یے۔ دغے مالدارے او بال بچه دارے بی بی عرض اوکړو۔ نو الله تعالیٰ دا ایت نازل کړو۔ ف۲ یعنی تشبیه ورکوی خپلو بیبیانو ته دَ میندو دَ شا ګانو سره۔

تفسیر ۲ قَدْ سَمِعَ اللهُ: دَ ظهار دَ حکم بیان په طور دَ تمهید دپاره دَ زجر دَ منافقانو۔ دَ ظهار نه مُراد دا دے چه سړے دَ خپلے بی بی تشبیه دَ مور یا دَ یوے محرمے زنانه دَ شا سره ورکړی۔ دَ جاهلیت په زمانه کښې به ظهار طلاق ګرځولے شو او دَ ظهار نه پس به ښځه بیخی جُدا ګڼلے شوه۔ دَ ظهار دَ حکم نازلیدو نه مخکښې په اسلام کښې هم دا طلاق ګڼړلے شو: وکان الظهار بالمعنی السابق طلاقًا فی الجاهلیة، قیل واول الاسلام۔ (روح ج ۲۸ ص ۲)

دَ یو سړی چه نوم ئے اَوس بن صامت رضی الله عنه وُو، دَ خپلے بی بی خوله بنت ثعلبه بن مالك رضی الله عنها سره ئے په څه معامله کښې تکرار اوشو نو هغهٔ دَ دے سره ظهار اوکړو بیا روستو پښیمانه شو۔ دَ هغهٔ بی بی دَ نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضره شوه عرض ئے اوکړو، یا رَسُولَ الله! اَوس په ځوانئ کښې ما سره واده اوکړو او اوس چه څهٔ بوډی او بال بچه داره شوم نو هغهٔ ځما تشبیه مور سره ورکړه او څهٔ ئے پریښودم۔ ځما حالت ډیر قابلِ رَحم دے۔ نبی علیه السلام اُوفرمائیل ځما رائے خو داده چه ته اُوس په هغهٔ باندے حرامه شوے یے: مَا اَرَاكِ اِلَّا قَدْ حَرُمْتِ عَلَیْهِ وَلَمْ اُؤْمَرْ فِیْ شَانِكِ بِشَیْءٍ۔ (خازن و معالم ج ۷ ص ۳۲)۔ هغې بیا بیا

عرض کړلو، یارسول الله! بچړے ما دَپاره څهٔ صورت وی چه څهٔ دوباره دَاوس کور وَدان کړم؟ ځو نبی علیه السلام به هرځل همدا جواب ورکړلو او دے ماجرے به دالله تعالیٰ په وړاندِ منت او زاری سره دَ خپل مصیبت اظهار کړلو۔ دَ نبی علیه السلام او دَ دغه زنانه په مینځ کښې بیا بیا سوال او جواب اوشو او هغې به هرځل الله پاک ته درخواست او فریاد کړلو۔ آخر الله تعالیٰ دهغې زاری او فریاد قبول کړو او دَ ظهار دَ کفارے حکم ئے نازل کړو چه دَ ظهار دَ کفارے نه پس هغه دوباره دَ خپل خاوند سره وسیدلے شی۔

سَمِعَ کښې دَ سماع نه مجازًا قبول او جواب ورکول مُراد دی: والسماع مجاز عن القبول والاجابة۔(روح)۔ الله تعالیٰ دَ هغه ښځے دُعاء او فریاد قبول کړو چه دَخپل خاوند باره کښې ئے تاسره تکرار کولو او دَ الله تعالیٰ هم ستاسو سوال او جواب اوریدهٔ ځکه چه الله تعالیٰ ټول هرڅهٔ اوری او دَ هرڅهٔ نه خبر دے۔ یَسْمَعُ مضارع دپاره دَ ماضی استمراری ده او اِنَّ اللهَ سَمِیْعٌۢ بَصِیْرٌ ۝ جمله ما قبل دپاره په منزله دَ علت ده۔

۳ اَلَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ ۝: دا ظهار کونکو ته تنبیه او دَ اصل حقیقت اظهار دے کوم خلق چه دَ خپلو بیبیانو سره ظهار کوی او بیا دا خیال کوی چه اوس هغوی په دوی باندې دَ میاندو پشان حرامے شویدی، دا خیال غلط دے۔ ظهار سره ښځے میانے نه جوړیږی۔ میانے خو هغه دی چه دوی ئے زیږولی دی۔ دوی دَ خپلو بیبیانو تشبیه دَ میاندو سره ورکولو کښې دَ شریعت نه خلاف کار او او بالکل غلطه خبره دَ خلې نه راوباسی لیکن کوم خلق چه توبه کړی نو الله تعالیٰ به محض په خپله مهربانی سره دَ هغوی ګناه معاف کړی۔

(مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ) ینکره الشرع والعقل والطبع ایضا (وَزُوْرًا) و کذبا باطلا منحرفا عن الحق۔(روح، مدارک)۔

په دے باندې منکرینو دَ عناد دَ وجے نه طعن او عیب او لګولو چه دا خو بنهٔ شریعت دے چه چاته ئے یو ځل مور اُووئیله هغه ئے بیا ښځه او ګرځوله لیکن دا اعتراض بالکل غلط دے ځکه چه دَ ژبے یو غلط خبر او دَ واقع نه خلاف خبرے وئیلو سره حقیقت نشی بدلیدے۔

۴ وَالَّذِیْنَ یُظٰهِرُوْنَ: دا دَ ظهار دَ کفارے بیان دے۔ دَ ظهار دَ کفارے درے صورتونه دی۔ دے آیت کښې اولنے صورت بیان شوے دے۔ لِمَا قَالُوْا ای لنقض ما قالوا (مدارک) فَتَحْرِیْرُ رَقَبَةٍ، دا دَ مقدر خبر مبتدا ده: ای فعلیهم تحریر رقبة۔(مظهری) یعنی کوم خلق چه دَ خپلو بیبیانو سره ظهار اوکړی لیکن دَ هغے نه روستو هغوی خپله خبره ختمول او واپس کول غواړی نو په هغوی باندې دَ کفارے په طور یو غلام آزادول لازم دی لیکن

شرط دا دے چه دَ ظهار نه پس بنځے ته دَ نزدیکت کولو نه وړاندِ دِ غلام آزاد کړی. دا دَ کفارے ورکولو حکم تاسو ته دَ تنبیه په طور درکولے شی دپاره دَدے چه تاسو په راتلونکی وخت کښ دَدے بد کار ارتکاب دوباره او نکړی او الله تعالیٰ ستاسو دَ ټولو کارونو نه ښهٔ خبر دے، هغهٔ ته ښهٔ معلومه ده چه څوک دَ هغهٔ دَ شریعت تابعداری کوی او څوك ئے نکوی. ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ای تزجرون به (ابن کثیر، ج ۴ ص ۳۲۱).

۵ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ: دَ ظهار دَ کفارے دویم صورت. دچا چه مالی حالت کمزورے وی او هغه دَ غلام آزادولو طاقت نهٔ لری په هغهٔ باندِ پرله پسے دوه میاشتے روژے نیول لازم دی. په دیکښ یو شرط دا دے چه بی بی ته دَ نزدیکت کولو نه وړاندِ دوه میاشتے روژے اُونیسی. دویم شرط دا دے چه روژه پرله پسے اُونیسی، مینځ کښ قضا ئی رانهٔ ولی. که یو کس دَ دوو میاشتو په مینځ کښ یوه ورځ هم قضا ئی راوستله یا ئے دغه دوران کښ دَ بی بی سره کوروالے اوکړو چا سره ئے چه ظهار کړے دے نو په دواړو صورتونو کښ به بیا دَ سره نه دوه میاشتے پرله پسے روژے نیول ضروری وی.

۶ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ: دا دَ کفارهٔ ظهار دریم صورت دے. کچرے یو سړے دَ بیمارئ یا دَ بوډاوالی یا دَ بل کوم مانع په وجه دَ روژو نیولو طاقت نهٔ لری نو هغهٔ دپاره دَ کفارے اداکولو صورت دا دے چه شپیتهٔ مسکینانو ته دِ روټئ ورکړی. دَدے څو صورتونه دی: اول دا چه شپیتهٔ مسکین نه شپیتهٔ ورځے دوه وخته په مړه خیټه روټئ ورکړی. دویم دا چه شپیتهٔ مسکینانو ته یوه ورځ کښ دوه وخته په مړه خیټه روټئ ورکړی. دریم شپیتهٔ مسکینانو ته سړی سر څلور سیره وړبشے یا دَ وړبشو اوړه یا دوه سیره غنم یا دَ غنمو اوړهٔ ورکړی. دَدے صورتونو نه چه هر یو صورت اختیار کړی نو کفاره به ادا شی. دَ کفارهٔ ظهار په دریم صورت کښ په کوروالی باندِ دَدے مخکښ والے شرط نهٔ دے که چا یو مسکین ته یوه میاشت یا کم و زیات روټئ ورکړه، دَ هغے نه پس ئے بی بی سره کوروالے اوکړو نو په دیکښ هیڅ حرج نشته. روټئ ورکول به بیا دَ سر نه لازم نهٔ وی. ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ: دا احکام او شرائع دَ الله حدود دی چه دَدے پابندی کول دَ مؤمنانو طریقه ده لیکن کافران چه دَ الله حدودو ماتولو او شرائع الٰهی باندِ عیب لګوی هغوی دپاره ډیر زیات دردناك عذاب تیار دے.

۷ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ (الآیة): دا آیت کافرانو او منافقانو دپاره زجر او تخویف دُنیوی او اُخروی دے. څوك چه دَ الله او رسول ﷺ مخالفت کوی او دَ شریعت په احکامو بد وائی، هغوی به په دُنیا کښ ذلیله او رسوا کولے شی څنګه چه دَ

تیر و شوی اُمتونو کافران رسوا کړے شو حال دا دے چه موږ د اسلام، قرآن، او پیغمبرِ اسلام په صداقت باندې واضحه او روښانه دلائل قائم کړیدی چه د انکار او مخالفت هیڅ گنجائش باقي پاتے نشي۔ الله تعالیٰ دے معاندینو لره په دُنیا کښې د مسلمانانو په لاس مختلفو موقعو کښې ډیر زیات ذلیله او رسوا کړل، په جنگِ بدر یا جنگِ احزاب کښې، یا دواړه مُراد دي۔ (بحر، روح)۔ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۞: دُنیا کښې د ذلت او ناکامۍ نه علاوه په آخرت کښې هغوی د پاره د دیته هم زیات عذاب تیار دے۔ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ، ظرف مُهِيْنٌ سره متعلق دے یا د لام متعلق سره۔ منصوب بالظرف المستقر اعنی للكفرين او بمهين۔ (مظهری ج ۹ ص ۲۲۱)۔ د قیامت په ورځ چه کله الله پاک هغوی ټول په میدان محشر کښې راجمع کړی نو د خپلو ټولو عملونو نه به ئے خبر کړی کوم چه دوی هیر کړیدی لیکن الله پاک سره د هغے ټولو عملونو تفصیلات محفوظ دي ځکه چه الله تعالیٰ د علم او قدرت په اعتبار سره هر ځائے موجود دے او هیڅ یو څیز د هغه نه پټ نشته ؛

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ ؕ

آیا تا اُونه لیدل چه الله ته معلوم دي څه چه دي په اسمانونو کښې او څه چه دي په زمکه کښې،

مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا

چرته نه وي مشوره د دریو چه هلته الله نه وي د هغوی څلورم او نه

خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَاۤ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَ

د پنځو چه هلته نه وي هغه شپږم د هغوی او نه د دے نه کم او

لَاۤ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ

نه زیات چه هلته هغه نه وي هغوی سره هر چرته چه وي هغوی بیا به ورته خبر ورکړی

بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ۞ ۷

په هغے کوم چه کړیدی د قیامت په ورځ ، بیشکه الله ته معلوم دے هر څیز۔

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ

آیا تا اُونه لیدل هغه کسان چه منع کړے شو د پټو خبرو نه وِلے بیا هم هغه کوی د

لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

کوم نه چه منع کړے شول او په غوږ کښې پټے خبرے کوي د ګناه او د زیاتي او د رسول ؐ نافرماني

الرَّسُوْلِ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ

نے او کړه او کله چه راشي تا ته نو دعا کوي تا ته کومه دعا چه نه ده درکړے تا ته

اللّٰهُ وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا

الله ، او وائي ف۷ په خپل زړه کښې ولے نه عذاب کوي الله مونږ له په هغه خبرو

نَقُوْلُ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ج يَصْلَوْنَهَا ج فَبِئْسَ

چه مونږ یے وایو ف۳ ، کافي دے دوی له دوزخ ، داخلیږي به هغے ته ، ډیر بد ځائے ته

الْمَصِيْرُ ⑧ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا

اورسیدل ف۸ اے مؤمنانو ! کله چه تاسو د غوږ خبرے کوئ نو مه کوئ

تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ

خبرے د ګناه او د زیاتي او د رسول ؐ د نافرمانئ

وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ط وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ

او خبرے کوئ د نیکئ او پرهیزګارئ ، او ویریږئ د الله هغه نه چه

اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ⑨ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ

ستاسو ورسره جمع کیدل دي ف۲ - دا کوم چه د غوږ خبرے دي نو دا د شیطان کار دے

لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا

د دې دپاره چه خفه کړي ایمان والا او دا به دوی ته هیڅ نقصان ورنکړي

اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ط وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑩

بغیر د الله د حکم نه ، او بیکار ده چه په الله بهروسه اوکړي مؤمنان ف۳ -

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي

اے مؤمنانو ! کله چه تاسو ته وویلے شي چه فراخوالے اوکړئ په

الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا یَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَ اِذَا قِیْلَ

مجلسونو کښې نا سته سره نو فراخوالے وکړئ، الله به فراخوالے اوکړی تاسو دپاره، او کله چه خلقو له اووائی چه

انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا یَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ

اودریږئ نو اُودریږئ، الله به اوچت کړی هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے ستاسو نه،

وَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

او چا ته چه علم ورکړے شوے دے ډیر درجے، او الله خبر دے په هغه څه چه

خَبِیْرٌ ﴿۱۱﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَیْتُمُ الرَّسُوْلَ

تاسو ئے کوئ۔ اے مؤمنانو! کله چه تاسو غوږ کښې خبره کول غوارئ د رسول ﷺ

فَقَدِّمُوْا بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَیْرٌ

نو ورانده اولیږئ د خپلے خبرے ویلو نه مخکښې خیرات، دا بهتره ده

لَّكُمْ وَ اَطْهَرُ ؕ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

تاسو له او ډیره پاکه ده، پس که چرے بیا نه مومئ نو الله بخښونکے

رَّحِیْمٌ ﴿۱۲﴾ ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَیْنَ یَدَیْ

مهربانه دے ورله۔ آیا تاسو ویریږئ له دے چه مخکښې اولیږئ د غوږ د خبرو

نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَ تَابَ اللّٰهُ

نه وړاندے خیراتونه، پس چه کله تاسو اونکړل او الله معاف کړی

عَلَیْكُمْ فَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ اَطِیْعُوا اللّٰهَ

تاسو نو اُوس قائم کړئ مونځ او ورکړئ زکوٰة او حکم اومنئ د الله

وَ رَسُوْلَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ خَبِیْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳﴾ ع

او د هغه د رسول ﷺ، او الله خبر دے په هغه کوم چه تاسو ئے کوئ۔

نکات: ۱ اولنے زجر۔ ۲ دویم زجر۔ ۳ د منافقانو اوبهو دپانو د شرارت ذکر۔ ۴ د منافقانو د اصلاح دپاره اولنے قانون۔ ۵ دویم قانون۔

لا دریم قانون۔

موضح قرآن

ف ۱ منافقان به د نبی علیه السلام په مجلس کښې کیناستل نو په غوږ کښې به ئې پټې خبرې کولې او د مجلس خلقو پورې به ئې ټوقې کولې او عیبونه به ئې لګول او چه د نبی علیه السلام خبره به ئې واوریدله نو ویل به ئې چه دا ګران او مشکل کار زمونږ نه نه کیږی۔ په سورۀ نساء کښې دا دے نه منعه شوے وه خو بیا به ئې هم هغه شان کول او دعا داوه چه یهود به راغلل نو د اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ په ځائے به ئې اَلسَّامُ عَلَیْكَ ویلو دا خیرے دی چه په تا دِ مرګ راشی۔ خپل مینځ کښې به ئې ویل چرے دا رسول دے نو په مونږ ولې عذاب نه راځی او کوم منافق به هم داسے ویلی وی۔ **ف ۲** سورۀ نساء کښې ذکر شوی دی چه په غوږ کښې کومه خبره کول بکار دی۔ **ف ۳** په یو مجلس کښې چه دوه کسان په غوږ کښې پټې خبرې کوی نو کتونکی دا ګنړی چه زمونږ نه څه حرکت شوی دے چه دوی داسے پټې پټې خبرې کوی۔ **ف ۴** دا د مجلس اداب دی چه څوك راشی او ځائے بیا نه مومی نو ټول دِ لږ لږ اوخوځی دپاره د دے چه د مکان حلقه فراخه شی یا پاسی او دریږی بله حلقه جوړه کړی، دو مره حرکت کولو کښې دِ غرور نه کوی۔ په نیك خوئیه بانړو الله پاك مهربانه دے او د بد خوئیه نه بیزاره دے۔

ف ۵ منافقانو به نبی علیه السلام ته په غوږ کښې بے فائدے خبرے کولې دپاره د دے چه خلقو ته خپله لوئی ښکاره کړی۔ نبی علیه السلام به د خپلو اوچتو اخلاقو په وجه نه منعه کول۔ کله چه دا حکم نازل شو نو منافقانو د بخل د وجے نه هغه عادت پریښودو، بیا هغه حکم هم منسوخ شو۔ **ف ۶** یعنی هغه حکم چه هرګز منسوخ نه دے په هغے باندِ عمل کوئ۔ معلومیږی چه چا دا حکم نه دے کړے چه منسوخ شو۔

فتح الرحمٰن

ف ۱ یعنی یهود چه مسلمانانو ته د ضرر رسولو دپاره به ئې پټې خبرے کولے۔ **ف ۲** یعنی د اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ په ځائے اَلسَّامُ عَلَیْكَ وائی یعنی په تا دِ مرګ راشی۔ **ف ۳** یعنی هرکله چه دا پیغمبر رښتونے دے نو په مونږ باندِ عذاب ولے نه راځی؟ **ف ۴** مترجم وائی دا حکم منسوخ دے په راتلونکی ایت سره۔ والله تعالیٰ اعلم۔

تفسیر

۸ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ: دا په ډیر زیات سرکشه اوسترین قسمه منافقانو باندِ او لیے زجر دے۔ دے منافقانو به د اسلام او مسلمانانو خلاف پټې پټې خبرے کولے او دا به ئې ګنړل چه د دوی د پټو خبرونه هیڅوك خبر نه دی حالانکه د دوی هیڅ یو سازش او منصوبه د الله پاك نه پټه نه ده، الله پاك ته خو د زمکے او اسمانونو هره خبره

معلومه ده او هیڅ یوه خبره د هغهٔ نه پټه نشته. بلجرته درے کسان څهٔ
پټه مشوره کوی نو څلورم ورسره الله تعالیٰ وی او که پنځه کسان څهٔ پټ پروګرام
جوړ وی نو هغوی سره هم الله تعالیٰ موجود وی. غرض دا چه د دے نه کم وی یا
زیات وی چرته هم چه څهٔ پټه مشوره کوی، الله تعالیٰ ورسره موجود وی او
د هرے خبرے نه ئے خبردار وی. ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا: دُنیا کښ خو به
هغه منکرشی چه مونږ خو هیڅ یو د مخالفت پروګرام نهٔ دے جوړکړے لیکن د
قیامت په ورځ به انکار نشی کولے په دغه ورځ به الله تعالیٰ د ګواهانو په
مخکښ (على رءوس الاشهاد) د دوی ټول بد عملونه ښکاره کړی ځکه چه
هغه په هر څیز باندے خبر دے او هیڅ خبره ترینه پټه نهٔ ده.

سله أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ: د ویم زجر منافقانو ته. حضرت ابن عباس
رضی الله عنهما فرمائی چه دا ایت د یهودو او منافقانو باره کښ نازل شوے دے.
قال ابن عباس رض نزلت فی الیهود والمنافقین. (قرطبی ج ۱۷ ص ۲۹۱). کله
چه به یو جماعت د مسلمانانو په جهاد کښ شریک وو نو منافقانو به د مسلمانانو
په مخکښ جدا ټولے جوړکړو او پس پس به ئے کول او په سترګو او لاسونو
سره به ئے د مسلمانانو طرفته اشارے کولے. د هغوی په وهم کښ به ئے
اچولهٔ چه د دوی رشته داران هلته شهیدان شویدی، اوس به هغوی واپس
نهٔ راځی. او کچرے یو مسلمان به ئے روان اولیدهٔ نو فوراً به ئے سر اوچت
کړو او د هغهٔ طرفته به ئے په سر او سترګو سره اشارے کولے او پټے پټے خبرے
به ئے کولے چه هغه دا اوګڼړی چه څما د قتل پروګرام برابروی او اویریږی.
د دوی دے قسمه شیطانی حرکتونو سره به مسلمانانو ته ډیر زیات تکلیف
رسیدهٔ. نو هغوی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښ حاضر شول او د دے
شکایت ئے اوکړو. نبی علیه السلام دغه منافقانو ته زورنه ورکړه او د دے قسمه
پټو خبرو نه ئے منعه کړل خو هغوی بیا هم منعه نشول. نو په دے ایت کښ هغوی
ته زورنه ورکړے شوه. (ابن کثیر، روح)

دا خلق څومره بد خویه دی چه د کوم جرم او ګناه نه منع کړے شول نو د
مخکښ نه زیات ئے هغه ګناه کوی. النَّجْوَىٰ کښ الف لام د عهد خارجی د پاره دے
یعنی د اسلام خلاف مشورے. لِمَا نُهُوا عَنْهُ: دوی منعه کړے شوی وو
چه د اسلام او مسلمانانو خلاف مشورے د نکوی لیکن دوی د دینه منعه
نشول او هم هغه شان به ئے داسے منصوبے جوړولے چه بالکل د اسلام خلاف
او ګناه وه او د هغې مقصد په مسلمانانو باندے ظلم او زیاتے کول او د پیغمبر
علیه السلام په مخالفت د دشمنئ باندے ګرمول دی.

سله وَإِذَا جَاءُوكَ: دا د منافقانو او یهودیانو بل شیطانی حرکت ذکر دے.

کله چه به هغوی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راتلل نو د سَلَامٌ عَلَیْكَ په ځائے به ئے
اَلسَّامُ عَلَیْكَ وئیلو۔ د اَلسَّام معنیٰ ده مرګ۔ حالانکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د
الله پاك له طرفه تحیه د سلام نازله شوے ده او امت ته هم د تحیهٔ سلام د
پیش کولو حکم دے لیکن یهود او منافقان د خپل باطن د کاملے پلیتئ اظهار
کوی او اَلسَّامُ عَلَیْكَ وائی۔ الله تعالیٰ د دوی په دے شیطانی عمل باندے په دے
ایت کښ زورنه اوفرمائیله۔

١١ وَیَقُوْلُوْنَ فِیْۤ اَنْفُسِهِمْ: او په خپل مینځ کښ وائی چه مونږ په دے طریقه
د محمد (صلی الله علیه وسلم) توهین او سپکا وے کوو۔ که هغه په حقیقت کښ د الله تعالیٰ
پیغمبر دے نو الله تعالیٰ مونږ ته د دے سزا ولے نه راکوی او زمونږ ته ئے ولے
ولے نه اخلی؟ ای یقولونه فیما بینهم لو کان نبیًّا لعاقبنا الله بما نقوله۔
(مدارک ج ٣ ص ١٧٧)۔ نو الله تعالیٰ اوفرمائیل حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ الخ که دوی تر
په دنیا کښ د دے شیطانی عملونو سزا ملاؤ نشوه نو څه اوشو؟ په اخرت کښ
د دوی د سزا د پاره دوزخ کافی دے چه هغے ته به دوی داخل کړے شی چه هغه
ډیر بد د استوګنے ځائے دے۔

١٢ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا تَنَاجَیْتُمْ: دا د منافقانو د اصلاح د پاره
اولنے قانون دے او خطاب دے منافقانو ته او د ایمان نه ایمان باللسان
مراد دے: ای اٰمنوا بألسنتهم وهو خطاب للمنافقین (مدارک)۔ یا
مؤمنانو ته تنبیه ورکول مقصود دی چه دوی د کافرانو او منافقانو په شان
نشی۔ قال الله تعالیٰ مؤدبًا عباده المؤمنین ان لا یکونوا مثل الکفرة
والمنافقین۔ (ابن کثیر، ج ٤ ص ٣٢٣)۔
خلاصه دا چه یو ګرام جوړولو سره مشوره مکوئ چه په کښ ګناه کوی یا د هغے
مقصد په مسلمانانو باندے ظلم او زیاتے کول وی یا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د
احکامو مخالفت وی بلکه همیشه په داسے کارونو کښ یو بل سره مشوره
کوئ کوم چه د نیکئ او تقوی کارونه وی یعنی د شریعت د احکامو تعمیل
کوئ او د شریعت د مخالفت نه ځان بچ اوساتئ او همیشه د الله تعالیٰ نه
ویریږئ چه د هغه په عدالت کښ به تاسو ټول راجمع کولو سره پیش
کولے شئ۔ (وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ) باداء الفرائض والطاعات وما یتضمن خیر
المؤمنین (والتقوٰی) ای الاحتراز من معصیة الرسول۔ (مظهری ج ٩ ص ٢٢٣)

١٣ اِنَّمَا النَّجْوٰی: الف لام عهد خارجی د پاره دے یعنی هغه مشوره کومه
چه مؤمنانو ته د ضرر رسولو د پاره اوکړے شی یعنی داسے مشورو باندے
شیطان تیزول کوی د پاره د دے چه په دے سره مؤمنانو ته تکلیف اورسیږی
او دوی ته ئے خفه شی لیکن ایمان والو ته نقصان رسول د شیطان د

وَس خبره نهٔ دهٔ، هغوی ته به هغه ضرر رسیږی کوم چه الله پاک مُقدر کړے وی او دَ ایمان والو اعتماد او بهروسه همیشه په الله تعالیٰ وی ځکه چه دَ هغهٔ دَ حکم نه بغیر هیڅ نقصان نشی کیدے -

١٤ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا قِيْلَ: دا دَ منافقانو دَ اصلاح دپاره دویم قانون دے. منافقان به په مجلس کښې رسُول الله صلی الله علیه وسلم ته نزدے کیناستل او ځائے به ئے بند کړلو تردے چه دا کابرو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم راتللو سره به ئے هم هغوی ته ځائے نهٔ پریخودلو او هم هغه شان به نبی علیه السلام ته نزدے ناست وُو او ځینې وخت به اکابرین صحابه رض دَ ځائے نهٔ ملاوېدو په وجه ولاړ پاتې شُو. په دے دا آیت نازل شو. وے فرمائیل: کله چه په مجلس کښې ځائے کافی وی او تاسو ته دَ ځائے ورکولو حکم اُوشی نو بیا نزدے شئ یو بل ته او ځائے ورکړئ. ستاسو نه چه کوم مخلص مؤمنان دی الله تعالیٰ به دَدے حکم په ځائے راوړلو باندې دهغوی درجات اُوچت کړی او په هغوی کښې چه کوم اهلِ علم دی دهغوی درجات به نور هم زیات اوچت کړی. حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی چه دَ نبی علیه السلام په مجلس کښې به منافقان هم وُو او ځینې وخت به دَ خاص کارونو اظهار دَ هغوی په وړاندې نقصاني وُو. په دے وجه ئے اوفرمائیل چه کله تاسو ته دَ پاسیدلو حکم درکړے شی نو پاسئ دِ دے دپاره چه منافقان هم دَ مجلس ته لاړ شي او نبی علیه السلام دَ اکابرین صحابو رض سره په اهمو کارونو باندې دَ خپلو خیالاتو اظهار اوکړی.

١٥ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَيْتُمُ: دا دَ منافقانو دَ اصلاح دپاره دریم قانون دے. ځینې منافقان چه په ظاهره مسلمانان شمارلی شو، دَ ریا کارئ دپاره به ئے نبی علیه السلام دَ نورو خلقو نه ځانله کړو او ورسره به ئے بے مقصده اُوږدې پټې خبرے کولے چه خلق دا خیال اُوکړی چه دا خو ډیر مخلص خلق دی او دنبی علیه السلام خاص سړی دی لیکن رسُول الله صلی الله علیه وسلم به دَ خپلو اُوچتو اخلاقو او دَ لوئے حوصلے په وجه هیڅوک نهٔ منع کول نو الله تعالیٰ دا حکم نازل کړو چه کله دپیغمبر صلی الله علیه وسلم سره څهٔ مشوره کول وی نو دَ مشورے نه مخکښې صدقه ورکړئ. دَدے حکم نازلیدو نه پس ریا کارو او منافقانو نبی علیه السلام سره پټې خبرے کول پریخودلے.

روی عن ابن عباس وقتادة ان قوما من المسلمین کثرت مناجاتهم للرسول علیه الصلوٰة والسّلام فی غیر حاجة الا لتظهر منزلتهم. وکان صلی الله علیه وسلم سمحا لا یرد احدا فنزلت هذه الآیة.

(روح ج ٢٨ ص ٣٠)

دَ رسُول الله صلی الله علیه وسلم سره دَ مناجاتو او پټو خبرو نه مخکښې صدقه ورکول بهتره خبره ده ستاسو دپاره او دَ نفسونو دَ پاکوالی ذریعه هم ده. فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا:

لیکن بیا سره چه دَ صدقه کولو دپاره څه خیز نۀ وی نو هغوی ته دَ صدقې کولو نه بغیر نبی علیه السلام سره مشوره کوی. الله تعالیٰ مهربانه دے، معاف به ئے کړی. دَ دے نه په ظاهره دَ صدقې کولو وجوب معلومیږی حکم چه دَ مشورے نه مخکښ دَ صدقې نۀ کولو رخصت هغه چا ته ورکړے شویدے چه مال ورسره نۀ وی. (روح) دا حُکم صرف یو څو ورځو یا یو څو ګهنټو دپاره جاری شو، روستو بیا منسوخ شو: قیل کان ذلک عشر لیال ثم نسخ و قیل ما کان الا ساعة من نهار ثم نسخ.
(مدارک ج ۴ ص ۱۷۸).

دے دوران کښ صرف حضرت علی رضی الله عنه ته په دے آیت باندے دَ عمل کولو موقع ملاؤ شوه مخکښ دَ دے نه چه بل کوم انسان په دے باندے عمل اوکړی. بیا دا آیت منسوخ شو. (ابن کثیر، مدارک وغیرهما). حضرت شیخ قدس سرهٗ فرمائی چه دَ صدقې دَ حکم نه روستو منافقان نبی علیه السلام سره دَ پټو اویے مقصدہ خبرو نه منع کړے شوی وُو. لهٰذا دَ مسلمانانو نه دَ آسانۍ دپاره دا حکم پورته کړے شو حکه چه اُوس به دَ مخکښ پشان منافقان دَ نبی علیه السلام سره دَ پټو خبرو نه شرمیدل چه دَ صدقې په دوران کښ به ئے مشورے نۀ کولے، لهٰذا اُوس به ئے هم نۀ کولے. دَ حضرت شیخ رحمه الله په نزد دا آیت منسوخ نۀ دے حکه چه دا حکم استحبابی وُو او دَ دے استحباب اُوس هم باقی دے. چه خپل مینځ کښ دَ مشورے کولو نه مخکښ څۀ صدقه ورکړے شی نو بهتره خبره ده.

۶ ءَاَشْفَقْتُمْ: آیا تاسو سره ویره ده چه دَ مشورے نه وړاندے صدقه کولو سره به تاسو محتاج شئ؟ بنهٔ ده نو کله تاسو په صدقه ورکولو باندے عمل اونکړو او الله تعالیٰ پغیر دَ څۀ وجے نه دَ مشورے کولو اجازت درکړے دے نو اُوس به فرائضو کښ کوتاهی مکوئ. مونځ قائموئ، زکوٰۃ ورکوئ او دَ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسُول صلی الله علیه وسلم منور اَحکام په ځائے راوړئ، الله تعالیٰ ستاسو دَ ټولو کارونو نه خبردے او دَ هر عمل پوره پوره سزا به درکوی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ

آیا تا هغه خلق اُونۀ لیدل کوم چه دوستی کوی هغه قوم سره په چا چه غصه شوے دے الله ورله

مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ

نۀ دوی ستاسو نۀ دی او نۀ دَ هغوی نۀ دی او قسمونه خوری په دروغ خبره باندے

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ

او دوی پوهیږی په دے. تیار کړے دے الله دوی لره عذاب سخت،

إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۵﴾ اِتَّخَذُوٓا أَيْمَانَهُمْ

بیشکه دغه بد کار دے چه دوی ئے کوی۔ گرځولی ئے دی قسمونه خپل

جُنَّةً فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿۱۶﴾

ډهال پس بند وی خلق د الله د لارے نه نو دوی دپاره د ذلت عذاب دے۔

لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَآ أَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

بیکار به را نشی د دوی مالونه د دوی او نه اولاد د دوی د الله د لاس نه

شَيْـًٔا ط أُولٰٓئِكَ أَصْحٰبُ النَّارِ ط هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿۱۷﴾

هیڅ هم، دغه خلق دی دوزخیان، دوی به پکښې همیشه پراته وی۔

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا

په کوم ورځ چه به راجمع کړی الله دوی ټولو لره، بیا به قسمونه خوری دغه ته په وړاندې خلکو چه ئے

يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ط أَلَآ

قسمونه خوړل ستاسو په وړاندې او خیال کوی چه دوی په یو نیکه لاره دی، واورئ

إِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُونَ ﴿۱۸﴾ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ

هم دوی دروغژن دی۔ قابو کړے دے دوی لره شیطان ځکه

فَأَنْسٰهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ط أُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ط أَلَآ

پس هیر ئے کړو د دوی نه د الله یاد، دغه کسان دی ډله د شیطان، واورئ

إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُونَ ﴿۱۹﴾ إِنَّ الَّذِينَ

کوم چه ډله د شیطان ده هم هغه نقصان مونږونکے ده۔ کوم خلق چه

يُحَآدُّونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗٓ أُولٰٓئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ ﴿۲۰﴾

خلاف کوی لله د الله او د هغه د رسول ع دغه خلق دی د ټولونه زیات بے قدره خلقو کښې۔

كَتَبَ اللّٰهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِيْ ط إِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ

الله اولیکل چه خامخا به غالب یم ځه او زما رسول ع، بیشکه الله طاقتور

عَزِیْزٌ ﴿۲۱﴾ لَا تَجِدُ قَوْمًا یُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْیَوْمِ
غالب دے. ته به بیا نه مومے یو قوم لره چه یقین لری په الله تعالیٰ او په روستنۍ
الْاٰخِرِ یُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ لَوْ كَانُوْٓا
ورځ باندې چه دوستي اوکړی داسے خلقو سره چه مخالفت کوی د الله او د هغهٔ د رسول اګرچه هغه ئے
اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِیْرَتَهُمْ ؕ
خپل پلاروی یا خپل ځوئے یا خپل رور یا خپل خاندان
اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَ اَیَّدَهُمْ
دغه کسانو په زړونو کښې الله لیکلے دے ایمان او د هغوی امداد ئے کړے
بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَ یُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ
خپل غیبي فیض سره، او داخل به کړی الله دوی لره باغونو ته چه بهیږی د هغے
تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَ
لاندے نهرونه تل همیشه به اوسیږی په هغے کښې، الله د دوی نه راضی دے او
رَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ
دوی د الله نه راضی دی، دغه خلق دی د الله ډله، واورئ کومه ډله چه د
اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۲۲﴾ ع
الله ده هم هغه مقصد ته رسیدلی دی.

ع ۳ ۳

نکات: ۱. دریم زجر دپاره د منافقانو. ۲. تخویف اُخروی دپاره د منافقانو. ۳. متعلق دے د شروع د سورت سره او زجرے او تخویف دپاره د منافقانو او کافرانو. ۴. بشارت د فتحے او نصرت. ۵. د مؤمنانو تعریف کول او هغوی دپاره د دُنیا او آخرت بشارت.

موضح قرآن ف ۱ د الله تعالیٰ غصه (او قهر) په کافرانو باندې شوے دے. خصوصاً په یهودو باندې او د هغوی په دوستانو منافقانو باندې. ف ۲ یعنی خولګ چه دوستي نه لری د الله تعالیٰ د مخالفینو سره اګرچه پلار او ځوئے وی، نو دغه ریښتونی مؤمنان دی او ادا درجے دی د هغوی.

فتح الرحمن

ف۱ یعنی منافقانو دَ یهودو سره دوستي کړله. والله اعلم

تفسیر

۱۷ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا: دا په منافقانو باندې دریم زجر دے. مغضوب علیهم (چا باندې چه غضب کړے شویدے) نه مُراد یهود دي. الکذب: دروغ او خلاف حقیقت خبره. دَ دینه مراد دَ منافقانو دَ اسلام دعوی کول دي. هغوی به دا دعوی کوله چه مونږ مؤمنان یُو لیکن په زړونو کښې ئے دَ ښخوا پښتان کُفر پیروت دے او په زړونو کښې ئے دَ اسلام بوئ هم نشته. (الکذب) هو ادعاء الاسلام. (مظهری ج ۹ ص ۲۲۷).

دَ منافقانو اسلام چونکه دَ دُنیوی فائدو او وقتي مصلحتونو په بنیاد وُو، ځکه په پرده کښې دَ هغوی دوستي یهودو سره وه چه دَ خپلو شیطاني حرکاتو او سرکشئ په وجه دَ الله تعالیٰ دَ غضب مستحق ګرځیدلي وُو. بل طرفته به ئے دَ مسلمانانو په مخکښې قسمونه خوړل چه هغوی مخلص مؤمنان دي. وے فرمائیل ایا تا دَ هغه خلقو حال اُونه لیده که دَ چا دوستي چه دَ یهودو سره ده په چا چه دَ الله تعالیٰ غضب شویدے، په حقیقت کښې ډیر زیات مکّار دي، هغوی نه ستاسو دوستان دي اونه دَ یهودیانو، دواړو چلو ته دهوکه ورکوي او خپل مطلب ترسره کوي او دروغ قسمونه خوري چه مونږ مؤمنان یُو او ستاسو ملګري یُو حالانکه دا قول دروغ دي.

۱۸ أَعَدَّ اللَّهُ: دا دَ منافقانو دپاره تخویف اُخروی دے. دِ دے دُنیا کښې دِ وقتي نفع حاصله کړي لیکن په آخرت کښې ورله ډیره زیاته سخته سزا ده، ځکه چه دوی کوم څه کوي نو ډیر بد کوي. اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً: دوی خپل قسمونه ډهال ګرځولے دے. کله چه دَ دوی په شیطاني کارونو باندې نیول کیږي نو قسمونه خوري او دَ خپل ایمان دَ اخلاص او صفائئ او پاکئ اظهار کوي او کله چه ورته دَ خپلو قسمونو په پناه کښې امن ملاؤ شي نو قسما قسم طریقو سره مسلمانان دَ دین اسلام نه اړوي او خوک چه په اسلام کښې داخلیدل غواړي هغوی په اسلام کښې دَ داخلیدلو نه منع کوي. دَ دے خبیثانو دپاره ډیر زیات رسواکُوُنکے عذاب تیار شویدے،

(فصدّوا الناس (عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ) فی خلال امنهم بتثبیط من لقوا عن الدخول فی الاسلام و تضعیف امر المسلمین عندهم.

(روح ج ۲۸ ص ۳۳).

۱۹ لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ: دَ دوی مالونه او اولاد په کوم چه دوی فخر او غرور کوي، دَ الله تعالیٰ دَ عذاب په مقابله کښې به ئے هیڅ په کار رانشي، دَ دوی سزا دوزخ دے او همیشه به پکښې اُوسیږي. يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ظرف لَنْ تُغْنِيَ سره

متعلق دے۔ قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ۔ یا فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ۔ سره متعلق دے۔ (مظهری)۔ خٰلِدُوْنَ سره نۀ دے ځکه چه دِے سره مفهوم نۀ صحیح کیږی۔
دا منافقان چه څنګه د مسلمانانو په مخکښې په دروغه قسمونه خوری نو دُنیا کښې د مؤاخذے نه بچ شی، دغه شان به د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ په وړاندِې په دروغه قسمونه خوری او دا خیال به کوی چه دوی ته به د پخپلو دروغ قسمونو سره څۀ فائده او شی لکه څنګه چه به ورته په دُنیا کښې نفع رسیدله لیکن بے فائدے۔ د قیامت په ورځ به د الله تعالیٰ په عدالت کښې هم دوی په دروغه قسمونه خوری۔ دا به په دروغ ویلو باندِې د دوی زړۀ ورتیا وی۔

۲۰ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ: شیطان د دوی په زړۀ او دِماغو باندِې غالب شوے دے او دوی د هغۀ په اشاره باندِې ګرځی۔ هغۀ دوی له د الله د یاد نه بیخی غافله کړیدی او دوی مکمل د شیطان تابعدار او د هغۀ ډله ګرځیدلے دی، او یاد لرئ د شیطان ډله به ډیر لوئے تاوان کښې ده ځکه چه په اخرت کښې به هغه د نعیم مقیم (همیشه نعمتونو) په ځائے په دردناک عذاب او همیشه عذاب کښې وی۔

۲۱ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ: دا د سورت د شروع سره متعلق دے او کافرانو او منافقانو د پاره زجر او تخویف دے۔ خلک چه د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو مخالفت کوی۔ دا خلق د الله تعالیٰ په ډیر زیات ذلیله او ډیر ناخوښه مخلوق کښې شامل دی۔ په دِے وجه د ډیر سخت عذاب مستحق دی۔

۲۲ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ: د اهلِ اسلام د پاره بشارت دے د فتح۔ الله تعالیٰ په لوح محفوظ کښې لیکلی دی یا ئے فیصله کړے ده چه اخری غلبه به زما د پیغمبر او د هغۀ د منونکو وی ځکه چه الله تعالیٰ د قوت، غلبے او عزت مالک دے او هغه همیشه خپله ډله (حزب الله) په شیطانی ډله (حزب الشیطٰن) باندِې غالبه کوی۔ اثبت فی اللوح المحفوظ او قضی وحکم۔ (روح)۔

۲۳ لَا تَجِدُ قَوْمًا: په اخر کښې د حزب الشیطٰن (شیطانی ډلے) مقابله کښې د حزب الله یعنی د مخلصو مؤمنانو مدحه او هغوی د پاره د دُنیوی او اُخروی زیری ذِکر دے۔ دا منافقان چه د کافرانو او یهودو سره کوم پټه دوستی ده کوم چه د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول سخت دُشمنان دی، ایا دوی د مسلمانان ویلو مستحق دی؟ حالانکه تاسو به په دُنیا کښې چرته هم داسے خلق بیا نۀ مومئ چه د زړۀ نه مؤمنان وی او بیا د داسے خلقو سره دوستی هم کوی څوک چه د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول صلی الله علیه وسلم دُشمنان وی اګر چه هغوی ئے پلرونه، ځامن، رونړه او نزدے رشته داران وی۔ كَتَبَ فِىْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ: ایمان ئے

دَدوی په زړونوکښې مضبوط کړو۔ یا دَرُوح نه مُراد وحی الٰهی (قرآن) دے۔
کتب فی قلوبهم الایمان ای اثبته فیها۔۔۔۔۔ وایدهم بروح منه
ای بکتاب انزله فیه حیاة لهم۔ (مدارک ج ۴ ص ۱۷۹)۔
حضرت شیخ رحمه الله فرمائی دَرُوح نه فیضِ غیبی مُراد دے یعنی الله تعالیٰ
فیضِ غیبی سره دَهغوی مرسته کړے ده، او په زړونوکښې ئے ورله اطمینان
پیدا کړے دے۔
والمراد بالروح نور القلب وهو نور یقذفه الله تعالیٰ فی قلب من
یشاء من عباده تحصل به الطمانیة۔ (روح ج ۲۸ ص ۳۶)۔
دَکوم خلقو په زړونوکښې چه ایمان دغه شان محکم وی او خالص توحید
ئے په زړونوکښې پروت وی نو دَ الله تعالیٰ او دَهغهٔ دَرسُولؐ دشمنانو سره
دهغوی دوستی هیڅکله نشی کیدے۔
قال سهل: من صحح ایمانه واخلص توحیده فانه لا یأنس
بمبتدع ولا یجالسه ویظهر له من نفسه العداوة۔ (مدارک)۔
۲۲ وَيُدۡخِلُهُمۡ۔ دا مخلصین به الله تعالیٰ جنت نه داخل کړی چه په
هغې کښې به دَهر قسمه مشروبات تو نهرونه بهیږی او دوی به پکښې همیشه دپاره
اُوسیږی، دَدوی د مضبوط ایمان، دَخالص توحید او دَمخلصانه اطاعت
په وجه به الله تعالیٰ دَدوی نه راضی وی او په آخرت کښې بے حسابه او
بے اندازے اَجر او ثواب مُوندلو سره به دوی هم دَالله پاک نه راضی شی او
هیڅ کِله او خفګان به ئے باقی پاتے نشی چه ګنی دَدوی په اجر او ثواب کښې کمے کړے شوے
دے، دا دَ الله تعالیٰ ډله ده۔ او یاد لرئ چه دَالله پاک ډله کامیابه او
مُراد مُوندونکے ده ځکه چه دا ډله په دُنیا کښې دَالله تعالیٰ دَدین داعیان
او مددګار وُو نو ځه دپاره دَدوارو جهانونو کامیابی هم دَدے ډلے حصه ده۔
والفائزون بخیر الدنیا والاخرة الأمنون من کل مرهوب۔
(مظهری ج ۹ ص ۲۲۸)۔

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین ہ

سُوْرَةُ الْحَشْرِ

ربط سورۂ مجادله کښې په بد ترین منافقانو باندې زجرونه وُو، اُوس په سورۂ حشر کښې علیٰ سبیل التنزیل د هغوی نه د کمې درجې په منافقانو باندې زجرونه دی۔

خلاصه دَ دعوے اعادہ، تخویف دُنیوی، تقسیم دَ مالِ غنیمت، زجرونه په منافقانو باندې، دَ توحید دعوی دوباره ذکر کول سره دَ دلائلو نه۔

تفصیل

سَبَّحَ لِلّٰهِ (الاٰیة): دَ توحید دعوی کومه چه اصل مقصود دے، دهغې اعاده، دپاره دَ دے چه اصل مسئلے طرفته توجه باقی پاتے شی۔ هُوَ الَّذِیْٓ اَخْرَجَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا ــ تا ــ وَلِیُخْزِیَ الْفٰسِقِیْنَ ۝: دَ تخویف دُنیوی یوه نمونه۔ دَبنو نضیر یهود چه پخپل خیال کښې ئے ډیرو مضبوطو قلعه گانو کښې ځانونه محفوظ کړی وُو، دَ مسلمانانو دَ یوے حملے طاقت ئے اُونۀ لرلے شو او هغوی خپل ټول هرڅه پریښودلو سره دَ وطن نه اُوشړلے شو۔ دَ دے دُنیوی سزا نه علاوه ورله په آخرت کښې هم دردناک عذاب تیار دے۔

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ ــ تا ــ اِنَّکَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ۝: دَبنو نضیر مالونه په طور دَ فئی دَ مسلمانانو لاس ته راغلی وُو نو ځکه ئے دَ هغې دَ تقسیمولو طریقه گانے بیان کړو۔

اَلَمْ تَرَ اِلَی الَّذِیْنَ نَافَقُوْا ــ تا ــ وَ ذٰلِکَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِیْنَ ۝ (ع۲): دا منافقانو دپاره زجر او تخویف دے۔ دا منافقان دَ بنو قریظه یهود و سره وعده کوی چه مونږ ستاسو ملگری او مددگار یُو۔ دَ دوی وعدے ټولے دروغ دی او په وخت راتللو باندې به ترینه روستو شی او ملگرتیا به ئے اونکړی۔ او دَ دے سره مسلمانانو ته خوشخبری هم ورکړے شوه چه اُوس دَ کفر طاقت کمزورے شوے او خور وُور شوے دے او اُوس به کافران اتفاق او اتحاد سره یو ځائے هیڅ کله هم دَ مسلمانانو مقابله اُونکړے شی او دَ مسلمانانو رُعب به ورباندې پریوتلے وی۔ هر کله چه یهود دَ بنو نضیر په محکم او مضبوطو قلعه گانو کښې محفوظ وُو نو دَ

مسلمانانو دیوے حملے طاقت ئے هم اُونه لرلو، نو دا خواران څهٔ دی؟

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ـــ تا ـــ لَعَلَّهُمْ یَتَفَکَّرُوْنَ ۝ (ع ۳)، دا د اول منافقانو ته د کمزوری قِسم منافقانو دپاره زجر دے او مؤمنانو ته ترغیب دے په قتال باندے۔

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ـــ تا ـــ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ۝، دا د اصل دعوے یعنی سَبَّحَ لِلّٰهِ (الآیة) سره متعلق دے۔ دے ایتونو کښ د توحید درے واړه مراتب ذکر شوی دی۔ په اول ایت کښ دریمه مرتبه، په دویم ایت کښ دویمه مرتبه او په دریم ایت کښ د توحید اوله مرتبه ذکر شوی۔

سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ اَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰیَةً وَّثَلٰثُ رُکُوْعَاتٍ

دا سورۂ حشر مدینه کښ نازل شو او دے کښ څلیریشت (۲۴) ایتونه او درے رکوعګانے دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝

دا شروع په نوم د الله چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

د الله پاکی بیانوی هغه کوم څهٔ چه په آسمانونو کښ دی او په زمکه کښ، او هغه دے

الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ۝۱ هُوَ الَّذِیْۤ اَخْرَجَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا

غالب حکمت والا دے۔ (الله) هغه دے چا چه راوویستل هغه خلک چه منکر دی

مِنْ اَهْلِ الْکِتٰبِ مِنْ دِیَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ؕ

د اهل کتاب نه د هغوی د کورونو نه په اول جمع کیدلو د لښکر سره،

مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ یَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْۤا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ

تاسو ګمان نه کولو چه راووځی او هغوی ګمان کولو چه هغوی به بچ کړی

حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَیْثُ

د هغوی قلعه ګانے د الله د لاس نه، بیا ورسیدهٔ هغوی ته الله د چرته نه چه

لَمْ یَحْتَسِبُوْا ۖ وَقَذَفَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ

هغوی ته خیال نه وو او وے غورځولو د هغوی په زړونو کښ رعب (ویره)

يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ ق

ورانول ئې خپل کورونه په خپلو لاسونو سره او د مسلمانانو لاسونو سره ،

فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ ② وَلَوْلَا أَنْ كَتَبَ اللَّهُ

پس عبرت واخلئ اے د سترګو خاوندانو ف ۲ - او که نه وے دا خبره چه لیکل کړی وُو الله

عَلَيْهِمُ الْجَلَاءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ط وَلَهُمْ فِي

په هغوی باندې د جلاوطن کیدو نو عذاب به ئې ورکړے وو په دُنیا کښې ف ۳ او په اٰخرت کښې دے

الْآخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ③ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ

هغوی د پاره د اُور عذاب ف ۳ - دا حکم چه دوی مخالف شول د الله

وَرَسُولَهُ ۖ وَمَنْ يُشَاقِّ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ

او د هغهٔ د رسول ﷺ، او څوک چه مخالف شي د الله، نو د الله عذاب

الْعِقَابِ ④ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا

سخت دے. کوم چه پریکړے تا سو د کجورو ونې یا پریخودے تا سو

قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ ⑤

ولاړے په خپلو جرړو باندې، پس د الله په حکم او د دې د پاره چه رسوا کړي نافرمانان ف ۶

وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ

او کوم مال چه لوټ کړو الله په خپل رسول باندې د هغوی نه نو تاسو اُونه زغلول

عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يُسَلِّطُ

په هغې باندې آسونه او نه اُوښان لیکن الله غلبه ورکوی

رُسُلَهُ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ ط وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

خپلو رسولانو ته په چا چه اوغواړی، او الله هر څهٔ کولے

قَدِيرٌ ⑥ مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ

شي ف ۵ - کوم مال چه لوټ کړو الله په خپل رسول ﷺ باندې د کلو والو

الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى

نه څه نو الله دپاره دے او د رسول ﷺ دپاره دے او د رشته دارانو دپاره او يتيمانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَىْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ

او مسکينانو او مسافرو دپاره ، ددې دپاره چه رانشي په ورکړه راکړه

بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ

د دولت منو کښې ستاسو نه ، او څه چه درکړي تاسو ته رسول ﷺ

فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

پس هغه واخلئ او کوم چه در ته منعه کړي تاسو هغه پريږدئ ، او ويريږئ د الله نه

اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۘ ﴿٧﴾ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ

بيشکه د الله عذاب سخت دے وقف. دپاره د هغه فقيرانو هغه

الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ

وطن پريښودو نکو څوک چه ويستلي شوي دي د خپلو کورونو او مالونو نه ، طلب کوي

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَ

د الله د فضل او د هغه د رضا ، او دپاره د امداد کولو د الله او

رَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۚ ﴿٨﴾ وَالَّذِيْنَ

د هغه د رسول ﷺ ، دغه خلق هم دوي رښتونى دي. او کوم خلق چه هغه

تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ

ځائے نيسي وو په دے کور کښې او ايمان کښې د دوي نه مخکښې هغوي محبت کوي هغه چا سره

هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِىْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ

چه وطن پريخودو سره راغلي دي دوي ته او نه موندي په خپلو زړونو کښې تنګي د هغه څيزونه کوم چه

اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ

مهاجرينو ته ورکړے شي او مخکښې کوي دوي په خپلو ځانونو باندې اګرچه وي په دوي باندې

خَصَاصَةٌ ۚ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ

لوږه وه ، اوڅوک چه بچ کړے شو د خپل نفس د لالچ نه نو هم دغه خلق دی

الْمُفْلِحُونَ ۝٩ وَالَّذِينَ جَاءُو مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ

مراد موندونکی ف ، او د هغه خلقو دپاره ده څوک چه راغلل د دوی نه پس وائی هغوی

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ

اے ربه! بخښنه وکړے مونږ ته اوزمونږ ورونړو ته کوم چه داخل شوی دی زمونږ نه مخکښ ایمان ته

وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا

او مه ګرځوه زمونږ په زړونو کښې کینه او ضد د مؤمنانو سره ، اے ربه !

ع إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ۝١٠

هم ته یے نرمی کوونکے مهربانه ف ۱۰ -

نکات: ۱ـ د توحید د دعوے اعاده. ۲ـ د تخویف دنیوی یو نمونه. ۳ـ د فئ د مال بیان. ۴ـ د فئ د تقسیم دستور العمل. ۵ـ ای انفقوا ، ذکر د انفاق تبعاً -

موضح قرآن **ف ۱** د مدینے منورے نه څلور میله فرسخ فاصله باندې د بنو نضیر نوم یو قوم قلعه کانے وے. اول نے نبی علیه السلام سره صلحه کړے وه ، د مکے کافرانو ته نے پیغامونه او خطونه لیکل شروع کړل او نبی علیه السلام چه چرته ناست وو هلته نے د هغوی د پاسه د جرندے پل وراوغورځولو ، کیچرے هغوی ؟ پرے لګیدلے وے نو وفات شوی به وو ، الله تعالیٰ هغوی له ، بچ اوساتل - نبی علیه السلام مسلمانان راجمع کړل په دے اراده چه هغوی سره جنګ اوکړی. کله چه د هغوی د قلعه کانو ته محاصره اوکړه نو هغوی اوبیا یل د صلحے درخواست نے اوکړو. نبی علیه السلام هغوی باندې رحم اوکړو او قتل نے نکړل او حکم نے ورکړو چه ځان سره څومره منقوله څیزونه ورلے شی هغه د یوسی او باغونه او فصلونه د نبی علیه السلام په قبضه کښ راغلل ، الله تعالیٰ د زمکو د غنیمت په طور د هغے د تقسیمولو حکم ورکړو او نبی علیه السلام له نے د هغے اختیار ورکړو. نبی علیه السلام په مهاجرینو باندې هغه تقسیم کړو د چا خرچه چه د انصارو په ذمه وه ، اکثر نے تقسیم کړے ، مهاجرینو او انصارو دواړو ته فائده اوشوه او د خپل کور خرچه نے هم د هغے نه مقرر کړه - هم د دے قصے

ذکر په سورت کښې شوی دے -

ف۲ خپل کورونه وُرانول ئے شروع کړل، دروازے ئے د کورونو نه ویستلے چه ځان سره ئے یوسي او مسلمانانو هم ورسره امداد کړلو - الله راوُرسیده د هغه ځائے نه چه د هغوی خیال هم نهٔوو یعني د زړهٔ د ننه - ف۳ دا قوم چه کله د نصاراوُ د غلبے په وجه د شام نه راوتختیده نو خپلو مشرانو ورته وئیلي وو چه تاسو به د دے ځائے نه واپس شام ته ځئ، ستاسو دا کلي کورونه به وُرانیږي هغه وخت به ئے کورونه وُران شول، په خیبر کښې اُوسیدل او بیا ئے هلته ر خیبر کښې کورونه وُران شول نو شام ته لاړل - ف۴ کله چه دوی په قلعه کانو کښې بند شول نو نبی علیه السلام حکم ورکړو چه باغونه ورله پریکړئ او فصلونه ئے خراب کړئ چه د دے د درد په وجه بهر ته راوُځي او جنګ اوکړي - کله چه مسلمانانو وُنے کټ کړلے نو هغوی ملامته کول شروع کړل او دا ئے وئیل چه مونږ ته خو تاسو کافران وایئ ځکه مو وژنئ، آیا دا وُنے هم کافرے دي چه تاسو ئے پریکوئ - ځنې مسلمانان هم په شك کښې پریوتل نو دا آیت نازل شو -

ف۵ د فئي او د غنیمت د مال فرق دا دے، کوم مال چه جنګ سره لاس ته راشي هغه غنیمت دے د هغې نه پنځمه حصه الله تعالی دپاره مقرره ده، او څلور حصے به په لښکر تقسیمولے شي او کوم چه بغیر د جنګ نه لاس ته راشي هغه به ټول د مسلمانانو دپاره خزانه کښې جمع کولے شي او په ضروري کارونو کښې به خرچ کولے شي.

ف۶ یعني فئي بانې قبضه ده د رسول او روستو بیا د امام او بادشاه چه هغه به ئے خرچ کوي - الله تعالی د ټولو مالك دے لیکن په کعبه او جماتونو باندې خرچ کول هم په دے کښې راغلل او د رشتو والو، د نبي علیه السلام به وُرانډې د هغوی په رشته دارو او روستو د نبي علیه السلام نه به هم په دغه خلقو خرچ کول پکار وي. مالداره ته که بادشاه ورکول غواړي نو هغهٔ له هم اخستل پکار دي، منعه نشته -

ف۷ د اول آیت نه مهاجرین مراد دي - او د دے آیت نه انصار څوك چه دیکښې اوسیږي د مخکښې نه یعني مدینه کښې او د مهاجرینو خدمت کوي او خپل حاجت روستو کوي او که هغوی ته څهٔ ورکړے شي نو حسد نکوي بلکه خوشالیږي د خپل ځان نه هغوی مخکښې کوي اګرچه دوی پخپله اوږي وي یعني صدقه کوي د خپل احتیاج باوجود اګرچه په خپله حاجتمند وي - ف۸ دا آیت د ټولو مسلمانانو دپاره دے چه د مخکنو حق مني او هغوی پسے روان وي او حسد نهٔ لري هغوی سره.

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائي نبي علیه السلام چه کله مدینے ته تشریف راوړو نو بني نضیر سره ئے صلحه وکړه دغه خلقو د ازلی بدبختي

په وجه دَ نبي علیه السلام په دشمنئ کښې وړاندې شول. نبي علیه السلام اراده وکړه چه دغه خلق د مدینې منورې نه جلاوطن کړلو سره اوشړي. منافقانو دغه لعنتیانو ته خبر ورکړو چه تاسو دَ جنګ تیاري اوکړئ او مونږ ستاسو ملګري یُو. الله تعالیٰ دَ منافقانو دَ ارادې خلاف په اول ځل لښکر جمع کولو سره په یهودو باندې رُعب وا چولو تر دې چه هغوی عاجزه شول او جلاوطن کیدل ئې اختیار کړل او دَ منافقانو خبرې ئې واؤ نه ریدلې او دوباره دَ لښکر جمع کولو حاجت پیښ نهٔ شواو دَ هغوی مالونه فئي اوګرځیدل. فئي هغه مال ته وائي کوم چه بغیر دَ قتل و قتال نه مسلمانانو ته ملاؤ شي. الله تعالیٰ په مسلمانانو باندې احسان اوکړو او دَ فئي بیان ئې اوفرمائیلو او دَ منافقانو دَ ارادې نه ئې خبر کړل. والله سبحانهٔ وتعالیٰ اعلم.

ف۲ یعني په یو قسم (من اب). **ف۳** یعني دَ میوه دارو ونو پریکول دَ جهاد په وخت جائز دي او پریښودل ئې هم جائز دي. **ف۴** یعني دَ پیغمبر علیه السلام خپلوانو ته. **ف۵** یعني مدینه کښې. **ف۶** مترجم وائي دَ دې ایت نه معلومه شوه چه په مالِ فئي کښې دَ هر مسلمان حق شته، نو کوم چه ډیر محتاج وي هغه به وړاندې کولې شي او هغه ته به ورکولې شي تر دې چه مالِ فئي سره ئې ضرورت پوره شي. والله سبحانهٔ وتعالیٰ اعلم۔

تفسیر

۲ سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ: دا دَ توحید دَ دعوې اعاده ده دپاره دَ دې چه دا حقیقت دَ مسلمانانو په ذهنونو کښې پاتې شي چه جهاد او قتال ټول دَ دې مسئلې (توحید) په خاطر دي او دَ جهاد نه مقصود څهٔ دُنیوي غرض نهٔ دې. زمکه او اسمانونه او ټول کائنات هر څیز دَ الله تعالیٰ په وحدانیت باندې ګواه دې او هر څیز په زبانِ حال او قال سره دَ الله تعالیٰ په تسبیح او پاکئ بیانولو کښې مشغول دې، هغهٔ سره هیڅوک شریک نشته او هغه دَ شریکانو نه پاک دې، هغه په ټولو غالب دې او دَ محکم تدبیر مالک دې. اې بنیادمه! څنګه چه دَ کائنات هره ذره دَ الله تعالیٰ دَ وحدانیت اقرار کوونکې او دَ هغهٔ په تسبیح او پاکئ بیانولو کښې مشغوله ده نو تاسو هم هغه خپل معبود او کارساز اوګڼئ، په صفاتو کښې ورسره هیڅوک شریک مهٔ ګرځوئ او دَ دې مسئلې په خاطر جهاد کوئ. وړاندې به دَ جهاد نه اعراض کوونکو منافقانو باندې زجرونه وي.

۳ هُوَ الَّذِيْ اَخْرَجَ: دا دَ تخویف دُنیوي یوه نمونه ده او اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا نه دَ بنو نضیر یهود مُراد دي چه دَ خیبر او مدینې په خوا وُشا کښې اباد وُو. دا دَ الله تعالیٰ تصرف وو چه هغهٔ په خپل قدرتِ کامله سره او شکور تدبیر سره دَ بنو نضیر یهود دَ مسلمانانو په یو حملې سره دَ خپلو کورونو نه اوویستل

او هغوی ئې د مسلمانانو په وړاندې اسلحه غورځولو ته مجبوره کړل. د بنو نضیر د یهودو د قوت او د مال او سامانِ جنګ د زیاتوالی او د مضبوطو قلعګانو په وجه د مسلمانانو دا ګمان هم نه وو چه هغوی به د خپلو قلعګانو نه اوویستلی شي او بیخیله د یهودو هم دا ګمان وو چه د دوی مضبوطې قلعګانې به دوی له د الله تعالیٰ د عذاب نه خلاص کړي او بچ به ئې اوساتي. مِّنَ اللّٰهِ: یعنی د الله پاک د عذاب نه کوم چه د مسلمانانو په لاسونو باندې راتلونکے وو لیکن د الله تعالیٰ عذاب په هغوی باندې د هغه طرف نه راغے د کوم طرفنه چه ئې وهم او ګمان هم نه وو یعنی د مسلمانانو په لاسونو باندې او د هغوی په زړونو کښې ئې د مسلمانانو هیبت او ویره واچوله او د مسلمانانو د مقابلې کولو همت ئې اونه لرلے شو او بیخپله ئې خپل کورونه وړانول شروع کړل او مسلمانانو هم د هغوی کورونه وړان کړل. هرکله چه مسلمانانو د بنو نضیر د یهودیانو محاصره وکړه نو یهودیانو د خپلو کورونو چتونه او دروازے وړانے کړے او تیرانو او دړشلو سره ئې کوڅے بندے کړے د پاره د دے چه مسلمانان دننه رانشي او د بهر نه مسلمانانو د هغوی آبادئ او کورونه وړانول دے د پاره چه هغوی د دوی کورونو او کلوته وردَاخل نشي.

د أَوَّلُ الْحَشْرِ نه د مسلمانانو اولنے حمله مراد ده حکم چه په یهودو باندے د مسلمانانو دا اولنے حمله وه: المعنی اخرجهم من دیارهم لاول جمع حشره النبی صلی الله علیه وسلم او حشره الله عزوجل لقتالهم لانه صلی الله علیه وسلم لم یکن قبل قصد قتالهم وفیه من المناسبة لوصف العزة ما لا یخفی. (روح ج ۲۸ ص ۴۰)

یهودیانو د مسلمانانو د دے حملے طاقت هم اونه لرلے شو او د بلے حملے ضرورت هم پیدا نه شو. څنو د أَوَّلِ الْحَشْرِ نه د یهودیانو اول ځل جلاوطن کیدل مراد کړیدی او دویم ځل جلاوطن کیدلو نه ئې د حضرت عمر رضی الله عنه یهودو له جلاوطن کول مراد کړیدی. لیکن حضرت شیخ رحمه الله فرمائی: اول خو دا د محاورے نه خلاف ده. دویم دا چه د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې یهود صرف د خیبر نه ویستلی شوی وو. فَاعْتَبِرُوْا: اے د عقل او بصیرت والو! د دے نه عبرت حاصل کړئ چه د الله تعالیٰ د تصرف او اقتدار په وړاندې ظاهری اسباب بے کاره او بے فائدے ګرځی او د سرکشئ او نافرمانئ عذاب همدغه شان خراب او بد وی.

۳ وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ: یهود جلاوطن کړے شول. که په دُنیا کښې د جلاوطنئ ذلت او رسوائی هغوی د پاره مقدر نه وے نو په بل څه عذاب کښې به ګرفتار کړے شوی وو او په آخرت کښې هغوی له د دوزخ عذاب دے.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ: دُنیا او اخرت کښې دَدے یهودیانو دپاره دَذلت او رسوائی او دردناک عذاب حکم مقدر کړے شو چه دوی دَ الله پاک او دَ هغهٔ د رسول صلی الله علیه وسلم پوره پوره مخالفت کړیدے او دَ اسلام دعوت ئې نه دے منلے، د اسلام او دَ پیغمبر علیه السلام او مسلمانانو خلاف ئې خطرناک سازشونه او منصوبے جوړے کړیدی او دَ داسے سرکشه خلقو دپاره دَ الله عذاب ډیر سخت دے.

۵ مَا قَطَعْتُمْ: کله چه دَ بنو نضیر محاصره اوکړے شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته حکم ورکړو چه دَ یهودو باغونه وُران کړی نو مسلمانانو دَ کجورو باغونه کټ کول شروع کړل. څنو صحابو رضی الله عنهم خرابے وُنے پریکولے او څنو ښے او اعلیٰ وُنے پریکولے. یهودیانو اعتراض اوکړو چه اے محمد! (صلی الله علیه وسلم): تاسو خو دَ فساد نه منع کوئ او دَ باغونو پریکول او وُرانول، دا خو ټول فساد دے. ممکن ده چه دا قسم وسوسه دَ څنو مسلمانانو په زړونو کښې هم پیدا شوے وی نو الله تعالیٰ په طور دَ تسلئی او فرمائیل چه تاسو کوم څهٔ کړیدی نو هغه ټول دَ الله تعالیٰ په حکم سره دی او صحیح دی. تاسو چه کومے دَ کجورو وُنے پریکړی دی او کومے چه مو ولاړے پریخے دی، دا ټول هرڅهٔ د الله تعالیٰ اراده او مشیت سره شویدی. دا الله تعالیٰ تاسو ته حکم اوکړل چه دے سره مسلمانانو ته عزت ورکړی او دے بدکرداره یهودیانو ته سزا ورکړی او رسوائی کړی.

لِينَةٍ: دَ کجورو وُنے. اللينة - النخلة من الالوان. (مدارک ج ۴ ص ۱۸۱). په وَ لِيُخْزِيَ کښې واؤ زائده دے او وَلِيُخْزِيَ د اَذِنَ مقدر سره متعلق دے. یا واؤ عاطفه دے. او لِيُخْزِيَ دپاره معطوف علیه مقدر دے چه د اِذْنِ مقدر متعلق دے. (وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ) متعلق دے دَ مقدر سره على انه علة له و ذٰلك عطف على مقدر اخر اى اذن لهم فى القطع والترك ليعز المؤمنين وليخزى الفسقين. (روح)

۶ وَمَا اَفَآءَ، دا مبتدا ده او مَا اَفَآءَ اللّٰهُ دَ بُعد عهد په وجه سره اعاده ده او په مینځ کښې فَمَا اَوْجَفْتُمْ سره د فئي تشریح کړے شویده او فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ دَ هغے خبر دے. دَدے ځائے نه تر اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ پورے دَ مال فئي دَ تقسیم قانون بیان شوے دے. دَ بنو نضیر اموال چونکه دَ فئي په طور حاصل شوی وُو، په دے وجه ئې دَ هغے دَ تقسیم کار قانون بیان کړو. مالِ فئي هغه مال ته وئیلے شی چه دَ جهاد او قتال نه بغیر دَ مسلمانانو لاس له راشی لکه چه دَ بنو نضیر یهود دَ مسلمانانو دَ حملے نه اُویریدل او صلحه ئې اوکړه او خپل مالونه ئې بغیر دَ جنګ نه مسلمانانو ته حواله کړل. دَ هغے ذکر په مَا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ کښې دے. دَ بنو نضیر دَ یهودو نه علاوه نورو څنو کلو هم دا شان صلح اوکړه چه خپل مالونه ئې مسلمانانو ته حواله کړل مثلاً دَ فدك خلق، عرینه

او بنو قریظه وغیره. د هغې ذکر مَا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى کښې د تقسیمولو دستور او قانون د بیانولو دے؛

(مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى) قال ابن عباس رضی الله عنهما هی قریظة والنضیر وهما بالمدینة، وفدك وهی علی ثلاثة ایام من المدینة وخیبر وقرٰی عرینة وینبع. (قرطبی ج ۱۸ ص ۱۳)۔

د بنو نضیر، اهل فدك، عرینه وغیره چه کوم مالونه الله تعالٰی په طور د فئ خپل نبی ﷺ ته ورکړی وو، هغوی په هغې باندې اسونه او اوښان اونه زغلول او هغه د جنګ نه بغیر حاصل شو. الله تعالٰی ډیر زیات طاقتور دے، هغه چه په چا باندې اوغواړی خپل پیغمبران علیهم السلام پرے مسلط کوی څنګه چه ئے محمد ﷺ لره د یهودیانو په دغه کلو باندې مسلط کړو او د هغوی ټول مال او دولت ئے د دوی په قبضه کښې اوغورځولو.

که لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ: دا د فئ تقسیمولو قانون دے. لِلّٰهِ: الله د پاره. د الله ذکر د تبرك او تشرف د پاره دے او مقصد دا دے چه د دغه مال حقیقی مالك الله تعالٰی دے هغه چه څنګه اوغواړی د هغې د تقسیم حکم به ورکړی او د څنو په نزد به یوه حصه د الله تعالٰی د پاره وساتلے شی چه خانه کعبه او نورو جماتونو باندې په صرف کړلے شی. یصرف سهم الله فی عمارة المساجد وقیل ذکر الله للتعظیم. (بیضاوی)۔

وَلِلرَّسُوْلِ: د رسول الله ﷺ حصه دهغوی په ژوند کښې وه چه هغه به نبی علیه السلام په خپل ځان او په خپلو ازواج مطهرات خرچ کوله، کومه چه به باقی پاتے شوه هغه به ئے د مسلمانانو د خیر ښیګړے په کارونو کښې خرچ کوله. د نبی علیه السلام د وفات نه پس د هغوی حصه ختمه شویده او د ازواج مطهرات د پاره د بیت المال نه وظائف مقرر کړے شول. وَلِذِی الْقُرْبٰى: یعنی د رسول الله ﷺ رشته دار چه هغوی باندې واجب صدقات حرام وو او د دے نه مراد بنی هاشم او بنی عبد المطلب دی. (وَلِذِی الْقُرْبٰى) یعنی بنی هاشم او بنی المطلب. (خازن ج ۷ ص ۶۰)۔ د دے نه علاوه یتیمانان او مسکینان او هغه مسافر خلك چه د سفر په دوران کښې حاجتمند شی. کَیْ لَا یَكُوْنَ دُوْلَةً: دا د مقدر فعل علت دے. د دے اموال فئ د تقسیم حکم د دے وجے نه ورکړے شو چه دا دولت په یوخاندان کښې په غنیانو کښې ګردش اونکړی بلکه فقیران او مسکینان هم د دے نه فائده واخلی

وَمَا اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ: دا د دین شریعت یو اهم اصول دی، د الله رسول چه د الله پاك له طرفه هر حکم راوړی هغه په سرسترګو قبول کړی چه د هغې نه یو د تقسیم فئ حکم دے او د کوم کار نه چه تاسو منعه کړی د هغې نه منعه شئ او د الله نه اویریږئ د هغه د احکامونا فرمانی مکوئ، نافرمانانو د پاره د الله تعالٰی

عذاب ډیر سخت دے -

۸ے لِلْفُقَرَآءِ : ای انفقوا - لِلْفُقَرَآءِ دلته تبعًا په هغه ولو بانډې د مال خرچ کولو ترغیب دے یا دا مع المعطوفین، لذی القربی مع المعطوفات نه بدل الکل دے یعنی دے څلورو انواعو او اقسامونه د مهاجرینو او انصارو فقراء مراد دی -

فکانه قیل اعنی باولئك الاربعة هؤلاء الفقراء والمهاجرین (کبیر)

بدل من قوله تعالی (لذی القربی)، والمعطوف علیه - (کشاف) -

ډے په ضمن کښې د مهاجرینو او انصارو فضائل هم ذکر کړے شویدی ـــ

اَلَّذِیْنَ اُخْرِجُوْا : هغه مهاجرین کوم چه د مکے مشرکانو د خپلو کورونو او مالونو نه په ویستلو او هجرت کولو بانډې مجبوره کړل - چونکه دوی بے وطنه دی او هغوی مالونه ئے پریخې دی او مدینې ته راغلی دی - ډے دپاره د فئ په مال کښې د دوی هم حصه ده - د دے نه پس د دوی د عظمتِ شان ذکر دے - یَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا : دا د اُخْرِجُوْا نائب فاعل دے - مهاجرینو خپل کورونه او مالونه محض د الله تعالیٰ دپاره پریښودل، ډیکښې د هغوی دُنیوی غرض نه وو، د خپل قوم سره ئے ذاتی مخالفت نه وو بلکه محض د الله تعالیٰ دپاره وو -

ای اخرجوا من دیارهم وخالفوا قومهم ابتغاء مرضات الله ورضوانه - (ابن کثیر، ج ۴ ص ۳۳۷) -

وَیَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ : دا په یَبْتَغُوْنَ بانډې معطوف دے - دا د مهاجرینو بل صفت دے - د هغوی د خپلو کورونو نه وتل او خپل ځائیدادونه پریښودل محض د الله پاك د دین او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امداد او مرستے دپاره وو :

ای ینصرون دین الله ویعینون رسوله - (مدارك) - اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ : دا مهاجرین خپل د ایمان په دعوی کښې رښتونی او په جهاد او انفاق او د دین حق په تائید او حمایت کښې مخلص دی : الکاملون فی الصدق فی دعواهم الایمان - (روح) - دا د الله پاك له طرفه د مهاجرینو د ایمان او اخلاص شهادت دے چه هغوی په خپلو ځانونو بانډې څومره تکلیفونه برداشت کړل او څومره مالی نقصانونو او د خپلو انو مخالفت ته ئے غاړه کیښوده - دا ټول هر څه هغوی د څه دُنیوی لالچ دپاره او نکړل بلکه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم دپاره ئے کړیدی -

قال قتادة المهاجرون الذین ترکوا الدیار والاموال والعشائر وخرجوا حبا لله ولرسوله واختاروا الاسلام علی ما کانوا فیه من شدة - (خازن ومعالم ج ۷ ص ۶۲) -

د مهاجرینو نه دیو کس باره کښې د منافقت اعتقاد لرل د دے ایت نه صریح انکار او کفر دے ځکه چه الله تعالیٰ په ډے ایت کښې ټول مهاجرین په ایمان او عمل کښې مخلص او صادق فرمائیلی دی؛

الصّٰدقون في ادعاء ايمانهم وحالهم على ضد دعواهم فمن قال من الروافض انهم كانوا منافقين وكانوا كاذبين في ادعاء الايمان كفر لاستلزام انكار هذه الآية - (مظهري ج ۹ ص ۲۳۲)-

۹ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ: دا په اَلْفُقَرَآءِ باندې معطوف دے او دیکښې د انصارو رضي الله عنهم د فضل او شرف ذکر دے - الدَّار نه مراد مدینه منوّره ده کوم چه دار الهجرت دے - دَ اَلْاِیْمَانَ عامل مقدر دے ، ای حصلوا - (الشیخ رحمه الله تعالی). یا اخلصوا - (روح) او دا د قبیلے د علفتها تبناً وماءً باردًا نه دے ، الکلام من باب - علفتها تبنا وماء باردا - ای تبوؤ الدار و اخلصوا الایمان - (روح ج ۲۸ ص ۵۱)-

دَ مهاجرینو نه علاوه دَ دے مالِ فئی نه په انصارو باندې هم خرچ کوه کوم چه دَ مهاجرینو دَ راتللو نه مخکښې مدینے اوسیدونکی وُو او دَ هغوی دَ راتللو نه مخکښې ئے اخلاص سره ایمان راوړے وُو - يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ: مهاجرینو سره دَ هغوی دَ زړهٔ محبت دے او دَ هغوی په زړونو کښې دَ مهاجرینو دپاره همدردی ده او دَ غمخوارئ جذبه په موجود دے - مهاجرینو ته چه څهٔ ورکولے شي دَ هغے په وجه دوی نه خفه کیږی او دَ هغے په وجه ئے زړونو کښې تنګی نهٔ راځی بلکه دوی په ځپلو ځانونو باندې مهاجرینو ته ترجیح ورکوی، اګرچه دوی بخپله هم حاجتمند او ضرورتمند وی. حَاجَةً ، تنګی او حسد ، حاجة حسدا (مدارک) - خَصَاصَةٌ ، حاجت او ضرورت (روح) - دا دَ دے خبرے دلیل دے چه دَ انصارو رضي الله عنهم زړونه دَ دُنیوی لالچ او بُخل او بیمارئ نه پاک وُو - او څوک چه دَ لالچ او بُخل دَ بیمارئ نه بچ کړے شو هغه کامیاب شول - په اصل کښې اَلشُّحّ دا دے چه انسان دَ دولت په لالچ او طمع کښې دومره ننوځی چه په ظلم او زیاتی سره د نورو خلقو په مالونو باندې قبضه اوکړی: انما الشح الذی ذکره الله تعالى في القرآن ان تاکل مال اخيك ظلما - (قرطبي ج ۱۸ ص ۳۰)-

۱۰ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْ بَعْدِهِمْ: دا هم په اَلْفُقَرَآءِ باندې معطوف دے دَ مهاجرینو او انصارو نه روستو چه کوم مؤمنان مستحق دی هغوی ته به هم دَ دے مال نه حصه ورکولے شي لیکن هغوی دپاره ضروری ده چه دَ مهاجرینو او انصارو دَ بُغض او عداوت نه دهغوی زړونه پاک وی بلکه دَ هغوی د محبت نه ډک وی او همیشه مهاجرینو او انصارو له نیکو دُعاګانو سره یادوی - دَ دے ایت نه معلومه شوه چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم دَ بُغض او حسد نه زړهٔ صفا ساتل او دهغوی په حق کښې دُعا کول روستو راتلونکو مؤمنانو دپاره لازم دی ترد ے چه امام مالك رحمه الله فرمائی دَ چا په زړهٔ کښې چه د کوم صحابي رضي الله عنه سره بُغض وی

مالِ فئي کښې د هغوئ هیڅ حصه نشته ؛
و فی الآیة حث علی الدعاء للصحابة وتصفیة القلوب من بغض احد منهم (روح ج ۲۸ ص ۵۴) وما احسن ما استنبط الامام مالك رحمه الله من هذه الآیة الکریمة ان الرافضی الذی یسب الصحابة لیس له فی مال الفیٔ نصیب لعدم اتصافه بما مدح هؤلاء فی قولهم ربنا اغفرلنا ولاخواننا الخ - (ابن کثیر ج ۴ ص ۳۳۹) -

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ
ایا تا اونه لیدل هغه کسان چه منافقان دي وائي خپلو ورونړو ته
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ
کوم چه کافران دي د اهلِ کتابو نه ، که چرې تاسو له څوك اوباسي
لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّ
نو مونږ به هم وځو تاسو سره او خبره به نه منو ستاسو معامله کښې د هیچا هیڅکله هم ، او
اِنْ قُوْتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ
که چرې تاسو سره جنګ اوشو نو مونږ به مو امداد کوو ، او الله ګواهي ورکوي چه دوی
لَكٰذِبُوْنَ ⑪ لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَ
دروغژن دي وا . که چرې هغوی اوویستلی شي له دوی به نه وځي هغوی سره ، او
لَئِنْ قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ
که هغوی سره جنګ وي دوی به ئې امداد نکوي ، او که امداد ئې کوي
لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ⑫ لَاَنْتُمْ اَشَدُّ
نو ښتي به په شا پیرته ، بیا به هیچرته امداد بیا نه مومي . ضرور ستاسو ویره
رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ
زیاته ده د هغوی په زړونو کښې د الله د ویرې نه ، دا ځکه چه دغه خلق

قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي

پوهه نهٔ لري ف۱ - نهٔ به جنګيږي تاسو سره ټول يو ځائے ليکن د کلو

قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍ ۚ بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ

په قلعه کانو کښې يا د ديوال پناه اخستلو سره، د دوي خپل مينځ کښې جهګړه

شَدِيدٌ ۚ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ۚ ذَٰلِكَ

سخته ده، ته به خيال کوے چه دوي يو دي او د دوي زړونه جدا جدا دي، دا حکه

بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ الَّذِينَ مِن

چه دغه خلق عقل نهٔ لري ف۲ لکه قصه د هغه خلقو ف۳ چه تير شوي

قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ۖ ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ

د دوي نه مخکښې نزدے دي څکل دهغوي سزا لره د خپلو عملونو، او هغوي لره دے عذاب

أَلِيمٌ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ

دردناک ف۱ ف۳ لکه قصه د شيطان ته کله چه اووائي انسان ته، ته منکر شه،

فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ

بيا چه کله هغه منکر شو ووئيل څهٔ جدا يم ستا نه څهٔ ويريږم د الله نه

رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَا أَنَّهُمَا فِي النَّارِ

چه رب دے د ټول جهان ف۳ بيا انجام د دغه دواړو وکله دا چه دغه دواړه دي په اور کښې

خَالِدَيْنِ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ﴿١٧﴾ ع ٢ ٥

هميشه او سيدونکي په هغې کښې، او دا ده سزا د ګنهګارانو -

نکات بر - ۱ - د تمهيد نه پس زجر د پاره د منافقانو - ۲ - تسلي د پاره د مومنانو - ۳ - تخويف دنيوي او اخروي -

موضح قرآن ف۱ دے منافقانو به کافرانو ته په پټه پيغام ورکولو آخر هغوي او ويستلي شو - ف۲ يعني نزدے ده لکه چه د مکے والو د بدر په ورځ سزا مونده لے ده هغه شان طريقه به د دوي هم وي -

ف۳ شیطان به په اخرت کښې داُواٸي او دَ بدر په ورځ ئې هم دَ یو کافر په شکل کښې خلق اُوجنګول، کله چه ئې فرښتې اولیدے نو اُوتښتید ۀ - په سورۀ انفال کښې تیر شوی دی. هغه دَ منافقانو قصه وه - منه رحمه الله.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني دَ الله تعالیٰ دَعذاب نه چه په نیته دے پروا نکوی. ف۲ یعني دیو بل سره خپل مینځ کښې جنګونه لری او دَدوی تولو مصلحت یو نه دے. ف۳ یعني څرنګه چه اهل بدر مغلوب شول او شکست ئې اُوخوړلو، دغه رنګې به دوی هم شي.

تفسیر ۱۱ اَلَمْ تَرَ، دَتمهید نه پس هغه منافقانو باندې زجر دے چه په سورۀ مجادله کښې ذکر شوی منافقونه کم وو. دَ اهل کتاب نه دَبنو قریظه یهود مراد دی - ځکه چه بنو نضیر خو مخکښې دهلته نه ویستلی شوی وو. منافقانو اګرچه په ژبه خوَ اسلام دعوی کوله لیکن په زړونو کښې ئې دَ پخوا پشان کفر موجود وو - نو ځکه ئې ورته دَ اهل کتابو رونړه اُوویئیل - دا رنګې دَ منافقان هم اکثر دَ یهودو نه وو. منافقانو به دَ دروغو وعدو سره دَ بنو قریظه یهودیان دَ مسلمانانو خلاف تیزول - منافقان چه څرنګه په اسلام کښې مخلص نه وو، دغه رنګې یهودو سره په کړے شوے وعدو کښې هم مخلص نه وو او دوی دا وعدے محض دَ څړنیوی په طور کولے چه کۀ بالفرض دَ بنو قریظه تله درته شوه نو دَ هغوی امداد به اوکړی او کۀ دَ مسلمانانو تله درنه شوه نو دَ هغوی ملګرتیا به اوکړی ــــ منافقانو به یهودو ته ویئیل چه کۀ دَ بنو نضیر پشان تاسو هم دَ کورونو نه اُوویستلی شوئ نو مونږ به هم دلته نۀ پاتے کیږو بلکه چرته چه تاسو ځئ نو مونږ به هم درسره ځو او ستاسو بارۀ کښې به دَ هیچا خبره نۀ منو، مثلاً کچرے مسلمانانو مونږ ته اُوویئیل چه مونږ ستاسو ملګرتیا پریږدو یا تاسو سره اُوجنګیږو، نو مونږ به ئې هیڅکله دا خبره نۀ منو بلکه کچرے مسلمانانو تاسو سره جنګ شروع کړو نو مونږ به اُلټه ستاسو مدد کوُو - وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝

الله تعالیٰ دَ منافقانو تکذیب اوکړو چه دوی دروغژن دی په دے وعدو کښې او نۀ ئې پوره کوی. او همدغه شان اوشوه - کوم وخت نه مخکښې دَ هغے خبر ورکوُل او دَدے اطلاع مطابق دَ هغے واقع کیدل دَ نبی علیه السلام دَ صداقت دلیل دے چه واقعی هغوی دَ الله تعالیٰ رسول دی او وحی پرے راځي - (الکاذبون) فی مواعیدهم للیهود وفیه دلیل علی صحة النبوة لانه اخبار بالغیب. (مدارک ج ۴ ص ۱۸۳) -

۱۲ لَئِنْ اُخْرِجُوْا، دا دَ منافقانو دَ دروغو تفصیل دے یعني دَ هغوی دا وعدے دروغ دی - کۀ یهودیان دَ خپلو کورونو نه اُوویستلی شو نو دوی به ورسره اُو نۀ راوځي او دغه یهودیانو سره جنګ شروع شو نو دوی به ئې امداد اُونکړي

او که بالفرض دوی دغوی د امداد دپاره اوځي نو شکست خوړلو سره به واپس راتختي او بیا به ورته د هیچرته نه امداد ملاؤ نشي ځکه چه د بنو نضیر یهودیان د وطن نه اوشړلی شو نو منافقان عبدالله بن اُبَی وغیره ورسره اونۀ وتل او کله چه بنو قریظه یهودیان قتل کړے شو نو منافقانو ورسره هیڅ امداد اونکړو؛

وفیه معجزة حیث کان الامر فے المستقبل کذٰلك فان بنی نضیر اخرجوا ولم یخرج معهم عبدالله بن ابی ابن سلول ولا منافقو قریظة و قریظة قوتلوا وقتلوا لم ینصرهم منافقوا مدینة. (مظهری ج ۹ ص ۲۵۰).

سلله لَاَنْتُمْ اَشَدُّ: دا مؤمنانو ته تسلّی ده. یهودیان اګرچه د مُسلمانانو په مخکښ د دے خبرے اظهار کوی چه دوی د الله نه ډیر زیات ویریږی لیکن اے ایماندارو! حقیقت د الله تعالیٰ نه زیات ستاسو رُعب او دَبدبه او هیبت د دغه خلقو په زړونو کښ دے او د هغے وجه دا ده چه دغه خلق د دین د فهم نه خالی دی او د الله پاك د لوئے شان نه ناخبره دی او دا حقیقت ورته معلوم نۀ دے چه زړهٔ کښ د الله تعالیٰ ویره د ټولو نه زیاته پکار ده؛ یعنی

انهم یظهرون لکم فی العلانیة خوف الله وانتم اهیب فی صدورهم (ذٰلك بانهم قوم لا یفقهون) لا یعلمون الله وعظمته حتی یخشوه حق خشیته. (مدارك ج ۴ ص ۱۸۳).

سلله لَا یُقَاتِلُوْنَکُمْ جَمِیْعًا: دا مؤمنانو ته تسلّی ده او زړه ورکول دی. ارشاد ئے اوفرمایئ: اے ایماندارو! دا منافقان او یهودیان به هیڅکله هم متفق او متحد نشی او نۀ به ستاسو مقابلے ته یو ځائے راشی. دوی ستاسو د طاقت، رعب او دَبدبے نه دومره مرعوب او ویریدلی دی چه په ښکاره میدان کښ به هیڅکله ناسو سره د جنګ کولو جرأت اونکړی په محفوظ کلو او د دیوالونو نه شاته تاسو سره د جنګ جرأت کولے شی. بَاْسُهُمْ بَیْنَهُمْ شَدِیْدٌ: دا خیال مکوئ چه دوی د کمزورئ او بُزدلئ په وجه ستاسو مقابله نشی کولے ځکه چه کله دوی خپل مینځ کښ جنګیږی نو جنګ ئے ډیر زیات سخت وی او ستاسو په وړاندے د دوی کمزوری محض ستاسو د رُعب د وجے نه ده. په ظاهره تاسو ته داسے معلومیږی چه دوی خپل مینځ کښ یو دی او متحد دی خو په زړونو کښ ئے مکمل افتراق او جُدائی واله ده. دوی کښ دومره عقل او فهم نشته چه دوی خپل مینځ کښ د اتحاد او محبت اهمیت اوپیژنی؛ وهذا تجسیر للمؤمنین و تشجیع قلوبهم علی قتالهم. (روح ج ۲۸ ص ۵۸).

سلله کَمَثَلِ الَّذِیْنَ: دا د منافقانو او یهودیانو د پاره تمثیل او تخویف دے او دا د مبتدا محذوف خبر دے او د وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ نه مراد بنو قینقاع دی یا مقتولین د بدر دی یا دواړه مراد دی. (روح) د دے منافقانو حال او

انجام هم هغه شان کید ونکے دے کوم چه په تیره شوے نزدے زمانه کښ د بنو قینقاع او د قریشو د سردارانو په میدان بدر کښ اوشو چه د خپل کفر او عصیان مزه ئے څکلے ده او په آخرت کښ هم ورله دردناک عذاب دے.

۶۲ كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ: دا د منافقانو او یهودیانو دپاره دوهم مثال بیانول دی د منافقانو یهودیانو سره د وعدو مثال د شیطان د وعدو پشان دے چه انسان ته مختلف امید ورته او آرزو ګانے ورکړی او شنه باغونه ښودلو سره ئے په کفر و شرك باندے ورواچوی او کله چه انسان د هغه د مکرو فریب په جال کښ اخته شی او د هغې په وجه د الله تعالیٰ په عذاب کښ ګرفتار شی نو شیطان ورسره ملګرتیا پریږدی او صفا ورته اووائی چه زه خو د پروردګار عالم نه ویریږم. نو ځه ستا نه بیزاره یم او ستا هیڅ مدد نشم کولے. یهودو سره د منافقانو کړے شوے وعدے هم دغه شان د فریب او دهوکے نه ډکے دی په سخت او مشکل وخت کښ به ئے هیڅ امداد و نکړی او مختلفو حیلو او بهانو سره به ترے ځان په ډډه کړی.

کله فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَا: دا د شیطان او کافر انجام دے. دُنیا کښ خو شیطان انسان لره ګمراه کوی او بیا ترے نه ډډه کوی خو په آخرت کښ د دواړو انجام دوزخ دے چه همیشه به پکښ اوسیږی او د دا سے ظالمانو همدا سزا ده بعینه همدا انجام به د دے منافقانو او یهودیانو هم وی.

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا

اے ایمان دارو! ۱۸ اوویریږئ د الله نه او پکار ده چه وګوری هر نفس چه څه ئے

قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ خَبِيرٌۢ بِمَا

لیږلی دی د صبا دپاره او اوویریږئ د الله نه، بیشکه الله خبر دے د هغې نه چه

تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللّٰهَ فَأَنسٰهُمْ

تاسو ئے کوئ. او مه کیږئ ۱۹ د هغو پشان چه هیر ئے کړو الله بیا الله هیر کړل د

أَنفُسَهُمْ ۚ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِىٓ

هغوی نه خپل نفسونه، دغه خلق دی نافرمانه ۲۰. برابر نه دی ۲۰

أَصْحٰبُ النَّارِ وَأَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

دوزخیان او جنتیان، جنتیان چه دی نو

هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ

دوی دی مراد موندونکی۔ که چیرے مونږ له نازل کړے وے دا قرآن په یو غر باندې

لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَ

نو تا به لیدلے وے هغه وېرېدلے او چاودلے د الله د وېرے نه ، او

تِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾

دا مثالونه مونږ اورَوو خلقو ته د پاره د چې هغوی غور او فکر اوکړی

هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ

الله هغه (ذات) دے کوم چې د هغه نه سوا بندګی لښته د هیچا ، خبر دے په پټو او

الشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۲۲﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ

ښکاره باندې ، هغه دے ډیر مهربانه رحم کوونکے۔ الله هغه (ذات) دے چې

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ

د هغه نه سوا د هیچا بندګی نشته ، بادشاه دے پاک ذات والا د ټولو عیبونو نه سالم امن ورکوونکے

الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ

پناه ورکوونکے غالب دباؤ والا خاوند د لویئ ، پاک دے الله

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۲۳﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ

د هغوی د شریک بیانولو نه۔ هغه (ذات) الله دے پیدا کوونکے راویستونکے شکل جوړوونکے

لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ

هغه لره دی ټول ښائسته نومونه ، پاکی بیانوی هغه لره څه چې په آسمانونو کښې دی او

الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾ ع ۳ / ۶

په زمکه کښې او هغه دے غالب حکمتونو والا۔

نکات:۔ ۱ تخویف اُخروی او زجر د پاره د منافقانو۔ ۲ د توحید د دعوے ذکر۔ ۳ په دعوی باندې دوهم دلیل ۴ بیا دعوائے توحید۔

۵ دویم دلیل - سلـ پـه دعوای بانـږ دریم دلیل -

موضح قرآن

ف۱ دَهغوی نـدے ځانونه هیر کړل یعنی دَخپلو ځانونو دَخلاصی فکر ئې اونکړو - ف۲ یعنی دَکافرانو زړونـه ډیر سخت دی چـه کـه دے کلام اَوریـدلو سره هم ایمان نه راوړی - کچرے غر پـه دے پوهـه شی نو هغه بـه هم دَویرے ویرے نـه اُوچوی -

فتح الرحمن

ف۱ یعنی دَقیامت دَوَرځې دپاره -

تفسیر

۱۸ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا : دَحضرت شیخ قدس سرهٔ پـه نزد دَ اولنو منافقانو نـه دَکیے مرتبے منافقانو دپاره زجر ده دے صورت کښ بـه دا ایمان نـه مراد ایمان بِاللّسان وی - یا خطاب ایمان والو تـه دے او منافقانو تـه تنبیه مقصود ده ، یا منافقانو تـه دَزجر او تنبیه نـه پس دَمخلصینو دپاره وعظ او ارشاد دے ، چـه پـه خپلو ټولو ظاهری او باطنی اعمالو کښ دالله تعالیٰ نـه اوویریږئ او دهغهٔ دحکمونو تعمیل اوکړئ او دَنواهیو نـه ځان اوساتئ ، او هر بشر دِ دیته نظر اوکړی چـه دے آخرت دپاره څهٔ سامان برابر کړی چرته چـه بـه دهٔ تـه دَخپل نیک اوبد عمل پوره پوره بدلـه ملاویږی ځکه چـه الله تعالیٰ ستاسو دَ ټولو ظاهری او باطنی اعمالو نـه خبردار دے -

۱۹ وَلَا تَكُونُوا ، او دَهغه خلقو پشان مهٔ کیږئ چا چـه دالله تعالیٰ ذکر او دَهغهٔ داحکامو منل پریښودل او دَالله حکمونـه منلو سره ئې خپل ځان دَآخرت دَخسارے نـه دَبچ کولو تدبیر اُونکړو چـه دَهغې نتیجه دا شوه چـه الله تعالیٰ هم دوی لره پـه خپل فضل ، رحمت ، انعام او اکرام سره یاد نکړل داخلق سرکښه او دَالله تعالیٰ دَحکمونو نه باغیان دی او دَدے سزا مستحق دی چـه دَالله تعالیٰ دَرحمت نـه محرومه شی : (نَسُوا اللّٰهَ) ترکوا ذکر الله عزوجل وما امرهم بـه (فَأَنْسٰهُمْ أَنْفُسَهُمْ) فترکهم من ذکره بالرحمة والتوفیق - (مدارک ج ۴ ص ۱۸۴) -

۲۰ لَا يَسْتَوِي ، دَدے فاسقانو فاجرانو ذهنونه دومره مسخ شویدی چـه دَدوی پـه نزد پـه نیک اوبد کښ هیڅ فرق نهٔ دے پاتے شوے حال دادے چـه دا بے بدکرداره اوبدګفتاره خلق بـه دَدوزخ خشاك وی ، دَدے مؤمنانو صالحانو برابر کیدے لشی کوم چـه بـه دَجنت اوسیدونکی وی او پـه هغې کښ بـه همیشه وی -

۲۱ لَوْ أَنْزَلْنَا : دا پـه قرآن مجید کښ دَغور او فکر کولو ترغیب دے او پـه غرونو بانـدِ دَقرآن کریم نازلولو نـه یا تمثیل مراد دے یا مقصد دا دے

چه که مونږ دغرونو پشان سخت شیزته هم عقل ورکړے وے او بیا مو پرے قرآن نازل کړے وے نو دَ قرآن دَ اثر کولو په وجه به دومره متاثره شوی وُو چه دَ ویرے نه به پرے رپیدل راغلی وُو او تکړے تکړے شوی به وُو، لیکن دَ دے منافقانو زړونه دومره زیات سخت دی چه دَ قرآنی وعظونو پرے هیڅ اثر نهٔ کیږی:

حث علیٰ تأمل مواعظ القرآن وبیّن انه لاعذر فی ترك التدبر، فانه لو خوطب بهذا القرآن الجبال مع ترکیب العقل فیها لانقادت لمواعظه ولرأیتها علیٰ صلابتها و رزانتها خاشعة متصدعة (قرطبی ج ۱۸ ص ۴۴) -

دا مثالونه مونږ حُکه خلقو ته بیانوُو چه په دے کښ غور و فکر اوکړی او عبرت او نصیحت حاصل کړی -

۲۲ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ: په آخرکښ دَ توحید دَ دریو مرتبو ذکر دے۔ دَ دے ایت اولنئ حصه کښ دَ توحید دَ دریمے مرتبے ذکر دے یعنی دَ توحید دعویٰ چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیڅوك دعبادت او پلنے لائق نشته۔ عٰلِمُ الْغَیْبِ وَ الشَّهَادَةِ: دا دَ توحید دَ دعوے علت دے۔ دَ هغهٔ نه سوا څوك دَ عبادت او پلنے لائق نشته حُکه چه هغه عالم الغیب او رحمن رحیم دے، ټول دَ دین او دُنیا نعمتونه دَ هغهٔ له طرفه دی. عٰلِمُ الْغَیْبِ الخ دَ دیته مخکښ هُوَ مبتدا محذوف دے۔

۲۳ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ: دا دَ توحید دویمه مرتبه ده او په شروع کښ دَ توحید دَ دعوے اعاده ده او دَ هغے نه پس دَ توحید دَ دعوے دویم علت ذکر شویدے۔ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ: ای هو الملك الخ۔ اَلْمَلِكُ: بادشاه او متصرف او مختار۔ اَلْقُدُّوْسُ: کامل الصفات چه هر صفت ئے کامل وی۔ (روح) چه دَ هغهٔ په بادشاهئ کښ په تیره شوے زمانه کښ هیڅ فرق رانغے (الشیخ رحمه الله) اَلسَّلٰمُ: چه دَ هر عیب نه پاك دے۔ (روح) چه دَ هغهٔ بادشاهی به په مستقبل کښ هم دَ هر قسم نقصان نه محفوظ وی۔ (الشیخ رحمه الله) اَلْمُؤْمِنُ، امن او سلامتیا ورکونکے، اَلْمُهَیْمِنُ: نګهبان او محافظ۔ اَلْجَبَّارُ: دَ مخلوق اصلاح کونکے۔ اَلْمُتَکَبِّرُ: په عظمت او لویئ کښ په ټولو باندِ اوچت (روح)۔ حاصل دا چه په دے ټولو کائناتو کښ متصرف او مختار صرف هغه دے او دَ خپلے بادشاهئ په تخت باندِ متمکن دے، دَ هغهٔ حکومت او بادشاهی دَ هر قسمه ضعف، کمزورئ او نقصان نه پاکه ده او په حکومت او تصرف او اختیار کښ ورسره هیڅوك شریك او مُشیر نشته او نهٔ ئے څوك نائب او مددګار شته۔

۲۴ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ: دا د توحید اوله مرتبه او د توحید د دریمې دعوې علت دے - د پیدائش درے مرتبې دي - اول خلق، د هر څیز پیدائش د حکمت موافق منصوبه تیارول - دویم برء، د عدم نه وجود ته راوستل - دریم شکل او صورت ورکول؛

(الخالق) المقدر لما یوجدہ (البارئ) المخترع المنشئ للاعیان من العدم الی الوجود (المصور) ای یخلق صورة الخلق علی ما یریدہ ...... فاولا یکون خلقا ثم براً ثم تصویرًا - (خازن ومعالم ج ۷ ص ۳۳)

د دینه علاوه هم دهغه ډیر صفتونه شته - حاصل دا چه د ټولو کائناتو خالق هم صرف هغه دے او د ټولو حاجت روا او کارساز هم دے - نو په حاجتونو او مشکلاتو کښ صرف هغه ته آوازکوئ -

۲۵ یُسَبِّحُ لَهٗ: دا د سورت په شروع کښ د ذکر شوے دعوے اعاده ده، په شروع کښ د ماضی په صیغے سره او دلته د مضارع په صیغے سره د پاره د دے چه په استمرار تجدد دی باندې دلالت اوکړي یعنی د زمکے او آسمان هر څیز مسلسل د الله تعالیٰ په تسبیح او پاکئ بیانولو کښ لګیا دے او تر قیامته پورے به دا سلسله جاري وي ځکه چه هغه جامع د کمالاتو دے، د هر نقص او عیب نه پاک او علم او قدرت کښ کامل دے ؞

و اخر دعوانا ان الحمد للّٰه رب العلمین ط

سورۂ حشر کښ د توحید آیتونه او د هغے خاصیتونه

① سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ۔ (الآیة) نفی د هر قسمه شرک -

② هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (الآیة) د توحید دریمه مرتبه یعنی د الله پاک نه سوا هیڅوک د عبادت او پلنے لایق نشته -

③ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ (الآیة)؛ دویمه مرتبه، صرف هغه متصرف او کارساز دے -

④ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ (الآیة)؛ د توحید اوله مرتبه چه هغه د ټولو خالق دے ؞

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَة

رَبط سورهٔ مجادله او سورهٔ حشر کښې منافقانو ته زجرونه وو، اوس په سورهٔ الممتحنه کښې علی سبیل التنزیل په هغه کاملو مؤمنانو باندې زجرونه دی چه د جهاد باره کښې کوتاهی شوې ده۔

خلاصه کامل مؤمنانو باندې زجر، قانون دپاره د مؤمنات مهاجرات، قانون دپاره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په باره د بیعت د ښځو کښې۔ زجر دپاره د مؤمنانو۔

تفصیل

یَاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّیْ ـ تا ـ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ۔ دا هغه کاملو مؤمنانو باندې زجر دے د کومو نه چه د جهاد باره کښې د منافقانو پشان عمل شوے وو لکه د حضرت حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه نه دا غلطی اوشوه چه هغه د یو مصلحت په بناء باندې د مسلمانانو د یو جنګی مهم راز د مکې مشرکانو ته د رسولو کوشش اوکړو، مقصد ئے دا وو چه مشرکان به دده د احسان لاندې راشی نو د ده د اهل وعیال حفاظت به کوی۔ نو ارشاد اوشو: اے د ایمان خاوندانو! کوم خلق چه زما او ستاسو دشمنان دی، هغوی سره د دوستئ معامله مکوئ۔ دا هغه خلق دی چه پرون ئے تاسو او د الله رسول صلی الله علیه وسلم د مکې مکرمې نه راویستلی وئ۔ د دوی د دشمنئ دا حالت دے چه که هغوی تاسو لره هرځائے بیا مومی نو د پوره پوره بغض اظهار به کوی او تاسو ته به په لاس او ژبه د ضرر رسولو کوشش کوی او دوی دا آرزو کانے کوی چه تاسو د دین اسلام نه واپس اوګرځئ نو آیا دا سے خلق د څه قسمه دوستئ لائق دی؟ او د کوم اهل وعیال په خاطر چه تاسو دا سے کریدی د قیامت په ورځ به هغوی ستاسو هیڅ په کار رانشی۔

قَدْ کَانَتْ لَکُمْ اُسْوَةٌ ـ تا ـ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ ۔ ستاسو دپاره په ابراهیم علیه السلام او د هغوی په تابعدارو کښې بهترینه نمونه ده۔ د هغوی په نقش قدم باندې تللو کښې د هغوی کافرانو سره مکمل تعلق ختمول پکار وو لکه چه هغوی خپل قوم ته صفا فرمائیلی وو چه مونږ ستاسو نه او ستاسو د څان نه جوړشوی

معبوداتو نه بیزاره یُو او زمونږ او ستاسو ترمینځه به همېشه دپاره دشمنی
قائمه وی ترڅو چه تاسو دَ الله تعالیٰ په وحدانیت باندِ ایمان رانه وړئ لیکن
ابراهیم علیه السلام دَ وعدے مطابق خپل پلار دپاره دَ مغفرت دُعا اوغوښتله لیکن
چه کله ورته معلومه شوه چه هغه ته هدایت نه نصیب کیږی نو هغهٔ دپاره
دُعا غوښتل پریښودل - عَسَى اللّٰهُ اَنْ یَّجْعَلَ الْاٰیَۃ : مسلمانانو ته ئے
اُمید ورکړو چه کیدے شی دَ اسلام دشمنانو ته الله پاک دَ اسلام قبلولو توفیق
ورکړی او په دے طریقه ستا او دَ هغوی په مینځ کښ دَ دوستیٔ لاره قائمه شی -
اِنَّمَا یَنْهٰکُمُ اللّٰهُ (الْاٰیَة) : بیشکه دَ هغه کافرانو سره دَ دوستیٔ او احسان معامله
کولو نه الله منع کوی کوم چه دَ دین په وجه تاسو سره جنګیږی او هغه چه تاسو ئے
دکورونو نه راویستلی یئ یا ئے په دے امداد کړے دے -
لَا یَنْهٰکُمُ اللّٰهُ (الْاٰیَة) : دَ هغه کافرانو ذکر دے چا باندِ چه دَ احسان کولو
ممانعت نشته یعنی هغه کافران کوم چه ترننه پورے دَ دین اسلام ختمولو دپاره
تاسو سره نه دی جنګیدلی او نه ئے تاسو دَ کورونو نه ویستلی یئ -
یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا جَآءَکُمُ الْمُؤْمِنٰتُ ـ تا ـ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْۤ
اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ٥ : اول قانون دپاره دَ مؤمنات مُهاجرات - کچرے یوه ښځه
دَ ایمان قبلولو نه پس هجرت اوکړی تاسو ته راشی نو اطمینان حاصل کړئ
چه په حقیقت کښ هغه مؤمنه ده - که تاسو ته دَ هغے دَ مومن کیدلو یقین وشی
نو اُوس هغه کافرانو ته واپس مه لیږئ ځکه چه نه اُوس هغه کافر دپاره حلاله
ده او نه کافر هغے دپاره حلال دے - کچرے هغه په دار الحرب کښ واده شوے
وه نو دَ هغے خاوند چه کوم مُهر وغیره خرچ کړے وُو هغه واپس کړئ - دغه شان
کچرے ستاسو کافرے ښځے مشرکانو ته ورشی نو تاسو هغه کافرانو ته دَ ورکولو نه
مخکښ دَ هغه مسلمان حق دَ هغے نه کمولو سره واخلئ کوم چه دَ کافرانو په ذمه
باقی پاتے دے -
یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اِذَا جَآءَکَ الْمُؤْمِنٰتُ ـ تا ـ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ٥ : دادریم
قانون دے دپاره دَ بیعت دَ ښځو - کله چه تاسو ته زنانه دَ بیعت دپاره حاضرے
شی تاسو دے شرطونو سره دَ هغوی نه بیعت واخلئ :
① دَ الله تعالیٰ سره به شرک نکوی -
② غلا به نکوی - ③ زِنا به نکوی -
④ اولاد به نه قتلوی -
⑤ ستاسو نافرمانی به نکوی -
یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا (الْاٰیَة) : دا مؤمنانو ته زجر دے - هغه کافرانو
سره دوستی مکوئ کوم چه دَ شرک او کفر په وجه دَ آخرت دَ اَجر او ثواب

دا سے محرومه او نا امیده دی څنګه چه هغه کافران دی کوم چه مړه شویدی ۞

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورۂ ممتحنه مدینه کښې نازل شو او دیکښې دیارلس آیتونه او دوه رکوعګانې دی ۞

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے ۞

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ

اے ایماندارو ! مه نیسئ زما او خپل

عَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ

دشمنان دوستان، تاسو هغوی ته خبر لیږئ د دوستئ او هغوی

كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ

انکار کړیدے د هغه نه کوم چه تاسو ته راغلے دے ریښتونے دین، او باسی پیغمبر

وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ۗ اِنْ كُنْتُمْ

او تاسو په دے خبره چه تاسو منئ الله چه رب ستاسو دے، که چرے تاسو

خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ۖ

وتلی یئ جنګ د پاره زما په لاره کښې او طلب کولو د پاره زما د رضا،

تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ

تاسو هغوی ته په پټه لیږئ د دوستئ پیغام، او ما ته ښه معلوم دی کوم چه تاسو پټ کړیدی

وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ۗ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ

او کوم چه مو ښکاره کړل، او څوک چه ستاسو نه دا کار اوکړی نو هغه ورکه کړه

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ① اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ اَعْدَآءً

سمه لار لاره - که چرے تاسو هغوی ته په لاس ورشئ نو شي به ستاسو دشمنان

وَيَبْسُطُوٓا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِالسُّوٓءِ وَ

او اوږدې کړي وي تاسو ته خپل لاسونه او خپلې ژبې په بدۍ سره او

وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ ﴿٢﴾ لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلَآ

غواړي چه په څه طریقه تاسو هم منکر شئ. هیڅکله به بکار رانشي ته ستاسو خپلوان او نه

أَوْلَادُكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ وَاللّٰهُ

ستاسو اولاد د قیامت په ورځ، فیصله به کوي ستاسو په مینځ کښې او الله

بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣﴾ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

څه چه تاسو کوئ هغه وینې. تاسو له تابعداري پکار ده د نیکۍ

فِىٓ إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ

د ابراهیم ع او کوم خلق چه ورسره وو کله چه ئے اوویل خپل قوم ته

إِنَّا بُرَآءُؤُا مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّٰهِ

مونږ جدا یو ستاسو نه او د هغه چا نه چه تاسو ئے عبادت کوئ د الله نه سوا

كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَ

مونږ منکر شو ستاسو نه او ښکاره شوله زمونږ او ستاسو مینځ کښې دشمني او

الْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتّٰى تُؤْمِنُوا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ إِلَّا

حسد همیشه تر دے چه تاسو یقین اوکړئ په الله یو بانډې لیکن

قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ

وینا د ابراهیم ع خپل پلار ته چه څه به غوارم معافي ستا دپاره او څه مالک نه یم

لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِن شَىْءٍ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا

ستا دپاره د نفع، د الله (د عذاب) نه د هیڅ شي د ، اے زمونږ ربه! مونږ پتا بانډې توکل اوکړو

وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٤﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا

او ستا طرف ته مو رجوع اوکړه او ستا طرف ته دی د ټولو واپس کیدل. اے زمونږ ربه! مه آزمایه

فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ

موږ | کافرانو دپاره | او موږ ته معاف کړه اے زمونږ ربه! | بس هم ته

اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٥﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ

ئے | غالب | حکمت والا ٹ. | بیشکه ستاسو دپاره شته | بنهٔ نمونه ددوی په

اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ۚ

دغه خبرو (د ابراهیم او دهغه د ملګرو) کښ څوک چه امید لري د الله | او د هغه روستني ورځ

وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٦﴾ ع

او څوک چه مخ واړوي نو الله دے | بے پروا | تعریفونو والا.

نکات: ۱- زجر دپاره د مؤمنانو علیٰ سبیل التنزیل د سورهٔ حشر نه. ۲- بیان دپاره د تُلْقُوْنَ. ۳- لوٌ مصدریه دے.

موضح قرآن

ف ۱ نبی علیه السلام مکے والو سره صُلحه کړے وه. اِنَّا فَتَحْنَا کښ دهغے ذکر شوے دے. تر دوو کالو پورے دغه صُلحه باقي پاتے شوه بیا د کافرانو له خوا ماته شوه. نبي علیه السلام د فوج راجمع کولو اراده اوکړه چه په مکه باندې د فتحے کولو دپاره حمله اوکړي. په خبر ورکولو او خطونو لیکلو باندې ئے پابندي اولګوله چه د مکے کافران خبر نشي او چرته هغوی هم د جنګ دپاره تیار نشي اونکړي او په دے طریقه حرم شریف کښ د جنګ مخه اونیولے شي. یو مسلمان چه نوم ئے حاطب رض وو، مکے والو ته ئے خط اولیکه. نبی علیه السلام ته د وحي ذریعه پته ولګیده هغه ئے په لاره کښ اونیوه. حاطب ئے راوغوښتلو، هغه عذر بیان کړو چه په مکه کښ زما اهل وعیال دي ما په دے طریقه هغوی سره څهٔ احسان کول غوښتل دپاره د دے چه زما اهل وعیال سره ښهٔ سلوک اوکړي. دا یوه لویه غلطي وه لیکن حاطب رض جنتي دے، بدري دے. په دے دا سورت نازل شو.

ف ۲ یعني ابراهیم علیه السلام هجرت اوکړو بیائے د خپل قوم طرفته مخ راوُنه ګرځولو تاسو هم دغه شان اوکړئ. ابراهیم علیه السلام یوه دُعا غوښتے وه د پلار دپاره تر څو چه ورته معلومه نهٔ وه لیکن تاسو ته خو معلومه شوه نو د کافرانو دپاره د بخښنے دُعا مهٔ غواړئ. یعني موږ مهٔ آزمایه او د کافرانو دپاره موږ د آزمینت محل مهٔ ګرځوه.

فتح الرحمٰن فـ۱ مترجم وائی نبی علیه السلام دَ مکے فتح کولو طرفته متوجه شو او دا ئے غوښتل چه مکے والوته څوك خبر ورنکړی، دپاره دَدے چه ناڅاپه وربانډے په ناخبرئ کښ حمله وکړے شی۔ دَ نبی علیه السلام په صحابو کښ یوکس هغوی ته خط اولیکه او دَ نبی علیه السلام دَ ارادے نه ئے خبر کړل۔ الله تعالیٰ خپل نبی ته خبر ورکړو تردے چه هغه خط ئے په لاره کښ اُونیولو او واپس ئے راوړلو، الله تعالیٰ کافرانو سره دَ دوستئ نه دَ منعے دپاره کښ دا سُورت نازل کړو۔ والله اعلم۔ فـ۲ یعنی په دے قول کښ ابراهیم علیه السلام پسے اقتداء نۀ دَه پکار، کافر دپاره استغفار کول جائز نۀ دی۔

تفسیر ۱۷ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا: زجر دپاره دَ کا ملو مؤمنانو. دَدے آیتونو شانِ نزول دا دے چه حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه چه یو جلیل القدر صحابی دے، دَ هغۀ مور، څوے او رور په مکه کښ وُو او هلته د هغوی دَ حفاظت دپاره دَ دۀ څوك رشته دارنۀ وُو۔ نو دۀ دَ مکے مشرکانو ته یو خط اولیکۀ چه په هغے کښ ئے ورته خبر ورکړو چه رسُول الله صلی الله علیه وسلم یو لوئے لښکر سره په تاسو بانډے حمله کوونکے دے۔ دَدے نه دَ هغۀ دا مقصد وُو چه مشرکانو بانډے په احسان اوشی او هغوی به دَ دۀ دَ اهل وعیال خیال ساتی لیکن دے سره ئے دا ایمان هم وُو چه که مشرکانو ته دَ وخت نه مخکښ دا معلومه هم شوه نو دے سره به دَ اسلام په فتح کښ هیڅ فرق هم نۀ راځی، ځکه چه الله پاك دَ فتحِ عظیم وعده کړے دَه او دا وعده به ضرور پوره کیږی او هیڅ یو طاقت هم دا فتح نشی بندَ ولے نو هغۀ په خپل خط کښ دا حقیقت هم په مشرکانو واضح کړے وُو او دخط الفاظو هم دا ښودل چه دا دَ یو کلك او مضبوط ایمان والا دَ قلم نه وتلی دی۔ دَ خط متن دا وُو:

ان رسُول الله صلی الله علیه وسلم توجه الیکم بجیش کاللیل یسیر کالسیل واقسم بالله لوسار الیکم وحده لنصره الله علیکم فانه منجز له ما وعده۔ (روح ج ۲۸ ص ۶۷)۔

ترجمه:۔ "رسُول الله صلی الله علیه وسلم یو لوئے لښکر سره پتاسو بانډے حمله کوونکے دے او دا لښکر به دَ سیلاب پشان تاسو بانډے درځی او قسم دے په الله بانډے قسم وی چرے نبی علیه السلام په یواځے تن هم تاسو بانډے حمله اوکړی نو هم به الله تعالیٰ ستاسو په مقابله کښ د هغوی امداد اوکوی او په تاسو بانډے به ورله فتح ورکوی ځکه چه الله تعالیٰ به خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره خپله وعده ضرور پوره کوی۔"

دا خط دیوے زنانه اُمّ ساره په ذریعه مکے ته روان وُو چه رسُول الله صلی الله علیه وسلم ته دَ وحی په ذریعه اطلاع ملاؤ شوه نو هغوی حضرت علی، زبیر، ابو مرثد غنوی او څو نور صحابه رضی الله عنهم ورپسے اولیږل او ورته فرمائیل چه تاسو به

هغه روضه خاخ سره بیا مومئ. کله چه دا حضرات هلته وَر اُورسیدل او دَ هغې نه ئې خط وصول کړو او دَ رَسُول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شول خط ئې پیش کړو نو نبی کریم ﷺ حضرت حاطب رضی الله عنه راوغوښتلو او دَ دغه خط باره کښې ئې تپوس اوکړو نو هغهٔ اقرار اوکړو چه او، دا خط هم ځما دے. نبی علیه السلام اوفرمائیل: یا حاطب ما هذا؟ اے حاطبه! دا څهٔ معامله ده؟ او تا دا خط ولے لیکلے دے. نو هغهٔ خپل عُذر بیان کړو او ورسره ئې عرض اوکړو چه دَ کفر او ارتداد دَ وجے نه ما دا سے نهٔ دی کړی. نبی علیه السلام دے جواب اَوریدلو سره دَ هغهٔ تصدیق اوکړو؛

ولم افعله كفرًا ولا ارتدادًا عن ديني ولا رضىً بالكفر بعد الاسلام فقال النبي صلى الله عليه وسلم: صدق. (قرطبی ج ۱۸ ص ۵۰)

حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړو یا رَسُولَ الله: ما ته اجازت راکړئ چه د دے منافق څټ والوزوم. نبی علیه السلام اُوفرمائیل: اے عُمره! ایا دے دَ اَهلِ بدر نه نهٔ دے؟ او تا ته څهٔ معلومه ده چه الله تعالیٰ په بدر کښې شریکیدونکو ته دَ کُتل نو دا اعلان ئے اوکړو چه تاسو هر څهٔ کوئ هغه کوئ، جنت ستاسو دپاره لازم دے او ما ستاسو ټولے غلطئ معاف کړیدی. دے اَوریدلو سره دَ حضرت عُمر رضی الله عنه په سترګو کښې اوښکے راغلے او ټوله غصه ئے سړه شوه او وے وئیل چه دے معامله بانې الله تعالیٰ او دَ هغهٔ رَسُول ﷺ ښهٔ پوهیږی،

فقال اليس من اهل بدر؟ فقال: لعل الله اطلع الى اهل بدر، فقال: اعملوا ما شئتم فقد وجبت لكم الجنة، او: قد غفرت لكم فدمعت عينا عمر، وقال: الله ورسوله اعلم. (صحيح بخاری ج ۲ ص ۵۶۷ غزوهٔ بدر.)

دَ دے نه دا خبره معلومه شوه چه حضرات صحابهٔ کرام رضی الله عنهم بانډے دَ هغوی دَ غلطو په وجه ملامتیا کول او بد رد وئیل جائز نهٔ دی او هغوی لره به همیشه دَ هغوی په ښو صفتونو بانډے یادول لازم وی. دَ حضرت حاطب رضی الله عنه په نیت کښې اګرچه هیڅ نقصان نهٔ وَو او نهٔ دَ هغهٔ دا حرکت اسلام ته دَ نقصان رَسولو دپاره وَو خو په ظاهره دا دَ منافقانو قول سره مُشابه وَو او دا امکان وه چه کهٔ دَ دے قسمه مصلحت بینۍ دروازه پرانستلے شی نو دے سره به یو وخت اسلام ته ډیر زیات نقصان اُورسیږی. دَ دے وجے نه الله تعالیٰ ته دا خبره خوښه نشوه او په دے بانډے ئے زجر (او تنبیه) ورکړه. يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: اے ایمان والو! تاسو ځما او خپل دشمن لره دوستانهٔ جوړوئ او هیڅ قسم دَ دوستۍ پیغام ورته مهٔ لیږئ. کله چه دا آیت نازل شو نو حاطب رضی الله عنه ډیر زیات خوشاله شو چه الله تعالیٰ هغهٔ لره دَ ایمان صفت سره

یاد کړے دے او ډیرے خوشالئ نه پرے بیهوشي راغله:
ذکر ان حاطبا لما سمع (یایها الذین امنوا) غشي علیه من الفرح بخطاب الایمان۔ (قرطبي ج ۱۸ ص ۵۲)۔

۳ے تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ: دا دَ ما قبل بیان دے یعني کافرانوته دَ دوستئ پیغام مهٔ لیږئ حال دا دے چه کوم حق دین تاسوته راغلے دے او تاسو قبول کړے دے هغوی دده نه منکر دي۔ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ: او اُوس پرونئ خبره ده چه هغوی نبي علیه السلام او تاسو له دَ خپلو کورونو نه راویستلي وئ، محض دَدے وجے نه چه تاسو دَ الله تعالیٰ په وحدانیت بانده ایمان راوړے دے یعني دوئ ستاسو دَ ایمان دُشمنان دي او تاسو ورته دَ دوستئ پیغام لیږئ۔ أَن تُؤْمِنُوا کښ أَنْ مصدریه دے او دَدینه مخکښ لام تعلیل مقدر دے۔ (ای لایمانکم) (روح)۔

۴ے إِن كُنتُمْ: دَدے شرط جزاء محذوف ده په قرینه دَ ما قبل یعني لَا تَتَّخِذُوا: شرط جوابه محذوف لدلالة ما تقدم علیه وهو قوله لا تتخذوا عدوي۔ (بحر، ج ۸ ص ۲۵۳)۔ یعني هرکله چه تاسو دَ جهاد او خُما دَ رضا طلب کولو دپاره دکورونو نه وتلي یئ نو دَ احتیاط نه کار واخلئ او دُشمنانو ته خپل هیڅ یو جنګي راز مهٔ ښکاره کوئ۔ تُسِرُّونَ إِلَيْهِم الخ: دا دَ تُلْقُونَ بیان دے او دَ هغهٔ نه بدل دے۔ (روح) یا استیناف دے یعني دا سے مکوئ چه هغوی سره په پټه دوستي ساتئ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم راز هغوی ته رسوئ:
ای تفیضون الیهم بمودتکم سرًّا او تسرون الیهم اسرار رسول الله صلی الله علیه وسلم بسبب المودة وهو استیناف (مدارک ج ۴ ص ۱۸۶)
وَأَنَا أَعْلَمُ الخ: ما ته ستاسو هره خبره معلومه ده خواه تاسو هغه پټوئ یا ئے ښکاره کوئ۔ دَدے تنبیه نه پس چه هر چا دا کار اوکړو نو هغه دَ سمے لارے نه خطا شو۔

۵ے إِن يَثْقَفُوكُمْ: دا دَ کافرانو ښکاره دَ دشمنئ بیان دے، که چرے تاسو هغوی ته په لاس ورشئ نو دَ څخواپشان به ستاسو دشمنان وي او ستاسو دَ دوستئ دَ پیغاماتو به یوه ذره هم خیال اُونهٔ ساتي او لاس سره به ستاسو وهلو او ژبے سره دَ ضرر در رسولو کوشش کوي کوم چه هغوی کولے شي او دا پټولو نه لوېږه دا چه هغوی ستاسو مسلمانان لیدل هم نهٔ شي زغملے او دَ هغوی دا خواهش دے چه تاسو دین اسلام پریږدئ بیا کافران شئ۔ په نورو الفاظو کښ هغوی تاسو له دَ دنیا او اخرت په تکلیفونو کښ ګرفتار کول غواړي: یعني انهم یریدون ان یلحقوا بکم مضار الدنیا والدین جمیعًا ----- (کشاف، بحر) نو ایا داسے سخت دُشمن دَدے لائق کیدے شي چه دَ دوستئ تعلقات ورسره قائم کړے شي؟

ک۶ لَنْ تَنْفَعَكُمْ، دکوم رشته دارانو او خپلوانو او دکوم اولاد په خاطر چه تاسو په مشرکانو باندې احسانات کوئ غوارئ د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ ستاسو او د دغه اولاد او خپلوانو په مینځ کښې جدائی راولی. یعنې دغه اولاد او خپلوان کافران وی نو د جدا ایئ حکم خو ښکاره دے او که مسلمانان وی نو د محشر په وجه به هر یو د خپلو خپلوانو نه جدا وی لکه چه ارشاد دے: يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ (عبس) ای یفرق الله بینکم بما یکون من الهول الموجب لفرار کل منکم من الاخر. (روح ج ۲۸ ص ۶۹) الله تعالیٰ ستاسو ټولو اعمالو ته خبردے او تاسو ته به د خپلو اعمالو پوره جزاء او سزا درکوی.

ک۷ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ، د ابراهیم علیه السلام او د هغوی د منونکو او تابعدارو په عمل کښې ستاسو د پاره د اقتداء او اتباع ډیره ښه نمونه وه. هغوی خپلو مشرکانو رشته دارانو ته صفا او ویل چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښې اوس تعلقات ختم شویدی او مونږ ستاسو او ستاسو د خودساخته معبودانو نه بیزاره یو او کوم معبودان چه تاسو د الله تعالیٰ نه سوا رابلئ، مونږ د هغوی د معبودیت او کارسازئ نه انکار کوو او اوس زمونږ او ستاسو په مینځ کښې همیشه د پاره بغض او دشمنی قائمه شوے ده ځو که چرے تاسو د الله تعالیٰ وحدانیت ومنئ او زمونږ دین قبول کړئ نو بیا تاسو زمونږ رونړه یئ لیکن ابراهیم علیه السلام د وعدے موافق خپل پلار د پاره د هدایت دعا اوغوښتله: سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا (مریم ع ۳) - لیکن چه کله ورته معلومه شوه چه د پلار په زړه باندې د جباریت مهر لګیدلے دے او اوس ورته د هدایت توفیق نشي ملاویدے نو هغه د پاره ئے د هدایت او مغفرت دعا غوښتل پریخودل. وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ الآية. (توبه) قاله ابن قتیبة.

امام مجاهد، قتاده او ابن الانباری وائی، مطلب دا دے چه د ابراهیم علیه السلام د هر فعل اقتداء کوی لیکن د هغوی د اقوالو: لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ: یعنی مشرک پلار د پاره د مغفرت دعا غوښتلو کښې د هغوی اقتداء مکوئ: المعنی قد كانت لكم اسوة حسنة في كل شئ الا في قوله لاستغفرن لك. (کبیر ج ۸ ص ۱۸۴) نو تاسو له د ابراهیم علیه السلام او د هغوی د متبعینو په نقش قدم باندې تلل پکار دی او د مشرکانو سره په مکمل طور باندې تعلقات در له ختمول پکار دی.

ک۸ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ، دا د حضرت ابراهیم علیه السلام دعا ده یعنی ځه خو صرف ستا د پاره الله پاک ته درخواست کولے شم چه هغه تا ته هدایت درکړی او ستا د مغفرت سامان جوړ کړی لیکن د دے نه سوا ځما په اختیار کښې هیڅ نشته

لاستغفرن لک وما فی طاقتی الا هذا۔ (روح) زمونږ پروردګاره! زمونږ توکل او بهروسه پتا بانديږ ده، مونږ په هره معامله کښې ستا طرفته ميلان او رجوع کوونکي يو او د هر څيز انتها ستا طرفته ده، ټول هر څه ستا په قدرت، تصرف او اختيار کښې دي د بل چا پکښې اختيار نشته۔ رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا الخ، د دے واړو ځايونو کښې د جار او مجرور مخکښې کول حصر دپاره دی۔ (روح) رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا الخ، اے زمونږ پروردګاره! مونږ مشرکانو دپاره فتنه مه ګرځوه يعني هغوی په مونږه باندې مه مسلط کوه چه هغوی مونږ ته هر قسمه تکليفونه او مصيبتونه راورسوی او زمونږ قصور معاف کړه بيشکه ته په ټولو باندې غالب او حکمت والا يې۔ لا تسلطهم علينا فيفتنونا ويعذبونا۔ (قرطبی ج ۱۸ ص ۵۷)

۹ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ: يَرْجُوا: يخاف (جلالين)۔ د کوم مؤمن په زړه کښې چه د الله پاك ويره وی او چا سره چه د آخرت د حساب کتاب ويره وی د هغه نه دا اُميد دے چه د مشرك رشته دارانو او دوستانو په باره کښې به د حضرت ابراهيم عليه السلام او د هغه د تابعدارو په نقش قدم باندې ځي۔ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ الخ، د کامل مؤمن شان دا دے چه د کافرانو سره به تعلق بالکل قطع کوی ليکن د دے واضح بيان نه پس هم چه څوك د دے نه منع نشی نو په هغه باندې لعنت دے او د دے سره به هغه الله پاك ته هيڅ نقصان اونه رسوی بلکه خپل نقصان به اوکړی او کچرے هغوی د کافرانو د دوستئ نه منع شول نو د دے سره به الله پاك ته څه فائده اونه رسوی بلکه خپل عاقبت او انجام به ښه کړی ځکه چه الله پاك بے پروا او د هر کمال او صفت مالك دے۔ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ: د شرط جزاء محذوف ده اى فاقبل له اوفان الله الخ دما قبل يعني جزاء مقدر علت دے۔ قاله الشيخ رحمه الله تعالیٰ۔

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ

اُميد دے چه شی الله او ګرځوی الله ستاسو او ستاسو د دُشمنانو په

عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

مينځ کښې دوستی ولے او الله هر څه کولے شی او الله بخښونکے

رَّحِيْمٌ ۝۷ لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ

مهربان دے ولے الله تاسو نه منع کوی الله د هغه خلقو نه چه جنګ نه کوی تاسو سره

فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ

په دین باندې او نه وي ایستلي تاسو لره ستاسو د کورونو نه چه

تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝۸

د هغوی سره کوئ نیکي او د انصاف معامله، بیشکه الله خوښوي انصاف کوونکي وړ

اِنَّمَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ

الله خو منع کوي تاسو لره د هغه خلقو نه کوم چه تاسو سره جنګیدلي په دین باندې

وَاَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓي

او ویستلي یې تاسو د کورونو ستاسو نه او شریک شول ستاسو په

اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰۗىِٕكَ

ویستلو کښې چه تاسو دوستي وکړئ د هغوی سره، او هغوی چه هغوی سره دوستي اوکړي نو دغه خلق

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۹ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا جَاۗءَكُمُ

ګنهګار دي وړ - اے مومنانو ! کله چه راشي تاسو ته

الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ۭ اَللّٰهُ اَعْلَمُ

مومنې ښځې وطن پریښودلو سره نو د هغوی امتحان واخلئ وړ، الله تعالیٰ ښه پوهیږي

بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا

د هغوی په ایمان باندې، بیا که معلوم کړئ چه دوی ایماندارې دي نو مه یې

تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ۭ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ

واپس کوئ کافرانو ته، نه دا زنانه حلالې دي هغه کافرانو لره او نه هغه کافران

يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ۭ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ۭ وَلَا جُنَاحَ

حلال دي دې زنانو لره، او ګله ورکړئ هغه کافرانو ته کوم خرچ د هغوی شوې وړ، او ګناه نشته

عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۭ

په تاسو باندې چه نکاح اوکړئ هغه ښځو سره کله چه هغوی ته ورکړئ مهر د هغوی،

وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْئَلُوا مَآ اَنْفَقْتُمْ

او مه ساتئ په خپله قبضه کښې ناموس (عزت) د کافرو ښځو او تاسو وغواړئ کوم څه چه تاسو خرچ کړي دي

وَلْيَسْئَلُوا مَآ اَنْفَقُوا ۭ ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ۭ يَحْكُمُ

او هغه کافران دې وغواړي کوم څه چه هغوی خرچ کړي دي، دا د الله فیصله ده، ستاسو مینځ کښې

بَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ⑩ وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ

فیصله کوي، او الله د هر څه نه خبر او حکمت والا دے، او که چرے فوت شي (لاس نه شي) ستاسو

مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا

د لاس نه ښځې د کافرانو طرف ته بیا ستاسو لاس بر شي نو ورکړئ

الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوا ۭ

هغه چا ته د چا ښځې چه تللې دي خومره چه هغوی خرچ کړي دي،

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ⑪ يٰٓاَيُّهَا

او ویریږئ د هغه الله نه چه تاسو ورباندې ایمان راوړے دے. اے

النَّبِيُّ اِذَا جَاۗءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓي

نبي! کله چه راشي تا ته مسلمانانې زنانه بیعت کولو د پاره په دے خبره

اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْــــًٔـا وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ

چه شرک به نه کوي د الله سره د هیڅ شي، او غلا به نه کوي او نه به زنا کوي

وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ

او نه به خپل اولاد وژني او تهمت به نه لګوي کوم چه نے تړلے وي

بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ

د خپلو لاسونو او خپو ترمینځه او ستا نافرماني به نه کوي په یو

مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

نیک کار کښې نو ته هغوی سره بیعت وکړه او معافي ورله او غواړه د الله نه، بیشکه الله تعـ

غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۱۲﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَتَوَلَّوۡا

بخښونکے مهربانه دے ف۶۔ اے مؤمنانو! کله دوستي مه کوئ

قَوۡمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمۡ قَدۡ یَئِسُوۡا مِنَ الۡاٰخِرَةِ

دَهغه خلقو سره چه الله غصه شوے دے په هغوی باندے، هغوی نا اُمیده شوی دی د روستنی کور (آخرت) نه

کَمَا یَئِسَ الۡکُفَّارُ مِنۡ اَصۡحٰبِ الۡقُبُوۡرِ ﴿۱۳﴾ ع

لکه څنګه چه نا اُمیده دی منکرین د قبرونو والو نه ف۵۔

نکات :۔ ۱ اول قانون د پاره دَ مؤمنانو۔ ۲ دویم قانون د پاره دَ نبی کریم ﷺ۔ ۳ زجر د پاره دَ منافقانو۔

موضح قرآن ف۱ یعنی چه هغوی مسلمانان کړئ بیا ستاسو دوستی په خپل ځائے صحیح دہ۔ هم دغه شان اوشول۔ دَ فتح مکے په سفر کښ دَ مکے ټول خلق مسلمانان شول۔ ف۲ دَ مکے په خلقو کښ ځنے داسے هم وُو چه څنګه مسلمانان نشول لیکن چا چه اسلام قبول کړو هغوی سره ئے څه ضد او مخالفت هم نه کولو۔ ف۳ دَ صُلحے په وخت دا فیصله شوے وه چه څوک زمونږ نه تا سو ته راشی هغه به واپس کولے شی۔ نبی علیه السلام دا قبوله کړے وه۔ ځنے سړی راغلل هغه ئے واپس کړل۔ بیا ځنے ښځے راغلے که هغه ئے واپس کولے نو دَ کافرو سړو په کورونو کښ دَ مسلمانو ښځو استوګنه حرامه وه۔ دغه وخت دا آیت نازل شو۔ منه۔

ف۴ دا حکم اُوشو چه کوم ښځه کافره بیوه مسلمانه شی او راشی نو هغه سړی چه کوم خرچ په دے باندے کړے دے هغه واپس ورکړل پکار دی کوم مسلمان چه دَ دغه ښځے سره نکاح اوکړی هغه دِ دے ورله ورکړی او دغه ښځے ته دِ ځانله مهر ورکړی بیا دِ ورسره نکاح اوکړی۔ او دَ دے په مقابله کښ دا حکم اُوشو چه دَ کوم مسلمان ښځه کافره پاتے شوے ده نو هغه دِ پریږدی، بیا چه کوم کافر هغې سره نکاح اوکړی نو دَ دغه مسلمان خرچ شوے مال دِ دهٔ ته واپس کړی۔ کله چه دا حکم نازل شو نو مسلمانان موجود شول دَ ورکړے د پاره هم او اخستلو د پاره هم لیکن کافرانو دَ ورکړے نه انکار اوکړو دغه وخت دا راتلونکے آیت نازل شو۔ منه۔ ف۵ یعنی دَ کوم مسلمان ښځه چه لاړه دار الحرب ته او کافر دَ هغهٔ خرچ کړے شوے مال نهٔ واپس کوی نو دَ کوم کافر ښځه چه مسلمانیدو سره راشی نو دَ هغهٔ خرچ کړے شوے مال دِ هغهٔ ته نهٔ ورکوی بلکه مسلمان ته دِ ورکړی، دا مال دَ هغه مال په بدله کښ اوسلے تلے شو

دا حکم هله وُو کله چه دَ کافرانو سره صُلحه کړے شوے وه په واپس کولو بانـدې، اوس دا حکم نشته ځکه چه دا سے صُلحه باندې اتفاق اُونشی.

اودَ ښځو دَ امتحان اخستلو باره کښ ئے اوفرمائیل چه دَ زړهٔ خبر (علم) الله تعالیٰ ته دے لیکن په ظاهره امتحان اخستل دا دی چه په راتلونکی ایت کښ کوم حکم دے چه هغه قبول کړی نو ایمان ئے ثابت کړئ - دا ایت دَ بیعت دپاره دے. نبی علیه السلام سره چه به ښځانو بیعت کولو نو دا اقرار به ئے کولو. منه رحمه الله.

ف۶ بهتان (طوفان) لاس خپو کښ تړل دا دی چه په چا باندې دَ دروغو دعوے اوکړی یا دَ دروغو گواهی اوکړی یا په څهٔ معامله کښ په دروغه قسم اُوخوری. وخپل عقل او پوهے سره ئے جوړ کړی - اویوه معنیٰ دا ده چه څوئے دَ یونه اُوزیږوی او نسبت او تړون ئے بل سره اوکړی یا ئے دَ خپل خاوند نه نهٔ دے زیږولے او وائی چه دا م دَ خاوند نه زیږولے دے - حدیث شریف کښ راغلی دی کومه ښځه چه دیو اولاد بل ته ورکوی (بل ته ئے نسبت کوی) په هغے باندې دَ الله پاك لعنت دے - ف۷ دَ کافرانو منکرینو اُمید نشته چه دَ قبرونو نه به څوك راپاسی - دا کافران هم دغه شان نا اُمیده دی. منه رح.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی هغوی ته دَ اسلام توفیق ورکړی - ف۲ دَ صلحے په زمانه کښ دَ کافرانو څئے ښځو هجرت اوکړو او مدینے ته راغلے او څئے ښځے مرتدے شوے کافرانو ته لاړے - الله تعالیٰ دَ دغه ډلے حکم اُوفرمائیلو - ف۳ یعنی قسم ورکړئ چه دَ خاوند دَ ناخوښئ او ضد په وجه یا دَ نورو سړو سره دَ عشق په وجه خو نهٔ دی راغلی - ف۴ یعنی کوم مهر چه هغوی ته کافرانو خاوندانو ورکړے وُو هغه واپس ورکړئ — ف۵ یعنی دَ کافر په نکاح کښ قائم ساتل پکار نهٔ دی - ف۶ یعنی کهٔ یوه ښځه مرتده کیده وسره کافرانو ته لاړه شی نو دَ هغے مهر طلب کول پکار دی او کهٔ یوه ښځه مسلمانه کیده وسره هجرت اوکړی نو دَ هغے مهر واپس ورکول پکار دی - ف۷ یعنی غنیمت واخلئ دهغوی نه - کچرے معاهد کافر دی او مرتده شوے ښځه هغهٔ ته ورشی نو دَ هغهٔ نه مهر اخستل پکار دی څنګه چه دَ تیر شوی ایت نه معلومه شوه او کچرے کافران حربیان وی نو دَ هغوی دَ غنیمت دَ مال نه دَ مرتد شوو ښځو خاوندانو له مهر ورکول پکار دی او دَ فتح مکے نه پس دا ټول احکام پوره نه شول - دَدے فقیر په نزد دَدے احکامو منسوخ کیدل ثابت نهٔ دی - نو کچرے دَ صلح حدیبیے دَ حالت پشان صُلحه بیا مخے ته راشی نو احتمال دے چه هم په دے احکامو بیا عمل اوکړے شی - والله تعالیٰ اعلم - ف۸ یعنی الله تعالیٰ دَ دوی په عذاب حکم ورکړے دے نو هیڅکله ایمان نهٔ راوړی او ثواب نهٔ مومی لکه څنګه چه کافران دَ مرګ نه پس دَ ثواب اُمید

نه لري.

تفسیر

۷ؔ عَسَى اللّٰهُ: دا مؤمنانو ته د هغوی د مشرکانو خپلوانو د ایمان راوړلو زیری دے یعنی تر څو چه د مکے خلق پخپل کفر باندې قائم وی تر هغې وخته پورے ورسره دوستی مکوئ. نزدے ده چه الله تعالی ستاسو او ستاسو د کافرو رشته دارو په میځ کښ، چه اوسه چه ستاسو د دین په وجه دشمنی ده، د دوستئ او محبت رشته قائمه کړی یعنی هغوی ته د دین اسلام قبلولو توفیق ورکړی. الله تعالی په ړے قادر دے او رښتونے توبه ویستونکی ته د ټولو ګناهونو معاف کونکے دے، لکه چه دا وعده الله تعالی د فتح مکے په ورځ باندې پوره کړه او هغه کافرانو ته ئے د اسلام قبلولو عزت او شرافت ورکړو؛

فلما یسیر فتح مکة اظفرهم الله بأمنیتهم فاسلم قومهم و تم بینهم التحاب. (مدارک ج ۴ ص ۱۸۷).

۸ؔ لَا يَنْهٰكُمُ: دا د یو قانون بیان دے چه د مذکوره زجر سره متعلق دے او د هغه کافرانو ذکر دے چه اسره چه د احسان او عدل و انصاف کولو ممانعت نشته حکه چه الله تعالی عدل کونکی خوښوی. او د دے نه مراد هغه کافران دی چا چه د دین په وجه مسلمانانو سره دشمنی نه وه کړے او نه ئے ورسره جنګ کړے وو او د مکے مشرکانو سره ئے د دوی د کورونو نه په ویستلو کښ امداد نه وو کړے. دا د عربو هغه قبائل وو چه د رسول الله ﷺ سره ئے معاهده کړے وه چه نه خو به دوی د نبی علیه السلام سره جنګیږی او نه به ئے د دشمنانو سره امداد کوی:

نزلت هذه الآیة فی خزاعة و بنی الحارث بن کعب و کنانة و مزینة و قبائل من العرب کانوا صالحوا رسول الله صلی الله علیه وسلم علی ان لا یقاتلوه ولا یعینوا علیه. (روح ج ۲۸ ص ۷۵).

۹ؔ إِنَّمَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ: دا د هغه کافرانو بیان دے چا سره چه دوستی او موالات جائز نه دی، الله تعالی تاسو د هغه کافرانو سره د دوستئ او تعلقاتو قائمولو نه منع کوی څوک چه د دین په وجه تاسو سره جنګیږی او چا چه تاسو د خپلو کورونو نه راویستلی یئ یا ئے ستاسو په ویستلو کښ مدد کړے دے. د دے نه مراد د مکے مشرکان دی:

وهم الرجال المشرکون من اهل مکة بعضهم سعوا فی اخراج المؤمنین وبعضهم اعانوا المخرجین. (مظهری ج ۹ ص ۲۶۲).

کوم خلق چه د دین دا سے دشمنانو سره تعلقات ساتی هغه ډیر لوے ظالمان دی او په خپلو ځانونو باندې ظلم کوی.

۱۳ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا : دا دَ مؤمناتِ مُهاجرات باره کښې قانون دے. دَصُلحِ حدیبیه باره کښې دَ سرهٔ باره کښې ذکر شوی وُو چه که څوک کافر سړے مسلمان شي او مسلمانانو له راشي نو هغه به واپس کولے شي خو که څوک مُسلمان کافروته واپس لاړشي نو هغه به نشي واپس کولے. لیکن دَ ښځو باره کښې دِ صُلح نامه کښې هیڅ شرط نهٔ وُو ذکر شوے نو ځکه ئے دَ ښځو باره کښې قانون بیان کړو. یعنی که مؤمنات دَ مکے نه هجرت کوُلو سره تاسو ته راشي نو دَ هغوی دَ ایمان امتحان واخلئ او تپوس ترے اوکړئ چه آیا دوی مؤمنے دی. کچرے هغوی په ژبه سره دَ دین دَ ضروریاتو اقرار اوکړی نو بس دا کافی ده ځکه چه دَ زړهٔ ایمان خو ئے الله پاک ته معلوم دے، کچرے ستاسو اطمینان اُوشی چه دوی مؤمنے دی نو واپس ئے کافرانو ته مهٔ لیږئ ځکه چه ددوی نکاح کافرانو سره جائز نهٔ ده: ای لاحل بین المؤمنة والمشرك لوقوع الفرقة بینهما بخروجها مسلمة. (مدارک ج ۴ ص ۱۸۸).

۱۴ وَاٰتُوْهُمْ : دکومو مشرکانو ښځے چه مسلمانانے شویدی او تاسو ته راغلی دی، هغوی چه کوم مَهر وغیره په دوی باندې خرچ کړے وُو هغه ورته واپس ورکړئ، او کچرے تاسو دَ هغه ښځو سره نکاح کول غواړئ نو چه دَ هغوی مَهر اداکړئ، تاسو دا مے کولے شئ دِ یکښې هیڅ تنگی او گناه نشته. وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ : دَ عِصمت نه مُراد نکاح ده: والمراد من العصمة هنا النکاح (قرطبي ج ۱۸ ص ۶۵). ځکه چه دَ مؤمنو ښځو کافرانو ته واپس لیږل جائز نهٔ دی دغه شان تاسو د پاره هم دا جائز نهٔ دی چه تاسو دَ کافرو ښځو نکاح خپل ځان سره باقی اوساتئ بلکه دَ هغوی نه جدائی اختیار کړئ او کافرانو ته ئے واپس اولیږئ او تاسو چه کوم څهٔ په هغوی خرچ کړی وُو هغه دَ کافرانو نه اُوغواړئ او هغوی دِ ستاسو نه خپل اخراجات اُوغواړی. دا دَ الله تعالیٰ حکم دے چه هغهٔ دَ مؤمنو او کافرو ښځو باره کښې نافذ کړے دے چه پوره په پوره عِلم او حکمت باندې مَبنی دے.

۱۵ وَإِنْ فَاتَكُمْ، عَاقَبْتُمْ - دا دَ اَلْعَقَبَةُ نه ماخوذ دے چه معنیٰ ئے وار او نمبر ده یعنی چه کله ستاسو دَ ورکړے نمبر راشي یا دا دَ عِقاب نه دے او دَ دے معنیٰ ده تاسو کافرانو ته سزا ورکړئ او جنگ او قتال ورسره اوکړئ چه دَ غنیمت مال ستاسو لاس ته راشي. ای فجاءت عقبتکم ای نوبتکم من اداء المهر ...... فاصبتم فی القتال بعقوبة حتی غنمتم. (روح ج ۲۸ ص ۷۹). اول صورت کښې به مطلب دا وی چه کچرے ستاسو دَ ښځو مَهر کافرانو سره پاتے شي او هغه ادا نکړی نو کوم وخت چه ستاسو دَ ورکړے نمبر راشي نو تاسو کافرانو ته ورکړه مکوئ بلکه هغه مسلمان ته ئے ورکړئ چه

دَ هغه حق کا فرانو سره پاتې شوې دے، او دَ هغه الله تعالیٰ نه اویریږي چه ستا سو پرې ایمان دے او د هغه دَ احکامو او حدودو خلاف وَرزی مکوي۔

۱۲ یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ، دا دَ ښځو دَ بیعت قانون دے۔ نبي کریم ﷺ ته ئے اُوفرمائیل چه کله مؤمنې ښځې تا ته بیعت کولو دپاره راشي نو تاسو دے (اِذا جاءکَ) شرطونو مطابق دَ هغوی نه بیعت واخلئ۔ دَ فتح مکې نه پس رسول الله ﷺ چه کله دَ زنانو نه بیعت واخستهٔ نو په هغوی کښې دَ ابوسفیان بي بي هِندهٔ بنت عُتبه هم وه او رسول الله ﷺ شرائط واوړول نو هغې به په شرط باندې تبصره کوله۔ په اول کښې نبي علیه السلام هغه اُونهٔ پیژندله لیکن دَ خبرو اترو په دوران کښې ئے هغه قرائنو سره اُوپیژندله۔

اَوّل شرط: لَا یُشْرِکْنَ بِاللّٰهِ شَیْئًا: د الله تعالیٰ سره به هیڅ قسمه شرك نکوئ، دَ الله تعالیٰ نه سِوا څوك نبي، وَلي، فرشته، پیرې وغیره به حاجت روا گڼړلو سره ما فوق الاسباب نهٔ رابلئ، د الله پاك نه سوا به هیڅ ته سجده نکوئ او نهٔ به دَ هغهٔ نه سِوا دَ بل چا په نوم باندې نذر او منخته کوئ۔ دے سره حضرت هنده رضی الله عنها اُوویل دا شرط خو ډیر اَهم او ضروري دے۔ ددے نه خو نهٔ سړي مُستثنیٰ دي او نهٔ ښځې۔

دویم شرط: وَلَا یَسْرِقْنَ، غلا به نکوئ۔ ددے باندې حضرت هنده رضی الله عنها اُوویل یا رسول الله! خما خاوند ابوسفیان ما ته خوراك دپاره خرچه نهٔ راکوي نو څهٔ دَ هغهٔ دَ اجازت نه بغیر لږ ډیر دَ هغهٔ دَ مال نه اخلم نو آیا دا خما دپاره جائز دي؟ اُوس نبي علیه السلام دا اُوپیژندله او ددے خبرے اَوریدلو سره مُسکے شو وے فرمائیل: ته هِندهٔ بنت عتبه یې؟ عرض ئے اُوکړو: آو، یا رسول الله! زمونږ تیرے شوے غلطئ او کوتاهئ معاف کړې. هم دے هندے دَ کفر په حالت کښې د الله پاك زمرے حضرت حمزه رضی الله عنه لره شهید کړے وُو۔ هِنده رضی الله عنها هغه قصور طرفته اشاره کوله۔

دریم شرط: وَلَا یَزْنِیْنَ: زِنا به نکوئ: دے سره هِنده رض اُوویل، بدکاري خو دَ شریفو ښځو کار نهٔ دے، دا خو دَ وینځو او رذیلو ښځو کار دے۔

څلورم شرط: وَلَا یَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ: او خپل اولاد به نهٔ وژنئ۔ څنګه چه به دَ جاهلیت په زمانه کښې دَ نیستۍ دَ وجے نه بچي وژلی شو یا ئے دَ شُوم کیدلو دَ پیغور نه بچ کیدلو دپاره جینکئ ژوندئ ښخولے۔ ددے باندې هنده رض اُوویل: اُوس به مونږ څوك اُووژنو، مونږ خو بچي پاللي او لوئے کړي وُو او تاسو په جنګ بدر کښې هغوی اووژل۔

پنځم شرط: وَلَا یَاْتِیْنَ بِبُهْتَانٍ الخ. بَیْنَ اَیْدِیْهِنَّ وَ اَرْجُلِهِنَّ: دا کنایه ده دَ مخامخ ته یعنی خپل مینځ کښې به بل ته مخامخ کینا ستلو سره به په

یوبل باندې تهمت نه لګوي - هنده رضی الله عنها اُووئیل: بهتان تړل خو ډیر لوئے بد کار دے او الله تعالیٰ کښو اخلاقو تعلیم ورکوی.

شپږم شرط: وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ؛ او تا سو چه دوی ته د کومو نیکو کارونو حکم ورکوئ او د کومو بدو کارونو نه ئې منع کوئ هغې کښې به ستاسو نافرمانی نکوی - هنده رضی الله عنها اُووئیل: په الله تعالیٰ م د قسم وی کله چه مونږ ستاسو په مجلس کښې حاضرے شوے یو او نا ستے یو نو د خپلو زړونو نه مو دا خیال ویستلے دے چه په څه معامله کښې ستاسو نافرمانی اوکړو بلکه ستاسو حکم به منو او اطاعت به کوو او مونږ دے پوره قصد سره ناستے یُو - (روح، مظهری وغیرهما)-

فَبَايِعْهُنَّ: وے فرمائیل چه کله دوی دا شرطونه اُومنی نو تا سو ورسره بیعت اوکړئ او د دوی د غلطو او کوتاهو دپاره د الله پاک نه معافی اوغواړئ، بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربانه دے او د مخلصینو خطا ګانې معاف کوی.

کله يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا: په آخر کښې مؤمنانو ته تنبیه ده دپاره د دے چه د سورت انتهاء د سورت ابتداء سره مرتبط شي. د مغضوب علیهم نه یهود یا یهود او نصارٰی یا ټول کافران مراد دی - (قرطبی، روح) -

مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ کښې مِنْ بیانیه دے یا ابتدائیه. په اول صورت کښې به د الآخرة نه مخکښې ثَوَابُ مقدر وی او مطلب به دا وی چه اے ایمان والو! دا سے کافرانو سره دوستی مکوئ په چاچه د الله تعالیٰ قهر او غضب نازل شوید ے. او د آخرت د اجر او ثواب نه بالکل داسے محرومه شویدی او نا اُمیده شویدی څنګه چه هغه کافران دی کوم چه مړه شوی دی او قبرونو ته رسیدلی دی - او په دویم صورت کښې به اَلْكُفَّارُ وضع د مظهر په ځائے د مضمر د قبیل نه وی او مفهوم به دا وی چه دا کافران د آخرت د راتللو نه داسے نا اُمیده شویدی څنګه چه د خپلو مخکنو مړو شوو مشرانو دوباره ژوندی کیدلو نه نا اُمیده دی:

قد يئسوا من الاخرة وثوابها .... كما يئس الذين هم اصحاب القبور اى الكفار الموتى ...... وكون (من) بيانية روى عن مجاهد وابن زيد وابن جبير وابن وهو اختيار ابن عطية وجماعة واختار ابو حيان كونها لابتداء الغاية والمعنى ان هؤلاء القوم المغضوب عليهم قد يئسوا من الاخرة كما يئسوا من موتاهم ان يبعثوا ويلقوا في دار الدنيا وهو مروى عن ابن عباس والحسن وقتادة - والمراد بالكفار اولئك القوم - (روح ج ۲۸ ص ۸۲)

سورۂ ممتحنه کښ د توحید اٰیتونه او د هغې خاصیتونه

① کافرانو سره د دوستئ ممانعت۔

② د هجرت کوونکو مؤمنو ښځو احکام او مؤمنې ښځې چه کافرانو سره پاتې شي د هغوی احکام۔

③ د ښځو د بیعت شرطونه ⁂



سُوْرَةُ الصَّفِّ

ربط په سورۀ ممتحنه کښ په اُوچتے مرتبے والا مؤمنانو باندِ زجرونه وُو، اُوس په په سورۀ صف کښ د کښے مرتبے والا مؤمنانو باندِ زجرونه وی چه د هغوی نه د جهاد باره کښ کمے شوے وُو۔

خُلاصه د توحید بیان، زجر (او تنبیه)، ترغیب الی الجهاد، نمونه د بنی اسرائیلو نه، د فتحے بشارت۔

تفصیل

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ الاٰیة، د توحید د مسئلے بیان د کوم په وجه چه جهاد لازم شو۔ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ــ تا ــ بُنْیَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۝، اولنے خطاب مؤمنانو دپاره په طور د زجر۔ تاسو وایئ چرے مونږ ته هغه اُمور معلوم شی چه د کوم په ځائے راوړلو سره الله پاک راضی کیږی نو مونږ به په هغے عمل اوکړو۔ اُوس چه الله تعالیٰ جهاد فرض کړے دے چه د الله پاک د رضا ذریعه ده نو د هغے نه ولے ترهٔ کوئ او بهانے لټوئ؟ الله تعالیٰ هیڅکله دا نهٔ خوښوی چه تاسو یوه خبره اوکړئ او بیا پرے عمل نکوئ۔ الله تعالیٰ ته هغه خلق خوښ دی چه د هغهٔ په لاره کښ د اوسپنے دیوال جوړیدلو سره جنګیږی۔

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی الاٰیة، د یهودو قصه دپاره د زجر۔ اوګورئ! موسیٰ علیه السلام سره خپل قوم د جهاد په معامله کښ په کبزه لاره تلل اختیار کړل نو په هغوی باندِ د قهر او غضب مُهر اولګیده، تاسو د هغوی پشان مه کیږئ۔ وَاِذْ قَالَ عِیْسٰی ــ تا ــ وَلَوْ کَرِهَ الْمُشْرِکُوْنَ ۝؛ د عیسیٰ علیه السلام قصه د ترغیب الی القتال دپاره۔ عیسیٰ علیه السلام چه د کوم آخری نبی ﷺ زیرے ورکړے وُو هغه دلائلو او معجزاتو سره راغلے دے۔ لیکن دے معاندینو هغهٔ ته جادوګر اُووئیلو او افتراءے اوکړے خوله او الله تعالیٰ حق دین له غالب کول او د هغهٔ امداد کول غواړی لهٰذا د دے عناد کرو سره جهاد کوئ الله پاک به تاسو ته فتح درکوی۔

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ــ تا ــ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ ۝: دویم خطاب مؤمنانو دپاره ترغیب الی القتال: د الله تعالیٰ د عذاب نه د بچ کیدلو دپاره د ټولو نه اعلیٰ کاروبار دا دے چه تاسو د ایمان راوړلو نه پس خپل مال او ځان سره د الله تعالیٰ په لاره

کښې جهاد اوکړئ، الله تعالیٰ به تاسو ته په دشمن باندې فتح درکړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي او په همیشه باغونو کښې به تاسو داخل کړي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ـ تا ـ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ: دریم خطاب مؤمنانو ته، ترغیب الی القتال. څنګه چې د عیسیٰ علیه السلام حواریینو د هغه ملګرتیا اوکړه او د توحید په خاطر ئې جهاد اوکړو نو الله تعالیٰ هغوی ته په دشمن باندې فتح ورکړه. دغه شان تاسو هم د خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کښې جهاد کوئ نو الله تعالیٰ به تاسو ته هم فتح درکوي. اولنئ خطاب د اولې قصې سره متعلق دے او دویم او دریم خطاب د دویمې قصې سره متعلق دي.

سُوْرَةُ الصَّفِّ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة صف په مدینه کښې نازل شو او دیکښې څوارلس (۱۴) آیتونه او دوه رکوعات دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چې بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

د الله ته پاکی بیانوي هغه څه چې په آسمانونو کښې دي او هغه چې په زمکه کښې دي، او هغه ذات

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ① يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ

غالب حکمت والا دے. اے ایماندارو! ته ولې وایئ هغه خبره

مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ② كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا

هغه کوم چې نه ئې کوئ؟ لویه د بیزارئ (غضب) خبره ده د الله په نزد چې وایئ هغه خبره

لَا تَفْعَلُوْنَ ③ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ

کوم چې نه ئې کوئ. الله خوښوي هغه خلق چې جنګیږي د هغه په

سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ④ وَاِذْ قَالَ

لاره کښې صف تړلي لکه چې هغه ابادي ده ټینګه کړے شوے قلعئ سره. او کله چې اووئیل

مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ

موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته، اے زما قومه! ولې ضرر رسوئ ماته او تاسو ته معلومه ده

أَنِّي رَسُولُ اللّٰهِ إِلَيْكُمْ ؕ فَلَمَّا زَاغُوٓا أَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوبَهُمْ ؕ

چې زه د الله رالیږلے شوے یم تاسو ته، پس کله چې هغوی اوګرځیدل نو اوګرځول الله د هغوی زړونه

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِينَ ﴿۵﴾ وَإِذْ قَالَ عِيسَى

او الله لاره نه ښائی نافرمانه خلقو ته ۳ - او کله چې اووئیل عیسیٰ

ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللّٰهِ إِلَيْكُمْ

ځوی د مریم: اے بنی اسرائیلو! زه د الله رالیږلے شوے راغلے یم تاسو ته

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًا

تصدیق کوونکے د هغه کوم چې مخکښې ده، تورات او زیرے ورکوونکے یم

بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ أَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا

د یو رسول چې راځی به ځما نه روستو، د هغه نوم احمد دے، پس هر کله چې

جَآءَهُم بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿۶﴾ وَمَنْ

راغے دوی ته ښکاره معجزو سره وے وئیل دا جادو دے ښکاره ۳ - او هغه نه

أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰىٓ

زیات بے انصافه څوک دے چې جوړ کړی په الله تعالیٰ باندې دروغ او هغه ئے رابلی

إِلَى الْإِسْلٰمِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ ﴿۷﴾

اسلام ته، او الله لاره نه ښائی بے انصافو ته ۳ -

يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا نُورَ اللّٰهِ بِأَفْوٰهِهِمْ وَاللّٰهُ

غواړی دوی چې مړه کړی د الله رڼا خپلو خولو سره او الله

مُتِمُّ نُورِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُونَ ﴿۸﴾ هُوَ الَّذِيٓ

پوره کوونکے د خپلې رڼا دے اګرچه کافران ئے بد ګڼړی - (الله) هغه ذات دے چې

أَرْسَلَ رَسُولَهٗ بِالْهُدٰى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ

چې راوے لیږلو خپل پیغمبر لارښودنے سره او رښتونی دین سره چې دے ئے لره غالب کړی

عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ⑨ ع

په ټولو دینونو باندې او اګرچه بد ئې ګنړي مشرکان ۔

نکات :- ۱ د توحید د مضمون اعاده ۔ ۲ زجر دپاره د مؤمنانو په طریقه د تنزیل د سورهٔ ممتحنه نه ۔ ۳ ترغیب الی القتال ۔ ۴ قصه متعلق د زجر سره ۔

موضح قرآن **ف۱** بنده له د دعوے د خبرے نه ویریدل پکار دی چه ګنړه د هغې نه پس بیا انسان په تکلف کښې غورزیږی ۔ یو ځائے کښې مسلمانان جمع وُو ۔ وے وئیل کچرے مونږ ته معلومه شی چه الله تعالیٰ کوم یو کار زیات خوښوی نو هغه به اوکړو ۔ دغه وخت دا آیت نازل شو ۔ منهٔ **ف۲** یعنی بنی اسرائیلو په هره خبر کښې ضد کولو د خپلو پیغمبرانو سره نو آخر مردود شول ۔ منهٔ ۔ **ف۳** د نبی کریم ﷺ نوم په دنیا کښې محمد ﷺ وو او په فرشتو کښې احمد ﷺ دے ۔ منهٔ ۔ **ف۴** دا ئے د اهلِ کتابو احوال بیان کړل چه د نبی علیه السلام متعلق خبره به ئے پټوله ۔

فتح الرحمٰن **ف۱** یعنی د الله تعالیٰ سره چه وعده اوکړی نو هغه سرته رسوی ۔

تفسیر **۲** سَبَّحَ لِلّٰهِ : په شروع کښې د توحید د مضمون اعاده اوکړے شوه دے دپاره چه دا خبره په ذهن کښې موجوده او برقراره وی چه جهاد او قتال د دے مسئلے د خاطره کیږی ۔ د دے آیت تفسیر خو مخکښے تیر شوید ے ۔

۳ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا : اول خطاب مؤمنانو دپاره ۔ دا په سورهٔ ممتحنه کښې د ذکر شوو مؤمنانو نه د کښے درجے والا مؤمنانو باندې زجر او تنبیه ده تاسو وایئ چه کهٔ مونږ ته هغه خبره معلومه شی په کومه باندې د عمل کولو سره چه الله تعالیٰ راضی کیږی نو مونږ به ضرور په هغې باندې عمل اوکړو ۔ اوس هرکله چه دربانندې قتال فرض کړے شو بیا هم چه الله تعالیٰ پرے راضی کیږی او د دین او دُنیا د کامیابئ ذریعه او وسیله ده نو تاسو د هغې نه ډډه کوئ ، حیلے بهانے لټوئ یعنی کوم څهٔ چه تاسو په ژبو وئیل ، اوس په هغې عمل نکوئ ۔ کَبُرَ مَقْتًا : دا خبره د الله تعالیٰ په نزد ډیره ناخوښه ده چه کوم څهٔ اووایئ بیا په هغې عمل اونکړئ ۔ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ ، الله تعالیٰ خو هغه ټولګ غواړی او خوښوی چه د هغهٔ په لاره کښې د اوسپنے دیوال پشان صف تړونکی وی او جنګیږی ۔ مَرْصُوْصٌ : د اوسپنے دیوال : مراد ترینه ډیر مضبوط او محکم دے ۔ هو المعقود بالرصاص ویراد به المحکم ۔ (روح ج ۲۸ ص ۸۴) ۔

۴ وَاِذْ قَالَ مُوسٰی: اولنۍ قصه متعلق دَ زجر سره. دَ بني اسرائیلو په کږو لارو بانډې تلل مشهور دي. هغوی به اکثر دَ حضرت موسٰی علیه السلام نافرماني او مخالفت کولو. کله چې ئې دوی ته دَ عمالقه وُسره دَ جهاد کولو حکم ورکړو نو هغوی ډیرې بې شرمۍ او ګستاخۍ سره جواب ورکړو چه: فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ه. فَلَمَّا زَاغُوْٓا: زَاغُوْا یعنی هغوی په دې ده کولو او کوږ والي بانډې همیشوالے اوکړو. اَزَاغَ اللّٰهُ: الله تعالٰی دَ هغوی زړونه دَ حق نه واړول. ای اصروا علی الزیغ و الانحراف (روح ج ۲۸ ص ۸۵) صرفها عن قبول الحق والمیل الی الصواب. (مظهری ج ۹ ص ۲۱۷). حضرت موسٰی علیه السلام دَ بني اسرائیلو دَدې کږولیچ او عناد نه تنګ شو، وې فرمائیل اے څما قومه! تاسو ما ته په نافرمانۍ او مخالفت کولو سره تکلیف او ضرر ولې رسوئ، حالانکه تاسو ته دا هم معلومه ده چه څه دَ الله تعالٰی رسول یم او تاسو ته رالیږلے شوے یم لیکن په هغوی بانډې دَدې تقریر هیڅ اثر اونه شو او هم هغه شان یې مخالفت او کوږوالي بانډې ټینګ ولاړ وُو نو الله تعالٰی دَ هغوی زړونه دَ حق نه اوګرځول او دَ هدایت نه ئې محرومه کړل او په زړونو بانډې ئې ورله دَ غضب مهر اولګولو. دا ځکه چه فاسقانو فاجرانو خلقو ته الله تعالٰی دَ هدایت توفیق نه ورکوی. دا قصه مسلمانانو ته په طور دَ زجر او تنبیه واورولے شوه چه ګورئ! تاسو چیرته دَ بني اسرائیلو پشان طریقه اختیار نکړئ کني تاسو ته به هم هغه سزا ملاویږي او دَ الله تعالٰی دَ قهر او غضب په نتیجه کښ به راشي.

۵ وَاِذْ قَالَ عِیْسٰی: دا دویمه قصه ده او ترغیب الی القتال سره متعلق ده. حضرت عیسٰی علیه السلام بني اسرائیلو ته اُوفرمائیل چه څه تاسو ته دَ الله تعالٰی پیغمبر رالیږلے شوے یم او دَ تورات تصدیق کوونکے یم او دَ خپل ځان نه پس دَ یو عظیم الشان رسول ﷺ زیرے ورکوونکے یم چه دَ هغه نوم احمد ﷺ دے. دَ حضرت عیسٰی علیه السلام دَ زیري مطابق کله چه حضرت خاتم النبیین ﷺ دلائلو او معجزاتو سره راغے نو هغه ته ئې جادوګر او کوډګر او وئیلے او دروغژن ئې اوګڼړلو. وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی: هغه کس دَ ټولو نه لوئې ظالم دے چه دَ اسلام دعوت ورته ورکړے شي چه دَ دنیا او دَ اخرت ذریعه ده نو دَ قبلولو په ځائے ئې پیغمبر علیه السلام دروغژن اوګڼړلو او معجزاتو ته ئې جادو اُووے او په الله پاک ئې بانډې ئې افتراء کول شروع کړل څنګه چه غیر ثابت څیز الله تعالٰی ته منسوب کول افتراء ده دغه شان دَ ثابت نفي هم افتراء ده:
فان الافتراء علی الله تعالٰی یعم نفي الثابت و اثبات المنفي.
(روح ج ۲۸ ص ۸۷).

دا یې ظالمانو او بې انصافه خلقو ته الله تعالیٰ دَ هدایت توفیق نهٔ ورکوی چه محض دَ ضد او عناد په وجه دَ حق نه انکار کوی او دَ حق دَ پوهې طرفته نهٔ متوجه کیږی۔

۶ے یُرِیْدُوْنَ، دا خلق دَ خپلو خُلو پُوکو سره دَ الله تعالیٰ نور (دینِ حق) مړکول غواړی او الله تعالیٰ خپله دا رڼا او دینِ حق انتهاء ته رسول غواړی اگرچه کافران دا خبره نهٔ خوښوی۔ دَ اسلام خلاف دَ مشرکانو ټولو حربو او منصوبو ته پوکو سره تعبیر کړے شوے دے۔ څنګه چه دَ نمر رڼا نشی مړه کیدے دغه شان دَ مشرکانو ټولو تدبیرونو سره اسلام نشی ختمیدلے۔

۷ے هُوَ الَّذِیْ: اَلْهُدٰی: یعنی قرآن۔ الله تعالیٰ قرآن او حق دین سره خپل پیغمبر رالیږلے دے دپاره دَ دے چه هغه دَ دُنیا په ټولو دینونو باندے غالب کړی اگرچه مشرکان دا نهٔ خوښوی او په قهر او غصه کښ وُراتهٔ پړاته شی۔ دَ کوم دین دَ غالب کولو فیصله چه الله تعالیٰ کړے ده هغه دَ دُنیا هیڅ یو طاقت نشی ختمولے۔ حاصل دا دے چه دَ حضرت مسیح علیه السلام دَ بشارت مطابق خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم ایات بیّنات سره راغلے دے لیکن معاندینو او بے وقوفه خلقو هغے ته کوڅے او جادو اُوویٔلو او هغهٔ ئے دروغ اوګنړلو او اُوس دَ دینِ اسلام ختمولو پسے لګیدلی دی، په دے وجه دوی سره جهاد فرض دے۔ تاسو دَ دوی مقابلے ته راوُځئ الله تعالیٰ به درته فتح او غلبه درکړی او اسلام به بُلند او اُوچت کړی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ

اے ایمان دارو! شه څهٔ اوښایم تاسو ته داسے سوداګری چه

تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۱۰﴾ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ

تاسو بچ کړی دَ یو دردناک عذاب نه۔ ایمان راوړئ په الله او

رَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ

دَ هغهٔ په رسول باندے او اُوجنګیږئ دَ الله په لاره کښ خپلو مالونو

وَاَنْفُسِكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾

او خپلو ځانونو سره، دا بهتره ده ستاسو په حق کښ که چرے تاسو پوهه لرئ۔

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ

او به ئې وبښي هغه ستاسو گناهونه او داخل به مو کړي باغونو ته چه د هغې لاندے

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ۭ

بهيږي نهرونه او صفا ښائسته کورونو کښې د استوگنے باغونو کښې،

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾ وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا ۭ نَصْرٌ

دادې لوئے مراد ملاوېدل. او بل څيز چه تاسو ئے غواړئ امداد

مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ۭ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳﴾ يٰٓاَيُّهَا

د الله پاک له طرفه او فتح نزدے، او زيرے ورکړه مؤمنانو ته. اے هغه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

مومنانو! شئ تاسو مددگار د الله لکه چه اُووئيل عيسى خوې د مريم،

لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ

خپلو دوستانو ته څوک دے چه مدد اوکړي ماله د الله په لاره کښې، اووئيل دوستانو

نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّاۗىِٕفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ

مونږ يو مددگاران د الله ولے پس ايمان راوړو يوے ډلے د بنى

اِسْرَاۗءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّاۗىِٕفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ

اسرائيلو، او منکره شوه يوه ډله پس قوت ورکړو مونږ هغه چا ته چه

اٰمَنُوْا عَلٰي عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ﴿۱۴﴾ ع

ايمان ئے راوړے وو د هغوى په دشمنانو باندې پس اوگرځېدل هغوى غالب ف۱.

نکات: ۱. دويم خطاب د پاره د مؤمنانو، ترغيب الى الجهاد. ۲. جمله مفسره د پاره د تجارت. ۳. تفسيريه. ۴. دريم خطاب مؤمنانو ته.

موضح قرآن ف۱ د حضرت عيسى عليه السلام نه پس د هغه يارانو او ملگرو ډير تکليفونه برداشت کړل نو هله د هغوى دين خور شو.
د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه پس هم خلفاء راشدينو د دغه نه زيات محنت او کوشش

دَ دین دَ خورَوُلو دپاره اوکړو.

فتح الرحمٰن **فا** پس دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ دین دَ ترقئ دپاره ئے محنت کړُلو.

تفسیر **۸** یَآیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا: دا مؤمنانو ته دویم خطاب دے دپاره دَ ترغیب الی القتال. اے مؤمنانو! آیا خبرہ تاسو ته داسے کار وبار اوښایم چه تاسو دَ دردناک عذاب نه بچ کړی؟ هغه دا دے چه تاسو دَ الله تعالیٰ په وحدانیت او دَ هغهٔ په رسول ﷺ باندې ایمان راوړئ او دَ الله تعالیٰ په لاره کښ مال او ځان سره جهاد اوکړئ. که تاسو پوهیږئ نو دا ستاسو په حق کښ ډیره بهتره خبره ده. دِے سره به الله تعالیٰ ستاسو گناهونه معاف کړی او تاسو به دَ جنت باغونو ته داخل کړی چه په هغے کښ به نهرونه بهیږی او صفا پاکیزه کورونو ته به تاسو داخل کړی چه په همیشه جنتونو کښ تیار شویدی. او په آخرت کښ چه څوک دَ دوزخ نه بچ کړے شی او داسے جنتونو ته داخل کړے شی نو دا ډیره لویه کامیابی ده. او یو بل څیز به هم تاسو ته درکوُلے شی کوم چه تاسو خوښوئ یعنی دُنیا کښ به دَ کافرانو په مقابله کښ تاسو ته دَ الله پاک له طرفه مدد او ډیر زر فتح نصیب شی. دَ دے نه پس ئے محمّد ﷺ مخاطب کوُلو سره اوفرمائیل چه دا خوشخبری مؤمنانو ته واوروه. دَ آخرۍ نه دُنیا کښ فتح او نصرت مُراد دے.

ولکم خلة اخری سوٰے ذٰلك فی الدنیا نصر من الله لکم علی اعدآئکم وفتح قریب یعجله لکم. (طبری ج ۲۸ ص ۹۱).

فے یَآیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا: دا مؤمنانو ته دریم خطاب دے او دِے سره هم دَ جهاد ترغیب مقصود دے. دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام حواریین باَثره او مالداران نهٔ وُو. الله پاک هغوی ته دَ ایمان راوړلو توفیق ورکړو او دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام نصرت او مرستے هم هغوی ته عزت ورکړو. ایمان والو ته ئے اوفرمائیل څنګه چه دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام حواریانو دَ هغهٔ ملګرتیا اوکړه او دَ کافرانو سره ئے مقابله وکړه دغه شان تاسو هم دَ الله تعالیٰ دَ دین امدادیان جوړ شئ او دَ نبی علیه السلام په ملګرتیا کښ دَ کافرانو مقابله کښ جهاد اوکړئ. آخر به الله تعالیٰ تاسو ته په هغوی باندې غلبه درکوی. کله چه حضرت عیسیٰ علیه السلام اعلان وکړو چه دَ الله تعالیٰ طرفته په رابللو او دَ دعوتِ توحید په اظهار او اعلان کښ به ځما امداد څوک اوکړی؟ نو حواریانو اووئیل: مونږ به دَ الله پاک دَ دین مددگاران او دَ دعوتِ توحید دپاره دَ هر قسمه امداد کوُلو ته تیار. نو دَ بنی اسرائیلو یو ډلے خو ایمان راوړه او یوه ډله کافره پاتے شوه. آخر دا چه مونږ دَ ایمان والو دَ دُشمنانو په مقابله کښ امداد اوکړو او هغوی غالب او فتح مونږ ونکی شول.

دغه آیت ته دا اشاره او کنایه معلومیږي چه د حضرت عیسی علیه السلام په وخت کښ هم د مؤمنانو او کافرانو په مقابله کښ قتال او مقابله شوې ده لیکن د اکثرو مفسرینو په نزد دا د رفع د عیسی علیه السلام نه روستو واقعه ده :

ای قوینا هم بالحجة او بالسیف وذلک بعد رفع عیسی علیه السلام (ابو السعود ج ۸ ص ۳۰۱)۔

دا حواریان د حضرت عیسی علیه السلام مخلص او اخص الخواص مؤمنان وو :

الحواریون هم صفوة الانبیاء الذین خلصوا و اخلصوا فی التصدیق بهم وفی نصرتهم۔ (کبیر ج ۲ ص ۲۸۵)

سُورَۃ صَف کښ د توحید آیت او د هغې خصوصیّت

۱ سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ (الآیة) :

نفی د هر قسمه شرک۔



سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ

ربط

دَ سورۂ جمعه نه نړ دَ سورۂ تحریم پورے دَ سورۂ حدید دَ اول مضمون یعنی انفاق فی سبیل الله اعاده ده او دَ سورۂ صف پورے دویم مضمون یعنی جهاد فی سبیل الله ذکر شوے وُو۔ دَ سورۂ صف نه روستو سورۂ جمعه هم دَ تسبیح دَ عنوان نه شروع شوے دے حکه چه دکړے سورت نه نه دَ نوی مضمون ابتداء شوے ده۔ دے څلور وارو سورتو کښې مقصودی مضمون دَ هر سورت په آخری حصه کښې ذکر شوے دے او هر روستنی سورت دَ مخکنی سورت دَ مضمون تفسیر دے۔ مثلاً سورۂ جمعه کښې ئے اوفرمائیل: فَاسْعَوْا اِلٰی ذِکْرِ اللهِ، او په سورۂ منافقون کښې ئے: وَاَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰکُمْ سره دَ هغے تفسیر اوکړو او په تغابن کښې ئے دَ هغے نه ترقی کوُلو سره اوفرمائیل، اِنْ تُقْرِضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا۔

خلاصه

دَ توحید دَ مسئلے اعاده، توحید باندِ دلیل وحی او ضمناً دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ صداقت بیان، دَ مشرکانو دپاره زجر، یهودو ته دَ مباهلے دعوت، ترغیب الی الانفاق فی الجهاد۔

تفصیل

یُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ (الآیة): دَ توحید بیان۔ هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلًا ـ تا ـ وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِیْمِ ؕ په توحید باندِ دلیل وحی او بیان دَ صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم۔ مَثَلُ الَّذِیْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ (الآیة): زجر دپاره دَ مشرکانو۔ تا سو دَ یهودو پشان مه کیږئ چه هغوی ته تورات ورکړے شو لیکن هغوی پرے عمل اونکړو۔ دَ هغوی مثال دَ هغه خر پشان دے چه کتابونه پرے بار کړے شوے وی۔ قُلْ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ هَادُوْٓا ـ تا ـ وَاللهُ عَلِیْمٌۢ بِالظّٰلِمِیْنَ یهودوته دَ مباهلے دعوت۔ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ (الآیة): ترغیب الی الجهاد۔

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا ـ تا ـ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ: ترغیب ذکر او تعلم ته۔ دَ جمع په مانځه کښې شرکت اوکړئ او دَ الله تعالیٰ په لاره کښې دَ مال خرچ کوُلو احکام زده کړئ۔ وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً (الآیة): هغه مؤمنانو باندِ شکوه چا چه نبی کریم

صلی الله علیه وسلم د خطبې په حالت کښې پریښودو او غلي اخستلو
د پاره لاړل.

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة جمعه مدینه کښې نازل شو او دا یولس (۱۱) ایتونه او دوه رکوع دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

د الله پاکی بیانوی هغه څه چه په اسمانونو کښې دي او هغه څه چه په زمکه کښې دي.

الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ① هُوَ الَّذِيْ

بادشاه، پاک ذات غالب حکمتونو والا دے. الله هغه ذات دے چه

بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ

ولیږلو ئے په نالوستو کښې یو رسول د دوی نه لولی په دوی باندې

اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۗ وَاِنْ

د هغه ایتونه او دوی لره پاکوی او ښائي ورته کتاب او د پوهې خبرې او دي

كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ② وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ

نه مخکښې دوی یقیناً وو په ګمراهئ ښکاره کښې. او ولیږلو ئے هغه رسول د نورو خلقو د پاره

لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ③ ذٰلِكَ

د دوی نه چه لا تر اوسه دي رسیدلي هغوی ته، او هغه دے غالب حکمتونو والا. دغه

فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ

لوئے فضل د الله دے هغه ورکوی ئے چا ته چه اوغواړي، او د الله تعالیٰ فضل

الْعَظِيْمِ ④ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ

ډیر لوئے دے. مثال د هغه خلقو چه په چا چه بار کړے شو تورات بیا هغوی

يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ۚ بِئْسَ

د ئې لره بوره ته نکړه لکه مثال د خره دے چه بار شا باندې اوړي کتابونه، بد

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ لَا

مثال دے د هغه خلقو چا چه دروغژنه اوګڼړلے د الله خبرے، او الله لاره

يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥﴾ قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

نه ښائي بے انصافو ته ۳ ته اووایه! اے یهودیانو!

هَادُوا إِنْ زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاءُ لِلَّهِ مِنْ دُونِ

که کچیرې ستاسو دعوی دا چه تاسو د الله دوستان یئ د ټولو خلقو نه

النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٦﴾ وَلَا

سوا نو وغواړئ خپل مرګ کچیرے تاسو رښتونی یئ ۴. او دوی

يَتَمَنَّوْنَهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

به هیڅکله اونه غواړي خپل مرګ د هغه کارونو وجه کوم چه مخکښې لیږلي دي د هغوی لاسونو، او الله ته ښه معلوم دي

بِالظَّالِمِينَ ﴿٧﴾ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ

ګنهګاران. ته ووایه! شه د کوم مرګ نه چه تاسو تښتئ

مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ

نو هغه تاسو سره بیشکه ملاویدونکے دے بیا به تاسو واپس بوتللی شئ هغه ذات ته چه پوهیږي

الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾ ع ۱۱

او ښکاره ټول عالم دے نو خبر به درکړي تاسو ته د هغه څه کوم چه تاسو کول ۵.

نکات ۱ـ بیان د توحید. ۲ـ دلیل وحی او بیان د صداقت د رسول الله صلى الله عليه وسلم. ۳ـ زجر دپاره د مشرکانو. ۴ـ یهودو ته د مباهلے دعوت. ۵ـ ترغیب د جهاد.

موضح قرآن ف ۱ بے تعلیمه (ناپوهه) عرب خلق وو چه هغوی سره د نبي کتاب نه وو. ف ۲ یعنی همدا رسول ۲ د نورو

ناپوهانو د پاره هم دے. هغه دَ فارس خلق چه دَ نبی کتاب ئے لرلو، الله تعالیٰ اوّل عرب پیدا کړل دوے دین دَ مضبوطو نیولو د پاره او خورَولو د پاره، روستو ئے په عجمو کښ دغه شان کامل خلق پیدا کړل. **ف ۳** دَ یهودو عالمانو دا مثال دے دُو چه کتاب (تورات) ئے لوستلے وُو او په زړونو ئے هیڅ اثر اُونه شو. الله تعالیٰ دَ مونږ ته (دداسے علم نه) پناه راکړی.

ف ۴ چا ته چه معلومه شوه چه دَ الله په نزد ښه مقام او درجه شته او څۀ ویره خطره نشته نو بیشکه هغه دَ مرګ نه خوشحاله شی او نه ډیریږی. **ف ۵** دَ یهودیانو خرابی هم داوه چه دَ دین دَ پوهے او وجود ئے دَ دُنیا د پاره دین پریښودهٔ. دَ داسے خبرو نه مونږ منع کړے شو. دَ جمعے تاکید هم دغه شان دے چه دغه وخت دَ دُنیا په کار کښ مهٔ مشغولیږئ.

فتح الرحمٰن **ف ۱** یعنی عرب **ف ۲** یعنی فارس او ټول عجم. **ف ۳** یعنی دَ هغے موافق عمل ئے اُونکړو.

تفسیر **ــــه ۲** يُسَبِّحُ لِلّٰهِ الخ. دَ توحید دَ مضمون اعاده ده. دَ دے سورت نه چونکه دَ نوی مضمون یعنی دَ انفاق فی سبیل الله شروع شوے ده، په دے وجه شروع کښ دَ توحید دَ مسئلے اعاده اوکړے شوه، د پاره دَ دے چه دا حقیقت په ذهن کښ موجود پاتے شی چه انفاق او جهاد دَ مسئلهٔ توحید په ښۀ طرګوڅ لے شی. دَ دے ایت تفسیر او معنیٰ مخکښ تیر شوے دی. دَ کائنات هر څیز دَ الله تعالیٰ دَ توحید اقرار کوی او دَ هغهٔ تسبیح او پاکی بیانوی تر دے چه جمادات دَ خپل مخصوص ژوند او شعور په بناء بانړ په تسبیح او تقدیس کښ مصروف دی.

كل شيء و ان كان جمادًا فله نوع من الحيوٰة والشعور فيقربوا

بوحدانيته ويسبحه ولكن لا نفقهون تسبيحهم (مظهری ج ۹ ص ۲۷۵).

ــــه ۳ هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ: دا اشاره ده دلیل طرفته یعنی زمونږ پیغمبر دَ توحید دعوی دَ خپل طرفه نهٔ پیش کوی بلکه الله پاک هغه رالیږلے دے او دَ توحید مسئله او دَ هغے دَ تبلیغ حکم ئے دَ وحی په ذریعه نازل کړے دے او هغه چه څهٔ وائی هغه دَ تیرو شوو کتابونو مطابق دے. دا ایت ضمنًا دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ صداقت دلیل هم دے. هغوئ چه کوم بیان کوی هغه دَ مخکنو کتابونو مطابق دے. ساحر او مجنون دَ داسے ریښتونی خبرو نه عاجزه وی چه کوم بالکل دَ واقع مطابق وی. دلته دَ مؤمنانو دوه ډلے ذکر شوی دی، اعلیٰ او ادنیٰ. يُزَكِّيْهِمْ کښ داعلیٰ ډلے ذکر دے یعنی هغوی لره دَ باطل عقیدو او بدو خویونو او عادتونو او دَ جاهلیت دَ پلیتونه پاکوی. وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ کښ دَ ادنیٰ ډلے ذکر دے لکه چه بل ځائے کښ ئے دَ دے دواړو مرتبو ذکر داسے

کړېږي: لَعَلَّهُ يَزَّكَّى کښې ئې دَ اوّلې مرتبې ذکر کړېدے او يَذَّكَّرُ کښې ئې دَ دويمې مرتبې ذکر کړے دے۔ دَ اول فريق باره کښې ارشاد دے: اَللّٰهُ يَجْتَبِىٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ، او دَ دويم فريق باره کښې ئې اُو فرمائيل: وَيَهْدِىٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ۔ هذا ما افاده الشيخ رحمه الله تعالیٰ۔

۴ وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ: دِيکښې دَ هغه مؤمنانو ذکر دے چاچه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په مخامخ او بلاواسطه تزکيه حاصله نکړه۔ وَاٰخَرِيْنَ په اَلْاُمِّيّٖنَ باندې معطوف دے حکه چه دَ تعليم سلسله دَ اولنی معلم طرفته منسوب وی:

لان التعليم اذا تناسق الى اخر الزمان كان كله مسندا الى اوله الخ۔ (قرطبی ج ۱۸ ص ۹۳)۔

حضرت شيخ قدس سرهٗ فرمائی چه اٰخَرِيْنَ دَ فعل مقدر يظهر دپاره مفعول دے دَ قبيل د علفتها تبناً وماءً باردًا نه حکه چه دَ نبی علیه السلام تزکيه دوستو راتلونکو خلقو ته نصيب نشوه، ای يظهر کتابه اٰخرين۔

۵ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ: دَ نبی علیه السلام بعثت دَ الله تعالیٰ ډير لوئے فضل او احسان دے، هغه چه چاته غواړی هغه ته ئې ورکوی او دَ هغه دَ لوئے فضل په وړاندې دَ دُنيا هر يو نعمت حقير او هيڅ هم نه دے۔

۶ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا: دا دَ يهودو دَ بد عملئ مثال دے او دَ مشرکانو دپاره زجر دے۔ تاسو دَ هغه يهودو پشان مه کيږئ چاته چه تورات ورکړے شوخو عمل ئې پرے اونکړو۔ دَ هغوی مثال دَ هغه خر پشان دے چه دَ هغهٔ په شا باندې کتابونه بار کړے شی نو دِے سره هغهٔ ته هيڅ فائده نهٔ رسيږی۔ اے دَ عربو خلقو! تاسو دَ هغه خر پشان مهٔ کيږئ او دَ الله تعالیٰ دَ اخری کتاب قرآن مجيد دعوی اُومنئ۔ تاسو ته دَ الله پاك ستاسو نه پيغمبر راغلے دے او دَ الله پاك له طرفه ئې ځان سره کتاب هم راوړيدلے، په هغې باندې ايمان راوړئ او دَ يهوديانو پشان دَ بد عملئ لاره اختيار ولو سره خرهٔ مهٔ جوړيږئ۔

۷ قُلْ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْٓا: دا يهودو ته دَ مباهلې دعوت دے۔ تاسو دَ خاتم النبيين صلی الله علیه وسلم دَ بعثت نه مخکښې فخر کولو، اُوس هغه پيغمبر راغلے دے نو محض دَ خپل دُنيوی رياست او مشرئ دَ تحفظ دپاره په هغهٔ باندې ايمان نهٔ راوړئ او دعوی کوئ چه تاسو په حق باندې يئ او تاسو دَ الله تعالیٰ محبوب او غوره بندګان يئ نو راشئ چه مباهله اوکړو، دواړه ډلے يو فراخه ميدان ته وځو او يو بل نه به بد دُعا اوکړو چه الله تعالیٰ دروغژن له هلاك کړی۔ ليکن يهود به مباهلے ته هيڅکله تيار نشی حکه چه هغوی ته خپل بد اعمال معلوم دی او هغوی ښهٔ پوهيږی چه که دَ پيغمبر علیه السلام په مقابله کښې دَ مباهلے

دپاره اُوونئلو نو هیڅوک به هم راکښ ژوندے پاتے نشي: فادعوا بالموت علی الضال من الفئتین ان کنتم صٰدقین۔ (ابن کثیر، ج ۴ ص ۳۶۴)۔

سورۂ بقره کښې ددے پشان یو ایت تیر شوے دے: قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ الاٰیة (بقره ع ۱۱)۔ ددے ایت په تفسیر کښې د مرګ د تمنا نه د مباهلے مراد کیدل پخپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل شوید ی۔ تفسیر ابن جریر ج ۱ ص ۴۲۴ وګورئ۔ حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه هم دا تفسیر کوی: ای ادعوا بالموت علی ای الفریقین اکذب۔ (ابن جریر، ج ۱ ص ۴۲۵) دغه شان د امام قتاده رح، ابو العالیه رح او ربیع بن انس رح نه هم دا تفسیر منقول دے۔ امام ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه همدا تفسیر متعین دے۔

ثم هذا الذی فسر به ابن عباس الایة هو المتعین وهو الدعاء علی ای الفریقین اکذب منهم او من المسلمین علی وجه المباهلة و نقله ابن جریر عن قتادة و ابی العالیة والربیع بن انس رحمهم الله تعالٰی۔ (ابن کثیر، ج ۱ ص ۱۲۷)۔

ف۸ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ: دا ایت د ما قبل سره متعلق دے۔ د کوم مرګ نه چه تاسو ویریږئ او د هغے نه ډیر کیدلو دپاره مباهلے ته نه راځئ، هغه نه تاسو هیڅکله نشئ بچ کیدے۔ مرګ به په هر حال کښې راځي۔ د دے نه روستو به تاسو د الله په مخکښې پیش کولے شئ چه هغه ستاسو د هرے خبرے نه خبر دے۔

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ

اے مؤمنانو! ف۹ کله چه اذان کیږی د مانځه دپاره په ورځ د

الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذٰلِكُمْ

جمعے نو په تلوار سره ځئ د الله د یاد دپاره او پریږدئ اخستل خرڅول، دا

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝۹ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ

بهتره ده تاسو دپاره که چیرے تاسو پوهیږئ ف۱۔ بیا چه کله پوره شی لمونځ

فَانْتَشِرُوْا فِى الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ

نو خوارۀ شئ په زمکه کښې او طلب کړئ فضل د الله،

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝۱۰ وَاِذَا

او یاد کړئ الله ډیر، دپاره د دے چه تاسو کامیاب شئ ف۲۔ او کله چه

رَاَوْ تِجَارَةً اَوْ لَهْوًا انْفَضُّوْٓا اِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا

او وینئ دوی سودا او خوشول یا څه تماشه جدا (خواره) شي ده ته طرفته او تا پریږدي ولاړ

قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ

ته ووایه چه څه د الله سره دي نو هغه بهتر دي د تماشې نه او د سوداګرۍ نه،

وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ (۱۱) ع ۲ ۱۲

او الله بهتر دے روزي ورکوونکو نه

نکات: ۱ ذکر او تعلیم طرفته ترغیب۔ ۲ شکوئی په مؤمنانو باندې۔

موضح قرآن ف ۱ د هر اذان حکم داسے نه دے لکه چه جمع بیا هم ملاویږي شي او جمعه په یو ځائے کیږي نو بیا به څنګه ملاؤ شي۔ د الله یاد دے خطبه نه او وئیلې، خطبه له داسے وخت تلل پکار دي چه خطبه واؤرې۔ ف ۲ د بهود و د عبادت ورځ د خالي ورځ وه، تو له ورځ به تجارت سوداګرۍ منعه وه۔ په دے وجه نے او فرمائیل چه تاسو د مانځه نه پس د روزئ تلاش کوئ او د روزئ په طلب کښ د الله تعالیٰ یاد مه هیروئ۔ ف ۳ یو ځل د جمعے ورځ وه، نبي علیه السلام خطبه لوستله دغه وخت قافله راغله هغه سره د نغارے آواز هم کیدو۔ د اول نه په بنارکښ د غلې کمے وو خلقو منډے کړے چه هغه اُودروي او غله کوزه کړي نو موږ به بیا اوکړی۔ نبي علیه السلام سره دولس ۱۲ سړي پاتې شول، نبي علیه السلام هغوی ته موږ ورکړو۔ نو دا آیت نازل شو۔

فتح الرحمٰن ف ۱ یعني په خطبه کښ۔ ف ۲ مترجم وائي دا آیت د عتاب او زورنے دے صحابه کرامو نه، او اشاره ده هغه قصے ته چه د شام نه یوه قافله راغله او د خطبے په دوران کښ دوی هغه اولیدله نو پاسیدل خواره واره شول او نبي علیه السلام سره پاتې نشول سوا د دولسو کسانو نه چه په هغوی کښ حضرت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم وو۔ والله اعلم۔

تفسیر ۹ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا، ترغیب دے ذکر ته۔ د جمعے اجتماع چونکه په هفته کښ یو ځل کیدله او ټول خلق به راجمع کیدل، د دے وجے نه به رسول الله صلی الله علیه وسلم په جمعه کښ زیات اهم مسائل بیانول۔ مثلاً په جهاد کښ د خرچ کولو او په جهاد کښ د شاملیدو ترغیب وغیره۔ نو وے فرمائیل کله چه د جمعے اذان اوشي نو تجارت او نور کاروبار پریږدئ خطبے ته تلوار سره راشئ او زیات اهم احکام واؤرئ او هغه باندے عمل اوکړئ، ستاسو د دین او دنیا ښیګړه په دیکښ ده۔ وَذَرُوا الْبَیْعَ، او اخستل او خرڅول پریږدئ۔ دیکښ

یوه باریکه اشاره داؤزي چه دَ جُمعې مونځ هغه خلئ ادا کړئ چرته چه تجارتي کاروبار کیږي او دا سې ځایونه لوئے کلي یا ښارونه دي. په بانډو او وړو کلو، بانډو دا خبره نه صادق کیږي. دَ ذکر نه مُراد خطبه ده یا مونځ، یا خطبه سره دَ مانځه نه. اکثرو مفسرینو دَ دے دریځو معنونه یوه معنیٰ اختیار کړے ده.

۱۰ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلوٰةُ، کله چه دَ جُمعې دَ مانځه نه فارغ شئ نو هم دَ مځکې پشان په احستلو خرڅولو او نورو کاروبارونو کښې مشغول شئ او دَ روزئ تلاش کوئ او الله پاک لره ډیر ډیر یادوئ، دَ الله یاد صرف مانځه پورے مخصاص کوئ بلکه هر وخت هغه یادوئ. دَ الله تعالیٰ یادَوَل په ژبه یا دَوَلو پورے خاص او مخصر نه دي. کهٔ یو سړے په خپل کاروبار کښې الله تعالیٰ یاد ساتي نو هغه هم دَ الله تعالیٰ په ذکر کښې مشغول دے، واذکروا الله کثیرا في مجامع احوالکم ولا تخصوا ذکره بالصلوٰة الخ. (مظهري ج ۹ ص ۲۹۸). الله تعالیٰ ډیر ډیر یادَوَل دَ دواړو جهانو دَ کامیابئ ذریعه ده.

۱۱ وَإِذَا رَأَوْا، دا مؤمنانو ته زجر دے. یو ځل په مدینه منوره کښې دَ خوراک کمے پیدا شو چه دَ هغې په وجه خلق دَ لوږے ښکار شول ځکه چه دَ خوراک قیمتونه ډیر زیات او ګران شول چه دَ عام خلقو په بیعه دَ اخستلو طاقت پاتے نشو. یوه ورځ نبي علیه السلام دَ جُمعې خطبه ورکوله چه ناڅاپه دَ نغارے وهلو آواز واوریدلے شو چه دَ هغې مطلب دا وو چه کوم سوداګر دَ خوراک څیزونه اخستي دي او مدینے ته راغلے دے. نو ډیرو مسلمانانو نبي علیه السلام هم دَ خطبې په حالت کښې پرېښودو بازار ته لاړل چه دَ ضرورت څیزونه واخلي. هغوی سره ویره وه چه کچرے دوی دَ مونځ ختمیدلو انتظار اوکړي نو ټول مال به خرڅ شي او دوی به دَ قحط په زمانه کښې دَ ضرورت دَ څیزونو نه محرومه پاتے شي. الله تعالیٰ دَ مسلمانانو دا فعل خوښ نکړو. دے دپاره ئے په غرض دَ ادب ملامتیا نازله کړه. دولس سړي او یوه زنانه په جماعت کښې پاتے شو. وے فرمائیل چه دوی ته اووایه دَ دے لهو لعب او تجارت په مقابله کښې پیغمبر علیه السلام سره دَ مونځ ادا کولو اجر او ثواب ډیر زیات دے. رزق دَ الله تعالیٰ په لاس کښې دے. نو دَ هغه اطاعت اوکړئ او دَ هغه رضا حاصله کړئ، هغه به درله دَ روزئ مسئله حل کړي. امام ابوحیان رح وائي چه خطبه پرېښودلو سره دَ تللو شروع دَ منافقانو دَ طرفه اوشوه بیا دَ هغوی نه پس ډیر مسلمانان پاڅیدل لاړل. دا دَ خطبې آوریدلو دَ وجوب نه دَ مخکښ واقعه ده.


دَ دے آیتونو دَ نزول نه روستو ثابته نه ده چه کوم یو صحابي رض خطبه پرېښې ده او چرته تلے دے. دَ دے آیتونو دَ نزول نه پس دَ صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم دا حال وو چه کله به ئے دَ اذان آواز په غوږونو کښې

نو لاسونه بدے د کارنه بند کړل او ټول کاروته به ئے پریښودل او جماعت ته به روان شول ❖

سورۂ جمعه کښ د توحید آیت او د هغے خصوصیت

① یُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ (الآیة):

نفی د هر قسمه شرک ❖



سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ

ربط سُورۂ جمعه کښ ئے اوفرمائیل چه دَ جُمعے خطبے ته حاضر شئ، دَ انفاق فی سبیل الله مسائل واورئ. اوس په سورۂ منافقون کښ دَ هغه منافقانو شکوی بیان شوے دهٔ چا چه وئیل چه دَ پیغمبر ملګرو (صحابه کرامو) باندے خرچ مکوئ او څوک چه عزتمند دی هغوی به خوار او ذلیل خلقو لره دَ مدینے نه اوباسی. دغه شان مسلمانانو ته ترغیب ورکړے شوے چه دوی دِ پخپله خرچ اوکړی او منافقانو ته دِ محتاجه نشی.

خلاصه منافقانو باندے زجرونه او شکوے، او دَ هغوی دَ پلیتو احوالو بیان. مؤمنانو ته زجر چه تاسو خپلو رونړو باندے خرچ وَلے نکوئ او منافقانو ته وَلے محتاجه کیږئ. مؤمنانو لره دَ منافقانو نه متنفر کول.

تفصیل

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ (الآیة): منافقانو باندے شکوه. دَ هغوی دَ ایمان دعوٰی خالص په ژبه دهٔ او دوی ټول دروغ وائی. اِتَّخَذُوْٓا اَیْمَانَهُمْ جُنَّةً - تا - فَهُمْ لَا یَفْقَهُوْنَ ۝ منافقانو باندے زجر او دَ هغوی دَ خباثت بیان. هغوی په دروغه قسمونه خوړلو سره تاسو ته دَ خپل ایمان یقین درکوی او پخپله خلق دَ الله تعالیٰ دَ دین نه منعه کوی.

وَاِذَا رَاَیْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ (الآیة): دا هم زجر دے. دوی په ظاهره طاقتور او صحت مند معلومیږی، او خیرخواه معلومیږی لیکن په حقیقت کښ دوی ډیر لوئے دشمنان دی، دَ دوی نه ځان اُوساتئ. وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا (الآیتین): کله چه دوی ته اووئیلے شی چه راشئ توبه اُوباسئ نو دَ الله نبی به هم ستاسو دَپاره بخښنه اوغواړی نو دَ غرور او تکبر دَ وجے نه سَرونه خوزوی چه مونږ ته څهٔ مهٔ وایئ.

هُمُ الَّذِیْنَ یَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا - تا - لَیُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ: دا هغه خبرے دی کومے چه دوی وئیلے وے او بیا دَ هغے نه صفا منکر شوی وُو دکوم په وجه چه الله تعالیٰ دَ سورت په شروع کښ فرمائیلی وُو: وَاللّٰهُ یَشْهَدُ

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۝ : دَ تمهيد نه پس دَ اصل مقصد بيان دے۔ يعنې په منافقانو باندې دوه شکوے دي۔ اوله شکوه دا ده چه دَ منافقانو خيال دے چه دا مسلمانان مونږ ته محتاج دي، کچرے مونږ دوی امداد بند کړو نو دوی به پخپله د پيغمبر (عليه السلام) نه اوتختي او هغوی به پريږدي۔ دويمه شکوه دا ده چه دَ دے منافقانو خباثت دے حد ته رسيدلے دے چه دوی مسلمانانو له ډير سپيک او ذليله کڼړي او وائي چه مونږ به دوی لره دَ مدينے نه اوباسو۔

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ـ تا ـ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ دَ منافقانو دَ خبرو جواب دے۔ دَ دولت خزانے دَ الله تعالیٰ په تصرف کښې دي کچرے منافقان په مؤمنانو باندې خرچ کول بند کړي نو الله تعالیٰ به مؤمنانو ته نور وسائل ورکړي۔ او عزت او ذلت هم دَ الله تعالیٰ په اختيار کښې دے او دَ الله تعالیٰ په نزد عزتمند رسول ﷺ او مؤمنان دي۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ ـ الیٰ اٰخر السورة: مؤمنانو ته دَ الله تعالیٰ په لاره کښې دَ خرچ کولو ترغيب او ضمناً زجر دے ۞

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

دا سورة منٰفقون مدينه کښې نازل شو او دا يولس (۱۱) آيتونه او دوه رکوع دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع دَ الله په نوم چه بيحده مهربان نهايت رحم کوونکے دے۔

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ (وقف لازم)

کله چه راشي تا ته که منافقان نو وائي مونږ گواهي کوو چه يقيناً ته رسول يې دَ الله

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

او الله ته معلوم دي چه ته دَ هغه رسول يې، او الله گواهي ورکوي چه دا منافقان

لَكٰذِبُوْنَ ۝۱ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا

دروغژن دي ۞ دوی نيولي دي که خپل قسمونه ډال بيا منع کوي

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۲

دَ الله دَ لارے نه، دا خلق بد کار کوي کوم چه دوی کوي ؤ۔

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

دا ځکه چه دوی شه ایمان راوړه بیا منکر شول بیا مهر اولګیده د دوی په زړونو باندې

فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٣﴾ وَ اِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ؕ

نو اوس دوی په هیڅ نه پوهیږی- او کله چه ته اووینې شه دوی نو ښه لګی تا ته د دوی شکلونه،

وَ اِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ؕ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ

او که خبره کوی نو ته به اورے د دوی خبرے ، لکه چه دوی لرګی دی

مُّسَنَّدَةٌ ؕ يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ؕ هُمُ الْعَدُوُّ

او دړولے شوی دیوال سره، ګنړی هر اواز چه په مونږ بلا راغله ، هم دوی دی دشمنان ا د

فَاحْذَرْهُمْ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ؗ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٤﴾ وَ اِذَا

مؤمنانو، د دوی نه ځان وساته، هلاک دِکړی الله دوی لره، کوم طرفته کرځولی شی دوی او کله چه شه

قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَوَّوْا

او ویلے شی دوی ته راشئ چه معافی اوغواړی تاسو لره رسول د الله ، تاو کړی

رُءُوْسَهُمْ وَ رَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَ هُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٥﴾

خپل سرونه او ته وینې دوی څنګ کونکی او دوی لوئی او تکبر کوی-

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ

برابره ده په دوی باندې شه که ته معافی غواړے دوی دپاره یا معافی نه غواړے

لَهُمْ ؕ لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِی الْقَوْمَ

دوی لره، هیڅکله به معافی اونکړی الله دوی ته ؛ بیشکه الله لاره نه ښائی نافرمانه

الْفٰسِقِيْنَ ﴿٦﴾ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى

خلقو ته - دا هغه خلق دی شه چه وائی خرچ مکوئ په هغوی

مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ؕ وَ لِلّٰهِ خَزَآئِنُ

څوک چه وسیږی رسول الله سره دی تر دے چه خوار شی او الله دپاره دی نه خزانے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝٧

دَ اسمانونو او دَ زمکے لیکن منافقان نہ پوهیږی.

يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ

وائی کله چرے واپس لاړو مدینے ته نو اوباسی به هغه څوک چه عزتمند دی

مِنْهَا الْاَذَلَّ ۭ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ

دَ هغه ځائے نه کمزوری خلق څه او عزت (غلبه) الله لره ده او دَ هغه رسول لره او مومنانو لره

وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٨ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

لیکن منافقان نه پوهیږی ق. اے ایمان دارو!

اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ

غافله دِ نکړی تاسو لره ستاسو مالونه او ستاسو اولاد دَ الله دَ

اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰۗئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٩

یادنه، او څوک چه دا کار او کړی نو دغه خلق دی تاوانیان.

وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ

او خرچ کړئ ٿله څه زمونږ دَ درکړے شوی مال نه مخکښ د دے نه چه راشی

اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى

تاسو کښې یو کس ته مرګ، هغه وخت او وائی اے ربه! ولے دِ څه روستو نکړم تر

اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝١٠

لږ وخته پورے چه ما خیرات کړے وے او شوے وے دَ نیکو خلقو نه.

وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَاۗءَ اَجَلُهَا ۭ وَاللّٰهُ

او هیڅکله به الله روستو نکړی یو نفس لره کله چه راشی دَ هغهٔ نیته (دَ مرګ)، او الله

خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١١ ع

خبردے په هغے کوم چه تاسو کوی.

ع ۲ ۱۴

نکات: ۱ شکوی په منافقانو باندې. ۲ زجر دپاره د منافقانو. ۳ زجر
همدا رنګې. ۴ اولنۍ شکوه په منافقانو باندې. ۵ دویمه شکوه. ۶ جواب.
۷ د خرچ کولو ترغیب او ضمناً زجر.

موضح قرآن
ف۱ یعنې دوی د زړه نه قائل نه دی، د خپلو اغراضو
دپاره (په ژبه) اقرار کوی. **ف۲** خپلو مجلسونو کښې به
منافقانو د مسلمانانو بد وئیل. کله چه به هغوی اونیولی شو نو منکر به شو
او قسمونه به ئې خوړل چه مونږ دا خبره نه ده کړې. **ف۳** یعنې په ظاهره
خوسړی او زړور ښکاری او په زړه کښې بزدله او دهوکه باز دی. **ف۴** په تو
سفر کښې د دوه کسان په جنګ شول، یو مهاجر وو او بل انصاری. بیا نبی علیه السلام هغه
دواړو له صلح اوکړه. منافقانو پټې شا خبرې شروع کړې چې مونږ هغوی ته په
خپل ښار کښې ځائې نه وې ورکړې نو ولې به ئې زمونږ مقابله کوله. یو پکښې اووې
چه تاسو د هغوی خبر (خلقو) نو خلق رسول الله صلی الله علیه وسلم سره جمع کیږی. د هغوی
خبر اخستل پریږدئ (یعنې خرچ پرې مکوئ) نو پخپله به خوارۀ وارۀ شی. بل اووې
هر کله چه مونږ د دې سفر نه مدینې ته واپس شو نو ځکه چه په دې ښار کښې عزت
او غلبه ده، هغوی به ذلیله اوبې قدر خلق او باسی. یو صحابی رض دا خبرې واورېدې
نو نبی علیه السلام ته ئې اووئیلې. نبی علیه السلام دوی راوغوښتل او تپوس ئې ترینه
اوکړو نو قسمونه ئې شروع کړې چه مونږ سره د دشمنئ په وجه مونږ باندې
دروغ وئیلې دی. نو الله تعالی دا ایتونه نازل کړل.

فتح الرحمن
ف۱ مترجم وائی د منافقانو سردارانو په څنو سفرونو
کښې د نفاق خبرې اوکړې، هغه د انصارو یو سړی نبی علیه السلام
ته اورسولې. منافقان د نبی علیه السلام مجلس ته راغلل او قسمونه ئې اوخوړل چه
مونږ دا خبرې نه دی کړې. نو دا سورت د هغه اقوالو په حکایت کښې نازل
شو. **ف۲** یعنې په فقراء مهاجرینو باندې. **ف۳** یعنې د منافقانو مالداران
به د مسلمانانو فقیران.

تفسیر
۲ إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ ـ تا ـ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ
الْفٰسِقِيْنَ: منافقانو باندې شکوی ده. د منافقانو پلیت او ناپاک
عملونه او ارادې ئې مسلمانانو ته ښکاره کړې او مسلمانان ئې ترې خبردار کړل
دپاره د دې چه د هغوی نه لرې اوسیږی. قَالُوْا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ:-
منافقان چه کله تا ته راشی نو قسمونه خوری او وائی چه مونږ د زړه نه تا سو لره
د الله تعالی ریښتونې رسول منو. د منافقانو دا دعوی چونکه د حق او صداقت نه
خلاف وه ځکه چه هغوی صرف په ژبه د رسالت اقرار کولو لیکن زړونه ئې د ایمان
او تصدیق نه خالی وو. نو الله تعالی د هغوی د دې دعوې تکذیب اوکړو.

وَ اللّٰهُ یَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۱۰ چه الله تعالیٰ اعلان کوی چه منافقان پخپله دعوی کښې بالکل دروغژن دی. په مینځ کښې: وَاللّٰهُ یَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ جمله معترضه راوړے شوې ده دپاره چه دا وَهم اونکړے شی چه دَ لَكٰذِبُوْنَ تعلق دَ نفس خبر: اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ سره دے. نو دا دَ معلومه شوه چه منافقانو ته نفس خبر کښې دروغژن نه دی ویلی شوی بلکه په خپله دے دعوی کښې ورته دروغژن ویلے شویدی چه دَ دوی دا زبانی وینا دَ زړهٔ دَ عقیدے سره موافق نهٔ ده:

فالتکذیب راجع الی (نشهد) باعتبار الخبر الضمنی الذی دل علیه التاکید وهو دعوی المواطاة فی الشهادة ای والله یشهد انهم لکاذبون فیما ضمنوه قولهم (نشهد) من دعوی المواطاة وتوافق اللسان والقلب فی هذه الشهادة - (روح ج ۲۸ ص ۱۰۸) -

یا دَ لَكٰذِبُوْنَ مطلب دا دے چه هغوی خپلے دے صفائی کښې دروغژن دی، چه هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ صحابو رض خلاف څه خبره نهٔ ده کړے (روح). دَ قرآن دَ ظاهر نه دے مفهوم تائید کیږی.

۳ اِتَّخَذُوْٓا اَیْمَانَهُمْ: دا زجر دے په منافقانو باندے - دا دیوے واقعے طرفته اشاره ده. حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه فرمائی چه په غزوهٔ مُریسیع کښې منافقانو هم شرکت کړے وو. ما دَ رئیس المنافقین عبدالله بن اُبَیّ نه واورېدل چه دَ پیغمبر علیه السلام ملګرو امداد بند کړئ نو هغوی به دَ لوږے نه مړهٔ شی، پخپله به دا ځلے پریږدی خوارهٔ وارهٔ به شی او کله چه مونږ مدینے ته واپس لاړ شو (عیاذاً بالله) نو دغه خوار او ذلیله خلق به دَ مدینے نه اُوباسو. څهٔ چونکه وړوکے وم، په دے وجه ما پخپله دَ نبی علیه السلام په خدمت کښې دَ حقیقت حال واضح کولو په ځائے خپل تره ته دَ صورتِ حال نه خبر کړو چه هغهٔ تو له واقعه دَ نبی علیه السلام په خدمت کښې عرض کړه. نبی علیه السلام څهٔ راوغوښتلم او عبدالله بن اُبَیّ او دَ هغهٔ ملګری ئے هم راوغوښتل. منافقانو صفا انکار اوکړو او قسمونه خوړلو سره ئے نبی علیه الصلاة ته دَ خپل صداقت یقین ورکړو. نبی علیه السلام څهٔ دروغژن کړم او هغوی ئے رښتونی اوګرځول. دے سره ماته ډیر زیات تکلیف اُورسیدهٔ. اخر الله تعالیٰ دَ دے سورت ابتدائی ایتونه نازل کړل او دَ منافقانو خباثت او دَ دروغو بیان ئے ښکاره کړو.

دا هم دلیل دے چه دَ لَكٰذِبُوْنَ دویم مفهوم راجح دے او زیات صحیح دے جُنَّةً: ډهال. دوی دَ دروغو قسمونه دَ دُنیا دَ سزا نه دَ بچ کیدلو دپاره ډهال ګرځولی دی او خلقو لره دَ دین اسلام او توحید نه منع کوی. دَ دوی دا کردار ډیر خراب دے.

۴ داځکه چه په ژبه خو هغوی اقرار اوکړو لیکن په زړه کښ کفر ساتی چه اخر د هغوی کردار او گفتار، عمل او وینا نه ښکاره شو نو الله تعالیٰ د دوی په زړونو باندې مُهر اولگولو او د خالص ایمان د توفیق او د ایمان د حقیقت د فهم نه ئې محرومه کړل۔

۵ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ: داهم زجر دے۔ کله چه ته منافقانو ته گورې نو د حُسن او جمال او د ظاهری شکل او صورت په وجه په تا ته ښنا ښسته او ښکلی معلومیږی او د هغوی خبرے هم تاسو په غور سره اورئ ځکه چه هغوی په فصاحت او بلاغت او په خوږو خبرو جوړولو کښ ماهران دی او د خپلے بهادرئ او زړورتیا لاپے کوی کَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ: دا مستانف دسره نوے کلام دے او دیکښ د منافقانو د ایمان نه د خالی کید و بیان دے۔ ځنګه چه بیکاره لرګی دیوال ته تکیه کړلو سره اودرولے شي چه نهٔ خو د ستنے کار ورکوی او نهٔ د شهتیر او نهٔ د لاړی اوکړئ۔ غرض دا چه د فائدے نه خالی وی۔ دغه شان دا منافقان کوموچه ستا په مجلس کښ دیوالونو ته ډډه وهلے ناست دی، خالص بیکاره او د ایمان نه خالی دی۔

شبهوا فی جلوسهم مجالس رسول الله صلی الله علیه وسلم مستندین فیها وما هم الا اجرام خالیة عن الایمان والخیر بخشب منصوبة مسندة الی الحائط فی کونهم اشباحا خالیة عن الفائدة الخ (روح ج ۲۸ ص ۱۱۱)

۶ يَحْسَبُوْنَ: د منافقانو په زړونو کښ چونکه غلا ده او دوی خپل خباثتونه بنهٔ پیژنی، د دے وجے نه هر وخت په ویره او پریشانئ کښ اوسیږی او چه کله هم څهٔ اواز واوری نو خیال کوی چه زمونږ خبر لښته او دا زمونږ د مرلے پیغام دے او زمونږ خلاف څهٔ اعلان دے۔ دا لعنتیان ستا سو سخت دشمنان دی د دوی نه ځان اوساتئ او د دوی د دهوکو او چلونو نه خبردار اوسئ۔ دوی څرنګه د کفر او ګمراهئ طرفته ګرځولی شي۔

۷ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ: داهم منافقانو باندې زجر دے۔ کله چه د منافقانو زجر نازل شو نو بعضو مسلمانانو عبد الله بن اُبی او د هغهٔ ملګری منافقان ملامته کړل او د نبی علیه السلام خدمت کښ حاضرشول د توبے ویستلو مشوره ئے ورکړه چه خپله نبی علیه السلام هم هغوی ته قاصد اولیږهٔ چه په صداقت سره د زړهٔ نه ایمان راوړئ او د نفاق نه توبه اوباسئ نو نبی علیه السلام به ورله معافی اوغواړی نو هغوی ډیر په بے پرواهئ او کبر او غرور سره د دے نه اعراض اوکړو او د نبی علیه السلام په خدمت کښ د حاضرئ نه ئے انکار اوکړو۔

۸ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ: دا منافقان د نفاق، ضد او عناد انتهاء تر رسیدلی دی، په دے وجه ئے په زړونو باندې د جبّاریت مُهر لګیدلے دے او د توبے ویستلو او په سمه لاره باندې د راتللو توفیق تر ینه سلب شویدے۔ نو کهٔ تاسو

د هغوی دپاره استغفار کوئ یا نه کوئ، الله پاک هغوی لره هیچرے نه معاف کوی.
حکم چه الله تعالیٰ داسے فاسقانو او فاجرانو ته د هدایت توفیق نه ورکوی څو لا
چه په سمه لاره باندے راتلل نه غواړی۔

۹ هُمُ الَّذِیۡنَ: د تمهید نه پس د اصل مقصود بیان دے او دا اولنۍ شکوه
ده۔ منافقان چه د کوم خبرو نه انکار کوی چه دوی نه دی ویلے۔ بیشکه دوی
دغه خبرے کړے دی لیکن اوس دروغ وائی، هم دوی ویلے دو چه کوم خلق د
پیغمبر علیه السلام نه گیرچاپیره ناست دی، مونږ هغوی ته خوراک څکاک ورکوو
نو په هغوی باندے خرچ کول پریږدی دپاره د دے چه د هغوی د خوانه لاړ شی
او خوارۀ وارۀ شی، کله چه ورته دلته د خوراک څکاک دپاره څه نه ملاویږی
نو بخپله به د نبی علیه السلام ملگرتیا پریږدی۔

۱۰ وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ جمله معترضه ده دپاره د ابطال د قول د
منافقانو۔ دا منافقانو دا باطل خیال وو چه کچرے مونږ خرچ نه کوو نو مسلمانان
به د لوږے نه مړۀ شی او د پیغمبر علیه السلام نه به جدا شی۔ دوی هیڅ ته روزی
ورکوونکی نه دی، روزی رسان خو الله تعالیٰ دے۔ د زمکے او آسمان ټول خزانے
او د رزق ټول وسائل د هغه په لاس کښ دی، هغه چه چا ته غواړی او څومره
غواړی، ورکوی او چا ته چه او غواړی نه ورکوی لیکن دا منافقان داسے کم عقله
او ناپوهه دی چه د الله تعالیٰ د شان خلاف سوچ او خبرے کوی۔

۱۱ یَقُوۡلُوۡنَ لَئِنۡ رَّجَعۡنَاۤ: دا دویمه شکوه ده۔ دا هغه خلق دی چه مسلمانان
ئے حقیر او ذلیله اوگنړل او خپل ځانونه ئے عزتمند او شریفان اوگنړل او
وے ویل چه مونږ مدینے ته واپس لاړ شو نو (عیاذًا بالله) دغه ذلیله او کم اصله
خلق به د مدینے نه بهر ته اوباسو۔ وَلِلّٰهِ الۡعِزَّةُ الخ، دا د منافقانو د بیلیتے
وینا جواب دے۔ وے فرمائیل چه عزت، غلبه او قوت خو الله تعالیٰ دپاره
دے او د هغهٔ د رسول او مؤمنانو دپاره دے چا ته چه الله تعالیٰ عزت
او غلبه ورکړے ده او د دے منافقانو دپاره د دنیا او آخرت کښ ذلت او
رسوائی مقدر شوے ده۔

ای ولله تعالیٰ الغلبة والقوة ولمن اعزه الله تعالیٰ من رسوله
صلی الله علیه وسلم والمؤمنین لا لغیر۔ (روح ج ۲۸ ص ۱۱۶)۔

لیکن منافقان د ډیر زیات جهالت په وجه دا قسم بے فائدے او عبث خبرے چلوی۔

۱۲ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا: دا مؤمنانو ته د انفاق فی سبیل ترغیب دے
د ذکر الله نه ټول عبادات او خصوصًا جهاد او انفاق فی سبیل الله مراد دے
مؤمنانو ته ئے ارشاد او فرمائیلو چه د مال او اولاد تدبیر او اصلاح کښ
مشغولتیا تاسو لره د جهاد او انفاق فی سبیل الله او د نورو عباداتو نه غافله

نکړی. کوم خلق چه د دنیا په کارونو کښې دومره زیات مصروف او مشغول شی چه د الله تعالیٰ د یاد نه غافله شی، هغوی به ډیر زیات تاوان کښې دی.

۳ وَ اَنۡفِقُوۡا مِنۡ مَّا رَزَقۡنٰکُمۡ: دا د ذکر الله تفسیر دے. دغه شان د سورۂ جمعه د آخری آیتونو تفصیل دے. مقصد دا دے چه د عبادت په وخت عبادت کوئ او فارغ وخت کښې نور کاروبار کوئ، خپل لاس سره رزق گټئ پخپله هم خورئ او په فقیرانو مسلمانانو باندې هم خوروئ او د الله تعالیٰ په لاره کښې هم خرچ کوئ د پاره د دے چه د منافقانو مالی امداد ته ستاسو حاجت پاتے نشی. خپل ژوند کښې د مرګ نه مخکښې خرچ اوکړئ کنی نو بیا به پښیمانه یئ او د مرګ په وخت به ارمان کوئ چه اے زمونږ پروردګاره! لږ شان مهلت راکړے دے د پاره چه څه خیرات اوکړم او نیک جوړ شم. اَکُنۡ مجزوم د فَاَصَّدَّقَ په محل باندې معطوف دے ګویا چه اصل عبارت دا دے: اَخِّرۡنِیۡ اَصَّدَّقۡ وَ اَکُنۡ. یا د مجزوم عطف په منسوب دے لکه چه د بعضو نحویانو په نزد جائز دے (من الروح والمتن المتین).

۴ وَ لَنۡ یُّؤَخِّرَ اللّٰهُ: او کله چه د مرګ معین وخت راشی نو الله تعالیٰ به یو ساعت هم روستو الے نکوی او هغه د ټولو د عملونو نه خبر دے هر یو ته به د هغه د عمل مطابق جزا او سزا ورکوی ❁

دَ سورۂ مُنافقون خصوصیات

مؤمنانو ته د انفاق فی سبیل الله ترغیب.

د منافقانو د خباثتونو بیان ❁



سُوْرَةُ التَّغَابُنِ

ربط سورهٔ منافقون کښې ئې اوفرمائیل، زمونږ د درکړے شوی دولت وغیره نه په جهاد وغیره کښې خرچ کوئ. سورهٔ تغابن کښې ئې په طور د ترقئ اوفرمائیل، ښه ده مونږ منو! دا دولت ستاسو دے. ټهیک ده لیکن تاسو ئې الله ته قرض ورکړئ او د هغه په لاره کښې ئې خرچ کړئ هغه به تاسو ته ورے څو چنده زیات اجراو ثواب درکړی.

خلاصه د توحید د مسئلے اعاده، په توحید باندې عقلی دلیل، تخویف دنیوی او اخروی. د توحید دعوی د کوم په خاطر چه د انفاق او جهاد حکم ورکړے شو. د انفاق (مال خرچ کولو) بیان علی سبیل الترقی.

تفصیل

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ (الآية): د توحید دعوی دوباره بیا نقل دے دپاره چه د اصل مقصود نه غفلت اونه هیرونه لے شي او دا خبره په ذهن کښې موجوده او باقی وی چه انفاق د دے مسئلے په خاطر دے. هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ــ تا ــ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ: په توحید باندې عقلی دلیل. الله تعالیٰ د شریک نه پاک او ګنړی ځکه چه د ټولو خالق او مالک او د ټول هر څه نه خبر صرف هغه دے. فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ: دا ضمناً شکوه ده.

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ــ تا ــ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ: تخویف اخروی او شکوی.

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ: ترغیب الی الایمان. يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ: تخویف اخروی. وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ: بشارت اخرویه.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ: تخویف اخروی. اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ: د دعوی توحید ذکر د کوم په خاطر چه د مال خرچ کولو او جهاد حکم ورکړے شوے دے. يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ: دا اصلاح احوال او نظم ونسق قائم ساتلو حکم. اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ الخ: په اخر کښې د انفاق فی سبیل الله ترغیب په نوے طریقے سره.

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانَ عَشْرَةَ آيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

دا سورة تغابن مدینه کښې نازل شوی او دیکښې اتلس (۱۸) آیتونه او دوه رکوع دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکی دے۔

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ لَهُ

پاکي بیانوي الله لره ټول هغه څه چه په آسمانونو کښې دي او هغه څه چه په زمکه کښې دي، د هغه

الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱﴾

بادشاهي ده او هغه لره تعریف دے او هغه هر څه کولے شي۔

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ

هغه (ذات) الله دے چه تاسو ئے پیدا کړي یئ نو بس څوک ستاسو نه کافر (منکر) دي او څوک ستاسو نه ایماندار دي،

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

او الله څه چه تاسو کوئ هغه وینی۔ پیدا ئے کړل آسمانونه او زمکه

بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَاِلَيْهِ

ته بیر سره او ستاسو شکلونه ئے جوړ کړل پس ښائسته ئے جوړ کړل ستاسو شکلونه، او د هغه طرفته

الْمَصِيْرُ ﴿۳﴾ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ

د ټولو واپس تلل دي۔ پوهه دے په هغه څه چه په آسمانونو کښې دي او په زمکه کښې او پیژني

مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ

هغه کوم چه تاسو پټوئ او کوم څه چه ښکاره کوئ، او الله ته معلوم دي د زړونو

الصُّدُوْرِ ﴿۴﴾ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ

خبرے۔ آیا نه دے را رسیدلے تاسو ته خبر د هغه خلقو چه منکر شوی دي

قَبْلُ فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۵﴾

مخکښې بیا ئے اوڅکله سزا د خپلو کارونو او هغوی لره عذاب دردناک دے۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ
دا ځکه چه را وړل به هغوی ته د هغوی رسولانو واضح دلیلونه،
فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ؗ فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا وَّاسْتَغْنَى
پس وئیل به ئے ایا انسان به مونږ ته لار ښائی؟ پس منکر شول او مخ ئے اوګرځولو او د الله نه ئے
اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۞ ٦ زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ
بے پرواهی اوکړه، او الله بے پرواه دے صفتونو والا۔ دعوی کوی کافران چه
لَّنْ يُّبْعَثُوْا ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ
هرګز به دوی نه پاڅولے شی، ته ووایه ولے نه قسم دے په رب زما چه تاسو به بیشکه پاڅولی شئ بیا به خبر ولی شئ
بِمَا عَمِلْتُمْ ؕ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۞ ٧ فَاٰمِنُوْا
په هغے کوم چه تاسو کړیدی، او دا په الله باندې آسان دی۔ نو ایمان راوړئ
بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ؕ وَاللّٰهُ
په الله او د هغه په رسول باندې او په هغه نور باندې کوم چه مونږ نازل کړے دے او الله
بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۞ ٨ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ
ستاسو د ټولو کارونو نه خبر دے۔ کومه ورځ چه راجمع کړی تاسو لره د جمع کیدلو په ورځ
ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ
دغه ورځ ده د بیلات او ګټے، او څوک چه یقین اوکړی په الله باندې او کار نیک
صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ
کوی لرے به کړی د هغه نه د هغه بدئ او داخل به ئے کړی هغه باغونو ته چه
تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ
بهیږی لاندے د هغے نه ولے، او سیږی به هغے کښ همیشه،
ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۞ ٩ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا
هم دا دی لوئے مراد حاصلیدل۔ او کوم خلق چه منکر شول او دروغ ئے اوګڼل

بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۖ وَ

زموږ: ایتونه، دغه خلق دی دوزخیان همیشه به اوسیږی په هغې کښې، او

بِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۰﴾ ع

ډیر بد ځائے ته اورسیدل دی.

نکات: ۱ دَ توحید دَ دعوے اعاده. ۲ په توحید باندې عقلی دلیل. ۳ شکوی ضمنًا. ۴ تخویفِ دنیوی و اخروی. ۵ تخویفِ اخروی او شکوی. ۶ تخویفِ اخروی. ۷ بشارتِ اخرویه. ۸ تخویفِ اخروی.

موضح قرآن ف۱ دَ ټولو ځیونانو ته دانسان پیدا ئش پسه او بدکار دی. ف۲ دَ بیلات او دَ کښتو ورځ داچه دَ هر انسان یو کور دے په جنت کښې او یو په دوزخ کښې، جنتیانو خپل کور واخستهٔ او دوزخیانو هم دوزخیانو او هائیلله او جنتیانو اوګټهلهٔ.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی قرآن ۱۲

تفسیر ۲ يُسَبِّحُ لِلّٰهِ: دَ مقصود اصلی دعوٰی توحید اعاده اوکړے شوه دپاره دے چه لوستونکی ترینه غافله نشی او پوهه شی چه قتال او انفاق فی القتال دَ دے مسئلې په خاطر دی. دَ زمکې او اسمانونو هر څیز دَ خپل حال مناسب دَ الله تعالیٰ په تنزیه او پاکئ بیانولو کښې مصروف دے او دَ هغهٔ دَ هر شریک نه دَ پاکئ اقرار کوی. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ: وَلی بره نُه وی؟ په ټولو کائناتو کښې دَ هغهٔ تصرف او اختیار چلیږی. دَ دینه علاوه ټول دَ کارسازئ صفتونه هم هغهٔ پورے خاص دی او په هر څیز باندې قدرت او غلبه هم هغهٔ ته حاصله ده. لهٰذا په دے کائناتو کښې صرف هغه معبودِ برحق او صرف هغه کارساز دے بل څوک نهٔ دے. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ کښې چونکه حصر دے، دَ دے وجې نه به په وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ کښې هم حصر وی، حُکه چه دَ کلام په یو جزو کښې حصر وی نو دَ هغې په باقی اجزاؤ کښې به هم دَ حصر مفهوم ملحوظ وی.

۳ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ: په توحید باندې عقلی دلیل دے. دَ اول بیان نه معلومه شوه چه په ټولو کائناتو کښې متصرف او کارساز او قادر علی الاطلاق صرف الله پاک دے. دلته به دَ بیان وی چه دَ ټولو کائناتو پیدا کونکے او دَ زمکې او اسمان دَ هر څیز نه خبر هم صرف هغه دے. دَ دے وجې نه هغه دَ ټولو کارساز دے.

فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ: دا په مینځ کښې ضمنًا شکوٰی ده. تاسو ټول الله تعالیٰ پیدا کړی یئی، نو پکار خو دا وه چه تاسو ټول دَ الله تعالیٰ شکرګذار او تابعدار

بندګان جوړشوی وی لیکن ستاسو نه څنې خلق کافران هم اوګرځیدل چه د الله تعالیٰ د توحید او د هغهٔ د رسولانو نه ئې انکار وکړهٔ او د احکاموته ئې بغاوت اوکړو لیکن هغهٔ ستاسو اعمال ښهٔ پیژنی - په دے وجه تاسو به د دے عملونو پوره پوره سزا ملاویږی۔

۳ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ: داټول کائنات هغهٔ د حق ظاهرولو دپاره پیدا کړل او د کائناتو ذره ذره د هغهٔ د وحدانیت او د هغهٔ د قدرتِ کامله دلیل دے۔ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ: څنې د هغهٔ د قدرت د صنائعو او بدائعو د صنعت نه یخپله ستاسو پیدائش او ستاسو شکلونه او صورتونه جوړ کړل دی چه هغهٔ په ټولو مخلوقاتو کښې تاسو ته زیات جمال او حُسن درکړو او د ظاهری جمال او کمال سره سره ئې ستاسو د باطن د تکمیل او تحسین دپاره د هدایت دستور او قانون نازل کړو۔ چونکه تاسو به آخر ټول د الله تعالیٰ په دربار کښې حاضریږئ، په دے وجه د توحید او نور خدا و ندی احکامونه سرغړونه مکوئ او خپل باطن مهٔ خرابوئ۔ دپاره د دے چه د جهنم په عذاب سره ستاسو ظاهری حُسن او جمال هم وران ویجاړ نشی۔

(والیه المصیر) فاحسنوا سرائرکم حتی لاتمسخ بالعذاب ظواهرکم۔ (بیضاوی ج ۲ ص ۳۷۹)۔

۴ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ: څنګه چه خالق او متصرف او مختار صرف هغه دے دغه شان عالم الغیب هم صرف هغه دے۔ لهٰذا هغه د ټولو حاجت روا او کارساز دے هغه د زمکے او آسمان هر څیز او ستاسو باطنی اقوال او افعال او ستاسو د زړونو خبرے هم پیژنی۔

۵ اَلَمْ يَأْتِكُمْ: دا تخویف دنیوی او اُخروی دے۔ خطاب د عربو مشرکانو ته دے۔ آیا تاسو ته د هغه کافرو قومونو حال نه دے معلوم کوم چه ستاسو نه مخکښې تیر شوی دی؟ هغوی د توحید نه انکار اوکړو او د الله تعالیٰ نه ئې بغاوت اوکړو نو هغوی دُنیا کښې مختلف قسمه عذابونو سره هلاک کړے شو او د کفر او شرک مزه ورته اوڅکولے شوه او په آخرت کښې هم هغوی دپاره دردناک عذاب تیار دے۔ ذٰلِكَ بِأَنَّهُ كَانَتْ تَّأْتِيهِمْ: دُنیا او آخرت کښې هغوی د دے سزا مستحق ولے ګرزیدل؟ څکه چه هغوی ته پیغمبرانو دلائل او معجزات راوړل او په هر طریقے او انداز سره ئې هغوی باندې د توحید مسئله واضحه کړه خو هغوی یو ه هم او نه منله او وے وئیل آیا بشر زمونږ دپاره هادی راولیږلے شو؟

نو هغوی د عناد په وجه انکار اوکړو او مخ ئې تربے نه واړولو نو الله تعالیٰ هم د هغوی هیڅ پروا اونکړه څکه چه هغه خود هر صفت مالک او بے پروا دے، هغهٔ ته د دوی د ایمان او اسلام راوړلو هیڅ ضرورت نشته۔ فَقَالُوا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا:

دَ هر قوم مشرکانو په دے تعجب کړیدے چه بشروی او بیا هادی او رسُول جوړیږی او راشی۔ انکروا و تعجبوا من کون البشر رسلًا من الله هادة الیهم۔ (مظهری ص ۳۱۲ ج ۹) دَ هغوی په نزد بشر او رسُول کښ تضاد دے۔ مطلب دا دے چه هغوی پیغمبرانو ته دَ بشر وئیلو په وجه کافر شول لکه چه ځنے غالی او سخت قسم اَهلِ بدعت ئے بیان کوی۔

کے زَعَمَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا ؛ دا دَ مکے دَ مشرکانو دپاره تخویف اُخروی دے او په هغوی باندِ شکوه ده۔ دَ دے مشرکانو خیال یعنی غلط دے چه دوی به دَ مرګ نه روستو دوباره لثی ژوندی کولے۔ قُلْ بَلٰی وَ رَبِّیْ ؛ دا دَ دوی دَ باطل خیال جواب دے۔ وے فرمایئل تاسو دوی ته او وایئ، ولے نه۔ تاسو به ضرور ژوندی کولی شئ او تاسو ته به دَ خپلو ټولو عملونو خبر درکولے شی۔ دَ انسان دوباره ژوندی کول او دَ ټولو عملونو مکمل تفصیل محفوظ ساتل الله تعالیٰ ته ډیر اسان دی۔

کے فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ : دا په تیرشوے بیان متفرع دے۔ کله چه دَ واضحه او قطعی دلائلو نه ثابته شوه چه په ټول کائنات کښ متصرف او مختار او دَ ټولو کارساز صرف الله تعالیٰ دے دغه شان معلومه شوه چه دَ توحید نه دَ انکار کوونکو حشر به په دُنیا کښ ډیر خراب وی او په اخرت کښ به هم خراب وی۔ لهذا تاسو دَ الله تعالیٰ په وحدانیت او دَ هغه په رسُول علیه السلام باندِ ایمان راوړئ او په هغه کتاب باندِ هم ایمان راوړئ کوم چه هغه نازل کړے دے او کوم چه دَ کفر او شرك او دَ جاهلیت په تیرو کښ دَ هدایت پوره او مکمله رڼا ده۔ بچرے دا خطاب مؤمنانو ته دے نو مطلب به دا وی چه په ایمان باندِ قائم او سیږئ او دَ الله تعالیٰ دَ احکامو پوره پوره تابعداری کوئ۔

۹ہ یَوْمَ یَجْمَعُکُمْ ، ظرف لَتُنَبَّؤُنَّ سره متعلق دے (روح) یا دَ دَ متعلق محذوف دے ، ای یتغابنون : په قرینه دَ ذٰلِكَ یَوْمُ التَّغَابُنِ ، قاله الشیخ رحمه الله۔ یعنی هغه ورځ به تاسو په تاوان کښ یئ او افسوس به کوئ چه په دُنیا کښ مو دَ الله تعالیٰ او دَ هغه دَ رسُول صلی الله علیه وسلم اطاعت ولے اونکړو ؟ وَمَنْ یُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ ، دَ نیکانو مؤمنانو دپاره دَ اخرت خوشخبری او زیرے دے۔ وے فرمایئل کوم خلقو چه ایمان راوړے دے او نیک کارونه کوی الله تعالیٰ به دَ هغوی ګناهونه معاف کړی او داسے باغونو ته به ئے داخل کړی چه لاندے به ئے ترے نهرونه بهیږی او دوی به پکښ همیشه دپاره اوسیږی۔ دا ډیره لویه کامیابی ده چه دَ جهنم نه بچ کړے شی او جنت ته داخل شی۔

وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا وَ کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَآ ، دا تخویف اخروی دے۔ کوم خلقو چه کفر اوکړو او زمونږ ایتونه ئے دروغ اوګنړل هغوی دوزخیان دی او په دوزخ

کښې به همیشه د پاره او سیږي چه ډیر بد ځائے د استوګنې دے.

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ

نه رسیږي تاله هیڅ مصیبت د الله تعالی د حکم نه بغیر، او څوک چه

يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

ایمان راوړي په الله باندې هغه لاره ورښائي د هغه زړه ته، او الله ته هر څیز

عَلِيْمٌ ﴿١١﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ

معلوم دے. او حکم ومنئ د الله ته او حکم ومنئ د رسول ﷺ پس که چیرے

تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٢﴾

تاسو مخ وګرځوئ نو زمونږ د رسول ﷺ ذمه وار دے رسول واضح او ښکاره.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٣﴾

الله ګڼه د هغه نه سوا هیڅ عبادت نشته، او په الله باندې دې بهروسه کول مؤمنان او کړي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ

اے ایمانداروٍ! که ستاسو څخه بیبیانے او اولاد

عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا

دښمنان دي ستاسو د پاره نو د هغوي نه ځان وساتئ او که چیرے معافي وکړئ او درګذر وکړئ

وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤﴾ اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ

او بخښنه وکړئ نو الله دے بخښونکے مهربانه دے. ستاسو مالونه

وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿١٥﴾

او ستاسو اولاد، هم دا د امتحان د پاره دے، او الله چه دے د هغه سره دے لوئے ثواب.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا

پس ویریږئ د الله نه څومره چه کیدے شي او واورئ او ومنئ

وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ ۗ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ

اوخرچ کوئ د خپلے فائدے دپاره، او څوک چه بچ اوساتلے شو د خپل نفس د بخل نه

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٦﴾ إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا

نو دغه خلق، هم دوی مراد ته اورسیدل۔ که چرے قرض ورکړئ الله ته ښه طریقه باندے

حَسَنًا يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ شَكُورٌ

قرض ورکول نو هغه به دوچند کړی ستاسو دپاره او تاسو ته به بخښنه وکړی، او الله قدردان

٢ ع ٨ ١٦ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾

ډیر صبرناک دے، عالم دے په پټو خیزونو ته او ښکاره، غالب دے حکمت والا۔

نکات: ۱۔ د توحید د دعوے ذکر۔ ۲۔ ترغیب انفاق فی سبیل الله ته

موضح قرآن ف۱ یعنی انسان د ښځے بچو دپاره ډیرے نیکئی ضائع کوی او په ډیر ګناهونو کښ پریوزی لیکن تا له هم پکار دی چه د هغوی سره ښه سلوک او معامله اوکړے او خپل ځان هم اوساتے۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د هغه چا نه چه په بخل باندے عمل کوی۔

تفسیر ۱۱ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ: مسلمانانو ته تسلی ده چه که چرے د کافرانو او مشرکانو د لاس نه تاسو ته څه تکلیف اورسیږی نو د هغې نه مه ویریږئ۔ دا ټول د آزمائش په طور باندے د الله پاک له طرفه دی۔ نو په الله تعالیٰ باندے یقین او بهروسه اولرئ او په ایمان باندے کلک اوسیږئ، الله تعالیٰ به ستاسو په زړونو کښ د عزم او ثابت قدمئ جذبه پیدا کړی او تاسو ته به په مصیبتونو او تکلیفونو باندے د صبر توفیق درکړی۔ هغه په هر څه خبردار دے او د مؤمنانو د زړونو حال د هغه نه پټ نه دے۔ په دے وجه د مصیبت په وخت د هغوی زړونو ته تقویت او د برداشت طاقت ورکوی۔ په مؤمن باندے چه کله مصیبت راشی نو هغه د الله پاک له طرفه ګنړی او غاړه ورته ږدی او د الله تعالیٰ په رضا باندے راضی وی۔

(یهد قلبه) عند إصابتها للصبر والاسترجاع علی ما قیل وعن علقمة للعلم بانها من عند الله تعالیٰ فیسلم لامر الله تعالیٰ و

یرضی بہا۔ (روح ج ۲۸ ص ۱۲۳)۔

۱ؔلہ وَاَطِیْعُوا اللّٰهَ: ترغیب دے اطاعت طرفته - دَ الله تعالیٰ او دَهغهٔ دَ رَسُولؐ اطاعت کوئ۔ بیا که تاسو دَ اطاعت نه مخ اوګرځولو نو دے سره زمونږ پیغمبر ﷺ ته هیڅ نقصان نهٔ رسیږی ځکه چه دَ هغوی په ذمه خو تبلیغ دے چه دَ هغهٔ حق هغوی ؑ ادا کړے دے بلکه دِے سره تاسو دَ خپل دین او دُنیا نقصان کوئ۔

۲ؔلہ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ: دَ اَصل مقصودی دعوے توحید اعاده دَ دے دَ کوم په خاطر چه دَ جهاد او مال خرچ کولو احکام نازل شویدی۔ دَ الله تعالیٰ نه سوا بل څوک اِلٰه (معبود) او کارساز نشته - نو مؤمنانو له صرف په هغهٔ باندِ یقین او اعتماد ساتل پکار دی، په مصیبتونو او حادثو کښ دَ هغهٔ نه اُمید ساتل او دَ مدد دَ پاره صرف هغهٔ ته آواز کول پکار دی - تر دے ځائے پورے دَ توحید دَ مضمون بیان وُو۔

۳ؔلہ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا: دَ توحید دَ مسئلے دَ تفصیل نه پس نے مسلمانانو ته دَ جماعتی نظم ونسق قائم ساتلو او خپل مینځ کښ دَ اتفاق او اتحاد تعلیم ورکړو، دِے دَ پاره چه دُشمنانو سره مضبوطه مقابله وکړی۔ دَ اولا او ښځو دَ دشمن کیدلو یو دا مطلب دے چه په حقیقت کښ ستاسو ځنے ښځے او ځنے اولاد ستاسو دشمنان دی۔ نو دَ هغوی نه هوښیار او سیږئ۔ دَ ځنو ښځو یا اولاد له طرفه مطالبه کیږی چه دَ هغے پوره کولو دَ پاره انسان په حرامو او ګناهونو کښ مبتلا شی او دِے دَ هغے په کولو باندِ مجبور وُلے شی۔

وقد یحملونهم علی السعی فی اکتساب الحرام و ارتکاب الآثام لمنفعة انفسهم۔ (روح ج ۲۸ ص ۱۳۶)

دوئیم مطلب دا دے چه اولاد او بی بی ځنے وخت کښ دَ دشمنئ باعث جوړیږی - مثلاً یو مسلمان رورستا دَ اَهل وعیال په باره کښ څهٔ ګستاخی او نامناسبه عمل اوکړی، دَ هغوی په شان کښ نامناسبه الفاظ استعمال کړی، څهٔ خبره وکړی نو هغهٔ سره مهٔ په جهګړه کیږئ بلکه درګذر او معاف اوکړئ۔ قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ - وَاِنْ تَعْفُوْا: یعنی مقابله مکوئ - وَ تَصْفَحُوْا، دَ ژبانی سرزنش او ملامتیا ورکولو نه هم ځان وساتئ او اغماض نه کار واخلئ - وَتَغْفِرُوْا، او دَ زړهٔ نه هم معافی اوکړئ، په زړهٔ کښ خِرے مهٔ ساتئ - بیا که تاسو مسلمانانو رونړه معاف کړل نو الله تعالیٰ به هم تاسو ته معافی او درګذر اوکړی۔

۴ؔلہ اِنَّمَآ اَمْوَالُکُمْ: دا مال او اولاد خو ګزمیینت دَ پاره دے چه دا پته اولګی چه څوک دَ هغهٔ محبت ته دَ مال او اولاد په محبت باندِ ترجیح

ورکوی، د الله تعالیٰ په نزد د دې دپاره ډیر اجر او ثواب دے۔ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ، لهذا غومره چه کیدے شی د الله پاک نه ویریږئ او د هغه احکام په غور سره واورئ او هغه په ځائے راوړئ او د الله تعالیٰ په لاره کښ خرچ کوئ۔ دا ستاسو دپاره ډیره بهتره ده۔ خَيْرًا یا د فعل ناقص مقدر خبر دے یا د فعل امر مقدر مفعول دے یا د مصدر محذوف صفت دے:

ای یکن خیرًا۔ او قصدوا خیرًا۔ او انفقوا انفاقًا خیرًا (روح، بیضاوی)

وَمَنْ يُوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ : او کوم خلق چه د الله تعالیٰ په توفیق سره د بخل د بیمارئ نه بچ کړے شو او د الله تعالیٰ په لاره کښ ورته د مال خرچ کولو توفیق ملاؤ شو نو دغه خلق د دُنیا او آخرت کښ کامیاب او مقصد ته رسیدونکی دی۔

۱۷ إِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ : په آخر کښ د انفاق فی سبیل الله بیان دے او په سورة منافقون کښ د انفاق د امر نه ئے په طور د ترقئ سره او فرمایئل چه تاسو الله ته قرض ورکړئ هغه به تاسو ته څو چنده زیات اجر او ثواب درکړی او ستاسو گناه به هم معاف کړی۔ د الله تعالیٰ په لاره کښ خرچ کړے شوے مال په نزد ضائع کیدی ځکه چه دا مال تاسو هغه ذات ته ورکوئ چه برکتونو والا او قدردان دے، او لیرشان قربانئ کولو سره زیات بدلے ورکوئے دے۔ يعطى الجزيل بمقابلة النزر القليل۔ (روح)

۱۸ عٰلِمُ الْغَيْبِ : هغه په پټ او ښکاره باندې عالم دے، د هغه نه هیڅ څیز پټ نشته، هغه د زړونو د اخلاص نه ښه خبر دے۔ نو هر چا ته به د خپل اخلاص مطابق د عمل جزاء ورکوی، هغه د قدرت او حکمتِ بالغه مالک دے هیڅ څیز د هغه د قدرت نه بهر نشته او د هغه هیڅ یو کار د حکمت نه خالی نه دے ❖

سورهٔ تغابن کښ د توحید اٰیتونه

① يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الاٰیة۔ نفی د هر قسمه شرک۔

② خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۔ تا ۔ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ،
نفی د شرک فی التصرف۔

③ اَللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ۔ نفی د هر قسمه شرک ❖

❖ ❖ ❖ ❖
❖ ❖
❖

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ

ربط دا دے سورۃ تعلق د سورۃ تغابن د آخری حصے سره دے۔ هلته مؤمنانو دپاره اُمورِ انتظامیه بیان کړے شوی وُو، دے دپاره چه هغوی خپل جماعتی نظم ونسق صحیح کړی او د کافرانو سره بنهٔ مقابله اوکړی۔ د هغے نه پس په سورۂ طلاق کښ د کور انتظامی اُمور ذکر کړے شول، دے دپاره چه د کورونو انتظام صحیح شی او د کور تنازعات او جنګ جګړے د عداوت او مخالفت باعث اونهٔ ګرځی۔

خلاصه د طلاق، عدت، نفقه او سکونت مسائل، تخویف دُنیوی بشارت، په توحید بانډ عقلی دلیل۔

تفصیل

یٰٓاَیُّهَا النَّبِیُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ ـ تا ـ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِکُلِّ شَیْءٍ قَدْرًا: د طلاق نه روستو د وجوب عدت بیان دے۔ د معتدے د کور نه د ویستلو ممانعت۔ د طلاق نه روستو مطلقه په بنهٔ طریقه سره دوباره خپل ځان سره ساتل۔ یا د هغے په بنهٔ طریقه د پریښودلو بیان یعنی په هیڅ حال کښ په د ښځے تنګول مقصود نهٔ وی۔

وَالّٰٓئِیْ یَئِسْنَ مِنَ الْمَحِیْضِ الاٰیة: د آئیسه (د چا چه حیض نهٔ راځی د عمر د زیاتوالی په وجه)، صغیره (نابالغه)، حامله د عدت تفصیل۔

اَسْکِنُوْهُنَّ مِنْ حَیْثُ سَکَنْتُمْ: معتده دپاره د سُکنیٰ او د حاملے او مرضعے د نفقے بیان۔

وَکَاَیِّنْ مِّنْ قَرْیَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا، تخویف دُنیوی۔ د سورت دا حصه د سورۃ تغابن د اولنی حصے سره متعلق ده۔ وَمَنْ یُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ الاٰیة، مؤمنانو دپاره بشارت اُخروی دے۔

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ الاٰیة، توحید بانډ دلیل عقلی۔ الله تعالیٰ چه د ټولو کائناتو خالق دے هم هغه قادرِ مطلق، عالم الغیب او کارساز دے، بل څوک نهٔ دے ۞

سُورَةُ الطَّلَاقِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اِثْنَا عَشَرَةَ آيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ ۞

دا سورة طلاق مدینه کښې نازل شو او دې کښې دولس (۱۲) آیتونه او دوه رکوع دی ۞

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ

اے نبی! کله چه تاسو طلاق ورکړئ بیبیانو ته نو هغوی ته طلاق ورکړئ

لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ

د هغوی په عدت باندې او شمار کړئ عدت او ویرېږئ د الله نه چه رب ستاسو دے،

لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ

مه وباسئ هغوی لره له د خپلو کورونو نه او هغوی دې هم نه وځي لیکن

اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ

هغه وخت چه اوکړي ښکاره بے حیائي، او دا حدودې ټاکلې شوې د الله،

وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ لَا

هر څوک چه تیر شي د الله د حدودو نه نو هغه بیا ظلم اوکړل د خپل ځان سره، خبر

تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ①

نه دے، امید دے چه الله پیدا کړي د دے طلاق نه روستو نوے صورت واله.

فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ

پس کله چه اورسیږي خپلے وعدے ته کله نو اوساتئ هغوی لره د دستور موافق (په ښه طریقه) یا

فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَيْ عَدْلٍ

پریږدئ هغوی د دستور موافق (په ښه طریقه) او ګواه کړئ د دے معتبر (عدل والا)

مِّنْكُمْ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ

د خپلو ځانونو نه او ښه ادا کړئ ګواهي الله دپاره، دا خبره چه ده نصیحت کړے شو په دې سره هغه څوک

مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۬ؕ وَمَنْ

هغه چا لره چه يقين لري په الله باندې او په ورځ روستنۍ باندې، او څوک چه

يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝۲ لا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ

ويرېږي شي د الله نه هغه به اوګرځوي د هٰغه لره د وتلو لاره، او رزق به ورته ورکړي د چيرته

حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ؕ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ

نه چه به د دۀ خيال هم نۀ وي، او څوک چه اعتماد او ساتي په الله باندې نو هغه

حَسْبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ؕ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ

دۀ لره کافي دے، بيشکه الله پوره کوي خپل کار، الله ګرځولے دے

لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝۳ وَالّٰٓـِٔيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ

هر څيز لره اندازه وه۔ او کومې ښځې چه نا اُميده شي د حيض نه

مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ

ستاسو د ښځو نه د ۳ ګډې ستاسو شبه پاتے وي نو د هغوي عدّت درې مياشتې،

وَّالّٰٓـِٔيْ لَمْ يَحِضْنَ ؕ وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ

او همدغه شان چه کوم حيض نۀ وي راغلے، او د چا په خيټه کښې چه ماشوم وي د هغوي عدت دا دے

اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ

چه او ځيږوي د خيټې ماشوم، او څوک چه ويريږي شي د الله نه او به ګرځوي الله د هغه

مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ۝۴ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗٓ اِلَيْكُمْ ؕ

په کار کښې اسانی وه۔ دا حکم دے د الله چه نازل ئے کړو ستا طرف ته،

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ

او څوک چه ويريږي د الله نه لرې به کړي د هغه نه بدی د هغه او زيات به کړي ورله

اَجْرًا ۝۵ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ

ثواب۔ هغوی ته کور ورکړي او سيبلو دپاره شي چرته چه تاسو اوسيږئ د خپل

وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ۗ وَاِنْ

طاقت مناسب او ضرر مه رسوئ مه غواړئ هغوئ ته د پاره د تنګی وکړئ په هغوی باندې، او که چرې

كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ

وی په خیټه کښې ماشوم نو په هغوی باندې خرچ وکړئ ترڅو چې اوځیږوی

حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۚ

د خپلې بچې ، پس که چرې پئ ورکوی له ستاسو په وجه نو ورکړئ هغوی ته بدله د هغوی ،

وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ

او یو بل ته اوښایئ خپل مینځ کښې نیکی ، او که چرې ضد وکړئ خپل مینځ کښې نو پئ به ورکړی

لَهٗٓ اُخْرٰى ۝٦ لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ۗ وَمَنْ

د هغه په خاطر بله ښځه . پکار دی چې خرچ وکړی مالدار د خپلې مالدارئ موافق او چا ته چې

قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ۗ لَا

تنګئ سره ملاویږی رزق د هغه نو خرچ دې وکړی څومره چې ورکړی یئ ده ته الله ، الله

يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَآ اٰتٰىهَا ۗ سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ

په هیچا تکلیف نه اچوی لیکن دومره څومره چې ورکړی یئ ، اوس به الله اوګرځوی د سختئ

عُسْرٍ يُّسْرًا ۝٧ ع ۱

نه روستو څخه اسانی .

نکات: ۱ د طلاق نه پس عدت او نور احکام. ۲ د ایئسه ، صغیره او حامله د عدت بیان. ۳ د معتده د پاره د سکنی بیان.

موضح قرآن: **ف۱** طلاق ورکړئ عدت باندې، عدت درې حیضه دی د دې حیض نه ځکښې چه ټول حیضونه په شمار کښې راشي او په دغه طهر پاکئ، کښې به ښځې ته نه نزدې کیږی او چرته چه دغه ښځه د طلاق په وخت اوسیدله هم په هغه کور کښې دې عدت پوره کړی، نه خود دې ښځه وځی او نه دې څوک اوباسی، دا وتل بې حیائی ده، الله به نوې کار راوباسی دا ځکه او ف مائیل چه کیدې شي د دواړو په مینځ کښې صلحه اوشي.

ف۲ طلاق ورکړلو سره د عدت تیریدلو نه مخکښ کچرے ځان سره ئے ساتل غواړی نو په رجوع کولو دِ دوه گواهان اونیسی، دِے دپاره چه تهمت پرے ونه لګی.
ف۳ نبی علیه السلام یو حرم خپل موقوف کړو یا ئے یوے بی بی سره شهد څکل موقوف کړل د نورو بیبیانو له خاطره ـ په دِے الله تعالیٰ دا وفرمائیل او د قسم په بدله کښ کفاره ورکول دی. اوس چه څوک خپل مال ته اووائی چه په ما باندِ حرام دے نو قسم اوشو، کفاره به ورکوی نو هغه دِ راوړی خوراک وی که جامے یا وغیره.

فتح الرحمن	**ف۱** یعنی چه په دغه طهر (پاکوالی) کښ ئے ئے نه وی مسه کړے. **ف۲** یعنی موافقت پیدا شی او رجوع اوکړی. **ف۳** یعنی

د مطلقا نو نه ـ

تفسیر	**۲ے** یَا أَیُّهَا النَّبِیُّ: مطلقه دپاره د عدت اثبات نداء سره نبی علیه السلام پورے خاص کړے شو لیکن د حکم خطاب ئے تول

امت ته وفرمائیلو ځکه چه نبی علیه السلام د امت امام دے ـ یا اصل عبارت داسے دے ، یَا أَیُّهَا النَّبِیُّ قل لامتك إذا طلقتم الآیة ـ (روح) د حنفیه او شافعیه خو دے باندِ اتفاق دے چه طلاق د طهر په حالت کښ ورکول پکار دی لیکن د هغوی په دیکښ اختلاف دے چه د عدت شمار به د حیض نه کیږی یا د طهر نه ـ د حنفیه و په نزد باندِ عدت درے حیضه دے او د شافعیه و په نزد درے طهره دی ـ د دے اختلاف په بنا باندِ لِعِدَّتِهِنَّ کښ د لام په مفهوم کښ اختلاف دے ـ د شافعیه و په نزد باندِ لام توقیت دپاره دے ای فی وقت عدتهن ـ او د حنفیه و په نزد باندِ لام په معنیٰ د قبل دے. ای قبل عدتهن. لیکن د حضرت شیخ رحمه الله په نزد باندِ لام د عاقبت دپاره دے لکه چه په ؛ لیکون لهم عدوا وحزنا کښ دے ـ مطلب به دا وی چه کله تاسو هغوی ته طلاق ورکړئ نو طلاق دِ عدت سره ملا بس وی یعنی هغوی لره د کورونو نه مه وباسئ بلکه د عدت تیرولو دپاره ئے کینوئ او عدت باقاعده اوشمارئ او د هغے موده پوره کړئ او د الله تعالیٰ نه اویریږئ او خپل طرز عمل سره معتدے ته تکلیف مه رسوی ؛

۳ے لَا تُخْرِجُوهُنَّ: عدت تیرونکو ښځو لره ئے د کورونو نه د ویستلو نه منع اوفرمائیله خو کچرے هغوی په خپله مرضئ سره اوځی نو بیا تاسو باندِ څه الزام او ملامتیا نشته ـ فَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ: نه مراد د معتدے اتو پخپله خوښه د کورونو نه وتل دی ـ هی نفس الخروج قبل انقضاء العدة ـ (روح ج ۲۸ ص ۱۳۳) دا تفسیر د حضرت عبد الله بن عمر رض، سدی رح، ابن السائب رح، نخعی رح، او امام ابو حنیفه رحمه الله نه منقول دے ـ دا د الله تعالیٰ حدود دی چه هغه د خپلو بندګانو دپاره مقرر کړیدی ـ څوک چه دا ماتوی هغه خپل ځان باندِ ظلم کوی.

لَا تَدۡرِیۡ لَعَلَّ اللّٰهَ : هیڅ چا ته دا معلومه نهٔ ده چه الله تعالیٰ به راتلونکي وخت کښې څنګه حالات پیدا کوي. - د دې وجې نه طلاق، عدت او سکنیٰ (اوسولو) وغیره خداوندي احکامو کښې تجاوز مکوئ او ښځې د ظلم او زیاتۍ نښانه مهٔ جوړوئ. - ممکن ده چه د طلاق ورکولو نه روستو تاسو پښیمانه شئ او ښځې ته د رجوع کولو اراده مو اوشي نو په اسانئ سره به د فوت شوي کمی پوره والے اوکړئ. بیا که چرې تاسو ښځې له مغلظ طلاق ورکړو یا د طلاق نه پس مو ورسره د بې سلوکۍ معامله اوکړه نو بیا به رجوع کول مشکل شي.

حضرت شیخ قدس سرہٗ فرمائي : دا د ما قبل د پاره علت دے. د معتدّه د کور نه د ویستلو ممانعت په دې وجه او شو چه کېدے شي په خېټه کښې ئې د خپل خاوند حمل وي. بیا که هغې ته د کور نه د وتلو اجازت ورکړے شي نو د حمل ظاهرېدلو سره به پرې د تهمت لګېدلو خطره وي.

۴ فَاِذَا بَلَغۡنَ اي قاربن انقضاء العدة (قرطبي) : کله چه د دوي عدت ختمېدلو ته نزدې شي نو اوس هم موقعه ده، سوچ فکر اوکړئ او آخري فیصله اوکړئ. - بیا که رجوع کولو سره هغه خپل ځان سره ساتل غواړي نو دې ساتئ. - لیکن چه مقصد ئې ښهٔ ژوند تېرول وي، نه چه هغې ته تکلیف رسول. او بیا که د رجوع کولو اراده مو نهٔ وي نو هم هغې ته په ښهٔ طریقې سره د عدت تېرولو موقعه ورکړئ، دې د پاره چه د عدت تېرېدلو نه پس چه چرته هغه په خپله خوښه نکاح کول غواړي نو چه نکاح اوکړي. - دغه وخت چه هرڅهٔ فیصله کوئ، د رجوع کولو او یا د فرقت او جدائۍ نو دوه قابل اعتماد کسان پهٔ دې ګواه کړئ او هغوي د خپلې فیصلې نه خبر کړئ دې د پاره چه ستاسو فیصله د شک شبهې نه وځي او روستو د جهګړې وېره پاتې نشي. - وَ اَقِیۡمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ : دا ګواهانو ته حکم دے چه کله د هغوي د ګواهئ ضرورت پېښ شي نو د وېرې او لالچ په وجه د ګواهۍ نهٔ پټوي بلکه خالص د الله پاک د رضا د پاره دِ صحیح صحیح ګواهي اوکړي. - دا پند او نصیحت هغه چا ته دے څوک چه په الله تعالیٰ او په آخرت باندې ایمان لري ځکه چه د دې نه به فائده هم هغه پوره ته کوي.

۵ وَمَنۡ یَّتَّقِ اللّٰهَ : د دې تعلق د طلاق سره دے یعني څوک چه د الله تعالیٰ نه وېرېږي او د طلاق ورکولو په وخت د حدود الله پابندي کوي نو هغهٔ د پاره په عدت کښې د رجوع کولو موقعه شته دے.

قال ابن عباسؓ والشعبيؒ والضحاکؒ هذا في الطلاق خاصة اي من طلق کما امره الله یکن له مخرج في الرجعة في العدة. (قرطبي ج ۱۸ ص ۱۵۹)

څوک چه د حسن معاشرت په نیت سره ښځه ایا د کول غواړي هغه د روژې

فکرنکوی، الله تعالیٰ به هغهٔ ته د داسې ځائې نه روزی ورکړی چه د هغه تر به نې وهم او گمان هم نه وی. څوك چه په الله تعالیٰ باندې اعتماد اوکړی هغهٔ دپاره الله تعالیٰ کافی دې او بل هیڅ ته د هغهٔ ضرورت نشته ځکه چه الله تعالیٰ داسې قادر او متصرف دې چه هغه د کوم کار اراده کوی نو هغه پوره کوی او هیڅ یو څیز د هغهٔ د ارادې په لاره کښې رکاوټ نشی جوړیدې: ای یبلغ ما یریده عزوجل ولایفوته مراد. (روح ج ۲۸ ص ۱۳۶).

قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ، هر څیز دپاره الله تعالیٰ یو اندازه مقرر کړې ده خواه طلاق وی یا عدت یا بل کوم څیز، د هغې د عدت د مختلفو میعادونو بیان دې.

۷ وَالّٰٓئِیْ یَئِسْنَ: دې ایت کښې د عدت د دوؤ میعادونو بیان دې یو درې میاشتې او دویم وضع د حمل (ماشوم پیدا کیدل). هر میعاد د دوؤ دوؤ قسمه ښځو دپاره دې، اول میعاد دې دوه ښځو دپاره: (۱) آئیسه یعنی هغه زنانه چه د بوډا والی په وجه ئې حیض نه راځی. (۲) هغه زنانه چه لا تر اوسه ئې حیض نه دې شروع شوې، خواه صغیره (نابالغه) وی یا مراهقه (بلوغ ته نژدې) یا بالغه بالسن (کلونو سره) وی. دغه شان دویم میعاد یعنی وضع د حمل. دې دوؤ ښځو دپاره: (۱) هغه حامله چه د حمل په حالت کښې ورته طلاق ورکړې شوې وی. (۲) هغه حامله چه خاوند ئې فوت شوې وی.

اِنِ ارْتَبْتُمْ ای فی مقدار عدتهن. وَالّٰٓئِیْ، مبتداء ده او فَعِدَّتُهُنَّ د هغې خبر دې یعنی د هغوی د عدت په مقدار کښې ستاسو شك وی او وَالْمُطَلَّقٰتُ یَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ سره تاسو ته د هغوی عدت معلوم نشی نو واورئ او پوهه شئ چه د هغوی عدت درې میاشتې دې.

۷ وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ: څوك چه د الله تعالیٰ په احکامو کښې د هغهٔ نه ویریږی او هغه په ځائې راوړی نو الله تعالیٰ به د هغهٔ کار اسان کړی او د غسې نیکو کارونو توفیق به ورکړی. ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ، دا مذکوره احکام الله تعالیٰ په تاسو باندې نازل کړیدی، څوك چه د الله تعالیٰ نه ویریږی او د هغهٔ د احکامو اطاعت اوکړی نو الله تعالیٰ به د هغهٔ گناهونه معاف کړی او ډیر اجر او ثواب به ورله ورکړی.

۸ اَسْکِنُوْهُنَّ: معتدې دپاره د عدت تیریدلو پورې د استوگنې انتظام د خاوند په ذمه دې. خاوند دې ورله د خپل مالی حیثیت موافق د رهائش انتظام اوکړی او په هغهٔ لازمه ده چه هغه تنگه نکړی او نه تکلیف ورکړی دې دپاره چه هغه مکان پریښودلو باندې مجبوره شی. معتده د طلاق رجعیه وی یا د طلاق بائن، د هغې نفقه هم د خاوند په ذمه ده او سکنیٰ هم. د امام ابو حنیفه او امام ثوری رحمهما الله همدا مسلك دې. وَاِنْ کُنَّ اُولٰتِ حَمْلٍ:

ګچرې معتده حامله وي نو هغې ته خرچه هم ورکړئ. د شرط مفهوم مخالف حجّت نه دے. د دے نه علاوه د شرط فائده داده چه وهم کیدو چه د حاملې دپاره به نفقه نه وي ځکه چه ځنې وختونو کښې د حمل موده ډیره اوږده وي نو چه د حاملې دپاره نفقه ثابته شوه د غیر حاملې دپاره خو به په طریق اولی ثابته وي. (روح)

۹ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ: مطلّقه حامله د وضع حمل نه روستو ګچرې ستاسو بچي ته پئ ورکوي او د هغه پرورش کوي نو هغې ته د دے معاوضه ورکړئ او په خپل مینځ کښې د شرع د حکم مطابق معامله کوئ. نه خو دِ پلار د بخل نه کار اخلی او نه دِ مور د جائز حق نه د زیاتي مطالبه کوي او ګچرے خاوند غریب دے او ښځه د هغه د وسعت نه د زیاتے معاوضے مطالبه وکړي نو هغه پریږدئ. پئ ورکوونکے به تاسو ته ډیرے ملاوېږي. لِیُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ، خوک چه مالداروي هغه دِ د خپل حیثیت موافق خرچ کوي او خوک چه غریب وي هغه دِ د خپل حیثیت موافق خرچ کوي. الله تعالیٰ هیچا له د هغه د وس نه زیات په هغه تکلیف کښې نه اچوي. که خوک غریب وي نو کیدے شي چه الله تعالیٰ ورله په رزق کښې فراخي راولي.

وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا وَ

او ډیرے کلي دي نه چه اووتل د حکم د خپل رب نه او

رُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّعَذَّبْنٰهَا

د هغه د رسولانو نه پس مونږ په حساب کښې اونیول سخت حساب کښې او په عذاب کړل مونږ هغوي

عَذَابًا نُّكْرًا ۝۸ فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا وَكَانَ

په ناکاره ناخښه عذاب. نو وے څکله سزا (عذاب) د خپلو عملونو او په

عَاقِبَةُ اَمْرِهَا خُسْرًا ۝۹ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا

اخر کښې د هغوي کار تاوان راغے. تیار کړے دے الله دوي دپاره سخت

شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ۖ الَّذِيْنَ

عذاب نو اوېریږئ د الله نه اے د عقل خاوندانو! د چا چه

اٰمَنُوْا ۛ قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۙ﴿١٠﴾ رَّسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ

يقين دے ، بيشكه الله نازل كړيدے پتاسو نصيحت ، رسول دے چه لولي تاسو ته

اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

د الله ايتونه واضح دے دپاره چه اوباسي هغه خلق څوك چه يقين لري او كوي

الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ

نيك كارونه د تيارونه رڼا ته او څوك چه يقين راوړي الله

بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

په الله باندې او وكړي څه نيكي هغه به داخل كړي باغونو ته ، لاندې

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ قَدْ

بهيږي د هغې نه نهرونه هميشه به وسيږي په هغې كښې تل تر تله ، بيشكه

اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ﴿١١﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ

الله ښه وركړيدے هغه ته رزق - الله هغه (ذات) دے چه پيدا ئے كړل او ووه

سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ۭ يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ

اسمانونه او زمكه هم د هغې په مثل ، نازليږي د هغه حكم

بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ڏ

په دے كښې دپاره د دے چه تاسو پوهه شئ چه الله هر څه كولے شي ،

وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿١٢﴾ ع ۲ / ۱۸

او د الله علم هر څه ته رسيدلے دے ❊

تفسير : ۔ شلـه وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ : د كورني انتظامي كارونو، طلاق، عدت، سكنى، نفقې او رضاعت د احكامو بيانولو نه پس تخويف دنيوي او اخروي واوروله شو، دپاره د دے چه د احكام خداوندي نه بغاوت كوونكو ته د خپل بد انجام پته اولگي او نيكان خلق هم د هغې نه عبرت واخلي - وے فرمائيل چه ډير كلي داسے وو چه د هغې اوسيدونكو

خپل پروردګار او دَ هغهٔ دَ رَسُولانو نه بغاوت وکړو او مخ ئے تړینه واړولو نو موږ دَ هغوی سره سخت حساب اوکړو او دردناکه سزا مو ورته ورکړه. دغه شان هغوی دَ خپلو بَد عملونو مزه اوڅکله او اٰخرئے دَ دین او دُنیا ناوان پورته کړو او بیا په اٰخرت کښ هم الله تعالیٰ هغوی دپاره سخت عذاب تیار کړے دے.

۱۱ف فَاتَّقُوا اللّٰهَ: اے عقلمند و مؤمنانو! دَ الله تعالیٰ نه اوویریږئ او دَ هغهٔ دَ اِحکامو تعمیل اوکړئ، هغهٔ ستاسو دَ رهنمائئ دپاره یو عظیم الشان کتاب نازل کړیدے چه پوره او مکمل نصیحت دے او یو عظیم الشان رَسُول ئے رالیږلے دے. رَسُوْلًا دَ ذِکْرًا نه بدل دے. دَ قرآن په تلاوت باندے دَ همیشوالی په وجه ئے نبی علیه السلام ته ذکرا ووئیلے. یا رَسُوْلًا دپاره فعل ناصب مقدر دے: ای اَرْسَلَ رَسُوْلًا. سُدّی او ابن عطیه رحمهما الله همدا غوره کړیدے (روح). امام زجاج (قرطبی) او قاضی ثناء الله پانی پتی (مظهری) او دَ حضرت شیخ قدس سرهٗ په نزد هم دا مختار دے او دا ترکیب دَ علفتها تبنًا وماءً باردًا دَ قبیل نه دے.

۱۲ف وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ: دا مؤمنانو دپاره بشارت اُخروی دے. څوک چه ایمان راوړی او نیک عمل اوکړی، الله تعالیٰ به ئے داسے باغونو ته داخل کړی چه په کښ به دَ هر اَعلیٰ مشروب وَلے بهیږی او دوی به په کښ همیشه اوسیږی. هلته چه به دوی ته کوم رزق ملاویږی هغه به هم ډیر زیات غوره او خوندناک اوَ اعلیٰ درجے وی.

۱۳ف اَللّٰهُ الَّذِيْ: دا په توحید باندِ عقلی دلیل دے. دَ دے سورت په اٰخر کښ دَ توحید بیان راغلے دے دپاره دَ دے چه دَ نورو اِحکامو سره دَ توحید طرفته هم توجه باقی پاتے شی ځکه چه اصل مقصود همدا دے. دَ زمکے او اٰسمان او دَ ټولو کائنا تو خالق الله تعالیٰ دے او دَ زمکے او اٰسمانونو په مینځ کښ صرف هغه متصرّف او مختار دے او هم دَ هغهٔ حکم چلیږی. لِتَعْلَمُوْا دپاره متعلق مقدر دے: ای اخبرتکم او علمتکم بذالک لتعلموا: (روح ص ۱۳۶ ج ۲۸).

یعنی ما تاسو ته دا حُکم بنودلی او بیان کړیدی چه تاسو ته معلومه شی چه الله تعالیٰ په هر څیز باندِ قادر دے او دَ هغهٔ علم دَ کائناتو په ذره ذره باندِ احاطه کونکے دے. لهٰذا هغه دَ ټولو کارساز او حاجت روا دے.

وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ: څنګه چه اٰسمانونه اُووهٔ دی دغه شان زمکے هم اُووهٔ دی لیکن اُووهٔ اٰسمانونه خو دَ یو بل دَ لاندے دی ځکه چه اٰسمانونو دپاره

په قرآن کریم کښې طِبَاقًا راغلے دے خو زمکے دا رنګے نه دی بلکه د دے نه د زمکے اووه حصے مراد دی مثلاً : ایشا، یورپ، شمالی افریقه، جنوبی افریقه، امریکه، نیوزی لینډ او آسټریلیا۔ د اوؤ خورو ورو زمکو مراد کیدل د حضرت ابن عباس رضی الله عنه او اَبُوصالح رحمه الله نه روایت شوی دی۔

قال ابو صالح هی فی کونها سبعًا لاغیر فی سبع ارضین منبسطة لیس بعضها فوق بعض یفرق بینها البحار و یظل جمیعها السماء وروی بذلک عن ابن عباس الخ - (روح ج ۲۸ ص ۳۳)۔

والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۞

سورۂ طلاق کښې

د توحید آیت

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ (الآیة) نفی د شرک فی التصرف ۞



سُوْرَةُ التَّحْرِيْمِ

ربط سورۂ تحریم کښې د سورۂ حدید دواړه مضمونونه په طریقه د لف ونشر مرتب ذکر شوي دي. اول انفاق فی سبیل الله او بیا جهاد فی سبیل الله.

خلاصه تمهید، د خلافِ رضا کارونو نه منعه، خطاب مؤمنانو ته، د انفاق ذکر په طور د اشارے. امر په جهاد، تمثیل د پاره د مؤمنانو او کافرانو.

تفصیل

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ ـ تا ـ ثَيِّبَاتٍ وَّأَبْكَارًا تمهید، خطاب نبي علیه السلام ته، ازواج مطهرات د دا سے کارونو نه منعه کړه چه د الله تعالیٰ د رضا نه خلاف وي.

يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْا اَنْفُسَكُمْ الآية: خطاب دے مؤمنانو ته. اهل و عیال د دا سے کارونو نه بچ کړئ کوم چه سبب د اُور د عذاب کرځي.

يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الآية: تخویف اُخروي دے. يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْا الآية: بشارتِ اُخرویه مؤمنانو د پاره او د مال خرچ کولو ذکر ضمنًا او اشارةً. د انفاق فی سبیل الله د وجے نه به د قیامت په ورځ مؤمنانو ته نور ورکړے شي.

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ الآية: د جهاد مضمون ذکر. ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا الآية: کافرانو د پاره دوه مثالونه. د نوح علیه السلام بي بي او د لوط علیه السلام بي بي دواړه کافرانے وے لیکن د هغوی د پیغمبر خاوندانو د نیکو عملونو په وجه هغوی ته هیڅ فائده اُونه رسیدله.

وَضَرَبَ اللهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا (الآيتين): مؤمنانو د پاره تمثیل: د فرعون کفر د هغے بي بي ته، او د مریم د طاعنینو تهمت لګولو تهمت هغے ته هیڅ نقصان او ضرر اُونه رسولو.

✢ ✢ ✢

سُوْرَةُ التَّحْرِيْمِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَا عَشْرَةَ آيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة تحریم په مدینه کښی نازل شو او دا دی دولس (۱۲) ایتونه او دوه (۲) رکوع دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه بیحده مهربان نهایت رحم کوونکے دے.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِيْ

اے نبی! ته ولے حراموے هغه کوم چه حلال کړیدی تا ته الله، غواړے ته

مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ① قَدْ

رضامندی د خپلو بیبیانو، او الله بخښونکے مهربان دے.

فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ

مقرر کړیدی الله تاسو د پاره ستاسو د قسمونو پرانستل او الله مالک ستاسو دے

وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ② وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى

او هم هغه دے د ټول هر څه نه خبر حکمت والا. او کله چه پټه اووئیل نبی خپلې

بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَ

یوې بی بی ته یوه خبره، پس هر کله چه هغې خبر ورکړو د هغې (خبرې) او

اَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْ

الله ښکاره کړه نبی علیه السلام ته هغه خبره نو بیان کړه نبی د هغې نه بعضې او تیر شو د بعضې

بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ؕ

نه، پس کله چه خبر ورکړو د هغې بی بی ته وے وئیل تا ته چا درکړو خبر د دے؟

قَالَ نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ ③ اِنْ تَتُوْبَآ اِلَى اللّٰهِ

وے وئیل ما ته خبر راکړو بنه عالم بنه خبردار (۳). که چرے چه تاسو دواړه توبه وباسئ

فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ وَاِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ

نو بیشکه ستاسو دواړو زړونه کاږه شو بیدی، او که چرے تاسو دواړه امداد او کړئ له په هغه باندی نو

اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَ جِبْرِیْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَ ۚ
الله دے دهغه ملګرے او جبرئیلؑ او نیک بخته مؤمنان ،
وَ الْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِیْرٌ ④ عَسٰى رَبُّهٗٓ اِنْ
او فرښتے د دے نه پس مدد ګوونکے ؒ دی کچرے ته نبی پریږدی تا سے
طَلَّقَكُنَّ اَنْ یُّبْدِلَهٗٓ اَزْوَاجًا خَیْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ
ټولے نو اوس به الله هغه ته بدله ورکړی ښځے بهترے ستا سو نه حکم منونکے ،
مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ
یقین لرونکے ، مونځ کښې اودریدونکے ، توبه کوونکے ، عبادت کنارے ، روژه نیوونکے
ثَیِّبٰتٍ وَّ اَبْكَارًا ⑤ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا
کونډے او پیغلے . اے ایمان دارو ! خه او ساتئ
اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ
ځان خانونه او خپل کور والا دهغه اور نه چه د هغه خشاک د دے خلق
وَ الْحِجَارَةُ عَلَیْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ
او کانړی ، په هغه مقرر دی فرښتے تند خویه غالبے
لَّا یَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَ یَفْعَلُوْنَ مَا یُؤْمَرُوْنَ ⑥
نافرمانی نکوی د الله د خبرے چه هغوی ته امر کوی او هغه کار کوی د کوم چه ورته حکم وی ؑ
یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْیَوْمَ ؕ اِنَّمَا
اے کافرانو انکار کوونکو ! له بهانے مه بیانوی نن ورځ ، هم هغه
ع ۱ / ۱۹ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑦ ع
بدله به بیا مومئ کوم چه تا سو کول .

موضح قرآن ف۱ نبی علیه السلام خپلے یوے بی بی کره تلل بند کړی وو، یا ئے د یوے بی بی کره شهد خوړل بند کړی وو د نورو

بیبیانو د زړه خیال ساتلو دپاره. دے باندې الله تعالی دا آیتونه نازل کړل او د قسم ماتولو دپاره کفاره ورکړل دی. اوس چه څوک او وائی چه څما مال دِ په ما حرام وی نو دا قسم اوشو، کفاره دِ ورکړی او هغه کار دِ اوکړی. روټئ ورکول وی یا کپړے ورکول یا وینزه آزادول.

ف ۲ هغه وائی د دغه موم موقوف کولو خبره ئے حضرت حفصے رض ته وکړه او دا ئے ته ئے منعه کړه چه هغے ته خبر ورکړی او بله څه خبره ئے ورته هم اوکړه. بیا هغے حضرت عائشے رض ته خبرورکړه چه په دواړو خبرو کښ د دواړو مطلب وُو. بیا د وحی په ذریعه معلومه شوه او نبی علیه السلام حضرت حفصے رض ته الزام ورکړو د حرم (د زوجه مطهره) د خبرے او دویمه خبره ئے ذکر نکړه. دویمه خبره څه وه؟ شاید چه هغه داوه چه ستا پلار به د هغے د پلار نه پس خلیفه وی. الغیب عند الله، کومه خبره چه الله تعالی او د هغه رسول ع روستو کړی موتړ ته د هغے څه علم نه دے. د دے وجے نه ئے روستو کړه چه شهرت او نکړی او خلق ئے بد اونه ګنړی.

ف ۳ کاږه شویدی ستاسو زړونه یعنی توبه ضروری ده. **ف ۴** هر مسلمان باندې لازمه ده چه خپل د کورخلق په دین باندې روان کړی طمع ورکولو سره او ویرولو سره، مینے او محبت سره او وهلو سره. کچرے بیا هم هغوی سمے لارے ته رانشی نو دا د هغوی بد بختی ده او دے بے ګناه او بے قصوره دے.

فتح الرحمٰن

ف ۱ مترجم وائی چه نبی علیه السلام ماریه قبطیه خپله بی بی اوګرځوله نورو ازواج مطهراتو په دے غیرت اوکړو، نبی علیه السلام د هغوی د زړونو خیال ساتلو په بناباندې هغه په ځان حرامه کړه او خپله یوه د راز خبره ئے څخنے بیبیانو ته اوکړه او د هغے په پټ ساتلو باندې ئے تاکید اوکړو او هغے بی بی دغه خبره نورو ته هم ښکاره کړه نبی علیه السلام ته د وحی په ذریعه باندې د هغے خبرورکړے شو او په یو قسم اشارے سره ئے هغه خبره خپل مینځ کښ کیښودله او عتاب ئے اوفرمائیلو. الله تعالی ازواج مطهراتو ته د نصیحت او ویرے ورکولو په باره کښ دا آیتونه نازل کړل. والله تعالی اعلم. **ف ۲** یعنی د کفارے اداکولو سره. **ف ۳** یعنی حضرت حفصه او حضرت عائشه رضی الله عنهما.

تفسیر

۱ یٰاَیُّهَا النَّبِیُّ: ذکر دا دابو په طور د تمهید. نبی علیه السلام ته د حلال څیزونو نه قسم کولو او اجتناب نه ممانعت. او ازواج مطهرات ته ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرضئ نه خلاف کار دنو ته د ځان ساتلو تعلیم ورکړو. د یوے واقعے طرفته اشاره ده. د نبی علیه السلام

شهد ډیر زیات خوښ ؤ او اُمُّ المؤمنین حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها
سره به یې روزانه شهد خوړل. حضرت عائشه او حضرت حفصه رض دغیرت
ورتللو په وجه سوچ اوکړو چه زینب ته دا شرف ولې حاصل دے؟ په
څه طریقه نبی علیه السلام لره دا شاتو ته مُتنفر کول پکار دی. نو دواړو فیصله اوکړه
چه نبی علیه السلام د هرے یوے کره لاړشي نو هغه به ورته اووائي چه حضرت!
نن ستاسو نه د مغافیرو بوئی راځي. ایا تاسو مغافیر څکلي دي. نو هر کله چه
نبی علیه السلام حضرت حفصه رضی الله عنها کره تشریف یوړلو نو هغې ورته هم هغه خبره وکړه
کومه چه فیصله شوے وه. نبی علیه السلام وفرمائیل! نه! ما خو زینب کره شهد
خوړلی دی. عرض اوکړے شو ممکن ده چه مچو د عرفط رس خوړلے وی.
مغافیر یو قسم جاؤله وه بدبویه چه د عرفط نومے وُنے نه به راوتله.
نبی علیه السلام به بدبویه څیز ډیر بد ګڼړلو. په دے وجه نبی علیه السلام قسم وُخوړو
چه الله دپاره به شهد نه څکم. حضرت حفصه رض نبی علیه السلام ته دا هم ووئیل
چه دا خبره هیچا ته مه ښکاره کوه. دے سره دا ایتونه نازل شو. (روح
خازن، قرطبی، مظهری، ابن کثیر)
وے فرمائیل: اے پیغمبره! کوم څیز چه الله پاک ستا دپاره حلال
کړے دے هغه ولے حراموې؟ ایا د خپلو بیبیانو د رضا لټولو دپاره دا سے
کوې! نو دا څیز ستاسو د شان سره مناسب نه دے. د نبی علیه السلام د قسم
خوړلو مقصد صرف دا ؤ چه هغوی د یو حلال څیز نه د ځان ساتلو پخه
او قسم سره مؤکده فیصله کړے وه. دا مقصد نه ؤ چه حلال یې حرام اوګرځول
او هغه یې پریخودی ؤ. دا څیز اګرچه په حقیقت او واقع کښ مباح ؤ لیکن
خلافِ اولیٰ ؤ، د دے وجے نه د نبی علیه السلام د اوچت شان نه خلاف ؤ چه د
ازواج مطهرات د رضا لټولو دپاره هغوی مرغوب (خوښ) څیز ونه پریږدی.
د نبی علیه السلام د لوئے شان او لوئے مرتبے پیش نظر خلافِ اولیٰ په منزله د
ګناه اوګرځولی شو. وے فرمائیل: وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ: یعني توبه کوونکو
بانديِ الله تعالیٰ دا سے مهربانه دے چه د هغوی ګناه معاف کوی:

فیه تعظیم شأنه صلی الله تعالیٰ علیه وسلم بان ترك الاولی
بالنسبة الی مقامه العالی الکریم یعد کالذنب وان لم یکن
فی نفسه کذلك. (روح ج ۲۸ ص ۱۴۷).

سله قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ: الله تعالیٰ دا سے قسمونو ماتولو اجازت ورکړے دے
کوم چه په ترکِ حلال بانديِ خوړلے شوے وی او الله تعالیٰ ستاسو امداد کوونکے
دے چه په دا سے مشکل صورتونو کښ د اسانئ لاره ښائی او دا سے
تحریما تو کفاره یمین ادا کولو سره د پورته کولو اجازت ورکوی:

ولیکم و ناصرکم بازالة الحظر فیما تحرمونه علی انفسکم وبالترخیص لکم فی تحلیل ایمانکم بالکفارة وبالثواب علی ما تخرجونه فی الکفارة۔ (قرطبی ج ۱۸ ص ۱۸۶)

۳۔ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِیُّ: نبی علیه السلام کومه پټه خبره فرمائیلې وه؟ او بیبیانو ئې چاته فرمائیلې وه؟ دې کښې د مفسرینو اختلاف دے. زیات صحیح دا معلومیږی چه د دې نه مراد د شاتو حراموَل دی چه د هغې ذکر ئې حضرت حفصه رضی الله عنها ته کړے وَو او دا ئې ورته هم فرمائیلی وُو چه د دے ذکر هیچاته مکوه لکه چه علامه آلوسیؒ د بخاری، ابن سعد، عبد بن حمید، ابن المنذر او ابن مردویه رحمهم الله په حوالے سره نقل کړیدی:

فقال بل شربت عسلا عند زینب بنت جحش ولن اعود، وفی روایة: وقد حلفت فلا تخبری بذلك احد الخ۔ (روح ج ۲۸ ص ۱۴۲، ۱۵۰)۔

لیکن د حضرت حفصه رضی الله عنها نه دا بے اُونه شوه او د دے ذکر ئې حضرت عائشه رضی الله عنها ته اوکړو. دلته الله تعالیٰ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د دے پټ راز ښکاره کولو خبر ورکړو نو هغوی حضرت حفصه رض ته خبر ورکړو چه تاسو فلانی خبره ښکاره کړے ده لیکن ځنې حصه ئې ښکاره نکړه او د هغې نه ئې اعراض اوکړو د پاره د دے چه هغه زیاته شرمنده نشی. حضرت حفصه رض عرض اوکړو چه تاسو ته چا خبر درکړے دے چه ما راز ښکاره کړے دے؟ نو نبی علیه السلام وفرمائیل چه ما ته علیم او خبیر (ذات) خبر راکړے دے۔

۵۔ اِنْ تَتُوْبَا: د شرط جزاء محذوف ده او فَقَدْ صَغَتْ د ما قبل د پاره علت دے قائم مقام د جزاء. جزاء محذوف یا خو "کان خیرا لکما" ده (قرطبی)، یا تقبلا (جلالین) یا یمح اثمکما، یا فقد ادیتما ما یجب علیکما او اتیتما بما یحق لکما (روح) یا فذلك یلیق بکما (حضرت شیخ قدس سره) فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُکُمَا، ځکه چه ستاسو زړونه د حق نه کاږه شویدی یعنی تاسو هغه څیز خوښ کړے دے کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خوښولو۔ مراد ترے د شاتو نه اجتناب کول دی. یا د صَغَتْ قُلُوْبُکُمَا معنیٰ ده: ستاسو زړونه د توبے یا د حق طرف ته مائله شویدی. حضرت حفصه او عائشه رضی الله عنهما ته چه د خپلې غلطئ او کوتاهئ احساس اوشو او د هغوی په زړونو کښې د توبے ویستلو او ائنده کښې د واجب حق د ادا کولو جذبه پیدا شوه۔ وقیل فقد مالت قلوبکما الی التوبة۔ (قرطبی ج ۱۸ ص ۱۸۸)۔

۶۔ وَاِنْ تَظٰهَرَا: خو که چرے تاسو د نبی علیه السلام د مرضئ نه خلاف مشورے کوئ او د دے کار کښې خپل مینځ کښې یو بل سره تعاون کوئ نو نبی علیه السلام

ته به هيڅ نه رسيږي ځکه چه الله تعالیٰ د هغه حمايت کوونکے او امداد کوونکے دے - جبرئيل امين او غوره بهترين مؤمنان او ټول فرشتے د نبي کريم صلی الله عليه وسلم امداديان او حاميان دي - د صالح مؤمنين نه جنس مراد دے او ځينو وئيلي دي چه خيار المؤمنين مراد دي چه په هغې کښ خلفاء راشدين په طريق اولیٰ داخل دي:

والمراد بالصالح الجنس ولذلك عم بالاضافة (بيضاوى ج ٢ ص ٤٨٣)

وانا اقول العموم اولیٰ، وهما (ابوبكرؓ وعمرؓ) وكذا علي كرم الله تعالیٰ وجهه يدخلون دخولا اوليا۔ (روح ج ٢٨ ص ١٥٤)۔

٥ عَسٰى رَبُّهٗٓ: دا ازواج مطهرات ته تنبيه ده چه د پيغمبر عليه السلام د کور اباد ي او ښا ئست خو په تاسو پورې منحصر نه دے چه که تاسو نه يئ نو د هغوی کور به وران او غير اباد شي - بلکه که نبي عليه السلام تاسو ټولو ته طلاق درکړي او د خپل حرم نه تاسو بهر کړي نو الله تعالیٰ به ورته ستاسو په ځائے ستاسو نه بهترے بيبيانے ورکړي چه په ايمان او عمل صالح، تقوی او جسماني او روحاني صفتونو سره به متصف او ښائسته وي - قٰنِتٰتٍ: په عبادت کښ به هميشه مشغولے وي؛ تٰٓئِبٰتٍ: د ګناهونو نه به منعه کوونکے وي - عٰبِدٰتٍ: عبادت کوونکے به وي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د احکامو په وړاندې به سر خکته کوونکے وي - سٰٓئِحٰتٍ: روژه نيوونکے - (روح، قرطبي)۔

٨ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ: دا خطاب دے مؤمنانو ته - وفرمائيل اے د ايمان خاوندانو! خپل ځان او خپل اهل وعيال د هغه کارونو نه بچ کړئ کوم چه د دوزخ د عذاب موجب ګرځي - د دوزخ اور ډير زيات سخت دے او د هغې د تيزوالي د پاره به د خشاک په توګه کاڼي سوزولي شي - يا د اَلْحِجَارَةُ نه د کاڼو هغه بتان مراد دي چه مشرکانو د خپلو معبودانو په نومونو باندې جوړ کړي وو لکه چه د النَّاسُ نه مشرکان خلق مراد دي - غِلَاظٌ: تند خويه، شِدَادٌ: سخت نيوونکي، په جهنم چه کوم فرشتے مقررے دي هغه ډيرے سخت خويه او سخت نيوونکے دي - هغوی به د دوزخي په خوشامند (چاپلوسي) او منت زارئ باندې هيڅ توجه نه ورکوی او نه به هغوی ته د دوزخيانو په چغو سورو او ژړا فرياد باندې څه رحم راځي - هغوی به صرف د الله پاک حکم منوونکے وي چه څه حکم ورته کيږي هغه به په ځائے راوړي او د هغې نه به د ډيوويخته د سر په اندازه هم مخ نه اړوي -

٩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا: تخويف اخروي دے - د قيامت په ورځ به کافران او مشرکان د دوزخ د عذاب نه د بچ کيدو د پاره حيلے بهانے کوي نو

جواب به ورته ملاؤشي چه نن څۀ عذر مۀ پیش کوئ نن به هیڅ عذر معذرت
نۀ قبلیږي. نن به تاسو ته صرف د هغه عملونو سزا درکولے شي کوم چه تاسو
کړل او په هیڅ صورت کښې به تاسو د دے سزا نه خلاصے نه کیږئ ۸

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا

اے ایماندارو! اوګرځئ توبه کړئ د الله طرف ته د صفا زړۀ توبه

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَ

امید دے چه ستاسو رب لرے کړي ستاسو نه بدئ ستاسو او

يُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

داخل مو کړي باغونو ته چه د هغې نه لاندے نهرونه بهیږي،

يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا

په کومه ورځ چه به الله ذلیله نکړي نبي او هغه خلق خولے چه یقین لري

مَعَهُ ۖ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ

د هغۀ سره، د هغوی رڼا به تیزئ سره ځي د هغوی په وړاندې او د هغوی ښي طرف ته

يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۖ

وائي به اے ربه زمونږه! پوره کړه مونږ لره زمونږه رڼا او معاف کړه مونږه

إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٨﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ

بیشکه ته هر څۀ کولے شے وا. اے نبي ! ﷺ

جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَ

جنګ وکړه کافرانو او منافقانو سره او سختي وکړه هغوی باندې، او

مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٩﴾ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا

د هغوی کور دوزخ دے، او بد ځائے ته ورسیدل ول. الله ﷻ بیان کړو یو مثال

جلد ۷

لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ۭ كَانَتَا

دَ کافرانو دپاره لا دَ ښځې دَ نوح ۳ او دَ ښځې دَ لوط ۴ دواړه وې په

تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صٰلِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا

کورکښې دَ دوه نیکانو بندګانو زموږ دَ نیکانو بندګانو نه پس غلا ئې وکړه دَ هغوی نه

فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا

نو بې کار نه شول هغه دواړه ددې دواړو نه دَ الله دَ عذاب نه دَ هیڅ شي او حکم وړ ترو شو چې لا ړې شئ

النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ⑩ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ

دوزخ ته دَ تلونکو سره ګډ. او الله بیان کړو ګلوبو مثال دَ ایمان والو

اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ

دپاره دَ فرعون دَ ښځې، کله چې ئې اُووئیل اے ربه زما! جوړ کړه ما دپاره

عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ

خپل خواکښې یو کور په جنت کښې او خلاصې راکړه ما ته دَ فرعون نه

وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ⑪ۙ وَمَرْيَمَ

او دده دَ عمل نه او خلاصې راکړه دَ ظالمانو خلقو نه ۶. او مریم ۵

ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا

لور دَ عمران چې هغې ساتلې وو ځائے دَ خپل شهوت پس مونږ اُوپو کړل

فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا

په (ګریوان) دَ هغې کښې دَ خپل طرفه روح او رښتیا ئې وګڼلې دَ خپل رب خبرې

ع ۲ ۵ ۲۰ وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ⑫ ع

او دَ هغه کتابونه او هغه وه دَ عبادت کوونکو نه -

موضح قرآن ف۱ دَ صفا زړه توبه دا ده چې په زړه کښې ئې بیا خیال پاتې نشي دَ هغه ګناه، دَ ایمان زړه په

زړه کښې ده چه د زړه نه یې هر شی نو په ټول بدن کښې، بیا په غوښه خرمن کښې خوره شی. **ف۲** د نبی علیه السلام خویونه تر دومره اندازې پورې اعلی وُو چه الله تعالی نوروته د صبر کولو حکم فرمائی او هغوی باندې د سختئ کولو حکم کوی. **ف۳** یعنی خپل ایمان صحیح کړئ، نو خاوند ښځه بچ کولې شی او نه ښځه خاوند لره. دا حکم ئې ټولو ته واورولو. دا گنړل نه دی پکار چه دا ئې صرف د نبی علیه السلام بیبیانو ته واورولو. د هغوی متعلق خو ئې دا سې فرمائیلی دی څنګه چه په سورة نور کښې فرمائی: اَلطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ. غلائی وکړه یعنی منافقانې پاتې شوې. **ف۴** حضرت موسی ع لره هغې او پاللو او د هغه امداد کولو ایمانداره وه. وائی چه آخر فرعون هغې لره په قسما قسم تکلیفونو سره او وژله او شهیده ئې کړه.

فتح الرحمن
ف۱ یعنی روح د حضرت عیسی ع په رحم د مریم ع کښې راغی او فرج کنایه ده د رحم نه.

تفسیر
۱۰ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: بشارت اخروی دې مؤمنانو صادقانو د پاره. نصوح بخالص یعنی رښتونې توبه چه هغې کښې په گناهونو باندې پښیمانتیا وی او آئنده د پاره د گناهونو نه د بچ کیدلو کلکه او پخه اراده وی. تفسیر ابن عباس د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کړې دے، او د حضرت عمر رض، ابن مسعود رض، ابی بن کعب رض، حسن رح او مجاهد رح نه هم دارنګې نقل دی.

قال معاذ بن جبل، یا رسول الله! ما التوبة النصوح؟ قال: ان یندم العبد علی الذنب الذی اصاب فیعتذر الی الله تعالی ثم لا یعود الیه کما لا یعود اللبن الی الضرع وروی تفسیرها بما ذکر عن عمر وابن مسعود وابی والحسن ومجاهد وغیرهم.

(روح ج ۲۸ ص ۱۵۷).

د داسې رښتنې توبې نتیجه به دا وی چه الله تعالی به درله گناهونه معاف کړی او داسې باغونو ته به مو داخل کړی چه په کښې به د مختلف قسمه شرابو نهرونه بهیږی. دا به هغه ورځ وی کومه ورځ چه به کافران او مشرکان په میدان حشر کښې ذلیله او رسوا وی، او الله تعالی به نبی کریم صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو لره د ذلت او رسوائی نه بچ اوساتی.

۱۱ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى: د قیامت په ورځ به د مؤمنانو خلور واړو طرفونو ته رڼا وی او هغوی به په پل صراط اوکذا او ټولو باندې په خیر او عافیت سره تیر شی او د الله تعالی نه به دعا هم غواړی چه اے زمونږه پروردگاره! زمونږ گناهونه معاف کړه او مونږ ته زیاتی رڼا راکړه څکه چه ته په هر څیز باندې قادر یې. سورة حدید کښې ارشاد دے: يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ الآية. نُور به هغوی ته د الله تعالیٰ په لار کښې د مال خرچ کولو په وجه حاصل وی. دلته ئے د هغے اعاده اوکړه. نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ. د غه شان د ے ایت کښ ضمنا د انفاق فی سبیل الله مضمون راغے.

۱۲ يَاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ: دَجها د دَمضمون ذکر د ے چه دَ سُورة حدید دویم مضمون د ے. دَ کافرانو او منافقانو دواړو ډلو سره ئے دَجهاد کولو حکم ورکړه لیکن دَ دواړو سره دَجها د کولو کیفیت مختلف د ے. دَ کافرانو سره په تُوره او نیزه جهاد کوه او منافقانو سره په دلیل او برهان. (بیضاوی، مظهری، روح). جهاد او دلیل قائمولو کښ چرته چه دَ سختئ ضرورت وی هلته سختی هم کوه. دَ هغوی ځائے جهنم د ے چه ډیر بد ځائے د ے.

۱۳ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا: دا کافرانو دپاره تمثیل د ے چه حاصل ئے دا د ے چه حضرت نوح او لوط علیهما السلام دواړه ډیر دَ لوئے مرتبے پیغمبران وُو او دَ هغوی بیبیانے کافرانے او مشرکانے وے او دَ خپلو خاوندانو نه پټه په پرده کښ به ئے دَ کافرانو ملګرتیا کوله. نو دَ پیغمبرانو پیغمبری او دَ هغوی نیکو اعمالو دَ هغوی کافرو بیبیانو ته هیڅ فائده ورنکړه او اخر کار هغوی ته دوزخیانو سره دوزخ ته دَ داخلیدلو حکم ورکړے شو. دَ خیانت نه مراد په مخالفت کښ دَ کافرانو ملګرتیا او دَ خپلو خاوندانو دَ رازونو ښکاره کول دی. دَ خیانت نه بدکاری مُراد نهٔ ده ځکه چه دَ انبیاء علیهم السلام بیبیانے د دے فعل نه محفوظ ساتلے شوید ی.

وليس المراد بقوله (فخانتهما) فى فاحشة بل فى الدين فان نساء الانبياء معصومات عن الوقوع فى الفاحشة لحرمة الانبياء.

(ابن کثیر، ج ۴ ص ۳۹۳)


۱۴ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا: دا مؤمنانو دپاره تمثیل د ے. څنګه چه دَ خاوند نیکی ښځے ته فائده رسولے نهٔ ده دغه شان دَ کافر خاوند کُفر مؤمنے بی بی ته نقصان ورکولے نهٔ د ے. دَ فرعون کُفر سره دَ هغهٔ مؤمنے بی بی حضرت اسیے رض ته هیڅ نقصان اونهٔ رسید ه. اسیه بنت مزاحم دَ الله تعالیٰ نه دُعا اوغوښتله: اے ځما پروردګاره! خپل ځان سره ما دپاره جنت کښ کور جوړ کړه او دَ فرعون دَ خبیث نفس او دَ هغهٔ دَ عمل نه ما ته خلاصے راکړه او دَ دے ظالمانو نه م بچ اوساته. دَ فرعون عمل نه مراد دَ هغهٔ ظلم او زیاتے د ے کوم چه هغهٔ خپله بی بی باندِ دَ ایمان په وجه کولو. دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت شوید ے چه دَ دے نه صُحبت او جماع مُراد ده. (قرطبی)

۱۵ف وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ: مؤمنانو دپاره دویم تمثیل دے. حضرت مریم صدیقه حال داؤری چه هغې ته د پاکبازۍ، صلاح، تقوی او عبادت په وجه داسے اوچته مرتبه ورکړے شوه لیکن د هغې د طاعنینو طعن هغې ته هیڅ ضرر اونه رسولو. هغه پاکدامنه وه او د الله تعالی په تولو کتابونو او صحیفو باندې ئے ایمان لرلو او د الله تعالی په نزد ډیره حکم منونکے او عبادت کونکے وه مونږ خالص په خپل قدرت سره په هغې کښ روح اوپو کلو چه دے سره هغه اُمیندواره شوه او دغه شان مونږ بغیر د خاوند نه هغې ته خوئے ورکړو.

سورهٔ تحریم کښ د توحید ایتونه
او
د هغې خصوصیات

① يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ الخ د حلالولو او حرامولو اختیار بل چا سره نشته.

② د توحید مسئله دپاره د انفاق او جهاد فی سبیل الله.



بقلم الخطاط ابوطلحه گلزار احمد.

۱۱ر رمضان المبارک ۱۴۲۸ھ موافق

۲۴ر ستمبر ۲۰۰۷ء

سُوْرَةُ الْمُلْكِ


ربط : سورة الحديد نه سورة تحريم پورې د مسئله توحيد
په خاطر د انفاق او جهاد ذکر اوکړے شو اوس د سورة ملک نه واخله د سورة الجن پورے به د دے
مسئلے دیوبل اړخ بیان دی چه برکات ورکونکے صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے. په سورة ملک
کښ به عقلي دلائل ذکر کولے شي هغے نه وروستو به "سورة القلم" کښ ارشاد کیږي چه مشرکان
نرم کیږي دے دپاره تا سوهم د مسئلے په بیان کښ نرمي اختیار کړې لیکن اوس د مسئلے په بیان
کښ هرګز نرمي مه کوئ ته د مداهنت (سستي) نه کار مه اخله ودوا لو تدهن فيدهنون. بیا په
سورة الحاقة "کښ به د دے مسئلے نه منلو باندے تخويف أخروي دے" سورة المعارج "کښ به
د مشرکانو زجروي چه هغوئ د منلو په ځائے د هغه عذاب د نزراتلو مطالبه کوي دے نه وروستو
به په سورة نوح عليه السلام سره دليل نقلي ذکر کولے شي او بيا په "سورة الجن" کښ به جنات سره دليل
نقلي ذکر کولے شي ، د هغه شان د سورة ملك نه واخله تر سورة الجن پورے لکه چه يو سورت دے
چه په دے کښ مسئله يو ولس دلائل نقليه سره ثابت کړے شوے ده.

خلاصه درے عقلي دلائل عقليه عامه او آته د لائل عقليه خاصه ، تخويف ، او تبشير او بيان
د تبليغ د طريقو.

تفصيل تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ . د سورة دعوى چه برکات ورکونکے صرف الله تعالى
دے او اولنے دليل عقلي عام يعنې د ټولو کائناتو بادشاهي او حکومت د هغه په لاس کښ دے. وَهُوَ
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ دويم عقلي دليل عام هغه په هر څيز قادر دے. اَلَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ
سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا — تا — وَهُوَ حَسِيْرٌ اولنے دليل عقلي خاص ، اسمانونه لاندے باندے پيدا کولو
والا او د هر عيب خيرے والے نه محفوظ کرځولو والا صرف هغه دے نو ايا برکات ورکونکے به
نور څوک وي؟ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا الاية دويم دليل عقلي خاص اسمانونه هغوما پيدا کړل
نو د دنيا ايا اسمان په ستنو وسره بل چا ښائسته کړے دے ؟ داسے نه ده ! موږ هغه ښائسته کړے
دے نو آيا برکات ورکونکے به بل څوک وي؟ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ — تا — فَسُحْقًا لِّاَصْحٰبِ
السَّعِيْرِ ؛ تخويف أخروي دے. کافرانو او مشرکانو دپاره د جهنم عذاب دے کله چه هغوئ په
جهنم کښ د راوغورځولے شي نو هغوئ به د قهر او غضب نه ډک شي د هغه وخت به هغوئ د افسوس
لاسونه مروړي او وائي به هائے افسوس ! که چرے موږ په دنيا کښ د هدايت خبره اوريدلے
وے يا پخپله موږ خان پوهه کړے وے په هغے باندے موږ عمل کولے نو نن به جهنم ته نه تللے ،
اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ . الاية . د امومنانو ته د اخرت زيرے دے . وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ
اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ . الآيتين . دا ذکر شوو دلائلو ثمره ده چونکه هغه د هر څيز خالق دے د دے
وجے نه د هر څيز پيژندونکے دے او هيڅ څيز د هغه نه پټ نه دے . هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ
الْاَرْضَ الاية . څلورم دليل عقلي خاص پورتنے ذکر شوے حال تاسو واوريدو اوس ښکته

اوګورئ. زمکه خو مونږ پیدا کړه نو هغه تابعدار او چپا او ګرځوله نو آیا برکات ورکوونکے به بل څوک وی؟ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَاءِ ـــ تا ـــ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ دا تخویف دنیوی دے آیا تاسو د الله نه بے خوف او په امن کښې شوئ چه هغه تاسو په زمکه کښې ننباسی یا د آسمان نه په تاسو باندې کانړی را اووروی تاسو هلاک کړی څنګه چه هغه ستاسو نه مخکښې دروغ ګڼړونکی قومونه په مختلف قِسمه عذابونو سره هلاک کړل اَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ. الآية. پنځم عقلی دلیل خاص:۔ یا مخے اوزلا ندې ځان تاسو واوریدو او س مینځنے حال واورئ. دا مارغان خو مونږ پیدا کړل، لیکن په فضا کښې د هغوئ ساتونکے بل څوک دے هرګز دا سے نه ده. دا د خدائ رحمٰن کار دے نو آیا برکات ورکوونکے به بل څوک وی؟ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِي هُوَ جُندٌ لَّكُمْ ـ تا ـ بَل لَّجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ تخویف دُنیوی به په طور د ثمره. حاصل دا دے چه څوک تاسو خپل برکات ورکوونکی ګڼړلی دی هغه د خدائے د عذاب نه تاسو نشی بچ کولے او که چرے الله تعالیٰ ستاسو رزق بند کړی نو هغوی تاسو ته رزق نشی ورکولے. قُلْ هُوَ الَّذِي أَنشَأَكُمْ الآية د زمکے او آسمان نه روستو اوس خپل ځان طرف ته اوګورئ الله تعالیٰ تاسو پیدا کړئ لیکن تاسو ته د اوریدلو لیدلو او پوهیدلو قوتونه بل چا درکړی دی؟ دا سے نه ده. دا قول د الله تعالیٰ ورکړه ده نو آیا برکات ورکوونکے بل څوک دے؟ قُلْ هُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ. الآية اووم عقلی دلیل خاص: هغه په زمکه کښې تاسو خوارهٔ کړی دی او د قیامت په ورځ به هغه سره جمع کولے شی وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هٰذَا الْوَعْدُ. الآية. مشکوی. مشرکان وائی چه د کوم عذاب نه تاسو مونږ یرَوئ هغه به کله راځی؟ قُلْ إِنَّمَا الْعِلْمُ عِندَ اللهِ. الآية. جواب مشکوی. ورته اووایئ چه د هغے معین وخت خو الله ته معلوم دے څهٔ خو صرف ویرونکے یم. فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً الآية. کله چه د الله تعالیٰ عذاب اووینی نو د هغوی مخونه خراب شی قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ اللهُ. الآية. د تبلیغ اول طریقه دا خورا ته اووائه چه که چرے الله مونږ هلاک کړی یا په مونږ باندې رحم اوکړی نو کافران به د الله د عذاب نه څوک بچ اوساتی قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهِ. الآية. دویمه طریقه د تبلیغ، زمونږ معبود خو رحمٰن دے مونږ په هغهٔ باندې ایمان راوړے دے او زمونږ په هغهٔ باندې بهروسه ده اعتماد دے تاسو ته به دیر زر معلومه شی چه ګمراه څوک دے؟ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا الآية.

اتم عقلی دلیل خاص: که چرے الله تعالیٰ اوبهٔ د زمکے انتهائی جوړ والی ته بوځی نو بیا به تاسو ته اوبهٔ تاسو ته څوک درکړی؟



سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة مُلك ده په مکه کښې نازل شوې او دې دېرش آیاتونه او دوه رکوعات دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او رحم کوونکے دے.

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

لوئے برکت لرے دے هغه (ذات) د چا په لاس کښې چه ده حکومت او هغه په ټول

شَيْءٍ قَدِيْرُ ۝١ الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ

هر شۀ کولے شی چا چه پیدا کړے دے مرګ او ژوند

لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيْزُ

دے دپاره چه تاسو وازمائی چه څوک تاسو کښې ښۀ کارکوی او هغه غالب دے

الْغَفُوْرُ ۝٢ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا

بخښونکے دے دا چا چه پیدا کړل ئې اووه آسمانونه لاندے باندے

مَا تَرٰى فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ

آیا ته وینې د رحمٰن په پیدا کولو کښې څۀ فرق

فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ۝٣ ثُمَّ

بیا دوباره نظر اوکړه چرته په نظر راځی تا چاودنه ف۲ بیا

ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ

واپس کړه خپل نظر دوه دوه ځله واپس به راځی تا ته ستا نظر

خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ۝٤ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا

ذلیل ستړے ستومانه. او مونږ ښائسته کړو د ټولو نه نږدے

بِمَصَابِيْحَ وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا

(لاندے) آسمان په ډیرو ستورو سره او مونږ ګرځولی دی ویشتل د شیطانانو دپاره او تیار کړے مونږ دے

لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ۝ وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ
دهغوی دپاره عذاب لمبه دهونکے اور ، اوکوم خلق چه منکرشول دخپل رب نه
عَذَابُ جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۶
هغوی دپاره دے عذاب ددوزخ او بد ځائے دے د ورتلو .

نکات: ۱ د سورة دعوی ۱۲ ۲ اولنئ عقلی دلیل عام ۱۲ ۳ دویم عام دلیل عقلی ۱۲ ۴ دریم عام عقلی دلیل ۵ دلیل عقلی خاص ۶ دویم دلیل عقلی خاص ۷ دریم دلیل عقلی خاص ۱۲ ۸ تخویف أخروی ۱۲ .

موضح قرآن
ف یعنی که مړه کیدل نه وے نو د بنه او بد کار بدله به کوم ځائے ملاو یدلے . ف۲ فرق ځنګه یعنی چه پکار وو هغه شان نه دے ۱۲ .

۲ تَبَارَكَ الَّذِیْ : دا د سورت دعوی دلاچه برکات ورکوونکے صرف الله تعالی دے او هر نعمت دهغهٔ له طرف نه دے - تائید : وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ (النحل ۵۳) وَاِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوهَا (سورة النحل آیت ۱۸)
شاه ولی الله رحمة الله علیه دهلوی فرمائی چه برکت از اوست هر برکت او خیر دهغهٔ له طرفه دے ، هُوَ الَّذِیْ جَاءَ بِكُلِّ بَرَكَةٍ وَخَيْرٍ . هم دا د برکت دعوی . د سورة فرقان په شروع کښ ذکر شویده ، تَبَارَكَ الَّذِیْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ - الأية سورة رحمٰن کښ ئے اوفرمائیل تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِی الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ . یعنی برکت والا الله تعالی دے او دهغهٔ په نوم کښ برکت دے .
۳ بِيَدِهِ الْمُلْكُ دا د سورت په دعوی باندې اولنئ عقلی دلیل عام دے چه د ټول کائنات بادشاهی او په دے کښ تصرف او اختیار صرف د الله تعالی دے ، وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ . دویم دلیل عقلی عام : او دهغهٔ قدرت په هر څیز حاوی دے ، دوے وجے نه هر نعمت او برکت دهغهٔ له طرفه دے . بیده الملک ای هو المتصرف فی جمیع المخلوقات بما یشاء ، لامعقب لحکمه ولایسئل عما یفعل لقهره وحکمته وعدله (ابن کثیر ج ۴ ص ۳۹۶) . هرکله چه د ټول کائنات مالک صرف هغه دے او په هر څیز باندے قادر هم دے نو آیا برکت ورکوونکے به بل څوک وی ؟
۴ اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ ، دا دریم عقلی دلیل عام دے . دا د مرګ او د ژوند سلسله هغه پیدا کړه دے د پاره چه امتحان اوکړی چه څوک نیک عمل کوی او څوک ئے نه کوی او بیا به حساب کتاب هغه اخلی . بیا هغه داسے غالب دے چه نا منونکو ته به سزا ورکړی ، او داسے مهربان دے چه د منونکو نه که چرے غلطئ شوے وی نو د هغهٔ نه خپل اِنعامات نه اخلی بلکه اِستغفار سره هغوی ته معاف کوی نو آیا برکت ورکوونکے به بل څوک وی .

۵ اَلَّذِیْ خَلَقَ دا اولنے دلیل عقلی خاص دے. طِبَاقًا. لاندے باندے یو بل
دپاسه. دا قید مدار کلام دے لکه چه په علم معانی کښ ذکر شوے دے چه مدار کلام په
زیاتی قید باندے وی تفاوت. اختلاف او عدم مناسبت (روح) فُطُوْرٍ. چاؤدے خیرے
والے خَاسِئًا. ناکام، حَسِیْرٌ. ستړے شوے ستومانه. حاصل دا چه یو څه آسمانونو ته
اوګوره مونږ هغه لاندے باندے پیدا کړی دی چه د صنعت په صفتونو کښ برابر دی دغه
طرف ته بیا بیا خوږ سره اوګوره آیا څه چاودے په نظر راځی؟ څو مره ځل چه هم اوګورے
ستا سو ستر ګو نظرونه به ستړے شی او واپس به شی لیکن زمونږ په صنعت (پیدائش)
کښ به هیڅ عیب په نظر نه راځی. دے نه معلومه شوه چه برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ
دے چا چه ټول هر څه زمونږ د پاره پیدا کړی دی.
۶ وَلَقَدْ زَیَّنَّا السَّمَآءَ. دویم دلیل عقلی خاص. د اول دلیل نه په طور د ترقی سره
او و مایل چه آسمانونه خو ما پیدا کړل لیکن آیا اول آسمان په ستورو ډیر ښائسته کړے
دے؟ نه نه. دا هم مونږ کړیدی. دغه شان وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّیٰطِیْنِ. دریم دلیل عقلی خاص
ستوری د شیطانانو د پاره د ویشتونکی او د هغے تیزاور دهغوی د پاره مونږ عذاب کړ څولے
دے. آیا دا کار د بل چا دے. هرګز دا سے نه ده. دغه شان برکات ورکوونکے هم بل څوک نه دے
د عذاب سَعِیْرِ نه عذاب د جهنم مراد نه دے بلکه د شهاب ثاقب (روښانه ستوری)
عذاب مراد دے. دا دریے واړه دلائل د اسمانی حالات سره متعلق دی.
۷ وَلِلَّذِیْنَ کَفَرُوْا. تخویف اخروی کوم خلق چه د خپل رب منکر شویدی
یعنی د الله نه سِوا ئے د خپل ځان نه معبودان جوړ کړیدی او برکات ورکوونکی
ئے ګڼړی هغوی د پاره د جهنم عذاب دے چه ډیر بدا نجام دے کله چه دغه کافران
او مشرکان په جهنم کښ غورځولے شی نو هغه به ډیر زیات په جوش کښ راځی او د هغه
هیبتناک غږ به وی هغه به د الله تعالیٰ په دشمنانو باندے دومره زیات په غصه
وی چه نزدے به وی چه د قهر او غصے نه اوچوی کُلَّمَا اُلْقِیَ فِیْهَا فَوْجٌ. کله چه هم د مشرکانو
کومه یوه ډله په جهنم کښ اوغورځولے شی نو د جهنم نګرانان او حافظان به د جهنمیانو نه
تپوس اوکړی آیا تاسو ته ویروونکی نه وو راغلی؟ چه هغوی تاسو د نن ورځ د عذاب نه خبر
کړے وے. قَالُوْا بَلٰی. جواب به ورکړی ولے نه! مونږ ته خو ویروونکی راغلی وو، لیکن مونږ
هغه د روغږن اوګڼړل او صفا صفا مونږ هغوی ته اووئیل چه الله تعالیٰ تاسو ته هیڅ حکم
نه دے درکړے او تاسو د الله تعالیٰ لیږلی شوی نه ئے او ستاسو د نبوت دعویٰ صحیح نه ده.

اِذَآ اُلْقُوْا فِیْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِیْقًا وَّهِیَ تَفُوْرُ ⑦

کله چه به هغے کښ اوغورځولے شی اوری به د هغے لوئے آواز ونه او هغه به خوټیږی

تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ۖ كُلَّمَا أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ

داسې به نږدې وي چه څيرې شي له جوش نه كله چه به واچولی شي په هغې كښې يوه ډله

سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ ﴿٨﴾ قَالُوا

تپوس به اوكړي د هغوی نه د دوزخ نګران (محافظ) آيا نه وو راغلی تاسو ته څوك ويروونكی. دوی به

بَلَىٰ قَدْ جَاءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا

وائي هو ولې نه موږ ته راغلی وو ويروونكی پس موږ هغه دروغ اوګڼل او موږ اوويل

نَزَّلَ اللَّهُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا فِي

نه دې نازل كړې الله تعالیٰ هيڅ شی تاسو څو پرې نۀ يئ مګر په

ضَلَالٍ كَبِيرٍ ﴿٩﴾ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ

لويه ګمراهئ كښې. او وائي به كه چرې چې موږ وې اوريدونكي يا پوهيدونكي

مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١٠﴾ فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ

نو نۀ به وې موږ د دوزخ والو نه. پس اقرار به اوكړي د خپلو ګناهونو

فَسُحْقًا لِأَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١١﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ

پس لرې دې كړې شي دوزخ والا. كوم خلق چې هغوی چه ويريږي

رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١٢﴾

د خپل رب نه په بغير د ليدلو هغوی دپاره معافي ده او ثواب دير.

وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ ۖ إِنَّهُ عَلِيمٌ

او كه تاسو پټه كوئ خپلې خبرې يا ښكاره يې كوئ هغه ښه پوهيږي د

بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١٣﴾ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ

زړونو په رازونو ګانو باندې آيا هغه نۀ پوهيږي چا چه پيدا كړل او دی

اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴿١٤﴾

هغه دې په پټو رازونو پوهيدونكے خبردار.

نکات: لہ تخویف اخروی ۱۲ ہمہ بشارت اخروی ۱۲ سہ دتیرو شوو دلا ئلو ثمره ۱۲۔

تفسیر:

لہ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ۔ اوس به مشرکان پښیمانتیا او افسوس کوی او وائی به کاش! که چرے مونږ دالله تعالیٰ ایاتونه اوریدلے وے او بغیر دسوچ فکر نه مونږ منلے وے یا مونږ سوچ فکر کړے وے او قبول کړے هم وے نو نن به د دوزخیانو سره نه وے. دے نه معلومه شوه چه که چرے دا د هغوئ حق خبره محض اوریدلو سره بغیر د تفتیش اوتلاش نه ذهنه په دیانت او امانت باندے اعتماد کولو سره دغه دعوت قبول کړے شی نو دا هم د نجات ذریعه ده. ای لو کنا نسمع کلام النذیر فنقبله جملة من غیر بحث وتفتیش اعتماداً علی ما لاح من صدقه بالمعجزة الخ (روح ج ۲۹ ص۱۳)۔ فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ دغه شان به مشرکان او کافران دخپل جرم اقرار کوی. او جهنمیانو دپاره به دخدائے تعالیٰ د رحمت نه لرے والے او محروم والے وی.

لہ إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ۔ د مؤمنانو دپاره بشارت اخروی دے کوم خلق چه د الله تعالیٰ د عذاب نه ویریږی حال دا دے چه هغوئ عذاب په سترګو نه دے لیدلے هغوئ دپاره د ګناهونو د معافئ نه علاوه دیر لوئے اجرو ثواب تیار دے. وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ دا د تیرو شوو دلائلو ثمره ده. إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ جمله تعلیلیه ده دا د ما قبل علت دے یعنی الله تعالیٰ ته په پټه په مزه مزه اواز کوئ یا په اوچت اواز سره هغه ته بلے هغه اوری حکه چه هغه د زړه خبرے هم پیژنی. قال الشیخ. یا دا خطاب مشرکانو پورے خاص دے چه دکفر او د شمنئ خبرے کوی او خپل مینځ کښ وائی چه په پټه خبرے کوئ چه د محمد صلی الله علیه وسلم رب اوریدلو سره خبر نه شی او هغه ته خبر ورنه کړی نو الله تعالیٰ دا ایات نازل کړو. قال ابن عباس وسببه ان بعض المشرکین قال لبعض اسروا قولکم لا یسمعکم اله محمد (بحر ج ۸ ص۳۰۰)۔
الا یعلم من خلق۔ ایا چه چا پیدا کړل هغهٔ ته علم نشته او دے سره هغه د ظاهر او باطن پټ او ښکاره نه هم خبر دے؟ استفهام انکاری دے هغه په هر څیز خبر دے. او د هغهٔ نه هیڅ څیز پټ نهٔ دے.

هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا

هغه (الله) تله دے چه وے ګرځوله ستاسو دپاره دے زمکه تابعدار او سفر کرئ د

فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ ۖ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ ﴿١٥﴾

هغے په اوږو (اطرافو) باندے او خورئ ځنے د هغهٔ د ورکړے شوے روزئ نه او د هغه طرف ته ژوندی راپاسیدل دی

ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ

دی. ایا تاسو په امن کښ شوی یئ د هغه ذات نه څوک چه په آسمان کښ دے د دے خبرے نه چه ننباسي تاسو

الْاَرْضَ فَاِذَا هِىَ تَمُوْرُ ﴿١٦﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ

په زمکه کښ بیا به دغه وخت هغه زمکه اوخوځیږی یا تاسو په امن شوی یئ د هغه ذات

فِى السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ؕ

نه څوک چه په آسمان کښ دے د دے خبرے نه چه اووروی په تاسو باندے باران د کا نړو.

فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ

نو پوهه به شی څنګه دی ځما ویرول. او دروغ ګڼړلے وو هغه کافرانو

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿١٨﴾ اَوَلَمْ

(رسولان) کوم چه د دوی نه مخکښ وو بیا څنګه شو ځما انکار (عذاب) - او ایا نه ګوری دوی

يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ؕ

الوتونکو مارغانو ته د دوی د پاسه چه وزرے خپرے پرانستے وی او بیا ئے راغونډوی

مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَىْءٍۢ

هغوی هیڅوک نه ساتی سوا د رحمٰن نه. دے هغه په نظر کښی دے هر څیز

بَصِيْرٌ ﴿١٩﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِىْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ

ایا څوک دے دا هغه (ذات) چه فوج دے ستاسو چه ستاسو

يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ

امداد اوکړی د رحمٰن نه بغیر. کافران پریوتلی دی

اِلَّا فِىْ غُرُوْرٍ ﴿٢٠﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِىْ يَرْزُقُكُمْ

په لویه دهوکه کښ. ایا هغه ذات څوک دے چه رزق درکړی تاسو ته

اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ بَلْ لَّجُّوْا فِىْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿٢١﴾

که چرے بنده کړی هغه خپله روزی. بلکه ټینګ شو یدی په سرکشئ عناد او نفرت کښ.

نکات: سـ۱ دریم دلیل عقلی خاص ؛ سـ۲ تخویف اُخروی ۱۲ سـ۳ پنځم دلیل عقلی خاص ۱۲ سـ۴ تخویف دنیوی.

حاشیه: ۱۵ هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ : دا شلورم دلیل عقلی خاص دے. د پره اسمانونو حال خو تاسو اولیدو و بنه ده نو اوس لاندے طرف ته اوګورئ ولته. ذَلُوْلًا مدارِ کلام دے الله تعالیٰ دا زمکه ستاسو د پاره عاجزه ګرځولے ده. چه دوے په لارو کښې ګرځئ او ددے نه پیدا شوے رزق خورئ او بیا اخر به دهغهٔ طرف ته پاسولے او بوتلے شئ. چا چه زمکه تا بعداره ګرځولے ده هغه برکات ورکوونکے دے بل څوک نه دے. ذَلُوْل یعنی نه داسے سخته او کلکه چه پښے زخمی کړی او نه داسے نرمه چه پښے په هغے کښې ننوځی.
وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ. دا اشاره ده تخویف اُخروی طرف ته.

۱۶ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِی السَّمَآءِ ———— تا ———— فَکَیْفَ کَانَ نَکِیْرِ تخویف دینوی مَنْ فِی السَّمَآءِ نه الله تعالیٰ مُراد دے او د الله تعالیٰ اسمانونو کښې کیدلو نه مُراد د الله تعالیٰ په حٔمرد ے حق شو اوبه هغهٔ ایمان راوړل ضروری دی او کیفیت نه بحث جائز نه دے. الآیة مِنَ الْمُتَشَابِهَات لکونہ تعالیٰ منزلها عن التمکین فی السماء فمذهب السلف السکوت مظهری ج ۱۰ ص ۲۵) وائمة السلف لم یذهبوا الی غیره تعالیٰ والآیة عندهم من المتشابه وقد قال صلی الله تعالیٰ علیه وسلم آمنوا بمتشابهه ولم یقل اولوه فهم مؤمنون بانه عزوجل فی السماء علی المعنی الذی اراده سبحانه مع کمال التنزیه (روح ج ۲۹ ص ۱۵). وے فرمائیل آیا تاسو د الله تعالیٰ نه په اَمن کښې ګرځیدلے ئے. او په دے مطمئن شوی ئے چه هغه به تاسو په زمکه کښې ننه نه کړی یا به د آسمان نه کاڼو ورولو سره تاسو هلاک نه کړی. کله چه دغه عذاب په کوم شکل کښې راشی نو تاسو ته به زما د یرولو حال معلوم شی او تاسو به پوهه شئ چه زه کوم قِسم عذاب راولم..... نَذِیْر مصدر دے په معنیٰ د انذار (روح) ددوی نه مخکښې هم تیرو شوو قومونو کافرانو تکذیب اوکړو نو په هغوئ باندے زما انکار څنګه شو. نَکِیْر په معنیٰ د انکار دے او د متکلّم یا محذوف ده چه په هغے باندے د را کسره (زیر) دال ده مقصد د عذاب د سختئ او بدئ اظهار دے.

۱۷ اَوَلَمْ یَرَوْا. پنځم دلیل عقلی خاص دے. مدارِ کلام صٰٓفّٰتٍ وَّیَقْبِضْنَ. آیا تاسو هغوئ ته نه ګورئ چه په فضاء کښې مارغان صفونه صفونه پرواز کوی الوځی. کله وزرے خورَوی او کله ئے راټولوی. په فضا کښې د هغوئ ساتل هم د الله تعالیٰ د قدرت یوه عجیبه کارنامه ده او بیا څهٔ څیز دهغهٔ د نظر نه پټ نهٔ دے کله چه دا ټول کارونه الله تعالیٰ کوی نو برکات ورکوونکے هم صرف هغه دے بل څوک نهٔ دے.

۱۸ اَمَّنْ هٰذَا. دا تخویف دینوی دے او دا دواړه آیتونه د ما قبل ثمره او فائده ده. دا ته اووائی چه ستاسو دا دَخان نه جوړ کړے شوے معبودان کوم چه تاسو برکات ورکوونکے ګڼړئ آیا دوی د رحمٰن خدائے نه سوا ستاسو امداد کولے شی یا د هغهٔ د عذاب نه تاسو ته پناه ورکولے شی؟ استفهام انکاری دے یعنی هغوی امداد

نه شي کولے، دا مشرکان چه د غه عاجزان مددګاران او برکات ورکوونکي ګنړي او د هغوی خیال د ے چه هغوی د د ے معبودانو په حفظ او امان کښ وي هغوی ډیره لویه دهوکه کښ دي. وَهُوَ استفهام انکاري لا جند لکم ید فع عنکم عذاب الله (قرطبي ج ۸ ص ۲۱۸) ای ما هم في زعمهم انهم محفوظون في النوائب بحفظ الهتهم لا بحفظه تعالیٰ فقط وان الهتهم تحفظهم من بأس الله تعالیٰ الا في غرور عظیم وضلال فاحش الخ (روح ج ۲۹ ص ۱۸).

۲۱ أَمَّنْ هٰذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ. دا رابته او وائی چه الله تعالیٰ تاسو ته روزي در کوي که چرے هغه روزي بنده کړي نو بیا به تاسو ته روزي څوک درکوي؟ یعني دهغه نه سوا څوک رزق ورکوونکے نشته د ے و چه نه دهغه نه سوا برکات ورکوونکے هم څوک نشته.

بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ. دا د مقدر سره متعلق د ے ای لم یتاثروا و بذلک ولم یذعنوا للحق (مدارک) د ے بیان نه نه هغوی متاثر شول او نه ئے حق قبول کړو. بلکه سرکشي او نفرت کښ پوره قوت سره نور هم مخکښ لاړل.

أَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ أَهْدٰٓى أَمَّنْ

ایا هغه څوک چه روان وي ۲۲ سکور په خپل مخ باند ے هغه سمه لاره او موندله

يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۲﴾ قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ

یا هغه څوک چه روان وي نیغ په سمه لاره باند ے ۲۳ ته او وایه الله هغه د ے

أَنْشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْـِٕدَةَ ۚ

چا چه تاسو پیدا کړي ئے او جوړے ئے کړے ستاسو د پاره غوږونه او سترګے او زړونه.

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ قُلْ هُوَ الَّذِيْ ذَرَأَكُمْ فِي

تاسو ډیر لږ حق منئ. ته او وایه (الله) هغه د ے چا چه خواره کړے ئے

الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

په زمکه کښ او د هغه طرف ته به جمع کولے شي. او وائي ۲۴ کله به وي دا

الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قُلْ إِنَّمَا الْعِلْمُ

وعده که چرے تاسو رښتوني يئ. ته او وایه علم خو د الله تعالیٰ

عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَإِنَّمَآ أَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۶﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ

سره د ے. او زما کار خو صرف ډیره او روول دي ښکاره. بیا چه کله او وینی ۲۵

زُلۡفَةً سِيۡٓـَٔتۡ وُجُوۡهُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَقِيۡلَ هٰذَا

چه هغه دوئ ته نزدے راغله ف۲ نو بد شکله به شي مخونه دکافرانو او وائي به داهغه دے

الَّذِيۡ كُنۡتُمۡ بِهٖ تَدَّعُوۡنَ ﴿۲۷﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ

کوم چه تاسو غوښتلو ته اووایه آیا وینئ خبر راکړئ

اَهۡلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنۡ مَّعِيَ اَوۡ رَحِمَنَا ۙ فَمَنۡ يُّجِيۡرُ

که چرے هلاک کړي الله ما لره او هغه سره چه څوک دي یا رحم اوکړي په مونږ. پاندے

الۡكٰفِرِيۡنَ مِنۡ عَذَابٍ اَلِيۡمٍ ﴿۲۸﴾

پس څوک دے چه خلاص به کړي کافران دَ دردناک عذاب نه.

نکات: ۱ ښپږم عقلي دلیل خاص. ۲ شکوی ۱۲.

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائی دا مثال دے دکافرانو او دمومنانو. والله اعلم ۱۲ ف۲ یعنی تورکړے موونه.

حاشیه: ۱ اَفَمَنۡ يَّمۡشِيۡ مُكِبًّا. دا په اولنو دواړو آیتونو پاندے متفرع دے او دے کښې دَ مشرک او دَ موحِّد مثال بیان شوے دے، کله چه داثابته شوه چه دعذاب نه پناه ورکولو والا او رزق ورکولو والا صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے؛ نو کوم سړے چه دے باوجود بیا دَ الله تعالیٰ دَ احکامونه مخ اړوي او دَ شرک لاره اختیار کړي دهغه مثال دهغه سړي په شان دے چه سرښکته کړي او یو طرف ته اَو بل طرف ته کتلو نه بغیر چه هر طرف ته دَهغه مخ شي هغه طرف ته روان شي او دَغه شان دَ سمے لارے نه په سنها لاړ شي او ورک شي دا دَ مشرک مثال دے چه دَ سوچ فکر نه بغیر دَ مشرک پلار نیکه په لار باندې دهغه په مقابله کښې هغه سړے دے چه سوچ فکر سره قدم پودی او نیغ په سمه لار باندې روان وی. دا مثال دَ مؤمن دے. ځنو مفسرینو دا آیت دقیامت دَ احوال سره متعلق ګرځولے دے. بیشکه دا دَ قیامت دَ احوال نه ضرور یو حال دے چه مشرکین به په سرونو باندې روان وي؛ لیکن دا دوے آیات سره متعلق نه دے، دواړو تمثیلونو کښې تقابل دے يَمۡشِيۡ مُكِبًّا یعنی دپلار نیکه باطل دِین باندے په پټو سترګو روان دے، ددے مقابله کښې سَوِيًّا یعنی دَ توحید په لاره باندے حَيَّ عَلٰى وَجۡهِهٖ بغیر دَ سوچ او فکر کولو نه چه هر طرف ته دهغه مخ په هغه طرف روانیږي. عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ یعنی سوچ او فکر سره په سمه لاره روان وي.

۲ قُلۡ هُوَ الَّذِيۡۤ اَنۡشَاَكُمۡ. ښپږم عقلي دلیل خاص، دَ زمکے او آسمان دَ حالاتو نه ورستو اوس خپل ځان طرف ته اوګوره چه الله تعالیٰ تاسو پیدا کړي او تاسو ته ئے

دَ اوریدلو اوْ پوهیدلو قوتونه درکړل لیکن تاسو دغه نعمتونو شکر نهٔ اداکوئ. جَعَلَ لَکُمُ السَّمۡعَ. الخ. مدار دَ کلام دے کله چه دے قوتونو ورکولو والا بل څوک نهٔ دے نو ایا برکات ورکوونکے به بل څوک وی؟ قُلۡ هُوَ الَّذِیۡ ذَرَاَکُمۡ. اوووم دَلیل عقلی خاص تاسو پیدا کړے هم مَالٰے اوْ بیا په زمکه ماخوارهٔ کړئ اوْ آبادم کړئ اوْ بیا به آخر ټول هغه سره جمع کولے هم شی. ایا دا ټول هرڅهٔ بل څوک کړیدی؟ نه! نه! صرف ما کړیدی نو برکات ورکوونکے به بل کوم څوک وی؟.

۲۸ وَیَقُوۡلُوۡنَ دا شکوی ده مشرکانو به دعیب جوئ اوْ عناد په طور سوال کولو چه هغه (قیامت) به کله وی؟ که چرے تاسو ریښتونی یئ نو دَ هغے مقرر تاریخ اوښائی. قُلۡ اِنَّمَا الۡعِلۡمُ عِنۡدَ اللّٰهِ. جواب شکوی دے. تاسو په جواب کښ اووائی دَ هغے دمقرر وخت علم خو صرف الله تعالیٰ ته دے. زهٔ خو دَ هغے خبر ورکوونکے یم. اوْ دَ هغے مطابق به دَ الله تعالیٰ عذاب ضرور رازی.

۲۹ فَلَمَّا رَاَوۡهُ تخویف اُخروی دے کله چه مشرکان دَ الله تعالیٰ عذاب نزدے اووینی نو دَ ویرے گهبرا ویدلو په وجه به دَ هغوی مخونه تور راوْ بدشکله شی اوْ هغوی ته به اوویلے شی دا هغه عذاب دے چه تاسو دَ هغے مطالبه کوله. قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ. تخویف دینوی اوْ دَ تبلیغ اوله طریقه ده دَ شرط جزا محذوف ده. اَیۡ لَیۡسَ لَنَا غَیۡرُهٗ مِنۡ عَذَابِهٖ. حاصل دا دے چه الله تعالیٰ نه سیوا عذاب ورکولو والا اوْ رحم کولو والا هیڅوک نشته. اے مشرکانو! دَا راته اووائئ که چرے مالره اوْ زما ملگری الله تعالیٰ هلاک کړی څنگه چه تاسو تمنا کوئ یا هغه په مونږ مهربانی اوکړی اوْ مونږ دَ عذاب نه بچ اوساتی نو دا راته اووائئ چه تاسو نه به دهغه دَرد ناک عَذاب نه څوک پناه درکوی؟ ځکه چه ستاسو معبودان عاجز اوْ کمزوری دی دے وجه نه ستاسو فائده په دے کښ ده چه دِ پیغمبر علیه السلام تابعداری اوکړئ چه دهغهٔ تابعداری تاسو دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه بچ کولے شی. وَالحاصل انه لا فائدة لکم فی هلاکنا حتی تطلبونه انما یفیدکم ان تتبعوا من یجیرکم من عذاب الله الخ (مظهری ج ۱۰ ص ۲۵).

قُلۡ هُوَ الرَّحۡمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَیۡهِ تَوَکَّلۡنَا ۚ فَسَتَعۡلَمُوۡنَ

تهٔ اووایه الله هغه (الله) رحمٰن دے مونږ هغه اومنلو اوْ په هغهٔ مو توکل اوکړو نو زر دے چه پوهٔ

مَنۡ هُوَ فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۲۹﴾ قُلۡ اَرَءَیۡتُمۡ اِنۡ اَصۡبَحَ

به شئ تاسو څوک چه پریوتلے دے په ښکاره گمراهئ کښ. تهٔ اووایه ښئ ده خبر را کړئ که صبا که اوگرځی

مَآؤُکُمۡ غَوۡرًا فَمَنۡ یَّاۡتِیۡکُمۡ بِمَآءٍ مَّعِیۡنٍ ﴿۳۰﴾

چرے ستاسو اوبهٔ اوچے پس څوک دے چه راولی تاسو ته صفا اوبهٔ.


تفسیر ۲۹ے قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ ۔ د تبلیغ دویمه طریقه : تاسو او فرمائه عذاب نه پناه ورکوونکے رحمٰن دے مونږ ه د هغه په توحید باندے ایمان راوړے دے او په مصیبتونو او مشکلاتو کښ هم په هغه باندے مونږ بهروسه ده ۔ اے مشرکانو تاسو ته به ډیره زر معلومه شی چه څوک په هدایت دے کله چه په تاسو د الله تعالیٰ عذاب نازل شی نو ستاسو سترګے به پرانستے شی

۳۰ے قُلْ اَرَءَیْتُمْ : اَتم دلیل عقلی خاص : مَعِیْن په وزن د فعیل د مَعَنَ نه اخستے شوے دے یعنی جاری او بهیدونکی یا د اَعین نه اخستے شوے دے یعنی چه په نظر باندے راځی ۔ عن ابن عباس (بماء معین) ای ظاهر تراه العیون فهو مفعول وقیل هو من معن الماء ای کثر، فهو علیٰ هذا فعیل (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۲۲) ۔

د اراته او وائی که چرے دا اوبهٔ په زمکه کښ ډیرے ښکته لاړے نو تازه او بهیدونکے اوبهٔ به د ښکته نه به بیا څوک په پورته راولی ؟ هغه الله تعالیٰ دے چه تاسو ته کوم تازه او خوږے اوبهٔ درکوی ۔ نو آیا برکات ورکوونکے به بل څوک وی ؟ دا هغوله د الله تعالیٰ مهربانی ده تاسو ځان نه جوړکړے شوے معبودان د اکار نهٔ شی کولے ۔

سُورَة مُلك کښ د توحید ایتونه او د هغے خصوصیات

لے تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ ۔ شپږ عقلی دلیلونو نه ثابته شوه چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک برکات ورکوونکے نشته ۔



جلد ۷

سُوْرَةُ الْقَلَمِ

ربط: سُوْرَةُ تبارک الذی کښې ثابت کړے شوے وه چه برکات ورکونکے الله تعالیٰ دے او دے صفت کښې دهغهٔ سره هیڅوک شریک نشته اوس په سورۃ قلم کښې خبر ورکړے شو چه مشرکان په کوشش کوی چه تاسو دے مسئلے کښې نرم شئ دے دپاره چه هغوی هم ستا سو سره د نرمئ معامله اوکړی. یا دا چه هغوی نرمی کوی دے دپاره چه تاسو هم نرم شئ. دَ هغوئ مقصد دا دے چه تاسو بیشکه الله برکات دهنده او منئ لیکن دهغوئ دَ معبودانو ذکر مهٔ کوئ. لیکن تاسو دے کښې هرګز نرمی مهٔ کوئ او سُستی مهٔ کوئ. وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ.

خلاصه: زجر تسلیه، دَسورۃ دعویٰ، تخویف دنیوی، بشارت تخویف اُخروی. شروع سره دَ آخرت تعلق.

تفصیل: نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ــ تا ــ فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ. زجر مشرکانو دپاره. او نبی علیه السلام ته تسلی. دَعلم خاوندان په دے ګواه دی چه ته مجنون نهٔ ئے ځکه چه دا سے علوم او معارف دَیو لیونی دَژبے نه نهٔ شی وتلے، دے مشرکانو ته به ډیر زر معلومه شی چه لیونے څوک دے؟ وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ، دا دَ سورۃ دعویٰ ده دَ مشرکانو خواهش دے چه تاسو نرمی اختیار کړئ نو هغوئ به هم نرم شی. وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ ــ تا ــ سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُوْمِ ٥ لیکن تاسو دَ هغوی هیڅ خبره مه منئ او دَ مسئلے تبلیغ کوئ او صفا صفا دهغوئ دَ معبودانو دَ برکات ورکولو نفی کوئ. اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ــ تا ــ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ. دَتخویف دُنیوی یوه نمونه ده څنګه چه دَهغه باغونو والو دَځان نه جوړ کړے شوو برکات دهندګان دَهغوئ باغونه دتباهئ نه بچ نهٔ کړے شول، دَغه شان دے اهلِ مکه خپل دځان نه جوړ کړے شوے برکات ورکوونکی معبودان راوبلی او هغوئ نه دے قحط لرے کړی کوم چه مونږ په هغوئ مسلط کړے دے كَذٰلِكَ الْعَذَابُ الْاٰيَة دا اهلِ مکه ته تنبیه ده چه دا عذاب خو په دُنیا کښې دے او دَ آخرت عذاب دَدینه لوئے دے. اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ. الْاٰيَة اُخروی بشارت مؤمنانو دپاره اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ٥ ــ تا ــ فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ زجر مشرکانو دپاره. ایا مونږ به مجرمانو سره دا مسلمانان برابر کړوو؟ هرګز دا سے نهٔ دی. ایا ددوئ سره کوم کتاب دے چه په هغے کښې دَدوئ دَخوښئ خبرے لیکل شوی دی یا مونږ ددوئ سره کوم وعده کړیده یا ددوئ دپاره شریکان دی نو هغوئ دے ددوئ کوم کار نا مه او کمال اوښائی؟ هیڅ یوه خبره هم دا سے نشته. يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ ــ تا ــ وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ٥ دا تخویف اُخروی دے. دَ قیامت په ورځ به مشرکانو ته دَ سجدے حکم ورکړے شی نو هغوئ به دَ سجدے

کولو کوشش کوی لیکن سجده به نشی کولے دُنیا کښې چه کله هغوی ته دَ سجده کولو حکم ورکوے شو نو هغوی به سجده نه کوله ۔ فَذَرۡنِیۡ وَمَنۡ یُّکَذِّبُ ۔۔۔ تا ۔۔۔ اِنَّ کَیۡدِیۡ مَتِیۡنٌ ۔ ما پریږده! زۀ به دے دروغ گڼړونکو ته زیات مهلت ورکړم اؤ بیا به دوئ نا ساپه نیزۀ او نیسم ۔ اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ اَجۡرًا ۔ الآیتین ۔ زجر ۔ ایا تا سو ددوئ نه اُجرت غواړی چه هغه دوئ بوج گڼړی ددے وجه نه ئے نه منی یا ددوئ سره غیبی علوم دی چه هغے سره ددوئ دمعبودانو برکات وراکوونکی کیدل ثابتیږی ددے وجه نه دوئ قرآن نه منی اؤ دے ته محتاج نه دی ؛ فَاصۡبِرۡ لِحُکۡمِ رَبِّکَ ۔۔۔ تا ۔۔۔ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِیۡنَ ۔ په اٰخر کښې نبی علیه السّلام ته تسلی شَنکه چه په شروع کښې وه وے فرمائیل تا سو دمشرکانو د تکلیفونو نه تنگ راتللو سره تلوارمۀ کوئ اؤ اوس دَ صبر اؤ تحمل نه کار واخلئ اؤ حمونږ دَ احکامو انتظار اوکړئ ، د مهی والا (حضرت یونس علیه السّلام) په شان تلوارمۀ کوئ ۔ وَاِنۡ یَّکَادُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا ۔۔۔ اِلٰی اٰخِرِهٖ ۔ دا د سورت د شروع سره متعلق دے ۔ کله چه تا سو د قرآن کریم تلاوت کوئ اؤ د هغۀ تبلیغ کوی نو مشرکانو دغضب اؤ قهر غصے نه ډکۀ نظرونو سره تا ته بد بد گوری دے دپاره چه تا سو اودریږئ اؤ تبلیغ پریګدئ ۔ اؤ بیا دا پروپیګنډه هم کوی ۔ چه (عیاذًا بالله) تا سو لیونی ئے خال دادے ۔ چه دا قرآن دَ ټولے دُنیا دپاره وعظ اؤ نصیحت دے دا سے کتاب دیو لیونی نه نۀ شی صادریدلے چه دَ علم اؤ حکمت، عبرت اؤ موعظت نه ډک دی ۔

سُوۡرَةُ الۡقَلَمِ مَکِّیَّةٌ وَّهِیَ اثۡنَتَانِ وَخَمۡسُوۡنَ اٰیَةً وَّفِیۡهَا رُکُوۡعَانِ

سورة قلم په مکه کښې نازل شوے دے ایتونه دوپنځوس اؤ رکوع په کښې دوه دی ۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○

شروع دَ الله تعالیٰ په نوم چه ډیر زیات مهربان اؤ ډیر رحم کوونکے دے ۔

نٓ وَالۡقَلَمِ وَمَا یَسۡطُرُوۡنَ ﴿۱﴾ مَاۤ اَنۡتَ بِنِعۡمَةِ

قسم دے لے دَ قلم اؤ کوم څۀ چه لیکی ۔ ته نۀ ئے په فضل دَ

رَبِّکَ بِمَجۡنُوۡنٍ ﴿۲﴾ وَاِنَّ لَکَ لَاَجۡرًا غَیۡرَ مَمۡنُوۡنٍ ﴿۳﴾

خپل رب سره لیونے ۔ اؤ ستا دپاره بدله ده ګټه بے انتها ۔

وَاِنَّکَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیۡمٍ ﴿۴﴾ فَسَتُبۡصِرُ وَیُبۡصِرُوۡنَ ﴿۵﴾

اؤ ته پیدا شوے ئے په ډیر لویو خویونو باندے ۔ پس اوس خو به ته هم اووینے اؤ هغوی هم

بِاَیِّکُمُ الۡمَفۡتُوۡنُ ﴿۶﴾ اِنَّ رَبَّکَ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنۡ

چه څوک دے ستاسو نه لیونے ۔ بیشکه ستا رب هغه ښۀ پیژنی هغه څوک چه

ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ⑦

گمراه شو د هغه د لارے نه . او هغه ښه پیژنی لار موندونکی .

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ ⑧ وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ⑨

پس ته خبره مه منه د دروغ گڼرونکو . هغوی غواړی چه په دغه طریقه سست شی نو هغوی به هم سست شی

موضح قرآن : ف۱ یعنی ته د هغوی بتانو ته ښه او وائی نو ستا خبرے به خوښے کړی .

تفسیر

۲ے نٓ وَالْقَلَمِ — تا لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْم ، تسلی نبی علیه السلام ته وَالْقَلَم معطوف قسم دے او مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ . جواب قسم دے او دیته روستو مضمون مستانف دے ، مَا یَسْطُرُوْنَ نه مراد کراماً کاتبین دی یا اهل علم مراد دی چه دینی علوم د تحریر په قید کښ راولی . ای الحفظة الذین یکتبون اعمال بنی آدم او العلماء الذین یکتبون علوم الدین . (مظهری ج ۱۰ ص ۳۰) . قلم چه په کوم دینی علوم لیکلے شي . د غه شان علماء دین هم په دے گواه دی چه تاسو بحمد الله لیونی نه یئ ځکه چه ستاسو خبرے د علم او د حکمت نه ډکے دی او د لیونو نه د داسے خبرو صدور نه شی کیدلے تاسو چه کوم قرآن پیش کړے دے هغه د علوم او معارف خزانه ده او د خپل لفظی او معنوی صفتونو د اعتبار سره معجز او بے مثل دے ایا یو لیونے هم داسے کتاب راوړلے او پیش کولے شي .

۳ے وَاِنَّ لَكَ تاسو په خپل کار کښ ثابت قدم او سیړی د حق په لار کښ او د توحید تبلیغ کښ چه تاسو کومے سختئ او تکلیفونه برداشت کړی تاسو ته به د هغے داسے اجر او ثواب ملاویږی چه هغه به هیڅ کله نه ختمیږی . ای ثواباً علی ما تحملت من اثقال النبوة . (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۲۶) .

وَاِنَّكَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْمٍ ۝ د خلق نه عادات او اخلاق مراد دی د نبی علیه السلام اخلاقو ته ئے عظیم او وئیل ځکه چه د نبی علیه السلام په ذات گرامی کښ ټول ښه اخلاق په پوره ډول موجود وو او هغوی د قرآنی اخلاقو او آدابو یو مجسم نمونه وه حضرت عائشه رضی الله عنها نه چه کله د هغوی د خویونو باره کښ تپوس اوشو نو هغوی اووئیل كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْاٰنُ . چه د هغوی اخلاق قرآن وو یعنی د هغوی ټول اعمال او افعال او اخلاق عادات په قرآنی تعلیم سره بالکل مطابق وو ، یا د خلق نه دین اسلام مراد دے چه د ټولو دینونو نه افضل او خدائے په نزد د ټولو نه غوره دے ، دا د حضرت ابن عباس رض او مجاهد نه نقل شوے دے . (قال ابن عباس رض ومجاهد : علی خلق علی دین عظیم من الادیان لیس دین احب الی الله تعالیٰ ولا ارضی عنده منه (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۲۷) وهو دین الاسلام ، مظهری ج ۱۰ ص ۳۱)

ک فَسَتُبۡصِرُ وَیُبۡصِرُوۡنَ. دا زجر دے مشرکانو باندے اَلۡمَفۡتُوۡنَ مصدر دے بمعنی الفتنة بمعنی الۡمَجۡنُوۡنُ (روح) ډیر ژر چه په دُنیا کښ کله اِسلام ته غلبه حاصله شی او دَا دَ کفر سرداران او دَ شرک مشران د مسلمانانو په لاس مغلوب او مقهور شی نو دَ هغوئ ټول کبر او غرور به دَ خاورو سره یوځائے شی دغه وخت به تاسو هم اووینئ او هغوئ به پخپله هم اووینی چه په حقیقت کښ لیونے او مجنون څوک دے؟

حاصل دا دے چه په دغه وخت به هغوئ ته معلومه شی چه په حقیقت کښ خولیونی دوئ په خپله دی. ځکه چه هغوئ دَ حق دین نه اِعراض اوکړو دُنیا او آخرت کښ ئے ذلت او رسوائی واخستله او دَ الله رسَبتونی پیغمبر ئے دروغژن اوګرنړلو او عیبونه به ئے پرے لګول.

ه اِنَّ رَبَّكَ. الله تعالیٰ دا دواړه ډلے ښے پیژنی، څوک چه دَ سمے لارے نه ورک شو هغه هم پیژنی او څوک چه په سمه لاره باندے روان دے، هغه به هم په دُنیا او آخرت کښ ډیر ژر سره د هغه د حال موافق معامله کوی کوم خلق چه دَ حق نه یوطرف ته شوی دی په حقیقت کښ هغوی لیونی دی او دَ ایمان والا کمال عقل سره موصوف دی ځکه چه هغوئ سمه لاره اختیار کړیده.

ل فَلَا تُطِعِ الۡمُكَذِّبِیۡنَ. فا تفریعیه ده کله چه دا خبره واضحه شوه چه تاسو بحمدالله لیونی نه ئے بلکه دا ستاسو مخالفین لیونی دی دوے وجه نه تاسو دے حق نه دَ انکار کوونکو اطاعت مه کوئ او د دوئ یوه خبره هم اونه منئ. وَدُّوۡا لَوۡ تُدۡهِنُ فَیُدۡهِنُوۡنَ. دا دَ سورت دعوی ده. فَیُدۡهِنُوۡنَ دَ تمنّیٰ جواب دے کنی نو بیا خو به فَیُدۡهِنُوا..... وے ځکه چه دا په اصل کښ فَهُمۡ یُدۡهِنُوۡنَ دے. د مشرکانو تمنیٰ او خواهش دے چه تاسو توحید په معامله کښ نرم شئ یعنی هغوئ د شرک نه نه منع کوئ او د هغوئ دَ معبودانو دَ عاجزی او بے وسئ ذکر نه کوئ او دغه شان د خپل معبود عبادت به په خوشحالئ سره کوئ او د هغه صفات او کمالات بیانوئ او هغه برکات ورکوونکے ګنړئ لیکن د هغوئ معبودانو ته هیڅ هم نه وائ او دا اظهار نه کوی چه هغوئ برکات ورکوونکی نه دی نو دَ غه صورت کښ به هغوئ هم نرم شی او په تاسو به بد نه وائ او نه به تاسو دَ تبلیغ او دَ یو خدائ دَ عبادت نه منع کوی، یا مطلب دا دے چه هغوئ خواوس نرمی کوی په دے خواهش چه کیدے شی تاسو هم نرمی اختیار کړی لیکن یاد لرئ د توحید په مسئله کښ د معمولی سُستئ هم اجازت نشته تاسو دے کښ نرمی مه کوئ او صفا صفا بیان کوئ چه ستاسو دَ ځان نه جوړ کړے شوے بُتان معبودان عاجز دی او هیڅ نه شی کولے. ای فهم یدهنون حینئذ او فهم الاٰن یدهنون طمعا فی ادهانك (روح ج ۲۹ ص ۲۶).

وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِیۡنٍ ۝۱۰ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ

او خبره مه منه ته دَ یو قسم خوړونکی بے قدره عیب ویونکے تلونکے په چغلی

بِنَمِيمٍ ﴿۱۱﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿۱۲﴾ عُتُلٍّ بَعْدَ

دوړې بهولونه ☆ منع کوونکي د نیک کار ☆ تیریدونکي له حده ☆ ډیر ګنهګار ☆ بدخویه ☆ سره

ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿۱۳﴾ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ﴿۱۴﴾ إِذَا

له دې نه بد نام هم دی ☆ په دې وجه چه مال لری او ځامن. ف۲ کله چه

تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۵﴾

ولوستلې شي هغه ته زمونږ خبرې، وائي دا نقلونه دي د مخکینو خلقو.

سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ ﴿۱۶﴾ إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا

اوس به مونږ داغ کیږدو په پوزه بانډې ف۳ ☆ مونږ په هغوئ امتحان اوکړو لکه

بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا

چه امتحان کړے وو مونږه د باغ والو باندې. کله چه هغوئ ټولو قسم اوکړو

مُصْبِحِينَ ﴿۱۷﴾ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ﴿۱۸﴾ فَطَافَ

چه دغه میوه به اوشوکوو د صبا په وخت کښې ☆ او ان شاء الله ئې اونه وئیل ف۴ ☆ پس نازل شوه

عَلَيْهَا طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿۱۹﴾

په دغه (باغ) یوه سوزونکې بلا ستا د رب له طرفه او هغوئ اوده پاتې شول.

فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴿۲۰﴾ فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ ﴿۲۱﴾

نو پس تر صبا پورې ☆ او ګرځیده لکه د ریبلې شوې فصل ف۵ ☆ پس غږلو کښې ئې او وئیل کله چه صبا شو

أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴿۲۲﴾

چه وختي لاړ شئ خپلو فصلونو ته ☆ که تاسو ریبکوونکي یئ.

فَانطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ ﴿۲۳﴾ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا

پس لاړل خپل مینځ کښې ئې او وئیل پټ پټ ☆ چه د ننه را نه شي په دے کښې

الْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ ﴿۲۴﴾ وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ

نن تاسو ته څوک محتاج ☆ او سحر وختي لاړل چه په منع کولو د فقیرانو

قَٰدِرِينَ ﴿٢٥﴾

قادر وو۔

موضح قرآن

ف۱ دا د کافر صفتونه دي. انسان د خپل ځان ته اوګوري او دا عادتونه د پریږدي. پـه نام یعنی بدی کو لوسره مشهور دے

ف۲ یعنی دُنیا کښې خوش قسمت دے ف۳ وائي چه وَلید بن مغیره په قریش کښې یو سردار وو کیدے شي چه په پوزه باندے داغ په دُنیا کښې پریوتلے وي یا به په آخرت کښې ورباندے پریوځي سوزید لوسره منه رحمه الله ۱۲ ف۴ پنځه ورونړه وو دهغوئ پلار مړشو یو دمیوے باغ ئے پریخود و چه دهغے پـه وجه ټول کورنۍ خوشحاله وه کومه ورځ چه به هغوئ د باغ میوه پریکوله دَبناړ فقیران به ټول راجمع شول ټولو ته به ئے لږه لږه میوه ورکوله دُهغے پـه وجه برکت وو خو وروستو ځامنو دا خیال اوکړو چه دا دومره دومره میوه فقیران یوسی په خپل کار به ئے راؤلو. بیائے مشوره اوکړه چه سحر پـه وخت بـه ئے پریکړو اؤکوږ ته به ئے راوړو چه فقیران لا رشي نو هلته به هیڅ هم بیا نه مومي اؤ پـه دے باندے ئے داسے یقین اوکړو چه اِنْ شَآءَ اللّٰهُ ئے هم هیر کړو. وړه ډیلو ۱۲ منه رحمه الله ۱۲ ف۵ د شپے اور اولګیدو یا سیلئ اولګیده اؤ هر څه ئے صفا کړل.

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د الله تعالیٰ قانون هغه دے چه بدا اصل سړی غالباً په دے صفتونو باندے موصوف دي.

تفسیر

۱۲ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ د نهی صیغه اِعاده کول د بد عهدئ په وجه ده. حَلَّافٍ په خبره خبره باندے په دروغه قسم کوونکے په دنیوی کارونو کښې هم اؤ دیني امور کښې هم مثلاً غیرُ الله ته او دانا کوي اؤ بیا قسمونه خوري چه ما فلانکے معبود راؤ بللو ځکه ځما کار اوشو. مهین لا ندے پریوتونکے ذهن لرونکے. هَمَّازٍ د اهلِ توحید عیبونه تلاش کوونکے. مَشَّآءٍ بِنَمِيمٍ. د اهلِ توحید چغلي کوونکے. مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ. د نیکئ نه منع کوونکے، معتدٍ د حَد نه تیریدونکے. اَثِيمٍ ډیر لوئے مجرم، عتل بد زبان کږ وخویونو والابعد ذٰلك یعنی د دینه علاوه زَنِيمٍ په شر او فساد کښې معروف، دمن الروح والبیضاوی ۱۲.

دا د مکذبین صفات دي د چا د خبرے منلو نه چه تاسو منع کړے شوے ئے. اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِينَ لام تعلیلیه مقدر دے. ای لان کان حاصل دا دے چه د داسے بدو او ناکاره صفاتو والا تابعداري په دے وجه هم مه کوه چه هغه ډیر مالدار دے اؤ دهغه آل اولاد ډیر دے دهغهٔ د خبرو پرواه مه کوه.

۱۳ اِذَا تُتْلٰى. دا شکوه ده کله چه د داسے بدکار اؤ هر بدئ سره صفت کړے شوي شخص خومونږ آیتونه لوستلے شي نو وائي نوړه هیڅ نه دي دا خو محض د تیرو شو خلقو قصے دي. سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُومِ. د دے بد چلن د پاره د دُنیا سزا ده دا خلق د پیغمبر علیه السّلام

دَ اتباع نه پوره چونړوي اؤ دَ نبي علیه السلام په پیروئ کښې شرم اؤ عار محسوسوي. دَ دے وجه نه مونږ په دُنیا کښې هغوئ خوار اؤ ذلیل اوګرځوو دَ هغوئ تکبر اؤلوئ به دَ خاورو سره مِلاؤ کړو دغه شان داد تحقیر اؤ تذلیل نه کنایه ده. وَقِیلَ المعنیٰ سنلحق به عار اوسبة حتی یکون کمن وسم علی انفه (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۳۷).

یا داوعید اُخروي دے یعني کوم پوزے سره چه هغه سُونږکوي اؤخیال کوي چه دَ محمد صلی الله علیه وسلم تابعداریٔ سره خو زمونږ پوزه پریکیږي. دَ قیامت په ورځ به مونږ دهغوئ هم هغه پوزه پریکړو اؤ دَ جهنم په اور به ئے اوداغو. وقال بعض هو في الاخرة ومن القائلین بان هذا وعید بامر یکون فیها من قال هو تعذیب بنار علی انفه في جهنم (روح ج ۲۹ ص ۲۹).

تنبیه: داآیتونه دَ کوم مخصوص سړي په حق کښې نهٔ دي بلکه دَ دے نه هغه ټول کافران مراد دي څوک چه دَ دے صفتونو سره متصف دي. شانِ نزول کښې دَ مخصوص سړي ذکر کولو نه مطلب دا دے چه هغه مخصوص سړے هم دے کښې شامل دے دا مطلب نهٔ دے چه دا آیتونه هغهٔ پورے خاص کړے شوے دي اؤ بل څوک ته شامل نهٔ دي.

ف إِنَّا بَلَوْنٰهُمْ. دا دَ تخویف نمونه ده. ضمیر منصوب دَ اهل مکه نه کنایه ده (اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ) نه مُراد تیر شوے هغه رونړه مراد دي چه دَ خپل پلار نه دیر اعلیٰ باغ ورثه په میراث کښې مِلاؤ شوے وو دَ صنعا الیمن په قرب وجوار (نزدے کاونړ) کښې یو سړے اوسید وچه یو ډیر ښهٔ باغ ئے وو دَ هغهٔ په هغے کښې هرقسمه میوے اؤ وُنے وے دا سړے ډیر نیک وو اؤ صرف الله پاک ئے برکت دهنده ګنړلو دَ باغ پیداوار کښې به ئے په ګڼهلاؤ زړهٔ سره دَ الله په لار کښې خرڅ کولو اؤ فقیرانو ته به ئے ورکړه کوله مسکینان به سحروختي دهغهٔ باغ ته ورتلل څوچه میوے به ئے پریکړے نو په هغوئ به ئے خورلے اؤ ورلو دپاره به ئے هم ورکولے چه هغه وفات شو نو دَ هغهٔ ځامنو سوچ اوکړو چه زمونږ پلار نهٔ پوهیدو په هغهٔ کښې عقل نهٔ وو هغهٔ به فضول خپل دولت په مسکینانو باندے تقسیمولو اوس هغوئ فیصله اوکړه چه هغوئ به دَ شپے میوے پریکړے اؤ څوک ته به ئے رانړے کله چه مسکینان هلته رسیږي نو هغوئ به میوے جمع کړے وے اؤ واپس به راغلي وو ډیو نه سِیوا دَ اتول ورونړه مشرکان وو اؤ خپل ځان نه جوړ کړے شوے معبودان به ئے برکت دهنده ګنړل نو هغوئ قسمونه اوکړل اؤ دا فیصله ئے اوکړه اؤچه کله ئے دا فیصله کوله هغه وخت ئے اِستثنا، نهٔ کوله یعني دَ شرک نه ئے دَ الله پاکٔ پاکي نهٔ بیانوله اؤ په برکات ورکولو کښې ئے الله وحدهٔ لا شریک نه ګنړلو اؤ دهغوئ داخیال هم نهٔ وو چه دَ الله تعالیٰ دحکم اؤ دَ رضا نه بغیر هغوئ هیڅ هم نهٔ شي کولے قال ابوصالح: کان استثنائهم قولهم سبحان الله ربنا (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۴۱).

لیکن په هغوئ کښې یو تن چه دَ علم اؤ فهم اؤ عقل اؤ اعتقاد په اِعتبار سره په ټولو باندے اوچت وو هغهٔ دوئ دَ دے حرکت نه منع کړي وو اؤ هغوئ ئے پوهه کړے وو چه دا الله تسبیح اوپاکي بیان کړي اؤ دا الله نه سِیوا هیڅوک برکات ورکوُنکے مهٔ ګنړي

لیکن هغوی د هغه خبرې وا نه وریدلې آخر نتیجه دا شوه چه د هغوی د رسیدلو نه مخکښې ئې هغه باغ برباد او تباه کړو. وئے فرمائیل مونږ هغه باغ والو ته ډیر زیات نعمتونه ورکړل په امتحان کښې مونږ واچول لیکن هغوی ناشکري اوکړه او د الله تعالی نه سیوا ئې نورو مخلوق برکات وهنداه اوګنړل چه د هغے نتیجه دا شوه چه هغوی د نعمتونو نه محروم او محروم شو دغه شان د مکے خلقو ته د دُنیا نعمتونه او آسانۍ ورکړے او د بتولو نه لوئے نعمت مونږ هغوی ته دا ورکړو چه د ټولو انبیاؤ سردار محمد صلی الله علیه وآله وسلم مونږ په هغوی کښې را ولیږلو لیکن هغوی د ټولو نعمتونو ناشکري اوکړه او خپل باطل معبودان برکات ورکونکی اوګنړل نو مونږ په هغوی باندې سخت قحط مسلط کړو.

لے إِذْ أَقْسَمُوا هغوی قسمونه اوکړل او پښه فیصله ئې اوکړه چه بالکل سحر وختی باغ ته اورسیږی میوے به پریکړو. مقصد ئې دا وو چه د مسکینانو را رسیدلو نه مخکښې خپل کار ختم کړو او واپس لاړ شو. وَلَا يَسْتَثْنُونَ اى لا يسبحون بقرنية لولا تسبحون. او قالوا سبحان ربنا. یعنی هغوی د شرک نه دالله تعالی پاکی او تسبیح نه بیانوله او په برکت ورکولو کښې ئې هغه وحده لاشریک نه ګنړلو.

لے فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ. د جبرائیل علیه السلام مراد دے چه دالله تعالی عذاب سره ئې راتلل کړے وو دا فیصله ئې اوکړه هغوی اوده شول. د شپے الله تعالی په هغے دلے عذاب راوستو چه ټول باغ تباه او برباد شو او زمکه داسے صفا شوه لکه چه د هغه ځائے نه هغه ټول پریکړے شوے وی. فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ. کله چه صبا کیدونکی شو نو ټول یو بل ته آوازونه کړل چه میوه پریکولو ته جلتی جلتی سره باغ ته اورسئ. نو ټول روان شول او ورو ورو به ئې یو بل ته وئیل چه نن به یو مسکین هم ځان ته نه پریږدو. وَغَدَوْا عَلَى حَرْدٍ قَادِرِينَ. حرد منع کول، او نه ورکول نو چه کله هغوی هلته اورسیدل خوشحالہ وو په خپل خیال کښې ئې داګنړله چه هغوی په خپل مقصد کښې کامیاب دی. او نن به هغوی مسکینانو ته هیڅ هم نه ورکوی.

فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوا إِنَّا لَضَالُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٢٧﴾

پس چه کله ئې هغه ۳ لے اولیدلو نو وے وئیل مونږ ه خو لاره ورکه کړه ملے زمونږ قسمت خراب شو (به برخی شولو) ملے

قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾ قَالُوا

او وئیل بهتر د هغوی ملے ما تاسو ته نه وو وئیلے چه ولے پاکی نه بیانوئ ملے دالله (هغوی) او وئیل ملے

سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَى

پاک دے ذات خمونږ د رب بیشکه مونږ کوتاهی کوونکی وو بیائے یو بل ته مخ اوګرځولو یو بل ته شروع شول

بَعْضٍ يَتَلَاوَمُونَ ﴿٣٠﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا طَاغِينَ ﴿٣١﴾

یو بل ئے ملامت کولو وے وئیل افسوس خمونږ په خرابۍ بیشکه مونږ ه وو د حد نه مخکښې تیریدونکی

عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا

بنائی چه رب زمونږ بدله راکړی مونږ ته ددے نه بهتره مونږ دخپل رب ته

رٰغِبُوْنَ ۝۳۲ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

امید لرو دغه شان راځی ګله عذاب او د آخرت عذاب خو ډیر لوی دے

اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝۳۳ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ

لوئے دے که چرے هغوی پوهیدے. بیشکه ویریدونکو لپاره دهغوی د رب سره

جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝۳۴ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ۝۳۵

باغونه دی د نعمتونو ایا مونږ به ګرځوو حکم منونکی برابر ګنهګارانو سره.

مَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۝۳۶ اَمْ لَكُمْ كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ۝۳۷

په تاسو څه دی او څنګه حکم کوئ (فیصله کوئ) خبره. ایا تاسو سره کتاب دے چه په هغے کښی لوستل کوئ.

اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ۝۳۸

په هغے کښی ملاویږی تاسو ته کوم څه چه تاسو خوښوئ.

موضح قرآن ف۱ اول چه هلته او رسیدل ځانځے او نه پیژندلو او د احتیال ئے اوکړو چه کیدے ځانځے ورک کړیدے بل خوا ته تللی دی روستو پوهه شول چه ځائے خو هغه دے لیکن مونږ بے برخے او محروم شولو د الله تعالی د دربار ۱۲. ف۲ یعنی د الله تعالی له طرفه نه دا نعمت او ګرځی او فقیرانو مسکینانو نه دا منع کوئ ۱۲.

فتح الرحمٰن : ف۱ یعنی زمونږ باغ ته دے دبل چا باغ دے ۱۲. ف۲ یعنی الله پاک ته رجوع اوکړی

تفسیر ۳۲ے فَلَمَّا رَاَوْهَا کله چه هغوی د باغ ځائے ته او رسیدل نو هغے تباه شوے او لیدلو وے ویل. د شپے په تیاره کښی مونږ لاره ورکه کړے ده او د خپل باغ په غلطے چرته بل ځائے ته رسیدلی یو بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ. لیکن چه کله هغوی یو خوا بل خوا د فصلونو او د زمکو حالاتو او جنستله اوغوړ او فکرے اوکړو نو پوهه شول چه دا ځائے خو زمونږ د باغ دے او مونږ لاره نه ده ورکه کړے بلکه الله تعالی هغه تباه کړے دے مونږ ئے د هغے نه محروم کړے یو. قَالَ اَوْسَطُهُمْ اوس چه په هغوی کښی د ټولو نه کوم بنه ورور وو هغه او ویل ولے ما تاسو ته نه وو ویلی چه تاسو د خدائے پاکی او تسبیح ولے نه بیانوئ او په برکات ئے کولو کښی هغه وحده لاشریک ولے نه ګڼړئ!

۳۳ے قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اوس د هغوی عقل ځائے له راغے او فوراً ئے او ویل زمونږ

پروردګار د شرک نه پاک دے بیشکه موږ غیر الله برکات دهنده او ګڼړلو په خپل ځان باندے موږ ظلم اوکړو. فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ اوس هغوئ یو بل ملامت کول شروع کړل او آخر هغوئ اقرار اوکړو چه هغوئ هرڅه کړیدی هغوئ د الله د حدود نه تجاوز کړے وو. عَسٰى رَبُّنَا أَنْ يُبْدِلَنَا. موږ په خپلو کړو پښیمانه یُو او د خپل پروردګار نه اُمید لرو چه اوس به کله موږ د خپلو کړو (عملونو) نه توبه کړیده هغه به موږ ته د دے نه بهتر عوض را کړی د باغ بَدَل چه موږ توبه کړے ده او د الله طرف ته مائل شوی یُو او د هغه د دربار نه د عفو او د معافئ اُمید لرو.

ف۱۴ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ. دا اهلِ مکہ ته تنبیه ده یعنی د دُنیا عذاب دغه شان دے چه په هغے کښې تاسو مبتلا کړے شوی یئ او د آخرت عذاب د دے نه هم زیات سخت او وړونکے دے که چرے هغوئ په دے حقیقت باندے پوهه شی نو د کفر او شرک او تکذیب او انکار نه به منع شی.

ف۱۵ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ. دا د مؤمنانو د پاره بشارتِ اُخروی دے کوم خلق چه د کفر او شرک نه ځان ګیدونکی دی هغوئ د پاره د نعمتونو باغونه دی چه هلته به هغوئ ته هر قسم راحت او آسانی او هر نعمت حاصل وی.

ف۱۶ أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ. دا مشرکانو باندے زجر. امشرکانو چه به کله د جنت او د دوزخ ذکر اوریدلو نو ویل به ئے که چرے بالفرض قیامت راشی هم نو خموږ او د مسلمانانو حال به هم هغه شان وی څنګه چه نن په دُنیا کښې دے یعنی موږ د هغوئ نه زیات مالدار او دولتمند یُو هغوئ ته به موږ باندے هیڅ غوره والے او بهتری حاصل نه وی بلکه هغوئ به زیات نه زیات خموږ سره برابر وی. د دے باندے ارشاد اوفرمائیلو، ایا موږ به مسلمانان د دغه سرکش او باغی او نافرمان مجرمانو سره برابر کړو؟ هرګز داسے نه ده. په تاسو څه شوی دی تاسو څنګه د بے عقلئ او ناپوهئ خبرے کوئ. اِستفهام اِنکاری دے.

ف۱۷ أَمْ لَكُمْ كِتَابٌ. دا خطاب مشرکانو سره دے. ایا تاسو سره کوم آسمانی کتاب شته؟ چه تاسو په هغے کښې لولئ چه په هغے کښې ستاسو د خوښے خبرے دی یعنی ایا په هغے کښې لیکلے دی چه د هغوئ معبودان برکات ورکوونکی دی یا دا چه د قیامت په ورځ به مسلمانان د هغوئ برابر وی؟ أَمْ لَكُمْ أَيْمَانٌ. یا موږ تاسو سره پښے وعدے کړے دی چه د هغے پوره کول د قیامت د ورځے پورے خموږ په ذمه دی. او کوم څه چه تاسو وائی موږ به هغه ضرور پوره کوو چه د قیامت په ورځ به تاسو د مسلمانانو برابر ئ (بَالِغَةٌ) ای ثابتة لكم الى يوم القيامة لا نخرج عن عهدتها الا يومئذ اذا حكمنا لكم و اعطيناكم ما تحكمون (روح ج ۲۹ ص ۳۳).

أَمْ لَكُمْ أَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ

ایا تاسو مرموږ نه قسمونه اخستے دی چه صحیح رسیدونکی دی د قیامت په ورځ پورے چه تاسو

إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ

ته به ملا وېړي هغه کوم چه تاسو فیصله کوئ. تپوس او کړه د هغوئ نه ۸ اے کوم يو د هغوئ نه

زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾ أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ فَلْيَأْتُوا بِشُرَكَائِهِمْ

ذمه اخلي (ذمه وار دے). آیا هغوئ د پاره څوک ۹ اے شریکان دي بیا خو پکار دے چه راوړي هغوئ شریکان

إِن كَانُوا صَادِقِينَ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ

خپل که چرے هغوئ رښتوني دي. کوم ورځ ۱۰ اے چه ښکاره به کړے شي پنډۍ او هغوئ

وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾

به راوبللے شي سجدے ته بیا ئے او نه کړے شوه (سجده ۱۱).

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۖ وَقَدْ كَانُوا

ښکته به وي پریوتلې دي ۱۲ اے د هغوئ سترګې خټلے به وي په هغوئ باندے ذلت. او تحقیق به هغوئ بللے

يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ ﴿٤٣﴾ فَذَرْنِي

شول سجدے طرف ته او هغوئ ښه روغ رمټ وو. ۱۳ اوس پریږده

وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ ۖ سَنَسْتَدْرِجُهُم

۱۴ اے ما لره او هغه څوک چه دروغ ئے ګڼړله دا خبره. اوس به موږ په پاتکي پاتکي

مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾ وَأُمْلِي لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي

راکوز کړو هغوئ د کوم ځائے نه چه هغوئ ته پته هم نشته. او هغوئ ته مهلت ورکوم بیشکه خما تدبیر

مَتِينٌ ﴿٤٥﴾ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ

پوخ دے. آیا ته غواړې ۲۱ اے د هغوئ نه څه حق نو په هغوئ باندے د تاوان

مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾

بوجړ پریوتي. آیا هغوئ سره خبره دے د غیب نو هغوئ ئے لیکي.

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ

اوس ته ثابت قدمه سره ۲۳ اے لاره ته کوره د خپل د حکم او مه کیږه ته لکه هغه ۲۳ د مهي والا

اِذْ نَادٰى وَهُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿۴۸﴾

کله چه هغه آواز اوکړو او هغه ډک نه د غصې دو. ول

موضح قرآن ول د قیامت په ورځ هراګت او دله چه په (دُنیا کښې) لږ دچا عبادت کولو هغه سره به روان وی، مسلمانان به ولاړ پاتې شی، پرورد ګار به را شی شکل صورت کښې به نشی پیژندلے او به فرمائی څه ستاسو پرورد ګار یم ما ته راشئ هغوئ به اووائی نعوذ بالله څو موږه رب به راشی موږ به هغه او پیژنو او به وائی د هغه کوم نښه پیژنئ وائی به پیژنو. بیا به د هغوئ د پیژندګلو موافق پنډۍ ښکاره کړی نو مُسلمانان به په سجده پریوځی چاچه د زړه د اخلاص نه سجده نه وی کړی د هغوئ شاګانې به نه ښکته کیږی او لته به را او غورځیږی. دا د هغوئ د توحید د عقیدے ازمائیلو دپاره وو چه د صورت او شکل د عبادت نه بیزاره دی ۱۲ منه رح.

ول یعنی د الله تعالیٰ حکم ته ګوره نه خوچه ښه دُعا ئی اوکړی او نه د حضرت یونس علیه السلام په شان تنګیالی ښکاره کړئ او خفګان اوکړئ.

فتح الرحمٰن . ول داکلمه کنایه ده د سخت حالت نه ۱۲ ول یعنی حضرت یونس علیه السلام.

تفسیر

۸له سَلْهُمْ خطاب نبی علیه السلام سره دے وے فرمائیل تاسو د دغه دعوی کوونکو نه تپوس خو اوکړئ چه د دوئی د دعوے ضامن څوک دے؟ چه د قیامت په ورځ د هغوئ انجام هم هغه شان وی څنګه چه به د مسلمانانو وی. ای سل یا محمد هٰؤلاء المتقولین علی ایهم کفیل بما تقدم ذکره وهو ان لهم من الخیر ما للمسلمین (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۴۷).

وله اَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ بنه ده که چرے د پورتنو ذکر شوو خبرو نه کوم خبره نشته نو آیا د دوئی شرکاء دی چه د دوئی دعوی به صحیح ښکاره کړی نو هغوئ د خپل شریکان حاضر کړی او د هغوئ کوم کمال خو د ښکاره کړی چه د هغے نه ثابته شی چه په حقیقت کښې هغوئ برکات ورکوونکی دی.

۲له یَوْمَ یُکْشَفُ . دا تخویف اخروی دے . الکشف عن ساق، پنډۍ ښکاره کول د کار سختیدلو نه کنایه ده څکه چه کله انسان یو سخت کار کوی نو پرتوګ د پنډو نه اوچت کړی (بیا دے اوده). د قیامت په ورځ چه کله ډیره زیاته سختی وی او د پریشانۍ حالت وی د غه وخت به دے مشرکانو ته د سجدے کولو حکم ورکړے شی نو هغوئ به سمدستی د سجدے کولو کوشش کوی لیکن د هغوئ شاګانے به تختو په شان سختے اوګرځولے شی او هغوئ به سجده نه شی کولے د هغوئ سترګے نظرونه به ښکته وی او د هغوئ په مخونو به د ذلت او رسوائی آثار او نښے ښکاره وی د مسلمانانو مخونه به روښانه نورانی کوونکی وی لیکن د مشرکانو مخونه به ډیره زیات تور وی دُنیا کښې چه به هغوئ ته د خدائے په دربار کښې د سجدے کولو دعوت ورکولے شولو

هغوئ به ځان لوئے کړلو تکبر بدے کولو حال دا دے چه هغوئ هغه وخت صحیح سالم وو او سجده ئے کولے شوه په دُنیا کښې هغوئ ځان د سجدے نه لوئے کړلو نو په قیامت کښې به هم هغوئ دَ سجدے دَ استطاعت نه محروم کړے شي۔

۲۱ے فَذَرۡنِیۡ دا په سزا ورکولو باندې دَ قدرت نه کنایه ده۔ مالره پریږده بس صحیح ده ددے دروغ ګڼړلو د پاره څه کافي یم او زه به هغوئ برابر کړم۔ مونږ هغوئ ته وخت ورکوو او هغوئ ته نعمتونه ورکوو، هغوئ به په دے پوهیږي هم نه چه دا د هغوئ د پاره استدراج (په بے دینئ کښې مخکښې بوتلل دي) او بیا مونږ هغوئ ناڅاپه اونیسو ځما تدابیر دا سے مضبوط او محکم دے چه هیڅوک دَ هغے مقابله نه شي کولے، دا الله تعالیٰ دَ کید نه مراد انتقام دے په صورت دا نعام او امهال۔ فالکید من الله الانتقام بصورة الانعام۔ (مظهري ج ۱۰ ص ۴۳)۔

۲۲ے اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ داعنا دَ کر ولے نه مني آیا په تبلیغ او وعظ و نصیحت باندے تاسو د هغوئ نه څه بدله غواړئ او هغوئ دغه تاوان او بوجه اوچت ګڼړي۔ تاسو نه اعراض کوي؛ اَمۡ عِنۡدَهُمُ الۡغَیۡبُ۔ یا هغوی سره دَ غیب نه علم راغلے چه په هغے کښې دا لیکل شوي دي چه د هغوئ معبودان برکات ورکوونکي دي چه هغوئ لیکل کوي او دَ هغے مطابق د خپلے مرضئ او خوښے خبرے کوي او دَ هغے په وجه سره ستا سو علم ته محتاج نه دي او د دے په وجه تاسو نه مني؛ استفهام انکاري دے یعني داسے نه ده (اَمۡ عِنۡدَهُمُ الۡغَیۡبُ فَهُمۡ یَکۡتُبُوۡنَ) ما یحکمون به ویستغنون بذالك من علمك (روح ج ۲۹ ص ۳۴)۔ حاصل دا چه تاسو هغوئ ته بغیر دَ څه معاوضے او بدلے نه دَ توحید دعوت ورکوئ او هغوئ خالص دَ جهالت او ضد او عناد په وجه سره ستاسو تکذیب کوي۔

۲۳ے فَاصۡبِرۡ۔ دَ نبي علیه السّلام د پاره تسلي ده تاسو د مشرکانو تکذیب او ضرر رسولو سره دَ تنکیدو په وجه څه اقدام مه کوئ بلکه صبر او تحمّل سره بټول هر څه برداشت کړئ دَ الله تعالیٰ د حکم انتظار کوئ او دَ مَهِي والا (حضرت یونس علیه السّلام) په شان مه کیږئ او نه چه په بل قوم مصیبت کښې راګیر شئ څنګه چه حضرت یونس علیه السلام دَ ټنډئ نه کار واخستو او احوال او قرائن سره ئے دَ هجرت جواز خیال کړو۔ دَ الله تعالیٰ د حکم انتظار کولو نه بغیر دَ ښار نه اووتل نو مونږ دَ تنبیه په طور هغه دَ مهي په خیټه کښې قید کړو چه هَلته هغوئ د تکلیف او درد په حالت کښې مونږ ته فریاد او کړو او خپل لغزش اقرار ئے او کړو نو مونږ محض خپل رحمت سره هغوئ ته دَ تکلیف او درد نه خلاصے ورکړو مکظوم په غم او فکر کښې پریوتلے۔

لَوۡلَاۤ اَنۡ تَدٰرَکَهٗ نِعۡمَةٌ مِّنۡ رَّبِّهٖ لَنُبِذَ بِالۡعَرَآءِ

کۂ چرے سنبال کړے نۂ وے هغۂ لره ګله احسان دَ ربّ ستا نو خامخا غورځول شوے به وے په یو

وَهُوَ مَذْمُوْمٌ ﴿۴۹﴾ فَاجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ

بیان سپیره کښې ملامت کړے شو هغه پس غوره کړو هغه لره ربّ د هغه پس وګرځولو هغه د

الصّٰلِحِيْنَ ﴿۵۰﴾ وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ

نیکانو نه ۔ وف او نزدې دي منکرین چه او به ښوئوي تاسو لره

بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ

په خپلو سترګو سره کله چه هغوئ اوري قرآن او وائي وٙ چه هغه خو

لَمَجْنُوْنٌ ﴿۵۱﴾ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۵۲﴾ ع

لیونے دے وٙ او دا خو قرآن خو نصیحت دے د ټول جهان والو د پاره ۔

موضح قرآن وف نبی علیه السلام او فرمائیل تاسو کښې دې دا سے څوک او نه وائي چه زۀ بهترین د یونس بن متیٰ نه ۱۲

وٙ یعنی برند برند (بد بد) تا ته ګوري چه تا لره اوړوي ۱۲ منه

فتح الرحمٰن فٙ یعنی لیکن رحمت تا ته د رب اورسیده او بدحال نه شو ۱۲۔

فٙ داد هغوئ د سختې دشمنۍ نه کنایه ده ۱۲ ۔

تفسیر ۲۴ لَوْلَا اَنْ تَدٰرَکَهٗ ۔ که چرے د الله نعمت او رحمت د هغه دستګیري او امداد نه وے کړے نو هغه به د کرامت او حرمت نه محروم کړے شوے

په یو سپیره میدان با ندے غورځولے شوے وے لیکن د الله تعالیٰ رحمت د هغه مرسته اوکړه نو الله د هغه د اعتراف او تسبیح په وجه سره د هغه په درجات کښې زیاته ترقي اوکړه او هغه ئې په کاملین کښې داخل کړو تر دے چه د هغه نه روستو کوم خلاف اولیٰ کار صادر نه شو (من الصّٰلِحِيْنَ) من الكاملين في الصلاح بان عصمه من ان يفعل ما تركه اولى (بیضاوی ج ۲ ص ۳۹۳) ۔


۲۵ داد سورت د ابتداء سره متعلق دے کله چه تاسو د قرآن تلاوت کوئ د توحید تبلیغ کوئ او صرف د الله د برکات د هنده کید لو اعلان کوئ نو مشرکان قهرجنو نظرو نو سره تاسو ته بد بد ګوري دے د پاره چه تاسو او ویریږئ او د تبلیغ کار پریږدئ او تاسو ته لیونے هم وائي ۔ لیکن تاسو ثابت قدم اوسیږئ او د تبلیغ کار کوئ ۔ الله پاک به ستاسو حافظ او ناصر وي ۔ السدی وسعید بن جبیر : يصرفونك عما انت عليه من تبليغ الرسالة وانما اراد انهم ينظرون اليك اذا قرأت القرآن نظرا شديدا بالعداوة والبغضاء يكاد يسقطك (خازن ج ۷ ص ۱۴۱) ۔

۲۶ وَمَا هُوَ ۔ حال دا دے چه دا قرآن د ټول جهان والو د پاره نصیحت دے او

په دے کښې دهغوی ټول ضروری امور و بیان دے او دده تعلیمات دهغوی دپاره د فلاح دارین ضامن دے نو آیا داسے عظیم الشان کتاب حامل دده د تبلیغ نه منع کول او هغه ته د لیونتوب طعنه ورکول کومه د عقل خبره ده؟

د سورة القلم خصوصیت

د توحید د مسئلے بیانولو کښې د نرمۍ او سستۍ نه منع او د توحید په خاطر تکلیفونه برداشت کول او د صبر و تحمل اختیارولو تلقین او تعلیم ۲-



سُوْرَةُ الْحَاقَّةِ

لِه سُوْرَةُ الْحَاقَّة: رَبط: سورة قلم کښې ئې اوفرمائیل چه دَ تبارک په دعوی کښې به ستا سود نرمولو دپاره مشرکین نرمی کوی لیکن تا سودے کښې نرمی او نه کړې. اوس په دے سورة کښې د دے دعوی نه منونکو دپاره تخویفات ذکر کولے شي دنیوی او اخروی.

خلاصه دَ تخویف دنیوی پنځه نمونې. تخویف اُخروی. بشارت اُخروی تخویف اُخروی دَ وحی په حقانیت باندې استدلال، دَ سورة دعوی.

تفصیل اَلْحَاقَّةُ مَا الْحَاقَّةُ دَ تبارک نه منونکو دپاره تخویف، كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ عَادٌ ...... تا ...... فَهَلْ تَرٰى لَهُمْ مِّنْ بَاقِيَةٍ. تخویف دنیوی اوله او دویمه نمونه. دَ ثمود قوم او عاد قوم چه کله دا دعوی اونه منله او دَ خپله خانه جوړ کړے شوے معبودان برکات ورکولو باندې ټینګ ولاړ پاتے شول نو هغوئ په دُنیا کښې ډیر زیات سخت عذابونو سره هلاک کړے شول وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ دَ تخویف دنیوی دریمه او څلورمه نمونه دَ فرعون قوم او دَ لوط علیه السّلام دَ خپلے خپلے زمانے دَ پیغمبرانو نافرمانی اوکړه نو الله تعالیٰ هغوئ په سخت عذاب سره اونیول اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ حَمَلْنٰكُمْ فِي الْجَارِيَةِ. دَ تخویف دُنیوی پنځمه نمونه دَ نوح علیه السّلام سرکش او منکرین مونږ په طوفان کښې غرق کړل او مؤمنان مو په کشتئ کښې سواره کړل هغوئ ته مو نجات ورکړو.

فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ...... تا ...... لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ. تخویف اُخروی فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ...... تا ...... فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ. بشارت اُخروی دے. جنتیا نو به اَعمالنامے په ښی لاسونو کښې ورکولے شي او هغوئ به ډیر زیات خوشحاله وی او دَ ډیرے زیاتے خوشحالئ نه به هرچا ته خپلے عملنامے ښکاره کوی هغوئ ته به په جنت کښې هرقسم راحت او خوشحالی حاصله وی. وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ...... تا ...... لَا يَاْكُلُهٗۤ اِلَّا الْخَاطِئُوْنَ. تخویفِ اُخروی دے مشرکانو ته به کیڼ لاس کښې اعمالنامے ورکولے شي هغوئ چه خپلے عملنامے اوویني نو افسوس ارمان به اوکړی وائی به هائے افسوس! چه مونږ ته عملنامے نه وے راکړے شوے او خپل حساب مونږ نه پیژندلے، هغوئ به په جهنم کښې ز نځیرونو سره تړلے شوے غورځولے شي. فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ. دَ قیامت دلیل دادے چه په دُنیا کښې ډیر شیزونه په نظر نه راتلل لیکن تاسو بیا دهغې په وجود یقین کړلو. دغه شان که څه هم تاسو قیامت مشاهده نشوه کولے نو دَ هغې نه به هم اِنکار نه کولے. بیشکه دا قرآن دَ الله پاک کلام دے چه رب العالمین په خپل رښتونی پیغمبر باندے نازل کړے دے که چرے دا رسول (محمّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ) په مونږ باندے دروغ جوړ کړے نو مونږ به هغه اونیسو او دَ هغه د ژوند رګ به پریکړو او هیڅوک به مونږ د دے کار نه منع نه کړی. دا قرآن ویریدونکو دپاره نصیحت دے او دروغ ګڼړونکو دپاره باعث د افسوس او پښیمانتیا دے. فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ

الْعَظِيْمِ په آخر کښې د دعوىٰ ذکر دے چه صرف الله تعالىٰ برکات ورکوونکے او ګټې د هغه په نوم کښې برکت دے' د دے وجه نه په حاجتونو او مصیبتونو کښې صرف د هغه نوم وظیفه کړئ.

سُوْرَةُ الْحَآقَّةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

دا سورة الحاقة په مکه کښې نازل شوې ده په دے کښې دوه پنځوس آیتونه دي او دوه رکوعاتې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

اَلْحَآقَّةُ ﴿۱﴾ مَا الْحَآقَّةُ ﴿۲﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ ﴿۳﴾

هغه ثابتیدونکې ده څه ده هغه ثابتیدونکې او تا څه سوچ کړے دے ثابتیدونکې.

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ بِالْقَارِعَةِ ﴿۴﴾ فَاَمَّا ثَمُوْدُ

دروغ اوګڼړل قوم ثمود او عاد د ماتوونکې (د قیامت) ورځ پس کوم چه ثمودیان وو نو

فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ﴿۵﴾ وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوْا بِرِيْحٍ

هلاک کړے شو وه په تیز ویشتلو سره او کوم چه عادیان وو هغوی هلاک کړے شو په هوا

صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿۶﴾ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّ

سړه چه تیزه سوزونکې وه. مقرر کړے (مونږ) هغه په دوی باندې اووه شپې او

ثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ حُسُوْمًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيْهَا

اته ورځې پرله پسې پس هغه ته اولیدل چه هغه پرېوتل په

صَرْعٰى كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿۷﴾ فَهَلْ تَرٰى

زمکه لکه چه هغه تنې دي د کجورو د خالي ایا ته وینې

لَهُمْ مِّنْۢ بَاقِيَةٍ ﴿۸﴾ وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ

په هغوی کښې څوک پاتې شوي. او راغلے فرعون او څوک چه د هغه نه مخکښې وو

وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ﴿۹﴾ فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ

او اپولے شوي کلي خاوندان په ګناه کولو سره. پس حکم ئے اونه منلو د خپل رب د رسول

فَاَخَذَهُمْ اَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿۱۰﴾ اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ

پس اونیول مونږه هغوئ په سخت نیولو سره — پس مونږه کوم وخت چه اوبو جوش اووهلو

حَمَلْنٰكُمْ فِى الْجَارِيَةِ ﴿۱۱﴾ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّ

بار کړئ مونږه په کشتئ روانه کښے — دے دپاره چه مونږه اوګرځوو هغه ستاسو دپاره یادداشت

تَعِيَهَآ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ﴿۱۲﴾

(نصیحت) او یاد دِ اوساتی دا (نصیحت) غوږونه یادساتونکی.

موضح قرآن ف۱ یعنی قیامت ۱۲منه ف۲ یعنی زلزلے سره ۱۲منه ف۳ یعنی د فرښتو ۱۲منه ف۴ یعنی چلیدل له شپه او ورځ پرله پسے.

فتح الرحمن ف۱ مترجم وائی د بنده په نزد ظاهره داده چه د آیات معنی داده ثابت شوے عذاب. څهٔ دے هغه عذاب شوے او څهٔ څیز تا ته خبردار کړو چه څهٔ دے هغه عذاب ثابت شوے، دے نه روستوخو تیر شوی عذابونه بیان کړل وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ۱۲.

تفسیر ۲ اَلْحَآقَّةُ هغه عذاب چه په ربتیا سره را تلونکے دے او په هغه چا را تلونکے دے څوک چه د هغے مستحق دے او د کوم په را تلو کښے چه هیڅ شک نشته. هغه څهٔ څیز دے؟ او تا ته څهٔ معلومه ده چه هغه څومره سخت ویرونکے دے؟ هغه نه وروستوئے د تخویف دنیوی نمونے ذکر کړے دی.

۳ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ. دا د تخویف دنیوی اوله او دویمه نمونه ده. د ثمود قوم او د عاد قوم دا د ایمان او د توحید او رسالت وغیره نه علاوه د قیامت نه هم انکار اوکړو. اَلْقَارِعَةُ قیامت ځکه چه هغه به د خپل دهشت او سختو په وجه سره خلق اوخوزوی. وَالْقَارِعَةُ الْقِيَامَةُ لانها تقرع الناس باهوالها (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۵۷) دینه روستو فی دواړو قومونو د هلاکت تفصیل بیان کړو.

۴ فَاَمَّا ثَمُوْدُ. اَلطَّاغِيَةُ د مقدر موصوف صفت دے. ای بالصیحة الطاغیة یعنی دا سے سخت آواز چه په سختئ او ډیره ولو کښے د حد نه تیر شوی وی ای بالصیحة المجاوزة للحد فی الشدة (جلالین) وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوْا. دا د قوم عاد د هلاکت تفصیل دے. صَرْصَرٍ. سخته یخه هوا د سخت یخوالی په وجه سوزونکی. عَاتِيَةٍ سخته تُنده او تیزه او د قابو نه بهر. حُسُوْمًا متواتر. یاد یخ نه ویستونکے یا دا ئے معنیٰ ده مَشْئُوْم یعنی شنړه په دلیل د فی اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ (حٰمٓ السجدة ع ۲) مطلب به دا وی چه دا ورځے د هغه قوم په حق کښے شنړه وه ځکه چه ټولے ورځے برابر یو شان دی، دے کښے د سعد او نحس هیڅ فرق نشته. خَاوِيَةٍ نړاره او ډډ. چه مینځ ئے خالی وی لکه چه په بل

ځائے کښې دے او فرمائیلی کَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ (القمر ۱۶) دَ عاد قوم دا سے تن اوُ تیزے هوا سره هلاک کړے شول چه ډیره زیاته تریخه اوُ دَ قابو نه بهر وه اوُ اووهٔ شپے اووهٔ ورځے په هغوئ متواتر مسلط شوے وه هغه خلق مړهٔ شول په زمکه را پریوتل لکه څنګه چه دَ کهجورو ونے اوُ ډډے شوے تنے په زمکه باندے راپریوتلے وی، هغوئ نه هیڅوک هم ژوندی پاتے نه شول۔ بَاقِيَةٍ ای نفس بَاقِيَةٍ۔ یا په معنیٰ دَ مصدر دے ای بقاء۔

۵ے وَجَاءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ۔ تخویف دنیوی دریمه نمونه۔ وَالْمُؤْتَفِكٰتُ۔ دَ تخویف دنیوی څلورمه نمونه هغه کلی کوم چه اړولی شوی دی۔ مراد تری نه اهل المؤتفكٰت دی یعنی دَ هغه کلو اوسیدونکی۔ مراد دَ لوط ؑ قوم دے څکه چه دَ هغوئ کلی لاندے باندے کړے شوے وو (قرطبی) بیضاوی ج ۲ ص ۳۰۷۔ اَلْخَاطِئَةُ مصدر دے۔ په معنیٰ دَ الخطا اوُ دینه دَ پیغمبر تکذیب مراد دے لکه چه فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ سره دَ دے تفصیل کړے شوے دے۔ رَابِيَةً۔ اوُچت اوُ زیات یعنی دَ فرعون قوم اوُ دَ هغه نه مخکښې مکذبین اوُ دَ لوط علیه السلام دَ خپل خپل وخت پیغمبران دَ دروغو اوګڼړل نو الله تعالیٰ په هغوئ باندے داسے سخت اونیول چه دَ نورو سرکش قومونو دَ نیولو نه زیات سخت اوُ دهشتناک وو۔

۶ے اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَاءُ۔ دا دَ تخویف دنیوی پنځمه نمونه ده۔ طَغَا الْمَاءُ یعنی دَ خپل معتاد حد نه ئے تجاوز اوکړو تردے چه دَ اوچتو اوچتو غرونو دَ سرونو نه هم څوګزه اوچت اوختلے۔ جاوز الحد المعتاد حتی انه علا علی اعلی جبل خمس عشرة ذراعا (روح ج ۲۹ ص ۴۲) مراد طوفان نوح علیه السلام دے حَمَلْنٰكُمْ کښې تجوز دے یعنی ستاسو پلاران اوُ نیکونه موږ په کشتئ کښې سوارهٔ کړل اوُ ستاسو دَ هغوئ په شا نو کښې وئ۔ حَمَلْنٰكُمْ ای فی اصلاب اٰبائكم فی الجارية (بحر ج ۸ ص ۳۲۲) واللفظ لهٗ بیضاوی ص ۳۹۴) موږ طوفان نوح کښې ټول مشرکان غرق کړل اوُ ستاسو پلاران اوُ نیکونه موږ دَ نوح په کشتئ کښې سوارهٔ کړل طوفان نه موږ خلاصے ورکړو دے دپاره چه موږ ستاسو دپاره دا واقعه عبرت اوُ نصیحت اوګرځولو اوُ دَ کار خبرے سا تونکی غوږونه هغه واوری اوُ یاد ئے کړی اوُ هغے نه فائده واخلی ای دَ مکے خلقو تاسو له پکار وه چه دَ دے مشهور اوُ معروف واقعه نه عبرت حاصل کړے وے اوُ سبق مو زده کړے وے چه دَ سرکشئ اوُ کفر اوُ شرک کښې ورننوتلو سره دَ دے قسم سخت عذاب کښې ګرفتار نه شئ۔

فَاِذَا نُفِخَ فِی الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ وَّحُمِلَتِ

پس کله چه پوکے اوکړے شی ګهے په شپیلئ کښې یو ځل پوکے کولو سره اوُ پورته کړے شی

الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ﴿۱۴﴾ فَيَوْمَئِذٍ

زمکه اوُ غرونه بیا به ماتے ماتے کړے شی په یو ځل پس دَ غه ورځ به

وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱۵﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ

واقع به شي واقع کیدونکې ورځ (قیامت) او څیرې به شي شي اسمان پس هغه به په دغه ورځ

وَاهِيَةٌ ﴿۱۶﴾ وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا ؕ وَيَحْمِلُ عَرْشَ

به راپرېوتونکې وي او فرښتې به وي دهغه په غاړو باندې او پورته به کړي تخت

رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿۱۷﴾ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ

ستا د رب چې لې خپلو نه دپاسه دغه ورځ اته تنان وي دغه ورځ به تاسو مخامخ کولې شئ

لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿۱۸﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِىَ كِتٰبَهٗ

پټ به نه پاتې کیږي ستاسو پټې خبرې نو چا ته چې ورکړې شي لیک دهغه لیکل شوې

بِيَمِيْنِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿۱۹﴾ اِنِّىْ

(اعمالنامه) په ښي لاس کښې هغه به وائي واخلئ او ولولئ زما لیکل شوې اعمالنامه ما خیال او کړو

ظَنَنْتُ اَنِّىْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿۲۰﴾ فَهُوَ فِىْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۲۱﴾

دې خبرې چې ما ته به ملاویږي زما حساب نو هغه به وي د ژوند ښه پسندیده کښې

فِىْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿۲۲﴾ قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿۲۳﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

په اوچتو باغونو کښې چې د هغې میوې به راخوړندې (نزدې) وي خورئ او څکئ تاسو

هَنِيْٓئًۢا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِى الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿۲۴﴾

هضم کیدونکې بدله د هغې کوم چې تاسو مخکښې رالیږلې مخکښنو ورځو کښې.

موضح قرآن ۱ اوس د غلو په اوږو دے دغه ورځ به غلو رنورے هم ورلاندے اوکئ.

۲ یعنی د خوشحالۍ نه به سړے هر چا ته ښائي ۱۲ منه رحمة الله تعالی.

تفسیر ۱۶ فَاِذَا نُفِخَ. تخویف اخروي دے د نفخه نه نفخه اولی مراد ده. چې هغې سره به ټول نظام د کائنات درهم برهم (دړې وړې) کړے شي.

۱۷ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ دغه ورځ به د ډیرې سختې زلزلې د وجه آسمان ویرېدلې کمزورے شي او په هغه کښې کړزونه او چاودے پیدا شي او کوم فرښتې چې په آسمانونو کښې اوسیږي هغوي به د آسمانونو په غاړو او طرفونو کښې وي چې کله به څیرې دالے نه وي. اي جوانب السماء واطرافها التي بقيت بعد الانشقاق (مظهري ج ۱۰ ص ۵۲) وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ. دغه ورځ به د الله تعالی عرش

د فرښتو اته صفونو پوره ته کړے وی چه د هغے د مجموعه تعداد علم دالله تعالیٰ نه سوا هیچا ته نشته۔ دا د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه منقول دے څنو ویلے دی مراد اته فرښتے دی قال ابن عباس رضی الله عنه ثمانیة صفوف من الملائکة لایعلم عددهم الا الله وقال ابن زید هم ثمانیة املاک (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۶۶)۔

د قیامت په ورځ به د هیچا هیڅ خبره او هیڅ عمل کار هم پټ نه پاتے کیږی بلکه ټول هر څه به د هغے څخه ته حاضر کړے شی د هیچا حق به هم نه ضائع کیږی او نه به پر چا باندے ظلم زیاتے کیږی۔ او هر چا ته به د هغه د عمل پوره پوره جزا او سزا ملاویږی۔

۹ه فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ۔ دا مؤمنانو د پاره بشارت اخروی دے۔ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ ۔ سره تنازع فعلین کښ د بصریانو د مذهب تائید کیږی د بصریانو په نزد عمل دویم فعل ته ورکولے شی او د اول فعل معمول مقدر وی او د کوفیانو په نزد باندے د دے په عکس باندے۔ دلته د بصریانو د مذهب مطابق کِتَابِيَهْ ۔ د اقرءوا مفعول دے که چرے هغه د هاؤم مفعول وے نو اقرءوا مفعول به ضمیر وے او اصل عبارت به اِقْرَءُوْهُ وے ځکه چه چرته د مفعول اضمار ممکن وی هلته کښ ترک اضمار اولیٰ او مختار دے دغه شان د کوفیانو مذهب اختیار ول و کښ د خلاف مختار ارتکاب لازمیږی (مظهری، روح) بیضاوی۔

کِتَابِيَهْ، حِسَابِيَهْ، مَالِيَهْ او سُلْطَانِيَهْ کښ یاء د متکلم ده او هاء وقف د پاره ده. مؤمن ته چه کله عملنامه په ښی لاس کښ ورکولے شی نو هغه به د ډیرے خوشحالیٔ نه هر یو ته خپله عملنامه ښائی او وائی به دا واخله زما عملنامه اوګوری، هغه به وائی زما خو خیال وو چه زه خو به ډیر سخت حساب سره مخامخ کیږم لیکن دالله تعالیٰ په مهربانیٔ سره کار اسان شو یو دے۔ نو هغه به په ډیر اعلیٰ اوچت باغ کښ ډیر زیات خوشحال تروتازه ژوند تیره وی۔ د جنت د اونو میوے به اګرچه ډیرے نزدے وی لیکن چه کله جنتیان د هغے شوکول او خواری نو د اونو څانګے به راښکته شی او هغوی به دے په ناسته بلکه په ملاسته لاس اوږدولو سره هم میوے راشوکوی. كُلُوا وَاشْرَبُوا - دا دے نه مخکښ يُقَالُ لَهُمْ مقدر دے۔ جنتیانو ته به ویلے شی د جنت ښه هضم کوونکی خوراکونه او د څښلو څیزونه خوند او مزه واخلئ او دا ستاسو د هغه نیک کارونو انعام دے کوم چه تاسو د دنیا په ژوند کښ اوکړل۔

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ ۙ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي

چا ته چه ملاؤ شوه هغه لیکلے شوے (عملنامه) د هغه په ګس لاس کښ، هغه وائی تخو مره ښه به وے

لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يَا لَيْتَهَا

چه ما ته نه وے راکړے شوے زما لیکل شوے عملنامه او ما ته خبر هم نه وے چه څه دے حساب زما. په شان طریقه هغه

كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿۲۷﴾ مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿۲۸﴾ هَلَكَ

مرګ ختم کړے وے هغه لره . هیڅ بکار را نه غلو ما ته زما مال . برباد شو

عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿۲۹﴾ خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ

زما حکومت . ف۱ هغه اونیسئ لاس بیا هغه ته کړۍ واچوئ . پس هغه دا وړ په دوزخ

صَلُّوْهُ ﴿۳۱﴾ ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا

کښې واچوئ . بیا په یو ځنځیر کښې چه د هغې اوږدوالے اویا (۷۰) ګزه دے هغه

فَاسْلُكُوْهُ ﴿۳۲﴾ اِنَّهٗ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴿۳۳﴾

اوتړئ . هغه یقین نه وو کړے په الله چه د ټولو نه لوئ دے .

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿۳۴﴾ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ

او تاکید ئے نه کولو د فقیر په طعام ورکولو . پس هیڅوک نشته ن د هغه دلته

هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿۳۵﴾ وَلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿۳۶﴾ لَا

او ملاؤ نشو هغه څوک دوست، او ملاؤ نشو د خوراک څیز لیکن د زخمو نو وینځے ئے . هیڅوک

يَأْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِئُوْنَ ﴿۳۷﴾

نه خوري هغه لیکن هم دغه ګنهګاران .

موضح قرآن ف۱ د هر یو د اعمالو کاغذونه به والوزولے شي چا ته چه په ښي لاس کښې ورکړے هغه د نیک بختۍ علامه شوه . او چا ته چه په کینړ لاس کښې ملاؤ شو یا شا له طرفه نو هغه د بد بختۍ علامه شوه ۱۲ منه رحمه الله علیه .

تفسیر ۱۱ے وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ . دا تخویف اخروي دے . کافرانو او مشرکانو ته چه کله اعمال نامے په کینړ لاس کښې ورکولے شي نو هغوئ به افسوس سره وائي کاش! ما ته عملنامه چرے هم نه وے راکړے شوے او نه ما حساب کتاب پیژندلے اے افسوس! چه مرګ فیصله کوونکے وے او د هغې نه پس زه دوباره نه وے ژوندے کړے شوے یا نه وے پا سولے شوے او ما خپله عملنامه نه وے لیدلے . ن نن زما مال پکار را غلو او نه زما حکومت باقي پاتې شو غرض دا چه په هغوئ باندې به مکمل ناامیدي احاطه کړے وي . دا معامله د جزاء او سزا او فیصلے نه مخکښې ده .
۱۱ے خُذُوْهُ . د جزا او سزا فیصلے کیدلو نه وروستو به فرشتو ته حکم اوشي چه دده

په ختې کښې طوق (غاړه کښې) واچوئ اؤ دے په اوږدیا گزه اوږده زنځیر کښې اوتړئ. دے زورند کړئ اؤ جهنم کښې ئے اوغورځوئ. دے صورت کښې به ثُمَّ تعقیب ذکری دپاره وی یا مطلب دا دے چه دے به په زنځیرونو کښې اوتړی اؤ جهنم ته به ئے اوغورځوی اؤ بیا به ئے په اویا گزه اوږده زنځیر کښې د ننه اوتړئ دے دپاره چه هغه په جهنم کښې اونه خوځی.

ملله إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ دا د ما قبل علت دے د کافراؤ مشرک دا سزا به ځکه وی چه هغه صرف په الله پاک ایمان نه لرلو بلکه د هغه نه سیوا د خپله ځانه جوړ کړے شوے معبودانو عبادت هم کولو اؤ هغه ئے برکات ورکونکی گڼړل. د هغه شان هغه نه خو مسکینانو ته د طعام ورکولو ترغیب نورو خلقو ته ورکولو اؤ نه ئے د خپل مال نه مسکینانو ته خوراک دپاره څه ورکول اؤ نه ئے خادمانو خپلو ته د دے حکم ورکولو. فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ . د دے وجه نه نن د هغوئ دلته څوک دوست اؤ غمخور نشته. نن د هغه دپاره نه څوک خوراک شته لیکن وینه زوے دی. چه د جهنمیانو د زخمونو نه به بهیږی هم دا خوراک به وی د هغوی اؤ د دے مجرمانو نه به سیوا هغه هیڅوک نه خوری.

فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّهُ

پس قسم خورم ملله په هغه څیزونو کوم چه وینئ اؤ کوم څیزونه چه تاسو نه وینئ. دا

لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿٤٠﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيلًا مَّا

خبره د یو خبر راوړونکی سردار ده اؤ نه دا خبره د یو شاعر. تاسو ډیر لږ

تُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

یقین کوئ. اؤ نه دا خبره د یو پریوالاوده تاسو ډیر لږ نصیحت قبلوئ.

تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا

دا نازل شوے دے د پروردگار عالم له طرفه اؤ که چرے د جوړے کړے وے د ځان نه

بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ

په مونږ څه خبرے نو مونږ به نیولے وے د هغه ښے لاس بیا به

لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ

مونږ پریکړے وے د هغه ختے ملله پس تاسو کښې هیڅوک دا سے نشته چه د هغه

حَاجِزِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ وَإِنَّا

نه تاسو خلاص کړی ملله اؤ دا نصیحت دے هلله ویریدونکو دپاره اؤ مونږ ته

لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ

معلوم دی چه تاسو کښې ځینی دروغ ګڼونکی - او هغه به پښیمانتیا ده

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾ وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿۵۱﴾ فَسَبِّحْ

په کافرانو — او هغه (قرآن) یقیني دی — پس پاکی بیانوه

بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۵۲﴾

دخپل لوئے پروردګار په نوم سره.

موضح قرآن

ف یعني که چرے دروغ ئے جوړولے په الله باندې نو هغه به د الله دشمن وے هغه بسئے دلاس نه نیولے وے. دا قانون دے چه دخپل ورځ وخلوند مخکښ جلاد د هغه شے په خپل کیڼ لاس سره نیسی دے د پاره چه هغه دخپل ځائے نه او نه ښوری.

فتح الرحمن

مترجم وائي چه د جلاد (توره وهونکے) عادت دا دے چه د قیدی لاس په خپل کیڼ لاس نیسی او د هغه ښئ لاس سره په توره باندې وهی. لهٰذا په دے طریقه تعبیر اوکړے شو.

تفسیر

ټله فَلَآ اُقْسِمُ. د قسم جواب محذوف دے. لَا تُبْصِرُوْنَ کښې هغه ټول څیزونه داخل دی کوم چه په نظر نه راځی مثلاً پیریان، فرښتے، دا د قیامت په ثبوت باندے دلیل دے یعني څنګه چه په دُنیا کښې ډیر څیزونه تاسو ته په نظر نه راځی. لیکن ددے باوجود تاسو د هغه موجود والے منئ. ددے وجه نه آخرت چه په نظر نه راځی د هغے نه هم انکار مه کوئ بلکه دے ته ګورئ چه د آخرت خبر در کوونکے څوک دے؟ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ. دا څیز اخان له جُعل ده دا دیو محترم او مکرم رسول (محمد صلی الله علیه وسلم) د ژبے نه وتلے خبره ده چه هغه ئے دخپل پروردګار له طرفه تاسو ته رسوی. دا د هغه دخپل ځانه جوړه کړے شوے خبره نه ده. نه د کوم شاعر قول دے نه د یو کاهن (څوک چه د پیری سره تعلق او مناسبت لری) خبره ده یعني محمد صلی الله علیه وسلم زیښتونے رسول دے هغه نه شاعر دے نه کاهن لیکن ددے باوجود تاسو ډیر کم منئ او نصیحت قبلوئ. دا کلام د رب العالمین له طرفه نازل شوے دے.

یا اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ جواب د قسم دے او دا د قرآن کریم کلام الله کیدلو او وحی کیدلو باندے دلیل دے تاسو ډیر څیزونه د لیدلو نه بغیر هم منئ نو د وحی نه هم انکار مه کوئ که چرے تاسو د وحی نازلیدل په خپلو سترګو نه وینئ.

ټله وَلَوْ تَقَوَّلَ. دا دلیل د صداقت رسول الله صلی الله علیه وسلم. د یمین معنیٰ قوت ده او قدرت. که چرے بالفرض محمد علیه السلام زمونږ په ذمه کوم یو دروغ خبره تړلے وے نو مونږ به په پوره قدرت سره د هغه نیول کړے وے او د هغه د ژوند رګ به مو پرې کړے

وے او بیا به ستاسو نه هیڅوک هغه زمونږ د گرفت نه نه وے بچ کړے . چونکه د الله تعالیٰ له طرفه په هغه صلی الله علیه وسلم باندې هغه قسم عذاب نازل نه کړے شو نو دا د دے خبرے دلیل دے چه هغه د الله تعالیٰ رښتونے پیغمبر دے او هغوی چه کوم شے بیانوی هغه قول د الله پاک له طرفه دی د قادیان دجال مرزا غلام احمد دے آیات سره په خپل صداقت دلیل نیولے دے چه که چرے هغه دروغژن وے نو د هغه د شه رگ به پریکړے شوے وے لیکن داسے او نه شوه لهٰذا هغه په خپله دعوی کښې دروغژن نه دے .

د دے جواب دا دے چه دا آیات کوم چه د قانون بنیاد جوړ کړے شی نو د دے نه چه کوم قانون اخستے شی هغه د رښتونو پیغمبرانو د پاره دے چه که چرے هغوی په الله پاک باندے دروغ جوړ کړی نو د هغوی د شه رگ به پریکولے شی . د دے آیت د نبوت په دروغ دعوؤنکو سره هیڅ تعلق نشته بلکه په دروغ دعوؤنکو ته به د استدراج په طور باندې مهلت ورکولے شی . د دے د پاره چه په خپله بدبختئ او محنترقئ کښې نور هم اضافه اوکړی لهٰذا د الله تعالیٰ غلام احمد قادیانی او د دے قسم نورو دجالانو ته او دروغژنو ته مهلت ورکول د استدراج په طور دی . او دا د هغوی د صداقت دلیل نه دے بلکه د هغوی د دروغو جوړولو ښکاره دلیل دے او برهان دے .

٤٨ وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ . دا قرآن د هغه اخلاقو دبیرینو ونکو د پاره مکمل او پوره عبرت او نصیحت دے . وَإِنَّا لَنَعْلَمُ . مونږ ته ښه معلوم ده چه تاسو کښې د دے قرآن دروغ گنړونکی هم دی مونږ به هغوی ته په دے باندے سخته سزا ورکوو او دا دروغ گنړونکی به آخر د افسوس لاسونه مروړی کله چه هغوی د مؤمنانو ثواب او د کافرانو عذاب اُوګوری نو هغوی به ډیر زیات افسوس کوی چه هغوی به قرآن باندے ولے ایمان رانه وړلو او عمل ئے ورباندے ولے اونه کړو . لَحَسْرَةٌ یعنی د حسرت سبب .

٥١ وَإِنَّهُ لَحَقُّ الْيَقِينِ . دا قرآن داسے یقینی دے چه په دے کښې د هیڅ شک شبهه هیڅ گنجایش نشته . د ده مضامین ډیر زیات محکم او دلائل ډیر زیات مضبوط دی . فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ . دا د سورة دعوی ده . د الله پاک د هر عیب او هر قسم شرک نه بیان کړه . او د هغه نه سیوا هیڅوک برکات ورکوونکے مه گنړه .

د سورة الحاقة خصوصیت

۱۔ د تبارک دعوی نه منونکو د پاره تخویف اُخروی .
۲۔ د الله تعالیٰ رښتونے پیغمبر په خدائے افتراء نه کوی .

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ

ربط : سورة الحاقة کښې د تبارک دعوئ نه منونکو د پاره دُنیوی او اُخروی تخویف اوروُلے شویدے اوس خو پکار داوه چه هغوئ د مے دعوئ د انکار نه واپس شی او په توحید او رسالت باندے ایمان راوړی لیکن دد ے باوجود هغوئ اُلټه د الله تعالیٰ د عذاب مطالبه کوی. سَئَلَ سَآئِلٌ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ (المعارج).

خُلاصه : زجر، تخویفِ اُخروی، زجر مشرکانو د پاره.

تفصیل سَئَلَ سَآئِلٌ تا وَّ نَرٰىهُ قَرِيْبًا ○ دا معاندینو د داسے لوئے شان والا بادشاه نه عذاب غواړی. حال دا دے چه هغه عذاب خو به په هر حال کښې راځی، دومره لوئے عظیم شهنشاه نه خو د هغه د فضل او رحمت او عفو، مغفرت درخواست کول پکار وو.

يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ تا وَّ اِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا ○ دا زجر دے اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ○ تا اُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ○ دا بشارت اُخرویه دے. مؤمنانو به دے صفتونو سره متصف وی هغوئ به د خدائے د عذاب نه محفوظ وی او د جنت په باغونو کښې به عزت او اکرام سره ژوند تیروی.

فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تا وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ○ زجر دا معاندینو د حق نه مخ اړوی او بیا د اُمید لری هم چه جنت ته به داخلولے شی. فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا تا ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ○ زجر دے سره د تخویفِ اُخروی نه هغوئ پریګده چه په عبث او بے فائده خپل وخت ضائع کړی تردے چه هغوئ د قیامت په ورځ ذلت او رسوائی سره د خپل عملونو خوند او مزه اوڅکی.

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورۃ معارج په مکه کښې نازل شو او دوه اَیتونه څلویښت او دوه رکوعګانے دده دی ۴۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۙ ① لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ

لے او غوښتنه یو غوښتونکی عذاب واقع کیدونکے کافرانو د پاره. هیڅوک نشته د هغے

لَهٗ دَافِعٌ ﴿۲﴾ مِّنَ اللّٰهِ ذِی الْمَعَارِجِ ﴿۳﴾ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ

لره څوک منع کونکے ﴿۱﴾ راغلے دالله له طرفه چه د اوچتو درجو والا دے . ختیږي به هغه ته فرښتے

وَالرُّوْحُ اِلَیْهِ فِیْ یَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِیْنَ

او روح په هغه ورځ کښې چه دے اندازه د هغې پنځوس

اَلْفَ سَنَةٍ ﴿۴﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِیْلًا ﴿۵﴾ اِنَّهُمْ یَرَوْنَهٗ

زره کلونه دے پس ته صبر اوکړه ښه طریقے سره صبر کول ﴿۱﴾ هغوی دغه (عذاب) وینی

بَعِیْدًا ﴿۶﴾ وَّنَرٰىهُ قَرِیْبًا ﴿۷﴾ یَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ

لرې او مونږ هغه وینو نزدې په کومه ورځ کله چه وی به اسمان

كَالْمُهْلِ ﴿۸﴾ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ﴿۹﴾ وَلَا یَسْئَلُ

لکه تانبه ویلی شوے او وی به غرونه د رنګ شوے وړۍ په شان او تپوس به نه کوی

حَمِیْمٌ حَمِیْمًا ﴿۱۰﴾ یُّبَصَّرُوْنَهُمْ ۚ یَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ

دوست د دوست ښودل به هغوی ته نظر راشی . غواړی به ګنهګار ښه چه په دغه

یَفْتَدِیْ مِنْ عَذَابِ یَوْمِئِذٍۭ بِبَنِیْهِ ﴿۱۱﴾

طریقه بائے ورکړی د ځان خلاصولو د پاره د دغه ورځے د عذاب نه خپل ځامن.

نکات : ۱ د سورة موضوع ۱۲ ـ ۲ تخویف اُخروی ۱۲

موضح قرآن
ف۱ یعنی پیغمبر ستاسو د پاره عذاب غواړلے دے هغه به د ځیني نه نه شی د فع کولے
او د قیامت ورځ پنځوس زره کلونه ده ، کله چه د قبرونو نه راوځی او ترڅو چه
دوزخیان دوزخ ته او جنتیان جنت ته ننوځی .

فتح الرحمن
ف۱ یعنی ویل به ئے مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ف۲ یعنی جبرئیل.

تفسیر : سَاَلَ سَآئِلٌ بِّالْكٰفِرِیْنَ وَاقِعٌ سره متعلق دے مِّنَ اللّٰهِ دَافِعٌ
سره متعلق دے یعنی دغه عذاب د الله تعالیٰ له طرفه واقع کیدو لو هیڅوک منع کونکے نشته یا
واقع سره متعلق دے د ا ندر پایو والا نه اسمان مراد دے د ا د الله تعالیٰ لوئے شان طرف
ته اشاره ده . فِیْ یَوْمٍ ـ تَعْرُجُ سره متعلق دے . فرښتے چه کله د خپلو مخصوص ځایونو نه واپس
ځی نو هغوی دومره فاصله قطع کوی لکه چه د هغے قطع کولو د پاره انسانانو له د پنځوس زره

کونه زمانه پکار وی لیکن فرښتې هغه فاصله په څو سیکنډونو کښې قطع کوی ای عروج الملائکة الی المکان الذی هو محلهم فی وقت کان مقدارہ علی غیرهم لو صعد خمسین الف سنة (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۸۱) الروح نه جبرئیل علیه السلام مراد دے (روح) دا معنا دا ده چه د الله نه عذاب غواړی هغه عذاب کوم چه په کافرانو باندے خواه مخواه راتلونکے دے چه هغه د پاره څوک منع کوونکے دے او لوے عظمت او شان والا الله له طرف نه چه د هغه طرف ته فرښتے د انسانانو په حساب سره د پنځوس زره کلونه فاصله قطع کړی اورسیږی. یا فِیْ یَوْمٍ واقعٌ یا یقع مقدر سره متعلق دے او مراد د قیامت ورځ ده یعنی هغه عذاب به هغه ورځ کښې واقع وی د کوم مقدار چه به پنځوس زره کلونه وی ای یقع العذاب بهم فی یوم کان مقدارہ خمسین الف سنة یعنی یوم القیامة (مظهری ج ۱۰ ص ۷۹)
حضرت شیخ قدس سره فرمائی چه دا ئے په طور د تهکم او استهزاء او فرمایل چه د دغه عظیم الشان بادشاه نه غوښتونکی څه او غوښتل؟ عذاب کوم چه په هغوی باندې راتلونکے دے هغه که او غواړی او که او نه غواړی. واه شاباش! آیا د دا سے شهنشاه نه دا سے څیزونه غوښتلے شی؟
۵ فَاصْبِرْ صَبْرًا - تسلی نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره د مشرکانو مطالبه د عذاب د عناد او استهزاء په طور ده تاسو د هغوی په سرکشئ عناد او تکذیب او انکار باندے د صبر و تحمل نه کار واخلئ هغوی عذاب د عقل او امکان نه لرے گنړی لیکن مونږ هغه بالکل نژدے وینو کوم څیز چه خواه مخواه راتلونکے وی هغه نژدے وی.
۸ یَوْمَ تَکُوْنُ السَّمَآءُ - تخویف اخروی. د ظرف متعلق محذوف دے چه د سوال مقدر جواب دے یعنی هغه عذاب به کله راځی؟ جواب ورکړے شو کله چه آسمان د ویلی شوے تانبے په شان او گرځی. کأنه قیل متی تقع ذالک العذاب؟ یقع یوم تکون السماء افاده الشیخ قدس سره یا د اد قریبًا سره متعلق دے یا د یقع مقدر سره مراد د دینه د قیامت ورځ ده د قیامت منظر به ډیر نهایات هیبتناک وی. د قیامت په ورځ به آسمان د ویلی شوے تانبے په شان سور شی او غرونه به د دو هلے شوو مالوچو په شان وی د هغه ورځ به یو مخلص نه مخلص دوست هم د خپل کوم دوست خبر نه اخلی حال داسے چه ټول دوستان به یو بل ته گوری او وینی به لیکن هیڅ به نه شی کولے.
۱۱ یَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ یَفْتَدِیْ نه واخله تُنْجِیْهِ پورے د یَوَدُّ مفعول دے. د قیامت منظر به داسے ډیر ویرونکے او عبرتناک وی چه په دغه ورځ به مشرکان تمنا کوی چه ئ هغوی خپل ځامن او ښځه خپله او خپل رونړه خپل خاندان څوک چه په دنیا کښې د هغه امدادیان او حمایت کوونکی وو بلکه په دنیا کښې اوسیدونکی ټول مخلوق د فدیه په طور ورکړی د عذاب نه خپل ځان خلاص کړی. کَلَّآ لیکن داسے به هرگز نه وی او د عذاب نه به په هیڅ شان خلاصے نه شی مونده لے اِنَّهَا لَظٰی. هغه به د دوزخ گرمه لمبه وی او د دوزخیانو څرمنے ویستونکے دے چا چه په دنیا کښې د حق دین نه مخ واړولو او اعراض ئے اوکړو مال دولت ئے ذخیره کړو او د الله تعالی په لاره کښې ئے خرچ نه کړو هغه به د ورځ ځان طرف ته راوبلی او وائی به اے مشرکانو! اے منافقانو، دے خوا راشئ. تقول النار الیّ یا مشرک، الیّ یا منافق، الیّ الیّ (مظهری ج ۱۰ ص ۶۳).

وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَن

او خپله بی بی سره او خپل ورور   او خپل خاندان په کوم کښې چه هغه اوسیده   او څومره

فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ ﴿١٤﴾ كَلَّا ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً

(مخلوق) چه په زمکه اوسیدل   ټول بیا خپل ځان خلاص کړی (داسې) هرګز نه ده هغه ګرم اور دے   راښکونکے د

لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدْعُو مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰ ﴿١٨﴾

اینه آواز   کوی هغه چاته چا چه شا   او ګرځوله او ګرځید لا رے   او یو ځائے کړ و حفاظت ئې او ساتلو

إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾

بے شکه انسان کمزورے پیدا شوے دے   کله چه اورسیږی هغه ته ضرر نو بے صبره دی

وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ

او کله چه اورسیږی هغه ته فائده نو بخیل دے. لیکن هغه مونځ کوونکے چه په ځان خپلو

هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ

مونځونو همیشوالے کوی   او د چا په مال کښې چه حصه

حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿٢٥﴾ وَالَّذِينَ

حصه مقرره ده   غوښتونکی او نه غوښتونکی فقیر د پاره.   او هغوئ چه

يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ

یقین ساتی د انصاف په ورځ باندے   او هغوئ چه د خپل رب د عذاب نه

رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿٢٧﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴿٢٨﴾

ډیریږی   بیشکه د هغوئ د رب د عذاب نه بےخوفه کیدل نه دی پکار.

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ

او هغوئ چه د خپل ځائے شهوت حفاظت ئې ساتی   لیکن د خپلو بیبیانو نه

أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾

یا د خپل لاس ماتحت (وینځو) نه   نو په هغوئ باندے هیڅ ملامتیا نشته.

نکات ۱ زجر ۱۲ ۲ بشارت اُخرویه ۱۲.

موضح قرآن ۱ تول به په نظر راځي یعنې د هغوئ دوستي بے کاره وه ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ ۱۲.

تفسیر

۱ اِنَّ الْاِنْسَانَ - دا زجر دے الانسان نه جنسِ اِنسان مُراد دے. د کافرانو نه روبه ډیر نهایت کمزوری او ضعیف وي په خیر او شر کښې د قابو نه بهر شي نو چه کله د هغه حال خراب وي نو ډیر نهایت خراب طریقه سره ژړا فریاد کوي او نا اُمید گرځي او کله چه خوشحال وي نو تکبر کوي او په کارِ خیر کښې خرچ نه کوي روستو ئي د وارو آیتونو د اول آیت تفسیر دے. (اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا) ثم فسره بقوله (اذا مسه الشر جزوعا) ای اذا اصابه الضر فزع وجزع وانخلع قلبه من شدة الرعب وأیس ان یحصل له بعد ذلك خیر (واذا مسه الخیر منوعا) ای اذا حصلت له نعمة من الله بخل بها علی غیره ومنع حق الله تعالیٰ فیها (ابن کثیر ج ۴ ص ۴۲۱).

۲ اِلَّا الْمُصَلِّیْنَ - الّا په معنیٰ ولکن دے اسم ته نصب ورکوي او خبر ته رفع ده خبر کله محذوف وي او کله مذکور دلته مذکور دے المُصلّین الخ ده اِسم دے او اولٰئك فی جنّٰت مکرمون دده خبر دے (رضی شرح کافیه) او دا په دَ بعذابٍ واقع سره متعلق دي. لیکن مصلّین (مونځ کوونکي) ځکه چه دَ الله تعالیٰ نیک او مقبول بندګان دي هغوئ به په جنّٰتِ النّعیم کښې وي. دَ اِنَّ الاِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا سره متعلق نه دے دے دپاره چه دا معنیٰ جوړه شي چه دِ انسان زړه نکیه او (کمزورے) دے لیکن مونځ کوونکي دده نه مستثنیٰ دي ځکه چه د نکیه زړه ونو والا خو تول دي افاده الشیخ رحمه الله تعالیٰ دلته دَ دفعِ عذاب دپاره دَ دریو امورو بیان دے هغے نه دَ محفوظ پاتے کیدونکو دَ الله دَ مقبول بندګانو صِفتونه دا لاندینی دي.

۳ اَلَّذِیْنَ هُمْ عَلٰی صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ هغوئ مونځونه قائموي یعنې مونځونه د تولو آدابو او فرائضو سره اَدا کوي دَآئِمُوْنَ ای مُوَاظِبُوْنَ (مدارك) دَآئِمُوْنَ ای مُقِیْمُوْنَ (صراح) د هغوئ په مالونو او ځاروو کښې دَ فقراؤ او مِسکینانو معین حق دے. مُراد فرض زکوٰة دے. هغوئ د خپل مال زکوٰة ادا کوي یعنې اِحسان کوي اَلسَّآئِلُ. هغه فقیر چه سوال کولو سره څیز اَخلي او المحروم نه مُراد هغه فقیر دے چه دَ حیا نه سوال نه کوي او محروم پاتے کیږي. د دے وجه نه دا اسے مستحقینو طلب او تلاش کول پکار دے او په خپله هغوئ ته ورکړه پکار ده. والَّذِیْنَ یُصَدِّقُوْنَ هغوئ د قیامت په ورځ بَانَدے ایمان لري او دخدائے دَ عذاب نه ویریدونکي دي. او په لرزان وي. اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَیْرُ مَاْمُوْنٍ جُمله معترضه ده چه په دے کښې دخدائے پاک دَ عذاب شدّت او عَظمت طرف ته اِشاره ده یعنې دالله تعالیٰ عذاب یو داسے څیز دے چه دَ هغے نه هیچا له بے خوفه کیدل نه دي پکار بلکه هر یو له دَ هغے نه خوا چه هغه هر څومره نیک ولے نه وي هغه له یریدل پکار دي.

۴ وَالَّذِیْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ. هغوئ خپل شرمګاهونه دَ بدکارئ نه محفوظ ساتي او ناجائز طریقو باندے هغه نه استعمالوي. لیکن دخپلو بیبیانو او وینځو نه نفع حاصلوي. کوم سړے چه دخپلو ښځو او وینځو نه علاوه دَ شهوت پوره کولو بله کومه لاره طلب کړي نو هغه به

دحد نه تجاوز کوی. استمنا بالید، (لاسو لو سره منی خارجول) او وطی فی الدبر (دښځې لارنه راتلل)، او نکاح متعه (دیو معین وخت دپاره نکاح کول) وغیره په ناجائز طریقو کښې داخل دی. دنکاح متعه تحقیق سورة مؤمنون په تفسیر کښې تیر شوے دے. ص حاشیه ۷

فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿۳۱﴾

پس څوک چه طلب کړی دد ے نه سیوا نو همغوی دی دحد نه تجاوز کوونکی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِيْنَ

او کوم خلق چه دے خپلو امانتونو او وعدو لره ساتونکی دی او څوک چه په خپلو

هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ

ګواهو باندے سم برابر ولاړ دی او څوک چه دخپل مونځ

يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾ اُولٰٓئِكَ فِىْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۳۵﴾ فَمَالِ

حفاظت کوی همدغه خلق دی په باغونو کښې په عزت سره. ا ے بیا پس غه شوی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا قِبَلَكَ مُهْطِعِيْنَ ﴿۳۶﴾ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ

په کافرانو باندے چه ستا طرف ته په منډا منډه راځی. دښی طرف نه او د

الشِّمَالِ عِزِيْنَ ﴿۳۷﴾ اَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ

ګس طرف نه ډلے ډلے. کله آیا طمع لری دد وی نه هر سړ ے چه

يُّدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيْمٍ ﴿۳۸﴾ كَلَّا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾

داخل شی دنعمت باغ ته. هرګز داسے نه ده. مونږ همغوی پیدا کړی دی دهغه نه کوم چه همغوی پیژنی

فَلَآ اُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ وَالْمَغٰرِبِ اِنَّا لَقٰدِرُوْنَ ﴿۴۰﴾

وا ډله نو کله چه قسم خورم په رب د مشرقونو او د مغربونو چه بیشکه مونږ قادر یو

عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ ۙ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۴۱﴾

چه بدل کړو ددوی په ځائے دوی نه بهتر او زمونږ د قابو نه بهر او نه ادځی. کله

فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ

نو پریږده همغوی چه خبرے جوړ ے کړی او لوبے او کړی ترڅو چه ملاؤ شی دخپلے هغه ورځے سره

الَّذِیْ یُوْعَدُوْنَ ﴿۴۴﴾

دکوم چه هغوی سره وعده کړے شوې ده.

نکات: ۱: زجر کافرانو دپاره. ۲: د مشرکانو د باطل قول جواب. ۳: زجر سره تخویف دنیوی.

موضح قرآن ف۱ یعنی د بد بوئیه مني نه هغه چرته د جنت لائق دے لیکن چه کله ایمان سره پاک وي نو بیا لائق دے ۱۲ منه رحمه الله.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی د منی نه.

تفسیر ۲۲ وَالَّذِیْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝ هغوی د امانتونو حفاظت او د خپلو وعدو پوره والے کوي. یعنی ظلم نه کوي او هغوی خپله گواهی پوره پوره ادا کوي او په گواهی کښې کمے زیاتے او بدلون نه راولي او هغوی د مونځونو پوره پوره حفاظت کوي. اُولٰٓئِكَ فِیْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ - اِلَّا بمعنی ولکن خبر دے د صفتونو سره موصوف د الله تعالیٰ مقبول بندګان به د جنت په باغونو کښې ډیر زیات عزت او شان سره اوسیږي.

۲۳ فَمَالِ الَّذِیْنَ - زجر کافرانو دپاره کله چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم په بیت الله کښې مونځ کولو او د قرآن تلاوت به ئے کولو نو کافران به په منډه منډه راتلل او د جوماتو او ټولی په شکل کښې به د هغوی نه گیرچاپیره شول او استهزاء او ټوقے به ئے کولے او وئیل به ئے که چرے د خلق جنت ته لاړشي نو مونږ به د هغوی نه جنت ته مخکښې داخل شوي یو د دے سره دا آیت نازل شو مُهْطِعِیْنَ ای مسرعین. عِزِیْنَ - د عزة جمع ده. ای جماعات فی تفرقة مهطعین او عزین والذین کفروا نه حال دے عزین د مهطعین د ضمیر نه حال دے یا داد کان محذوف خبر دے ای کانوا عن الیمین الخ اهل عرب ډیر اوقات کښې کان سره د اسم نه حذف کوي او خبر باقي پریږدي. کما قال ابن مالك فی الالفیة ؎ یحذفونها ویبقون الخبر ٭ بعد ان ولو كثیرا اشتهر.

افادة الشیخ قدس سره. یعني دے کافرانو باندے څه شویدي چه ستا طرف ته په منډه منډه راځي او ښئ او ګس طرفونو ته ټولی ټولی شي گیره واچوي او د الله کلام پورے ټوقے کوي.

۲۴ اَیَطْمَعُ - دا د مشرکانو د باطل قول جواب دے چه که چرے د خلق جنت ته لاړشي نو مونږ به د دوی نه مخکښې جنت ته ځو. آیا د دوی کښې هر یو سړے د اُمید لري چه هغه به د دوزخ نه بچ کړے شي او جنت ته به داخل کړے شي؟ هرگز داسے نه شي کیدے هغوی به خمونږ تبینی کولو سره جنت ته داخل نکړے شي حال دا دے چه هغوی مونږ د یو څیز نه پیدا کړیدي چه هغوی ښه پیژني یعنی پلیته نطفه نو دا پلیته نطفه چه ترڅو ایمان راننه وړي او نیک عمل سره خپل د کمال حد ته او نه رسیږي جنت ته نه شي داخلیدے (م ۳۷).

۲۵ فَلَآ اُقْسِمُ - د قدرت کامله بیان دے. د مشرق او د مغرب مالك باندے قسم دے

موږ په دے قادر یو چه هغوی هلاک کړو او د هغوی په ځائے بل داسے انسانان راولو چه په ایمان او عمل کښ د دوی نه بهتر وی او د دے کار نه موږ ناچاره او عاجز نه یو.

۴۲ فَذَرْهُمْ . زجر سره د تخویف دنیوی. دے نزمایئل تاسو د دے کافرانو سرکشۍ او عناد او استکبار او انکار پرواه مه کوئ او هغوی په خپلو کولو انکار لهو لعب کښ غرق پریږدئ ترڅو چه هغوی هغه ورځ بیا موږی دکوم چه هغوی سره وعده کیږی مراد د قیامت ورځ ده یعنی اوس خو هغوی په عبث او بے هوده کارونو او خبرو کښ نښتلی دی او حق نه منی د قیامت په ورځ به تیښتک شي يَوْمَ يَخْرُجُونَ دا به هغه ورځ وی چه کله هغوی د قبرونو نه راوځی او تلوار تلوار سره به روان وی لکه چه دیوے نښی طرف ته روان دی لکه چه یو انسان د نښے طرف ته نیغ برابر تیزۍ سره روان وی دغه شان به هغوی د داعی طرف ته نیغ روان دی. یوفضون ای یسرعون (روح) خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ . د هغوی سترګے به ذویږے په وجه سره ښکته دی او په هغوی باندے به ذلت او رسوائی خوره شوے وی او د خاموش لاجواب کولو او پښیمانه کولو د پاره به هغوی ته ویلے شي چه دا هغه ورځ ده چه دکوم وعده ستاسو سره کولے شوه چه کوم نه منی نو د قیامت په ورځ به په درد ناک او رسوا کوونکی عذاب کښ مبتلا شی ذَٰلِكَ الْيَوْمُ مقول يقال لهم محذوف دے.

يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ

کومه ورځ چه راوځی د قبرونو نه منډے وهونکی لکه چه یوے نښے طرف ته په

إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ

منډه منډه ځی ښکته به وی سترګے د هغوی د پاسه


تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۚ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا

به خورے وے په هغے باندے ذلت. دا هغه ورځ ده دکوم چه ستاسو سره

يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

وعده ده.

نکات: ۱ تخویف اخروی ۲.



سورۃ نوح علیہ السلام

ربط: سورۃ مُلک نه واخله سورۃ جن پورے د مضمون په اعتبار گویا چه یو سورة دے په سورۃ مُلک کښې عقلی دلائلو سره ثابته کړے شوه چه د الله تعالیٰ نه سیوا څوک برکات ورکولو والا نشته. بیا په سورۃ قلم کښې ئے او فرمائیل دے مسئله کښې نرمی مه کوه. مخ نه ورستو ئے په سورۃ الحاقة کښې دوسے دعوی نه منونکو دپاره تخویفات او منونکو دپاره تبشیرات بیان کړل بیا المعارج کښې معاندینو باندے زجر او کړے شو چه هغوی د عذاب نه ویریږ لو سره د منلو په ځائے الټه د عذاب طلب کوی. او س په په سورۃ نوح کښې او سورۃ جن کښې د دلائل نقلیه بیان دی. په سورۃ نوح علیه السلام کښې دلیل نقلی تفصیلی نوح علیه السلام سره ذکر شوے دے.

خُلاصه: د حضرت نوح علیه السلام دعوت د قوم انکار او تکبر کول د کافرانو د بیخ کندی یوه نمونه او د حضرت نوح علیه السلام د تبلیغ په ضمن کښې دلائل عقلیه. حاصل دا چه د توحید په تبلیغ کښې هیڅ کے او نه کړی او د مشرکانو په مخالفت او ایزاء باندے صبر کوی او د تبلیغ کار جاری ساتی.

تفصیل: اِنَّا اَرْسَلْنَا نُوْحًا ...... تا ...... لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ. دلیل نقلی تفصیلی نوح علیه السلام سره. حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته د توحید دعوت ورکړو او د انکار او ځان لوئے گڼرلو په صورت کښې ئے هغوی د خدائے د عذاب نه او ویره ول. قَالَ رَبِّ اِنِّیْ دَعَوْتُ قَوْمِیْ ...... تا ...... وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا. د الله په دربار کښې د حضرت نوح علیه السلام له طرفه د خپل قوم شکایت. خدایا پروردگاره! ما خپل قوم ته هر ممکن طریقے سره د توحید دعوت ورکړو د هغوی په پوهولو کښې م شپه او ورځ یوه کړه په ډکو مجلسونو کښې م هم هغوی ته دعوت ورکړو او ځان له ځان له م هم هغوی پوهه کړل او بیا عقلی دلائلو سره م مسئله واضحه کړه او پیش م کړه لیکن د دے ټولو سره په هغوی هیڅ اثر او نه شو ما چه هر څو مره هغوی پوهه کړل هغوی هغه هو مره په انکار او استکبار کښې مخکښې لاړل وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ. دا د قوم عناد او استکبار بیان دے. مِمَّا خَطِیْئٰتِهِمْ اُغْرِقُوْا. تخویف دنیوی دے کله چه د الله تعالیٰ عذاب په هغوی راغلو نو د هغوی د خیالی معبودانو نه یو هم د هغوی په کار رانه غلو. هیڅ امداد ئے او نه کړے شو. وَقَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْ الخ حضرت نوح علیه السلام الله ته درخواست او کړو چه د مشرکانو نه یو هم ژوندے مه پریږده ځکه چه هغوی که ایمان والا هم گمراه کړی او د هغوی نسل به هم فاجر او مشرک وی.

❁ ❁ ❁

سُورَةُ نُوحٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَعِشْرُونَ اٰيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورة نوح ده مکه کښې نازل شوې ده او دوه آيتونه اتۀ ويشت او دۀ رکوعګانې دوه دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډير زيات مهربانه او ډير رحم کوونکے دے.

اِنَّآ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ

مونږ اوليږلو نوح د هغۀ قوم ته چه او ويره ده خپل قوم

قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱﴾ قَالَ يٰقَوْمِ

مخکښې د دې نه چه راشي عذاب دردناک وے ويل اے خما قومه!

اِنِّيْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲﴾ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

زۀ تاسو له ښکاره ويرووونکے يم چه بندګي کوئ د الله تعالٰی

وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۳﴾ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ

او د هغۀ نه او ويريږئ او خما خبره اومنئ. دے دپاره چه بخښنه اوکړي هغه تاسو ته ځنې ګناهونه

وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ

او وروستو به کړي تاسو تر يو مقرّرې وعدې پورې هغه کوم چه وعده کړې ده الله تعالٰی

اِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۘ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴﴾

کله چه راشي هغه به نه وروستو کيږي. کۀ چرې تاسو پوهيږئ وا

نکات: ۱ـ دليل نقلي تفصيلي نوح عليه السّلام سره.

موضح قرآن ف يعني بندګي کوئ چه نوم د انسان په دنيا کښې تر قيامته پورې پاتے شي او قيامت خو به نشي رد سترګو لے او کۀ نۀ وي په شريکه د الله تعالٰی عبادت پريږدي نو ټول به اوس هلاک شي. طوفان دومره زيات راغلے وو چه يو انسان هم بچ پاتے نۀ شو. د حضرت نوح عليه السّلام خلاصے او نجات بنده ګئ سره او شو. ۱۲. منه رحمة الله عليه.

تفسير ۲ـ اِنَّآ اَرْسَلْنَا. دليل نقلي تفصيلي نوح عليه السلام سره مونږه نوح عليه السّلام د هغۀ قوم ته او ليږۀ دے دپاره چه هغه قوم پوهه کړي چه دردناک عذاب راتللو نه مخکښې د توحيد

دعوت اومنئ. قَالَ يٰقَوْمِ. نوح خپل قوم ته اوفرمائیل چه زه تاسو ته داضح او صفا الفاظو سره خبردارونکے یم چه اعبدوا الله واتقوه. تاسو صرف د الله تعالیٰ عبادت کوئ صرف هغه برکات درکونکے کیږی او په حاجتونو مصیبتونو کښې صرف هغه رابلئ د هغه د عذاب نه اوویریږئ او زما خبره اومنئ. حضرت نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله خپل قوم ته د توحید مسئله بیان کړه لیکن هغوی او نه منله آخر هلاک کړے شول. اے د مکے خلقو! راشئ اومنئ کنې په تاسو به هم دخدائے عذاب راځی.

۳ے يَغْفِرْ لَكُمْ مجزوم دے د جواب امر په وجه که چرے تاسو ایمان راوړئ نو الله تعالیٰ به ستاسو گناهونه معاف کړی او مقرر شوے یعنی تر مرگه پورے به تاسو ته بغیر د عذاب نه مهلت درکړی لیکن که چرے تاسو ایمان رانه وړو نو د خدائے عذاب به راشی. د أَجَلٍ مُّسَمًّى نه مراد مرگ دے او د اجل الله نه د دنیوی عذاب معین وخت مراد دے. (جلالین)

د فرشتو سره په طور د تقدیر لیکل شوی وی چه که چرے اومنی خو بهتره ده کنې په هغوی باندے به فلانکی وخت کښې عذاب نازل شی. ومعناه ان الله تعالیٰ کان قضی قبل خلقهم انهم ان امنوا بارك فی اعمارهم، وان لم يؤمنوا عوجلوا بالعذاب (قرطبی ج ۱۸ ص ۲۹۹).

لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ. که چرے تاسو پوهیدلئ چه د ایمان نه راوړلو په صورت کښې که چرے د الله تعالیٰ عذاب راغلو نو هغه به نه شی روستو کولے نو ایمان طرف په منډه منډه تللے. او لیږ روستو والے به هم نه وو کړے. لَوْ به معنیٰ د إِنْ دے یا په خپل اصل باندے په معنیٰ تمنی دے، دے صورة کښې د جواب ضرورت نشته.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴿٥﴾

وے وئیل اے خمارہ ربه! ما رابللے خپل قوم د شپے او د ورځے په وخت کښې.

فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاءِي إِلَّا فِرَارًا ﴿٦﴾ وَإِنِّي كُلَّمَا

پس هغه زما بللو سره نو هم زیاتی او تښتیدل. او زه چه کله

دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي

هغوی رابلل دے دپاره چه ته هغوی ته بښنه اوکړے درکړی گوتے په خپلو

آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا

غوږونو کښې او را اونغاړل خپلے جامے په ځان او ضد اوکړو او تکبر اوکړو

اسْتِكْبَارًا ﴿٧﴾ ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ﴿٨﴾ ثُمَّ

لوئے تکبر وا بیا بے ما رابلل هغوی په ښکاره بیا بیا

إِنِّيٓ أَعۡلَنتُ لَهُمۡ وَأَسۡرَرۡتُ لَهُمۡ إِسۡرَارٗا ⑨

بیا م هغوی ته صفا اووئیل او به پټه م اووئیل پټ د ښیاو سره.

فَقُلۡتُ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارٗا ⑩

نو ما اووئیل د ګناهونو بخښنه اوغواړئ تاسو د خپل رب نه. بیشکه دے هغه بخښونکے.

يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا ⑪ وَيُمۡدِدۡكُم

رالخلاص به کړی په تاسو آسمان ګوړ (شیبه ایز) باران سره او ډېر به کړی ستاسو

بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ جَنَّٰتٖ وَيَجۡعَل

مال. او ځامن او پیدا به کړی ستاسو دپاره باغونه او اوبه ګرځوی

لَّكُمۡ أَنۡهَٰرٗا ⑫ مَّا لَكُمۡ لَا تَرۡجُونَ لِلَّهِ وَقَارٗا ⑬

تاسو دپاره نهرونه. څه شوی دی په تاسو ولے څه امید نه ساتئ د الله د لوئی.

وَقَدۡ خَلَقَكُمۡ أَطۡوَارًا ⑭

او هغه پیدا کړی تاسو قسم قسم وله

أَلَمۡ تَرَوۡاْ كَيۡفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗا ⑮

آیا تاسو اونه لیدل څنګه پیدا کړل الله تعالی اووه آسمانونه لاندے باندے

وَجَعَلَ ٱلۡقَمَرَ فِيهِنَّ نُورٗا وَجَعَلَ ٱلشَّمۡسَ سِرَاجٗا ⑯

او دے ګرځولے سپوږمئ په هغے کښ رڼا او دے ګرځولے نمر ډیوه رڼا کوونکے.

نکات

۱ ترغیب ۱۲ ۲ ترهیب او د عقلی دلائلو بیان ۱۲.

موضح قرآن

ف کېږے شے په ګمان را واچولے د هغه خبره زموږ زړه ته کوز نشی ۱۲
ف۲ یعنی داسے کار ولے نه کوئی چه هغه خپل لوئے سره په تاسو عذاب راوانه لېږی. او قسم قسم ئے پیدا کړی یعنی د مور په خیټه کښ ئے قسم قسم رنګونه بدل کړل ۱۲.

تفسیر

۵ قال رب. حضرت نوح علیه السلام د الله تعالی په دربار کښ د خپل تبلیغی کوشش او محنت او د مشرکانو د عناد او سرکشئ ذکر کوی چه هغه خپل قوم ته د توحید دعوت ورکولو کښ نه ورځ کتلے ده او نه شپه کله چه هغوی ته موقع ملاؤ شوه نو هغوی د خپل قوم په پوهولو کښ هیڅ کمے او نه کړو لیکن چه زه هر څومره هغوی توحید طرف ته

زۀ ئې هغوئ لره هم ځکه نه لرے تختېږي. وَاِنِّیْ كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ. ما چه کله هم هغوئ ته د توحید دعوت ورکړو دے د پاره چه هغوئ ایمان راوړي او ته د هغوئ ګناه معاف کړې نو خوښ سره او ریدل لو سره او د منلو په ځائے په غوږو د نو کښې ګوتے ننباسي دے د پاره چه هغوئ ځما آواز وا نۀ وري. او په خپلو ځانو نو باندے جامے راخورے کړي. ځانونه ئې بند پټ کړل چرته په ما باندے د هغوئ نظر او نۀ لګی ځکه چه کوم سړے د هغوئ د معبودانو باره کښې داخبره کوي چه هغوئ برکات ورکوئی نۀ دي هغه د هغوئ شکل هم نۀ شي برداشت کولے، دا د هغوئ په فکر کښې د هغوئ د معبودانو بے حرمتي ده یعنې منل خو یو طرف ته هغوئ ځما نه دومره زیات نفرت کوونکی دي چه هغوئ ځما خبره اوریدل او ځما طرف ته کتل هم نۀ خوښوي. په کفر او شرک باندے همیشه والے کوي او ځما د دعوت قبلولو او ځما د خبرے منلو نه پوزه پچوي.

۵ ثُمَّ اِنِّیْ دَعَوْتُهُمْ. د وقت د عموم نه روستو د عموم کیفیت ذکر کوي. یعنی ځنګه چه ما د دعوت د پاره هیڅ یو وخت پرے نخود د غه شان ما د دعوت او تبلیغ هره طریقه او هر انداز اختیار کړو دے د پاره چه هغوئ په څۀ نه څۀ طریقه خبره او مني نو ما د اعلان په ذریعه هغوئ یو ځائے ته جمع کړل او د هغوئ په مخکښې مې د توحید دعوت پیش کړو. ثُمَّ اِنِّیْ اَعْلَنْتُ لَهُمْ. بیا د هغوئ د کور د کور مجلسونو ته پخپله لاړم هغوئ ما پوهه کړل. وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ اِسْرَارًا. بیا مې د هغوئ د یو یو ځان له پوهولو کوشش هم اوکړو په دعوت او تبلیغ کښې د ترغیب او ترهیب (طمع ورکولو او ویرولو) نه هم کار واخستلو او عقلي دلائلو سره هم ما مسئله واضحه کړه لیکن د دے باوجود هغوئ ایمان راونۀ وړو.

۶ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا. دا ترغیب دے. مِدْرَارًا د وَيُرْسِلِ مفعول مطلق دے. مِنْ غَیْرِ لفظہٖ یا دا د مبالغے صیغه ده. او د السَّمَآءَ نه حال دے. د السَّمَآء نه مراد وریځ یا باران دے. (مظهري، روح)

ما هغوئ ته دا هم او وئیل چه ایمان راوړي او د الله تعالی نه د خپلو ګناهونو معافي اوغواړي هغه معاف کوونکے دے، هغه به په تاسو په شیبو شیبو د رحمت باران نازل کړي وَيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ ستاسو مال اولاد کښې به برکت واچوي ستاسو د پاره به د میوو دانو باغونه تروتازه پیدا کړي او نهرونه به ستاسو د پاره جاري کړي.

۷ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ. دا د ترهیب او عقلي دلائلو ذکر دے. د تَرْجُوْنَ معنی ده تَخَافُوْنَ، یا تَعْتَقِدُوْنَ او وَقَارًا معنی ده عظمت او لویي. په تاسو څۀ شوي دي چه د الله د لویي اعتقاد نۀ ساتئ، حالانکه تاسو له دومره لوے نعمتونه ئې درکړي دي او باطل معبودان والے نه پریږدئ، او هغوئ برکت دهنده والے ګنړئ؟

۸ وَقَدْ خَلَقَكُمْ. حضرت نوح علیه السلام د دے عقلي دلیلو طرف ته هم قوم متوجه کړل چه په خپل پیدائیش غور اوکړئ او اوګورئ الله تعالی تاسو د څومره مختلف احوال نه تیر کړئ او پیدا ئے کړئ. اَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللّٰهُ. د خپل پیدائیش نه علاوه لږ شان بره ته آسمان طرف ته خو اوګورئ، الله تعالی ځنګه قدرت او صنعت سره لاندے باندے

اووه آسمانونه پیدا کړل او په هغې کښې سپوږمۍ او نمر روښانه او ګرځول. قمر ته ئې نور او شمس ته ئې سراج یعنې (ډیوه) او فرمائیله. اشاره ئې دے طرف ته اوکړه چې د سپوږمۍ رڼا د نمر نه مستفاد یعنې (حاصله) شویده ځکه چې په تیاره کښې رڼا د ډیوے نه حاصلولے شي او د ډیوے رڼا په خپله هغې کښې د ننه وي، د بل کوم ځیز نه نه وي حاصل شوي ولعله في قوله تعالى جعل القمر فيهن نورًا وجعل الشمس سراجًا اشعار بان نور القمر مستفاد من الشمس فان النور انما يستفاد من السراج. (مظهري ج ۱۰ ص ۷۵)۔

وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتًا ﴿۱۷﴾ ثُمَّ يُعِيْدُكُمْ

ف اؤ الله تعالى تاسو را زرغون کړي د زمکے نه په زرغونولو سره بیا به دا پس کړي تاسو

فِيْهَا وَيُخْرِجُكُمْ اِخْرَاجًا ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ

دے زمکے ته او را وبه باسي تاسو په راویستلو سره اؤ الله تعالى اوګرځوله ستاسو دپاره

الْاَرْضَ بِسَاطًا ﴿۱۹﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿۲۰﴾ ع

زمکه فرش دے دپاره چه تاسو لاړ شئ د هغې په فراخه لارو باندے۔

قَالَ نُوْحٌ رَّبِّ اِنَّهُمْ عَصَوْنِيْ وَاتَّبَعُوْا مَنْ لَّمْ

اووئیل نوح ؑ اے ربه زما هغوي زما خبره اونه منله اؤ دے منل د هغه چا چه د هغه

يَزِدْهُ مَالُهٗ وَوَلَدُهٗۤ اِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا

مال او اولاد سره د هغه نور هم تاوان زیات شو او هغه اؤ فریب ئې اوکړو لوئے

كُبَّارًا ﴿۲۲﴾ وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ

لوئے فریب . ف ۲ او وئیل ۱ ف ۲ هرګز مه پریږدئ خپل معبودان اؤ مه پریږدئ

وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا ۙ وَّلَا يَغُوْثَ وَيَعُوْقَ وَنَسْرًا ﴿۲۳﴾

ود ، او نه سواع ، او نه یغوث او نه یعوق اؤ نسر ف ۲

وَقَدْ اَضَلُّوْا كَثِيْرًا ۚ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾

اؤ بے لارے ئې کړل ډیر اؤ ته مه زیاتوه بے انصافو لره لیکن لاره ورکول ف ۳

مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ فَلَمْ يَجِدُوْا

ځني د هغوي نه ف ۳ د خپلو ګناهونو په وجه اوبو کښې ډوب کړے شو پس اور ته اوغورځولے شو . پس اؤ نه موندو

لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا ﴿٢٥﴾

هغوئ خپل ځان دپاره دَ الله نه سیوا څوک اِمداد یان

نکات لـا تخویف دنیوی ۱۲۔

موضح قرآن فـا یعنی دخپلو مالدارانو خبره ئے اومنله اوْ دَ هغوئ په مال اولاد کښ هیڅ خوبی نشته بلکه په هغوئ تاوان دے دَهغې په سَبب دَدین نه محروم شول،

فـ۲ یعنی پټول ئے پوهه کړل چه دهغه خبره اونه منی ۱۲۔

فـ۳ یعنی دهغوئ کوم تدبیر کامیاب نه کړی اوْ ودّ اوْ سواع وغیره دهغوئ دَ بُتانو نومونه وو دَهریو کاردپاره یو بُت وو۔

فتح الرّحمٰن فـا یعنی دمشرانو کافرانو ۱۲ فـ۲ اوْ دا پنځه بُتان وو ۱۲۰

تفسیر فـ۱ وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ۔ نباتًا مفعُول مُطلق دے من غیر بابه لکه چه په تبتل الیه تبتیلاً کښ دے۔ د زمکے نه دانسانانو دَ پیدا کولو مطلب دا دے چه دَ ټولو بابا حضرت آدم علیه السّلام دَخاورے نه پیدا کړے شو۔ یامطلب دا دے چه دکوم نطفو نه پیدا کړے شوے ئے هغه دَزمکے نه دحاصلیدونکی غذا نه پیدا کیږی بیا دَمرګ نه روستو به تاسو دوپارهٔ زمکے ته واپس کولے شئ اوْ تاسو به په قبرونو کښ خښولے شئ بیا به دقیامت په ورځ دقبرونو نه ژوندی کولو سره راویستلے شئ۔ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ بِسَاطًا۔ بیا بنګته زمکے ته اوګورئ زمکه هغه ځومره نرمه اوْ هموارهٔ کړځولے ده۔ چه په هغے کښ تاسو فراخ لارے اوْ پلن پلن سړکونه جوړوئ اوْ په هغے کښ رَوان یئ، ددے ټولو صفتونو چه څوک مالك دے اوْچاچه داټول نعمتونه درکړی دی هغه ستاسو دټولو معبودِ حقیقی دے دهغهٔ په توحید باندے ایمان راوړئ اوْ دَخود ساخته معبودانو عبادت پریږدئ۔

نـ قَالَ نُوحٌ۔ حضرت نوح علیه السّلام (بیا ئے عرض اوکړو څما پروردګاره! هغوئ څما نافرمانی اوکړه اوْ څما یوه خبره ئے هم اونه منله اوْ هغوئ دکفر دمشرانو تابعداری اوکړه چه هغوئ ته به دهغوئ دَمال اولاد نه هیڅ فائده نهٔ وی بلکه مال اوْ اولاد اوْ ټول دنیوی سازوسامان به هغوئ دپارهٔ تاوان وی اوْ دنقصان باعث به وی ځکه چه دمال اوْ اولاد په وجه هغوئ په کبر اوْ غرور کښ مُبتلا شول اوْ دایمان نه ئے اِستکبار اوکړو دهغه شان دَدُنیا عزّت هغوئ دپارهٔ داخروی تاوان باعث اوګرځیده۔ واتبعوا نه عوام مشرکان مُراد دی اومَنْ نه دمشرکانو مشران مُراد دی۔ ای واستمروا علی اتباع رؤسائهم الذین ابطرتهم اموالهم وغرتهم اولادهم وصار ذٰلك سببا الزیادة خسارهم فی الاخرة۔

نـ وَمَكَرُوا مَكْرًا۔ اتبعوا باندے معطوف دے یا په لَمْ یزد باندے اوْ دَجمع صیغه دَ مَن دَمفهوم په اعتبار سره راوړے شویده۔ دعوا مومکرًا ووچه خپل عوام به ئے دتوحید نه منع کول اوْ هغوئ به ئے دحضرت نوح علیه السّلام په تکلیف رسولو باندے تیزول (مظهری)۔

كُبَّارًا۔ دکبیر مبالغه ده ای کبیرًا فی الغایة۔ (روح) حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی چه کافرانو اعتراض کړے وو چه کُبَّارًا او عُجَابٌ غیر نصیح دے، دے سره رسول الله صلّی الله علیه

وَسلم او فرمائیل چې یو بوډا سړے راولئ. کله چه هغه راوستلے شو نو نبی علیه السلام او فرمائیل دے دوه ځلونه څله پاخوئ کینوئ، دے سره هغه بوډا او وئیل یَا مُحَمَّدُ (صَلَّى اللهُ عليه وسلم) اتخذنی ان هٰذا لشئ عُجاب واِنّی شیخ کُبار وَاللهُ تعالیٰ اَعلم.

۲۳ وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ - دے مشرکانو خپلو د دعوت تبلولو په خپله فیصله کړے ده چه مونږ به د خپلو ټولو معبودانو عبادت هرگز نه پریږدو، خصوصًا د پنځه لوئے معبودانو خو په هیڅ قیمت نه پریږدی یعنی وَدّ او سواع او یغوث او یعوق او نسر دا پنځه د حضرت نوح علیه السلام د قوم لوئے معبودان وو چه هغوئ به ئے په خپلو حاجتونو او مصیبتونو کښې رابلل - حضرت عبدالله ابن عباس رض فرمائی اسماء رجالٍ صالحین من قوم نوح (صحیح بخاری ج ۲ ص ۷۳۲) - دا پنځه واړه د حضرت نوح علیه السلام د قوم نه د خدائے نیک او غوره بنده ګان وو کله چه هغوئ وفات شول نو د هغوئ متعلقین او معتقدین ډیر خفه شول ابلیس په انسانی شکل کښې هغوئ ته راغلو او د خیر خواهئ په رنګ کښې ئے او وئیل تاسو غم مه کوئ زه ستاسو د تسلی د پاره سامان برابروم، نو هغوئ د دغه نیکانو شکلونو بانندے د هغے بزرګانو بُتان جوړ کړل او هغوئ ته ئے راوړل او دے وئیل دا بُتان د هغه بزرګانو په عبادت خانو کښې اودروئ او وخت په وخت د هغوئ ملاقات کوئ د خپلو زړونو تسلی کوئ دے نه روستو په مزه مزه د هغوئ عبادت شروع شو نو الله تعالیٰ حضرت نوح علیه السلام ته د توحید دعوت ورکړو پیغمبر ئے او ګرځولو (قرطبی والهدایة والنهایة).

وَقَدْ اَضَلُّوا كَثِيرًا او دے مشرکانو سردارانو ستاسو ډیر مخلوق ګمراه کړے دے او هغوئ ئے په شمه لاره بانندے د راوستلو نه منع کړی دی. وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا ضَلٰلًا - ضلال نه د توحید خلاف منصوبو کښې ناکامی مراد ده. اے خدایه د ګاره! د دے ظالمانو ټولے منصوبے ناکام کړه او د هغوئ آرزوګانے خاورو سره ملاؤ کړه. ولعل المطلوب هو الضلال فی ترویج مکرهم ومصالح دنیاهم لافی امر دینهم الخ (بیضاوی ج ۲ ص ۳۱۰) -

۲۵ مِمَّا خَطِيْٓـئٰتِهِمْ دا تخویف دے او من سببیه دے. فَاُدْخِلُوا کښې فا د پاره د تعقیب ده بلا تاخیر من دونِ اللهِ نه د هغوئ خود ساخته معبودان، ودّ، سواع، یغوث، یعوق او نسر وغیره. مراد دی یعنی د نوح علیه السلام قوم د هغوئ د ګناهونو په وجه غرق کړے شو بیا فورًا هغوئ اور ته داخل کړے شو نو د الله تعالیٰ نه سیوا چه چا ته هغوئ آوازونه کول هیڅوک هم د هغوئ د امداد د پاره رانغلل. دا آیت د قبر په عذاب بانندے د اثبات د پاره محکم دلیل دے د اهل سنت د پاره. ځکه چه قیامت خولا تر اوسه پورے نه دے قائم شوے دے وجه نه لا عالم د عالم برزخ عذاب مراد دے، چه د هغے نه د شریعت په اصطلاح کښې عذابِ قبر سره تعبیر شویدے. (فَاُدْخِلُوا نَارًا) فی عالم البرزخ المسمی بالقبر فانه روضة من ریاض الجنة او حفرة من حفرات النیران فهذه الأیة دلیل علی اثبات عذاب القبر لان الفاء للتعقیب (مظهری ج ۱۰ ص ۷۷) (فادخلوا نارا) هی نار البرزخ والمراد عذاب القبر (روح ج ۲۹ ص ۷۹) - دا هم ممکن ده چه د عذاب نه مراد د آخرت عذاب وی او فادخلوا نه مراد فحکم بدخولهم النار فی الاخرة (الشیخ رحمه الله) یا د اغراق او د ادخال جهنم کښې زمانه ئے غیر معتبر به او ګرځولے شی او د ادخال بانندے فاء داخل کړے شوے ده. (روح) -

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ

۲۴ او وویل نوح ۳ اے ربه! مه پریګده په زمکه باندے د

الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا

کافرانو یو کورهم اوسیدونکے . بیشکه که چرے ته پریګدے هغوئ بے لارے به کړی

عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ

ستا بندیګان او کوم چه او ځیګوی هغه به بدعمله او حق نه منکروی . اے ربه!

اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا

معاف او کړه ۲۵ ما ته او خپلو مورپلار ته او هغو ته چه داخل شی خپل کور ته ایمان راوړونکے

وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ

او ټولو ایمان راوړونکی سړی او ښځے او ګنهګارانو لره زیات کړه

إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾

تباهی .

تفسیر ۲۴ وَقَالَ نُوحٌ - حضرت نوح علیه السّلام آخر د الله نه دُعا اوغوښتله . خپل پروردګارا! د دے مشرکانو نه په زمکه باندے یو هم ژوندے مه پریګده اِنَّكَ اِن تَذَرْهُمْ . که چرے ته هغوئ هلاک نه کړے او هغوئ ژوندی پریږدے نو هغوئ به ستا مؤمن بندیګان هم مکرو فریب سره ګمراه کړی او د هغوئ په نسلونو کښ به هم د مشرکانو او بدعملو نه سوا هیڅوک مؤمن او مؤحد نه وی . د حضرت نوح علیه السّلام دُعا مخکښ وه او د قوم غرقیدل روستو اُوشو لیکن د قرآن په نظم کښ د د داړوډکر معکوس شوے دے دا آیت د دے خبرے دلیل دے چه د او مُطلق جمع د پاره دے او د ترتیب مقتضی نه دے .

اهلِ بدعت وائی دے آیت نه حضرت نوح علیه السّلام په غیب باندے علم ثابتیږی ځکه چه هغوئ وئیلی وو چه دا مشرکان به ستا بندیګان ګمراه کړی او د هغوئ په نسلونو کښ به د فاسقانو فاجرانو نه سوا هیڅوک نه وی

نو د دے جواب دا دے چه حضرت نوح علیه السّلام ته الله تعالیٰ د وحی په ذریعه خبر ورکړے وو چه اوس به د دوئ نه هیڅوک هم ایمان نه راوړی او نه به د دوئ د نسل نه څوک مؤمن پیدا کیږی . لکه چه ارشاد دے . وَاُوْحِيَ اِلٰى نُوحٍ اَنَّهُ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ . الآیة (هود ع ۴) او کوم علم چه د وسائلو سره حاصل شی هغه علم غیب نه وی .

۵؎ رَبِّ اغْفِرْ لِیْ۔ حضرت نوح علیه السلام د خپل والدینو او ټولو مؤمنانو د پاره مغفرت دعا او غوښتله او مشرکانو د پاره ئے د تباهۍ او بربادۍ خیره او کړه مشرکانو د پاره خواه مخه دده په امت کښ وی یا د نورو پیغمبرانو امتونو سره تعلق لری ټولو د پاره ئے د هغوی به دعا او خیره قبوله شوه دی دده وجه نه د الله تعالیٰ د رحمت نه بعید او لری نه ده چه د مؤمنانو په حق کښ هم د هغوی دعا قبوله کړی۔

قد دعا علیه السلام دعوتین دعوة علی الکافرین ودعوة للمؤمنین وحیث استجیبت له الاولی فلا یبعد ان تستجاب له الثانیة والله تعالیٰ اکرم الاکرمین۔ (روح ج ۲۹ ص۸۱)۔

سورۂ نوح علیه السلام کښ د توحید آیتونه

۱۔ اِعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ۔ نفی د هر قسم شرک او د هر قسم عبادت تخصیص د الله تعالیٰ په ذات پورے۔

۲۔ وَقَدْ خَلَقَكُمْ اَطْوَارًا ...... تا لِتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا، نفی د شرک اعتقادی۔

۳۔ فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا۔ نفی د شرک فی التصرف۔

سُوْرَةُ الْجِنِّ

ربط: تیرشوی سورت کښ دعوی تبارك باندے حضرت نوح علیه السلام سره دلیل نقلی ذکرکړے شو. اوس په سورة جن کښ جنات سره دلیل نقلی ذکرشو، چه اوګورئ پیریانو هم قرآن واوریدلو ایمان ئے راوړلو او خپل قوم ته ئے د توحید وعظ شروع کړلو.

خلاصه: دلیل نقلی پیریانو سره تخویف او تبشیر (ویرول او زیرے ورکول) د توحید دعوی ذکرکول په طور د ثمره.

تفصیل: قل اوحی الی ...... تا ...... وکانوا لجهنم حطبا. دلیل نقلی د پیریانو نه. اوګورئ جنات هم خپل قوم ته داسے وعظ کوی چه سمه لاره داده. چه هغه سره شرك مه کوئ وان لو استقاموا علی الطریقة الآیة. د توحید منونکو د پاره بشارت اُخروي. ومن اعرض عن ذکر ربه. الآیة. د توحید نه د انکارکونکو د پاره تخویف. وَاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا. جماعتونه الله د پاره دی د دے وجه نه د هغه نه سیوا یل هیڅ ته آواز مه کوئ. سورة تبارك نه واخله تر اوسه پورے چه کوم عقلی او نقلی دلائل او تخویفات او تبشیرات ذکرشول دا د هغے ثمره ده. واَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عبد الله. الآیة. دا شکوی متعلق ده. تر دے پورے یعنی کله چه زمونږ بنده یو خدائے ته آواز کوی نو هغوئ د ده مخالفت کوی. قُلْ اِنَّمَا اَدْعُوا رَبِّیْ وَلَا اُشْرِكُ بِهٖ اَحَدًا ...... تا ...... ولن اجد من دونه ملتحدا. د سورة مُلك او حوا میم خلاصه ده یعنی په حاجتونو مصیبتونو کښ غائبانه آواز صرف الله تعالی ته کوئ ځکه تاسو کښ هیڅ ته د نفع او نقصان رسولو اختیار نشته او د الله تعالی نه سیوا څوك هم څوك کارساز نشته. ومن یعص الله ورسوله ...... تا ...... واحصی کل شئ عددا تخویف اُخروي او دنیوي د دنیوي عذاب وخت مقرر دے چه په خپل وخت باندے به ضرور راځی. ځکه عالم الغیب نه یم چه ما ته د هغه د معین وخت مقرر علم وی او نه ما ته په غیب غلبه راکړے شوے ده. چه کله اُغوارم نو پرے پوه شم.

سُوْرَةُ الْجِنِّ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کونکے دے.

قُلْ اُوْحِیَ اِلَیَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْٓا

ته او وایه ما ته ئے حکم راغلے چه واوریدو ډیرو خلقو د پیریانو نه پس دے وئیل

إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا ﴿١﴾ يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ

تحقیق موږ اوریدلے دے یو قرآن عجیبه — چه ښودنه کوی نیکئ لارے ته

فَآمَنَّا بِهِ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا ﴿٢﴾ وَأَنَّهُ

موږ ایمان راوړو — او هرګز به شریک نه جوړه وو د خپل رب سره هیڅوک — او دا چه دے

تَعَالَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا ﴿٣﴾

اوچت دے شان زموږ د رب — نه ده نیولے هغه ښځه — او نه ځوئے ۲

وَأَنَّهُ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى اللَّهِ شَطَطًا ﴿٤﴾

او دا چه ۳ زموږ ناپوهو په الله باندے زیاتے خبرے جوړولے

وَأَنَّا ظَنَنَّا أَن لَّن تَقُولَ الْإِنسُ وَالْجِنُّ

او دا چه موږ ګڼے خیال کولو چه هرګز به نه وائی — انسان — او پیریان

عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ﴿٥﴾

په الله تعالیٰ باندے دروغ ۔

نکات

ف۱ دلیل نقلی پیریانو سره ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ سورۂ احقاف کښ تیر شول چه حضوری د صبا مونځ ادا کولو دیرو پیریانو قرآن واریدو ایمان راوړو بیا لاړل خپل قوم ته دے بیان او کړو دلته الله تعالیٰ د هغوئ بیان وحی سره نبی علیه السلام باندے نازل کړو دینه روستو دیر خله پیریان نبی علیه السلام ته راغلل او هغوئ سره مِلاؤ شول او ایمان ئے راوړو قرآن ئے زده کړو۔

ف۲ کوم ګمراهئ چه په انسانانو کښ وے هغه په پیریانو کښ هم وے ، الله د پاره ئے ښځه او ځامن ګرځول۔

ف۳ یعنی زموږ نه چه کوم ناپوهان وو هغوئ به دغه شان خبرے کولے . یائے ابلیس ته (سَفِیه) ویلے دے۔ ف۴ یعنی هغه سره موږ هم ګمراه شولو۔

فتح الرحمن

ف۱ مترجم وائی یوه ورځ نبی علیه السلام د صبا مونځ د مکے نه بهر ادا کولو د پیریانو یو دلے هغه ته غوږ کیښود ایمان ئے راوړو الله تعالیٰ د هغوئ د ایمان او د هغوئ د خبرو نه خپل قوم سره په د سورة کښ خبر ورکړو تر دے قول پورے وان لو ستقاموا - والله أعلم ۱۲۔

تفسیر

۲ قُل اُوحِیَ - دلیل نقلی جنات سره نبی علیه السلام یا ندے د وحی شروع کیدلو سره د
شیطانانو آسمانونو ته ختل بند شول حکمه به هغوی پوره ته تلل او د فرشتو خبرے به ئے اوریدے
لیکن اوس چه څوک بره لاړشی نو هغه شهاب ثاقب سره اوویشتلے شی - شیطان په دے پریشانه
شول او ابلیس ته ئے تول لهٔ معامله بیان کړه هغهٔ اوویل ضرور څهٔ نوے خبره بکاره شویده
چه د هغے په وجه سره آسمانونو ته ستاسو تلل محال شویدی - ابلیس د پیریانو دلے منظم کړلے
او مختلف جهتونو ته اولیږلے چه د اصلی حقیقت معلومات حاصل کړی ، د پیریانو جماعت د
تهامه طرف ته اولیږلے شو دا جماعت او دله ګرځیدله ، مقام نخله ته اورسیدله نو وے کتل چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحابو سره د سحر مونځ اداکوی نو هغوی خاموشئ سره په غوږ
سره قرآن اوریدل شروع کړل نو چه هغوی قرآن واوریده و ایمان ئے راوړلو او پوه شول چه زمونږ دا
وحی زمونږ د قرآن د حاصلولو د محفوظ کولو د پاره آسمانونو ته زمونږ ختل بند کړے شوی دی او زمونږ لارے
بند کړے شوی دی د پیریانو دا جماعت د هغه ځائے نه خپل قوم ته واپس راغلو او هغوی ته ئے
تبلیغ شروع کړو د پیریانو دے دلے خپل قوم ته چه کوم تبلیغ اوکړو الله تعالیٰ د وحی په ذریعه نبی
علیه السلام ته خبر ورکړو د هغه شان د پیریانو د راتلو او د قرآن د اوریدلو خبرهم نبی علیه السلام
ته د وحی په ذریعه ورکړے شو - هم دا تفصیل دلته په سورة جن کښ ذکر شویدے (مظهری، وغیره)

۳ فَقَالُوٓا - دے جنات چه کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژبے مبارکے نه قرآن واوریدو
او ایمان ئے راوړلو خپل قوم ته واپس راغلل نو خپل قوم ته ئے اوویل چه مونږ یو عجیبه او نا آشنا
کلام اوریدلے دے تاسو ته راغلی یو چه د بنه بنائسته نظم او د بیان د طریقے او تاثیر په اعتبار
سره د انسانی کلام نه مختلف دے او هغه د توحید او هدایت لارے طرف ته خود نکوی د دے
وجه نه مونږ خود زړهٔ په اخلاص سره په هغهٔ ایمان راوړے دے او مونږ فیصله کړے ده چه
مونږ به په راتلونکی وخت کښ هیڅوک د الله تعالیٰ سره شریک نه جوړوو - هُوَ عَجَبٌ فی نفسه
لفصاحة کلامه وحسن مبانیه ودقة معانیه وغرابة اسلوبه وبلاغة مواعظه (بحر ج۸ ص۳۴۳)
او د الرشد نه مراد عام دے حق وصواب یا خاص توحید الی الحق والصواب وقیل
الی التوحید والایمان (روح) -

۴ وَاَنَّهٗ تَعٰلٰی - دا هم د جنات کلام دے او په اِنَّا سَمِعۡنَا باندے معطوف دے قاعده
داده چه کله چرے د قائل قول بعینه نقل کړے شی نو اِنَّ به مکسوره وی او که چرے د هغهٔ د کلام
مضمون نقل کړے شی نو اَنَّ به مفتوحه وی - اَلۡجَدُّ معنیٰ عظمت او جلال ده - جنات په خپل
نقدیر کښ د الله تعالیٰ عظمت او لوئی او د هغهٔ کامل استغنا ذکر کړه او وے ویل چه زمونږ
د پروردګار عظمت ډیر زیات اوچت دے او د هغهٔ جلالت شان ډیر زیات اعلیٰ او ارفع دے
او هغه داسے بے پرواه او مستغنی دے چه نهٔ خو د هغهٔ ښځه شته چه د هغے موانست او صحبت
ته هغهٔ محتاج وی نهٔ څوک چه هغهٔ امداد ته د هغهٔ ضرورت وی د هغهٔ عظمت او جلالت

او دَ هغهٔ دپوره او کامل استغنا، تقاضه دا ده چه دے ترلوکا ئناتو کښ هغه بغیرد بل چا د شرکت، نه په خپله متصرف او مختار دے او په تصرف او اختیار کښ هغهٔ سره هیڅوک شریک نشته او نه څوک نائب ئے شته! تعالیٰ عما یقولون علوا کبیرا (بنی اسرائیل ع ۶).

۵ وَ اَنَّهٗ کان یقول سفیهنا۔ نه مراد ابلیس دے یا سرکش او مشرک پیریان دغه پیریانو د دے مشرک او سرکش پیریانو ذکرهم او کړو چه هغوی د الله تعالیٰ په باره کښ داسے خبرے کوی چه د حق نه لرے او د حد نه تیرشوی دی مُراد د دے نه الله تعالیٰ د پاره ښځه او بچی تجویز کول دی (روح) حاصل دا دے چه په پیریانو کښ څوک ډیر داسے د پاره ښځه یا څوئے تجویز کوی هغهٔ کم عقل او ناپوهه دی آیا الله تعالیٰ چه د هغهٔ عظمت او لوئی هیڅ انتها نشته هغه ښځه او څامنو ته څه حاجت لری؟ شططا ای قولا ذا شطط وهو البعد ومجاوزة الحد (بیضاوی).

۶ وانا ظننا د پیریانو وعظ کوونکی د خپل طرف نه معذرت پیش کوی چه هغوی تر اوسه پورے ولے د نا پوهو خبرو او منله او په گمراهئ او شرک کښ راګیر شول هغوی او وئیل چه مونږ خو تر اوسه پورے په دے خوش فهمئ او نیک ګمان کښ مُبتلا وو چه پیریان او انسانان د الله تعالیٰ طرف ته کوم دروغ او غلط خبره نه شی منسوب کولے. د دے وجه نه مونږ دا خیال کولو چه زمونږ دا رهنمایان چه خدائے د پاره کوم شریکان او نائبان تجویز کوی هغه صحیح او حق دی. لیکن اوس قرآن او ریدلو سره دا حقیقت واضح شو چه هغوی دروغ او دغان نه خبرے جوړوی او دَ الله تعالیٰ د شرک نه پاک دے "وانه کان رجال من الانس. دا دے طرف ته اشاره چه دَ مشرکانو کوم دستور وو چه کله به یو ځنګل یا یو بیابان ته داخلیدل د شریر پیریانو نه به ئے د هغوی سردار سره پناه غوښتله او وئیل به ئے اعوذ بسید هذا الوادی من شر سفهاء قومه (بیضاوی)
او هغوی به خیال کولو چه اوس هغوی د پیریانو د بادشاه په پناه کښ وی د دے وجه نه اوس به هغوی ته د پیریانو د طرف نه هیڅ نقصان او تکلیف نه رسیږی، کله چه به پیریانو دَ هغوی دا خبرے اوریدلے نو د هغوی کبر او غرور او سرکشئ کښ به نور هم زیاتوالے راتللو او هغوی به خپل ځانونه د لوئے شان ما لکان ګڼړل فزادوهم رهقا۔ کښ ضمیر فاعل نه انسانان او د مفعول ضمیر نه جنات مُراد دی او د رهق معنیٰ سرکشی ده یا ضمیر د فاعل د جناتو نه او د مفعول ضمیر د انسانانو نه کنایه ده او د رهق معنیٰ ګمراهی ده. المعنی فزاد الجن الانس غیابان اضلوهم حتی استعاذوا بهم (مظهری ج۱۰ ص۹۶).

د جنات هادیان (رهنمایان) هغکښ خو په خپله هم داسے وو لیکن اوس هغوی ته د هغوی ګمراهی ظاهره شوه نو خپل قوم ئے د دے نه منع کړو.

وَاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ

او دا چه وو ډیر سړی د انسانانو چه پناه به ئے نیوله ډیرو سړو باندے

مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ﴿۶﴾ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا

د پيريانو نه پس هغوئ زياته سرکشي شروع کړه دے وا - او دا چه کے د هغوئ هم دا خيال

ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا ﴿۷﴾ وَّاَنَّا لَمَسْنَا

وو څنګه چه ستاسو خيال وو چه هرګز به نه پاسوي الله تعالیٰ هيڅوک ۲ او دا چه مونږ تلاش کړلو

السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ﴿۸﴾

اسمان پس بيا مونده مونږ هغه چه ډک کړے شوي دي د سخت څوکيدارانو نه او د اور لمبو نه.

وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ؕ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ

۳ او دا چه مونږ به کينا ستلو د نا ستے په ځايونو کښې د اوريدلو د پاره دے پس اوس چه څوک اوريدل

الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿۹﴾ وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْۤ

غواړي هغه بيا مومي خپل ځان د پاره يو شغله د اور په انتظار کښې - او دا چه مونږ نه پوهيږو

اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ

چه بدي اراده شوي ده د زمکے او سيدونکو باندے يا غوښتے ده د هغوئ رب په

رَشَدًا ﴿۱۰﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ؕ

سمه لاره راوستل. او دا چه په مونږ کښې څخے نيک دي او څخے د هغوئ نه غير

كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿۱۱﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّاۤ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ

مونږ وو په ډيرو لارو جُدا جُدا . او دا چه مونږ په خيال راغلي وو چه مونږ پټ بائلے

اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿۱۲﴾ وَّاَنَّا لَمَّا

نشو د الله نه په زمکه کښې او نه به هغه ستړے ستوما نه کړو تيخته کولو سره . او دا چه کله مونږ

سَمِعْنَا الْهُدٰۤى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ فَمَنْ يُّؤْمِنْ بِرَبِّهٖ فَلَا

ئے واوريدله د هدايت خبره نو مونږ هغه او منله . پس څوک چه يقين او کړي په خپل رب باندے نو

يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿۱۳﴾

هغوئ به نه ويريږي د نقصان نه او نه د ظلم نه.

موضح قرآن

ف۱ انسان چه څو مره د پیریانو په هګښې پناه طلب کوی او عاجزی کوی هغه هو مره هغوی سرکشی او کبر کوی.

ف۲ یعنی د قبرونو نه به نشی پاسولے یا به رسول نشی لیږلے کوم پیغمبران چه لیږلے شوے دی نو بس هم هغه دی. ف۳ یعنی پیریان به لمبو ویشتلے شی او خبرے اوریدلو ته ئے څوکیداران نه پریږدی.

فتح الرحمٰن

ف۱ اشاره ده ته دے چه په جاهلیت کښې به خلق یو وادی ته ښکته کیدل نو وئیل به ئے أَعُوذُ بِسَيِّدِ هٰذَا الْوَادِي مِنْ سُفَهَاءِ قَوْمِهِ ۱۲۔

ف۲ یعنی د ملائکو د کلام اوریدلو د پاره ۱۲۔

تفسیر

ک۷ وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا ۔ ضمیر انسانانو طرف ته راجع دے ۔ ظَنَنتُمْ ۔ خطاب د جنات سره دے ۔ اے قومه! د شرک نه علاوه تاسو د حشر او نشر نه هم انکار کولو ۔ د هغه شان د بنی آدمو خیال هم داوو چه الله تعالی به دوباره هیڅوک ژوندے نکړی۔

وَأَنَّا لَمَسْنَا السَّمَاءَ فَمُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا ۔ جنات زیاتے داخبره هم اوکړه چه اول اول به مونږ آسمان طرف ته تللو او نزدے به فرښتو سره کیناستلو د فرشتو خبرے به مونږ اوریدلے هیڅ منع کول نه وو او نه څوک څوکیدار هلته مقرر وو ۔ لیکن اوس چه مونږ آسمان ته نزدے ورځو نو هلته ډیره سخته څوکئ مقرر شویده او د پیریانو د شړلو د پاره روښانه لمبے سوزوونکی موجود دی، د دے وجه نه اوس بلچرے څوک د آسمان طرف ته هلته د خبرو اوریدلو د پاره نه شی تلے او روښانه سوزوونکی لمبی هغه پسے د رو ستونه تلونکی تیار دے او په انتظار کښې وی ۔ دا نوے نظام انتظام د دے د پاره شویدے چه اوس د الله رسول راغلے دے د دے د پاره چه معجزه ظاهره شی او کاهنان د آسمانونو د کوم خبرو د کولو نه عاجز پاتے شی۔

ش۸ وَأَنَّا لَا نَدْرِي ۔ دا د ما قبل سره متعلق نه دے بلکه جدا کلام دے ۔ حاصل دا چه د رسول د رالیږلو دوه مقصدونه دی یو هدایت او ثواب ۔ یعنی خلق د پیغمبر هدایت قبول کړی نو هغوی د اجر او ثواب مستحق کرځی ۔ دوئم کوم خلق چه پیغمبر د رو غړن اوکړی په هغوی د الله عذاب راځی ۔ اوس دا پیغمبر راغلے دے د دے وجه نه د هغه په رالیږلو کښې هم دا دوه مقصدونه دی ۔ یا مطلب دا دے چه د قرآن د اوریدلو نه مخکښې مونږ ته پته نه وه چه اوس د آسمانونو حفاظت او نګرانئ نه د الله تعالی اراده څه ده ؟ آیا د دینه د مخلوق فائده او ښیګړه مقصود ده یا بدی ؟ لیکن اوس د قرآن اوریدلو نه دا حقیقت واضح شویدے چه د پیغمبر د بعثت په وجه سره اوس آسمانونه محفوظ کړے شویدی دے د پاره چه د جنات کاهنان د آسمانونو خبر راوړل اونکړی، حاصل دا شو چه د دینه مقصود د مخلوق خدا د پاره د رشد او هدایت، او خیر او فلاح دے ۔ (مظهری)

ف۹ وَأَنَّا مِنَّا الصَّالِحُونَ ۔ یعنی مونږ پیریانو کښې ځنے مشرکان دی او ځنے موحدین جنات دا نصیحت خپل قوم ته کوی ۔ كُنَّا طَرَائِقَ قِدَدًا ۔ د قدد ا معنی ده متفرق او مختلف یعنی څمونږ قوم هم په مختلف طریقو باندے دے یعنی ځنے خو په احکامو باندے عمل کوونکی دی او ځنے

عمل کوونکی نه دی. د ماضی صیغه سره د ماضی معنیٰ مراد نه ده وَاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰہَ
ظننّا په معنیٰ د علمنا دے واعظ وائی چه اوس زمونږ یقین شویدے چه د الله سره هیڅوک
شریک نشته او مونږ د زمکے په هیڅ یوه حصه کښ نه شو عاجز کولے او نه چرته تښتیدے لو سره د
هغه عذاب او نیولو نه بچ کیدے شی.

ت۱۵ وَاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰى. مونږ چه کله قرآن واوریده چه پوره او کامل هدایت
دے نو مونږ په هغے ایمان راوړو او څوک هم چه په خپل پروردګار ایمان راوړی هغه یو اومنی
نو هغه به د خپلو عملونو پوره پوره ثواب بیا مومی نه خو به د هغه په نیکو کښ کمے او کړے شی
او نه به د هغه په بدو کښ زیاتے او کړے شی. بخسا په نیکو کښ کمے او رهقا په بدو کښ
اضافه. وَاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ. حضور ږ نه څخه مسلمانان دی چه د الله تعالیٰ په وحدانیت باندے
ایمان لری او څخه بے انصاف او ظالمان دی چه د الله تعالیٰ سره شرک کوی. فَمَنْ اَسْلَمَ. کوم
سړی چه د الله په حضور کښ تسلیم او منلو سر ښکته کړو صرف د یو الله عبادت ئے کړو او هغه
سره ئے شرک او نه کړو، نو هغه سم لاره تلاش او طلب کړه. وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ. دا تخویف اُخروی
دے لیکن ظالمان او مشرکان به د جهنم خشاک وی.

وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ

او دا چه مونږ کښ څخه منونکی دی د حکم او څخه بے انصاف دی نو چه کوم خلقو

اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿۱۴﴾ وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ

حکم او منلو هغوی قصد او کړو د نیکے لار ے او څوک چه بے انصاف دی

فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿۱۵﴾ وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى

هغوی بیول د دوزخ خشاک (او بل) دا حکم راغلے دے ما ته چه که دا خلق برابر روان شی په

الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿۱۶﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ

سمه لاره (د اسلام) نو مونږ به هغوی باندے او څښکو او به ډیرے دیارہ د دے چه او آزمایو هغوی د دا

وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا

په هغے کښ او څوک چه مخ واړوی د خپل رب د یاد نه هغه به داخلوی هغه لره په عذاب

صَعَدًا ﴿۱۷﴾ وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ

سخت کښ او دا چه جماعتونه خاص د الله د یاد دپاره دی پس مه رابلئ الله سره

أَحَدًا ﴿۱۸﴾ وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوهُ كَادُوا

هیڅوک . او دا چه کله اودریدی ^۳ دالله بنده چه رابللی هغه (الله) نو خلق

يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿۱۹﴾ قُلْ إِنَّمَا أَدْعُوا رَبِّي وَلَا

راغونډیدی هغه ته . ته اووایه خه خورا بلم ^۲ صرف خپل رب او

أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا ﴿۲۰﴾ قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَ

شریک نه گرځوم هغه سره هیڅوک . ته اووایه خما په اختیار کښ نشته تاسو ته ضرر رسول

لَا رَشَدًا ﴿۲۱﴾ قُلْ إِنِّي لَنْ يُجِيرَنِي مِنَ اللّٰهِ

او نه په لاره راوستل ته اووایه ما به خلاص نه کړی ^۳ د الله تعالیٰ دعذاب

أَحَدٌ ۙ وَلَنْ أَجِدَ مِنْ دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾ إِلَّا بَلَاغًا

نه هیڅوک او نه به زه بیا مومم د هغه نه سوا چرته ځائے د پناه هم لیکن رسول دی

مِنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهِ ۗ وَمَنْ يَعْصِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ

د الله له طرفه نه او پیغام رارسول دی او څوک چه حکم نه مني د الله او د هغه د رسول

فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴿۲۳﴾

نو هغه د پاره اور دے د دوزخ او سیږی به په هغه کښ همیشه

نکات: ۱ تخویف اُخروی ۱۲ ۲ تیر شو سورتونو کښ د بیان کړے شو و دلائل عقلیه ؤ ثمره ۱۲ . ۳ خلاصه د حوامیم او د سورهٔ ملک ۱۲ ۴ جواب د سوال مقدر ۱۲ .

فتح الرحمٰن
ف۱ یعنی ارزانی به شی او قحط را نغلو ۱۲
ف۲ یعنی محمد صلی الله علیه وسلم .
ف۳ یعنی دیوبل امداد کولی به شول په ضرر رسولو کښ ۱۲ .

تفسیر
لله وَّ اَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا . دا معطوف دے په اَنَّهُ اسْتَمَعَ باندے او مستقل دحی ده . دا د جنات کلام دے ، دے کښ د هغے خلقو طرف ته التفات دے . غدقا كثيرًا يعني کثرت سره دیرنیات . مُراد خوشحالی ده دا خبره هم تاسو ته د الله له طرفه وحی کړے شوے ده چه که چرے اهل مکه په سمه نیغه لاره یعنی چه په ملت اسلام باندے قائم شی نو موږ به هغوی باندے د دنیا کښ روزی فراخه کړو دے د پاره چه په هغوی امتحان اوکړو چه په هغوی کښ څوک شکر ادا کوی او څوک شکر نه ادا کوی . وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ دا تخویف دے صعدًا

شاقا یعنې سخت او ګران او کوم سړے چه د الله تعالیٰ د کتاب او توحید نه مخ اړوی
هغه به ډیر سخت عذاب کښې مُبتلا کړی. صعدًا شاقا یعلو المعذب یغلبه. (مظهری ج ۱۰ ص ۹۱)

۲۱ے وان المساجد. دا هم په انما استمع باندې معطوف دے دا په تیرو شو و سورتونو کښې
دبیان شوو دلائل عقلیه و ثمره ده. مساجد. نه یا جُومات او یا د عبادتخانې مُراد دی یا د دې نه
د سجدې اعضاء مُراد دی یعنې جُومات نه د الله تعالیٰ د عبادت د پاره خاص کړے شوی دی.
دغه شان د سجدې دا اندامونه مالک هم اصرف الله تعالیٰ دے، د دې وجه نه په حاجتونو
او تکلیفونو کښې د الله نه سیوا هیڅوک غائبانه مه رابلئ.

۳۱ے وانه لما قام. عبد الله نه رسول الله صلی الله علیه وسلم، کله چه به هغوی د
توحید دعوت ورکولو او تبلیغ به ئے کولو نو مُشرکانو به د مخالفت د پاره په هغوی باندې حملے
کولو د پاره راجمع کیدل. دا تفسیر حسن او قتاده او ابن زید نه نقل شوید ے ومعناه
علی ما قال الحسن وقتادة وابن زید انه لما قام عبد الله بالدعوة الی التوحید کاد الجن والانس
یکونون مجتمعین لابطال امره (مظهری ج ۱۰ ص ۹۳).

شاه عبد العزیز دهلویؒ فرمائی چه کله یو بنده صرف الله رابلی او د هغه عبادت
په ځائے راوړی نو خلق د کمال د کراو عبادت په وجه سره د الله بنده د خدائے په کارخانه کښې
قبضه کوونکے خیال کوی او په هغه باندې د خپلو حاجتونو د پاره راجمع کیږی څوک د هغه
نه خوښئ غواړی څوک رزق غواړی او څوک د بل کوم حاجتونو پوره کولو او مشکل آسانولو د پاره
درخواست کوی. په دے کښې پیریان او انسانان دواړه برابر شریک دی. نبی علیه السلام چونکه
دواړو طرف ته لیږلے شوید ے، د دې وجه نه هغه ته حکم ورکړے شو چه که چرے تاسو ته ثقلین
(جن او انس) نه خطره وی چه هغوی هم تاسو د الله سره شریک او ګرځوی او په حاجتونو کښې
تاسو راوبلی نو په تاسو په واضحو او صفا الفاظو سره اعلان اوکړئ چه زه خو صرف الله تعالیٰ
ته آواز کوم او هغه سره په رابللو کښې هیڅوک شریک نه ګرځوم او زه ستاسو د نفع نقصان هم
مالک او مختار نه یم. (تفسیر عزیزی پاره ۲۹ ص ۱۶۹ــ۱۷)

۲۲ے قل انما ادعوا. دا د سورة مُلک او حوا میم خلاصه ده. تاسو اعلان اوکړئ چه زه
په حاجتونو کښې او مصیبتونو کښې غائبانه صرف خپل رب ته آواز کوم او د هغه په دُعا او رابللو
کښې هیڅوک شریک نه ګرځوم بیا ئے د هغې نه په طور د ترقی حکم ورکړو قل انی لا املک لکم ضرا
ولا رشدا اوفرمائیلو. دا اعلان ئے هم اوکړو چه زه ستاسو د نفع نقصان مالک او مختار نه یم
او نه ستاسو ګمراهی او هدایت څما په اختیار کښې دی. څنګه چه د جن او انس ګمراه کوونکی
رهنمایان عوام ته د خپل نفع او ضرر مالک کیدلو یقین ورکوی چه که چرے څوک په څه حادثه
او مصیبت کښې ستاسو پناه واخلی نو تاسو صفا اووائی چه څما خپل حال څو دا دے چه زه
څو پخپله د خدائے د غضب نه د هغه د پناه نه بغیر نه شم بچ کیدلے، د دې وجې نه نورو ته څنګه
پناه ورکولے شم؛ تفسیر عزیزی ص ۱۷۱.

۵۲ے قل انی لن یجیرنی. دا د مقدر سوال جواب دے، کافرانو به وئیل چه تاسو خپل

تبلیغ ولے نه پریږدې نو جواب ورکولو حکم ورکړے شو چه زه د څه لپاره ستاسو له طرفه په تبلیغ باندے مامور یم که چرے زه تبلیغ پریږدم نو د الله تعالیٰ د عذاب نه به ما لره هیڅوک بچ نه کړی او نه به څما د پاره د هغه نه سیوا د پناه ځائے وی.

تائید: إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ (الانعام ع ۲)

إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ. دا د لا املك د مفعول نه نه استثناء ده یعنی ما سره د هیڅ اختیار نشته سیوا د الله د پیغامات د تبلیغ نه څه نافع او ضار نه یم بلکه د الله تعالیٰ د پیغاما تو مبلغ یم. ومن یعص الله ورسوله. دا تخویف اخروی دے کوم سړے چه د الله او د هغه د رسول نافرمانی کوی د الله په کتاب باندے ایمان نه راوړی او د هغه په توحید باندے ایمان نه راوړی نو د هغه د پاره د جهنم اور دے چه په هغے کښ به هغه همیشه همیشه د پاره اوسی.

حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ

تر دے چه کله او وینی دوئی هغه چه د کوم وعده هغوی سره شوی ده د عذاب وخت به پوهه شی چه د چا

أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲۴﴾ قُلْ إِنْ أَدْرِىٓ

امداد کوونکے کمزورے دے. او په شمیر کښ کم دے. ته اووایه زه نه پوهیږم

أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّىٓ أَمَدًا ﴿۲۵﴾

چه نزدے دے هغه څیز د کوم وعده چه تاسو سره کولے شی یا ګرځوی زما رب هغے د پاره څه موده ر دستو

عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿۲۶﴾ إِلَّا

عالم دے په پټو څیزونو پس خبر نه ورکوی د خپل راز هیچا ته لیکن

مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ

څوک چه دے خوښ کړو یو پیغمبر نو هغه یعنی (الله) روان کړی د هغه مخکښ او

يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴿۲۷﴾ لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ

او د روستو څوکیدار وا دے د پاره چه هغوی پوهه شی په

أَبْلَغُوا۟ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَ

پیغام د خپل رب او احاطه کړے ده (الله) په هغے کوم چه هغوی سره دی او

أَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿٢٨﴾ ع

شمیر لے یئے دی هر څیز شمیرلو سره .

نکات : ١ دا د هغه سوال جواب دے چه دا وعده به کله پوره کیږی. ٢ ما قبل دپاره علت دے ١٢.

موضح قرآن ف یعنی رسول ته خبر ورکوی د غیب پس هغے دپاره څوکیدار ساتی. چه شیطان په هغے کښ څه اخلت اونکړی. او خپل ځان په غلط خیال نه کړی هم دا معنیٰ ده د دے خبرے چه پیغمبران معصوم دی او نور خلق معصوم نه دی او د هغوئ په معلومات کښ څه شک نشته او د نورو خلقو معلوماتو کښ څه شک شته ١٢.

فتح الرحمٰن ف یعنی تبلیغ په خارج کښ متحقق او ثابت اوګرځی ځکه چه هغه لازم دعلم سره دے.

تفسیر ٦ حَتّٰى اِذَا رَاَوْا. د دوئ خو اوس نه منی او د ضد او عناد په وجه سره انکار او جحود کوی او تیننګ ولاړ دی. تر دے چه کله وعده کړے شوے عذاب اووینی نو د هغوئ یقین به اوشی چه د چا مدد ګار او حامی کمزورے او عاجز دے او د چا مددګورنکو شمیر کم دے؟ د مشرکانو یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملګرو. دا حقیقت د بدر په میدان کښ مشرکانو ته واضح او ښکاره شو چه کله یو د موتی او بے سامان او اسباب مسلمانانو په لاس نو درے چنده زیات مشرکانو ته د ذلت او رسوائی نه ډک شکست اوخوړو حال دا دے چه هغوئ سره هر قسم د جنګ سامان وو. الله تعالیٰ د مسلمانانو امداد اوکړو او فرشتو راالیږلو سره ئے د هغوئ په حمایت کوونکو کښ اضافه اوکړه لیکن د مشرکانو خیالی کارساز او مددګار د هغوئ امداد ته رانغلل. یا د دے نه د قیامت عذاب مراد دے. (روح)

٧ قُلْ اِنْ اَدْرِیْ. دا د هغه سوال جواب دے چه دا وعده به کله پوره کیږی. د دے قوایل جواب کښ اووایه ما ته خو ما ته نه ده معلومه چه دا وعده به ډیره زر پوره کیږی، یا په هغے کښ وخت شته دے. لیکن دا خبره یقینی ده چه کچرے تاسو ایمان نه راوړئ نو د هغے وعدے مطابق به عذاب ضرور راځی.

٨ عٰلِمُ الْغَیْبِ. دا جمله ما قبل دپاره علت دے او هُوَ مبتدا مقدر ده. اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مستثنیٰ منقطع ده. مَنِ ارْتَضٰی مبتدا او فَاِنَّهٗ یَسْلُكُ د هغے دپاره خبر دے. حاصل دا دے چه تاسو اوفرمائی ما ته معلومه نه ده چه قیامت نزدے دے یا لرے ځکه چه زه عالم الغیب نه یم او نه ما ته په غیب باندے غلبه راکړے شوے ده چه کله او غواړم نو پوه شم عالم الغیب خو صرف یو الله تعالیٰ دے چه په خپل غیب باندے هیچا ته غلبه نه ورکوی لیکن چه کوم بندیګان چه هغوئ د خپل رسالت دپاره غوره کړی دی د هغوئ نه مخکښ روستو نګهبان فرشتے مقرر وی. د دے دپاره چه د هغے فرشتو شهادت سره ظاهر کړی چه زما پیغمبرانو د تبلیغ حق ادا کړے دے. الله تعالیٰ علم دپاره د کوم وسیلے او ذریعے محتاج نه دے د هغه علم په ټولو معلوماتو باندے احاطه کوونکے دے او هر یو څیز د هغه په علم محیط کښ موجود دے،

تحقیق دَ آیت عالم الغیب فَلَا یظهر عَلٰی غیبه احدًا اِلّا مَنِ ارتضٰی الآیة

دَ اظهار لفظ مختلف معانیو کښې استعمالیږی ۔ ۱۔ ظاهر ول ۔ ۲۔ غالب کول ۳۔ خبرول۔ ۴۔ دَما پېژندلو په وخت کښې تلل۔ دلته څلورمه معنیٰ دمقام مناسب نه ده لکه چه ظاهره ده دغه شان اوله معنیٰ هم دلته نشی مراد کیدے ځکه چه دے سورة کښې دهغه استعمال دَ صله نه بغیر کیږی او غیبه منسوب کولو سره دهغه مفعول پکار وو او س پاتے شوه دوه معانی خبرول او غالب کول دا دواړه دلته مراد کیدے شی۔

سورة جن کښې د توحید آیتونه

۱۔ وَاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ .... تا .... ولن اجد من دونه مُلتحدًا ○ نفی دشرک اعتقادی

۲۔ عالم الغیب فلا یظهر علی غیبه احدًا نفی دشرک په علم غیب کښې۔



سُورَةُ الْمُزَّمِّلْ

رَبط : د سورهٔ مزمّل او مدثّر دواړو یو مضمون دے . حاصل د ربط دا دے چه په تیرشوو سورتونو کښ د توحید د مسئلے یو اړخ یعنی د الله تعالیٰ نه سیوا هیڅوک برکات دهنده نشته علیٰ وجه الکمال بیان شوید ے . دلائل عقلیه او نقلیه ، د دلائلو ثمرات ، د تخویفات او تبشیرات مختلف اسالیب (طریقے) او مختلف عنوانات سره د توحید اثبات او د شرک دنفی مضمون مفصّل او مدلّل شو . اوس تا سو د قرآن مجید تلاوت کښ مصروف اوسیږی ځکه چه د هدایت لاره د قرآن نه معلومیږی په توحید باندے ثابت قدم اوسیږئ هم دا مسئله د ټول قرآن خلاصه او نچوړ دے . وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا (مزمّل) او بیا صرف د قرآن په تلاوت باندے اکتفاء نه کوئ بلکه دے کښ چه کوم احکام ذکرشویدی خصوصًا د توحید د مسئلے د هغے تبلیغ هم کوئ . قُمْ فَاَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (مدثر) .

خلاصه يَاۤ اَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُمِ الَّيْلَ ...... تا ...... فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا . امر اوّل د شپے څه حصه قیام کوئ او دے کښ د قرآن تلاوت کوئ د الله تعالیٰ خالص عبادت په ځائے راوړئ او د هغه نه سیوا هیڅوک کارساز مه جوړوئ . وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ ...... تا ...... وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا . دویم امر تسلّی نبی علیه السّلام د پاره د کافرانو په خبرو مه خفه کیږئ د هغوئ (خبرے) پریږدئ څه به هغوئ ته پخپله سزا ورکوم . اِنَّ لَدَيْنَاۤ اَنْكَالًا ...... تا ...... وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيْبًا مَّهِيْلًا . تخویف دنیوی دے . موږ تاسو ته هم د غه شان عظیم الشّان رسول لیږلے دے چه تاسو ته د توحید دعوت درکوی لکه چه موږ فرعون ته رسول لیږلے وو . فرعون د هغے رسول نافرمانی اوکړه او د هغه دعوت ئے قبول نه کړو لو موږ هغه سخت عذاب سره او نیولو که چرے تاسو هم د دے عظیم الشان پیغمبر دعوت اونه منلو نو تاسو ته به سخت عذاب درکولے شی . فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ ...... تا ...... كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا . تخویف اُخروی د کفر او شرک او عصیان او طغیان سزا به صرف دنیا کښ نه وی بلکه د قیامت په ورځ به هم سزا خوری چه کله به هم نه ختمیږی . اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ترغیب الی الایمان واتباع القرآن . اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ اَنَّكَ تَقُوْمُ . الیٰ اٰخر السُّورة . د سورة ابتداء سره متعلق دے . وے فرمائیل . ما ته معلومه ده چه ستا سو نه به کمزوری او بیماران هم وی ، مسافر او مجاهد هم ، د دے وجه نه په قیام اللیل کښ تا سو باندے سختی اونه کړے شوه بلکه تاسو ته اختیار درکړے شوے دے چه څومره مقدار غواړئ قیام کوئ او څومره اندازه چه آسانه سره تلاوت کولے شئ هغه هومره مقدار تلاوت کوئ .

٭ ٭ ٭

سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ عِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة مزمل په مکه کښ نازل شویده دده آیتونه شل او رکوع دوه دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر نیات مهربان ډیر رحم کوونکے دے

يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿۱﴾ قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲﴾ نِّصْفَهٗٓ

اے په کپړو کښ ځان انغښتونکیه ف۱ او دریږه د شپے خنے شپه ف۲ ف۳ نیمه شپه . یا د دے نه کمه

اَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيْلًا ﴿۳﴾ اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ

کړه لږه شان یا زیاته کړه په هغے باندے او واضح کے لوله

الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴿۴﴾

قرآن صفا لوستلو سره .

موضح قرآن داسورة اول نازل شویدے کله چه په د وحی ویرے په وجه نبی علیه السلام باندے یخنی راغله نو په خپل ځان به ئے کپړے را نغښتلے الله هم دے نوم (خستلو سره هغه ته آواز او کړو - د شپے او دریږه یعنی د شپے مونځ کوئ ، دے دین اسلام کښ د ټولو نه اول د شپے مونځ فرض شو لیکن چو ته چه شپه نه دی نو معاف دے .

فتح الرحمن د اسلام په شروع کښ قیام لیل نبی علیه السلام او مسلمانانو باندے (موکد (لازم) گرځیدلے وو کله چه په هغوی باندے دا ډیر نیات گران شو روستو ئے پوشان رخصت نازل کړو ان ربك يعلم الی اخر السورة . اختیار ورکړے شو که څوک او غواړی نو قیام دا وکړی او که څوک غواړی قیام دِ نه کوی ، او هر څومره چه غواړی هغومره دِ قرآن اولولی (په مانځه کښ) . ف۳ یعنی کم چرے خنے شپے قیام نه کوی نو گناه نشته .

تفسیر

ف۱ يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ . په اصل کښ المتزمل وو د تفعل فا په ځائے زاء راغله دے وجه نه تا په زا بدل شوه په زا کښ ادغام اوکړے شو . المزمل . کپړے د ځان نه چاپیره کوونکے . نبی علیه السلام به کپړه په ځان راواچوله (د ځان نه به ئے تاو کړے) او دوه به شو لو . الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته دغه هیئت سره خطاب اوکړو د قیام اللیل حکم ئے ورکړو . کان النبی صلی الله علیه وسلم نائما باللیل متزملا فی ثیابه فامربالقیام للصلوٰة الخ (مدارک) . د حضرت ابن عباس او حضرت عائشة په نزد باندے اول قیام اللیل په ټولو باندے

فرض وو هغه نه ورستو دده فرضیت منسوخ شو. دغنو په نزد پاتې دے په نبي علیه السلام باندې فرض وو، په اُمت فرض نه وو روستو ده هغه نه هم فرضیت منسوخ شو او دغنو علماؤ په نزد باندې دابتداء نه حکم استحبابي وو لیکن روستو دے کښې زیات تخفیف اوشو.

۳ے قُمِ الَّیۡلَ. لفظ قلیل په محاوره کښې دنیم نه په کم اطلاق کیږي هم داوجه ده چه دَ لفلاتِ عَلَیَّ الف درهم الاَّ قلیلاً کښې دقلیلاً نه مراد په دپنځو سوو نه کم وي او س کیږے نصفهٗ دقلیلاً نه بدال او کرځولے شي نو دا ترکیب په دقلیلاً دذکرشوي ترکیب نه د استعمال نه خلاف وي. امام نسفي صاحب د مدارکؒ دده دوه جوابو نه ورکړي دے.

۱. نصف نه دکل اللیل (قوله شپه) په اعتبار سره قلیل وئیلے شوے دی. ددے اعتبار سره به ددے وارهٔ سُورتو نه په قلیل کښې داخل کړے شي. نصف و نصف نه کم او د نصف نه زیات.

۲. نصفهٗ مستثنیٰ منه مؤخر دے او دا د اللیل نه بدال دے. او قلیلاً مستثنیٰ مقدم ده په اصل کښې داسے وو. قُمۡ نِصۡفَ الَّیۡلِ اِلَّا قَلِیۡلًا مِنۡ نصف اللیل. لیکن ددے سورة کښې تکرار لازمیږي ځکه چه دَ قُمِ الَّیۡلَ اِلَّا قَلِیۡلًا اوْ اونقص منه (من النصف قلیلا مفهوم یو دے. صاحب د مدارکؒ ددے جواب داورکړے دے چه په اصل کښې خو نصف شپے نه د کم قیام حکم ورکړے شو، بیا په هغے کښې ئے دغه وخت د زیاتولو تخییر (اختیار) ورکړو. امام رازيؒ فرمائي چه قلیلاً نه مراد ⅓ دے چه هغه د اللیل نه مستثنیٰ کړے شو.

لهٰذا مقصد دا دے چه د شپے دوه ثلث یعني ⅔ قیام کوه او نصفه دکوم لفظ نه بدال نه دے بلکه مستقل دفعل مقدر د پاره مفعول دے المراد بالقلیل فی قوله "قم اللیل الا قلیلا هو الثلث فاذا قوله "قم اللیل الا قلیلا معناه قم ثلثی اللیل ثم قال نصفه والمعنی او قم نصفه (کبیر ج ۸ ص ۳۳۳)

حضرت شاه ولي اللهؒ دهلوی فرمائي چه دَ اِلَّا قلیلاً مطلب دا دے چه څخه شپه مه پاسه او نصفه دَ اللیل نه بدال دے نصفه او او انقص الخ. جمله د ماقبل تفسیر دے او مطلب دا دے چه نیمه شپه قیام (او دریدل) کوه یا د دے نه کم یا د دے نه لږ زیات. د حضرت شاه صاحبؒ په نزد دا توجیهه غوره کړے ده ځکه چه د دے سره پورته ذکر شوے اشکال هم ختمیږي. او دغه تکلف دارتکاب ضرورت هم پیش نه راځي.

۴ے ورتل القُرۡاٰن تَرۡتِیۡلًا نه مراد دَ قرآن مجید هر یو لفظ جُدا جُدا او واضح لوستل بنا ئسته او بنکلي صحت سره اداکول او غور او فکر کولو سره لوستل دي. قرطبي او مظهري)

اِنَّا سَنُلۡقِیۡ عَلَیۡکَ قَوۡلًا ثَقِیۡلًا ۝۵ اِنَّ نَاشِئَةَ

مونږ اچوونکي (نازلوونکي) یو په تا باندې یوه خبره ده درنده بیشکه ۶ے پاسیدل دَ

الَّیۡلِ هِیَ اَشَدُّ وَطۡاً وَّ اَقۡوَمُ قِیۡلًا ۝۶ اِنَّ لَکَ فِی

شپے سخت دے پائمال کوونکي دي (دنفس) او ډیره برابره ده خبره کولو (په ده) ۷ے بیشکه ستا د پاره

النَّهَارِ سَبۡحًا طَوِيۡلًا ﴿٧﴾ وَاذۡكُرِ اسۡمَ رَبِّكَ وَ

په ورځ کښې شغل ډېر نيات وى ۳ او ولوله ته نوم د خپل رب او

تَبَتَّلۡ اِلَيۡهِ تَبۡتِيۡلًا ﴿٨﴾ رَبُّ الۡمَشۡرِقِ وَالۡمَغۡرِبِ

جدا شه د هر څيز نه د هغه (الله) طرف ته د ټولو نه جدا کيدلو سره ماليک دے ۵ د مشرق او د مغرب

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذۡهُ وَكِيۡلًا ﴿٩﴾ وَاصۡبِرۡ عَلٰى

د هغه نه سيوا د هيڅ عبادت نشته نو او نيسه هغه کار جوړونکے او برداشت کوه ته

مَا يَقُوۡلُوۡنَ وَاهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرًا جَمِيۡلًا ﴿١٠﴾ وَذَرۡنِىۡ

کوم خبرې چه هغوى وائى او هغوى پريږده په ښه طريقه پريښودلو سره ۴ او پريږده ما

وَالۡمُكَذِّبِيۡنَ اُولِى النَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيۡلًا ﴿١١﴾

ما لره او د دروغ گنړونکو لره څوک چه په آرام (نعمتونو) کښې دى او مهلت ورکړه هغوى ته لږ شان

اِنَّ لَدَيۡنَاۤ اَنۡكَالًا وَّجَحِيۡمًا ﴿١٢﴾ وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ

بيشکه څمونږ سره ۱۲ اے بيړئ (درانه زنځيرونه) او د اور ويرے دے او خوراک مرئ کښې ا نختونکے

وَّعَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿١٣﴾ يَوۡمَ تَرۡجُفُ الۡاَرۡضُ وَالۡجِبَالُ

او عذاب د درد ناک دے په کوم ورځ چه اوخوزيږى زمکه او غرونه

وَكَانَتِ الۡجِبَالُ كَثِيۡبًا مَّهِيۡلًا ﴿١٤﴾

او شي غرونه د شگے ډيرى خويدونکى (روان).

موضح قرآن ۱ يعنى رياضت او کړه د روند پيښتي په آسان شي ۱۲

۲ يعنى لوئے رياضت دا دے چه نفس او وژلے شي او پا تمال کړے شي.

او د هغه وخت دعا او د الله ياد په ډير ښه طريقه ادا کولے شي ژبه او زړه سره مکثر تيا کوى.

۳ يعنى د ورځے خو د خلقو په هول او تعليم ورکول دى د عبادت دپاره د شپے وخت مقرر کړه.

۴ يعنى د خلقو نه په د ده شه ليکن په جنگ او شور نه په ښه طريقه.

فتح الرحمٰن: ۱ يعنى د کافرانو دعوت اسلام ته ۱۲

تفسير اِنَّا سَنُلۡقِیۡ. د قولِ ثقيل نه مراد قرآن دے، دے ته ثقيل (درون او مشکل) حکمه ويلے دے چه دده مضامين توحيد، حشر نشر

وغیره په مشرکانو باندے ډیرزیات سخت او درانه لګی یا ددهٔ احکام او فرائض او شرائع او حدود باندے عمل کول ډیر مشکل دی (مدارک وقرطبی)

ئے إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ ۔ داد قم اللیل علّت دے۔ نَاشِئَةَ د نَشَأَ نه په معنیٰ د قیام مصدر دے لکه چه عَافِيَة دے مُراد قیام اللیل (تهجّد) دے۔ وَطْأً مُوَاطَئَة۔ موافقت د قیلا نه دَقران تلاوت مُراد دے (مُ وَمَ، قرطبی)

تا سو دَ شپے پاڅیدو او لمونځ کولو حکم دے او د تلاوت کولو حکم دے ددے وجه نه درکړے شوے دے چه شپه دَسکون او اطمینان وخت وی شور وشغب (چغے سورے) نه وی ددے وجه نه انسان چه څهٔ په ژبه سره وائی نو زړهٔ پوره سکون سره دهغے طرف ته متوجه کیږی دغه شان دَ ورځے په نسبت د شپے وخت په زړهٔ او ژبه کښ دموافقت دپاره زیاتو موقع پیدا کوی۔ دغه شان دَغه نه والی او سکون د وجه نه تلاوت ډیر زیات صحیح او برابر ادا کیدے شی۔

کے إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا۔ په مهمات کښ اوګرځیدو، تصرّف او شغل یعنی تولهٔ ورځ تاسو په مهمات او مشاغل کښ مصروف او سیږی او عبادت دپاره بالکلیه (پوره) فارغ نهٔ یئ۔ ددے وجه نه دَ شپے وخت نه غنیمت او ګڼړی او دَ شپے پاڅیږهٔ دالله تعالیٰ عبادت په خاطر راوړئ۔ (سَبْحًا طَوِيلًا) ای تقلبا وتصرفا فی مهماتك واشتغالا بشواغلك فلا تستطیع ان تتفرغ للعبادة فعلیك بها فی اللیل (روح ج ۲۹ ص۱۰۵)۔

ھے وَاذْكُرِ اسْمَ ۔ دعویٰ توحید بیان هروخت دَالله تعالیٰ په یاد کښ دهغهٔ په تسبیح او تهلیل، تمجید او تقدیس کښ مشغول اوسیږه۔ په مُهمّات او مشکلات کښ صرف هغهٔ ته آواز کوه۔ دما سوائے نه جُدا شه صرف دالله شهٔ خالِص دهغهٔ عبادت او کړه او دهغهٔ سره هیڅوک شریک مهٔ ګرځوه۔ اُدْعِهِ بِأَسْمَائِهِ الْحُسْنٰى (قرطبی) ودم علی ذکره فی اللیل والنهار وذکر الله یتناول التسبیح والتهلیل والتکبیر والصلاة وتلاوة القران ودراسة العلم (مدارک)۔ اوتبتل الیه تبتیلا) ای اخلص له العبادة (ابن کثیر) ای انقطع بعبادتك الیه ولا تشرك به غیره (قرطبی ج ۱۹ ص۴۳)۔ تائید: وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ ۝ اعراف ع ۲۴)۔

فے رَبُّ الْمَشْرِقِ ۔ دا مُبتدا، مقدّر دپاره خبر دے ای هُوَ رَبُّ الْمَشْرِقِ۔ مشرق او مغرب د ټولو کائنات نه کنایه ده۔ فَاتَّخِذْهُ کښ فاء فصیحیه ده کله چه د ټولو کائنات رب او مالک صرف هغه دے او دهغهٔ نه سوا څوک اله او معبود نشته۔ نو بیا صرف هغهٔ ته آواز کوه او هغه کارساز او ګرځوه او په خپلو ټولو مشکلاتو کښ په هغهٔ باندے اِعتماد کوه او په خپلو ټولو کارونو کښ صرف هغهٔ ته آواز کوه۔ فالمعنی انه لما ثبت انه لا اله الا هو لزمك ان تتخذه وکیلا وان تفوض کل امورك الیه (کبیر ج ۸ ص۳۴۳)

لے فَاصْبِرْ ۔ دا نبی علیه السّلام ته تسلی ده۔ د مشرکانو بَد رَد ویل او دَ دعوی

تکلیف رسونکی خبرے صبر او تحمل سره برداشت کړه او د دوی معامله خپل کارساز ته حواله کړی او په ښه طریقه سره د دوی نه جدا شه زړه او عمل سره د دوی مخالفت اوکړه او ظاهری رواداری په خپل حال اوساته. والهجرا لجمیل ان یجانبهم بقلبه وهواه و یخالفهم فی الافعال مع المداراة والاغضاء، وترك المکافاة. (کبیر ج ٨ ص ٣٣٠)۔

١ـ وَذَرْنِیْ. زجر او تخویف دنیوی یا اخروی ۔ نَعْمَة. عیش و عشرت ۔ دا طریقه د دے نه کنایه ده چه تاسو هیڅ فکرمه کوئ مونږ په خپله د دے معاندینو نه بدله واخلو د دوی نه چه چا د دنیا خوندونو او چرچو ته خپل زړونه ورکړی دی مزے چرچے کوی او حمونږ د پیغمبرانو نه انکار کوی، د دغه شان کنړی هغه پریګده او د هغوی معامله ما ته حواله کړه او هغوی ته لږ شان مهلت ورکړه بیا ګوره چه د هغوی حشر څنګه کیږی. لږ مهلت نه مراد د ژوند زمانه ده یا د ده جنګ بدر پورے وخت مراد دے ۔ دے معاندینو ته د بدر په میدان کښ د ذلت او رسوائی نه ډک عذاب مزه اوڅکولے شوه او څوک چه د دے عذاب نه بچ شول نو هغه به د مرګ سره په عذاب کښ مبتلا شی.

٢ـ اِنَّ لَدَیْنَآ ۔ تخویف دنیوی دے ۔ انکال. د نکل (په کسره د نون او فتح سره) جمع ده د زون وزن لرونکی بیړئ (زنځیرونه) ۔ ذا غصة (په مری کښ انښتونکے) د خلق نه نه تیریدونکی د دنیاوی عذاب نه علاوه په آخرت کښ هم مونږ د هغوی د پاره مختلف او قسم قسم عذابونه تیار کړی دی ، د هغوی په خپو کښ به بیړی واچولے شی او د جهنم ګرم لمبه وهونکی اور کښ به ورا وغورځولے شی او خوراک د پاره به زقوم و ګرم اوبه او وینے خوئے او نور د ازغو نه ډک قسم څیزونه او خوراکونه وی چه د هغے تیرول به ډیر مشکل وی د دے نه علاوه په څو څو قسم دردناک عذابونه او سزاګانے وی.

٣ـ یَوْمَ تَرْجُفُ. د یوم عامل مقدر دے ای استقر ذلك العذاب لدینا و ظهر یوم تضطرب الارض والجبال وتتزلزل (روح ج ٢٩ ص ١٠٨)۔

ترجف. سخت خوزیدلو او زلزلے سره به مخامخ شی. کثیبا. د شګے ډیری. مهیلا. نرم د خپو لاندے سره الوتونکی. دا عذاب مونږ سره تیار دے او هغه ورځ به راپریوځی کله چه زمکه او غرونه د قیامت په ورځ ډیر زیات سخت زلزلے سره مخامخ شی او غرونه د نرمے شګے په شان ډیری جوړ شی او په اخر کښ به زمکے سره هموار شی. دا د قیامت د ورځ نقشه او منظر دے.

اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلَیْکُمْ رَسُوْلًا ۙ شَاهِدًا عَلَیْکُمْ کَمَآ

مونږ اولیږلو ګله تاسو طرفته رسول بیانونکے تاسو خبرو (د اعمالو) لکه چه

اَرْسَلْنَآ اِلٰی فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ﴿١٥﴾ فَعَصٰی فِرْعَوْنُ

اولیږلو مونږ فرعون ته رسول پس خبره اونه منله فرعون

الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا ﴿۱۶﴾ فَكَيْفَ

د رسول نو اونیولو مونږ هغه لره په سخت نیولو (عذاب) سره. پس څنګه به

تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ

بچ شئ که چیرے منکر شوئ د هغې ورځې نه چه اوبه ګرځوی هلکان

شِيْبَا ﴿۱۷﴾ ۖ السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌۢ بِهٖ ؕ كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ﴿۱۸﴾

بوډاګان ولا. آسمان به اوچوی د هغه. وعده د هغه کیدونکې ده.

اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى

دا خو آیت نصیحت دے پس څوک چه اوغواړی نو جوړه دې کړی

رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۱۹﴾ ع

خپل رب طرف ته لار.

نکات ۱ تخویف اخروی ۲ ۲ ترغیب ایمان ته او د قرآن اتباع ته.

موضح قرآن ف۱ د هغه ورځې د سختی نه یا د اوږد والی نه اګرچه په حقیقت کښې خو به هلکان نه زاړه کیږی لیکن بیا به هم د هغه ورځې د اوږد والی اقتضا داوی چه هلکان بوډاګان شی.

تفسیر

۱۲ اِنَّآ اَرْسَلْنَآ. دا تخویف دنیوی دے. شاهد حق بیانولو والا. بندولو والا (شاه عبدالقادر) لفظ شاهد نه ګواه مراد اخستلو سره د دے نه نبی علیه السلام حاضر ناظر کیدو باندې استدلال صحیح نه دے، د دے تحقیق په سورة بقره په تفسیر کښې تیر شویدے (ص) خطاب مشرکینو ته دے. وَبِيْلًا شدیدا، غلیظا (مدارک). څنګه چه مونږ د فرعون ته یو رسول (موسیٰ علیه السلام) اولیږلو چه هغه فرعون او د هغه قوم ته د توحید دعوت ورکړو د غه شان مونږ د تاسو ته هم یو عظیم الشان رسول (محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم) لیږلے دے چه هغه تاسو ته د توحید دعوت درکړی او نیغه لاره درته اوښائی. فَعَصٰى فِرْعَوْنُ. فرعون او د هغه قوم د رسول نا فرمانی اوکړه او د هغه دعوت ئے اونه منلو نو مونږ هغه ډیر سخت رااونیولو او هغه مو په دریاب کښې ډوب کړو او س تاسو هم د خپل رسول نا فرمانی او مخالفت کوئ که تاسو په د غه عصیان او طغیان باندے قائم شوئ نو تاسو ته به هم د دنیا که سزا درکړے شی. څکه چه د بدر په میدان کښې هغه معاندینو ته د قتل او قید رسواکوونکی عذاب مزه اوڅکوله.

تفسیر ۱۵ے فکیف تتقون. تخویف اُخروی دقیامت په ورځ دویره سختي پریشانۍ بیان دے کچرے مونږ ستاسو نه خوګ دغه مصلحت په وجه په دنیا کښې اونه نیسو نو دقیامت په ورځ دقیامت عذاب نه تاسو په هیڅ طریقه هم نشئ بچ کیدے. دا ورځ به دیره زیاته سخته او دهشت ناکه وی سخته دیره او په دیرخفګان او غم کښې به دا ورځ ضرب المثل وه ددے دسختۍ په وجه به اسمان ټکړے ټکړے شی او دا به ضرور وی دالله تعالی په فیصلو کښې ذ وعدے نه خلاف نشته. یجعل الولدان شیبا. محاوره چه دسختۍ نکنایه ده. لکه چه دبيلے شی. یوم لشیب نواصی الاطفال. (کبیر) یا مطلب دا دے چه دقیامت په ورځ کچرے بالفرض داعتا ذکر. یچی وی نو دویر سخت ذویرے په وجه به بوداګان شی. څکه چه دخفګان او غم زیاتوالے او دویرے او خطرے سختوالے انسان دیرزربوداوالی ته رسوی. تائید :- یوم ترونها تذهل کل مرضعة (حج ع)

۱۶ے ان هذه تذكرة. دا ټول پورتنے ذکر شوے بیان عبرت او نصیحت دے کوم سړے چه غواړی دد دے نه د نصیحت حاصل کړی. دالله تعالی په دربار کښې دے د فائدے مونډلو او تقرب لاره اختیار کړی یعنی ایمان د راوړی او نیک کارونه د کوی چه په کوم الله تعالی راضي کیږی.

اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ اَنَّكَ تَقُوْمُ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ

بیشکه ستا رب ۱۷ے ته معلومه ده چه ته پاڅئ نژدے دوه ثلث

الَّيْلِ وَنِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ الَّذِيْنَ

د شپے او دریمه حصه د شپے او دیرخلق ستا

مَعَكَ ۭ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۭ عَلِمَ اَنْ

سره. او الله په اندازه کوی شپه او ورځ هغه ته معلومه ده

لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ

چه تاسو به دا پوره نه کړے شئ ولے نو تاسو ته ئے معافي راولیږله اوس لولئ څومره چه تاسو ته

مِنَ الْقُرْاٰنِ ۭ عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ

اسان وی د قرآن نه. هغه معلومه کړه چه دیر به وی ستاسو نه بیمار او

وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ

دیرخلق به سفر کوی په زمکه کښې طلب کوی به

فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ

د الله تعالیٰ فضل او ډیر خلق به جنګ کوي د الله تعالیٰ په لاره کښې۔

فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ

پس لولئ څومره چه تاسو ته آسان وي دغه قرآن نه۔ او قائم کړئ مونځ او ورکړئ

اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ۭ

زکوٰة او قرض ورکړئ وله الله ته په ښه طریقه قرض ورکول ف۱

وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ

او کوم څه چه مخکښې او لیږئ خپل ځان د پاره څه نیکي هغه به بیا مومئ

عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا ۭ وَاسْتَغْفِرُوا

الله پاک سره غوره او په ثواب کښې زیات او معافي اوغواړئ

اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾ ع

د الله تعالیٰ نه۔ بیشکه الله تعالیٰ بخښونکے مهربان دے۔

نکات

ﷺ۳ متعلق دے دسورة دابتدا سره ۱۲ ﷺ۴ علت فَتَابَ عَلَيْكُمْ دپاره ۱۲۔

موضح قرآن

ف۲ د شپے پاڅیدلو (قیام اللیل) حکم یوکال پورے وو بیا منسوخ شو څکښې آیت نازل شو۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعني مواظبت (همیشوالے) نښې کولے۔
ف۲ یعني مال خرچ کړئ په جهاد کښې د ثواب اُمید لرلو سره په آخرت کښې

مترجم وائی دا آیت یوکال روستو نازل شو او نبي علیه السلام دے سورة سره یو ځائے کړو دمناسبت په وجه سره او د دے وجه په اسلوب کښې د باقي سورتونو سره یائے نه شو ۱۲ والله اعلم

تفسیر

ﷺ اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ ۔ دا د سورة د ابتدا سره متعلق دے. د اکثر مفسرین په نزد باندے دا سورة د سورة په ابتدا کښې د ذکر شوے حکم د پاره ناسخ دے څکه چه دے سره په حکم سابق کښې اساني شوې ده۔ لیکن د حضرت شاه ولي الله په نزد باندے څکښېني حکم استحبابي وو، دے کښې زیات تخفیف او آساني اوکړے شوه چه د نصف او ثلث وغیره صحیح اندازه نښې کولے. د دے وجه نه چه څومره مقدار قیام کولے شي دومره مقدار کوئ د مخکوره مقدارونو پابندي ضروري نه ده۔ دے فرمائیل مونږ، ته معلوم ده چه تاسو د شپے دریمه حصه د نصف او تقریباً دوه ثلث پورے قیام کوئ. او ستاسو صحابه کرامؓ

رضی الله عنهم یو جماعت هم دغه شان کوی لیکن شپه اؤ ورځ کمیږی اؤ زیاتیږی. ددے وجه نه تاسو ددے مقدار ونو صحیح اندازه نه شئ کولے ددے وجه نه چه څومره مقدار اسانۍ سره لوستے شئ هغه هومره لولئ.

۱۸ علم ان سیکون. دا دَ فَتَابَ علیکم علت دے الله تعالیٰ ته معلومه ده چه په تاسو کښ به بیماران اؤ کمزوری هم وی اؤ مسافر اؤ مجاهد فی سبیل الله هم چه دَ خپل ضعف اؤ دَ خپل ورځنی مصروفیات سفر اؤ جهاد په وجه سره قیام اللیل نه شی کولے، ددے وجه نه چه څومره آسانه په اسانۍ سره لوستے شی هغه هومره لولئ لیکن دَ مانځه دفرضیځے پابندی په هرحال کښ کوئ. وَاٰتُوا الزَّکٰوۃَ. دا سورة چونکه مکیه دے اؤ زکوٰة مدینه یا دمکی ژوند په اخرکښ فرض شوے دے. ددے وجه نه دلته زکوٰة الفطر مُراد دے (کبیر) یا دعقائدو تزکیه استقامت سره په لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله (حضرت شیخ رحمه الله).

۱۹ واقرضوا. دے نه مُراد نفلی صدقات دی. یا دَ جهاد دَ ذکر نه وروستو دے کښ دانفاق فی سبیل الله ترغیب دے. وَمَا تُقَدِّمُوْا. کوم مال چه تاسو دالله تعالیٰ په لار کښ خرچ کوئ هغه تاسو دپاره دَ اخرت ذخیره ده ددے وجه نه بهتره ده چه دمرګ دَ آثاراؤ علامات ظاهریدو نه مخکښ دَ الله په لاره کښ خرچ اوکړئ ځکه چه کوم صدقه تاسو د مرګ نه مخکښ کوئ هغه دَ هغه اے په نسبت په اجر و ثواب کښ دَ هغه صدقات نه زیات افضل اؤ اعلیٰ ده کوم چه تاسو د مرګ په وخت کښ کوئ. وقال ابن عباس رض تجدوه عند الله خیرا واعظم اجرا من الذی تؤخره الی وصیتك عند الموت (کبیر ج ۸ ص ۳۴۶).

اعمال صالحه کښ دَ خپلو کوتاهیانو اوکړے بخښش دَ الله تعالیٰ نه اوغواړئ بیشکه هغه بخښونکے اؤ ډیر مهربان دے تو به ویستونکو اؤ ګناهونو بانده پښیمانه کیدونکو لره خالص خپل رحمت سره معاف کوی. ربنا اغفرلنا ذنوبنا واسرافنا فی امرنا وثبت اقدامنا وانصرنا علی القوم الکفرین.

سورة مزمّل کښ دَ توحید اٰیتونه

اؤ دَ هغے خصوصیات

۱۔ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِیْلًا ۝ دَ قران دَ تلاوت سره دَ توحید په مسئله بانده استقامت نصیب کیږی.

۲۔ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَکِیْلًا ۝ نفی دَ شرک فی التصرف۔

سُورَةُ الْمُدَّثِّر

ربط: سورۃ مزمّل کښې ئې اوفرمائیل چه د قرآن پاک په تلاوت کښې مشغول اوسه او په توحید باندې قائم اوسیږې او س په سورۃ مدثر کښې ئې او فرمائیل د قرآن تلاوت سره سره د قرآن دعوت هم ورکوې یعنې د مسئله توحید او د هغې د لورو احکامو تبلیغ هم کوې.

خلاصه یٰاَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ .... تا .... وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ○ دا د سورۃ دعوی ده د الله تعالیٰ د عذاب نه (خلق) اووېره ده، د الله تعالیٰ توحید بیان کړه او د شرک نه د هغه تقدیس او پاکی بیان کړه. وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ. تسلی نبی علیه السلام د پاره. فَاِذَا نُقِرَ فِی النَّاقُوْرِ .... تا .... غَیْرُ یَسِیْرٍ. تخویف اخروی. د قیامت ورځ به د کافرانو د پاره ډیره زیاته سخته او ګرانه وی. ذَرْنِیْ وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِیْدًا .... تا .... اِنَّهٗ كَانَ لِاٰیٰتِنَا عَنِیْدًا. زجر د پاره د معاندینو یا د ولید بن مغیره. صَعُوْدًا .... تا .... وَمَا هِیَ اِلَّا ذِكْرٰی لِلْبَشَرِ. تخویف اخروی دے او زجر. كَلَّا وَالْقَمَرِ ○ وَالَّیْلِ اِذْ اَدْبَرَ .... تا .... كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِیْنَةٌ. زجر. اِلَّآ اَصْحٰبَ الْیَمِیْنِ ○ فِیْ جَنّٰتٍ یَّتَسَآءَلُوْنَ ○ بشارت اخرویه. مَا سَلَكَكُمْ فِیْ سَقَرَ .... تا .... فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِیْنَ ○ تخویف اخروی. د معاندینو اوس خو نه منی. لیکن د قیامت په ورځ به د خپل جرم او ګناه اعتراف کوی، او وائی به چه ن مونږ د هغه ګناهونو سزا مومو. فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِیْنَ ○ د سورت تر آخر پورې زجر دے وعظ او نصیحت او د توحید دعوت نه داسې تختی شنګه چه د ازمری نه خر تختی، هغوی دا غواړی چه هغوی ته نیغ په نیغ (بغیر د واسطه نه) د الله تعالیٰ له طرفه پیغام راشي، لیکن دا ممکن نه ده.

سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرِ مَكِّیَّةٌ وَّهِیَ سِتٌّ وَّخَمْسُوْنَ اٰیَةً وَّفِیْهَا رُكُوْعَانِ

سورۃ مدثر په مکه کښې نازل شوې ده، ایتونه شپږ پنځوس او دوه کښې دوه رکوع دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

یٰاَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿۱﴾ قُمْ فَاَنْذِرْ ﴿۲﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿۳﴾

اے تولانې کښې ځان رانغښتونکیه! پاڅه پس ویره ورکړه او د خپل رب لوئی بیان کړه

وَثِیَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿۴﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿۵﴾ وَلَا تَمْنُنْ

او خپلې کپړې ئې پاکې کړه او د پلیتئ نه لرې شه او د احسان مه کوه ګڼه چه

تَسۡتَكۡثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَاصۡبِرۡ ۝٧ فَإِذَا نُقِرَ فِي

احسان اوکړې او بدله دې زیاته غواړې ۳ او د خپل رب ته امید او ساته. ف۱ بیا چه کله اواز اوشي ۵ په

النَّاقُورِ ۝٨ فَذَٰلِكَ يَوۡمَئِذٖ يَوۡمٌ عَسِيرٌ ۝٩ عَلَى

شپیلۍ کښ پس هغه ورځ ډیره سخته ورځ ده په

الۡكَٰفِرِينَ غَيۡرُ يَسِيرٖ ۝١٠

کافرانو باندې نه ده آسانه.

نکات

۱ دسورة دعویٰ ۱۲. ۲ تسلّی ۱۲ ۳ تخویفِ أخروی ۱۲

موضح قرآن

ف۱ چه دا سورة نازل شو دغه وخت خلقو ته د دعوت حکم اوشو او د مانځه حکم اوشو مونځ سره تکبیر هم مقرر شو او د کپړو پاکولو حکم هم دے او د پلیتۍ نه د بچ کیدلو حکم هم دے. یا نے پلیتي ویلے ده بتانو ته چه هغه اکثر په پیو او تیلو کښ ګنده او ککړ وی. او دا هم ایت شو چه چاته ورکړه اوکړې هغه نه بدله مه غواړې د خپل رب په ورکړه شاکر اوسه ۱۲.

ف۲ یعني شپیلۍ کښ پوکے وهل ۱۲.

فتح الرحمن

ف۱ یعني د وحي د هیبت نه ۱۲.

ف۲ یعني هدیه ورکړه یو رئیس ته دے د پاره چه هغه د هدیه قیمت نه زیات رعایت اوکړی دا د کمزورو او ادنیٰ اخلاقو نه ده.

۱ یَا أَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ په أصل کښ مُتَدَثِّرٌ. د فاء تَفَعُّل په ځائے د دال واقع کیدلو په وجه سره تاء د تَفَعُّل په دال سره بدله شوه إدغام اوکړے شو. دا د دِثَار نه ماخوذ دے دِثَار هغه کپړے ته ویلے شي چه د بدن سره متصل لګیدلے اغوستل شوو جامو د پاسه اغوستلے شي. مثلاً غټ څادر یا کمبل وغیره. المتدثر وَهُوَ الَّذِی یتدثر بثیابه لینام اولیستدفی (کبیر ج ۸ ص ۳۴۲).

د اولني وحي نه روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل عادت موافق غارِ حراء ته تشریف یوړو کله چه د خپل معمول نه فارغ شول د غره نه ښکته راغلل نو چاورته آواز اوکړو هغوی ۲ هر طرف ته اوکتل لیکن هیڅوک په نظر رانغلل بیا هغوی اسمان طرف ته اوکتل نو هغوی په فضا کښ په کرسۍ باندې ناست هغه فرشته په نظر راغله کوم چه په غارِ حراء کښ اول ځل هغوی ته راغلے وه نبي علیه السلام چه هغے ته اوکتل نو او ویریدو او په هغوی باندې د رچیدو کیفیت جاري شو کور ته یے تشریف راوړو او د کور خلقو ته یے اوویل. دَثِّرُونِی. په ما کپړے واچوئ. هغوی په ځان کپړے واچولے سملاستل نو دغه حالت کښ دا سورة نازل شو. (ابن کثیر، رُدو ۳).

دسورت په شروع کښ دعویٰ ذکر ده، وے فرمائیل په کپړو کښ اغوستلے شویه

اؤ ارام طلب کوونکیه اوس د ارام وخت نهٔ دے . پا شه د همت ملا اوتړه اؤ د خدای مخلوق خبر کړه چه په شرک کښ مبتلا دی. هغوئی د خدائ د عذاب نه اوویره وه . اؤ هغوئ د شرک نه منع کړه اؤ هغوئ ته د توحید دعوت ورکړه الانذار دعا ئهم الی التوحید لانه المقصود بها (النبوة) قرطبی ج ۱۹ ص ۶۰)

وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ . د خپل رب د عظمت اؤ لوئے اعلان اوکړه اؤ د مشرکانو د شرک اؤ افتراء نه د هغهٔ پاکی بیان کړه . المقصود الاولی من الامر بالقیام ان یکبر ربه وینزهه من الشرک (ابو السعود ج ۸ ص ۳۵) ومعنی کبر عظمه عن الحدوث وعن سمات النقص والزوال وعن التشریک فی وجوب الوجود والالوهیة والتشریک فی العبادة الخ (مظهری ج ۱۰ ص ۱۲۴) .

۳ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ . د خپلو عملو نو اصلاح اوکړه اؤ د خپل نفس بهترین اخلاق اؤ ښائسته خوبونو سره ښائسته کړه دے د پاره چه د تبلیغ اؤ انذار د کامیابئ لاره هواره شی . انه امر له صلی الله تعالی علیه وسلم بالتخلق بالاخلاق الحسنة الموجبة لقبول الانذار بعد امره علیه الصلاة والسلام بتخصیصه ربه عزوجل بالتکبیر الخ (روح ج ۲۹ ص ۱۱۸) . وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ . رُجز نه بتان اؤ باطل معبودان مراد دی لکه چه د حضرت ابن عباسؓ ابن زید مجاهد اؤ عکرمه نه نقل شوی دے قال مجاهد وعکرمةؓ یعنی الاوثان : دلیله قوله تعالی فاجتنبوا الرجس من الاوثان وقاله ابن عباس وابن زید (قرطبی ج ۱۹ ص ۶۵) یعنی د باطل معبودانو عبادت پریګده دئ . فاهجر سره د هجران احداث مراد نهٔ دے یعنی دا مطلب نهٔ دے چه معاذ الله اوس تاسو د بُتانو عبادت پریږ. دئ ځکه چه انبیاء علیهم السلام خود و ړوکو ګناهونو نه هم معصوم وی بلکه مراد دوام هجرت دے یعنی تاسو د بُتانو د عبادت په ترک اؤ پریښودلو باندے قائم اوسیږئ اؤ ثابت قدم اوسیږئ المراد الدوام والثبات علی هجر ذالک (روح) . یا په تقدیر د مضاف اهل رجز یعنی مشرکان مرادی ، مطلب دا دے چه د مشرکانو نه لرے شه تاسو ته :- وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ٥ (القصص رکوع ۹) حاصل دا دے چه تاسو د توحید د دعوت او تبلیغ کار سرته اورسوئ کوم چه ستاسو فریضه دهٔ . په هغے کښ د زړه نه برابر نرمی او نکړئ (قاله الشیخ رحمه الله تعالی)

۶ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ . مرفوع دے اؤ ولا تمنن د فاعل نه حال دے . دا د نهی جواب نه دے ځکه نو مجزوم نه دے . تاسو د الله تعالی پیغمبر ئے اؤ د الله تعالی له طرفه په تبلیغ باندے مامور ئے . دد ے وجه نه تاسو په خلقو باندے د نبوت اؤ تعلیم اؤ تبلیغ احسان مه کوئ چه تاسو ته په کثرت سره دولت حاصل شی ستاسو اجر اؤ ثواب د الله تعالی په ذمه دے . قال ابن زید معناه لا تمنن بالنبوة علی الناس فتاخذ علیها عوضا واجرا من الدنیا (مظهری ج ۱۰ ص ۱۲۵) یعنی تاسو محض د الله تعالی د رضا د پاره تبلیغ کوئ د چا نه

دخته معاوضے امتیں مه ساتۀ او نه چه په چا د دعوت او تبلیغ احسان اوکړې ولربک فاصبر ـ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده د کافرانو او مشرکانو له طرفه که په توحید او تبلیغ باندے کوم تکلیفونه راشی نو خفه نه شې بلکه محض د الله تعالی دپاره تکالیف باندے او د تبلیغ په اداکولو باندے او د مشرکانو په ضرر رسولو باندے صبر اوکړې. ای لوجه ربک امره بالصبر فیتناول الصبر علی تکالیف النبوة وعلی اداء طاعة الله وعلی اذی الکفار (بحر ج ۸ ص ۳۷۲).

ف فاذا نقر. تخویف اخروی. نقر ای نفخ یعنی پوکے اوکړے شی. فذالک..... الخ جمله جزائیه شرط ده. یومئذ د ذالک نه بدل دے او اسم غیر متمکن طرف ته مضاف کیدلو په وجه یوم مبنی علی الفتح دے. یوم عسیر. ذلک دپاره د خبر دے علی الکافرین. عسیر سره متعلق دے. غیر یسیر، د عسیر تاکید دے (مدارک) کله چه په شپیلئ کښ پوکے اوکړے شی او قیامت قائم کړے شی نو دا ورځ به په کافرانو او مشرکانو باندے ډیره زیاته سخته او ګرانه وی. دغه ورځ کښ به هیڅ قسمه اسانی، رعایت او راحت هغوی ته حاصل نه وی.

ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿۱۱﴾ وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا

پریږده ما او هغه څوک چه ما پیدا کړے دے یواځے وا او ورکړو ما هغه ته مال

مَّمْدُودًا ﴿۱۲﴾ وَبَنِينَ شُهُودًا ﴿۱۳﴾ وَمَهَّدتُّ لَهُ

ډیر خور دور او خامن په مجلس کښ کیناستونکی (لعفه سره) او تیار مے کړو هغه دپاره

تَمْهِيدًا ﴿۱۴﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ﴿۱۵﴾ كَلَّا ۖ إِنَّهُ كَانَ

په بنه تیاری سره. بیا طمع کوی چه نور هم ورکړم ورته. هرګز دا به نه وی هغه

لِآيَاتِنَا عَنِيدًا ﴿۱۶﴾ سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ﴿۱۷﴾ إِنَّهُ فَكَّرَ

څوک زمونږ د آیتونو نه مخالف دے. ارس به دے او خیژوم په ډیر او چت غاڼه ولے هغه فکر اوکړو

وَقَدَّرَ ﴿۱۸﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۱۹﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۲۰﴾ ثُمَّ

او په زړه کښ ئے اندازه اوکړه. پس اووژلے شو څنګه اندازه ئے اوکړه. بیا دا ووژلے شی څنګه اندازه ئے اوکړه بیا ئے

نَظَرَ ﴿۲۱﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿۲۲﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿۲۳﴾ فَقَالَ إِنْ

اوکتل بیائے تندے تریو کړو او مخ ئے تریو کړو. بیائے شا کړه او غرور ئے اوکړو. پس وے ویل هیڅ نه

هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿۲۴﴾ إِنْ هَٰذَا إِلَّا قَوْلُ

دے دا جادو دے چه راچلیږی نور هیڅ نه دے. خو دا وینا ده د سړی

الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾ سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا

د انسان. اوس به هغه واچوم په اور کښې. اؤ تا ته څه معلومه ده چه څنګه دے.

سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾

هغه اور. نه به څه باقی ساتی اؤ نه به څه پریږدی. سوزوونکے دے دا انسانانو لره

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

په هغه مقرر دی نولس (۱۹) فرښتے.

نکات

سلا زجر دے معاندینو د پاره عموماً یا د ولید بن مغیره د پاره خصوصاً.
سلا تخویف اُخروی اؤ زجر ۱۲ سلا تخویفِ اُخروی.

موضح قرآن

ولا یعنی د خپل پلار یو ځوئے دے چه د هغه شریک نشته بل کوم رور
یا یو ودے دُنیا په لیاقت اؤ مالداری کښې.

ولا وائی چه دا ځه ولید کافر ته اوویل هغه لره پورے ملګو نه کتلے وو. کافرانو هغه
ته اوویل چه ته وا ؤره محمد ﷺ ته وائی اؤ تجویز پیش کړه چه دا څه دی نبی علیه السلام قرآن
اولوست. د ځه وخت هغه مخ تریو کړو خفه شے ورانه کړه دا شے اوویل چه دا خو جادو دے.
ولا په دوزخ کښې یو غر دے ډیر اوچت کافران به په هغے باندے همیشه خیژولے شی،
دا هم یو عذاب دے ۱۲.
فلا لکه څنګه چه او سپینه په اور کښې سره شی او سره په نظر راځی دا نسانانو کافرانو پښې ئی
به هم هغه شان سرے په نظر راځی.

فتح الرحمٰن

ملا مترجم وائی دا تصویر دے د کافر د حال چه الله تعالیٰ هغه ته
نعمتونه ورکړے دی اؤ هغه په کفر باندے همیشه ټینګ ولاړ وی.
كَفَرَ وَعَبَسَ. وَبَسَرَ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ. د ویونکی د حال تصویر اؤ نقشه ده اؤ تردد دے ۱۲.
والله اعلم.

تفسیر: لا ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ. دا زجر دے دے آیتونو نه هر کافر، معاند
سرکش اؤ متکبر مُراد دے. یا دا د ولید بن مغیره مخزومی په حق کښې دے. لکن العبرة لعموم
المعنی لا لخصوص المورد. وَحِيدًا، ذرنی کښې د ضمیر مفعول نه حال دے یعنی
مالره پریږده زه به یواځې د هغه نه بدله واخلم یا د خلقت د تاء نه حال دے یعنی ما هغه
یواځې پیدا کړے یے اؤ زه به یواځې په غیر د چا د امداد نه هلاک هم کړم یا دا د ضمیر منصوب مقدر نه حال دے
چه د مَنْ طرف ته راجع دے ای خلقته وحیدا یعنی ما هغه د مال اؤ دولت نه خالی اؤ اولاد
نه یواځې پیدا کړے دے پیدائش په وخت هغه سره نه مال وو اؤ نه اولاد دا نعمتونه روستو ما
هغه ته ورکړل څنو مفسرینو لیکلی دی چه وحیدًا د ولید بن مغیره لقب وو الله تعالیٰ په طور

دَ استهزاء دهغهٔ مشهور نوم لقب سره ذکر کړیدے. (بحر، قرطبی، ج ۲۶)

۱۲ وجعلت له. ممدودًا. کثیرًا. مشهودًا. حاضر. په سفر او حضر کښ او تجارت او تصرف کښ دهغهٔ سره حاضر او سیدونکی یا دخپل قابلیت او محنت دریز کیدلو په وجه سره په مجلسونو او محفلونو کښ شریکیدونکی موئز. دهغهٔ دَ دُنیوی قدر او عزت او دهغهٔ دمشرئ او سردارئ دوجه نه په مجلسونو کښ او محفلونو کښ شریکیدلو ته ښهٔ فراخی ورکړه. ومهدتُّ لهٔ موئز. چه کله هغهٔ پیدا کړو نو هغهٔ یواځې او خالی او خوار او بے مال وو بیا موئز. هغهٔ ته ډیر زیات دولت ورکړو هغهٔ ته موئز. لائق او قابل اولاد ورکړو خلقو باندے موئز. دهغهٔ دَ رعب، داب مشرئ او سردارئ سکه کینوله لیکن هغهٔ ناشکری اوکړه الله تعالیٰ دپاره ئے شریکان جوړ کړل او دهغهٔ په دین پورے ئے ټوقے اوکړے او بیا هم اُمید لری چه موئز. به اوس هغهٔ ته زیات انعام ورکړو هرګز داسے نهٔ دهٔ. ای خلقته منفردًا ذلیلاً قلیلا لا مال له ولا ولد فآتاه الله تعالیٰ المال والولد فکفر نعمته واشرک به واستهزأ بدینه (بحر ج ۸ ص ۳۷۳). انه کان لایٰتنا عنیدًا. هغهٔ زموئز. دَ آیتونو نه منکر او عناد کړی او س به په هغهٔ باندے زیات انعام نهٔ وی بلکه اوس به هغهٔ ته دکفر او عناد او انکار سزا ورکولے شی په دُنیا کښ هم او په آخرت کښ هم. دُنیا کښ الله تعالیٰ هغهٔ رسوائی او خوارئ فقیرئ کښ مُبتلا کړی او دَ آخرت عذاب مخکښ (آیت) ذکر دے.

۱۷ سأرهقه صعودًا. دا تخویف اُخروی دے. صعودًا. په دوزخ کښ داور ډیر اوچت غر دے چه په هغے باندے دختلو دپاره به جهنمیان مجبوره کولے شی. دا به هم یو ډیر زیات تکلیف ورکونکے عذاب وی. اِنَّهٗ فکّرَ. دا دهغهٔ دسزا علت دے هغهٔ دقرآن او پیغمبر باره کښ غور و فکر اوکړو چه دهٔ حقیقت څهٔ دے بیا ئے په خپل ذهن کښ یوه خبره فیصله کړه چه دا قرآن جادُو دے او محمّد صلی الله علیه وسلم جادُوګر دے. العیاذ بالله. دے ملعون او دَ الله درباره تنګ لے شوے دا فیصله څنګه اوکړه. دینه روستو ئے سر اوچت کړو وے کتل مخ ئے تریو کړو او تندے ئے غونډ کړو او بیا ئے شا اوګرځوله او فخر غرور سره روان شو او وے وئیل دا خو جادُو دے چه دبابل دَ جادوګرو نه راروان دے او خلق دا زده کوی دهٔ هم دَ چا نه زده کړیدے او راغلے دے او دا قرآن چه هغهٔ ورته دخدائے کلام وائی دَ خدائے کلام نهٔ دے دا انسانی کلام دے چه هغهٔ ئے په خپله جوړه وی یا ئے په بل چا باندے جوړه وی او موئز. ته ئے راوړی. ولید بن مغیره خپل قوم بنی مخزوم ته او وئیل. تاسو چه وائی محمّد لیونے دے ایا تاسو په دهٔ باندے دلیونتوب دوره پریوتو نکی لیدلے دهٔ؟ او تاسو وائی چه هغهٔ کاهن دے ایا تاسو چرته دهغهٔ نه دکاهنانو په شان خبرے اوریدلے دی؟ دغه شان تاسو وائی هغهٔ شاعر دے آیا تاسو چرته هغهٔ شعر ویونکے یا جوړوونکے اوریدلے دے؟ او ستاسو خیال دے چه هغهٔ دروغژن دے آیا تاسو هغهٔ چرته دروغ ویونکے اوریدلے دے؟ دهریو سوال په جواب کښ هغوئی او وئیل. نه! بیا ئے او وئیل نو او بناتئ اخر داڅه معامله دهٔ؟ نو سوچ فکر نه روستو ئے اووئیل هغه جادُوګر دے آیا تاسو نهٔ ګورئ چه خاوند او ښځه، پلار او خوئے، او ورور او ورور میئنځ کښ جُدائی

اچولے دہ، دے جواب سرہ یتول لعنت کړے شوے دیر زیات خوشحال شول. (مدارک).

ثُمَّ قُتِلَ تعقیب ذکری دپاره دے یعنی زهٔ بیا وایم چه دے ملعون دا څنګه اندازه اولګوله چه تا سوچا د مرے. ثُمَّ نَظَرَ یعنی اول خوئے سترګے بندے کړے، سوچ ئے اوکړو بیا ئے سترګے پرا نستلے، وے کتل، بیا ئے مخ تریو کړو او تندے ئے تریو کړو او بیا ئے متکبرانه انداز کښ شا اوګرځوله لکه چه دنن صبا تکبر کوونکی هم دا شان کوی. قاله الشیخ رحمه الله.

۹ سَاُصۡلِیۡهِ سَقَرَ. دا تخویف اخروی دے، څهٔ به هغه سقر ته ورداخل کړم، سَقَرُ دا سخت تیز او سخت اور دے چه لَا تُبۡقِیۡ وَلَا تَذَرُ. چه نهٔ به هیڅ وکی او پښتی پریږدی او نهٔ به غوښه او ځړمن. لَوَّاحَةٌ لِّلۡبَشَرِ. و دَ بَشَرَةٌ جمع ده. دَ سقر اور به دَ دوزخیانو څرمنے اوسیزی، تورے او بدے شکله به ئے اوګرځوی. په دوزخ باندے مونږ نولس ۱۹ فرشتے یا دَ فرشتو نولس ۱۹ صفونه مقرر کړی دی. والاول اصح. او دَ دوزخ خزا نچیان انسانان یا پیریان نهٔ دی بلکه فرشتے دی چه په طاقت او قوت کښ په پیریانو او انسانانو باندے زیاتے دی. دوزخیانو دپاره (انسانان او پیریان) هغوی په زړونو کښ دَ رحمت او شفقت هیڅ جذبه نهٔ لری او نهٔ به د دوزخیانو باره کښ دَ الله په احکامو کښ تعمیل کولو کښ دَ کوتاهی څهٔ احتمال وی.

وَمَا جَعَلۡنَاۤ اَصۡحٰبَ النَّارِ اِلَّا مَلٰٓئِکَةً ۪ وَّمَا

او مونږ چه کوم خزا نچیان مقرر کړی دی په دوزخ باندے هغه فرشتے دی او دَ هغوی چه کوم ئے

جَعَلۡنَا عِدَّتَهُمۡ اِلَّا فِتۡنَةً لِّلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا ۙ

شمار مونږ مقرر کړے دے نو هغه دامتحان دپاره دَ منکرینو

لِیَسۡتَیۡقِنَ الَّذِیۡنَ اُوۡتُوا الۡکِتٰبَ وَیَزۡدَادَ

دے دپاره چه یقین اوکړی هغه خلق چا ته چه ورکړے شوے دے کتاب او زیات کړی

الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِیۡمَانًا وَّلَا یَرۡتَابَ الَّذِیۡنَ

دَ مؤمنانو ایمان او دهوکه نشی چا ته چه

اُوۡتُوا الۡکِتٰبَ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ ۙ وَلِیَقُوۡلَ الَّذِیۡنَ

ورکړے شوے دے کتاب او مسلمانانو ته او دے دپاره چه ئے اووائی هغه

فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ وَّالۡکٰفِرُوۡنَ مَاذَاۤ اَرَادَ

خلق دَ چا په زړونو کښ چه بیماری ده او انکار کوونکی څهٔ غرض وو دَ

اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ

الله د دے مثال نه ، دغه شان بے لارے کوی الله چا لره چه

يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ

اوغواړی او هغه هدایت کوی چا لره چه اوغواړی . او هیڅوک نه ؒ ے پیژنی ستا د

رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ؕ وَمَا هِيَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾ كَلَّا

رب لښکری لیکن یخپله هغه ، او هغه نصیحت دے د خلقو دپاره هله رښتیا او قسم ؒ ے

وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَالصُّبْحِ اِذَآ

او قسم دے په سپوږمئ او د شپه کله چه شا اوګرځوی او په صبا چه کله

اَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ اِنَّهَا لَاِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾

روښانه شی هغه یو دے ځکه د لویو شیزونو نه ویرونکے دے خلقو لره

لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ ﴿٣٧﴾

څوک چه تاسو نه غواړی چه مخکښی لاړ شی یا روسته پاتے شی.

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّآ اَصْحٰبَ

و ۲ هر یو نفس ځان په خپل کړو کارونو کښی راګیر دے لیکن د ښی طرف

الْيَمِيْنِ ﴿٣٩﴾ فِيْ جَنّٰتٍ ؕ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿٤٠﴾ عَنِ

والا په باغونو کښی دی یو بل نه تپوس کوی د کا

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿٤٢﴾

ګنهګارانو د حال تاسو کوم څیز راوړی یو ستلئ په دوزخ کښی.

نکات ۱ زجر ۲ بشارت اخرویه

موضح قرآن کله چه الله دا اوفرمائیل چه په دوزخ باندے نولس ۱۹ فرښتے مقرر دی کافرانو توقی استهزاء شروع کړه چه مونږ زه ګوند یو نولس به څمونږ څه اوکړی - دغه وخت ئے دا اوفرمائیل چه هغه انسانان نه دی فرښتی دی تاسو ټولو دپاره یوه کافی دی لیکن دا شمارئے د مخکنو کتابونو د موافقت دپاره بیان کړیدے چه د هغے د صداقت دلیل شی -

۲۱ محکښې لاړشي جنت ته یا روستو پاتې شي دوزخ کښې ۱۲۔

فتح الرحمٰن ۱ مترجم وائي دا آیت اشاره ده دکافرانو اعتراض ته د تسعة عشر په شمیر باندې او نبي علیه السلام دهغه هم په دې سورة کښې ذکر اوکړو دَ مناسبت په وجه سره ددې وجه نه په دې طریقه باقي سورتونو کښې پاتې نه شو ۱۲

تفسیر ۱۰ جَعَلْنَا فِتْنَةً۔ ازمائیش، یا دګمراهۍ سبب۔ لِيَسْتَيْقِنَ کښې لام عاقبت دپاره دومره زیات تعداد کښې دوزخیانو باندې قابو۔ او قدرت موندلو دپاره دفرشتو لږ شان جماعت مقرر ول او بیا دَهغې د تعداد اظهار دکافرانو او مشرکانو دآزمائیش دپاره دې چه هغوئ دامني یا اِنکار کوي په هغې پورې ټوقې کوي کله چه ابوجهل دا آیت واوریده نو قریش ته ئې اوویل۔ دقریش بهادرانو او سخت پهلوانانو! ولې تاسو لس لس پهلوانان هم په یو یو باندې اِختیار او قبضه نه وینئ؟ غلبه نه شئ حاصلولې؟ دې سره ابو الاشد بن اُسید جُمحي اوویل۔ دَ فکر هیڅ خبره نشته۔ اوولس (۱۷) خوزه یوازې سنبهالولې شم باقي دوه تاسو ټول په شریکه سنبهال کړئ چونکه تیر شوو کتابونو کښې دجهنمیانو خزانچیان شمیر ذکر کړې شویدې۔ ددې وجه نه کله چه اهلِ کتاب دا آیت واوري نو ددې سره به هغوئ ته د نبي علیه السلام د نبوت او دَ قرآن دَصداقت یقین اوشي حُکه چه خبر دهغوی د مسلمه کتابونو، تورات او اِنجیل مُطابق دې۔

وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا۔ او ددې سره به مؤمنانو ته اطمینان حاصل شي او دَ هغوئ ایمان ته به زیات تقویت ملاویږي، حُکه چه اهلِ کتاب هم هغه منلې دې دغه شان هغوئ چه دا آیت واوروي فوراً به اووائي چه دا خبر الله تعالیٰ ورکړیدې ددې وجه نه ریښتونې دې مونږ په دې باندې هم ایمان راوړو۔ وَلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ۔ وَالْمُؤْمِنُونَ دا مضمون د مخکښې دپاره تاکید دې یعنی اهلِ کتابو او مؤمنانو ته دې خبر په صداقت کښې شک پاتې نه شي۔

الے وَلِيَقُولَ لیکن منافقان او کافران به دټوقو مسخرو په طَور وائي چه ددې لږ شان شمیر بیانولو نه د الله تعالیٰ څه مُراد دې؟ آیا دومره لږ فرښتې به دومره بې حسابه دوزخیانو باندې کنټرول حاصل کړي ددغه فرشتو شمیر خو ذکر کړولو نه هُم زیات پکار دې، دا سورة مکي دې او په مکه کښې منافقان نه وو، ددې وجه نه ددې مطلب دادې چه روستو کله دَمدینې منافقان دا اوري نو هغوئ به دا قسم خبرې کوي، (قرطبي، روح)۔

كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ۔ دغه شان الله تعالیٰ چه چا له او غواړي هغه ګمراه کوي، لکه چه ابوجهل او نور مشرکان ئې ګمراه کړل او چا له چه او غواړي نو په سمه لاره ئې روان کړي لکه لاره هغه ته ښائي لکه چه دَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصحابو ته ئې اوخودله۔ یو څیز دځینو خلقو دګمراهۍ سبب ګرځي او دځینو خلقو دایمان او یقین کښې اضافه او قوت سبب ګرځي کوم سړې چه خپل اختیار سره په ګمراهۍ باندې پاتې کیدل غواړي هغه الله پاک ګمراه کوي او څوک چه خپل اختیار سره دهدایت لاره غوره کوي الله تعالیٰ هغه

نه یئے لاره ښائی - په هیڅ څیز باندے جبر او اکراه نشته - يُضِلُّ الله تعالى من يشاء اضلاله لصرف اختياره حسب استعداده السئ الى جانب الضلال ويهدى من يشاء هدايته لصرف اختياره حسب استعداده الحسن الى جانب الهداية (روح ج ۲۹ ص ۱۲۵ محصله) -

۲۷ وَمَا يَعْلَمُ. دالله تعالىٰ د لښکرو تعداد دالله تعالىٰ نه سیوا هیچا ته معلوم نهٔ دے دا نولس خو صرف د دوزخ نګرانان دی، د دوئی نه لاندے او د دوئی نه علاوه په زمکه او آسمانونو کښې چه د فرښتو کوم لوئے اعلیٰ لښکرے موجود دی هغه د اندازے او حساب نه بهر دی. صحیح شمیر د الله تعالىٰ نه سیوا هیچا ته معلوم نهٔ دے. وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ - دا دوزخ خو دالله تعالىٰ د مخلوق د پاره د عبرت او نصیحت باعث دے، د دینه هغوئ ته دالله تعالىٰ عظمت او جلالت اندازه لګول پکار دی. او هغوئ له په سمه لاره، دینِ اسلام باندے تلل پکار دی' د دے د پاره چه د هغهٔ د دردناک عذاب نه بچ شی.

۳۱ كَلَّا ردع د پاره دے او کافرانو مشرکانو ته زجر دے چه هغوئ له د قرآن په مقابله کښې د دے قسم بیوقوفئ خبرے کول نهٔ دی پکار یا په معنی د حقًّا دے المعنى حقًّا والقمر (قرطبی) د دے صورت کښې به دا د ما بعد تاکید وی، د حضرت شیخ قدس سرهٔ په نزد هم دا راجح دهٔ. وَالْقَمَرِ وَاللَّيْلِ. وَالصُّبْحِ. درے واړه قسمونه چه په جواب قسم باندے شاهد دی. د قسم جواب محذوف دے یعنی لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ. سپوږمئ باندے پوره میاشت مختلف حالتونه راځی د غه شان د شپے مختلف حالتونه دی. شروع کیږی، لتوره تیاره شی. او د هغے نه صبا راښکاره شی سپوږمئ خپل مختلف او قسم قسم حالتونو سره په دے ګواه دهٔ، د شپے تیاره او د صبا ظاهر بدل په دے ګواه دے چه په تاسو باندے به مختلف حالات راځی د شپے د تیارهٔ په شان به د سختو تکلیفونو سره مخامخ کیږئ آخر به هم تیارے لرے شی او د فتح او کامیابئ صبا به ظاهر او ښکاره شی.

تائید: فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ○ (پ ۳۰ سورة الانشقاق) - او انها لاحدى الكبر. استيناف دے، افادهٔ الشيخ رحمه الله تعالىٰ انها لاحدى الكبر، جواب قسم دے.

۳۵ إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ، دا الكبرىٰ جمع دهٔ. نَذِيرًا مصدر دے په معنی د انذار او دا د احدى الكبر تميز دے. یعنی دا انذار او تخويف اعتبار سره دوزخ ډیر سخت سزا ګانو او عقوبتونو نه یو دے یا دا حال دے او تاء تانیث محذوف دهٔ، خلقوله ويره ورکے دے د پاره چه هغوئ د هغهٔ ویرولو سره د خدائ اطاعت اوکړی. لِمَنْ شَاءَ الخ دا بدل دے لِلْبَشَرِ نه هغه ویرونکے دے هغه چا لره څوک چه ستاسو نه او غواړی چه د نیکئ او فائدے طرف ته مخکښې شی د غه شان هغه چا لره چه د ګناه او معصیت نه روستو شی. مَنْ شَاءَ ان يتقدم في الخير والطاعة ومن شاء ان يتأخر في الشر والمعصية (مظهری ج ۱۰ ص ۱۳۱)

۳۸ كُلُّ نَفْسٍ. رَهِينَةٌ. مصدر دے رهين دا فعيل په معنی د مفعول نه دے څکه

چه دده استعمال په مذکر او مؤنث کښې یو شان کیږي. د قیامت په ورځ به هر نفس د کفر او طغیان په وجه سره په دوزخ کښې کانړه او قید کړے شویدے. لیکن اصحاب الیمین هغه خلق چه د ښه عمل نامے په ښي لاس کښې ورکولے شي. ځکه چه هغوی به په جنت کښې وي او هغوی ته به هلته هر قسم راحت او هر قسم د عیش او نعمت ژوند حاصل وي. یتسآءلون. هغوی به د مشرکانو بیاره کښې یو ډیل نه تپوس نه کوي او د مجرمانو نه به تپوس کوي چه تاسو دوزخ ته څه څیز راو ستلے یئ او ستاسو کوم قسم هغه اعمال دي چه ستاسو دوزخ ته د راتللو باعث شول؟

قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ

هغوی به او وائي نه وو مونږ له د مونځ کوونکي او نه وو چه

نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ

خوراک به مونږ کولو محتاجانو ته او مونږ وو چه به ګډېدو کښې به مونږ ګډېدل له سره

الْخَائِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٤٦﴾

د ګډېدونکو او مونږ وو چه دروغ به مو ګڼل د انصاف ورځ پورے

حَتَّىٰ أَتَانَا الْيَقِينُ ﴿٤٧﴾ فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ

تر دے چه راورسیده مونږ ته هغه یقیني خبره ف۱ پس په کار به نه راشي د هغوی سفارش

الشَّافِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾

د سفارش کوونکو ف۲ پس څه شوي دي هغوی له دا چه د نصیحت نه مخ اړوي.

كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُسْتَنْفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾

لکه چه هغوی خره دي یرېدونکي تښتي د زمري نه ف۳

بَلْ يُرِيدُ كُلُّ امْرِئٍ مِنْهُمْ أَنْ يُؤْتَىٰ صُحُفًا

بلکه غواړي والے هر یو سړے د دوی چه ملاؤ شي هغه ته پاڼړه

مُنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا ۖ بَلْ لَا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّا

خوره شوے ف۱ ف۴ هرګز داسے نه ده ف۵ بلکه نه ویریږي هغوی د آخرة نه. هرګز داسے نه ده

إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ ﴿۵۴﴾ فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ ﴿۵۵﴾ وَمَا يَذْكُرُونَ

۱۲ دا نصیحت دے پس څوک چه غواړي نصيحت دِ واخلي و۵ دا (قرآن نه) او هغوئ به

إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَ

نصیحت نه واخلي چه کله الله او غواړي ، هغه (الله) دے چه د هغه نه وېرېدل پکار دي او

أَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿۵۶﴾

هغه (الله) دے او د بښلو لائق.

نکات ۱ زجر به مشرکانو باندے ۲ ۲ رد ۶ (رتهند) د پاره یا به معنیٰ دَ حقًا.

موضح قرآن ف۱ یعني مرګ به خبرو کښې نه تل یعني دا یمان د خبرو نه به دے انکار کولو دَ بېتولو سره په شریکه ۱۲ منه رحمه الله ف۲ د کافر په حق کښې به څوک هم سفارش نکوي او که څوک ئے او کړي نو نه به قبلیږي ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ.
ف۳ د ځنګل خره او از سره تختي. ف۴ یعني هر نبي جوړیدل غواړي چه پرا نستے کتاب هغه ته د اسمان نه ملاؤ شي ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ. ف۵ یعني چه یو باندے نازل شه نو څه او شول فائده خو ښتولو ته ورکوي ۱۲ منه رحمه الله.

فتح الرحمٰن ف۱ یعني واړه پکار دِه چه کتاب په هر یو باندے نازل شي ۱۲

تفسیر ۱۶ قَالُوْا . کافران او مشرکان به په جواب کښې وائي مونږ د مانځه د فرضیت عقیده نه لرله نه مونږ به فقیرانو مسکینانو باندے خرچ کولو ښه گټل دین پورے ټوقے کوونکو سره به یو ځائے مونږ هم دین پورے ټوقے کولے او د قیامت ورځ هم مونږ نه منله ، مونږ به د غه حال کښې وو چه مرګ مونږ ته راغلو کافران چونکه د فروع مخاطب نه وي د دے وجه نه د مانځه نه کولو نه د مونځ اعتقاد نه لرل مراد دے. یا مصلین مؤمنانو نه کنایه ده. فیجوز ان یکون المعنی من المعتقدین للصلاة و وجوبها فیکون العذاب علی ترك الاعتقاد و ایضا المصلین یجوز ان یکون کنایة عن المؤمنین (روح ج ۲۹ ص ۱۳۳)

۱۷ فَمَا تَنْفَعُهُمْ . یعني که چرے بالفرض سفارشي د هغه سفارش کوي هم نو هغوئ ته به هیڅ فائده نه وي او د هغوئ په حق کښې به هیڅ سفارش قبول نه وي دا علیٰ سبیل الفرض دے ځکه چه د هغوئ په حق کښې به هیچا ته د سفارش اجازت نه ملاویږي لو شفعوا لهم جمیعا فالکلام علی الفرض (م ج ۳)۔
فَمَا لَهُمْ د قرآن نه د اعراض هیڅ یو معقول وجه موجود نشته بیکن بیا هم د مکے خلق د دے نه اعراض کوي هغوئ د قرآن نه داسے تیرېږي نفرت او تختته کوي لکه ځنګه چه وحشي خرونه (ګوره خر) زمري او وینی او تختي. قَسْوَرَ معنیٰ


زمرے دے لکه چه دَ ابو هریرة رض او ابن عباس نه نقل شوے دے. قَسْوَرَة د قسور جمع ده په معنیٰ د غشي ویشتونکي دا قول د حضرت ابو موسیٰ اشعري سعید بن جبیر عکرمه، مجاهد، قتادة، ضحاک، ابو ظبیان دغه شان د حضرت ابن عباس رض نه منقول دے (قرطبي).
۱۹ف بَلْ یُرِیْدُ. دا په مقدر باندے معطوف دے، دا عناد گر دا عظیم تذکره (قرآن) کافي نه گڼړي بلکه ددوئي نه هر یو غواړي چه دهغه په نوم جُدا جُدا صحیفه دآسمان نه نازله شي هغه وخت به ئے اومني عطف علی مقدر یقتضیه المقام کانه قیل لا یکتفون بتلك التذکرة ولا یرضون بها بل یرید کل واحد منهم الخ (روح ج ۲۹ ص ۱۳۴) تائید: لن نؤمن حتی نؤتی مثل ما اوتی رسل الله (انعام ع)
۲۰ف کَلَّا حرف ردع دے او مشرکانو باندے پورتنئ ذکر شوے مطالبه باندے زجر دے. بَلْ لَا یَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ. دا ترقی ده یعني هغوئي خو پورتنئ ذکر شوے مطالبه کوي او دَ هغوئي دا اعراض وجه صرف دا نه ده بلکه دد دینه لویه خبره دا ده چه دهغوئي سره دآخرت ویره نشته دے وجه نه هغوئي د قرآن نه اعراض کوي او ناجائز قسم مطالبات بیا بیا کوي. ۲۱ف کَلَّا اِنَّهٗ تَذْکِرَةٌ. کَلَّا حرف ردع دے یا په معنیٰ دَ حقًا. یقینًا قرآن تذکره ده او نصیحت حاصلولو او دعبرت حاصلولو دپاره او هدایت حاصلولو دپاره کافي دے، دده په موجودگئ کښې دبل کوم کتاب یا لیکوخت ضرورت نشته. فَمَنْ شَآءَ ذَکَرَهٗ. اوس چه څوک غواړي دا دے لولي او بیا بیا دِ لولي او په دے دِ عمل اوکړي او د دُنیا او د دین سعادت دِ حاصل کړي.
۲۲ف وَمَا یَذْکُرُوْنَ. او تر څو پورے چه دَ الله تعالیٰ په مشیت کښې دَ هغے حاصلول نه وي هغوئي نصیحت نه شي حاصلولے ځکه چه د بندگانو افعال دالله تعالیٰ په مشیت او اراده سره معرض وجود ته راځي. هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰی. دالله ذات دے مستحق دے چه دَ هغهٔ دعذاب نه او ویره وُل شي دهغهٔ تابعداري اوکړے شي او دهغهٔ سره شرک او نه کړے شي او هغه دے اهل دے چه څوک په هغهٔ ایمان راوړي او دهغهٔ اطاعت اوکړي چه دهغهٔ گناهونه او خطاگانے معاف کړي او دَ هغهٔ دعملي کمزوریانو نه درگذر او عفوه اوکړي. په حدیث شریف کښې راغلي دي، رسُول الله صَلَّی اللهُ علیه وسلّم اوفرمائیل الله تعالیٰ فرمائي زهٔ ددے اهل یم چه خپله (خلق) او ویره وُل شي او خما سره شرک او نهٔ کړے شي، څوک چه خما نه ویریږي او خما سره هیڅوک شریک نه جوړوي زهٔ به هغهٔ ته بښنه کوم ځکه چه زهٔ ددے اهل هم صرف زهٔ یم. عن انس اَنَّ رَسُوْلُ الله صَلَّی الله علیه وسلم قال (فی هذه الاٰیة) قد قال ربکم انا اهل ان اتقی فلا یجعل معي اله فمن اتقاني فلم یجعل معي الٰهًا اٰخرفانا اهل ان اغفرله (روح ج ۲۹ ص ۱۳۵ بحواله احمد، ترمذي، حاکم، نسائي، ابن ماجه).

سورة مُدَّثِّر کښې د توحيد آيتونه

۱۔ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۔ نفي دهر قِسم شرک۔

نن په تاریخ ۲۳، شعبان ۱۴۲۶ھ مطابق ۲۸ ستمبر ۲۰۰۵ء د چهارشنبې ورځ وخت سحر پنځه ویشت منټه او پنځه بجې د سورة مدثر پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو۔

فَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ۔ (عبدالمالک حقاني عفی الله عنه)



سُوْرَةُ الْقِيَامَةِ

ربط

مشرکان دَ توحید د مسئلے نه علاوه د قیامت جزا او سزا نه هم انکار کوی دا مسئله توحید بیانولو نه روستو اوس د سورة قیامت نه واخله دَ سورة "وَالطَّارِقِ" نه تر اخره پورے به علٰی سَبِیْلِ التَّرَقِّیْ د قیامت ثبوت وی اوَ دَ توحید مسئله چونکه اصل الاُصول ده ددے وجه نه دهغے ذکر به هم دے سره وی او په یوکښ به د توحید مسئله ذکروی او په یو کښ به ذکر نه وی.

خلاصه

لَآ اُقْسِمُ ــــ تا ــــ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ. د قیامت د ثبوت د پاره دوه شاهد. اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ ــــ تا ــــ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ. د سورة دعوی او زجر د منکرین قیامت دا انسان د هډوکو د دوباره برابرول خو د د پاره کوم کران کار نه دے موږ خو به د گوتو بندونه هم برابره وو. فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ــــ تا ــــ وَلَوْ اَلْقٰى مَعَاذِيْرَهٗ تخويف اُخروی. لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ ــــ تا ــــ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ. جمله معترضه کله چه الله تعالیٰ دا سے قادر دے چه زاړه هډوکی یو ځائے جمع کولے شی، او د انسان د ټول ژوند کړنی او روستنی عمل خبر هم ورکولے شی. هغه قرآن هم ستا په سینه کښ جمع کولے شی. كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ۙ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ۙ زجر. وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ. بشارت اُخروی. وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍۢ بَاسِرَةٌ تَظُنُّ اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ــــ تا ــــ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ الْمَسَاقُ. تخويف اُخروی. فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ــــ تا ــــ ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ۙ زجر. اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ تا اخر زجر متعلق د سورة د ابتداء سره انسان بے مقصد او بے کاره نه دے پیدا شوے کوم قادر مطلق چه انسان د نطفے نه پیدا کوو هغه به دوباره پیدا کولو باندے هم قادر دے.

سُوْرَةُ الْقِيٰمَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة القیامة په مکه کښ نازل شوے ده آیتونه څلویښت او دوه رکوع دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۝۱ وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ

قسم خورم د قیامت په ورځ ئے او قسم خورم په نفس چه په بدئ پانږے

اَللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ اَیَحۡسَبُ الۡاِنۡسَانُ اَلَّنۡ نَّجۡمَعَ

ملامت کوونکی دے ۳ آیا خیال کوی ۳ انسان چه جمع به نه کړو مونږ د

عِظَامَهٗ ﴿٣﴾ بَلٰی قٰدِرِیۡنَ عَلٰۤی اَنۡ نُّسَوِّیَ

هډوکی . ولے نه ! مونږ برابر ولے شو د هغه د ګوتو

بَنَانَهٗ ﴿٤﴾ بَلۡ یُرِیۡدُ الۡاِنۡسَانُ لِیَفۡجُرَ اَمَامَهٗ ﴿٥﴾

بندونه　　بلکه غواړی انسان ۴ بے حیائی اوکړی دهغه په وړاندے ۵

یَسۡـَٔلُ اَیَّانَ یَوۡمُ الۡقِیٰمَةِ ﴿٦﴾

تپوس کوی کله به وی ورځ د قیامت .

نکات : ۱ قیامت باندے اول شاهد ۱۲ ۲ قیامت باندے دویم شاهد ۱۲ ۳ دسورة دعوی او په منکرینو باندے زجر ۱۲ ۴ دما قبل نه ترقی ۱۲ .

فتح الرحمٰن ۵ انسان به ضرور پاسولے شی ۱۲ ۶ راتلونکی نه ده ۱۲ .

تفسیر

۱ لَاۤ اُقۡسِمُ . لا زائده دے چه دعربو په کلام کښ تاکید دپاره راځی . دقسم جواب محذوف دے په قرینه دما بعد ای لتبعثن ولتحاسبن (مظهری) یعنی تاسو به ضرور دوباره ژوندی کولے شئ او ستاسو نه به ضرور حساب اخستلے شی ددے وجه نه قیامت اومنئ او اعراض مه کوئ . دا تخویف اخروی دے او دے کښ ثبوت قیامت باندے دوه قسمونه په طور دشهادت پیش کړے شویدی .

اول په خپله دقیامت ورځ قیامت باندے دشاهد په طور پیش کړے شویده په زړونو او لکونو انسانانو دقیامت دپریشانئ او سختئ نه په ویره او لرزان دی . او سیوری نواخر هغه څه خیز دے دګوم نه چه هغوی ویریږی .

تائید : رِجَالٌ لَّا تُلۡهِیۡهِمۡ تِجَارَةٌ وَّلَا بَیۡعٌ عَنۡ ذِکۡرِ اللّٰهِ ـــــ تا یَخَافُوۡنَ یَوۡمًا تَتَقَلَّبُ فِیۡهِ الۡقُلُوۡبُ وَالۡاَبۡصَارُ (نور ع ۵) دویم نفس لوامه هم په قیامت باندے شاهد دے ځکه چه دالله تعالیٰ دلکونو او زرګونو بندګانو دهغوی نفوس لوامه هغوی لره دقیامت دویرے نه دنیک اعمالو کوتاهئ باندے ملامت کوی نو آیا داخبره ددے دلیل نه دے چه قیامت یو حقیقت دے .

۳ اَیَحۡسَبُ الۡاِنۡسَانُ . دا دسورة دعوی ده او دقیامت نه انکار کوونکو باندے زجر دے دقیامت نه دانکار کوونکو خیال دے چه مونږ به دهغوی وراسته

او خاورو کښې یو ځائې کیدلو سره ورک شوي هډوکي دوباره ژوندي نه کړے شو، د دے وجه نه هغوئ د قیامت نه انکار کوي. هغوئ حشر، نشر حموټږ د قدرت نه لرے تصور کوي. بلیٰ نه روستو فعل نجمع مقدر دے او قادرین د هغه فاعل نه حال دے. بنان د بنانة جمع ده یعني د ګوتو بندونه یا په خپله ګوتے. (ر و ح) ولے نه؟ د ده موږ به ضرور هډوکي جمع کړو موږ به د هغوئ د ګوتو بندونه هم برابر ه وو نو آیا د هغه د هډوکو پنجره به موږ برابر نه کړو؟ ۶ بل یریدن. دا د ما قبل یعني أیحسب الانسان ان لن نجمع عظامه نه په طور د ترقئ دے لیفجر ای لیکفر و یکذب. امامه ای ما یأتي امامه. یعني کوم څه چه مخکښې راتلونکي دي مراد حساب کتاب او جزا، سزا ده. دا منکرین نه صرف د دوباره ژوندي کیدلو نه انکار کوي بلکه په حقیقت کښې هغوئ د جزا او سزا نه انکار کول غواړي کوم چه د هغې نه روستو دي کوم چه د حشر او نشر اصل مقصد دے. قال ابن عباس: یعني الکافر یکذب بما امامه من البعث والحساب وقاله عبد الرحمٰن بن زید (قرطبي ج ۱۹ ص ۹۳).

لیسئل ایان یوم القیامة ○ دا استهزاء او تو تو په طور تپوس کوي سبه ده! نو هغه قیامت به کله راځي چه د هغې نه ته موږ ویرږوي.

فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ۝٧ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ۝٨ وَجُمِعَ الشَّمْسُ

کله چه سترګے حېرې (حیران) شي ۵ او سپوږمۍ تورې (بے نور) شي او یو ځائې دي نمر

وَالْقَمَرُ ۝٩ يَقُولُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ۝١٠

او سپوږمۍ وائي به انسان د هغه ورځې چرته د تیښتې ځائې شته؟

كَلَّا لَا وَزَرَ ۝١١ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ۝١٢

ندي مناسب طلب د تختې چرته هم د تختې ځائې نشته ۷ ستا د رب طرف ته دے د هغه ورځې ځائې د قرار نیولو

يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ۝١٣

خبر به ورکړے شي انسان ته کړے په د هغه ورځ کوم چه هغه مخکښې اولیږل او کوم چه ئې روستو پرېښودل

بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ۝١٤ وَلَوْ أَلْقَىٰ

۸ بلکه انسان خپل ځان د پاره په خپله دلیل دے او پیش به کړي

مَعَاذِيرَهُ ۝١٥ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ۝١٦

خپل عذرونه ۹ و ۲ - مه خوزوه ته د ده په لوستلو باندے خپله ژبه د دے د پاره چه زر یاد کړې

إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ﴿۱۷﴾ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ﴿۱۸﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ﴿۱۹﴾

بیشکه حضور پر په ذمه دی د هغې جمع کول ستا په سینه کښې او لوستل ستا په ژبه باندې
وهغه سره لوستل کوه . بیا بیشکه حضور پر په ذمه دی د هغې ښکاره بیانول ف۵ ف۳ .

نکات: ف۵ تخویف اُخروی ۱۲ ف۶ جُمله معترضه

موضح قرآن

ف۱ نظر خبر شي یعني دا انسان ستر کې د رڼا نه عاجز شي دا به دقیامت په ورځ وی کله چه نمر نزدې راشي ۱۲ امنه رحمه الله .

ف۲ کېږې انسان په خپل احوالو کښې غور او کړی نو د رب وحدانیت به معلوم کړی او څوک چه اوداوی چه ځان په پوهه کښې نه راتلل نو دا بهانه دی ۱۲ . ف۳ کوم وخت چه به جبرئیل ؑ قرآن راوړلو د هغه لوستلو سره به نبي علیه السّلام هم په خپل ژبه کښې لوستلو کله چه به او لئ لفظ وئیلو نو مخکښې (راتلونکی) لفظ باندې به په ښه طریقه نه پوهیدلو . الله تعالیٰ او فرمائیل چه دا وخت د لوستلو حاجت نشته او ریدل پکار دی بیا ستا په زړه کښې یاد ساتل او خلقو ته بیاته په ژبه د هغې بیان کول حضور پر ذمه ده او د معنې تحقیق کول هم حاجت نشته دا هم زمونږ ذمه ده او په وخت باندې بیان باندې پوهول هم حضور پر ذمه ده ، د جبرائیل ؑ لوستلو ته خپل لوستل او وئیل ځکه چه هغه نائب دی دغه شان وَالنَّجم کښې فَاَوحیٰ اِلیٰ عَبدِهٖ ۱۲ امنه رحمه الله .

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائی کله چه به جبرئیل ؑ نبي علیه السلام ته وحی راوړله نو د هغې د یاد دولو پوره اهتمام به ئې کولو او د جبرئیل ؑ په حضور کښې به ئې د وحی ختمیدلو نه مخکښې تکرار کولو چه د هغوئ د زړه مبارک نه هیر نه شي . الله تعالیٰ دې معنی طرف ته اشاره او کړه . والله اعلم ۱۲ .

ف۲ مُترجم وائی چه د بنده په نزد ظاهره داده چه د آیت معنی به دا شان وی ضرور وعده لازم ده په مونږ باندې د قرآن جمع کولو په مصاحف کښې او په حفظ او قرئت کښې . یو زمانې نه روستو بله زمانه کښې او د دې وضاحت او تفسیر الله تعالیٰ د شیخین (ابوبکر ؓ وعمر ؓ) په لاس باندې او کړو ، قرآن ئې جمع کړو او په هره زمانه کښې ئې قاریانو ته توفیق ورکړو چه حافظان پېدا شي او تجوید سره ئې اولولی او په هره زمانه کښې مفسرینو ته توفیق ورکړو چه د دې په تفسیر کښې سعی او کوشش او کړی ۱۲ .
وَاللهُ اعلم ۱۲ .

تفسیر ف۵ فَإِذَا بَرِقَ . دا تخویف اُخروی دې او د دې کښې د قیامت د ځینو حالاتو او سختو پریشانو ذکر دې ، کله چه سترګې د هیبت او سختې ویرې نه حیرانې شي ، سپوږمۍ بې نوره شي ، نمر او سپوږمۍ به یو ځای شي ، دواړه به بې نوره شي او د

یو ځائے به مغرب طرف ته راوختیږی، دغه ورځ به انسانان اووائی نن چرته د تښتے ځائے شته چه هلته تیښته کولو سره پناه واخستے شی او د نننی ورځے د سختو او پریشانو نه ځان بچ کړے شی؟ قال ابن عباس رض وابن مسعود رض جمع بینهما ای قرن بینهما ای قرن بینهما فی طلوعهما من المغرب اسودین مکورین مظلمین الخ (قرطبی ج ۱۹ ص ۹۳)

۶ے كَلَّا حرف ردع دے. د قیامت د عذاب نه د بچ کیدلو د پاره به هیڅ د پناهٔ ځائے نه وی (كَلَّا) ردع عن طلب المفر. (لَا وَزَرَ) لاملجأ (مدارک) لاملجأ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ. دغه ورځ به صرف ستا د رب ذات د پناه ځائے وی دهغه نه سیوا به هیڅ د پناهی نیولو ځائے نه وی. ای لاملجأ ومنجی لهم غیره عزوجل.

۷ے يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ. مَا قَدَّمَ. کوم څه چه هغه مخکښ کړیدی او ځان د پاره ئے مخکښ لیږلے دی ښه وی یا بد وی. وَاَخَّرَ. کوم څه چه هغه پریښے دی خیر دے یا شر دے یا هغه طریقه نیکه وی یا بده وی کوم چه هغه جاری کړے وی چه دهغهٔ د مرګ نه روستو هم په هغے باندے عمل کیدلو (قرطبی) وبیضاوی کبیر). د قیامت په ورځ به هر انسان دهغهٔ نیک او بد اعمالو باندے خبرولے شی. بَلِ الْاِنْسَانُ عَلٰى نَفْسِهٖ بَصِيْرَةٌ. دا د ما قبل نه په طور د ترقئ دے یعنی دغه ورځ به چا ته دهغهٔ د اعمالو د خبر ورکولو ضرورت نه وی. بلکه هر انسان به په خپله د خپلو اعمالو نه خبروی او عالم به وی او په هغے به ګواه وی اګرچه هغه به هر قسم معذرت او د خپل ځان خلاصولو هره بهانه پیش کړی یعنی هر ممکن طریقے سره د خلاصی مونږ لو کوشش کولو باوجود به دهغهٔ زړهٔ ګواهی ورکړی چه هغه مجرم دے. د دے وجه نه د هغهٔ خلاصے ممکن نه دے. ای هُوَ عَلٰى نفسه حجة وهو شاهد علیها ولو اتی بکل عذر فی الذنب عنها ففیه تنبیه علی ان الذنب لا رواج له (روح ج ۲۹ ص ۱۴۲).

۸ے لَا تُحَرِّكْ. دا جمله معترضه ده. روافض وائی د دے آیتونو ما قبل او ما بعد سره هیڅ تعلق نشته. د دے نه معلومیږی چه په قرآن کښ تغیر او تبدیل شوی دے او دا آیتونه د خپل موزون او مناسب مقام نه پورته کړے شوی دی دلته کیښودلے شوی دی لیکن دا اعتراض بالکل باطل دے ځکه چه دا ترتیب توقیفی دے چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم سره د نبی علیه السلام په ژوند کښ مکمل کړے شوے وو. د دے باندے دا امت محمدیه علی صاحبها الصلوٰة والسلام اجماع ده او په قرآن کښ د تغیر او تبدل زیاتی کښ قول کفر دے. باقی پاتے د دے آیتونو سیاق وسباق (مخکښ روستو) سره مناسبت وی نو په دے کښ څو وجے دی اول وجه ممکن ده چه د تیرو شوو آیتونو د نزول په وخت نبی علیه السلام جبرئیل علیه السلام سره یو ځائے لوستل شروع کړی دی د دے د پاره چه یاد شی او چرته کوم لفظ ترے نه هیر نه شی نو الله تعالیٰ دغه وخت دا آیتونه نازل کړل. نبی علیه السلام

ځې درینه منع کړې وی. (کبیر). **دوېمه وجه**: دا آیتونه ډیو باریک نکته بیانولو دپاره دلته راوړې شوی دی. یعنی کله چه الله تعالیٰ دا سې قادر دے چه هر انسان ته دهغه د ټولو مخکینو او روستنو اعمالو خبر ورکولے شی نو هغه ستا په سینه کښې قرآن هم جمع کولے شی، د دے وجه نه تا سو هیڅ غم مه کوئ. (حضرت شیخ قدس سره).

دریمه وجه: څنګه چه الله تعالیٰ په دے قادر دے چه خپله وحی د فرښتې د تلو نه روستو پوره ترتیب سره حرف په حرف بغیر د څه معمولی ځنډ پاتے کیدلو نه د خپل پیغمبر علیه السلام په سینه کښې جمع کولے شی آیا په دے قادر نه دے چه د بندګانو مخکینی او روستنی اعمال چه دهغے نه څنی کوټے هم هیر کړے وی ټول به یو ځائے کړی په یو وخت کښې به ئے جمع کړی او هغوئ ته به ئے په بنه طریقه وریاد کړی او د هغه شان به د هډوکو خواره واره ذرات د ټولو ځایونو نه را جمع کړی، مخکینی ترتیب بانده به انسانانو ته دسره نه نوے نوے ژوند ورکړی، بیشکه هغه په دے قادر دے. (عثمانی)

د دے آیتونو کښې الله تعالیٰ د قرآن مجید باره کښې د دریو خبرو ذمه داری اخستے ده. اول قرآن پاک د نبی علیه السلام په سینه مبارک کښې محفوظ کول. دوېم بیا چه څنګه نازل شوے دے هغه شان د نبی علیه السلام په مبارکه ژبه اورول او ادا کول.

دریم د قرآن مجید د معانی او دهغه د احکامو بیان ئے اوکړو. د قرآن د نزول په وخت دهغه د زر زر یادولو په غرض تا سو جبرئیل علیه السلام سره یو ځائے لوستل مه کوئ. بلکه ژبه هم مه خوزوئ ځکه چه د قرآن جمع کول ستا سو په سینه او بیا هغه شان ستا سو په ژبه بانده د هغے اورول هم زمونږ په ذمه دی. د دے وجه نه د یو ځائے لوستلو په ځائے چه کله زمونږ له طرفه د هغے تلاوت ختم شی هغے نه وروستو تلاوت کوئ، مونږ به ستا سو په ژبه د هغے صحیح صحیح تلاوت جاری کړو. بیا د هغه د معارف او معانیو تشریح او د هغه د احکامو تفصیلات بیان هم زمونږ په ذمه دے د اهل سنت والجماعت په دے اجماع ده چه قرآن کوم کیفیت او کمیت سره الله تعالیٰ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سینه کښې جمع کړے وو هم هغه کیفیت او کمیت سره نبی علیه السلام صحابه کرام ته د هغے تعلیم ورکړو او هغه بعینه بغیر د څه تغیر او تبدل بغیر د تقدیم او تاخیر او بغیر د زیاتی او کمی نه نن زمونږ په سینو کښې محفوظ دے او په قرآن کښې د هر قسم تحریف تسلیمول او منل صریح کفر دے.

كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ الْآخِرَةَ ﴿٢١﴾

دا سے نه ده بلکه تا سو خوښوئ (زر فانی کیدونکی) دنیا او پریږدی (روستو راتلونکے) آخرت

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾

ډیر مخونه به دا سے په دغه ورځ تازه دی خپل رب طرف ته به کتونکی وی دا

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَنْ يُفْعَلَ

او ډیر مخونه به په دغه ورځ مراوې وي (ګونجې) وي ـ یقین به کوي چه په هغوئ باندې واقع

بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَ

کیږي هغه مصیبت چه ملا ماتوونکې ده ـ هرګز داسې نه ده کوم وخت چه روح اورسیږي ترڅو هډوکي دمرۍ ته

قِيلَ مَنْ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ

او خلق او وائي څوک شته دم اچوونکې او هغه یقین اوکړو چه اوس راغلې د جدائۍ وخت او تاو به شي

السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾

یوه پنډۍ د بلې پنډۍ نه هله ستا د رب طرف ته په دغه ورځ د تلل را بیکلو سره

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾

پس یقین ئې او نکړو ١٣ لمونځ (په مؤمن به) او نه ئې مونځ اوکړو ـ بیا ئې د حق دروغژن اوګنړل او مخ ئې واړولو

ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ

بیا لاړل خپل کور ته چه تکبر ئې کولو هلاکت ستا د پاره

فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ

هلاکت ـ بیا هلاکت ستا د پاره هلاکت ـ آیا انسان خیال کوي چه

أَنْ يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِنْ مَنِيٍّ

پریخودلې بشي بغیر د قید نه (آزاد) آیا نه وو دا هغه یو څاڅکې د منۍ چه غورځولې

يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾

شي ـ بیا وه چکه وینه بیا هغه پیدا کړو (انسان) او برابر ئې کړو

فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَىٰ ﴿٣٩﴾

بیائې اوګرځولو د هغوئ نه جوړه نر او ښځه

أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

آیا نه دې دا خدائې قادر په دې چه ژوندي کړي مړي ـ

نکات

ل بشارتِ اُخرویه ۱۲ ـ ۲ تخویف اُخروی ۱۲ ۳ زجر منکرینو دپاره ۱۲
۴ زجر متعلق د سورة دابتدا سره ۵ د ثبوتِ قیامت دپاره عقلی دلیل ۱۲

موضح قرآن

ف په آخرت کښې د الله لیدل یقیني دی گمراه خلق د دے نه منکر دی خکه چه دا د هغوئ په نصیب کښې نشته ۱۲ اصله رحمه الله.

فتح الرحمن

مل یعنې په هنیو کښې حرکت پاتے نه شو ۱۲.

تفسیر

ف کَلَّا حرف د ردع دے. بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ـ دا متعلق دے بَلْ یُرِیْدُ الْاِنْسَانُ لِیَفْجُرَ اَمَامَهٗ ـ سره یعنې د قیامت نه انکار نه دے پکار. تا سو له پکار ده چه په آخرت باندے ایمان راوړئ ـ د دُنیا په ژوند کښې ایمان او عمل سره د آخرت لو تبه تیاره کړئ ـ لیکن تاسو داسے نه کوئ بلکه دُنیا خوښوئ او آخرت ته توجه نه ورکوئ د دُنیا په خاطر تاسو خو په انتظام کولو کښې مشغول یئ. لیکن آخرت دپاره هیڅ نه کوئ. ك وُجُوْهٌ. دا بشارت اُخروی دے. نَاضِرَةٌ تروتازه خوشحال ـ د قیامت په ورځ به ځنې مخونه (یعنې د مؤمنانو) مخونه به ډیر زیات تازه او خوشحال روښانه وی او د الله پاک دیدار به کوی. وُجُوْهٌ یَّوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ. بد رنګ مراوی بد شکل ـ فَاقِرَةٌ ـ ملاماتونکی سختی او ځنې مخونه (یعنی د کافرانو) به په هغه ورځ په نا اُمیدئ او افسوس کښې بد رنګ او بد صورته وی او د هغوئ به دا یقین وی چه د دن انجام به ډیر زیات سخت او پریشانه کوونکے وی. هغوئ به ډیر زیات سخت عذاب کښې راګیر وی ـ ملاماتوونکو مصیبتونو سره به مخامخ وی. ك کَلَّآ اِذَا. کَلَّا حرف ردع دے او بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ سره متعلق دے یعنې دُنیا سره محبت مه کوئ. او د آخرت فکر او کړئ ـ یا په معنیٰ د حَقًّا دے او اِلٰی رَبِّکَ یَوْمَئِذِ نِ الْمَسَاقُ سره متعلق دے ای حقًا ان المُسَاقَ الی الله (قرطبی) مَنْ باندے سکته ده. کله چه د انسان روح د مرګ په وخت کوکړو پورے راورسیږی نو د هغه په خوا کښې موجود خلق به وائی. څوک شته ؟ هغه به وائی څوک شته دم اچونکے چه دا وخت هغه د دے مصیبت نه خلاص کړی او د هغه به دا یقین اوشی چه اوس د دُنیا نه د تللو او د دوستانو خپلوانو نه جُدا کیدو وخت دے اوس به د هغه یوه پنډئ سره یو ځائے شی یقینًا دا ورځ به د خدائ طرف ته د سفر او ورتللو ورځ وی. د دینه معلومه شوه چه د قِیْلَ مَنْ قائل او ویونکے یو دے او د رَاقٍ قائل بل دے. ك فَلَا صَدَّقَ. دا زجر دے. حشر نشر نه انکار کوونکو باندے او د جزاء او سزا نه انکار کوونکو باندے. هغوئ نه توحید او رسالت او حشر نشر او منلو نه ئے ایمان راوړلو. نه ئے مونځ او کړلو او نه ئے څه نیک کارونه او کړل بلکه د دین ټول ضروریات توحید و رسالت، قیامت وغیره ئے انکار او کړو او د قرآن او ایمان نه ئے اعراض او کړو او کبر و غرور سره په ناز او نخرو باندے خپل کور طرف ته روان شو، نو اوس د هغه دپاره د هلاکت او تباهئ نه سیوا نور څه کیدے شی ؟ اَوْلٰی لَكَ فَاَوْلٰی. ثُمَّ د تعقیب ذکری دپاره دے، ستاسو دپاره هلاکت دے بیا وایم چه ستاسو دپاره هلاکت

دے. تهدید بعد تهدید وعید بعد وعید. (قرطبی ج۱۹ ص۱۱۳)

۳۲ ﴿اَیَحْسَبُ﴾ . دا زجر دے او د سورة د ابتدا ﴿اَیَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ لَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ﴾ سره متعلق دے. سُدًی ، بے کار مهمل چه په هغه باندے نه څوک ذمه واری وی او نه جزاء او سزا وی (سُدًی) مُهملا لا یکلف ولا یجازی (بیضاوی) آیا د منکرین قیامت خیال دا دے چه هغوی به د غه شان بے کار او بے مقصده پیدا کړے شوے دی؟ او د مرګ نه روستو د جزاء او سزاء د پاره به هغوی دوباره نشی ژوندی کیدے؟ نه! نه! د هغوی طرف ته پیغمبر لیږلے شوے دے او هغوی مکلف کړی شویدی او په هغوی باندے د قرآن د تعلیماتو ذمه واری لازم کړے شوے ده، د ایمان او د تصدیق په صورت کښ به هغوی د ثواب مستحق وی او په انکار باندے به د عذاب مستحق وی هغوی به د مرګ نه وروستو دوباره ژوندی کولے شی او د خپلو عملونو مطابق به جزاء او سزا بیا مومی. ۳۷ ﴿اَلَمْ یَكُ﴾ . دا د قیامت په ثبوت باندے عقلی دلیل دے. اِنسان د خپل پیدایښت نه مخکښ یو څاڅکے وو چه د پلار د شانه د مور رحم ته راغلو. نُطفه د الله په قدرت سره د چکه وینے او بیا د غوښے صورت اختیار کړو، بیا هغه الله د کامل او مکمل انسان شکل کښ پیدا کړو او د هغه د قدرت کامله عجیبه کارنامه او ګورئ چه د یوے نطفے نه نر او ښځه پیدا کړل نو څوک چه داسے قادر او علیم او صانع او حکیم دے هغه به د مړو په دوباره ژوندی کولو قدرت نه لری؟ استفهام انکاری دے یعنی د مړو دوباره ژوندی کول د داسے قادر مطلق د قدرت نه بهر نه دی. د انسان پیدایښت تسلیمول حال دا دے چه هغه د حشر او نشر نه زیات عجیبه او نا آشنا دے او د قیامت نه انکار کول د کمال بیوقوفئ یا کمال عناد نتیجه ده انکار جواز البعث مع مشاهدة ما هو اعجب منه یقتضی کمال الحمق او العناد (مظهری ج۱۰ ص۱۲۶)

سُوْرَةُ الدَّهْر

ربط : سورۃ قیامت کښې منکرینو د قیامت ته تخویف او رولے شوی دے او زجر او شکوه کړے شوے چه دعوی دا خیال دے چه مونږ به دوباره دعوی هډوکی جمع نه کړے شو اوس په سورۃ دهر کښې په طور د ترقۍ هَلْ اَتٰی عَلَی الْاِنْسَانِ ــــ تا ــــ فَجَعَلْنٰهُ سَمِیْعًا بَصِیْرًا کښې یو تفصیلی نمونه بیان کړے شوے چه اوګورئ! انسان اول هیڅ هم نه وو بیا مونږ هغه د یو معمولی څاڅکی د اوبو نه پیدا کړو اوریدونکے لیدونکے مو اوګرځولو نو معلومه شوه چه بیشکه الله تعالی د انسان په دوباره پاڅولو او پیدا کولو باندے قادر دے، دغه شان په سورۃ قیامت کښې صرف د تخویف ذکر وو. لیکن اصل دعوی د توحید نه وو ذکر شوے اوس سورۃ کښې وَاذْکُرِ اسْمَ رَبِّکَ ــــ تا ــــ وَسَبِّحْهُ لَیْلًا طَوِیْلًا کښې د توحید مسئله یعنی د شرک فی العبادۃ نفی ذکر کړے شوے. دغه شان په سورۃ قیامت کښې د بشارت ذکر مختصر وو "دهر" کښې د بشارت اخروی ذکر ډیر زیات دے.

خلاصه هَلْ اَتٰی عَلَی الْاِنْسَانِ ــــ تا ــــ اِمَّا شَاکِرًا وَّاِمَّا کَفُوْرًا ٥
د الله تعالی د قدرت کامله یوه نمونه! الله تعالی چه د مني د یو څاڅکي نه د انسان په پیدا کولو باندے قادر دے نو د قیامت په ورځ هغه به دوباره ژوندی کولو باندے قادر دے نو د قیامت په ورځ هغه په دوباره ژوندی کولو باندے هم قادر دے. اِنَّا اَعْتَدْنَا لِلْکٰفِرِیْنَ. الآیة. تخویف اخروی. اِنَّ الْاَبْرَارَ یَشْرَبُوْنَ مِنْ کَاْسٍ ــ تا وَکَانَ سَعْیُکُمْ مَّشْکُوْرًا. بشارت اخروی به. ابرار (نیکانو) د پاره د جنت د تفصیلی نعمتونو بیان دے. اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا. الآیة. ترغیب الی القرآن دے. فَاصْبِرْ لِحُکْمِ رَبِّکَ الآیة. تسلی نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره وَاذْکُرِ اسْمَ رَبِّکَ. الآیتین.

د توحید بیان : مونږ په تا باندے قرآن نازل کړے دے د پاره چه تا سو خلقو ته د حشر او نشر او توحید تبلیغ اوکړئ. کچرے د حق په لاره او د تبلیغ فریضه ادا کولو کښې تکلیفونه راشي نو صبر او استقامت نه کار واخلئ. اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ یُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ. الآیة. دا زجر دے او دے کښې د قیامت د سورۃ د آیتونو. کَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ. مضمون اعاده ده. تا سو دنیا خوښوئ او آخرت پریږدئ. حال دا دے چه تا سو له دنیا باندے آخرت ته ترجیح ورکول پکار دی. نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَا اَسْرَهُمْ. الآیة. مونږ هغوی اول ځل پیدا کړے وو نو آیا دوباره مونږ د هغوی په پیدا کولو قادر نه یو؟ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْکِرَةٌ. دا بیان پند و نصیحت دے څوک چه غواړي د دے نه دِ نصیحت حاصل کړي سم نیغه لاره دِ اختیار کړي. یُدْخِلُ مَنْ یَّشَآءُ فِیْ رَحْمَتِهٖ بشارت. وَالظّٰلِمِیْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِیْمًا. تخویف.

سُوْرَةُ الدَّهْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَحَدٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

دا سُورة الدّھر په مکه کښې نازل شو دده آیتونه یو ویشت او ۲ رکوع دوه دي -

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ

چرته تیر شویدے په انسان باندے یو وخت په زمانه کښې چه نه وو

يَكُنْ شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا ۝۱ اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ

څیز په ذکر باندے راشي - موږ پیدا کړو انسان ذیو

نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ ۖ نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا

دوه رنګه څاڅکو (نطفے) نه ھله موږ ھغه ازمایو بیا موږ ھغه اوګرځولو اوریدونکے

بَصِيْرًا ۝۲ اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّ

او لیدونکے موږ ھغه ته اوښودله لار یا حق مني او یا

اِمَّا كَفُوْرًا ۝۳ اِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَلٰسِلَاۡ وَ

ناشکري کوي. موږ ګډ تیار کړیدي منکرینو دپاره زنځیرونه او

اَغْلٰلًا وَّسَعِيْرًا ۝۴ اِنَّ الْاَبْرَارَ يَشْرَبُوْنَ مِنْ

اوګرم (لمبے وھونکے) او بیشکه ھغه نیک خلق څښکي پیالئ (د شرابو) چه د ھغے

كَاْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ۝۵ عَيْنًا يَّشْرَبُ

سره به ملاؤ شوے وي (جنتي) کافور یوه چینه ده چه د ھغے نه څښکي

بِهَا عِبَادُ اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا ۝۶ يُوْفُوْنَ

د الله بندګان بیائے به ھغوي د ھغے لختي چلوي ھر ۲ وا پوره دالے کوي

بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ۝۷

پورے د منتي او ډیریږي د ھغه ورځ نه چه د ھغے شر به خور شوے وي

نکات
۱ دحشر او نشر یو نمونه ۱۲ ۲ تخویف اخروی ۱۲ ۳ بشارت اخرویه ۱۲
۴ علت دماقبل دپاره ۱۲۔

موضح قرآن
یو دَ شرابو ولږ دی چه دھغې په کور کښې به بهیږی او یو به دَ ھغې سره لږ شان کافور ملاؤ شوے وی چه ھغه به دَ دُنیا دَ کافورو په شان نه وی بلکه اداعلیٰ قسم یو جنتی چینے نوم دے یخه وه او خوشبوئ لرونکے او ځنو سره به زنجبیل (سونډ) گډ شوے وی چه داهم یو خاص قسم چینه ده ۱۲۔

فتح الرحمٰن
فـ۱ منی دسړی او منی دښځے او دحیض وینه چه دیو حال نه بل حال ته هغه مونږ بدلوو۔ فـ۲ یعنی دھغے نه چه هر څه ته لمنی بوتلل غواړی نو بیائی به شے۔

۲ هَلْ اَتٰی۔ دلته دمفسرینو په اتفاق سره هَل دلته تاکید دپاره دے په معنیٰ دقَد اتَّفَقُوا عَلٰی اَنَّ هَلْ ھٰهُنَا وَفِی قَوْلِهٖ تَعَالیٰ هَلْ اَتٰكَ حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ بِمَعْنیٰ قَد (کبیر ج ۸ ص ۳۸۴) دلته حشر او نشر بیا نه دے په طور دَ دلیل دِ انسان پیدائش په طور دَ نمونے پیش کړے شوے دے ' هر انسان بانده یو وه اوږده زمانه داسے راغلی ده په دغه زمانه کښې دهغه نوم نشان موجود نه وو۔ اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ۔ اِمْشَاجٍ مفرد دے جمع نه ده لکه چه دده دَ بنا نه وهم کیږی ځکه چه هغه دَ نُطْفَةٍ مفرد صفت واقع شوے دے لکه چه برمة اعشار۔ و ثوب اخلاق و اوارضٌ سباسب۔ اَوْ دَ امشاج معنیٰ ده مختلط۔ یعنی یو بل سره ملاؤ شوے۔ چونکه انسان دَ مور پلار د نطفه نه پیدا کیږی دده وجه نه امشاج سره صفت اوکړے شو سمع او بصر۔ دعقل او پوهے او فهم، تمیز نه کنایه ده اول دهریو انسان نوم نشان نه وو۔ بیا مونږ دمور پلار دمخلوط نطفه نه پیدا کړو او هغه ته مونږ عقل او تمیز نعمت ورکړو دے دپاره چه دهغه آزمائش اوکړو چه هغه دَ الله ورکړے شوے عقل او پوهې نکار واخلی دَ الله هدایت قبلوی یا دعقل او پوهی نکار نه اخلی دَ خدائی نه بغاوت کوی دا دحشر او نشر دپاره یو نمونه ده۔ اِنسان دعدم نه وجود ته راوستل او دَیو معمولی څاڅکی منی نه د هغه پیدا کول بیا هغه دَ عقل او پوهې، فهم او تمیز په شان اعلیٰ صفتونو سره متصف کول دَ الله تعالیٰ دقدرت کامله یو عجیبه کارنامه ده۔ دغه شان دانسان دوباره پیدا کولو بانده هم دقیامت په ورځ قادر دے۔

۳ اِنَّا هَدَیْنٰهُ شَاکِرًا وَّکَفُوْرًا۔ هَدَیْنٰهُ کښې دضمیر منصوب نه حال دے مونږ انسان ته خواه شاکر (مؤمن وی) یا کفور (کافر) په هر حال کښې سم لاره ښودلے ده ' عقل او تمیز هم ورکړے دے دکائنات دَ دلائلو کتاب مونږ دهغه مخکښې ایښے دے چه په هغے کښې غور او فکر اوکړی دحق خبرے دَ پوهیدلو کوشش اوکړی او بیا ددے سره مونږ پیغمبرانو ته هدایات ورکول هغوی ته مراولیږل دے دپاره چه هغوئ پوهه کړی او هغوی ته دالله لاره اوښائی او س دهغوی خوښه ده شاکرجوړیږی یا کفور۔

۴ اِنَّا اَعْتَدْنَا۔ دا تخویف اخروی دے، مونږ منکرینو دپاره بیړی (زنځیرونه)

طوق (کړی) او د ګرم لمبه وخونکی عذاب تیار کړی دے. د قیامت په ورځ به مونږ د هغوی خپې زنځیرونو سره او تړو او لاسونه به د هغوی څټونو سره او تړو، او د جهنم لمبه دونکے اور ته به څه اوغورځوو. دا دے مختصر تخویف نه وروستو اوږد بشارت ذکر دے.

۵ اِنَّ الْاَبْرَارَ. دا بشارت اُخروی دے. د قیامت په ورځ به د الله تابعدارانو نیک بندګانو ته داسے خوند ناک مزیدار د شرابو پیالے پیش کولے شی چه په هغے کښې به د کافور عرق ملاؤ شوے وی چه هغے سره به د هغے په فرحت او خوشحالئ زیاتوالی قوت او د هغے په خوشبوئی او یخوالی کښې زیاتوالے اوشی. عَيْنًا يَّشْرَبُ. دا د کافورًا نه بدل دے یعنی کافور به جنت کښې یوه چینه وی چه د هغے اختلاف سره به د الله بندګان د جنت د مشروباتو نه خوند او مزه اخلی او هغوی چه چرته اوغواړی ډیر په اسانئ سره به د هغے چینے په خپله جاری کوی. یجرونها اهلا وسهلا حیث شاءوا من منازلهم وقصورهم (مظهری ج ۱۰ ص ۱۵۰).

۶ يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ دا د ما قبل علت دے. د دے آیتونو کښې د مومنانو د نیک عملونو ذکر شوید ے چه د پورتنی ذکر شوے جزاء او سزا موجب به ګرځی. يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ د نذر نه مطلق عقود او عهود مراد دی چه کوم الله لازم کړے وی یا انسان په خپله په ځان لازم کړے وی. النذر هٰهنا عام لما اوجبه الله تعالیٰ وما اوجبه العبد فیدخل فیه الایمان وجمیع الطاعات (بحر ج ۸ ص ۳۹۵) المراد من النذر العهد والعقد الخ (کبیر ج ۸ ص ۳۹۰).
وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا اعمال صالحه په ځائے راوړو کښې د هغوی نیت بند وی او هغوی خالص د الله تعالیٰ د رضا د پاره او د هغه د عذاب نه د ویرے په اسره نیک عملونه کوی او د قیامت د ورځے نه ویریږی چه د هغے سختئ او پریشانئ به ډیرے زیاتے وی ابرار مؤمنین به اګرچه د قیامت د سختو نه د الله تعالیٰ په فضل سره محفوظ وی لیکن د محشر د ډیر زیاتے پریشانئ نه به په ویره کښې ضرور وی.





وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا

او ورکوی طعام کړے | د هغه (الله) | محبت سره محتاج ته او یتیم ته

وَّاَسِيْرًا ﴿۸﴾ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ

او قیدی ته. | مونږ چه کوم تاسو ته طعام درکوو خالص د الله رضا د پاره | نه غواړو

مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا ﴿۹﴾ اِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا

مونږ تاسو نه بدله او نه غواړو شکر ایستل. | مونږ ویریږو د خپل رب نه

يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴿۱۰﴾ فَوَقٰهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ

د یو ورځې ترپو مخې د سختۍ نه پس او ساتلي هغوی الله د بدئ نه د دغه

الْيَوْمِ وَلَقّٰهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ﴿۱۱﴾ وَجَزٰىهُمْ بِمَا

ورځې نه او ورکاله کړل د تازګۍ او خوشحالئ سره . او بدله ئے ورکړه

صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴿۱۲﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى

هغوی ته الله د هغوی په صبر باندې جنت او د ریښمو کپړې . تکیه وهونکې به ناست وي په هغے کښې په

الْاَرَآئِكِ ۚ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿۱۳﴾

تختونو باندې د پاسه . او نه به وینې نمر او یخنې .

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا

او نژدې به وي په هغوی باندې الله د دغه سوري او ټیټه کړے شو یږدي د هغے ګنګوچې

تَذْلِيْلًا ﴿۱۴﴾ وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ

د ټیټه کېدلو سره . او ګرځولے کېږي چاپېره هغوی نه د سپینو زرو لوښي ورسره وي

وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيْرَا۠ ﴿۱۵﴾ قَوَارِيْرَا۠ مِنْ

او کوزرې چه جوړې به وي د شیشے نه شیشې د

فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا ﴿۱۶﴾ وَيُسْقَوْنَ فِيْهَا

سپینو زرو دي اندازه کړے دې اندازه کولو سره او په هغوی څکولې شي

كَاْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيْلًا ﴿۱۷﴾ عَيْنًا فِيْهَا

پیالئ ١٣ګډ شوے دې هغے سره زنجبیل یوه چینه ده په هغے کښې

تُسَمّٰى سَلْسَبِيْلًا ﴿۱۸﴾ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

چه د هغے نوم سلسبیل دے ١٤ او ګرځي د هغے نه چاپېره هلکان

مُّخَلَّدُوْنَ ۚ اِذَا رَاَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا

همیشه او سیدونکي . کله چه ته هغوی اووینې نو ته به خیال کړے هغه هلکان ملغلرے

مَّنثُورًا ﴿۱۹﴾ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا

رشندلے شوے   او کله چه ته هلته اووینے (خپل ځائے) نو اووبه وینے   نعمت

وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴿۲۰﴾

او بادشاهي لویه۔

نکات: فاء سببیه ۱۲۔

موضح قرآن
ف۱ یعني د هغوئ د تندی برابر به په هغې کښې شراب وی نه کم او نه زیات او لوښې به داسے صفاوي لکه شیشه ۱۲۔

ف۲ د مسے معنیٰ ده صفا بهیدونکی اوبه ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ۔

تفسیر ۷ وَيُطْعِمُونَ۔ وحبه ضمیر مجرور الطعام طرف ته راجع دے یعني هغوئ د طعام د محبت او د هغې د طلب او اشتهاء باوجود په خپله نه خوري بلکه مسکینانو او یتیمانو او قیدیانو باندے ئے خوروی۔ یا ضمیر مجرور د ذات باری تعالیٰ نه کنایه دے یعني هغوئ د الله تعالیٰ د رضا او د محبت دپاره طعام ورکوی۔ قال ابن عباس رض ومجاهد: علی قلته، وحبهم ایاه و شهوتهم له وقال الداراني علی حبه الله۔ (قرطبی ج ۱۹ ص ۱۲۶)۔

۸ انما نطعمكم۔ اوکله چه هغوئ مسکینانو وغیره ته هم طعام ورکوی نو وائی چه مونږ تاسو ته خالص لوجه الله او د هغه د رضا طلب کولو دپاره طعام درکوؤ او ستاسو نه د هغې معاوضه یا شکریه نه غواړو۔ د الله په لار کښې او د هغه د رضا حاصلولو دپاره د خرچ کولو نیت هم داشان وي هغوئ د الله نه سیوا د هیچا نه د هغې دجزا او بدلے طلب کوونکے نه وی۔ اِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا عَبُوسًا د يَوْمًا صفت دے یعني هغه ورځ چه په هغې کښې به مخونه د ویرے سختے پریشانئ په وجه وران شی قَمْطَرِيرًا۔ سخت۔ دا هم د يَوْمًا صفت دے، هغوئ وائی مونږ خو د الله له طرفه د دے سخت او مشکل ورځے نه ویریږو چه د هغې د عذاب د سختئ او ناخوښئ په وجه به د کافرانو مخونه وران شی۔ یعني هغوئ به د قیامت په سختو ویرو د ناخوښئ او ترش روئ مظاهره کوی۔

۹ فَوَقٰهُمُ۔ فاء سببیه ده او د مستقبل نه لفظ ماضی سره د قطعي او یقیني کیدلو په وجه سره تعبیر شوید ے (مظهری) یعني د خدائے د ویرے او د عذاب واجبونکو اسباب نه د ځان ساتلو په وجه سره سره به الله تعالیٰ هغوئ د قیامت د سختو نه محفوظ او ساتی۔ وَلَقّٰهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُورًا۔ او د ترش روئ په ځائے به هغوئ ته تازګی او خوشحالي ورکړی۔ د اخرت په کامیابئ باندے به د هغوئ مخونه د ویرے زیاتے خوشحالئ نه پرقیږي او روښانه به وی۔ نضرة تازګی او روښانتیا، سرور خوشحالي۔

۱۰ وَجَزٰهُمْ۔ ایمان او طاقت باندے د ثابت قدم پاتے کیدلو او د الله

په لاره کښې د سختو مصیبتونو برداشت کولو په وجه به الله تعالیٰ هغوئ ته جنت او د ریښمو کپړے د جزاء او انعام په طور ورکړی. مُتَّكِئِينَ - د هُم ضمیر منصوب نه حال دے. اَرَائِكَ ، د اریکة جمع ده یعني تکیه او تخت چه اعلیٰ فرشونو او مارغانو سره به ښائسته کړے شوے وی. شَمْس ـ ګرمی، نمر ، زَمْهَرِیْر ، یخنی ، جنتیان به په اعلیٰ پُرتکلف او عالیشان تختونو باندے تکیه لګوونکی وی او په جنت کښې به هغوئ د ګرمئ او یخنئ نوم نښان نه مومی. یعني هغوئ به د ګرمئ او یخنئ د ضرر نه محفوظ وی.

ل وَدَانِيَةً. دا په جَنَّةً په عطف دے او جنة د مقدر صفت دے. یا دا په مُتَّكِئِينَ باندے معطوف دے او حال واقع دے. قال الزجاج هو حال عطفا على متکئین وقال ایضا ویجوز ان یکون صفة للجنة فالمعنی وجزاهم جنة دانیة (بحر ج ۸ ص ۳۹۶).

د جنت د ونو سوری به هغوئ ته ډیر نزدے وی او د هغوئ به داسے تابع وی چه کله هغوئ او غواړی نو په ملاسته ، ناسته ، ولاړه لاس اوږد دولو سره به په آسانئ سره میوے راښکولے شی - (وَ ذُلِّلَتْ) سخرت للقائم والقاعد ، والمتکئ . (مدارك)

ك ويطاف عليهم . د اَكْوَابٌ دوه صفتونه ذکرشوی دی اول قَوَارِیْرَ. دویم مِنْ فِضَّةٍ . هغه پیالئ به د سپینو زرو نه جوړے شوے وی لیکن چمک او صفائی کښې به د شیشے په شان وی څنګه چه اوس هم په معدنیاتو کښې داسے صفائی او چمک پیدا کولے شی چه د آئینه پشان په هغے کښې مخ په نظر راځی. غلمان د جنت ، به جنتیانو ته د سپینو زرو په لوښو کښې د خوراک څیزونه پیش کوی او مشروبات به د سپینو زرو په جامونو او پیالو کښې پیش کوی چه په صفائی او چمک کښې به د آئینے په شان وی او په هغے کښې به د مشروبات مقدار بالکل صحیح د هغوئ د اشتها مطابق وی نه کم او نه زیات. ك وَيُسْقَوْنَ فِيهَا . جنتیانو ته به هلته یو بل مشروب هم پیش کولے شی چه په هغے کښې به عرق زنجبیل (سونډ) ګډ کړے شوے وی. جنت کښې به د زنجبیل هم یوه چینه روانه وی چه هغے ته سلسبیل ویلے شی چه معنیٰ ئے ده خوندناک او آسانئ سره د حلق نه تیریدونکے. قال مجاهد و. حدیدة الجری سلسلة سهلة المساغ (روح)

کله به هغوئ د عرق کافور ګډ کړے شوی او کله به د عرق زنجبیل ګډ کړے شوی مشروب ملاویږی او پیش کولے به شی. ك وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ . د هغوئ د خدمت د پاره به ښائسته او ځکلی هلکان د هغوئ نه ګیرچاپیره روستو وی. د هغوئ حُسن او ښائست او د خدمت جذبه به همیشه وی او د هغوئ په ښائست او خوبئ کښې به هیڅ کله هم فرق نه راځی دا جنتی هلکان به د ومره زیات ښائسته او ښکلی وی چه هغوئ ته کتلو سره به د هغوئ د مخونو د صفائی او زنړا په وجه هغوئ باندے د ملغلرو ګمان کولے شی او د لے به معلومیږی چه په جنت کښې صفا او روښانه ملغلرے خورے ورے پرتے دی. وَإِذَا رَأَيْتَ

ثمر. شرط. رَاَيْتَ نَعِيْمًا الخ جزاء. کله چه ته هغه ځائے اووینې نو هغه به معمولي ځائے نه وي بلکه هلته به ته هر نعمت ډیر زیات مقدار کښې بیا مومے او هلته به یو لوئے ملک او بادشاهي اووینې. هر مؤمن ته چه کوم جنت ملاویږي هغه به په خپل ځائے یو ډیر زیات فراخ او عظیم ملک او بادشاهي وي چه په هغے کښې به هر نعمت او راحت حاصل دي.

عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَّاِسْتَبْرَقٌ ز

د پاسه اغوستلي شوي کپړې دهغوئ نري ریښم دی شنه هاله او پیړو ریښم او

وَّحُلُّوْٓا اَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ ۚ وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ

هغوئ ته اغوستلې شي باوګان د سپینو زرو او څکوي به په هغوئ دهغوئ رب

شَرَابًا طَهُوْرًا ﴿٢١﴾ اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً

شراب چه پاکوي به زړه داده وي ستاسو بدله ده او

وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿٢٢﴾ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا

عمل ستاسو قبول کړے شوے مونږ نازل کړے

عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿٢٣﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ

چه تا باندے قرآن (لږ لږ) نازلولو سره پس ته انتظار کوه دحکم

رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ﴿٢٤﴾ وَاذْكُرِ

دخپل رب او خبره مه منه دد وی نه د یو ګنهګار یا د ناشکره او واخله

اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ الَّيْلِ

نوم ۱۸ دے دخپل رب صبا او بیګا او څه حصه د شپے

فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ﴿٢٦﴾ اِنَّ

سجده کوه هغه ته او پاکي وایه دهغه په شپه اوږده کښې داخلق غواړي

هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ

زړه ملاویدونکي د دنیا والے او پریږدي ده دهغوئ نه ورستو یوه

يَوْمًا ثَقِيلًا ﴿٢٧﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ

ورځ سخته   مونږ هغوی لره پیدا کړل او مضبوط کړل مونږ جوړونه

وَاِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ﴿٢٨﴾ اِنَّ

او کله چه مونږ اوغواړو نو بدل به کړو دوی په شان خلق بدلولو سره

هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ

دا خو نصیحت دے لره پس څوک چه اوغواړی نو نیسی دے خپل رب ته

سَبِيْلًا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۗ

لاره   او تاسو اراده نه شئ کولے لیکن چه اراده اوکړی الله تعالیٰ

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿٣٠﴾ يُّدْخِلُ مَنْ

بیشکه الله دے په ټول هر څه عالم حکمتونو والا.   داخل کړی چا لره چه

يَّشَآءُ فِىْ رَحْمَتِهٖ ۗ وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ

اوغواړی   په خپل رحمت کښ   او څوک چه ګنهګار دی   تیار دے هغوی د پاره

عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٣١﴾

عذاب دردناک.

نکات
ـلـ دسورة دویم حصه ۱۲ ـ۲ـ تسلی نبی علیه السلام د پاره ۱۲
ـ۳ـ د توحید د دعوی ذکر ۱۲ ـ۴ـ زجر منکرین د پاره.
ـ۵ـ بشارت ۱۲ ـ۶ـ تخویف.

تفسیر ۱ عَلِيَهُمْ. حال چونکه دلته د فوق په مفهوم کښ استعمال شوے دے د دے وجه نه په اعراب کښ هم په دے بناء باندے (بناء بر ظرفیت) منصوب دے او دا خبر مقدم دے او ثیاب سندس سره د معطوفات نه مبتدا موخر ده (کبیر). سُندس. باریک نرے ریښم. اِستبرق. غټ (پیړ) ریښم (مظهری) اهل جنت د پاخه به باریک ریښم وی یعنی د هغوی د بدن د ښا ښت د پاره به د نرمو ریښمو ښئے کپړے وی او کله چه غواړی نو پیړو او ډکو ریښمو کپړے به اغوندی او د هغوی لاسونو ته به بنګړی واغوستلے شی او په هغوی باندے به پاک او صفا شراب څکولے شی. شراب طهور به یو داسے مشروب وی چه د خوراکونو نه وروستو به هغه څکی چه د څکلو

سره به خوړاکونه خوړلي کېږي. ټول هضم شي. د کستورۍ (خوشبو) په شان خوله به اوکړي اؤ د هغوئ طبیعتونه به سپک اوکړي. (قرطبي). ۲۲ إِنَّ هٰذَا. د جنت دا ټول نعمتونه اؤ راحتونه ستاسو د ایمان اؤ نیک عمل جزاء ده اؤ ستاسو د ټولو نیک کوششونو قدر اوکړے شو اؤ دا ټول د هغې جزاء ده د نیا کښې تاسو د خپل ایمان اؤ عمل د هیڅ یو نه څه معاوضه نه وه طلب کړے اؤ نه تاسو په خپلو عملونو باندے د شکریه اداکولو اؤ شاباشۍ خواهش ظاهر کړے وو، نن مونږ تاسو ته په لږو عملونو اؤ کارونو باندے زیات ثواب درکړے دے. ۲۳ إِنَّا نَحْنُ. دا د سورة دویمه حصه ده. مونږ په تا باندے قرآن نازل کړے دے چه تاسو خلقو ته تبلیغ اوکړئ د توحید مسئله باندے هغوئ پوهه کړئ حشر اؤ نشر، جزاء اؤ سزا نه هغوئ خبر کړئ.

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ. دا نبي علیه السّلام ته تسلي ده. الله تعالیٰ په تاسو باندے توحید اؤ تبلیغ اؤ د رسالت اداکولو کوم حکم چه نازل کړو د هغې په خاطر د مخالفینو له طرف نه رسیدونکو تکلیفونو باندے صبر کوئ، اؤ د حق په لاره کښې راتلونکے سختۍ اؤ مصیبتونه جوا نمردۍ سره برداشت کړئ. د دے مشرکانو نه د کوم یو مجرم اؤ د کفر اؤ شرک داعي خبره اونه منئ. عُتبه بن ربیعه اؤ ولید بن مغیره نبي علیه السلام ته وئیلي وو چه تاسو د توحید د تبلیغ نه منع شئ نو مونږ به مال دولت سره اؤ ستاسو د خوښے واده کولو سره تاسو راضي کړو. د دے آیت کښې د دغے فاسقانو فاجرانو د خبرے منلو نه منع کړے شوے ده، ۲۵ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ. دا د اصل دعوىٰ یعني د توحید د مسئلے بیان دے هر وخت د الله تعالیٰ په یاد اؤ د هغه په راببللو کښې مشغول اوسیږه اؤ د الله تعالیٰ د شرک نه په پاکه بیانولو کښې مشغول اوسیږه. سجده اؤ رکوع اؤ هر قسم عبادات صرف د الله د پاره کوه د هغه د توحید تبلیغ کوه اؤ خلقو ته د شرک نه ډډه لرے اوسیدلو تعلیم ورکوه، خو مفسرینو لیکلي دي چه د دے آیتونو کښې پنځه مونځونو اؤ د تهجد مانځه طرف ته اشاره ده د بُكْرَةً نه د صبا مونځ اؤ اَصِيْلًا نه د ماسپخین اؤ ماز یګر مونځونه اؤ مِنَ اللَّيْلِ نه د ماښام اؤ ماسخوتن اؤ سَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا نه د تهجد و مانځه طرف ته اشاره ده. (کبیر) ۲۷ إِنَّ هٰؤُلَاءِ. دا د توحید منکرینو باندے زجر دے اؤ دے کښې د سورۂ قیامت ایتونه كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ۝ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ۝ مضمون اعاده ده. دا خلق صرف د دُنیا فائدے غواړي اؤ د قیامت سخته پریشانه کوونکے ورځ شاته غورځوي، هغوئ د دُنیا ټول ژوند هر څه ګڼړي د دے وجه نه د هغوئ ټول کوشش د دُنیا د حصول د پاره دے. د آخرت باندے چونکه د هغوئ ایمان نشته د دے وجه نه هغوئ د دے نه بے پرواهي اؤ غفلت کوي اؤ د هغے د پاره هیڅ تیارے نه کوي. ۲۸ نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ. مونږ هغوئ پیدا کړي دي اؤ د هغوئ پیدائش مونږ محکم اؤ برابر کړے دے اؤ کله چه مونږ اوغواړو د هغوئ په ځائے به د هغوئ په شان نور خلق راولو. د پیدا کولو اؤ بیا د وژلو اؤ مړه شو کسانو

په ځائے دنورو راوستلو دا سلسله دالله تعالیٰ د قدرت کامله یو عجیبه کارنامه ده.
او دے نه ځیا هم انکار نشته ځنګه چه موبز هغوی اول پیدا کړل دغه شان چه کله موبز
او غواړو د قیامت په ورځ به هغوی دوباره ژوندی کړو. ای اذا شئنا بعثنهم یوم
القیامة وبدلناهم فاعدناهم خلقا جدیدا (ابن کثیر ج ۴ ص ۴۵۸).

۲۱ اِنَّ هٰذِهٖ. دا کوم څه چه ذکر کړے شو یدی هغه د عبرت او نصیحت
د پاره کافی دی اوس چه څوک غواړی دا دے او منی او په دے د عمل او کړی دالله تعالیٰ
لاره یعنی د اسلام او توحید لاره د اختیار کړی. وَمَا تَشَآءُوْنَ. لیکن ستاسو اراده
دالله د مشیت تابع ده. صرف هغه څوک به هدایت قبلوی چه د چا د هدایت
قبلولو سره دالله تعالیٰ اراده متعلق وی او دالله تعالیٰ اراده د هغه خلقو د هدایت سره
متعلق کیږی څوک چه منیب وی او انصاف او اخلاص سره د هدایت طالب وی،
لکه چه ارشاد دے. وَيَهْدِيْ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ (شوریٰ ۲۶). الله تعالیٰ په ټول
هر څه عالم دے او د هغه هیڅ یو فعل د حکمت نه خالی نه دے.

۲۲ يُدْخِلُ. دا مومنانو د پاره بشارت دے هغه چا ته چه او غواړی یعنی
څوک چه د هغه طرف ته رجوع کوی هغه په خپل رحمت کښ داخلوی او هغوی ته د قبول حق
او په حق باندے د ثابت قدم پاتے کیدلو توفیق ورکوی. وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ
د کافرانو د پاره دا تخویف دے او کافرانو او مشرکانو د پاره هغه دردناک عذاب
تیار کړے دے.

په سورة دهر کښ د توحید آیتونه

۱. وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ .... تا .... وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا. نفی د
شرک فی العبادة ۱۲.

سُورَةُ الْمُرْسَلٰت

ربط سورة دهر کښې دپیدا کولو نمونه ذکر کړے شوه، دے دپاره چه ځنې سره دحشر نشر مسئله بانده خلق پوهه شي. اوس په سورة مرسلٰت کښې په طور د ترقئ دحشر او نشر نه روستو د ثواب او عذاب نمونه ذکر کولے شوی. وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا...... اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ. اوګوری، دا هوا ګانے کله نرم چلیږی او کله تیزے. دغه شان په آخرت کښې به دچا سره نرمے کیږی او دچا سره سختے.

خلاصه: وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ـــ تا ـــ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ۝ دا په آخرت کښې د نرمئ او سختئ یوه دُنیوی نمونه ده. فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ...... تا ...... وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ. دا تخویف اُخروی دے دا معاندین خو اوس نه مني لیکن چه کله قیامت قائم شی نو دوی عقل به ځائے نه راشی لیکن دغه وخت به دهغوی ډیر بد حال وی. اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ...... تا ...... كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ. دا تخویف دنیوی دے څنګه چه مونږ مخکښې مُكَذِّبِيْنَ هلاک کړے دی دغه شان به مونږ روستني هم هلاک کړو اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ...... تا ...... فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ۝ حشر نشر بانده اولنے عقلي دلیل. څنګه چه مونږ مخکښې تاسو ډیر کمزورے (نطفے) اوبو نه پیدا کړی دغه شان مونږ ستاسو دوباره پیدا کولو بانده هم قادر یو. اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا. دویم عقلي دلیل. وَجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ دریم عقلي دلیل. وَاَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً فُرَاتًا. دا څلورم عقلي دلیل دے مونږ زمکه ژوندو او مړو لره جمع کونکې ګرځولے ده. په ځنې بانده مونږ لوړ لوړ غرونه کیښودلے دی او ستاسو د څکلو دپاره مونږ خوږے اوبه راپیدا کړے. آیا اوس به هم دَهغه نا شکری کوئ دهغه د توحید او دهغه د قدرتِ کامله نه به اِنکار کوئ. اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى مَا كُنْتُمْ ...... تا ...... فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ۝ تخویف اُخروی. دَجهنم د عذاب ځنے تفصیلات. اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ ۝ ...... تا ...... اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝ دا مومنانو دپاره بشارتِ اُخروی دے. مؤمنانو دپاره به په جنت کښې ځنے سوری، دمشروباتو چینے، او دَهغوئ دَخوښے میوے وی. كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ مُّجْرِمُوْنَ ۝ تا آخر. کافرانو دپاره زجر او تهدید.

سُورَةُ الْمُرْسَلٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة مُرسلت په مکه کښې نازل شو او دده ایتونه پنځوست او رکوع دوه دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ﴿۱﴾ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ﴿۲﴾

قسم دے په هغه هواګانو چه زړونه خوښوي بیا قسم دے په هغه خوږو هواګانو چه الوزي

وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ﴿۳﴾ فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ﴿۴﴾ فَالْمُلْقِيٰتِ

بیا په هغه خوږو ګونو دولو باندې خوروونکو بیا په جیړونکو باندې په ښیډلو سره بیا قسم دے د فرښتو

ذِكْرًا ﴿۵﴾ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ﴿۶﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ

چه نازلوي وحي د الزام لرې کولو د پاره یا د یره ورکولو بیشکه کوم وعده چه تاسو سره او شوه

لَوَاقِعٌ ﴿۷﴾ فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ﴿۸﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ

هغه ضرور واقع کیدونکې ده. ول نو چه کله ستوري ختم کړے شي او کله چه اسمان رابوځي

فُرِجَتْ ﴿۹﴾ وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿۱۰﴾ وَاِذَا الرُّسُلُ

لو ني نو شي او کله چه غرونه والوزولے شي او کله چه د پیغمبرانو وخت

اُقِّتَتْ ﴿۱۱﴾ لِاَيِّ يَوْمٍ اُجِّلَتْ ﴿۱۲﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ﴿۱۳﴾

مقرر کړے شي ول د کومې ورځې د پاره دا څیزونه روستو کړے شوي دي د هغې فیصلې د ورځې د پاره

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴿۱۴﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

او ته څه پوهه کړے چه څه ده ورځ د فیصلې. هلاکت دے دغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۵﴾ اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ

د دروغ ګڼرونکو د پاره. آیا مونږ هلاک نه کړل مخکیني بیا د

ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۷﴾

هغوی پسی لیږو وروستنی

نکات: ۳؎ آخرت کښې د نرمۍ او سختۍ دنیوی نمونه ۱۲ ۴؎ تخویف اُخروی ۱۲ ۵؎ تخویف دنیوی ۱۲۔

موضح قرآن **ف۱** یو قسم هَوا چلیږي یخه چه د مِیا شتې علامه وي۔ یوه تیزه او تنده سیلۍ وي چه خاوري الوزوي، یو قسم وریځې یو ملک او بل ملک باندې تقسیموي. او فرشتې قرآن نازلوي چه د کافرانو عذر ختم کړي چه د قیامت په ورځ او نه وائي چه مونږ خبر نه وو او د چا په قسمت کښې چه ایمان دې هغوی ورته وي چه ایمان راوړي ۱۲ منه رحمه الله **ف۲** یعنې د هر اُمت حساب په نمبر نمبر اخستل مقرر شي ۱۲ منه رح۔

۲؎ وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا مُرسلٰت او باقي الفاظو نه حنو فرشتې مُراد کړي دي او د ځنو په نزد د دې نه هواګانې مُراد دي. امام ابن کثیرؒ فرمائي - زیات ظاهر هم دا ده والاظهران المُرسلات هي الرياح الخ (ابن کثیر صفحه ۴۶۶ ج ۴) ابن مسعودؓ، ابن عباسؓ، او مجاهدؒ، قتادهؒ او ابو صالحؒ نه هم منقول دي (ایضًا) عُرْفًا حال دې په معنیٰ د مُتَتَابِعَةً (کبیر) یا د عُرْفًا نه اِحسان او معروف مُراد دې (بیضاوی) قسم دې په هغه هواګانو کوم چه لیږلې شي اِحسان او نیکۍ سره - مُراد د رحمت هواګانې دي چه نرمې او یخې دي - فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا - بیا قسم دې په هغه هواګانو چه ډیرې تیزې وي. وَالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا - قسم دې په هغه هواګانو چه وریځې بیائي - فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا. بیا دریځې تقسیموي او جُدا جُدا کوي - فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا - بیا غورځونکې وي د نصیحت - دې هواګانو کښې هم عِبرت او نصیحت دې، څنګه چه دا هواګانې نرمې چلیږي - او تیزې هم رحمت هم ځان سره راوړي او عذاب هم. بس دې شواهد وته او ګوري او پوهه شي چه آخرت کښې به هم د چا سره نرمي کیږي او د چا سره به سختي کیږي، خوښي به د رحمت د نزول ځائې کښي وي او خوک د عذاب۔

عُذْرًا د عُذر د دفع کولو د پاره ، دې د پاره چه خوک عُذر را و نکړي. د دې د پاره نه په دُنیا کښې د هغې نمونه او ښودله. نُذْرًا. د کافرانو د یرولو د پاره - کچرې کافران باران ستورو طرف ته منسوب کړي نو هواګانې هم د هغوی د عذاب سبب ګرځي - نذرًا للكفار تخويفًا لهم والرياح سبب لوعيد الكفار بالعذاب اذا استند والمطر الى الانواء مثلا (مظهری ج ۱۰ ص ۱۶۵)۔

اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ـ دا جواب قسم دې - دا شواهد د دې دَلیل دې چه د کوم شي وعده تاسو سره شوې ده یعنې ثواب او عذاب هغه به ضرور واقع وي. دا د سورت دعوی ده علی سبیل الترقی. **۳؎** فَاِذَا النُّجُوْمُ ـ دا تخویف اُخروی دې او د دې کښې د قیامت د سختې ویرې نقشه بیان شوې ده - او دا د اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ سره متعلق دې حاصل

داچه د اجزاء او سزا به ضرور وی. دا معاندین خوځ اوس نه مني لیکن چه کله قیامت قائم شی نو بیا به د هغوی څه حال وی. کله چه ستورے خړ او بے نوره شی او اسمان ټکړے شی او غرونه ریزه ریزه شی او انبیاء پیغمبران علیهم السلام به مقرره شوے وخت باندے جمع کړے شی. هغوی ته داوعده دکوم ورځے دپاره ورکړے شوے وه؟

لِيَوْمِ الْفَصْلِ. دا دماقبل بیان دے. یعنی هغوی ته دامیعاد د مخلوق مینځ کښ د فیصلے د ورځے دپاره ورکړے شوے وو. داهغه ورځ ده دکوم چه هغوی انتظار کوونکي. وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ. دا سوال د قیامت د سختئ او د عظمت د اظهار دپاره دے. تاته څه معلومه ده چه هغه د فیصلے ورځ څه ده د هغے حوبان هم نه شي کیدے وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ. د هغه د روغ کنړونکو دپاره هلاکت او تباهي ده چه د داسے سختے ویریدونکے ورځے نه هم نه ویریږی.

ځ أَلَمْ نُهْلِكِ. دا تخویف دنیوی دے لره شان تیوس خو د هغوی نه او کړه؟ ایا مونږه هغوی نه مخکښ سرکش او عناد کوهلاک نه کړل؟ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ. دا استیناف دے او دے کښ اهلِ مکه دپاره وعید دے دغه مخکښنو په شان به دغه باقی هم هلاک کړو ځکه چه د مجرمانو سره مونږه داسے کوو لیکن د دے باوجود هغوی بیا هم نه مني او مُکذبین دپاره خودے هلاکت او تباهي. رفع علی الاستیناف وهو وعید لاهل مکة واخبار بعد الهجرة کبدر کانة قیل ثم نحن نفعل بامثالهم من الآخرین مثل ما فعلنا بالاولین الخ (روح ج ۲۹ ص ۱۷۴).

كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿۱۸﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ

مونږه دغه شان کوو د ګنهګارانو سره هلاکت دے دغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۱۹﴾ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ ﴿۲۰﴾

دروغ ګنړونکو دپاره ایا نه دے مونږه پیدا کړی تاسو د یو بے قدره (سپکو) اوبو نه.

فَجَعَلْنَاهُ فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿۲۱﴾ إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿۲۲﴾

بیا مونږه هغه اوساتلے په یو ټینګ ځائے د قرارئ کښ د یو مقرره وخت پورے

فَقَدَرْنَا ۖ فَنِعْمَ الْقَادِرُونَ ﴿۲۳﴾

بیا مونږه پوره کړه پس څه ښه قدرت لرونکی یو مونږه

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۲۴﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ

خرابی (هلاکت) دے د روغ ګنړونکو لره ایا مونږه نه دے پیدا کړه زمکه

كِفَاتًا ﴿۲۵﴾ أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ

جمع کوونکې ژوندو لره او مړو لره او کېښوده مونږ په زمکه کښې دروند والي دپاره

شَامِخَاتٍ وَأَسْقَيْنَاكُم مَّاءً فُرَاتًا ﴿۲۷﴾ وَيْلٌ

لوړ او اوچت غرونه او څکولے مونږ په تاسو باندې اوبه خوږے تندې ماتوونکے. خرابي (هلاکت) دے

يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۲۸﴾ انطَلِقُوا إِلَىٰ مَا كُنتُم

دغه ورځ دروغ گڼړونکو دپاره لاړشئ تلل اوکوئ کوم شي ته چه تاسو کړلو

بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿۲۹﴾ انطَلِقُوا إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي

دروغ لاړشئ یو سوري ته چه د هغې

ثَلَاثِ شُعَبٍ ﴿۳۰﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ

درې څانگې دي نه په کوږ (یخ) او نه څه فائده ورکوي

اللَّهَبِ ﴿۳۱﴾ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿۳۲﴾

په گرمۍ کښې ول هغه اور شړے ویشتل کوي په سکروټو لکه ماڼۍ

كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾

گویا چه هغه اوښان دي زیړ۔

نکات: ۱ د حشر نشر باندې اولنۍ عقلي دلیل ۱۲ ۲ دویم عقلي دلیل ۱۲۔ ۳ دریم عقلي دلیل ۱۲، څلورم عقلي دلیل۔ ۵ تخویفِ اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ د سوري به درې څانگې وي یعنې ډېرے شوے چه د هغې نه به گرمي راځي ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ ف۲ یعنې اوچتې کړے شوے دي سکروټې او په غټوالي د ماڼۍ برابر ۱۲۔

تفسیر ۵ أَلَمْ نَخْلُقكُّمْ۔ دا په حشر او نشر باندې عقلي دلیل دے هغوی نه خو دا تپوس اوکړه وئے مونږ هغوی دیو کمزوري او پليت اوبو (نطفه) نه نه دي پیدا کړي؟ دغه نطفه مونږ دیو معین وخت پورے د قرار ځائے (رحم) کښې اوساتله بیا د هغې باره کښې مونږ د هر څیز اندازه مقرر کړه. د مور رحم کښې د هغې دپاره ټیک لومونه. د هغه عُمر، د هغه عمل، د هغه رزق او د هغه نیک بختیا او بد بختیا وغیره. مونږ څومره لوئے قدرت والا یو چه هیڅ څیز

زمونږ د قدرت او طاقت نه بهر نه دے. دا دے خبرے دلیل دے چه مونږ په حشر او نشر باندے هم قادر یو، نو هغه خلقو د پاره به هلاکت او بربادی وی څوک چه د حشر نشر یا په هغې باندے زمونږ د قدرت نه انکار کوی.

ک۲ اَلَمۡ نَجۡعَلِ الۡاَرۡضَ. دا دویم عقلی دلیل. کِفَاتًا. اسم جنس دے یا اسم اله ده یعنی جمع کوونکی او راټولوونکی ژوندو لره په خپل شا باندے او مړو لره په خپله خیټه کښ جمع کوونکی. اَلَمۡ نَجۡعَلۡهَا كِفَاتًا تکفت وتجمع احیاء کثیرۃ علی ظهرها و امواتا غیر محصورۃ فی بطنها (روح) وجعلنا فیها رواسی شمخت.

وَجَعَلۡنَا فِیۡهَا رَوَاسِیَ شٰمِخٰتٍ. دا دریم عقلی دلیل دے. واسقینٰکم ماءً فراتا دا څلورم دلیل عقلی دے شٰمِخٰتٍ لوړ او د نګ فُرَاتًا عذبا (مدارک) هغوی نه تپوس او کړه آیا مونږ زمکه نه ده پیدا کړی چه بیشمار مخلوق ئے بار کړیدے په خپله شا ندے او بے شمیر محدود مخلوق د مرګ نه روستو هغې په خیټه کښ ځائے شویدے او بیا په هغې باندے مونږ لوړ او د نګ غرونه کیښودلے دی او تاسو ته د چینو او ولو خوږ او به نه خوږے او مزیدارے او به مونږ درکړے دی نو آیا بعث بعد الموت د دے نه زیات مشکل دے چه زمونږ د قدرت نه بهر دے. ای خلقنا الجبال وانزلنا الماء الفرات وهذه الامور اعجب من البعث (قرطبی ج ۱۹ ص ۱۶۰).

د دے دلائلو په موجودګئ کښ هم چه هغوی نه منی نو هغوی د پاره به په دغه ورځ کښ ویل او هلاکت وی. ک۳ اِنۡطَلِقُوۡا. دا تخویف اخروی دے، د قیامت په ورځ به کافرانو ته او ویلے شی چه اوس هغه عذاب طرف ته لاړشئ تاسو چه د کوم نه انکار کولو یعنی جهنم طرف ته داخلیدو د پاره لاړشئ کم چرے ستا سو خیال دی چه هلته به د خلاصی د پاره کوم سورے یا د پناه ځائے شی نو واورئ هلته به سورے وی لیکن دا او نو نه د جهنم د لوږی سورے، چه په دریو ځایونو او بنا بنونو کښ به پورته شوے وی ځکه چه د لوږی دا خاصیت دے چه کله هغه زور سره راوچتی نو چه په پورته لاړشی نو په ښاخونو کښ تقسیمیږی لَا ظَلِیۡلٍ. دا د اظل صفت دے، هغه سورے به داسے نه وی کوم چه د ګرمی نه بچ کولو والا وی او نه به هغه کوم وخت دا ور د لمبو ګرمی نه څه فائده ورکوی.

ک۴ اِنَّهَا. دا د جهنم د سکروټو او بڅرو بیان دے، جهنم به داوچتو او چتو محلات په شان بڅری غورځوی او هغه بڅری به د صفونو په صورت کښ الوزی لکه چه د زیړو اوښانو لړی وی، دغه ورځ د دروغ ګڼرونکو د پاره هلاکت دے. جِمٰلَتٌ د جمل جمع ده، یا اسم جمع ده. (ق ۳۶).

وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۳۴﴾ هٰذَا يَوۡمُ لَا

هلاکت دے دروغ ګڼرونکو د پاره. دا هغه ورځ ده چه خبرے

يَنۡطِقُوۡنَ ﴿۳۵﴾ وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ فَيَعۡتَذِرُوۡنَ ﴿۳۶﴾

به نۀ کوی. او نۀ به هغوی ته حکم وی چه توبه او باسی.

وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۳۷﴾ هٰذَا يَوۡمُ الۡفَصۡلِ

هلاکت دے دغه ورځ دروغ ګڼرونکو د پاره. دا ورځ ده ځانله د فیصلے

جَمَعۡنٰكُمۡ وَالۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۳۸﴾ فَاِنۡ كَانَ لَكُمۡ

جمع کړل مونږ تاسو او مخکښینی. پس که چرے څۀ شته بیرے

كَيۡدٌ فَكِيۡدُوۡنِ ﴿۳۹﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۴۰﴾

دی ستاسو نو هغه اوکړئ ځما سره. هلاکت دے دغه ورځ دروغ ګڼرونکو دپاره.

اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِىۡ ظِلٰلٍ وَّعُيُوۡنٍ ﴿۴۱﴾ وَّفَوَاكِهَ

بیشکه خوګ چه ویریدونکی دی هغوی په سوری کښې دی او نهرونو کښې. او میوے کوم

مِمَّا يَشۡتَهُوۡنَ ﴿۴۲﴾ كُلُوۡا وَاشۡرَبُوۡا هَنِيۡٓـئًا بِمَا

قسم چه هغوی غواړی. خورئ ګلے او څښئ مزے سره بدله د هغه کارونو

كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۴۳﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۴۴﴾

کوم چه تاسو کړی وو. مونږ دغه شان بدله ورکوو نیکی کوونکو ته

وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۴۵﴾ كُلُوۡا وَتَمَتَّعُوۡا قَلِيۡلًا

خرابی (هلاکت) دے دغه ورځ دروغ ګڼرونکو دپاره. خورئ او فائده واخلئ لږه ورځے

اِنَّكُمۡ مُّجۡرِمُوۡنَ ﴿۴۶﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۴۷﴾

بیشکه تاسو ګنهګاری. خرابی (هلاکت) دے دغه ورځ دروغ ګڼرونکو دپاره.

وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمُ ارۡكَعُوۡا لَا يَرۡكَعُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ

او کله چه او وئیلے شی ګله هغوی ته سکته شئ (رکوع ته) نه سکته کیږی. خرابی (هلاکت) دے

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۢ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۰﴾

دغه ورځ د دروغ ګڼرونکو دپاره. اوس به کومې خبرې د دینه روستو ایمان راوړي.

نکات: ۱ بشارت اُخروي ۱۲ ۲ زجر او تو بیخ کافرانو دپاره.

موضح قرآن ف د سورو درے تکوے یعنی څوے کږے شوے په هغې کښې ګرمي راځي ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ. ف ۲ یعنی د محل او ماڼږي برابر بخرې الوزي او پورته کیږي.

تفسیر ۹ هٰذَا يَوْمُ. داورځ به داسے سخته هیبتناکه وي. کافرانو باندے به د هغې د دهشت له وجې خاموشي خوره شوے وي او هغوئ به خبرے هم نشي کولے او نه به هغوئ ته دکوم عذر او بهانے پیش کولو اجازت ورکولے شي. په دغه ورځ به هغوئ دپاره صرف هلاکت او تباهي وي. دخبرو د نفي کولو نه یا خو دمفید خبرو نفي مُراد ده یا مُراد داسے چه د حشر په ځنو ځایونو کښې به هغوئ د حیرت او دهشت په وجه سره خبرے نه کوي او ځنے مواقع کښې هغوئ خبرے کوي. نطقاً يفيد هم اولا ينطقون شيئاً من فرط الدهشة والحيرة وهذا في بعض المواقف وينطقون في بعضها. (مظهري ج ۱۰ ص ۱۶۹).

۱۰ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ. داستاسو فیصلے ورځ ده چه په هغې کښې مونږ تاسو او تاسو نه مخکښې خلقو لره جمع کړیدي دے دپاره چه ستاسو مینځ کښې آخري فیصله اوکړے شي، اوس که چرے څه حیله او بهانه کولے شئ نو اوکړئ او کورئ لیکن نن به هیڅ حیله یکار نه راځي او د خدائي د عذاب نه د بچ کیدلو دپاره به ستاسو هیڅ ته بیرپکار نه راځي. دا ورځ ستاسو په شان مکذبین دپاره د هلاکت ورځ ده. اذ لا حيلة لهم في التخلص من العذاب. (بیضاوي). ۱۱ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ. دا بشارتِ اُخروي دے دکافرانو او مشرکانو په مقابله کښې به مؤمنانو او شرک نه ځان ساتونکو دپاره جنت کښې هرقسم راحت، او هر قسمه نعمت حاصل وي، د هغوئ به جنت کښې یخ سورو کښې مزے اخلي د هر قسم مشروب جوش و هونکو چینو نه مزے اخستونکي وي او د کوم قسم میو خواهش کوي هغه به حاضر ولے شي. حاصل دا چه هغوئ ته به د جنت هر قسم راحت او هر نعمت حاصل وي. كُلُوْا وَاشْرَبُوْا. د دینه مخکښې يُقَالُ لَهُمْ. محذوف دے یا دا حال دے بتاویل مقولا لهم. (روح).

هغوئ ته به ویلے شي. نن خوند او مزے سره خوري او څکئ او دا ستاسو د هغه نیک کارونو بدله ده کوم چه په دُنیا کښې تاسو کول مونږ نیکي کوونکو ته دغه شان انعام ورکوو لیکن دروغ ویونکو دپاره نن ذلیل او عذاب نه سوا هیڅ نشته.


۱۲ كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا. دا مُکذبین دپاره زجر او تخویف دے کچرے دا کلام د قیامت په ورځ کولے شي نو دینه مخکښې به کان يقال لهم في الدنيا مقدر وي.

یا دا خطاب په دُنیا کښې دے یعنې دُنیا کښې خوری او څکئ او د دُنیا د څیزونو نه فائدې او نفع خوړ وسره حاصل کړئ. تاسو مُجرمان یئ او مُجرمانو د پاره په آخرت کښې ویل او هلاکت دے.

٤٨ وَاِذَا قِیۡلَ - کله چه هغوئ ته وئیلے شي چه کِبر او غرور پریږدئ او د الله په مخکښې عاجزی اوکړئ، هغه بانده ایمان راوړئ او د هغه د اوامرو او نواهی په مخکښې د تسلیم سر ښکته کړئ نو هغوئ دے ته نه مائل کیږی او د عناد او لعنت او غرور استکبار نه نه منع کیږی. نو د داسے معاندین او مکذبین د پاره به د غه ورځ د هلاکت او تباهئ نه سوا څه وی. اخشعوا الله وتواضعوا الیه بقبول وحیه واتباع دینه ودعوا هذا الاستکبار (مدارک).

یا مطلب دا دے چه په آخرت کښې به هغوئ ته او وئیلے شي چه سجده اوکړئ نو هغوئ به سجدې نشي کولے. دا تفسیر حضرت ابن عباس رض نه مروی دے. اول تفسیر حضرت قتادة رض نه منقول دے. وقال ابن عباس رض انما یقال لهم هذا فی الآخرة حین یدعون الی السجود فلا یستطیعون. قتادة - هذا فی الدنیا (قرطبی ج ۱۹ ص ۱۶۶).

٥٠ فَبِاَیِّ حَدِیۡثٍۭ - دا معاندینو د قرآن په شان معجز، فصیح، بلیغ دلائل عقلی او نقلی او د آفاق شواهد او دلائل انفس نه ډک کتاب باندے ایمان نه راوړی نو د هغه نه روستو به هغوئ په کوم کتاب باندے ایمان راوړی یعنې د قرآن نه روستو هیڅ یو پند و نصیحت په هغوئ باندے اثر نه کوی دے وجه نه اوس د هغوئ ایمان راوړل د امکان نه بهر دی ځکه چه د دوئ په زړونو باندے د جبار رب مُهر لګیدلے دے.



فرغت من النظر الثانی بوقت الصبح یوم الاحد بعد صلوة الفجر
۹ رمضان المبارک ۱۴۲۸ھ ۲۲ ستمبر ۲۰۰۷ء۔

(کتابت حمید الله سلیم فن: ۰۳۳۵-۹۲۰۱۱۲۳)

سورة النبأ

ربط : سورة النبأ کښې د المرسلٰت
په نسبت تخویفات په طور د ترقئ ذکر شویدی په مرسلٰت
کښې خو صرف دا ذکر وو چه عذاب به واقع کیږي لیکن سورة نبأ کښې
اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ـــــ تا ـــــ وَجَنّٰتٍ اَلْفَافًا کښې د اِنَّمَا
تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ (مرسلٰت) یو شق یعنی د انعامات تفصیل ذکر شوے دے چه
او گورئ الله تعالیٰ تاسو ته په دُنیا کښې دا انعامات درکړیدی. دَ دُنیوی تکلیفونو
او مصیبتونو ذکر مقایسة پریخودلے شویدے یعنی دُنیوی مصیبتونه په دُنیوی
نعمتونو باندے قیاس کړئ چه مصیبتونه هم د الله له طرفه راځی نو څنګه چه
په دُنیا کښې انعامات او مصائب دی دغه شان به په آخرت کښې هم په چا
باندے انعامات وی او څوک به په عذاب او مصیبت کښې مُبتلا وی، دغه
شان په "مرسلٰت" کښې خالص تخویفات وو او هغے کښې د توحید ذکر نه
وو، او س به په سُورة نبأ کښې د توحید بیان هم وی. رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
تا وَقَالَ صَوَابًا ٥.

خُلاصه

عَمَّ یَتَسَآءَلُوْنَ ـــــ تا ـــــ ثُمَّ كَلَّا سَیَعْلَمُوْنَ ٥
زجر د قیامت نه منکرینو دپاره په کوم لویو حادثات
(د قیامت) کښې چه دهغوئ شک دے. نزدے ده دهغوئ یقین به او شی. اَلَمْ
نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ـــــ تا ـــــ وَجَنّٰتٍ اَلْفَافًا. ایا مونږ تاسو ته دَ دُنیا
دا نعمتونه نه دی درکړی. دغه شان به په آخرت کښې هم حکم منونکو بندګانو
ته نعمتونه ورکوو. اِنَّ یَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِیْقَاتًا ـــــ تا ـــــ فَذُوْقُوْا
فَلَنْ نَّزِیْدَكُمْ اِلَّا عَذَابًا ٥ تخویف اُخروی، دَ قیامت قائمیدلو دَ وخت نه
دَ دوزخ د داخلیدلو پورے د حالات او حوادث او سختو تکلیفونو ذکر شویدی
اِنَّ لِلْمُتَّقِیْنَ مَفَازًا ـــــ تا ـــــ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ٥ متقیانو
او حکم منونکو بندګانو دپاره دَ آخرت خوشخبری ذکر شویده. رَبِّ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ـــــ تا ـــــ وَقَالَ صَوَابًا ٥ مقصود اعلیٰ یعنی د توحید دَ مسئلے
بیان په طور دَ ترقئ دسُورة دَهر نه هلته دَ شرک نه د الله تعالیٰ د تنزیه او پاکئ
حکم ورکړے شوے وو، دلته د باطل معبودانو د شفاعت قهری نفی کړے شوے
ده. ذٰلِكَ الْیَوْمُ الْحَقُّ تا آخر تخویف اُخروی. قیامت حق دے په هغے کښې
هیڅ شک نشته، د دے وجه نه د دغه هیبتناک او ویرونکی ورځ دپاره سبنه
تیارے او کړئ کنې دَ حسرت او ندامت نه سوا به هیڅ حاصل نه کړئ.

سُوْرَةُ النَّبَا مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة النبأ ـ په مکه کښې نازل شوې ده ایتونه څلویښت اؤ رکوع دوه دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان اؤ ډیر رحم کوونکے دے

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ۝١ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ۝٢

څه څخه تپوس کوي خلق یو بل مینځ کښې دا تپوس کوي د لوئے خبر.

الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ۝٣ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝٤

چه په هغې کښې هغوی مختلف دي وا هرګز دا سے نه ده

ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝٥ اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ

زر ده چه پوهه به شي آیا نه ده موږ او نه ګرځوله زمکه

مِهٰدًا ۝٦ وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ۝٧ وَّخَلَقْنٰكُمْ

فرش اؤ غرونه میخونه اؤ تاسو موږ پیدا کړي

اَزْوَاجًا ۝٨ وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۝٩ وَّ

جوړے جوړے اؤ او ګرځولو موږ خوب ستاسو د ستومانۍ ختمونکے او

جَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ۝١٠ وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ

او ګرځوله موږ شپه لباس اؤ او ګرځوله موږ ورځ

مَعَاشًا ۝١١ وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۝١٢

د ګټې طلب کولو کې پاره. اؤ جوړ کړے موږ ستاسو د پاسه اووه محکم (اسمانونه)

وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ۝١٣ وَّاَنْزَلْنَا مِنَ

اؤ او ګرځولے ده موږ یو ډیوه روښانه اؤ نازل کړو موږ له

الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ۝١٤ لِّنُخْرِجَ بِهٖ

نچوړ وونکو (وریځو) نه اوبه ډیر توئیدونکي دے د پاره چه موږ

حَبًّا وَّنَبَاتًا ﴿۱۵﴾ وَّجَنّٰتٍ اَلۡفَافًا ﴿۱۶﴾ اِنَّ

را او باسو په هغې سره دانې او وابنه شنه او باغونه په یو بل پسې نښتي شوي ۲ بیشکه

یَوۡمَ الۡفَصۡلِ كَانَ مِیۡقَاتًا ﴿۱۷﴾

ورځ د فیصلې (قیامت) دے یو وخت مقرر شوے

نکات ۱ زجر دپاره دمنکرین قیامت ۲ ددنیوي انعاماتو ذکر ۱۲۔
۳ تخویف اُخروي ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ کله چه حضور صلی الله علیه وسلم پیغمبر او لیږل شو
دقیامت ذکرئے شروع کړو۔ مؤمنانو او منلو کافرانو چه واوریدل
منکر شول او تعجب ئے اوکړو په خپلو شول او مشکل ئے اوګڼلو، چا اوویل
بدن به پا څولے شي، چا اوویل خوشحالي او غم به په روح تیریږي چا اوویل
زاړه او وراسته شوے هډوکي به څنګه بیا برابر او پا څولے شي، څنو اوویل
دغه وعده به کله وي، څنو اوویل چه دا خبره نشي کیدے، صرف ددنیا ژوند
دے، د ټولو اخري خلاصه خبره دا وه چه کچرے کارکیدلو والا دے نو ولے نه
کیږي او د نیکو او بدو بدله ورکولو کښ ولے روستو والے کیږي چه اوس
بدله ورکړے شي نو خلق به عبرت واخلي، دے سره الله دا سورت نازل کړو،
دا فائده د تفسیر فتح العزیز نه لیکلے شویده ۱۲۔
ف۲ یعني کور باغ دا ونو نه ډک ۱۲۔

فتح الرّحمٰن | ف۱ مراد دا قبرونو نه پاڅیدل او قیامت دے ۱۲

تفسیر ۱ عَمَّ یَتَسَآءَلُوۡنَ۔ دحشر نشر نه منکرینو دپاره زجر دے،
کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دمکے خلقو ته د توحید دعوت ورکړو
او هغوی ته ئے دبعث بعد الموت مسئله بیان کړه نو هغوی د قیامت
باره کښ یو بل نه تپوس ونه شروع کړل چه (محمد صلی الله علیه وسلم)
داڅه وائي چه د مرګ نه وروستو به دوباره ژوندي کولے شي۔ عَنِ
النَّبَاِ الۡعَظِیۡمِ ۝ دا د یَتَسَآءَلُوۡنَ مقدر سره متعلق دے، هغوی د یو عظیم
خبر باره کښ سوال او جواب کوي، دا داستفهام اسلوب انداز د نبأ
العظیم (قیامت) د زیات عظمت او فخامت داظهار دپاره دا هغه
لویه حادثه ده چه د کوم باره کښ هغوی ستاسو سره یا خپل مینځ کښ اختلاف
کوي څني خو هغې نه صفا انکار کوي او څني په شک کښ پریوتلي دي (مظهري)۔
۳ کَلَّا۔ دا د ابتداء او تساؤل نه ردع ده یعني هغوی له داسے نه ده چه کار

او په کوم څیز کښې چه دوی هغوئ یعنی (قیامت) کښې شک دی هغه به ډیر زر هغه اوینی او یقین به اوکړی. ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ. ثُمَّ د تکریر بیان (بیان مکرر کولو) د پاره دی چه په طور د تشدید او تهویل (سختئ او ویرولو) سره ئې ردع مکرر کړه. کرر الردع للتشدید وثم یشعر بان الثانی ابلغ من الاول واشد. (مدارك). اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ، د دنیوی نعمتونو بیان دی د دنیوی تکلیفونو ذکر مقایسة بریښود لے شوی دی. مِهٰدًا، فرش، بستره، اَوْتَادًا، د وتد جمع ده. یعنی میخونه څنګه چه میخونو سره یو شے محکم کولے شی، دغه شان غرونو سره ئے زمکه درنه کړه او محکم کړه ځوځولے شوی نه دے د پاره چه هغه خوزیدلو سره د اوسیدونکو د پاره د پریشانئ باعث اونه ګرځی. اَزْوَاجًا، یعنی نر او ښځه. سُبَاتًا، د کارونو پریښودلو په وجه سره د آرام او راحت باعث. لِبَاسًا، پرده او ستر، شپه هغه څیز دے په تیوی چه کوم انسان ښکاره کول نه غواړی. مَعَاشًا، ظرف زمان. د روزئ ګټلو وخت. سَبْعًا شِدَادًا، د شَدِيدَةٌ جمع ده مضبوط او محکم. اووه واړه اسمانونه ډیر مضبوط او مستحکم دی نه را پریوځی نه د ماتیدلو خطره شته. اِلَّا اِذَا جَاءَ وَعْدُ اللّٰهِ. سِرَاجًا وَّهَّاجًا، روښانه پرقیدونکے ډیوه چه په هغې کښې رڼا هم شته او ګرمی هم مراد ترے نمر دے. اَلْمُعْصِرٰتِ، هغه وریځې چه باران ورونکی وی. ثَجَّاجًا، ډیر وروونکی. اَلْفَافًا، ګڼ او ګور. دا استفهام انکاری دے دا اندازِ بیان مؤثر دے ځکه چه دیکښې د مخاطب د طرفه ته د اقرار او اعتراف مفهوم موندلے شی څنګه چه مونږ تاسو ته په دنیا کښې دا نعمتونه درکړیدی او مصائب هم حمونږ له طرفه راځی. دغه شان به اخرت کښې به هم مونږ مؤمنانو ته انعامات ورکوو او نا فرمانو ته به د عذاب مزه څکوو. دے دنیوی انعاماتو د زیاتوالی نه څمونږ د قدرتِ کامله اندازه اولګوئ نو آیا دوباره ژوندی کول مونږ د پاره ددینه زیات مشکل دی. لما انکروا البعث قِيْلَ لَهُمْ اَلَمْ يخلق من اضيف اليه البعث هذه الخلائق العجيبة فلم تنكرون قدرته على البعث وما هو الا اختراع كهذه ... الاختراعات (مدارك). ھے اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ. دا تخويفِ اخروی دے، د فیصلے ورځ یعنی د قیامت ورځ د ثواب او عذاب د پاره مقرر وخت دے چه په هغې کښې به د هر انسان د انجام فیصله کیږی یوه ډله به جنت ته ځی او بله ډله به دوزخ ته ځی. يَوْمَ يُنْفَخُ. دا د يَوْمَ الْفَصْلِ یا مِيقَاتًا نه بدل دے (مظهری) دا هغه ورځ ده چه په هغې کښې شپیلئ کښې پوکے کولے شی نو تاسو ټول خلق به د قبرونو نه راپاڅئ فوج په فوج د حشر په میدان کښې جمع کولے شی. وَفُتِحَتِ السَّمَآءُ دغه ورځ به اسمان کښې چاودی اوشی او په هغې کښې به دروازے دروازے په نظر راځی، دا دروازے به د فرشتو د راکوزیدو د پاره وی. اَبْوَابًا. ای طرقا ومسالك لنزول الملٰئكة (ابن کثیر ج ۴ ص ۴۶۳) سُيِّرَتِ الْجِبَالُ. او غرونه به د خپل ځایونو نه لرے کړے شی زرے زرے به کړے شی، الوزولے به شی او چرته به هم د هغې وجود په نظر نه راځی. والمراد ههنا صارت الجبال شيئا لاحقيقة لها لتفتت اجزائها (مظهری ج ۱۰ ص ۱۷۲).

يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَتَأْتُوْنَ أَفْوَاجًا ﴿۱۸﴾
کوم ورځ چه پو کے او کړے شی شپیلئ کښ نو تاسو به راځئ ډلے ډلے
وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿۱۹﴾ وَّسُيِّرَتِ
او پرانستے به شی آسمان نو شی به هغے کښ دروازے او بوتللے به شی
الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿۲۰﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ
غرونو نو شی به پړقیدونکی شګی بیشکه سته دوزخ دے
مِرْصَادًا ﴿۲۱﴾ لِّلطَّاغِيْنَ مَاٰبًا ﴿۲۲﴾ لّٰبِثِيْنَ فِيْهَا
انتظار ګاه د سرکشانو دپاره دا و سیدو ځائے او سیږی به په هغے کښ
أَحْقَابًا ﴿۲۳﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ﴿۲۴﴾
ډیره زمانه نه به څکی هلته څه د یخو لے مزه او نه به څه څکل ملاویږی
إِلَّا حَمِيْمًا وَّغَسَّاقًا ﴿۲۵﴾ جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿۲۶﴾ إِنَّهُمْ
لیکن ګرم اوبه او بهیدونکی وینی زوے پوره بدله ده دهغوئ
كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ حِسَابًا ﴿۲۷﴾ وَّكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا
امید نه وو د حساب او دروغ ئے ګڼل زمونږ ایتونه
كِذَّابًا ﴿۲۸﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنٰهُ كِتٰبًا ﴿۲۹﴾
دروغ ګڼل لو سره او هر څیز مونږ شمیرلے دے او لیکلے مو دے
فَذُوْقُوْا فَلَنْ نَّزِيْدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿۳۰﴾ إِنَّ
اوس اوڅکئ مونږ به نه زیاتوو دوئ باندے لیکن عذاب بیشکه
لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا ﴿۳۱﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَابًا ﴿۳۲﴾ وَّ
شته ویریدونکو ته دهغوئ مراد ملاویدونکے دے باغونه دی او انګور او
كَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿۳۳﴾ وَّكَأْسًا دِهَاقًا ﴿۳۴﴾ لَا
ځوانانے ښځې همزولې او پیالئ ډکے نه

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً

نه به اوري هلته بې ګاره خبرې او نه دروغ وئيل بدله ده

مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ السَّمٰوٰتِ

ستا د رب ورکړې شوې حساب سره چه رب دے د اسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُوْنَ

او د زمکې او هغه چه دے په مینځ کښې د دې ډیر مهربان دے نه لري طاقت

مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾

چه څوک د هغه سره خبرې اوکړي۔

نکات : ۱ بشارت اُخرویه ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ یو د بل سره جهګړه کوي چه د یو بل خبره دروغ اوګڼړي ف۲ عام خلق چه هغوي هغه (الله) نه ویني که څوک غواړي دُنیا کښې دے خبرې اوکړي۔ په اٰخرت کښې به د هغه جلال او عظمت مخامخ وي په غیر د الله د حُکم نه به هیڅوک خبرې نه شي کولے ۱۲۔

تفسیر ۱ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا۔ تیار او مُستعد (قرطبي، مظهري) جهنّم به کافرانو د پاره بالکل تیار وي، هغه به تول سرکشان او د حُدود الله نه تجاوز کوونکي د پاره د استوګنې ځائے وي چه په هغے کښې به نه ختمیدونکي زمانه پورے اوسیږي۔ احقاب۔ د حُقب جمع ده او د حُقب په تفسیر کښې مختلف اقوال نقل شویدي، حاصل دا دے چه د دے نه خلود مُراد دے ځکه چه کله هم یو حقب تیر شي دویم به شروع شي۔ قال الحسن .... اذا مضى حقب دخل حقب اٰخر ثم اٰخر الى الابد فليس للاحقاب مدة الا الخلود (مظهري ج۱۰ ص۱۶۷) دهورا متتابعة وليس فيه ما يدل على خروجهم منها اذ لو صح ان الحقب ثمانون سنة او سبعون الف سنة فليس فيه ما يقتضي تناهي تلك الاحقاب لجواز ان يكون المراد احقابا مترادفة كلما مضى حقب تبعه اٰخر۔ (بيضاوي)۔

۲ لَا يَذُوْقُوْنَ۔ هغوي به جهنّم کښې د یخوالے مزه نه څکي او نه د یو مشروب هغوي ته به جوش وهونکي اوبه او د دوزخیانو د زخمونو نه بهیدونکي وینو زوونه سوا هیڅ نه ملاویږي دا به یو داسے جزا وي چه د هغوي د عملونو سره به بالکل مطابق وي او دے کښې به په هغوي باندے هیڅ زیاتے نه کیږي۔ اِنَّهُمْ كَانُوْا۔ دا ما قبل د پاره علت دے۔ کیږے دا کلام د قیامت په ورځ د کافرانو جهنّم ته د داخلیدو نه

روستو ويل مراد وي نو دينه مخکښ يقال مقدّر دے کني نو دے تقدير ضرورت
نشته هغوي د قيامت په ورځ د محاسبے اعتقاد نه لرلو او حمونږ ايتونه ئے درواغ ګڼل
وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ. مونږ د هغوي ټول باطل اعمال او کړے خبرے با قاعده ليکلے
او محفوظ کړے هم دي او هيڅ څيز حمونږ نه پټ نه دے لهٰذا اُن د عذاب مزه
اوڅکئ او کله چه تاسو په عذاب کښ او سيږئ د عذاب کمے به نه کيږي بلکه د
هغے په سختئ کښ به نورهم زياتوالے کيږي. فَذُوقُوا نه مخکښ يقال لهم
محذوف دے. (جلالين).

ﺷﻪ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ. داد شرک او کفرنه او معاصي نه ځان ساتلونکو د پاره
خوشخبري ده د آخرت. مؤمنانو ته به په آخرت کښ په هر مقصد او مطلب کښ
کاميابي او د هر قسم ضرر او تکليف نه نجات نصيب وي. حَدَائِقَ. دا د مَفَازًا
نه بدل الاشتمال دے او دے کښ د مؤمنانو کاميابئ ته قدرے تفصيل دے هغوي
ته به هلته هر قسم باغونه مِلاويږي، خصوصاً د انګورو. جنّت کښ به د هغوي د
ملګرتيا د پاره ځوانانے او پيغلے ښځې وي چه همزولے به وي، ټولے به په عمر کښ
يو شان برابر وي او هلته به هغوي ته قسم قسم مشروبات نه ترشنيا و ډکے پيالئ او
جامونه پيش کولے شي هغوي به په جنّت کښ بيکاره بے فائدے او درواغ خبرے نه
اوري. جنتيان به د دے عبث خبرونه پاک وي د هغوي د ژبونه به د اخلاقو نه پريوتے
خبرے نه اووځي. جَزَاءً. دا د مقدّر فعل يُجْزَوْنَ د پاره مفعول مُطلق دے.
عَطَاءً. د جَزَاءً. بدل دے د حِسَابًا معنیٰ ده کافي او پوره. (مظهري) دا جزاء
او صله به هغوي ته ستا د پروردګار له طرفه مِلاويږي چه کافي او پوره انعام او اکرام دے.

يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا ۖ لَا يَتَكَلَّمُونَ
په کومه ورځ چه ولاړ به وي روح او فرښتې صفونه صفونه و اونه به وي خبرې کوونکي څوک
إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾
ليکن چه چاته حکم اوکړي رحمٰن او ويلي وي (سړي) حق خبره
ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۖ فَمَن شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ
او هغه ورځ ده حق پس څوک چه غواړي او دې نيسي ځپل
رَبِّهِ مَآبًا ﴿٣٩﴾ إِنَّا أَنذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا ۚ
رب سره استوګنه. مونږ خبر واورولو تاسو ته د يو نږدې راتلونکي عذاب

يَوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ وَ

کومه ورځ چه اووینی انسان کوم شے چه مخکښې اولیږل دهغه لاسونو او

يَقُوْلُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا ﴿۴۰﴾ ع

وائی به کافر کاش! چه به شوے طریقه زه خاورے وے۔

نکات

ﻟﮯ تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ رُوح ہے ویلے دے ساه اخستونکی ته یا نوم دے دجبرئیل علیه السلام ۱۲۔

ف۲ یعنی کوم مسلمانان چه دسفارش قابل دے هغه دپاره سفارش اوکړی ۱۲۔ ف۳ یعنی خاورے پاتے شوے وے انسان نه وے پیدا شوے چه دے حساب کتاب کښې نه وے گرفتار شوے ۱۲ منه رحمه الله۔

فتح الرحمن

ف۱ یعنی د اسلام کلمه ۱۲۔

ف۲ یعنی یکپاره ارواح ۱۲۔

تفسیر

ﻟﮯ رَبُّ السَّمٰوٰتِ. دا بدل دے د رَبِّكَ او دے کښې د سورة دهر په نسبت د توحید مسئله په طور د ترقئ بیان شوے ده هغه د زمکے او آسمان او د ټول کائنات مالک او پروردگار دے هغه رحمٰن دے دُنیا کښې دهغه انعامات او احسانات عام او غیر مخصوص دی مؤمن او کافر ټول دهغے نه فائده اخلی، د قیامت په ورځ به دهغه دهیبت (ویرے) او جلال (لویئ) د وجه نه هیڅوک دهغه په مخکښې خبرے نه شی کولے۔ ﻟﮯ يَوْمَ يَقُوْمُ. دغه ورځ به جبرئیل علیه السلام او ټولے فرشتے دالله تعالیٰ په حضور کښې صف تړونکے ولاړے وی دے کښې د شفاعت قهریه نفی کړے شوے ده۔ لَا يَتَكَلَّمُوْنَ. د ټول مخلوق نکتا یه ده۔ صَوَابًا حقا. مُراد د توحید کلمه ده۔ مَنْ اَذِنَ لَهُ. نه شافع مُراد دے یعنی شفاعت کونکے به هغه څوک وی چا ته چه الله پاک د شفاعت کولو اذن ورکړے وی او چا چه په دنیا کښې د توحید کلمه منلے وی، لهٰذا کافرانو او مشرکانو ته به د شفاعت اذن نه ملاویږی (قَالَ صَوَابًا) القول ههنا كانه كناية عن الاعتقاد .... وقيل معنى قال صوابا قال لا اله الا الله فالكفار لا يؤذن لهم ان يتكلموا الخ (مظهری ج۱۰ ص۱۸۳)۔

ﻟﮯ يَوْمُ الْيَوْمُ. دا ورځ یعنی د قیامت ورځ برحق ده او هغه به ضرور راځی او هغے کښې به د مؤمن او کافر مطیع او عاصی د جزاء او سزا فیصله وی او س چه د چا زړه او غواړی د ایمان او عمل صالح په ذریعه سره دے د الله نزدیکت اختیار کړی۔ په آخرت کښې دے همیشه ژوند حاصل کړی او د چا زړه چه او غواړی د کفر او شرک په لاره بانده دے ولاړ شی، خپل عاقبت دے برباد کړی۔

۳ٰلہ إِنَّآ أَنذَرْنَـٰكُمْ . دَعذاب قريب نه د آخرت عذاب مُراد دے ځکه چه کوم څيز راتلونکے وي هغه ډير نزدے وي او کوم څيز چه تير شو هغه بعيد دے. وقربه لتحقق اتيانه فقد قيل ما ابعد ما فات وما اقرب ما هو آت (روح ج ۳۰ ص۲۱). يوم ينظر عذابا سره متعلق دے ، مونږ تاسو ډيو داسے عذاب نه خبردار کړي ئے چه ډير زر راتلونکے دے په کومه ورځ چه هر انسان به خپل کړے عملونه خپل مخے ته اووينی او د خپلو ټولو عملونو د خير او شر مشاهده او کړي. مؤمنان چه خپل نيک اعمال اووينی خوشحاله به شي، ليکن کافر چه کله د خپل بد عملونو پنډ وينه اووينی او هغه ته د خپلو بد عملونو د عبرناک انجام يقين اوشی نو حسرت او افسوس سره به او وائی ، هائے افسوس ! چه مونږ خاوره شوے وے او دوباره حساب کتاب د پاره پا سولے شوے نه وے. (قرطبی روح)

په سُورةِ النّبا کښ د توحيد ايت

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ـــــ تا ـــــ وَقَالَ صَوَابًا. نفی شفاعت قهريه.

رَبط

سورة نبأ کښ انعامات ذکر شول او د مصائب ذکر اونکړے دے د پاره چه هغه مقايسة معلوم کړے شي، دے کښ اشاره وه چه په اخرت به هم دغه شان کيږي، مؤمنانو باندے به انعامات کيږي او په کافرانو باندے عذاب اوس په سُورةِ نازعات کښ په طور د ترقۍ د هغے نمونه ذکر کړے شويده يعني څنګه چه په دُنيا کښ د رُوح قبض کولو په وخت فرشتے مؤمنانو سره نرمی او کافرانو سره سختی کوی دغه شان به په اخرت کښ هم فرشتے مقرر ولے شي چه مؤمنان به جنت ته داخل کړي او کافرانو ته به مختلف قِسمه عذابونه ورکوی .

خُلاصه

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ـــــ تا ـــــ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۞ د آخرت د ثواب او عذاب نمونه ذکر کړے شويده کما مرفی بيان الرّبط. يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ـــــ تا ـــــ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ . تخويف اُخروی دے دا هغه ورځ ده چه په هغے کښ به د ثواب او عذاب فرشتے مؤمنانو او کافرانو باندے مقرر کولے شي - يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِی الْحَافِرَةِ ـــــ تا ـــــ فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ، شکوی په کافرانو او مشرکانو ، هغوئ په طور د استهزاء وائي ايا چه کله مونږ زاړه هډوکی شونو ايا دوباره به ژوندی شو او اول حالت ته به راشو ؟ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ـــــ تا ـــــ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ۞ تخويف دُنيوی. مونږ موسیٰ

علیه السلام د فرعون طرف ته اولیګه، هغه سرکشي اوکړه او د هغه دعوت ئے قبول
نه کړو موږ به دنیا کښ هغه سخت عذاب سره اونیوه او په اٰخرت کښ هم موږ هغه
ته د سخت عذاب ورکولو فیصله اوکړه. ۲- ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ ؕ بَنٰىهَا
تا ـــــ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ؕ دا د سورة په دعوىٰ باندې عقلي
دلیل دے آیا د دے لوړ او اوچت آسمان پیدا کول د شیئے او ورئے موجود ول زمکه
خوروول او په دے باندے غرونه اودرول، بیا د زمکے نه توک قسمونه شینکي پیدا کول
ستاسو د دوباره پیدا کولو نه زیات مشکل دي الله تعالىٰ خو ک چه دا سے قادر
او حکیم دے هغه ستاسو د دوباره پیدا کولو هم قدرت لري. فَاِذَا جَآءَتِ
الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ـــــ تا ـــــ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى ۝ دا د تخویف
اعزوي دے. وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ. الاٰيتين. دا مؤمنانو د پاره
بشارت اعزوي دے. يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ شکوی
هغوی ستا نه تپوس کوی چه قیامت به کله راشي، حال دا دے چه تاسو ته د هغے
هیڅ علم نشته ځکه د دے علم صرف الله تعالىٰ ته دے تاسو خو د هغے نه ویره وونکی ئے.

سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة النّٰزعٰت په مکه کښ نازل شوے ده، ایتونه شلوریشت او دوه رکوع لګانے دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ۝۱ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ۝۲ وَّ
قسم دے په راښکونکو (ملائکو ارواح د کافرانو) او د بند خلاصولو والا او خلاصولو سره ف۲ او
السّٰبِحٰتِ سَبْحًا ۝۳ فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۝۴ فَالْمُدَبِّرٰتِ
او د لامبو وهونکو په تیزئ سره ف۳ بیا د مخکښ تیریدونکو تیریدو سره ف۴ بیا د کار جوړونکو
اَمْرًا ۝۵ يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ۝۶ تَتْبَعُهَا
په حکم سره ف۱ کوم ورځ چه اولړزیږی لړزیدونکی ف۲ پس راشي د هغے نه روستو
الرَّادِفَةُ ۝۷
هغه روستو راتلونکی ف۳

نکات

سـ۱ دَ آخرت دَ عذاب اَوْ ثواب نمونه ۱۲۔ سـ۲ تخویفِ اُخروی ۱۲۔
سـ۳ شکوی ۱۲۔

موضح قرآن

فـ۱ یو قِسم فرښتے به دَ کافرُ دَ رُوح را ښکلو سره او باسی په زګونو کښې ښوتلو سره اَوْ یو قِسم فرښتے به دَ بدن نه دَ مومن رُوح غوته پرانزی، هغه په خوشحالئ سره عالم پاک ته په منډه منډه لاړشی لکه چه دَ چا غوټه پرانستل شی لیکن دَ بدن تکلیف بل څیز دے، په هغے کښې دواړه برابر دی ۱۲ ذکر دَ رُوح دے، نیک به خوشحالئ سره ورزغلی اَوْ بد به دَ ویرے نه تښتی، بیا رابنکلے شی یو فرښته په هوا کښې لامبو وهی ګرځی اَوْ کله چه هغے ته حُکم راورسیږی (دَ الله له طرفه) نو دَ هغے په برابرولو کښې منډے وهی کوشش کوی ۱۲۔

فائده : دے قسمونو کولو نه یا خو مخکښې مُدّ عا بیا نول مقصود دی اَوْ کله کله دَ دے څیزونو خوبی اَوْ قُدرت لرلو دپاره قسم خوړلے شی منه ۱۲

ف۲ یعنی زمکه کښې خوزیدل اَوْ زلزله راشی ۱۲ منه رح۔

ف۳ یعنی مُسلسل اَوْ پرله پسے زمکه او خوزیږی ۔ ۱۲ منه۔

فتح الرّحمٰن

فـ۱ یعنی دَ رُوحونو یوه حصّه ۱۲ منه۔

فـ۲ یعنی یو بله حصّے لره ۱۲۔

فـ۳ یعنی په هوا کښې۔ فـ۴ یعنی یوه دَ بلے نه ۱۲۔

فـ۵ یعنی اوّله شپیلئ اَوْ دویمه شپیلئ موجود شی ۱۲۔

تفسیر

تـ۲ وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا۔ دا شواهد دی اَوْ دَ اُخروی ثواب اَوْ عتاب نمونه ده ځنګه چه دُنیا کښې فرښتے دَ رُوح قبض کولو په وخت دَ مؤمنانو سره دَ نرمئ سُلوک کوی اَوْ کافرانو سره دَ سختئ معامله کوی دَ غه شان به په آخرت کښې هم وی غَرْقًا۔ دَ النّٰزِعٰت مفعولِ مُطلق دے من غیر لفظه ۔ اَوْ دَ معنی سختئ دَ ه۔ سختئ سره را ښکل۔ یُقَالُ اَغْرَقَ النَّازِعُ فِی الْقَوْسِ ای ...... تو فی مدها بقوة وشدة (مظهری)۔ اغراق سخت را ښکل دی دَ لیند دے (صراح)۔ مَطلب به دا وی چه هغوئ دَ مؤمنانو رُوحونه ډیر په آسانئ سره اَوْ خوشحالئ سره قبض کوی۔

تـ۳ وَالسّٰبِحٰتِ ۔ په آسمانی فضا کښې لامبو وهونکی، دَ تیز رفتارئ نه تعبیر په لامبو سره شوید دے۔ فَالسّٰبِقٰتِ دَ خپلو خپلو فرائضو سره رسولو کښې یو دَ بل نه مخکښې کیدونکی۔ فَالْمُدَبِّرٰتِ ۔ دَ خپلو فرائضو سره رسولو دپاره تدبیرونه سوچ کوونکی ۔ اَلَّتِی تَسْبَحُ فِی مَضِیّهَا اَیْ تُسْرِعُ فَتَسْبِقُ اِلٰی مَا اُمِرُوْا بِهٖ فَتُدَبِّرُ اَمْرًا مِّنْ اُمُوْرِ الْعِبَادِ مِمَّا یُصْلِحُهُمْ فِیْ دِیْنِهِمْ کَمَا رُسِمَ لَهُمْ۔ (مدارک)۔ دا دَ قیامت دَ حق کیدلو باندے قسمونه اَوْ شواهد دی اَوْ دَ قسم جواب محذوف۔

دے. اقسم سبحانه لهٰذه الأشياء التي ذكرها على ان القيامة حق. (قرطبی ج ۱۹ ص ۱۸۸).
وجواب القسم محذوف اى لتبعثن ولتحاسبن (مظهری ج ۱۰ ص ۱۸۵). يا لتسلطن عليكم الملائكة
يوم القيامة كما في الدنيا (الشیخ رحمه الله تعالیٰ).

حاصل دا شو چه دا اُمور په دے گواه دی چه قیامت به ضرور راځی، تاسو به ضرور
ژوندی کولے شئ تاسو سره به حساب کتاب کولے شی او په تاسو به فرشتے مسلط کولے شی
چه په ډیر عزت سره به مؤمنان جنت ته داخلوی ځنی به په جنت کښ دهغوئ استقبال
کوی او هغوی ته به د سلام تحفه پیش کوی او ځنی به کافران او مشرکان سختئ سره په راښکلو
راښکلو دوزخ ته داخلوی او هغوئ ته به مختلف قسم عذابونه او تکلیفونه ورکوی.

سله يَوْمَ تَرْجُفُ. دا تخویف اُخروی دے او ظرف د مقدر جواب قسم سره
متعلق دے. ترجف. او به خوزیږی او په لرزان به شی. الرَّاجِفَةُ نه مراد زمکه ده گومه ورځ
چه او خوزیږی خوزیدونکی. یعنی اوّل شپیلئ په وخت به سخته زلزله راشی چه دهغے په
وجه به زمکه دومره سخته او خوزیږی چه غرونه به هم ریزه ریزه شی، هغے نه روستو په روستو
راتلو والا راځی، مراد دویمه شپیلئ ده چه هغے سره به ټول مخلوق ژوندی شی را پاڅی او ډیر په

قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾

ډیر زړونه به شو په دغه ورځ باندے لرزیږی. د هغوئ سترگے به ټیټے وی

يَقُولُونَ ءَاِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾

خلق وائی آیا مونږ به راشو واپس (اوّل حالت) ته

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا تِلْكَ إِذًا

آیا چه مونږ شو هډوکی زاړه (وراسته) وائی دا نو داشو

كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾

راتلل دی واپس د تاوان وال پس دا هغه یو زور آور آواز دے.

فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ أَتٰىكَ حَدِيثُ

پس دغه وخت به هغوئ راځی میدان ته آیا راورسیدلے شوے دے تاته خبره

مُوسٰى ﴿١٥﴾ إِذْ نَادٰهُ رَبُّهُ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ

د موسیٰ کله چه هغه ته آواز وکړو ربّ پاک میدان کښ دهغه نوم

طُوًى ﴿۱۶﴾ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۱۷﴾

طوی دے۔ لاړ شه فرعون ته هغه تکبر کړے دے

فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰٓى اَنْ تَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ وَاَهْدِيَكَ

پس او وایه ستا زړه غواړی چه ته شان پاک کړے او تا ته لار اوښایم

اِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿۱۹﴾ فَاَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ﴿۲۰﴾

ستا د رب طرف ته پس اوویریږه پس اوښودله ؈ هغه ته هغه لویه معجزه ول

فَكَذَّبَ وَعَصٰى ﴿۲۱﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿۲۲﴾ فَحَشَرَ

پس هغه دروغ اوګڼل او وے نه منل بیا لارے شا ئے او ګرځیدو له تلاش کوونکے (د فساد) پس جمع

فَنَادٰى ﴿۲۳﴾ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ﴿۲۴﴾ فَاَخَذَهُ

ئے کړل او وے ویل زهٔ یم ستاسو رب د ټولو نه لویے (اوچت) پس اونیوهٔ

اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

هغهٔ الله په عذاب د آخرت او د دُنیا ؈ بیشکه ئله دے کښ

لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿۲۶﴾ ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا

د فکر کولو ځائے دے د هغه چا د زړهٔ کښ چه ویره ده ایا ستاسو پیدا کول سخت دی له

اَمِ السَّمَآءُ ۚ بَنٰىهَا ﴿۲۷﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ﴿۲۸﴾

یا د اسمان جوړ کړے دے هغه او اوچت کړے دے د هغه اوچت والے

وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ﴿۲۹﴾

پس برابر ئے کړه د هغهٔ شپه او تیاره ئے کړه او راوی ویستله د هغه (ورځ) رڼا

نکات:۔ ؈ تخویف اُخروی ۱۲۔ د سورت په دعوٰی دلیل عقلی ۱۲۔

موضح قرآن

ؔ؈ ویل ئے کچرے راشئ نو ډیریو کور به په زړهٔ کو نو مدعیان وی۔
ؔ؉ یعنی په آخرت کښ به هم عذاب وی او په دُنیا کښ ئے هم عذاب بیا مونده ۱۲ منه رحمه الله۔

فتح الرّحمٰن

یعنی همسا ، او ید بیضاء (رونړلاس)۔

تفسیر: ۵ دغه ورځ به د شدت هول (ډیرې ویرې) په وجه سره سخته پریشانی وی او سترګے به د ویرے په وجه ښکته (خواری ذلیلی) وی. یَقُوْلُوْنَ اِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِی الْحَافِرَةِ. دا شکوی ذالحافرة. اول حالت. الحالت الاولیٰ (مدارک). د قیامت منکرین وائی آیا مونږ به د مرګ نه روستو دوباره ژوندی کیږو؟ کله چه مونږ تازه او وراستهٔ هډوکی شو تو بیا به هم داسے کیږی؟ استفهام انکاری دے یعنی دا به نه کیږی.

۶ قَالُوْا تِلْكَ. دا استهزاءً په طور وائی کچرته داسے هم اوشوه نو ځمونږ دا واپس کیدل به د تاوان او نقصان وی ځکه چه کله مونږ دوباره ژوندی کیږو نو ځمونږ په کورونو، باغونو، جایدادونو باندے به نورخلق قابض شوے وی نو مونږ ټول به په هغے کښ ځنګه ژوند تیروو (الشیخ رحمه الله علیه) یا مطلب دا دے چه کچرے بعث بعد الموت واقعی برحق دے نو مونږ خو به ډیر تاوان کښ پاتے شو ځکه چه مونږ د هغے تکذیب اوکړو. ای ان صحت فنحن اذاً خاسرون لتکذیبنا بها (کبیر ابو السعود مدارک).

۷ فَاِنَّمَا هِیَ زَجْرَةٌ. زجر یو زبردست او طاقتور آواز. مُراد دویمه شپیلۍ ده. السَّاهِرَةِ. د زمکے مخ. دا په بعث بعد الموت باندے د قُدرتِ خدا اوندی بیان دے. دا انفخة ثانیه (دویمه شپیلۍ) په یو داسے آواز وی چه هغے سره به ټول مړی ژوندی شی او قبرونو نه به راوځی د زمکے په مخ باندے به موجود وی. دغه شان به الله په یو ساه اخستلو کښ ټول مخلوق ژوندی کړی. هَلْ اَتٰكَ. دا تخویف دنیوی دے. مونږ موسیٰ علیه السّلام ته په مقدّس وادیٔ (طویٰ) کښ آواز ورکړو او نبوّت هم ورته ورکړو د فرعون طرف ته مو اولیږه او مونږ هغهٔ ته اوویل فرعون ته لاړ شه هغه ډیر سرکش او نافرمان کرځیدلے دے، هغهٔ ته نرمۍ سره د توحید دعوت ورکړه او هغهٔ ته د هدایت لاره اوښایه. فَقُلْ هَلْ لَّكَ. هغهٔ ته ورشه او ورته اووایه آیا ستا دے طرف ته میلان شته چه ته د الله توحید او د هغهٔ دِین قبول کړی چه د ګناهونو نه پاک شی. دا اوله مرتبه ده مُراد دا دے چه د مُعجزے سبو دلو نه بغیرے او منی. وَاَهْدِیَكَ اِلٰی رَبِّكَ فَتَخْشٰی. زهٔ به تا ته ستا د پروردګار لاره اوښایم نو ستا په زړهٔ کښ به د خدای ویره پیدا شی. دا دوهمه مرتبے بل ځائے کښ هم ذکر شویدی. لکه چه ارشاد دے لَعَلَّهٗ یَتَذَكَّرُ اَوْ یَخْشٰی. (طٰهٰ ع ۲). اول د اعلیٰ مرتبے ذکر دے او وروستو د ادنیٰ مرتبه.

۹ فَاَرٰىهُ الْاٰیَةَ الْكُبْرٰی. مُراد ټول معجزات او آیتونه دی، موسیٰ علیه السّلام ټول معجزات هغهٔ ته اوښودل لیکن د هغے باوجودے د هغهٔ تکذیب اوکړو او د موسیٰ علیه السّلام نافرمانی ئے اوکړه. ثُمَّ اَدْبَرَ یَسْعٰی. د هدایت نه ئے اعراض اوکړو او په زمکه کښ ئے د شر فسا د خورولو کوشش کولو. د موسیٰ علیه السّلام له طرفه د دعوت او تبلیغ په مقابله کښ هغهٔ خپل رعیت جمع کړو او

هغوئ ته ئے إعلان اوکړو چه زهٔ ستاسو د ټولو لوئے ربّ یم ، حمٰا نه بل څوک لوئے نشته . ددے وجه نه تاسو د موسیٰ علیه السّلام خبرو طرف ته توجه مهٔ ورکوئ .
فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ منصوب دے په نزع د خافض سره . ای بنکال الاٰخرة . (قرطبی) .
الله تعالیٰ هغه د دُنیا اوْ د آخرت په سزا کښې اونیوهٔ دُنیا کښې ئے هغه غرقولو سره هلاک کړو اوْ په آخرت کښې به هغه جهنّم ته داخلولے شي ، دنیوی عذاب کښې خو بالفعل اونیول شو او د آخرت د عذاب فیصله ئے اوکړه . لکه چه بل ځائے کښې ارشاد دے . وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ادخلوا ال فرعون اشد العذاب (مؤمن ع ۵)
خله إِنَّ فِىْ ذٰلِكَ . دے کښې د هغه چا ئے نه ویریدونکو دپاره عبرت اوْ نصیحت دے ، څنګه چه فرعون تکذیب اوکړو اوْ په دُنیا کښې په عبرتناک عذاب کښې ګرفتار شو . د هغه شان به د اهل مکه حشر هم وی .
ــلــه ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ . دا د سورة په دعویٰ باندے یعنی حشر اوْ نشر باندے عقلی دلیل دے خطاب د مکے مُنکرینو سره دے د سمٰک معنی اوچتوالے دے د قیامت په ورځ د مړو دوباره ژوندے کولو سره ناممکن بیانونکو ، دا خو راته اووائه چه ستاسو دوباره پیدا کول زیات مشکل کار دے یا زمکه اوْ اسمان اوْ ټول کائنات پیدا کول ؟ . الله تعالیٰ اسمان پیدا کړو هغه ئے په یو خاص مقدار د زمکے نه بلند اوْ اوچت کړو اوْ هغه ئے برابر اوْ هموار او ګرځولو چه په هغے کښې هیڅ چاودې اوْ سبکته والے اوْ اوُچت والے نشته . وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا اوْ د هغه شپه ئے تیاره کړه کښې پټه کړه اوْ د هغه ورځ ئے رڼا اوْ ښکاره اوګرځوله د لَيْلَهَا اوْ ضُحٰهَا السّماء طرف ته اضافت د ادنیٰ ملابست په وجه دے .

وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴿۳۰﴾ اَخْرَجَ مِنْهَا

اوْ زمکه ئے ۱۲ ـ د هغې نه روستو صفا اوخوروله راویستلې ئے دې له هغې نه

مَآءَهَا وَمَرْعٰىهَا ﴿۳۱﴾ وَالْجِبَالَ اَرْسٰىهَا ﴿۳۲﴾

د هغې اوبه او واښه اوْ غرونه ئے اودرول ول

مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿۳۳﴾ فَاِذَا جَآءَتِ

دپاره د نفع ستاسو او دپاره د نفعې د څارپایانو ستاسو پس چه کله راشي هغه

الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿۳۴﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ

د لوئے مصیبت ورځ کومه ورځ چه یاد به کړی انسان

مَا سَعٰى ﴿۳۵﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ﴿۳۶﴾

څه چه هغه کړي وو او ښکاره کړے به کړے شي دوزخ هغه چا ته چه وینی يے

فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ﴿۳۷﴾ وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾

پس هر چا چه کړے وي سرکشي او غوره يے ګڼړلے وي ژوندون د دنیا

فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۳۹﴾ وَاَمَّا مَنْ

نو دوزخ دے دهغه د استوګنے ځاے او هغوک چه هغه

خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ

ویرېدلے وي د خپل رب مخکښ د اودرېدلو نه او منع کړے يے وي خپل نفس د

الْهَوٰى ﴿۴۰﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿۴۱﴾

خواهش نه پس جنت دے دهغه د استوګنے ځاے

يَسْــَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰهَا ﴿۴۲﴾

ستا نه خلق تپوس کوي هغه وخت به کله وي قائمېدل د هغے

فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰىهَا ﴿۴۳﴾ اِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا ﴿۴۴﴾

ستا څه کار دے د هغے د ذکر سره ستا رب طرف ته ده انتهاء د هغے (د علم) ف۱

اِنَّمَا اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰىهَا ﴿۴۵﴾ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ

ته خو ځانے ویرودونکے یے د هغے نه هغوک چه د هغے نه ویریږي دا سے به ګڼړي کوم ورځ

يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰىهَا ﴿۴۶﴾

چه هغه او وینی هغوي له چه دنیا کښ نه وو او سیدلی لیکن یو ماښام یا د هغے څاښت ف۳

نکات: ۱ تخویفِ اُخروی ۱۲ ۲ بشارت اُخروی ۱۲ ۳ شکوی ۱۲

موضحِ قرآن
ف۱ سورۂ فصلت یعنی سجده کښ ئے آسمان ته ئے روستو وئیلے دے او دلته ئے زمکے ته روستو نو دلته د آسمان جوړول دی او چت او شپه او ورځ مقرر کیدے شي چه دا د زمکے نه مخکښ وی هلته هغه او ده کرخول او تقسیمول، بیا په هر یو کښ ځان له دستور چلول ذکر کړل شاید چه دا به

د زمکے نه روستو وی ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ.

ف۲ له ډیرو تپوسونو سره هم دے ځائے ته رسیدلی دی چه د الله نه سوا نور ټول خلق ترے بے خبره دی ۱۲ منه. **ف۳** یعنی اوس خو قیامت ډیر نزدے راغلی، هغه وخت به ورته معلومه شی چه ډیر نزدے راغلی دے کښې خو هیڅ روستو والے هم اونه شو ۱۲.

فتح الرحمٰن

مترجم وائی د هوارو لو معنیٰ هم داده څنګه چه ئے فرمائیلے دی ۱۲.

تفسیر

۳۰ وَالْاَرْضَ. اؤ بیا د دینه علاوه الله تعالیٰ زمکه خوره کړه د اوبو چینے ئے ترینه روانے کړے اؤ دے کښې ئے هر قسم شینکی پیدا کړل، اؤ دے باندے ئے غرونه کیښودل، دا ټول څیزونه ئے ستاسو د پاره اؤ ستاسو د څارو و دفائدے د پاره دی. کلّ ذٰلك متاعًا لخلقه ولما یحتاجون الیه من الانعام التی یاکلونها ویرکبونها مدة احتیاجهم الیها الخ (ابن کثیرج ۴ ص ۴۶۹). کوم قادر اؤ طاقتور ذات چه دا ټول کائنات پیدا کړل، هغه ته ستاسو دوباره پیدا کول ګران نه دی.

وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا نه معلومیږی چه آسمانونه ئے مخکښې اؤ زمکه ئے د هغے نه روستو پیدا کړه حال دا دے چه معامله د دے په عکس ده لکه چه حٰمٓ السجدة (ع ۲) کښې دی خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ یَوْمَیْنِ ـــــ تا ـــــ ثُمَّ اسْتَوٰٓی اِلَی السَّمَآءِ وَهِیَ دُخَانٌ ..... الآیة. نو د دے جواب دا دے چه ۱. د سورة النّٰزعٰت آیت کښې بعد ذٰلك نه تعقیب ذکری مراد دے یعنی د هغے نه روستو دا هم واوری چه هغه زمکه هم خوره کړه. بعد په معنیٰ د مع دے. معناه الارض مع ذٰلك دحٰها (مظهری) حضرت ابن عباسؓ فرمائی الله تعالیٰ اول زمکه د هغے د قوات سره پیدا کړه لیکن هغه ئے خوره نه کړه دے نه روستو ئے په دوه ورځو کښې آسمانونه پیدا کړل، بیا د دے نه روستو ئے زمکه خوره کړه (ر ۳، مظهری) د دے باندے رازیؒ اعتراض کړیدے چه یو جسم پیدا کول د هغه خورول د دا په یو وخت کښې کیږی دا نه شی کیدلے چه هغه پیدا شوے وی اؤ خوره کړے شوے نه وی. امام الوسیؒ د دے جواب ورکړے دے چه د پیدا کولو نه د دے مخصوص ماده پیدا کول دی اؤ د خو نه د هغے موجود مخصوص شکل اؤ صورت کښې خورول مراد دے، څنګه چه اول ئے آسمان ماده د دخان په صورت کښې پیدا کړه بیائے د هغے نه اسمان پیدا کړو.

۳۴ فَاِذَا جَآءَتِ. دا تخویف اخروی دے. اَلطَّآمَّةُ الْکُبْرٰی. د ټولو نه لوئے مصیبت چه په هر څیز باندے غالب کیږی اؤ د کوم مقابله چه نشی کولے مراد دو یمه شپیلۍ ده چه د هغے نه روستو به قیامت قائم

شي . اى الداهية العظمى وهي النفخة الثانية التي يكون معها البعث قاله ابن عباسؓ...... المبرد : الطامة عند العرب الداهية التي لا تستطاع (قرطبي ج ۱۹ ص ۲۰۳).
کله چه قیامت قائم شي د عذورځ به هر انسان خپل نیک او بد اعمال یاد کړي او هر یو ته به خپل نیک او بد اعمال خیر او شر په سفیله ورياد شي.

۳۶ وَبُرِّزَتِ . کتونکو ته به جهنم ظاهر کړے شي او هر سړے به دهغې مشاهده کوي او دهغې لمبې به وینې. فَأَمَّا مَنْ طَغَىٰ . لیکن چا چه سرکشي او کړه او په کفر او عصیان کښې د حد نه تیر شه او دُنیا ته ئے په آخرت باندے ترجیح ورکړه دُنیا پسے د روستو نه روان شه لیکن ایمان او عمل صالح سره ئے د آخرت تیارے اونکړو نو د عذ د جهنم لمبې وهونکے اور به دهغه د اوسیدلو ځائے وي.

۴۰ وَأَمَّا مَنْ خَافَ . د ابشارت اُخروي دے لیکن کوم خلق چه د الله په دربار کښې د اودریدلو نه اویریدل او نفس ئے د خواهشات نه منع کړو د الله تعالی اطاعت او بندګی ئے اوکړه نو دهغه د اوسیدلو ځائے به جنت وي.

۴۲ يَسْأَلُونَكَ . د اشکوی ده مُرسٰی مصدر دے په معنی د ارسا یعنی اقامت. مشرکانو به د استهزاء په طور سوال کوؤ چه قیامت به کله وي او کله به الله تعالی هغه ظاهروي. یریدون متی یقیمها الله تعالی ویکونها الخ (روح) فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَاهَا . دا د مشرکانو د سوال رد او په هغې باندے انکار دے تاسو به په کوم بنیاد باندے دهغوئ په مخکښې د قیامت معین وخت بیان کړئ دهغه معین وخت خو تاسو ته هم معلومه نه دے دهغه علم خو صرف الله تعالی طرف ته راجع دے او دهغه ته رسیدلے دے او دهغه نه سوا هیچا ته علم نشته. نو بیا د اخلق ستا سو نه ولے سوال کوئ الیه عزوجل انتهاء علمها لیس لاحد منه شئ کائنا ما کان فلای شئ یسئلونک عنها (روح ج ۳۰ ص ۳۷) الى ربك منتهها اى منتهى علمها فلا یوجد عند غیره علم الساعة (قرطبی ج ۱۹ ص ۲۰۷)

۴۵ إِنَّمَا أَنتَ . دا د مشرکانو د سوال جواب دے. تاسو خو د قیامت د سختو او تکلیفونو نه ډیره ډولے ویریدونکو د پاره او خبرو ونکی ئے ستاسو فریضه صرف دا ده تا سو د قیامت معین وخت بیا نولو د پاره نه ئے راغلی دے وجه نه تا سو ته د دے علم هم نه دے درکړے شوے. لم تبعث لتعلمهم بوقت الساعة وانما بعثت لتنذر من اهوالها من یخاف شدائدها. (مدارک).

۴۶ كَأَنَّهُمْ . دا . يَظُنُّونَ مقدر د پاره مفعول دے او يَوْم ظرف د دغه مقدر فعل سره متعلق دے. اصل عبارت دا سے دے يَوْمَ يَرَوْنَهَا يَظُنُّونَ كَأَنَّهُمْ لَمْ يَلْبَثُوا الخ . او س خو قیامت نه منئ او د استهزاء په طور د هغه د معین وخت سوال کوئ نو چه کله قیامت اووینئ نو په دُنیا کښې د استوګنې وخت به

هغوئ ته ډیر مختصر په نظر راځي او هغوئ به داخیال کوي چه ګویا دُنیا کښ هغوئ صرف عَشِيَّةً (ماسپخین نه ترمابنامه) مقدار اوسیدلی دي یا د دیته هم کم یعنی صرف ضُحٰی (د نمر ختلو نه دوه نیزو مقدار پورې) زمانه اوسیدلی یو یعنی د قیامت د سختو او تکلیفونو په وجه به هغوئ ته د دُنیا د ژوند وخت ډیر کم معلومیږي. د راحت نه رو ستو مصیبت کښ د راحت وخت ډیرلږ معلومیږي. ضُحٰهَا ضمیر مجرور عَشِيَّةً طرف ته راجع دے، لیکن دے باندے اعتراض کیږي چه عَشِيَّةً د پاره خو ضُحٰی نه شي کیدلے نو د دے جواب داد ے چه دا اضافت دادنی ملابست په وجه سره دے او مُراد د عَشِيَّةً د ورځے ضُحٰی دے. قال الفراء والزجاج المراد باضافة الضحى الى العشية اضافتها الى يوم العشية اوضحى يومها (کبیر ج ۸ ص ۴۶۹) یا مُراد دا دے چه د عَشِيَّةً نه د ضُحٰی مقدار مُراد دے. (الشیخ رحمه الله).

سُورَةُ عَبَسَ

رَبط سورة نازعات کښ د تخویف اُخروی نه نو نه ذکر کړے شوه او په سورة عَبَسَ کښ تخویف اُخروی علی سبیل الترقی ذکر کړے شو. يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ۝ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ۝ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ۝ یعنی کافران او مشرکان خو به په عذاب کښ وي لیکن هغه ورځ به دومره سخته او ویره ونکي وي چه هر یو به نَفْسِي نَفْسِي وائي او د بل نه به تختي.

خلاصه

د مضمون په اعتبار سره د سورت درے حصے دي. اوله حصه عَبَسَ وَتَوَلّٰی ـــــ تا ـــــ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ۝ تنبیه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د پاره او د قرآن کریم د عظمت بیان. دویمه حصه: قُتِلَ الْإِنسَانُ مَا أَكْفَرَهُ ـــــ تا ـــــ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَا أَمَرَهُ ۝ زجر مشرکانو د پاره: کافر انسان څومره ناشکر او احسان هیرونکے دے چه د الله تعالیٰ د دومره ډیرو نعمتونو باوجود هم په کفر او نافرماني باندے ټینګ ولاړ دے. دریمه حصه: فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ إِلَىٰ طَعَامِهِ ـــــ تا ـــــ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ۝ دلیل عقلي د قیامت د ثبوت د پاره. لږ شان غور وکړئ چه ستاسو او ستاسو د څاروو د پاره دا مختلف قسم د خوراک او څښاک شیزونه څنګه پیدا کړي دي؟ څوک چه دا ټول هر څه

کولے شي هغه ستاسو دوباره پیدا کولو باندے هم قادر دے. فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ تا لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ۞ تخویف أخروی. دَ قیامت ورځ به دومره زیاته هیبتناکه او ویره وونکي وي چه څوک به هم دَ چا خبر نه اخلي، هر سړے به دَ نفسي نفسي په عالم کښ وي، دَ خپل ډیر نزدے رشته دارانو نه به هم لرے تختي. وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ۝ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ. بشارتِ أخروي دے، دَ قیامت په ورځ به نیکان او مؤمنان تروتازه او خوشحال وي. وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ تا آخر. دا تخویف أخروي دے، کافران او مشرکان به دَغه ورځ خوار او ذلیل او رسوا وي.

سُورَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَانِ وَأَرْبَعُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعٌ وَاحِدٌ

سُورة عبس لے مکه کښ نازل شوے ده، ایتونه دوه څلویښت رکوع یوه ده په دے

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع دَ الله په نوم چه ډیر بخښونکے او ډیر مهربان دے.

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰ ۝١ أَن جَاءَهُ الْأَعْمَىٰ ۝٢ وَمَا

تندے ئے تریو کړو او مخ ئے واړوو. دَ دے خبرے چه راغلے هغه ته ړوند (۲) او

يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّىٰ ۝٣ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ

تا ته څه خبر دے ښائي چه هغه به پاک شي یا به پند او نصیحت واخلي - نو پکار به راشي دَ هغه

الذِّكْرَىٰ ۝٤ أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَىٰ ۝٥ فَأَنتَ لَهُ

پوهول هغه څوک چه پرواه نه کوي نو ته دَ هغه

تَصَدَّىٰ ۝٦ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَن

په فکر کښ ئے او په تا هیڅ ملامتیا نشته چه هغه نه صحیح کیږي. او هغه

جَاءَكَ يَسْعَىٰ ۝٨ وَهُوَ يَخْشَىٰ ۝٩ فَأَنتَ عَنْهُ

راغلے تا ته په تلوار او هغه ویریږي نو ته دَ هغه نه

تَلَهَّىٰ ۝١٠ كَلَّا إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝١١ فَمَن شَاءَ

مخ کړځوے وړله دا سے نه ده پکار قرآن خو نصیحت دے پس څوک چه غواړي

ذَكَرَهٗ ﴿١٢﴾ فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوْعَةٍ

دا دے اولولی لیکلے شوے دے د عزت په پاڼو کښې ف۳ اوچتے کیښودل شویدی

مُّطَهَّرَةٍ ﴿١٤﴾ بِاَيْدِيْ سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾

ډیرے زیاتے پاکے دی ف۴ په لاسونو د لیکونکو (ملائکو) ف۳ چه ډیرے لوئے درجے او نیک دی ف

قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ﴿١٧﴾ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ

هلاک دِ شی څه انسان څومره ناشکره دے د څه شی نه مونږ هغه

خَلَقَهٗ ﴿١٨﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿١٩﴾

پیدا کړو د یو څاڅکی نه هغه ئے پیدا کړو بیائے په اندازه کړو هغه لره ف۶

ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ﴿٢١﴾

بیائے لاره آسانه کړه هغه ته بیائے هغه مړ کړه بیائے په قبر کښې کیښود هغه

ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ﴿٢٢﴾

بیا چه او غواړی نو ژوندے به کړی هغه لره ۔

نکات ۱۔ تنبیه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره ۱۲۔ ۲۔ زجر مشرکانو د پاره ۔

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائی یو نابینا فقیر د صحابو نه د نبی علیه السلام په مجلس کښې حاضر شو او نبی علیه السلام نه ئے بیا بیا سوالونه کول چه هغے سره نبی علیه السلام خفه او پریشانه شو، د هغه وخت نبی علیه السلام د عربو اشراف سره مشغول وو، نو نبی علیه السلام د هغه خبرو ته اونه کتل او مخ ئے واړولو، الله تعالی د اعلیٰ او اوچت خویو رهنمائی او فرمائیله ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ نبی علیه السلام یو کافر پوهولو، د دے کښې یو مسلمان نابینا راغلے هغه خپل ځان طرف ته مشغولول شروع کړل چه هغه آیت څنګه دے د هغه معنی څه ده؟ نبی علیه السلام باندے هغه سخته اولګیده خفه شو۔ دا آیتونه ئے نازل کړل یعنی دا کلام ګویا که د نورو په مخکښې کیږله ده د رسول نه مخکښې د غائب صیغه ذکر کړے ده۔ مخکښې (آئنده آیت کښې) ئے رسول مخاطب کړے دے۔ ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ!

ف۲ هغه ویرېږی د الله تعالیٰ نه یا ویرېږی چه ستا ملاقات به بیا مومی یا نه

جلد

۱۲ منه رحمه الله تعالی ۱۲ **ف۳** د قرآن آیتونه ۱۲ **ف۴** یعنی هغه پانړی ۱۲ -

ف۵ یعنی فرښتے هغه لیکی د هغے موافق وحی نازلیږی ۱۲ -

ف۶ یعنی لاسونه ئے په انداز او اسلوب جوړ کړل نه یو ډیر لوئے او نه یو ډیر وړوکے ۱۲ منه رحمه الله تعالی - **ف۷** یعنی ایمان او کفر پوهه ئے ورکړه. یا ئے د خپلے نه په آسانئ سره راووییستلو ۱۲ منه رحمه الله -

تفسیر **۲** عَبَسَ وَتَوَلّٰی - تنبیه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پاره - یو ځل نبی علیه السلام سره د قریش سرداران عُتبه، شیبه، ابوجهل، اُمیه، او ولید وغیره ناست وو نبی علیه السلام هغوئ ته پوهول او د اسلام دعوت ئے ورکولو، د هغوئ امید وو چه که چرے دا خلق اسلام راوړی نو ددوئ په وجه به ډیر خلق په اسلام کښ داخل شی. د غه وخت حضرت عبدالله یا عمرو بن ام مکتوم رض چه یو ړوند صحابی وو او د حضرت خدیجه رض د ماما ځوئے وو، د نبی علیه السلام په خدمت کښ حاضر شو، هغه چونکه ړوند وو ، د دے وجه نه ئے د هغوئ د ډیر داهم مصروفیت اندازه او نکړے شوه او نبی علیه السلام نه ئے بیا بیا د قرآن لوستلو مطالبه کوله نبی علیه السلام د هغه طرف ته څهٔ توجه او نکړه بلکه د هغه د غه حرکت ئے ناخوښه اوګڼړو او د مخ نه ئے یو مخصوص کیفیت سره د ناخوښئ اظهار اوکړو او د هغه له طرف نه ئے مخ واړولو لیکن الله تعالی دا خبره خوښه نه کړه او هغوئ ته ئے تنبیه ورکړه. غائب ضمیرونه د نبی علیه السلام نه کنایه دی - مخ ئے تریو کړو او مخ ئے اوګرځولو. د دے وجه نه چه هغه ته یو ړوند راغلے - د غه نابینا نه د مخ اړولو کښ هم د الله د رضا جذبه مضمر او پټه وه د اعراض دا کیرا او نفرت په وجه نه وو هغوئ دا خیال اوکړو چه دا نابینا خو مخلص مؤمن دے او هغه ته خو لږ شان تاخیر سره روستو هم خود لے سخی او بیان کولے شی - لیکن د قریش سردارانو ته شاید چه د غه شان د پوهولو موقع بیا په لاس را نشی د غه شان که چرے هغوئ پوهه شول نو د هغوئ په وجه به په زرګونو خلق مسلمانان شی -

۳ وَمَا یُدۡرِیۡكَ - تا سو ته څهٔ معلومه ده شاید هغه نابینا قرآن اوریدلو سره پاک کرخیدهٔ یا نصیحت اوریدلو سره ئے په هغے کښ غور او فکر کولو او په دے طریقه ئے د هغے نه فائده اخستله - یَزَّکّٰی کښ د قبول اعلی درجه ذکر ده یعنی د اوریدلو سره د هغے نه متاثر کیدلو سره د ګناهونو نه پاک کرځیدلو دے کښ دادنی مرتبے ذکر دے. د غور او فکر نه روستو به په هغے پوهیدلے،

۴ اَمَّا مَنِ اسۡتَغۡنٰی - څوک چه د ایمان نه او ستاسو د دعوت او تبلیغ نه مستغنی او بے پرواه دے، تاسو هغه پسے لګیدلی ئے او غور سره د هغه خبرے اوری که چرے هغه ایمان رانه وړی او د کفر شرک نه پاک نه شی نو دے سره په

تاسو باندے هیڅ گناه نشته څکه چه ستاسو کار خو دل دی، او زړول او پوهول دی منل په خلقو. دا کار ستاسو نه دے. دے نه مُراد د قریش سرداران دی چه د نبی علیه السلام په دعوت او تبلیغ کښ به ئے حقیقی دلچسپی نه اخستله. وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ. لیکن چه کوم سړے یعنی ابن ام مکتوم ډیر په شوق سره په تلوار او تیزئ سره تاته راغی او هغه د خدائے نه ویریږی هم د هدایت تمنا او د حق لاړے طلب کوونکے هم دے تاسو د هغه نه اعراض کوئی او هغه سره د غفلت معامله کوئی.

ش۵ كَلَّآ حرف ردع دے. دا سے خو نه وه پکار، دا په معنی د حقا دے او ما بعد سره متعلق دے یعنی یقیناً دا قرآنی آیتونه هر یو د پاره عبرت او نصیحت دے، هر څوک چه غواړی دا دے لولی او ری دے او د دے نه دے نصیحت حاصل کړی. فِیْ صُحُفٍ. دے نه مُراد هغه صحیفے او تختئ دی په کوم چه فرښتے د لوح محفوظ نه کلام الله نقل کوی، هغه صحیفے د الله تعالی په نزد قابل د عزت دی. په قدر او مرتبه کښ ډیرے اوچتے او پاکیزه دی چه د فرښتو نه سوا د هیچا لاس د هغے سره نه لگی، هغه صحیفے د داسے فرښتو په لاسو نو کښ دی چه د الله تعالی په نزد عزتمندے دی او گناهونو نه پاکے دی او د الله تعالی ډیرے زیاتے حکم منونکے دی. د اکثر مفسرینو په نزد باندے د سَفَرَةٍ نه فرښتے مُراد دی. د ځینو مفسرینو په نزد د سَفَرَةٍ نه صحابهٔ کرام رضی الله عنهم مُراد دی چه د قرآن آیتونه به ئے په صحیفو او تختو باندے لیکل. حضرت علامه شبیر احمد عثمانی د فوائد نه معلومیږی چه د سَفَرَةٍ نه فرښتے او کاتبان صحابه رضی الله عنهم دواړه مُراد دی.

ف۶ قُتِلَ الْاِنْسَانُ. دا زجر دے. اَلْاِنْسَانُ نه کافر انسان مُراد دے او دا هغه ته بد دعا او خیرے دی. قُتِلَ ای لُعِنَ. د خدائے د رحمت نه دِ لرے شی. دا د تبو لو نه لوئے خیرے دی. مَآ اَكْفَرَهٗ. فعل تعجب دے یا استفهام دے توبیخ د پاره د ایمان او تسلیم د دومره ډیر زیات اسباب او دواعی با وجود د هغه کفر ډیر زیات قابل د تعجب دے. دعاء علیه باشنع الدعوات و تعجب من افراطه فی الکفر بعد هجوم الدواعی علی التشکر والایمان (مظهری ج ۱۰ ص ۲۰۰) استفهام توبیخ ای ای شیء حمله علی الکفر او هو تعجب ای ما اشد کفره. (مدارک)

ف۷ مِنْ اَیِّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ. استفهام په معنی د تقدیر دے او د اَیِّ شَیْءٍ نه مُراد بیان تحقیر دے یعنی د ډیر زیات حقیر څیز نه الله تعالی هغه پیدا کړو مِنْ نُّطْفَةٍ. دا د حقیر څیز بیان دے. د نطفے نه ئے هغه د مور په رحم کښ پیدا کړو او د هغه د مرگ نیټه، د هغه عمل، د هغه رزق او د هغه نیک بختیا

اؤ بیا یعنی فیصلے اوکړه ' بیا دهغهٔ دعمل آیا مرتیرېدلو نه روستوئے دمور
دَرحم نه دَهغهٔ دَبهر راویستلو لاره اَسانه کړه بیائے هغهٔ ته مرګ ورکړو اؤ قبر
تهٔ ئے کوزکړو' بیا چه کله هغه اوغواړی نو هغه به دوباره ژوندے کړی. کَلَّا په معنی
دحقًا دے یعنی دا خبره یقینی ده چه کافر انسان دالله تعالیٰ داحکامو تعمیل اؤ نکړو
حال دا دے چه دهغهٔ فرض وو چه دالله تعالیٰ دَلویو انعاماتو پیش نظر هغهٔ به
دے ایمان راوړلے اؤ ټول اوامر اؤ نواهی باندے ئے عمل کولے. فَاَقْبَرَهٗ
دغالب امر په بنا باندے ارشاد اوفرمائیلو شوے چه دمړو غالب اکثریت په
قبرو نو کښ خخولے شی. ددے وجه نه ددے آیت نه دقبر دپاره دَکښتلو
فرضیت ثابتول صحیح نهٔ دے.

كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ

هرګز نه دے پوره کړے کوم حکم ئے چه هغهٔ ته کړے ؤ. اوس دې اوګوری دے انسان

اِلٰى طَعَامِهٖٓ ﴿٢٤﴾ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ

خپل خوراک ته. چه موږ را توی کړے اوبهٔ دیاسه راښکته توئی. بیا

شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾

موږ زمکه څیرے کړه څیرے کولو سره. بیا راازرغون کړل موږ په هغے کښ دانے

وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَّحَدَآئِقَ

اؤ انګور اؤ ترکاری. اؤ زیتون (خونه) اؤ کجورے. اؤ ګڼر باغونه

غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَ

اؤ میوے اؤ وابنه. دپاره دکار چلولو ستاسو اؤ

لِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٢﴾ فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾

ستاسو د څارو. پس چه کله راشی هغه آواز غوږونه کڼروونکے ؤ

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ﴿٣٤﴾ وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ﴿٣٥﴾

کومه ورځ چه تښتی به سړی دخپل رورنه اؤ دخپل مور اؤ خپل پلار نه

وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ

او د ښځې ملګرې (بنځې) نه او د خپلو ځامنو نه هر یو سړه به د هغوی نه په

يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ

دغه ورځ یو فکروی چه هغه د باره کافی دے ډیر مخونه به په دغه ورځ

مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ

روښانه خندیدونکی او خوشحالی کوونکی وی او ډیر مخونه

يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾

به په دغه ورځ په هغې باندے به ګرد ونه پراته وی پټ کړی بوی هغه تور والی

أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

دا هغه خلق دی څوک چه منکر او بد عمله دی۔

نکات سے ۱ قیامت باندے دلیل عقلی ۱۲ ۔ سے ۲ تخویف اخروی ۱۲ ۔
سے ۳ بشارت اخروی ۱۲ ۔ سے ۴ تخویف اخروی ۱۲

موضح قرآن ف یعنی دا سے سخت چه هغے سره به د خلقو غوږونه کاڼه شی۔ دا مراد دے د صور نه ۱۲ ۔

تفسیر ۸ فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ ۔ دا د قیامت په ثبوت باندے عقلی دلیل دے۔ قَضْبًا۔ ترکاریانے ۔ غُلْبًا ګوراو ګڼ۔ أَبًّا واښه انسان له پکار دی چه هغه د خپل خوراک څښاک څیزونو ته او ګوری چه موږ هغه څنګه پیدا کړیدی ، موږ د اسمان نه باران او ورولو بیا مو زمکه څیری کړه او په هغے کښ مو ږغلے ، انګور، ترکاریانے ، زیتون ، کجورے هر قسم ګڼ باغونه میوه جات او واښه پیدا کړل دا ټول څیزونه ستاسو او ستاسو د څاروو د پاره د ژوند سامان دے ۔ دا ټول انعامات چا درکړے دی لږ غور او فکر او کړئ او او وینائی څوک چه مړه زمکه ژوندئ کړی هغه مړی دوباره نشی ژوندی کولے ضرور ئے کولے شی او کوی به۔ او کله چه هغه مړی دوباره ژوندی کړی دغه ورځ چه د خلقو کوم حال وی د هغے کیفیت هم واورئ۔

۹ فَإِذَا جَاءَتِ ۔ دا تخویف اخروی دے او دے کښ د سورة دعوی ذکر شویده علی سبیل الترقی ۔ دلته د قیامت د سختو او د ویرے نقشه راښکلے شویده هر سړی سره به د خپل ځان فکروی تر دے چه سړے به د خپل ورور

خپل پلار او د خپل ښځې بچو نه هم لرې تښتی او څوک به د چا په هیڅ کار نه راځی هر سړے سره به د خپل ځان فکروی او هغه به د خپل ځان په فکر کښې د نورو نه بالکل بے خبره او غافل وی.

ظ ۸ وُجُوهٌ يَّوْمَئِذٍ. دا بشارت اُخروی ده. سفرة مضيئة. روښانه رڼا کوونکی، د قیامت په ورځ به ځنې مخونه روښانه وی او د خوشحالئ نه به پرا نستے او فراخه وی. دا د مؤمنانو روښانه مخونه دی. وَوُجُوهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ. دا تخویف اُخروی ده. غَبَرَةٌ گرد خفگان او مراوی والے نور والے ذلت او رُسوائی او ځنی مخونه به داسے وی چه په هغې به نا اُمیدی خوره شوے وی او مراوے به وی او ذلت او رُسوائی سره به تور شوے وی. دا به څوک وی؟ دا به کافران او فاجران وی چا چه په دُنیا کښې د اسلام دعوت نه دے منلے او د خدائے د احکامو نه ئے بغاوت او کړو. غَبَرَةٌ. غبار و دُخان .... قترة ذلة وشدة (قرطبی) وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

سورة التکویر

ربط سورة عبس کښې بیان کړے شوے وو چه د قیامت ورځ به دومره ویرونکی وی چه هر انسان به د خپل خپلوانو او دوستانو نه هم ډیر لرے تښتی او هر انسان به په خپل حال کښې مشغول وی. اوس دلته ئے په طور د ترقئ او فرمائیل د قیامت په ورځ به د حساب کتاب نه وروستو تاسو نیغ په نیغ خپلو ځایونو ته ځئ او همیشه د پاره به په هغې کښې اوسیږئ.

خلاصه

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ـــــ تا ـــــ وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ. تخویف اُخروی، د قیامت د احوال مجمل خلاصه. دولس حالات. شپږ دُنیا وی او شپږ اُخروی. فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ـــــ تا ـــــ وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ. تخویف اُخروی په طور د ترقئ او د قیامت په احوال باندے شواهد د قسم جواب محذوف دے. إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ـــــ تا ـــــ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَّجِيمٍ. تمهید د پاره د راتلونکی زجر او اشاره دلیل وحی ته. دا عظیم الشان قرآن پاک معزز، طاقتور او د خدائے سره ډیر نیات نزدے او امین فرشتے راوړے دے. دا کوم شیطانی کلام نه دے. نه دا

محمد صلی الله علیه وسلم (عیاذاً بالله) لیونے دے. فَاَيْنَ تَذْهَبُوْنَ
تا ـــــ آخر. زجر کا فرانو د پاره دداسے عظیم الشان کتاب په موجودګئ کښ
تاسو د هغه نه هدایت ولے نه حاصلوئ او څیر ته ځئ. دا قرآن کریم د خلقو
د پاره نصیحت دے شوک چه غواړی د قرآن کریم په هدایت دِ عمل او کړی
او سمه برابر لاره دِ اختیار کړی.

سُوْرَةُ التَّكْوِيْرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

لے سورة التکویر په مکه کښ نازل شوے ده ایتونه یو کم دیرش او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝۱ وَاِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ ۝۲
کله چه د نمر رڼا راټغښتلے شی او کله چه ستورے خخړ شی

وَاِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۝۳ وَاِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ۝۴
او کله چه غرونه روان کړے شی او کله چه بلاربی اوښې خوشی کړے شی

وَاِذَا الْوُحُوْشُ حُشِرَتْ ۝۵ وَاِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ۝۶
او کله چه د ځنګل ځناور راټول کړے شی او کله چه دریابونه ډک کړے شی

وَاِذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ ۝۷ وَاِذَا الْمَوْءٗدَةُ
او کله چه نفسونه جوړه کړے شی او کله چه ژوندۍ (ښخ کړے شوے لور)

سُئِلَتْ ۝۸ بِاَيِّ ذَنْۢبٍ قُتِلَتْ ۝۹ وَاِذَا الصُّحُفُ
نه تپوس او کړے شی چه په کوم ګناه باندے هغه وژلے شوے وه او کله چه اعمال نامے

نُشِرَتْ ۝۱۰ وَاِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتْ ۝۱۱ وَاِذَا الْجَحِيْمُ
پرانستلے شی (خورے کړیشی) او کله چه د آسمان پوستکے او دیستلے شی او کله چه دوزخ

سُعِّرَتْ ۝۱۲ وَاِذَا الْجَنَّةُ اُزْلِفَتْ ۝۱۳ عَلِمَتْ نَفْسٌ
(ګرم) لمبې کړے شی او کله چه جنت نزدے کړے شی پوهه به شی هر یو نفس

مَآ اَحۡضَرَتۡ ﴿۱۴﴾ فَلَآ اُقۡسِمُ بِالۡخُنَّسِ ﴿۱۵﴾

څه یې چه راوړل۔ پس قسم کوم زه په روستوګرځیدونکو ستورو

الۡجَوَارِ الۡکُنَّسِ ﴿۱۶﴾ وَالَّيۡلِ اِذَا عَسۡعَسَ ﴿۱۷﴾

سره تلونکو پټیدونکو. او په شپه کله چه خوره کړے شي

وَالصُّبۡحِ اِذَا تَنَفَّسَ ﴿۱۸﴾ اِنَّهٗ لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ

او په صبا کله چه ساه واخلي (راوخیژي) بیشکه هغه دا وینا دا دیو لیږلي شوي

کَرِيۡمٍ ﴿۱۹﴾

عزتمن۔

نکات ۱ تخویف اُخروی دولس اَحوال دقیامت ۱۲۔ ۳ تخویف اخروی په طور د ترقی ۱۲۔ تمهید د زجر د پاره او اشاره دلیل وحي طرف

موضح قرآن ف۱ حدیث کښ راغلي دي چه څوک غواړي چه قیامت هغه په سترګو اووینئ نو هغه دے سورة (کورت) اولولي

او حدیث کښ داهم راغلي دي چه حضرت صدیق نبی علیه السلام ته عرض اوکړو چه ستاسو طبیعت د قوت نه داسے نه معلومیږي چه ستاسو دے عمر کښ چه شپیته کلونو ته نزدے دے دومره کمزوري او ضعف ته تاسو رسیږي په خلاف د هغے چه اوس تاسو ته کوم ظاهره شوه. حضور راوفرمایل چه دے پنځو (۵) سورتونو زه کمزورے کړم. سورة هود، سورة واقعه، سورة مرسلت، سورة عَمَّ یَتَسَآءَلُوۡنَ، سُورة کورت. ځکه چه دے سورتونو کښ د الله تعالی دعذابَ حال دے چه په دُنیا او آخرت کښ د پیغمبرانو نه دمخالفت په وجه په خلقو تیر شوے دے او تیریږي به د هغے ذکر شویدے او د هغے اوریدلو سره د خپل اُمت غم په ما باندے غالبه کوي او د غم خلاصه دا ده چه انسان بوډا کوي. تفسیر فتح العزیز نه نقل شویدي ۱۲۔

ف۲ لنکون ته نزدے او بنه ډیره قیمتي او محبوبه دي د بچي او د پیوامید لرلو په وجه سره ۱۲ منه رحمه الله۔

ف۳ دا اوبو دریاب به لوګے او اور او ګرځي چه د هغے په وجه به هوا ډیره

گرځي شي د محشر بے ایمان خلقو ته به تکلیف رسوي او د تنور په شان به دسیند ونو نه لمبې پورته کیږي۔ ف یعني قسم قسم گنهگاران به یو ځائے وي ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ۔ ف۵ او ه ستورې په آسمان کښې چه اختیارًا رفتار سره چلیږي په هغې کښې پنځه چه د نمر سپوږمۍ نه سوا دي زحل، مشتري، مریخ زهره، عطارد، د هغوی رفتار په داسے طریقه دے چه کله د مغرب نه مشرق ته ځي داسے یعنې لاره شوه، کله کله پاتے شي واپس راوګرځي کله د نمر خوا ته راشي، کله د سپوږمۍ بیا هغو ورځے پټیږي۔ ۱۲ منه رحمه الله۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعني سورشي لکه د هغه ښاروي چه د هغه نه پوښکے او وېستلے شي۔

ف۲ مترجم وائي چه زحل، مشتري او مریخ او زهره او عطارد پنځه ستوري متحیر دي کله چه مزل کولو سره یو مقام ته اورسیږي هغے نه بیا واپس راوګرځي، او کوم ځائے ته چه دے فیصله کړي وي هغے طرف ته متوجه شي او کله چه وخت د سوزولو راشي نو غائب شي۔ والله اعلم۔

تفسیر ۱ اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ۔ تخویف اُخروي۔ دلته د ولس[۱۳] احوال ذکر شویدي اولني شپږ حالات به د قیامت نه مخکښې ظاهر یږي او روستني شپږ به د قیامت د قائمیدلو نه روستو کله چه نمر او نغښتلے شي، یعني نمر بے نوره شي او تپوسے تپوسے شي په زمکه را پریوزي۔ وَاِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ۔ او کله چه غرونه د زمکے نه او یستلے شي۔ زرے د هغے په هوا کښې والوزولے شي۔ وَاِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ۔ عِشار د عشرة جمع ده هغه اوښه چه د هغې په حمل لس میاشتے تیرے شوے وي نو د ویرے سختے ویرے نه به د داقیمتي اوښې هم د ما لکانو نه هیرے شي او هغه به د شپونکو نه بغیر پریښودلے شي۔ وَاِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ۔ وحشي او ځنګلي ځناور چه همیشه د آبادۍ او انسانانو نه لرے تختي او په ځنګلونو کښې اوسیږي د قیامت د ویرے نه به د آبادۍ طرف ته مخه اوکړي او د کورونو ځناورو او د انسانانو سره به یوځائے شي لکه چه مشاهده ده چه د ویرے په وخت ښاروي انسانانو طرف ته راځي او جمع کیږي دے آیت نه د قیامت په ورځ د ځناورو او حیوانانو جمع کیدل مراد نه دي ځکه چه د ځناورو حشر د هغوئ مرګ دے۔ د حضرت ابن عباسؓ، عکرمه بربريؒ ضحاك بن مزاحمؒ، امام غزاليؒ او د امام آلوسيؒ هم دا مسلک دے۔ عن ابن عباسؓ في قول الله (واذا الوحوش حشرت) قال البهائم موتها وحشر كل شيء الموت غير الجن والانس فانهما يوقفان يوم القيامة (ابن جرير ج ۳۰ ص ۶۷، ابن کثیر ج ۴ ص ۴۷۶، معالم وخازن ج ۷ ص ۲۱۲، جامع البیان ص ۵۰۴، مدارك ج ۴ ص ۲۶۶) عن ضحاك واذا الوحوش حشرت قال حشرها موتها (الدر المنثور ج ۶ ص ۳۱۸)۔

وقال عکرمة حشرها موتها (ابن کثیر ج ۴ ص ۴۷۶). قال حجة الاسلام الغزالی وجماعة انه لا یحشر غیر الثقلین لعدم کونه مکلفا ولا اهلا للکرامة بوجه (روح ج ۳۰ ص ۵۲). باقی پاتې شو هغه حدیث صحیح کوم کښې چه راغلي چه د قیامت په ورځ به حیوانات جمع کولے شي او ښکرو والا حیوان به د ښکرو والا نه بدله اخلي. نو د هغې باره کښې علامه الوسيؒ فرمائي چه دا احادیث د دے ایت د تفسیر په طور نه دي وارد شوي او ممکن ده چه هغه د عدل تام (پوره عدل) نه کنایه وي دے دوجه نه د احادیث هم دے مفهوم کښې نص نه دے. ولیس فی هذا الباب نص من کتاب او سُنة معول علیها یدل علی حشر غیرهما من الوحوش وخبر مُسلم والترمذی وان کان صحیحا لکنه لم یخرج مخرج التفسیر للآیة ویجوز ان یکون کنایة عن العدل التام والی هذا القول امیل الخ (روح ج ۳۰ ص ۵۶).

حضرت ابی بن کعبؓ فرمائي وفزعت الجن الی الانس، والانس الی الجن واختلطت الدواب والطیر والوحوش ماجوا بعضهم فی بعض (ابن جریر ج ۳۰ ص ۶۳). حضرت علامه شبیر احمد عثمانیؒ فرمائي یعني د ځنګل ښامارو چه د انسان سوري نه تختي هغه به پریشان او حرکت کښې شي ښار ته به داخل شي او د کورونو ښاروو سره به یو ځائے شي لکه چه اکثر د ویرے په وخت لیدل شوي دي.

وَاِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ. او کله چه دریاب د اوبو نه ډک شي د قیامت د زلزلے د وجه نه به په سمندر کښې داسے جوش راشي چه ټول دریا بونه به د اوبو ډک شي بلکه او چه به هم د اوبو نه لاندے شي، تر دے ځائے پورے هغه شپږ احوال ذکر کړے شول کوم چه به د اول شپیلۍ نه روستو ظاهر یږي. وَاِذَا النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ. او کله چه رُوحونه د بدنونو سره یو ځائے کړے شي او ټول مري ژوندي شي. دا د دويمے شپیلۍ نه روستو حالات نه اولنے حال دے. وَاِذَا الْمَوْءٗدَةُ سُئِلَتْ. او کله چه د جونړۍ خفے کړے شوے جینۍ باره کښې د ژوندۍ ښخولو نه تپوس اوشي چه هغه په کوم جُرم کښې قتل شوه. وَاِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ او کله چه عمل نامے د حساب کتاب د پاره پرانستل شي یا د مؤمنانو او کافرانو مینځ کښې د هغوي اعمالنامے تقسیم کړے شي. وَاِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتْ. او کله چه اسمان او ویستلے شي. وَاِذَا الْجَحِيْمُ سُعِّرَتْ. او کله چه جهنم ګرم لمبې کړے شي ۲. وَاِذَا الْجَنَّةُ اُزْلِفَتْ. او کله چه جنت نزدے کړے شي. عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ اَحْضَرَتْ. دا د ټولو قسمونو جواب دے، کله چه پورتني ذکر شوي کارونه ظاهر شي یعني قیامت قائم شي د هغه وخت به هر سړي ته خپل د خیر اعمال او د شر اعمال معلوم شي کوم چه هغه په دُنیا کښې کړي دي.

فَلَآ اُقْسِمُ. دا تخویف اُخروي دے. د سورة عَبَسَ په مقابله کښې د ترقي په طور راغلے دے او د شپے او ورځے احوال سره د قیامت په ورځ د خلقو

مختلف احوال باندے شواهد پیش کړے شوے دی..... الخنس دخانس او خالسة جمع ده نیغ تللو نه پس بیا واپس راتلونکی. الجوار، دجاریة جمع ده. تیزی سره روان. الکنس. دکانس او کانسة جمع ده یعنی د ژړا بنکاره کولو نه روستو ډیلو شو دلاندے راتللو سره پټیدونکی. عسعس ای ادبر کله چه شپه خپلے تیارے سره شا کړځوی. تنفس ای اسفر. کله چه د صبا رڼړا بنکاره کیږی. خلکه چه خمسه متحیره (پنځه حیرانیدونکی) زحل، مشتری، مریخ، زهره، او عطارد دسفر په شروع کښ برابر نیغ روان وی بیا په شا واپس خپل مقام ته رسیږی دغه شان به تاسو هم دډنیا د ژوند سفر ختم کړئ بیا به واپس په خپو لا رشئ کوم ځائے نه چه راغلی ئے واپس به هلته اورسیږئ. الجوار. تیزی سره نیغ تلونکی. دغه شان به تاسو هم خپلو ځایونو ته نیغ برابر ځئ او څنګه چه ستوری د رڼړا بنکاره کولو نه روستو پټیږی دغه شان به تاسو هم په ډنیا کښ د ژوند تیرولو نه روستو مړه شئ. او څنګه چه شپه ځی او هغه وخت مختلف حالات پیدا کیږی او صبا کیږی او مختلف حالات راځی. دغه شان به تاسو هم دمختلف احوال نه تیریږئ. د قسم جواب محذوف دے. لترکبن طبقا عن طبق..... (انشقاق).

ف إِنَّهُ لَقَوْلُ. دا زجر دپاره د تمهید دے او د دلیل وحی طرف ته اشاره ده یعنی عقلی نمونه خو تاسو واورید له اوس داهم واورئ چه هغه هغه وایم دخپل طرف او دګان نه نه وایم او وحی هغه فرښته راوړی کوم چه دلوئ قوت مالکه ده او دعرش والا بادشاه سره د ډیر عزت او لوئے مرتبے والا او امانتداره ده هغه دا وو آسمانونو فرښتو کښ حاکم مطاع ده، ټولے فرښتے د هغه د احکامو تعمیل کوی، مراد جبرئیل علیه السلام دے.

ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ مُطَاعٍ

قوة والا د عرش مالک سره درجه مونده ونکے د ټولو منلے شوے

ثَمَّ أَمِينٍ ⑳ وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُونٍ ㉒ وَ

هلته امانتدار دے وګ. او دا ستاسو ملګرے څه لیونے نه دے او

لَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ㉓ وَمَا هُوَ عَلَى

هغه لیدلے ده هغه فرښته د آسمان په روښانه غاړه کښ او هغه د غیب خبرو کښ

الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ㉔ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ ㉕

بنودلو کښ بخیل نه دے او دا ویلے شوے (خبره) نه ده د شیطان رټلے شوی

فَاَیْنَ تَذْهَبُوْنَ ﴿۲۶﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۷﴾

پس تاسو کوم طرف ته ځئ. دا خو یو نصیحت دے د ټول جهان د پاره

لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ یَّسْتَقِیْمَ ﴿۲۸﴾ وَمَا

څوک چه غواړی ستاسو نه چه سم برابر لاړ شی او تاسو ئے

تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۹﴾

په هغه او غواړئ کله چه او غواړی الله د ټول جهان مالک.

نکات موضح قرآن

۵ زجر کافرانو د پاره ۱۲.

تفسیر

ف ۱ دا د حضرت جبرئیل علیه السلام صفت دے ۱۲ منه رحمه الله.

ف ۶ وَمَا صَاحِبُكُمْ. دا د مشرکانو د پاره زجر دے چه نبی علیه السلام ته به ئے مجنون ویلے، وئے فرمایل قرآن په شان فصیح او بلیغ او د حکمت او معرفت نه ډک کلام دے دیوانو په ژبه نه شی جاری کیدلے هغوی ته وحی راوړونکی فرښته هم د آسمان په غاړه باندے په خپل اصلی شکل کښ لیدلے ده.

ف ۷ وَمَا هُوَ. د ضنین معنی بخیل ده یعنی د الله له طرفه چه کوم علوم او معارف په هغوی نازلیږی د هغے په تعلیم او تبلیغ کښ هغوی بخل نه کوی. دا قرآن وحی الٰهی ده. شیطانی کلام یا شیطانی القاء نه ده. فَاَیْنَ تَذْهَبُوْنَ. تاسو کوم طرف ته ځئ او څو مره د بے عقلئ مظاهره کوئ. دا سے عظیم الشان کتاب کښ غور فکر نه کوئ او هدایت نه حاصلوئ حال دا دے چه دا کتاب د ټول جهان والو د پاره هدایت او نصیحت دے تاسو کښ د هر هغه انسان د پاره نصیحت دے څوک چه په سمه لار باندے او دین اسلام باندے تلل او په هغے باندے قائم پاتے کیدل غواړی. قرآن بیشکه د ټول بنی آدم د پاره هدایت نامه ده لیکن د دے نه فائده صرف هغه څوک اخلی څوک چه ضد او عناد پریږدی د انصاف په نظر د هغے مطالعه اوکړی او د حق او صداقت جذبه هم د هغوی په سینو کښ موج وهونکی وی.

ف ۸ وَمَا تَشَآءُوْنَ. لیکن ستاسو اراده د الله د مشیت تابع دی او هدایت او ګمراهی د الله تعالیٰ په اختیار کښ دی هدایت صرف هغه چا ته نصیب کیږی څوک چه د هغه اسے طرف ته رجوع کوونکی وی او د هدایت حاصلول غواړی. لیکن کوم خلق چه حق او پیژنی او محض د ضد او عناد په وجه سره حق نه منی انکار کوی د هغوی په زړونو باندے د جباریت مهر لګولے شی او هغوی د هدایت د توفیق نه محروم کولے شی.

سورة انفطار

ربط سورة انفطار کښې ، التکویر ، کښې ذکر شوو حالات نه صرف ښلور دنیوی او اُخروی احوال ذکر کړے شول لیکن دد ے پہ مقابله کښې پہ طور د ترقی تفصیل پہ تفسیر کښې راځي دغه شان دے سورة کښې پہ تخویف اُخروی کښې هم ترقی دہ ، هلته ذکر او شو چه تا سو به سم او برابر خپلو مقاماتو طرف تہ ځئ او پہ هغے کښې به اوسیږئ ، دلته ئے اوفرمایل وما هم عنها بغائبین . یعنی هغوئ به د خپلو ځایونو نه هیڅکله هم نه وځی پہ سورة تکویر کښې توحید نشته لیکن پہ سورة انفطار کښې نفی د شفاعت قهریہ او نفی د کارسازئ د غیر الله بیان پہ آخر کښې موجود دے . یوم لا تملک نفس لنفس شیئا والامر یومئذ لله ۞ .

خُلاصه

اذا السماء انفطرت ـــ تا ـــ واذا القبور بعثرت ۞ تخویف اُخروی د قیامت د احوال ذکر د مخکښې تیر شوے سورة نه د ترقئ پہ طور ، یا ایها الانسان ـــ تا ـــ فی ای صورة ما شاء رکبک . زجر . اے انسانه ! دد اسے مهربان رب نه تاله څه شي غافل کړیدے هغه ته بیدا کړی او تا ته ئے حُسن او جمال درکړو تا د هغوهغه شکر ادا کول پکار دی . کلا بل تکذبون ـــ تا ـــ یعلمون ما تفعلون متعلق دے د زجر سره قیامت نه منئ حال دا دے چه ستاسو د اعمالو پوره پوره حساب ساتلے شي . ان الابرار لفی نعیم . بشارت اُخرویہ وان الفجار لفی جحیم ۞ ـــ تا ـــ ثم ما ادرٰک ما یوم الدین ۞ تخویف اُخروی یوم لا تملک نفس لنفس شیئا والامر یومئذ لله ۞ بیان د توحید نفی د شفاعت قهریہ

سُورَةُ الْاِنْفِطَارِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة انفطار مکه کښې نازل شو ده نولس ایتونه او رکوع یو ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پہ نامه د الله چه ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ۞ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ۞

کله چه آسمان اوچوی او کله چه ستوری را اولویږی

وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿٣﴾ وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾

او کله چه دریابونه روان شي ف۱ (یو دبل سره به یو ځای شي) او کله چه قبرونه شیوړے کړے شي (لاندې باندې شي)

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿٥﴾ يَا أَيُّهَا

پوهه به شي هر یو نفس په هغه څه کوم چه ئے مخکښ لیږلي دي او روستو ئے پرېښي دي ۱ اے

الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴿٦﴾ الَّذِي

۲ اے انسانه! څه شي دهوکه کړې ته په خپل کرم رب باندې چا چه

خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ فِي أَيِّ صُورَةٍ

ته پیدا کړې ئے بیائے ته برابر کړے ف۳ کومه صورت کښې چه ئے

مَّا شَاءَ رَكَّبَكَ ﴿٨﴾ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ ﴿٩﴾

ته غوښتلے ئے هغه کښې ئے ته پیوند کړے. هرګز داسے نه ده بلکه تاسو دروغ ګڼئ انصاف کیدل

وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِينَ ﴿١١﴾

او تاسو باندې ف۳ نګهبانان مقرر دي عزت والا عمل لیکونکي

يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴿١٢﴾

پوهیږي په هغه څه کوم چه تاسو کوئ.

نکات سا تخویف اُخروی ۱۲ سا زجر ۱۲ سا متعلق دے د زجر سره ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعني د سمندر او به په زمکه غالب شي ۱۲ ف۲ یعني کوم خیز چه د زمکے په منځ کښې وو هغه به بره راشي ۱۲ منه رحمه الله.

ف برابرے کړې په بدن کښې او صحیح ئے کړې په خوئے کښې ۱۲.

تفسیر ۲ے إِذَا السَّمَاءُ انفَطَرَتْ. تخویف اُخروی. د قیامت د حالات بیان د تیر شوي سورت نه په طریقه د ترقي. آسمان به څیرے شي.

وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ. او د ستورو کیدلو نه پس به ستورے را پریوځي. وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ. او دریابونه به د رکیدلو نه روستو روان کړے شي. وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ. او د قبرونو والا به را پاڅولے شي. عَلِمَتْ نَفْسٌ الخ. جواب قسم دے کله چه قیامت قائم کړے شي نو هر چا ته به د خپلو ټولو عملونو د خیر او د شر علم اوشي ځکه چه هر سړي ته به د هغه عملنامه ورکولے شي چه هغه او لولي نو هغه به هر څه

معلوم کړی. ۳ے یٰٓاَیُّهَا الْاِنْسَانُ. دا زجر دے، اے انسانه! ته د خپل رب باره کښ څه څیز په دهوکه کښ اچولے ئې چه ته د هغه د احکامو نه غافل شوے ئې او د ظلم او سر کښئ، ته د ملا او تړلے. هغه ډیر نهایت مهربان او بخښونکے دے. هغه ته پیدا کړے، هر اندام ئے ستا صحیح او روغ پیدا کړو او ټول اندامونه ئے متناسب جوړ کړل. قد او قامت، نقش و نګار او د حُسن او جمال کوم مرتبه کښ چه ئے ته خوښ شوے هغے کښ ئے ته برابر واچولے او جوړ ئے کړے. د الله تعالیٰ د رحمت او بخشش او د هغه په شان کریمی باندے تا سوله مغروره کیدل او د هغه د اطاعت نه تا لره تغافل نه وے پکار بلکه د هغه د نعمتونو شکر ادا کول پکار دی او د هغه اطاعت او عبادت خپل شعار او د ژوند نسبه جوړول پکار دی کَلَّا. دا د ما قبل د پاره ردع ده چه تا سوله د الله تعالیٰ په شان کریمی باندے معزور کیدل او د هغه نه غافل کیدل نه دی پکار. بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ. دا د ما قبل نه ترقی ده چه تاسو د الله د احکامو نه د غفلت ځنې تولو په عقلې د یو بے لے ډیرے لوئے ګناه ارتکاب کوئ جزاء او سزا دروغ ګنړئ. انتهی لا ترتدعون عن ذلك بل تجترؤن علی اعظم منه حیث تکذبون بالجزاء والبعث رأسا (روح ج ۳۰ ص ۶۵).

۵ے وَاِنَّ عَلَيْكُمْ. تا سو حشر او نشر او د جزاء سزا نه انکار کوئ حال دا دے چه په تا سو باندے نګرانان فرشتے مقرر دی کوم چه د الله سره د عزت خاوند ئے دی او ستا سو ټول نیک او بد اعمال لیکی هغوئ ستا سو واړه او غټ او نیک او بد عملونه پیژنی، ځکه چه هغه هر وخت تا سو سره د خلوت او جلوت کښ دی. يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ. دینه معلومه شوه چه فرشتے صرف ظاهري اعمال پیژنی او د زړونو ارادے نه پیژنی په هغے باندے صرف الله عالم دے. اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ دا بشارت اخروية دے. نیک خلق او د الله تعالیٰ حکم منونکو بندګان به د قیامت په ورځ هر قسم نعمتونو کښ وی.

اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ﴿۱۳﴾ وَاِنَّ الْفُجَّارَ

بیشکه نیک خلق به په جنت کښ وی او بیشکه ګنهګاران به په

لَفِيْ جَحِيْمٍ ﴿۱۴﴾ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿۱۵﴾

دوزخ کښ وی غورځولے به شی په هغے کښ د انصاف په ورځ

وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا

او نه به وی د هغے نه جدا کیدونکی او تا ته څه شی معلومه ده څنګه

يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٨﴾

ده د انصاف ورځ بیا تا ته څه معلومه ده څنګه ده د انصاف ورځ

يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۭ وَالْاَمْرُ

کومه ورځ چه به فائده نه رسوي هیڅ یو نفس بل نفس ته کوم هیڅ هم او حکم

يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿١٩﴾

په دغه ورځ د الله دے۔

نکات

۱ بشارت اُخروي ۱۲۔ ۲ تخویفِ اُخروي ۱۲۔ ۳ د توحید بیان او نفي د شفاعت قهري ۱۲۔

تفسیر

ـے اِنَّ الْفُجَّارَ۔ دا تخویفِ اُخروي دے او د الله نافرمان او د هغه حدود ماتونکي به دوزخ کښې وي د قیامت په ورځ به د جزاء او سزا فیصلے نه روستو هغوي دیته داخلیږي۔ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ۔ دا د قیامت حالت د تیر شوي سُورت نه په طریقه د ترقي دے۔ دوزخیان به دوزخ کښې خپل خپل مقامات ته رسیدلو نه روستو یو ساعت هم نه شي غائب کیدلے او همیشه به په هغے کښې اوسیږي۔

ـے وَمَآ اَدْرٰىكَ۔ د قیامت د ورځے د عظمت او سختئ بیان دے، وے فرمائیل تا ته څه معلومه ده چه د جزاء او سزا ورځ څومره ویره وونکي او فیصله کوونکي ده۔ بیا وایم تا ته څه معلومه ده چه د قیامت ورځ څومره ډیره ویره وونکي ده۔ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ الخ۔ د تیر شوے سورت نه په طور د ترقي د توحید بیان دے کښې د شفاعت قهري نفي شوې ده او د یوم جزاء یو ډیر نیات هیبتناک او د نا اُمیدئ یو اړخ بیان شوے دے چه دغه ورځ به کوم یو نفس هیڅ په کار نه راځي مشرکانو چه خپل کوم دغه ناجوړ کړي معبودان شفیع غالب ګڼړلي دي د قیامت په ورځ به هغوي خپلو عبادت کوونکو ته هیڅ فائده نه شي رسولے او دغه ورځ به ټول کاروبار د الله تعالی په اختیار کښې وي، د دُنیا په کاروبار کښې خو خلقو ته اختیارات ورکړے شوي دي لیکن هلته به هیچا ته هم څه اختیار نه وي ورکړے شوے۔ وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ وحده لا يملك الله في ذلك اليوم احدا شيئا من الامر كما ملكهم في الدنيا (مظهري ج ۱۰ ص ۲۱۶)۔ دینه د انبیاء علیهم السلام د شفاعت او د مومنانو د شفاعت نفي او نه شوه ځکه چه شفاعت به د الله په اذن وي او د شفاعت اذن تمليك نه دے۔

سورة انفطار کښې د توحید ایتونه

۱- یَوْمَ لَا تَمْلِکُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَیْئًا ۚ وَالْاَمْرُ یَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ۔ نفی د شفاعت قهریه.

سورة مُطَفِّفِیْن

ربط د تیر شوی سورة په نسبت دے کښې د قیامت د حالات ذکر علی سبیل الترقی دے سورة انفطار کښې ذکر شوے وو چه تاسو به د دوزخ نه هیڅ کله هم نه وځئ او س په سورة مُطففین کښې به علی سبیل الترقی بیان کیږی چه د دغه لوکو نومونه به په مخصوص رجسترونو کښې درج شوے وی او هیڅوک به د چا په سفارش باندے خپل نوم د هغے نه نشی خارجولے.

خُلاصه

وَیْلٌ لِّلْمُطَفِّفِیْنَ ـــ تا ـــ یَوْمَ یَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝
داخلق په پیمانه او تول کښې خیانت کوی د خلقو مال خوری ولے دوی به د قیامت په ورځ د خدائ سره نه حاضریږی.؟ کَلَّآ اِنَّ کِتٰبَ الْفُجَّارِ ـــ تا ـــ کِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۝ تخویف أخروی. د دے فاسقانو فاجرانو نوم به په سجّین کښې درج کړے شوے وی او هغے نه به نوم نشی خارجولے. وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ لِّلْمُکَذِّبِیْنَ ۝ ـــ تا ـــ وَمَا یُکَذِّبُ بِهٖۤ اِلَّا کُلُّ مُعْتَدٍ اَثِیْمٍ ۝ د قیامت دروغ ګڼړلوکو باندے زجر. اِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِ اٰیٰتُنَا قَالَ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ ۝ دا په دروغ ګڼړونکو باندے شکوی دی.
کَلَّآ اِنَّ کِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِیْ عِلِّیِّیْنَ ۝ ـــ تا ـــ یَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ۝ بشارت اُخرویه د ابرار او نیکانو نوم به په علیین کښې لیکل شوے وی هغوی به د جنت په نعمتونو کښې خوشحاله خوشحاله وی او د اعلیٰ قسم مشروبات سره به د هغوی عزت کولے شی. اِنَّ الَّذِیْنَ اَجْرَمُوْا ـــ تا اخر...... زجر مشرکانو د پاره او تخویف اُخروی. مشرکان په دنیا کښې مسلمانانو ته ډیرسپک کوری او هغوی پورے خندا کوی او هغوی ته ګمراه وائی. نن (د قیامت په ورځ) به مومنان په کافرانو پورے خاندی او په دے طریقه به د هغے نه انتقام اخستلے شی.

سُورَةُ التَّطْفِيفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة تطفیف په مکه کښې نازل شوې ده، ایتونه شپږ دیرش دي رکوع یوه ده۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر بخښونکے او ډیر مهربان دے

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ۙ﴿۱﴾ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى

هلاکت دے کمونکو لره هغه خلق چه کله پیمانه اخلي د خلقو نه نو

النَّاسِ يَسْتَوْفُوْنَ ﴿۲﴾ۖ وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ

پوره اخلي او کله چه پیمانه ورکوي هغوئ ته

وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ ﴿۳﴾ؕ اَلَا يَظُنُّ اُولٰٓئِكَ

یا تول کوي نو کم ورکوي ئې ایا خیال نه کوي هغه خلق

اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۙ﴿۴﴾ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۙ﴿۵﴾ يَّوْمَ

چه هغوئ به پاڅولے شي هغه لوئې ورځ دپاره کومه ورځ

يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶﴾ؕ كَلَّآ اِنَّ

چه به او دریږي خلق دپاره د رب د ټولو مخلوقاتو هرګز نه ده څکاره دا شک

كِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ﴿۷﴾ؕ وَمَآ اَدْرٰىكَ

بیشکه اعمالنامې د ګنهګارانو په سجّین کښې دي او تا ته څه معلومه ده څه

مَا سِجِّيْنٌ ﴿۸﴾ؕ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ﴿۹﴾ؕ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

دے سجّین ۲ یو دفتر دے لیکلے شوے ۳ هلاکت دے په هغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۙ﴿۱۰﴾ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۱۱﴾

دروغ ګڼونکو دپاره خلق چه دروغ ګڼړي د انصاف ورځ

وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ۙ﴿۱۲﴾

او هغه دروغ ګڼړي هر هغه څوک چه د انداز نه تیریدونکے ګنهګار وي

إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ⑬

کله چه اوروله شي هغه ته حکمونه ایتونه زمونږ وائي نقلونه دي د مخکینو

كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ⑭

داسې نه ده لکه بلکه زنګ اچولے دے د هغوئ زړونو باندې هغه کناهونو کوم چه هغوئ کول.

نکات

۱ تخویف اُخروي دے ۱۲ ۲ زجر دپاره د دروغ ګڼړونکو د قیامت.
۳ شکوی.

فتح الرحمٰن

ف۱ د دے سورت نازلیدلو کښې اختلاف دے، ځنے وائي کله چه نبي علیه السلام مدینے ته تشریف یوړو د هغه ځائے خلقو په پیمانه او تول کښې ډیره غلا کوله د هغه وخت دا ایت نازل شو، د دے اوریدلو سره تولو هغه خبره پریښودله او د پیغمبر او کتاب هدایت سره صحیح شول مشهوره ده چه د هغه وخت نه تر او سه پورے د مدینے د خلقو نه شوک زیات په پیمانه او تول کښې ربطتوبي نشته. او ځنے وائي په مکه کښې نازل شوے وو کله چه حضور مدینے ته لاړے هلته د هغه ځائے خلق د دے مصیبت کښې ګرفتار اولیدل د هغه وخت دا سورت اولوست خلقو دا خیال اوکړو چه اوس نازل شو. عطاء مکي وئیلے دي چه د مدینے په لاره کښې نازل شو د هجرت کولو په وخت دا فائده تفسیر فتح العزیز لیکلې ده.

ف۲ سجین. د یو مکان نوم دے چه ډیر تنګ او تیاره ده په کښې وائي چه هغه د اوو زمکونه لاندې دے د بدکارو خلقو روحونه اول اسمان ته بره وړلے شي هلته نشي داخلیدلے بیا ئے زمکے ته راوړي هیڅوک ئے نه قبلوي، د غه وخت هغه دے تیاره ځائے نه چرته چه یو تورکتاب دے چه د هغے نه بدبوئي او لوګے راوځي د هغه د نوم لیکلو نه روستو د هغه د لاندې کینو دلے شي تر قیامته پورے به هلته وي. دا فائده تفسیر فتح العزیز نه اولیکل شوه ۱۲.

ف۳ یعني د هغوئ نومونه هلته داخلیږي چه مړه شي نو هلته رسیږي ۱۲.

تفسیر

۲ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ. دا زجر دے. عَلَى النَّاسِ دپاره متعلق محذوف دے چه د اكْتَالُوا د فاعل نه حال دے اي مُضِرِّينَ عَلَى النَّاسِ، یا دا د اِكْتَالُوا سره متعلق دے. قال الفراء من وعلي يعتقبان في هذا الموضع لانه حق عليه فاذا قال اكتلت عليك فكانه قال اخذت ما عليك (مدارک). هغه کم تول کونکو دپاره هلاکت او ویل دے چه د خلقو نه اخلي نو پوره وصولي کوي. بلکه د خپل حق نه زیات اخلي. او کله چه نورو ته پیمانه یا تول کوي نو د هغوئ د حق نه کم ورکوي هغوئ له دا سے نه ده پکار، هغوئ له پکار ده چه د حق ادائي نه او ویرېږي چه د ظلم او زیاتے سخته سزا به هغوئ ته ورکړي.

۳ے اَلَا یَظُنُّ ۔ دا خلق د نورو په حق تلفئ کښې دا سے ښوتلی دی لکه چه په هغوی باندے به هیڅ نبوکه نه وی هغوی خیال کوی چه د قیامت په ورځ چه ډیره زیاته ویره وو نکی هیبتناکه به وی هغوی به نه شی پاڅولے او د هغوی د ظلم او زیاتے حساب کتاب به نشی اخستلے حال دا دے چه په دغه ورځ کښې ټول انسانان پاڅولے شی او ټول به د رب العالمین او احکم الحاکمین په مخکښې پیش کولے شی چه پوره پوره حساب به کوی او د ظالمانو نه به مظلومانو ته د هغوی حق ورکوی او بیا به ظالمانو ته د ظلم زیاتے سخته سزا هم ورکوی ۔

۴ے کَلَّاۤ اِنَّ کِتٰبَ الْفُجَّارِ ۔ دا تخویف اُخروی دے ۔ کَلَّا په معنیٰ د حقًّا دے ۔ سِجِّیْن ۔ تحت الثریٰ کښې یو مقام دے چه په هغے کښې د کافرانو روحونه تر قیامته پورے قید او بند کړے شوی وی هلته د هغوی اعمالنامے محفوظ کړے شوے وی هلته یو دفتر (رجسټر) هم دے چه په هغے کښې د ټولو کافرانو نومونه درج کولے شی ۔ وسجین علم لکتاب جامع دون فیه أعمال الشیاطین واعمال الکفرة والفسقة من الثقلین (ابو السعود) ۔ قال عبدالله بن عمرو قتادة ومجاهد والضحاک سجین هی الارض السابعة السفلیٰ فیها ارواح الکفار (مظهری) او د مرقوم معنیٰ مختوم (مهرزن دے) دے ۔ المرقوم ههنا المختوم (کبیر) هغه دفتر باندے به مهر وهلے شوے وی په هغے کښې به نه د چا نوم درج کیږی او نه به د یو کافر نوم د هغے نه خارجولے شی ۔ ای مکتوب رقم لهم بشر لا یزاد فیهم احد ولا ینقص منهم احد (قرطبی ج ۱۹ ص ۲۵۶) ۔

۵ے وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ زجر او تخویف کوم ورځ چه دا اعمالو دفتر پیش کړے شی یعنی (د قیامت ورځ) د غه ورځ به د جزاء او سزا نه انکار کونکو د پاره هلاکت او تباهی او سخت عذاب وی ۔ وَمَا یُکَذِّبُ بِهٖ الخ ۔ دا هم د تیر شوے سورة نه علیٰ سبیل الترقی دے ځکه چه هلته مکذبینو باندے زجر وو او دلته د زجر نه علاوه د مکذبین بیان هم دے ، چه تکذیب کوم قسم خلق کوی د قیامت د ورځے نه انکار صرف هغه خلق کوی چه د جهالت او د پلار نیکه رواجونو تقلید کښې د حد نه تیر شوی دی او شهوات نفسانی کښې ښوتلو سره د هغے د بد انجام نه غافل شوے وے ۔ اِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِ الخ ۔ دا شکوی ده ، دے په ګناه او نفس پرستئ کښې دومره زیات ښوتلے دی چه د خدائے د آیتونو په وه (۳ه) برابر هم غور فکر نه کوی بلکه هغے ته د مخکینو خلقو قصے وائی ۔

۶ے کَلَّا بَلْ ۔ دا د دغه ټول باطل نه ردع ده هغوی له د قرآن باره کښې دا سے خبرے کول نه دی پکار ۔ بَلْ ماقبل نه ترقئ د پاره دے بلکه اصل خبره دا ده چه د دوی د بدو عملونو ، کفر ، شرک ، او فسق ګناهونو د وجه نه د هغوی په زړونو زنګ لګیدلے دے او په هغے کښې د حق خبرے پوهیدلو صلاحیت نه دے پاتے شوے ۔

كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ ⑮

رښتیا (حق) دا که هغوی به د خپل رب نه دغه ورځ منع کړے شوے وی

ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ⑯ ثُمَّ يُقَالُ

پس بیشکه هغوی غورځیدونکی دی ... او ورته به اووئیلے شی

هٰذَا الَّذِىْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ⑰ كَلَّآ اِنَّ

دا هغه دے چه تاسو دروغ ګڼړلو ... هرګز (داسی) شے نه دے

كِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِىْ عِلِّيِّيْنَ ⑱ وَمَآ اَدْرٰىكَ

یقینًا بیشکه د نیکانو عملنامے به علیین کښې وی. او تا ته څه معلومه ده

مَا عِلِّيُّوْنَ ⑲ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ⑳ يَّشْهَدُهُ

علیین څه شی دے ... یو دفتر دے لیکلے شوے ... هغه ته ګوری

الْمُقَرَّبُوْنَ ㉑ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِىْ نَعِيْمٍ ㉒ عَلَى

نزدیکان یعنی فرښتے . بیشکه نیکان خلق به د ډیر آرام کښې ... په

الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ㉓ تَعْرِفُ فِىْ وُجُوْهِهِمْ

تختونو به ناست وی او ګوری به ... پیژنی به ته د هغوی په مخونو

نَضْرَةَ النَّعِيْمِ ㉔ يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ

باندے تازګی د آرام ... به هغوی ته څکولے شی شراب خالص مُهر

مَّخْتُوْمٍ ㉕ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ؕ وَفِىْ ذٰلِكَ

ګولے شوے . د هغې مُهر لګی په مُشک باندے او په دے باندے

فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ㉖ وَمِزَاجُهٗ

یقینًا ده چه رغبت اوکړی رغبت کوونکی وا . او د هغې سره ګډ شوے دی

مِنْ تَسْنِيْمٍ ㉗ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ㉘

د تسنیم نه ... هغه یو چینه ده چه هغې نه څکل کوی نزدیکان ط

نکات : ۱ تخویف اُخروی ۱۲۔ ۲ بشارت اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن

ف ۱ علیین دَیو مکان نوم دے چه د هغے اوچتوالے دَ اوو اسمانونو د پاسه د عرش مجید د ښي خپے سره لګیدلے دے او ښکته والے سدرة المنتهٰی پورے دے ډیر نهایات اُوچت او فراخ هغے ته دفترونیلے دي د الله تعالیٰ د نزدے بندګانو رُوحونه هلته رسیږي او هلته اوسیږي او دَ عام مُسلمانانو رُوحونه هلته رسیدلو سره د هغوئ نومونه اولیکل شي دَ خپلے درجے والا موافق اسمان کښ یا دَ زمکے او اسمان مینځ یا دَ زمزم کوهي کښ اوسیږي او یو قسم علاقه دَ قبر سره هم د هغوئ وي، دا فائده د فتح العزیز نه لیکل شوی ده۔

ف ۲ دَ شرابو نهرونه دي د هرچا په کورکښ لیکن دا شراب عجیبه دي چه اوس مُهر وهلے شویدي او دَ هغے موافق دَ مشکو مهر په هغے وهلے شویدی ۱۲۔

ف ۳ تسنیم - په لغت کښ هغے ته وائي چه دَ شربت د پاسه د هغے د خوشبوئے یا خوند مزے د پاره اچولے شي لکه ګلاب او مُشک او دلته دَ جنت یو چینه مُراد ده چه ډیر پاک او خوند ناک شراب دی۔ مقربین او سابقین به صرف د دے چینے نه څکل کوی او ابرار او اصحاب الیمین ته به د دینه نورو شرابو سره دَ ملاوه ولو د پاره لږ شان ورکولے شي او هغه چینه به په هوا باندے جاری وی د عرش د لاندے۔ دا فائده د تفسیر فتح العزیز نه اولیکلے شوه ۱۲۔

تفسیر

ګ ۷ کَلَّآ اِنَّهُمْ ـ کَلَّا په معنیٰ د حقًّا سره دے یقینًا کافران او مشرکان به د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ دَ رحمت د نظر نه په پرده کښ وی او محروم به وی بیا به هغوئ جهنم ته داخلولے شي او هغوئ ته به وئیلے شي دا هغه جهنم دے د کوم نه چه تاسو په دُنیا کښ انکار کولو۔

ف ۸ کَلَّآ اِنَّ کِتٰبَ الْاَبْرَارِ ـ دا بشارت اخرویه دے او کَلَّا په معنیٰ د حقًّا دے۔ علیین دَ اوو اسمانونو د پاسه د عرش عظیم دَ لاندے یو مقام دے چه د انبیاء علیهم السّلام او دَ نیک غوره بندګانو دَ رُوحونو مسکن او اوسیدو ځائے دے. هغے کښ دَ مؤمنانو اعمالنامے کیښودلے شي او د هغے په دَفتر کښ د مؤمنانو نومونه درج کولے شي۔ ابرار د پاره دا لیکل شوید ی چه هغوئ به د مرګ نه روستو علیین ته ځي کوم د فتر (رجسټر) کښ چه د مؤمنانو نومونه درج کولے شي هلته دَ کتابت او درج کولو په وخت مقرب فرښتے موجود وی. یَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ یعنی الملائکة الّذین هم فی علیین یشهدون ویحضرون ذٰلك المکتوب (کبیر ج ۸ ص ۵۰۵)۔

ف ۹ اِنَّ الْاَبْرَارَ ـ مؤمنان به د جنت په نعمتونو کښ وی تختونو باندے به ئے تکیه لګولے وی د هغوئ دَ مخونو نه به دَ جنت د نعمتونو د خوشحالئ اثار ظاهر وی او دَ هغوئ مخونه به تروتازه وی او د خوشحالئ نه به برقید وهی

وی. په هغوی باندې به خالص سپین او ډیر اعلیٰ شراب څکولې شی چه مُهر ورته به پرېشې لګیدلی وی او د دوی نه مخکښ به هیچا لاس هغې ته نه وی وړېشې. او د هغې مُهر به هم د مشکو وی په کوم شرابو چه د مُشکو د مسالې مُهر لګیدلې وی د دینه اندازه اولګوی چه هغه شراب به څومره اعلیٰ او قیمتی وی وَ فِیْ ذٰلِكَ فَلْیَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ٥ رغبت کوونکوله دا سې نعمتونو کښ رغبت کول پکار دی، او د هغې دحاصلولو کوشش کول پکار دی. او د دغه رحیق (خالص شرابو) سره به تسنیم (یو ډیر اعلیٰ درجه شراب) ګډ کړې شوې وی چه د عرش نه به د هغې چینه راوتلې وی او هغې نه به صرف مقربین څکل کوی.

اِنَّ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا كَانُوْا مِنَ الَّذِيْنَ

هغه خلق نه چې څوک چه ګنهګاران وو مؤمنانو پورې

اٰمَنُوْا يَضْحَكُوْنَ ﴿٢٩﴾ وَاِذَا مَرُّوْا بِهِمْ

به خندل او کله چه به د هغوی په خواکښ تیریدل

يَتَغَامَزُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَاِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ

نو خپل مینځ کښ به سترګې وهلې. او کله چه به واپس خپلو کورونو ته تلل

انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا اِنَّ

نو تلل به خوشحالی کول نکی. او کله چه به ې هغوی لیدل نو ویل به ې بیشکه

هٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّوْنَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ اُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ

دا خلق ګمراه دی. او هغوی لیږلې شوې نه وو په دوی باندې

حٰفِظِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ

نګران (نګاروکی) الې پس نن ورځ به مؤمنان به کافرانو پورې

يَضْحَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿٣٥﴾

خاندی. به تختونو باندې ناست ګوری به

هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾

او س بدله موندلې ده کافرانو څنګه چه هغوی کول.

نکات سـا زجر مُشرکانو د پاره اوْ تخویف ۱۲.

تفسیر خلـــ دا مشرکانو د پاره زجر دے. د قریش مشرکانو به فقیرانو مؤمنانو پورے په طور دَ پټوقو خندل اوْ کله چه به مسلمانان د هغوی په مخوا کښې تیریدل نو د قریشو متکبرینو به د پټوقو مسخرو په طور با ندے سترګو سره د هغوی طرف ته اشارے کولے اوْ کله چه به خپلو کورونو ته واپس راتلل نو دیر زیات خوشحال به وو چه نن مونږ د غه فقیرانو پورے پټوقو مسخرو سره ښه مزه واخستله. وَاِذَا رَأَوْهُمْ. کله چه به مشرکانو مسلمانانو ته کتل نو ویل به ئے دوی ګمراه دی حال دا دے چه هغوی په مسلمانانو نګران نه وو مقرر شوی اوْ نه هغوی ددی د ګمراهئ اوْ هدایت ذمه وار کرځول شوے وو. چه هغوی د دوی د هدایت اوْ ضلالت فیصله کوی.

لـــ فَالْيَوْمَ. دُنیا کښې به مشرکانو په مسلمانانو پورے خندل اوْ په هغوی پورے به ئے پټوقے مسخرے کولے نن به د قیامت په ورځ مسلمانان جنت کښې په تختونو باندے ناست وی کافران به په دوزخ کښې په عذابونو کښې تړلے شوی او وینی هغوی پورے به خاندی. هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ. استفهام تقریر د پاره دے یعنی مشرکانو اوْ کافرانو چه په دُنیا کښې څهٔ کول د هغے پوره پوره سزا هغوی ته مِلاؤ شوه.

سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ

ربط سورة تطفیف کښې ذکر او شو چه تا سو کوم خپل حیلے بهانے سره د خپلو مقاماتو نه نشئ وَتلے اوْ په تا سو باندے به هلته قسم قسم حالات راځی اوْ تاسو به د مختلف قسم ویره وونکو سزاګانو سره مخامخ کیږئ. فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ الخ کښې دے باندے شواهد ذکر شوی دی. د غه شان په التطفیف کښې د بد کارو د پاره یو مثال ذکر کړے شو. وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ. اوْ دلته د نیک کارو نو ترغیب ورکړے شو. يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ إِنَّكَ كَادِحٌ... الآیة.

خلاصه

إِذَا السَّمَاءُ انشَقَّتْ ــــ تا ــــ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ○ تخویف اُخروی

آسمان به ځیرې شي او زمکه به تول هرڅه اوباسي. دا د آخرت ابتدائي احوال دي، یا ایها الانسان انك کادح. الآیة دا عمال صالحه ترغیب دے اے انسانه! یو وخت راتلونکے دے چه ته به د خپل رب سره ملاویږے لوس وخت دے نیک کار اوکړه.

فاما من اوتی کتبه بیمینه ــــ تا ــــ وینقلب الی اهله مسرورا ۰ بشارت اخروي. د قیامت په ورځ چه چا ته په ښي لاس کښې اعمالنامے ورکړے شي د هغوي حساب به ډیر اسان وي او هغوي به خوشحاله خپلو کورونو ته واپس کیږي. واما من اوتی کتبه وراء ظهره ــــ تا ــــ بلی ان ربه کان به بصیرا ۰ تخویف اخروي او چا ته چه د شانه روستو عملنامے ورکولے شي هغوي د پاره به هلاکت وي او هغوي به دوزخ ته داخلیږي.

فلا اقسم بالشفق ــــ تا ــــ لترکبن طبقا عن طبق، تخویف اخروي په طور د ترقي. د تیر شوي سورة نه او ذکر د شواهد. فما لهم لا یؤمنون. الآیتین. زجر مشرکانو د پاره څو مره ناپوهه دي چه د دلیلونو باوجود ایمان نه راوړي او د قرآني احکامو په مخکښې نه ټیټیږي. بل الذین کفروا یکذبون ۰ د منلو په ځائے هغوي د روغ ګنړي هغوي ته د درد ناک عذاب خوشخبري واوره وه. الا الذین امنوا. الآیة. لیکن مؤمنانو ته منې او نیک کارو ته کوي هغوي د پاره غیر متناهي اجر او ثواب دے.

سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة الانشقاق لے مکه کښې نازل شو ده ایتونه پنځویشت رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿۱﴾ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَ

کله چه ⟨۲⟩ اسمان اوچوي او واوري حکم د خپل رب او هغه اسمان

حُقَّتْ ﴿۲﴾ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ﴿۳﴾ وَاَلْقَتْ

ددے لائق دے وا او کله چه زمکه هواره کړے شي او راوباسي

مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ﴿۴﴾ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿۵﴾

کوم شے چه په هغے کښې دي او خالي هم شي ۲۵ او واوري حکم د خپل رب او هغه زمکه لائق ده دے ته

يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا

اے انسانه! ته تکلیف او چتوونکے یے خپل رب ته رسیدلو کښ پس د

فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾

هغه سره ملاقات کوونکے یے. پس چا ته چه ملاؤ شو اعمالنامه په ښي لاس کښ

فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَ

نو د هغه نه به حساب واخستلے شي اسان حساب او

يَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنْ

واپس به راشي خپلو خلقو ته خوشحاله او چا ته چه ملاؤ

أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوا۟

شوه د هغه اعمالنامه د شا نه روستو نو هغه به اواز کړي

ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ

مرګ ته او غورځولے به شي اور ته ف۳ هغه وو خپل کور

أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴿١٣﴾ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾

کور کښ بے غمه ف۴ هغه خیال کړے وو چه واپس به نه ګرځي

بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴿١٥﴾ فَلَآ

ولے نه! (رجوع به کوي) د هغه رب هغه لیدلو ف۵ پس قسم

أُقْسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾

قسم خورم د ماښام په سرخئ.

نکات سر۱ تخویف اُخروی ۱۲ سر۲ نیک اعمالو ته ترغیب. سر۳ بشارت اُخرویه ۱۲. سر۴ تخویف اُخروی ۱۲ سر۵ تخویف اُخروی په طور د ترقئ د تیر شوی سورت نه او ذکر د شوا هد.

موضح قرآن ف۱ یعني اسمان بے حُکمه نه دے ۱۲

ف۲ یعني مرګ بهر ته او غورځوي ۱۲

ف۳ یعنی دَ عذاب له درد نه به مرګ اوغواړی ۱۲۔
ف۴ یعنی دُنیا کښې دَ آخرت نه بے فکره وو ۱۲۔
ف۵ اوس ئے دهغه عمل جزاء ورکړی ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی مړی را بهر کړی ۱۲ ف۲ دَ آخرت دَورځے حساب کیدو فکر ۱۲ (ش)

تفسیر ۲ے اِذَا السَّمَآءُ ۔ تخویف اُخروی. دَ آخرت دَ اولنو حالات بیان کله چه اسمان اوچوی دَ اسمانونو ښیری کیدل به دَ الله حکم سره وی. کله چه دَ الله اَمر اوشی اسمانونه به دهغهٔ دَ امر اطاعت کوی او هغوی سره لائق چه دَ الله دَ حُکم منښه اوکړی اوّ واورِی دا دَ الله تعالیٰ دَ قُدرتِ کامِله دَ نفاذ نه کنایه ده. په آسمانونو دا سے هیڅ څیز موجود نه دے چه دَ هغوئ دَ ورانولو او ماتولو نه دَ الله دَ قُدرت دَ تاثیر نه مانع شی. والمعنی انه لم یوجد فی جرم السماء ما یمنع من تاثیر قدرة الله تعالیٰ فی شقها و تفریق اجزائها الخ (کبیر ج ۸ ص ۵۰۹).

۳ے وَاِذَا الْاَرْضُ ۔ او کله چه زمکه خوره کړے شی دَ قیامت په ورځ به دَ زمکے په فراخئ کښې اضافه کولے شی، دَ دے دپاره چه اوّلین او آخرین دے کښې ځائے شی ۔ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا ۔ زمکه کښې خپل دننه دفن کړے شوے څیزونه به بهرته اوغورځوی. او دَ خپلے خیټے نه به هر څیز بهرته را اوغورځوی خالی به شی دا به هم دَ الله حُکم وی او دَ زمکے دا طاقت چرته دے چه هغه دَ الله دَ امر نه سرغړونه اوکړی دَ اِذَا جواب محذوف دے چه په هغے باندے ما بعد قرینه دے. ای یلاقی الانسان ما کدح الخ. (مظهری).

۴ے یٰۤاَیُّهَا الْاِنْسَانُ ۔ دا دَ نیک اعمالو په ځائے راوړلو دپاره ترغیب دے کادح، جاهدٌ، ساعٍ، (مدارک، مظهری) ۔ الیٰ ربک ای طول حیاتک الیٰ لقاء ربک الی الموت (روح ج ۳۰ ص ۷۹) ملاقیه کښې ضمیر مجرور کدح طرف ته راجع دے انسان تر آخره وخته پورے ټول عمر په مُسلسل سعی او پرله پسے عمل کښې مشغول دے او آخر به دَ قیامت په ورځ دَ خپل عمل میوه بیا موقی، ددے وجه نه په انسان لازم ده چه په خپل ژوند کښې دَ نیک اعمالو ذخیره جمع کړی او کوشش اوکړی که چرے نیک کارکوی نو عمل نامه به په ښی لاس کښې ملاویږی او که چرے کفر او شرک کوی نو عمل نامه به دَ ښاله طرفه ورکولے شی.

۵ے فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ ۔ دا بشارت اُخروی دے کوم خلق چه په دُنیا کښې ایمان راوړو او نیک کارونه ئے اوکړل دَ قیامت په ورځ به هغوئ ته عملنامے په ښی لاس ورکولے شی او دَ هغوئ حساب به ډیر آسان وی او هغوئ به خوشحاله خوشحاله جنت ته خپلو کورونو ته واپس لاړشی. وَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ کِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۔ کافرانو مشرکانو ته به دَ هغوئ اعمال نامے په کینړ لاس کښې ورکولے شی او هغوئ به دَ هلاکت او مرګ تمنا کوی ددے دپاره چه په هغوئ عذاب

نه دي. لیکن دغوی دا آرزو به هیڅکله هم نه شي پوره کولے او دغوی به جهنم ته داخل کړے شي. وراء ظهره نه مراد دا دے چه دغه سینه به څیرے کړے شي دغه کیڼ لاس به د شانه بهر ته اوویستلے شي او په دے طریقه به په کیڼ لاس کښ دغه عمل نامه ورکړے شي. (قرطبي، مظهري) ثبور. هلاکت.

۶ے انه کان. کافر د دنیا کښ د خپل اهل او عیال سره ډیر زیات خوشحاله په آرام او سیده او د آخرت هیڅ فکر هغه سره نه وو او هغه خیال کولو چه هغه به دوباره نه شي ژوندے کولے او نه به د هغه سره حساب کتاب کیږي دا څنګه کیدے شي؟ الله تعالیٰ د هغه د ټولو اعمالو نه خبر دے هغه به ضرور دے ژوندے کړي د هغه د اعمالو جزاء به هغه ته ورکړي. لن یحور ای لن یرجع حیًّا.

۷ے فلا اقسم. دا په قیامت کښ په مختلف احوال بانديے شواهد دي شفق د هغه سرخي ده چه د نمر د ډوبیدلو نه روستو ظاهر یږي. دے باندے هم مختلف حالات راځي. شپه او شپه چه په کوم شیزونو باندے مشتمل وي په شپه باندے هم ډیر حالات وارد یږي. او سپوږمۍ چه کله کامل شي په هغے باندے مختلف حالات راځي. څنګه چه د نمر پریوتلو نه روستو شفق، هغے نه روستو شپه، او د هغے مختلف حصے. بیا نمر راختل، دغه شان سپوږمۍ د اول ورځ نه واخله تر تمامیدلو پورے او څوارلسے کیدلو پورے د مختلف حالات نه تیریږي دا شواهد دي (دلائل دي) چه د قیامت په ورځ به تاسو هم د مختلف احوال نه تیریږئ، یو دے درجے نه بلے درجے ته او یو حال نه به بل حال ته رسیږئ. دا د ثواب او عذاب مختلف درجات طرف ته اشاره ده. والمعنی لترکبن احوالا بعد احوال هي طبقات في الشدة بعضها ارفع من بعض وهي الموت وما بعده من القیامة واهوالها الخ (روح ج ۳۰، ص ۲۸). الشعبي لترکبن یا محمد سماءً، ودرجة بعد درجة، ورتبة في القربة من الله تعالیٰ (قرطبي ج ۱۹ ص ۲۷۶).

وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿۱۷﴾ وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ﴿۱۸﴾

او شپه او په هغه (شیزونو) کوم چه جمع کړي وي. او په سپوږمۍ کله چه پوره شي

لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ﴿۱۹﴾ فَمَا لَهُمْ لَا

چه تاسو ختل دي پوړۍ په پوړۍ ۸ے. پس څه شوي دي دے په هغو

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ

چه یقین نه راوړي او کله چه لوستلے شي هغوی باندے قرآن

لَا يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ ﴿٢٢﴾

هغوئ نه کوی سجده بلکه څوک چه کافران شویدی دروغ گڼری (قرآن)

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُمْ

او الله ښه پوهیږی په هغې کوم چه زړونه یئ ټولوی (اوساتی) ول پس خوشخبری ورکړه هغوئ

بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٤﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

ته دردناک عذاب سره لیکن کوم خلق چه یقین اوکړی او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿٢٥﴾

عمل اوکړی نیک هغوئ دپاره ثواب دے ډیر نه پائے دے.

نکات: ١ زجر مشرکانو دپاره او تخویف اُخروی ١٢ ٢ بشارت اُخرویه ١٢.

موضح قرآن ول یعنی د دوئ زړونه د الله د نافرمانئ او انکار مخالفت او د دنیا د ژوندن د محبت او خوشحالئ نه ډک دی.

فتح الرحمٰن هلے یعنی د مرګ د سختئ نه روستو د منکر نکیر سوال او هغې نه روستو حشر او حساب او پل صراط باندے تیریدل او هغې نه روستو دوزخ یا جنت ١٢.

تفسیر ٨ے فما لهم - دا زجر دے په دوئ څه شویدی چه ایمان نه راوړی حال دا دے چه د دوئ د انکار او اعراض کوم معقول وجه نشته او کله چه دوئ ته قرآن لوستلے شی نو عاجزی نه کوی او د ده احکامو ته سر نه ښکته کوی. بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ. د ماقبل نه ترقی ده چه قرآن واوری نو صرف دا نه چه سجده نه کوی بلکه هغوئ خو ئے بالکل منی نه. او هغه دروغ گڼری لیکن کوم څه چه هغوئ جمع کوی الله تعالیٰ هغه په ښه پیژنی او هغوئ ته به د هغې پوره پوره سزا ورکړی. مَا يُوْعُوْنَ. کوم کفر او دشمنی چه هغوئ په خپلو زړونو کښ جمع کوی. بما یجمعون فی الصدور من الکفر والعداوۃ. (مظهری).

٩ے فبشرهم. دا مشرکانو دپاره تخویف اُخروی دے، هغوئ ته دردناک عذاب باندے خوشخبری ورکړه د کفر او انکار سزا به هغوئ ته ډیره سخته ورکولے شی، اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا. استثناء متصل ده او مطلب دا دے چه د کافرانو نه څوک ایمان راوړی هغوئ به بچ کړے شی یا استثناء منقطع ده مطلب دا دے چه مؤمنانو دپاره داسے اجر دے چه هیڅ کله به نه ختمیږی او

اوبه به کمېږي ۔

سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ

ربط دے سورة کښې د قیامت په احوالو باندے شواهد ذکر شویدي ۲. د تېر شوے سورة نه په طور د ترقئ ۔ د غه شان دے سورة کښې د توحید ذکر دے ۔

خلاصه

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۔۔۔ تا ۔۔۔ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۔ د قیامت په احوالو باندے شواهد ۔ قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۔۔۔ تا ۔۔۔ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ ۔ متعلق د دریم شاهد سره په طریقه د لف اونشر غیر مرتب ۔ کافرانو به دُنیا کښې مسلمانانو ته تکلیفونه ورکول او په هغے به شاهدوو د قیامت په ورځ به د دے په عکس معامله وي الَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ ۔الآیة ۔ د توحید بیان علیٰ سبیل الترقی یعني ټول هرڅه د الله تعالیٰ په قبضه او تصرف کښې دي او صرف هغه حاضر او ناظر دے لهٰذا په حاجتونو او مصیبتونو کښې صرف هغه ته اواز کوئ ۔ اِنَّ الَّذِیْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِیْنَ ۞ الآیة ۔ تخویف اُخروي ۔ اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ الآیة ۔ بشارت اُخروي ۔ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِیْدٌ ۞ دا دویم شاهد سره متعلق دے ، څنګه چه د قیامت وعده سخته ده د غه شان د الله تعالیٰ نیول هم ډېر زیات سخت دي ۔ اِنَّهٗ هُوَ یُبْدِئُ ۔۔۔ تا ۔۔۔ فَعَّالٌ لِّمَا یُرِیْدُ ۔ متعلق د دویم شاهد سره ۔ هَلْ اَتٰىكَ حَدِیْثُ الْجُنُوْدِ ۔۔۔ تا ۔۔۔ وَاللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِیْطٌ ۔ اول شاهد سره متعلق دے ، څنګه چه اسمان په تاسو محیط دے او تاسو هغے نه هیڅکله بهر نه شئ وتلے ۔ دا په دے شاهد دے چه د غه شان الله تعالیٰ په تاسو محیط دے او د قیامت په ورځ به تاسو هغه د عذاب نه هیچرته هم وتلے او تښتیدلے نه شئ ۔ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ ۔۔۔ تا ۔۔۔ آخر ۔ دا بَلِ الَّذِیْنَ سره متعلق دے ۔

سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ مَكِّیَّةٌ وَّهِیَ اثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اٰیَةً وَّفِیْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة البروج لے مکه کښې نازل شو دوه ویشت ایتونه دوه او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع دا الله په نوم چه ډېر زیات مهربان او ډېر رحم کوونکے دے ۔

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۙ﴿۱﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۙ﴿۲﴾

قسم دے په آسمان چه په هغې کښې برجونه دي فـ۱ او په هغه ورځ چه د هغې وعده شوې ده فـ۲

وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۗ﴿۳﴾ قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۙ﴿۴﴾

او په هغه ورځ چه حاضریږي فـ۳ او د هغې ورځې چه په هغې کښې حاضریږي فـ۴ مړه او وژل شول د کنستونو کندو

النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۙ﴿۵﴾ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۙ﴿۶﴾

د اور چه د ډیر خشاکو والا دے کله چه هغوی د هغه (اور) په غاړه کیناستل

وَّهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ۗ﴿۷﴾

او کوم څه چه هغوی کول مسلمانانو سره خپلو سترګو سره ئے لیدل

وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

او د هغوی نه ئے بدله نه اخستله لیکن د دے خبرے چه هغوی ایمان راوړو په الله

الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ﴿۸﴾

غالب صفتونو والا۔

نکات: ۱ د شواهد ذکر د قیامت په حالات۔ ۲ متعلق د رهم شاهد سره ۱۲۔

موضح قرآن فـ۱ د دے سورت د نازلیدلو سبب دا دے چه د مکے کافرانو د مسلمانانو په وجه مسلمانانو ته هر قسم تکلیفونه رسول هغوی دا شکایت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اورسولو، نبی علیه السلام اوفرمائیل چه یو وخت به داسے راشي چه د دے بدله به تاسو واخلئ، کافرانو چه کله دا واوریده نو ملامت کول او ټوقې خندا ئے شروع کړې او وے وئیل چه دا سے کمزورو او ذلیلو څه قدرت دے چه زمونږ نه بدله واخلي که چرے زمونږ عزت او د دوی ذلت الله ته منظور نه وے نو مونږ به په دوی والے غالب کیدلے نو څه مونږ په نصیب دا الله فضل دے او د دوئ په نصیب خرابي. الله تعالی د دے په جواب کښې دا سورة رااولیږه تفسیر فتح العزیز نه اوبیکل شو.

فـ۲ ټولو ښارونو کښې حاضریږي د جمعے ورځ او ټول خلق حاضریږي عرفه ورځ پانده ے حج کښې۔

فتح الرحمٰن فـ۱ یعني دولس برجونه ۱۲ فـ۲ یعني د قیامت ورځ۔ فـ۳ د جمعے ورځ ۱۲ فـ۴ یعني د عرفه ورځ ۱۲۔

باندے ضرور مجازات متحقق دے ۱۲۔

تفسیر

۲ وَالسَّمَاءِ۔ دا د قیامت په ثبوت باندے اول شاهد دے او د قسم جواب محذوف دے، دا اسمان چه په تاسو ئے احاطه کړیده او دغه د کبیری نه تاسو نشئ وتلے دا په دے شاهد دے چه د غه شان الله په تاسو احاطه کوونکے دے او د قیامت په ورځ به تاسو دغه د عذاب نه هیڅ ته نشئ تښتیدلے۔ د بروج نه دولسْ برجونه مُراد دی کوم چه نمر به پټول کال کښې او سپوږمئ ئے په یوه میاشت کښې قطع کوی یا د دے نه اته ویشت منازل د سپوږمئ مُراد دی۔ (کبیر)۔

۳ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ۔ دا د قیامت په ثبوت باندے دویم شاهد دے او د دے قسم جواب محذوف دے۔ یومِ موعود نه د قیامت ورځ مُراد ده ځکه چه د قیامت وعده کړے شوے ورځ به ډیره سخته او ویره دونکی وی دغه شان به دغه ورځ کښې په مجرمانو باندے د الله تعالیٰ گرفت هم سخت وی، وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُودٍ۔ دا د قیامت په ثبوت باندے دریم شاهد دے دَ شاهد نه هغه کافران مُراد دی چه په دُنیا کښې به ئے مُسلمانانو ته تکلیف ورکولو او د تکلیف ورکولو په وخت به هغوی سره حاضر وو۔ دَ مشهود نه هغه مسلمانان مُراد دی چا ته چه به تکلیفونه رسولے شول۔ دا شاهد دے چه د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ دغه کافرانو ته سخت سزا ورکوی، دغه ورځ به مسلمانان د کافرانو د عذاب شاهد وی او هغوی به مشهود وی۔

۴ قُتِلَ۔ دا دریم شاهد سره متعلق دے۔ قتل ای لعن۔ الاخدود۔ خندقونه۔ النَّارِ هغے نه بدل الاشتمال دے۔ الوقود۔ خشاک۔ اصحاب الاخدود نه هغه مشرک بادشاه او د هغه خواص مراد دی چه د توحید والا به ئے خندقونو کښې سیزل۔ وائی چه یو بادشاه وو د یو بُت عبادت به ئے کولو او خلق به ئے هم دغه په عبادت مجبورول هغه لوئے لوئے خندقونه او کنستل په هغے کښې ئے ډیرزیات خشاک واچولو، اور ئے بل کړو کوم سړی چه به د بُت د عبادت نه انکار کولو هغه به ئے د غه اور ته غورځولو د غه دوران کښې ئے یوه ښځه نیولے راوستله چه په غیږ کښې ئے بچے وو هغه ښځے ته هغوی او ویل که چرے ته د بت عبادت نه کوے نو ستا بچے به په اور کښې غورځولے شي لیکن ښځے د هغوی د دعوت نه هیڅ اثر وانه خستلو او په شرک راضی نه شوه آخری دغه ظالمانو د هغے نه بچے واخستو او ور ته ئے او غورځولو، نزدے وه چه د ښځے په زړه کښې کمزوری راشی بچے د اور د مینځ نه آواز اوکړو۔

اندر آ مادر، که من اینجا خوشم
گرچه در ظاهر میان آتشم

چه په غیر د څه شک او تردد نه اور ته را اودانګه اګرچه په ظاهره زه اور کبل یم لیکن
حما دپاره اور ګل ګلزار او سپرلے ګرځیں لے دے. پس هغه ښځے هم اور ته او دا شکل.
اِذۡ هُمۡ عَلَیۡهَا قُعُوۡدٌ. کله چه هغه مشرکان هغه قونو باندے ناست وو او مسلمانانو
سره چه څه کول هغه ئے سترګو باندے لیدل.

۵ وَمَا نَقَمُوۡا. دغه مسلمانانو باندے د قهر او غصے وجه صرف دا
وه چه هغوی شرک پریخودے وو او صرف ذیو الله تعالیٰ په وحدانیت باندے
ئے ایمان راوړے وو هغه الله په ټولو غالب دے، د هر صفت او خوبئ مالک
دے او د حمد او ثنا مستحق دے. اَلَّذِیۡ مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ. دا د توحید
بیان دے علیٰ سبیل الترقی هغه د ټولو کائنات بادشاه دے ټول جهان کښ
د هغه تصرف دے او اختیار هغه عالم الغیب او حاضر ناظر دے، د دے
وجه نه په حاجتونو کښ او مشکلات کښ صرف هغه ته آواز کوئ او د هغه نه سوا
بل څوک مه رابلئ.

اَلَّذِیۡ لَهٗ مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَاللّٰهُ
د چا چه بادشاهی ده په آسمانونو کښی او په زمکه کښی او د الله
عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ شَهِیۡدٌ ﴿۹﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ فَتَنُوا
په مخکښ دے هر څیز فرا بیشکه ئے چاچه تکلیف رسولے دے
الۡمُؤۡمِنِیۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ ثُمَّ لَمۡ یَتُوۡبُوۡا
مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته بیا ئے توبه اونه ویستله
فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ
نو د هغوی دپاره عذاب د دوزخ دے او د هغوی دپاره عذاب
الۡحَرِیۡقِ ﴿۱۰﴾ اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا
د اور دے بیشکه کوم خلقو چه ایمان راوړو او وے کړل
الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ جَنّٰتٌ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا
نیک کارونه هغوی دپاره باغونه دی چه د هغے د لاندے بهیږی

الْأَنْهٰرُ ۬ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ﴿١١﴾ اِنَّ

نهرونه دا دے لوئے مراد موندل دی بیشکه ۸ دے

بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ؕ﴿١٢﴾ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ

ستا د رب نیول سخت دی بیشکه ۹ دے هم هغه (الله) اول ځل دا کار کوی

وَيُعِيْدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ﴿١٤﴾ ذُو الْعَرْشِ

او دویم ۲ ځل او هغه دے بخښونکے محبت کوونکے مالک د عرش

الْمَجِيْدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ؕ﴿١٦﴾ هَلْ اَتٰىكَ

د لوئے شان والا کوونکے د هغه څه چه اوغواړی ایا راغلے ده

حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُوْدَ ؕ﴿١٨﴾ بَلِ

خبره تا ته دا ے د لښکرو د فرعون او د ثمود هیڅ نه ده داسے

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ ﴿١٩﴾ وَّاللّٰهُ مِنْ

۱۲ دے بلکه منکرین دی دوی کښ تکذیب او الله معنوی

وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ ﴿٢٠﴾ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿٢١﴾

بانددے د هرطرف نه احاطه کړیده دا بے نه ده بلکه دا قرآن دے د لوئے شان والا۔

فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿٢٢﴾

لیکلے شوے په لوح محفوظ کښ

نکات

۱ د توحید بیان علی سبیل الترقی ۱۲ ۲ تخویف اُخروی ۱۲۔
۳ بشارت اُخروی ۱۲۔ ۴ متعلق د دویم شاهد سره ۱۲۔
۵ متعلق د اول شاهد سره ۱۲۔ ۶ دا هم متعلق دے د اول شاهد سره ۱۲۔

موضح قرآن

ف دیو بادشاه پالے شوے (تش د خولے وئیلے شوے) خوئے وو بادشاه به هغه ساحر ته لیږلو چه سحرزده کړی هغه به یو راهب سره کینا ستلو انجیل یادولو د پاره الله تعالی هغه ته کمال ورکړو (ولایت او کرامت) چه زمرے او مار به هم د هغه خبره منله او ابرص مرض والا او ړانده به د هغه مسح کولو سره صحت یاب کرځیدل بیا د هغه د وجه نه

ډیر و خلقو په الله او حضرت عیسٰی علیه السلام باندے ایمان راوړو، بادشاه بت پرست وو هغه چه د دے خبرے نه خبر شو هغه هلک (کوم چه یے په حوځے نیولے وو) هغه یے قتل کړو او بیا د ښار د هرے محلے مخے ته یے خندق (کنده او کنستله هغه یے د اور نه ډکه کړله د هرے محلے نه به یے سړی او ښځے نیولے راوستلے چا چه به بت ته سجده نه کوله هغه به یے په اور کښی غورځول، په زرګونو انسان یے شهیدان کړل کله چه د الله تعالٰی غضب نازل شو هغه اور خور شو د بادشاه او امیرانو کورونه یے اوسوزول۔

ف۲ یعنی د دُنیا او آخرت عذاب ۱۲۔

فتح الرحمن ف۱ مترجم وائی یو جابر او ظالم بادشاه خپل رعیت په کفر مجبورولو او کله چه به څوک نه کافر کیدل نو هغه به یے د اور نه ډک خندق او کنده کښی غورځولو۔ الله تعالٰی هغه اور په بادشاه او د هغه سره ناسته کوونکو باندے مسلط کړو د خندقونو نه خور شو او ټول یے اوسیزل ۱۲ والله اعلم۔

تفسیر ف۶ إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا۔ دا تخویفِ اُخروی دے کوم کافرانو او مشرکانو چه مؤمنانو سړو او ښځو ته خالص د توحید په وجه مختلف قِسم تکلیفونه او ضررونه رسولے دی او بیا یے توبه نه ده ویستلے او ایمان یے نه دے راوړے هغوی د پاره د جهنم او د سخت اور عذاب دے فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ بسبب کفرهم وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ بسبب فتنتهم المؤمنین والمؤمنات (روح ج ۳۰ ص ۹۱)۔

ف۷ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا۔ دا بشارتِ اُخرویه دے کوم خلقو چه اِیمان راوړو او نیک کارونه یے اوکړه او د خپل دین په سفا طرے تکلیفونه برداشت کړل هغوی د پاره د نعمتونو باغونه دی چه په هغے کښی به د هر قسم مشروبات نهرونه جاری وی۔ د دوزخ نه بچ کیدل او د داسے نعمتونو باغونو کښی داخلیدل ډیره لویه کامیابی ده چه د قیامت په ورځ به مؤمنانو د پاره مخصوص وی۔

ف۸ إِنَّ بَطْشَ۔ دا دویم شاهد سره متعلق دے په آخرت کښی به مؤمنان جنت ته داخلولے شی او کافران به دوزخ ته څنګه چه د قیامت ورځ ډیره سخته ده دغه شان په کافرانو باندے به د الله گرفت او عذاب هم ډیر سخت وی، هغوی په دُنیا کښی کفر او شرک هم کوی قیامت کښی به د هغوی نه د دے بدله اخستلے شی ۱۲۔

ف۹ إِنَّهُ هُوَ۔ دا هم دویم شاهد سره متعلق دے الله تعالٰی اول ځل پیدا کوونکے دے او صرف هغه به ټول خلقو له دوباره پیدا کوی، هغه توبه ویستونکو له بخښونکے دے، فرمانبردارو سره محبت کوونکے دے د عرشِ عظیم مالک۔ ذلوے شان والا دے، هغه د ټولو څیزونو مالک دے لیکن فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ هم دے، هغه چه د کوم شی اراده اوکړی د هغے پوره کوونکے هم دے دے کښی تخویفِ اُخروی طرف ته اشاره ده۔

ف۱۰ هَلْ أَتَاكَ۔ دا د اول شاهد سره متعلق دے څنګه چه آسمان په

په ټولو محیط دے او هغوی د دے نه هیڅ چرته هم نشي تښتیدے لے دغه شان الله تعالی هم د دوی ټولو باندے محیط دے د هغهٔ د عذاب نه نشي بچ کیدے ، فِرْعَوْنَ وَثَمُوْدَ د الْجُنُوْد نه بدل دے ایا تا سوته د فرعون او ثمود قصه نه ده معلومه چه هغوی څنګه عناد او سرکشی سره حضور د پیغمبرانو تکذیب اوکړو او مؤمنانو ته ئے قسم قسم تکلیفونه اورسول ، استفهام تقریری دے یعنی د دے ټولو خبر وعلم تاسو ته شته دے ۔

ا۱ بَلِ الَّذِيْنَ . دا هم د اول شاهد سره متعلق دے د دومره دیر بیان او نصیحت نه روستو خو اوس څهٔ شبه باقی پاتے نه شوه لیکن هغوی بیا هم تکذیب کوی بلکه په تکذیب کښ غرق دی او ښوتلے دی الله تعالی په هغوی ته په دُنیا او آخرت کښ د هغے سزا ورکوی هغه په دوی إحاطه کړے ده ۔ د دے وجه نه هغوی چرته نشي تښتیدے څنګه چه آسمان په ټولو باندے محیط دے ۔ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ۔ الآیة ۔ (الرحمٰن) ۔

۱۲ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ ۔ الآیة ۔ دا بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ سره متعلق دے کافران دا قرآن دروغ ګنړی دا سے نه ده بلکه دا ډیر لوئے مرتبے والا کتاب دے چه د دوی د قدرت نه بهر دے د دوی د عناد او سرکشی د وجه نه د دوی په زړونو باندے د جبّاریت مُهر لګیدلے دے . تا ئید : بَلْ زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ وَصُدُّوْا عَنِ السَّبِيْلِ ( ) فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ۔ دا قرآن په دے لوح کښ لیکل شوے دے چه د شیطانانو د رسیدلو نه محفوظ او په دے کښ هیڅ قسم تغیر او تبدیلی نشي کیدے ۔ دا امام نافع په قرآئت کښ محفوظ مرفوع دے او د قرآن صفت دے یعنی قرآن د هر قسم تغیر او تبدیلئ نه محفوظ دے یا د کافرانو نه محفوظ دے هغوی په دے نه شي پوهیدلے (قاله الشیخ رحمه الله تعالی) ۔

سُورَةِ البُرُوج کښ د توحید آیت

۱. الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ، الآیة ۔ نفی د شرک فی التصرف

سُوْرَةُ الطَّارِق

رَبط سورۃ البروج کښې د قیامت په ثبوت باندې دَ شواهدو ذکرووُ دغه شان دَ تخویف دُنیوی او اُخروی او بشارت اُخروی بیان وو، اوس په سورۃ الطارق کښې ئې اوفرمائیل فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا. دا دې واضح بیانات او وجود هغوی نه مني بلکه دروغ ئې ګڼړی نو هغوئي ته لږ شان مهلت ورکړه کچرې بیا هم نه مني نو هغوئي به او نیولې شي.

خُلاصه

وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ ـــــ تا ـــــ اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ. دا تخویف دې تاسو ټولو باندې نګران فرشتې مقرر دي چه ستاسو اعمال لیکي ددې وجه نه د هر عمل به پوره سزا ورملاویږي. فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ـــــ تا ـــــ فَمَالَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ. حشر او نشر باندې عقلي دليل په طور د نمونه. الله تعالیٰ چه د اوبو د څاڅګی نه انسان پیدا کولې شي هغه انسان د مرګ نه روستو پیدا کولو باندې هم قادر دې. وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ـــــ تا ـــــ وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ. دا په حشر او نشر باندې دویم عقلي دليل دې په طور د نمونه، څنګه چه الله تعالیٰ اسمان نه باران وروی او د زمکې نه شینکی راز رغونوی دغه شان هغه د مړو دوباره ژوندی کولو باندې هم قادر دې.

اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ۝ شکوی په کافرانو باندې. فَمَهِّلِ الْكَافِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ۝ تخویف.

سُوْرَةُ الطَّارِقِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورۃ الطارق مکه کښې نازل شوې ده ایتونه اوولس او رکوع یوه ده.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر بخښونکې او ډیر رحم کوونکې دې

وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ ۝۱ وَمَا اَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ۝۲

قسم دې وې په اسمان او په ستاره کښې راتلونکی باندې، او ته څه پوهه شوې څه دې په ستاره کښې راتلونکی

النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾ اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا

هغه ستوری دے پر قیدونکے وا هیڅ یو نفس نشته چه په هغه نشته یو

حَافِظٌ ﴿٤﴾ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾

نګهبان ولا اوس ۳ دے د اوګوری انسان چه د څه نه جوړ شوے دے۔

خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾ يَّخْرُجُ مِنْۢ بَيْنِ

ذیو توپ وهونکی اوبو نه چه راوځی د شا مینځو نه

الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ ﴿٧﴾ اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ

او د سینو د مینځ نه و ۳ بیشکه هغه ګے دده واپس کولو

لَقَادِرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهٗ مِنْ

باندے قادر دے ولا کومه ورځ چه اوازمایلے شي پټ (رازونه) نو هیڅ به نه وی د

قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ﴿١٠﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾

هغه طاقت او نه څوک إمداد کولو والا۔ قسم دے ۵ اسمان چکر لګوونکی باندے

وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلٌ

او زمکه چاودونکی باندے ولا ۵ بیشکه ٦ دا خبره

فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ

فیصله شویده او نه ده دا خبره د خندا بیشکه هغوئی ے تکیدلی دی په

كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ

یو فریب کولو کښ ولا او زه ۲ تکیدلے یم په تد بیر کښ پس مهلت ورکړه ۵ انکار کوونکو ته

اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾

مهلت ورکړه هغوئی ته لږ وروخو د پاره۔

نکات سـ۱ تخویف ۱۲۔ سـ۲ حشر نشر باندے اولنے عقلی دلیل ۱۲۔
سـ۳ حشر او نشر باندے دویم عقلی دلیل ۱۲۔ سـ۴ تخویف ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ ددے سورۃ دَ نازلیدلو سبب ۔ یوه شپه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم تره ابُو طالب مُلاقات دپاره تشریف راوړه طعام ئے خوړلو یو ستورے دَ آسمان نه راجُدا شو زمکے ته نزدے راورسید و رڼړا ئے دومره زیاته شوه چه د ابُو طالب سترگے حیرانے شوے نظر ئے کمزورے شو اوویریدهٔ دَ خوراک نه ئے لاس راښکلو پاخیدهٔ اؤ وے ویُل دا څهٔ دی، حضورؐ اوفرمائیل دا یو ستورے دے کوم ستورے چه آسمان کښ دی دَ هغے دچمک اؤ رڼړا نه پیدا کیږی ۔ دَ آسمان دحفاظت دپاره د شیطانانو نه فرشتے هغه گذاری شیطانان پرے وِلی، دا هم دَ الله په قدرت باندے یو دَلیل دے. ابُو طالب تعجب کووُنکے شو ناست ووچه جبرئیل امین دا سورۃ نازل کړو. دا فائدۃ تفسیر فتح العزیز نه اولیکل شوه ۔

ف۲ ویُلے شویدی چه د سړی مَنی دشا نه راځی اؤ دَ ښځے دَسینو نه ۔

ف۳ یعنی دُنیا ته یے بیا راولی دَ مرگ نه پس۔

ف۴ یعنی د هغے دَ چو دلو سره فصلونه اؤ ونے راوځی ۱۲۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی دے دپاره چه دا نه بهر ته راشی۔

ف۲ اؤ دا وعده دَ بدر په ورځ متحقق شوه سره ته اورسیدله ۱۲۔

تفسیر

۲ وَالسَّمَاءِ۔ دا په تخویف اُخروی باندے شاهد دے ۱۲ یعنی په آسمان باندے دَ شپے پړقیدونکی ستورے گواه دے چه څنگه هغه ستورے روښانه اؤ قائم اوسیږی. دغه شان تاسو باندے هر یو باندے فرشتے نگران مقرر دی چه دهغهٔ ټول اعمال خیر اؤ شر لیکی. اِنْ كُلُّ نَفْسٍ الخ ۔جواب قسم دے ۔ هو من یحفظ عملها من الملائكة علیهم السلام ویحصی علیها ما تكسب من خیر او شر الخ (روح ج ۳۰ ص۹۶) ۔ النَّجْمُ الثَّاقِبُ (پړقیدونکی ستوری نه) روښانه ستورے مُراد دے چه په ښکاره باندے دنورو ستورو په نسبت زیاته روښانه وی یا به ثریّا مُراد وی یا زحل ۔ (مظهری)۔

۳ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ ۔ دا دَ حشر نشر دپاره اوله عقلی نمونه ده انسان دے په دے باندے غور اوکړی چه الله تعالیٰ هغه څنگه دیو پ وهونکی اوبو (نطفه) نه پیدا کړیدے چه دَ ملا اؤ دسینو هډوکو د مینځ نه راوځی ۔ (کبیر)۔

۴ اِنَّهٗ عَلٰی رَجْعِهٖ ۔ څنگه چه الله تعالیٰ اول انسان د نطفه نه دَ پیدا کولو قدرت لری دَ غه شان هغه دوباره ژوندی کولو اؤ دَ مرگ نه دَ ژوند طرف ته واپس کولو باندے قادر دے. يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ظرف رَجْعِه سره متعلق دے (کشاف) څنو ویُلے دی چه ددهٔ متعلق یرجعه محذوف دے چه په هغے باندے رجعه دَلالت کوی. تبلی تکشف (مدارک)۔

د انسان دوباره ژوندی به هغه ورځ وي چه په هغې کښې به ټول پټ رازونه هم ظاهره ولې شي، دغه ورځ به د انسان سره هیڅ قوت نه وي چه هغې سره دځان حفاظت اوکړي او نه به د هغه مدد ګار وي چه د الله تعالیٰ دعذاب نه هغه خلاص کړي.

۵ وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ. دا په حشر او نشر باندې دویم عقلي شاهد دے. ذَاتِ الرَّجْعِ. باران والا، ځکه چه باران د آسمان طرف نه وریږي. ذَاتِ الصَّدْعِ. د شنو اونو بوټو والا. ځکه چه د زمکې شلیدلو سره نباتات (شینکي) را زرغونیږي. جواب قسم محذوف دے. اي كذالك تخرجون يعنې څنګه چه مونږ د آسمان نه باران اوورووو او د زمکې نه شینکي راټوکوؤ. دغه شان به د قیامت په ورځ تاسو هم پیدا کړو او د زمکې نه به هم را اوباسو. (قاله الشيخ رحمه الله).

۶ اِنَّهٗ لَقَوْلٌ. د اِنَّهٗ ضمیر ذکر شوې کلام طرف ته راجع دے کوم کښې چه د بعث بَعْدَ الْمَوْت او جزا سزا ذکر دے يعنې دا دعوىٰ چه تاسو ټول به دوباره پاڅولې شئ او د خپلو نیک او بد عمل جزا او سزا به مومئ حتمي او فیصله کونکې خبره ده یا ټوقې او عبث خبرې نه دي. واقول ويجوزان يعود والضمير في انه على الكلام الذي اخبر فيه ببعث الانسان يوم القيامة وابتلاء سرائره اى ان ذلك القول قول جزم مطابق للواقع لاهزل فيه. (بحر ج ۸ ص ۴۵۵) یا دا ضمیر د قرآن نه کنایه ده چه په هغې کښې د توحید د مسئلې د حشر نشر او جزا او سزا ذکر دے (روح).

۷ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا. دا شکوىٰ ده او د دې حصې د ټولو سورتونو سره متعلق دے. کافران او مشرکان د حشر او نشر جزا او سزا نه انکار کولو او باطلولو د پاره حیلې بهانې او تدبیرونه سوچ کوي لیکن مونږ خپل لطیف تدبیرونو سره او کافي بیانونو او شافي جوابونو سره د هغوئ هره حیله باطلوؤ. یا د الله د تدبیر مطلب دا دے چه په طور د استدراج مهلت ورکوو او هغوئ دے حقیقت باندې نه پوهیږي چه دا مهلت هغوئ د پاره د عذاب باعث دے.

۸ فَمَهِّلِ الْكَافِرِيْنَ. دا تخویف دے د دا سې شواهد او بیانات باوجود هغوئ نه مني. هغوئ ضدیان او عنادیان دي هغوئ نه د ایمان توقع مه ساته او نه چه د هغوئ نه به انتقام اخستلو کښې د تلوار نه کار واخلې بلکه هغوئ ته مهلت ورکړې وخت راتللو سره به مونږ هغوئ نه په خپله انتقام واخلو. لکه چه په دُنیا کښې د بدر په میدان کښې بدله واخستل شوه او د آخرت عذاب د دې نه هم زیات دردناک او هیبتناک دے. قال ابن عباس رض هذا وعيد من الله عزوجل فقد اخذهم الله يوم بدر. (مظهري ج ۱۰ ص ۲۴۲).

❖ ❖ ❖ ❖

سُورَةُ الأَعلىٰ

ربط

دَ مشرکانو رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اختلاف دوه درو اهمو مسئلو کښې وو، اول د توحید مسئله کښې، دویم حشر او نشر جزاء او سزا کښې. سورة الطارق پورې دَ قیامت دَ مسئلې بیان وو او س د سورة اعلیٰ نه واخله تر آخر پورې به د توحید دَ مسئلې بیان وی دَ توحید د مسئلې نه دَ مشرکانو د اعراض لویه وجه دنیوی عیش او عشرت کښې پوره ښوتل دی ددې وجه نه دَ توحید دَ مسئلې سره به د تزهید فی الدنیا (د دنیا نه بې رغبتی) مضمون هم ځائې په ځائې ذکر کیږی ځنې سورتونو کښې به دواړه مضامین ذکر کیږی ځنې کښې به صرف یو او ځنې کښې به صرف د تخویف اخروی ذکروی مینځ کښې به دوه سورتونو کښې. یعنی وَالضُّحیٰ او اَلَمْ نَشْرَحْ کښې به نبی کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامؓ دپاره د تسلئ مضمون ذکر کیږی.

خُلاصه

سورة الاعلیٰ چونکه ددې حصې مبداء ده. ددې وجه نه دې کښې توحید او تزهید فی الدنیا دواړه مضامین ذکر شویدی. سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ـــــ تا ـــــ فَجَعَلَهُ غُثَاءً أَحْوَىٰ ۝ د توحید دَ دعوی په اول جزء باندې دلائل او شواهد. د دینه معلومیږی چه کارساز صرف الله تعالیٰ دې. سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰ. دَ اول دعوی په ابلاغ او بیان باندې انعام. إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ. دویمه دعوی صرف الله تعالیٰ عالم الغیب دې بل هیڅوک عالم الغیب نشته. وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ. د دریمې دعوی په تبلیغ باندې انعام. فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ الذِّكْرَىٰ. د دواړو نه روستو تسلی نبی کریم صلی الله علیه وسلم دپاره. الَّذِي يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرَىٰ. الآیتین. تخویف اخروی. قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ. الآیة. بشارت اخروی. بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا. الآیتین. د تزهید فی الدنیا مضمون. إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ـــــ تا آخر توحید او تزهید فی الدنیا باندې دلیل نقلی.

سُورَةُ الأَعْلَىٰ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ تِسْعَ عَشْرَةَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعٌ وَاحِدٌ

سورة اعلیٰ په مکه کښې نازل شویده او د دې نولس آیتونه او یو رکوع ده

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکې دې.

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِي خَلَقَ

پاکی بیان کړه ۲ د نوم د رب خپل ۱ چه ډېر لوړ دے ۲ هغه چه پیدا کړو

فَسَوَّى ﴿٢﴾ وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى ﴿٣﴾ وَالَّذِي

بیا ئے برابر کړو او هغه چه اندازه ئے کړل پس لاره ئے اوښوده هغه لره او هغه چه

أَخْرَجَ الْمَرْعَى ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُ غُثَاءً أَحْوَى ﴿٥﴾

راویستلو تازه گیاه پس وګرځوله هغه وچه توره ۳

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسَى ﴿٦﴾ إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ

مونږ به ضرور لوستو ته تا یاد به ئے کړو پس ته به ئے نه هیروې ۴ لیکن کوم چه او غواړي الله

إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفَى ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ

هغه ته معلوم دي ۵ کوم چه ښکاره او کوم چه پټ دي هغه ۶ او به مزه مزه به رسوو

لِلْيُسْرَى ﴿٨﴾ فَذَكِّرْ إِنْ نَفَعَتِ الذِّكْرَى ﴿٩﴾

مونږ تا لره اسانۍ ته ۷ پس پند نصیحت ئے ورکړه ته که چرے فائده ورکړے پوهول

سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَخْشَى ﴿١٠﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى ﴿١١﴾

پوهه به شي څوک چه ویرېږي او ډډه به او کړي د هغے نه بد قسمت

الَّذِي يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرَى ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا

هغه څوک چه داخل به شي لوئے اور ته بیا به نه

يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَى ﴿١٣﴾

مري به هغے کښې او نه به ژوندے وي۔

نکات

سلـ۱ د دعویٰ توحید د دواړو حصو ثمره ۱۲ سلـ۲ د توحید د دعویٰ اول حصه باندے دلائل او شواهد ۱۲۔ سلـ۳ د اول دعویٰ په ابلاغ باندے اتمام ۱۲۔ سلـ۴ دویمه دعویٰ ۱۲ سلـ۵ د دویمے دعویٰ په تبلیغ باندے اِنعام ۱۲۔ سلـ۶ د دواړو دعوو نه روستو تسلی نبی علیه السلام د پاره ۱۲ سلـ۷ تخویف اُخروی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ د سورة اعلیٰ د نازلیدو سبب دا دے کله لوئے لوئے سورتونه چه د ډیر بے حساب او بے اندازے علومو نه ډک وو د جبرئیل علیه السلام په واسطه سره نبی علیه السلام باندے نازلیدل شروع شول د نبی علیه السلام خیال کښې راغلۀ چه زۀ خو خالص اُمّی. بے لیک لوست یم دا الفاظ او دا معانی به څنګه بغیر د لیکلو نه یاد کړم هسے نه چه را نه هیر شی او په رسالت کښې نقص او کمے واقع شی الله تعالیٰ د هغۀ د تسلئ د پاره دا سورة نازل کړو خوشخبری ئے ورکړه چه ته د هیریدو فکر مۀ کوه ستا رَبّ به ستا اُستاذی کوی. تفسیر فتح العزیز نه اولیکل شوه ۱۲۔

ف۲ یعنی اول ئے تقدیر اولیکۀ بیائے د هغے موافق دُنیا ته راوستلو ۱۲۔

ف۳ یعنی اوچ او تور ۱۲۔ ف۴ یعنی ته په زړه سره لوستل مۀ کوه ۱۲۔

ف۵ لیکن چه کوم الله اوغواړی یعنی نسخ کول اوغواړی ۱۲. دا سے سورة سره چه د رنه هیرے کړی ښکاره او پټ یعنی کوم کمال او استعداد چه تا سو کښې ښکاره دے او کوم چه ستا په استعداد کښې پټ دے چه اوس به هغه ظاهر یږی ۱۲. فتح العزیز نه اولیکل شوه ۱۲۔

ف۶ یعنی د وحی یاد ساتل به آسان شی ۱۲۔

ف۷ نۀ به ژوندے وی څکه چه د هغۀ روح ته به آرام نۀ وی همیشه به په عذاب کښې راګیر وی تر دے چه د مرګ ارزو به کوی او مرګ به هغۀ ته نۀ راځی. دا سے ژوند په حقیقت کښې ژوند نۀ دے. دا فائده د فتح العزیز نه اولیکل شوه ۱۲۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی ټول مخلوق ئے په اندازه کړو او د هغه اندازے موافق ئے په مخلوقات کښې تصرّف اوکړو دے د پاره چه هم هغه شکل او صورت په کار راولی پس هم د غه تصرّف نے هدایت سره تعبیر اوکړو. ف۲ مترجم وائی د نبی علیه السّلام د زړۀ نه دا آیتونه هیره ول دا هم دیو نسخ یو قسم دے. وَاللهُ اَعْلَمُ ۱۲۔

تفسیر

۲ سَبِّحِ اسْمَ دا د توحید د دواړو حصو نتیجه او ثمره ده، کله چه د راتلونکی بیان نه ثابته شوه چه کارساز، متصرّف او مختار او عالم الغیب صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نۀ دے نو هغه د شریکانو نه پاک اوګڼړئ او د هغۀ په رابللو او هغۀ ته آواز کولو کښې هیڅوک شریک مۀ ګرځوئ. وافتد ار اعلیٰ مالک، د خپل پروردګار. هر عیب او شرک نه قولاً او عملاً تنزیه او تقدیس (پاکی) بیان کړئ۔

۳ اَلَّذِیْ خَلَقَ د دعوئ توحید د اول جزء بیان یعنی الله تعالیٰ کارساز او متصرّف او مختار. هغۀ ټول پیدا کړل او صحیح اندامونه ئے جوړ کړل د بدن اندامونه ئے متناسب او ښائسته اوګرځول. خلق کل شیءٍ فسوی خلقه

تسویۃ ولحویات به متفاوتا غیر ملتئم ولکن علی احکام والتساق (مدارک).
وَالَّذِیْ قَدَّرَ فَهَدٰی. پیدا کولو نه روستو د ټولو د روزئ اندازه هم هغه مقرر کړه او بیا ئے هر یو ته د روزئ حاصلولو لاره هم او ښودله. وَالَّذِیْٓ اَخْرَجَ الْمَرْعٰی هغه د شارو و دپاره د واښه ګیاه پیدا کړل بیا ئے هغه او چه او زړه زړه کړل د وښو او چیډلو نه روستو بوره کړی. دا ټول صفات کمال د ے دلیل د ے چه کارساز صرف الله تعالیٰ د ے.

۴ سَنُقْرِئُكَ. دا اول دعویٰ باندے انعام د ے کله چه تاسو اول دعویٰ د توحید بیان کړئ چه کارساز صرف الله تعالیٰ د ے بل څوک نه د ے نو مونږ به قرآن تاسو ته په انعام کښ درکوو تاسو ته به قرآن لولواؤ تاسو ته به ئے داسے یاد کړو چه بیا به ستا سو نه هغه نه هیریږی. اِلَّا مَاشَآءَ اللّٰهُ. لیکن چه د کوم ایتونو تلاوت منسوخ کول منظور وی هغه به مونږ تاسو نه هیر کړو.

۵ اِنَّهٗ یَعْلَمُ. دا د توحید دویمه حصه ده یعنی عالم الغیب او په ټول هر څه عالم صرف الله تعالیٰ د ے بل څوک نه د ے. وَ نُیَسِّرُكَ لِلْیُسْرٰی. دا دویمه دعویٰ باندے انعام د ے یعنی چه کله تاسو دویمه دعویٰ بیان کړئ چه الله تعالیٰ نه سِوا هیڅوک عالم الغیب نشته نو الله تعالیٰ به ستا دپاره د جنت لاره اسانه کړی. ځنګه چه اوله دعویٰ دویمے دعویٰ دپاره په منزله د سبب ده یعنی څوک چه په ټول هر څه کوونکے او متصرف او کارساز وی هغه عالم الغیب وی هغه ته اواز کول پکار دی. د غه شان اول انعام هم د دویم انعام دپاره په منزله د سبب د ے ځکه چه د قرآن هدایت د دخول جنت موجب د ے.

٦ فَذَكِّرْ. د توحید د دعویٰ د دواړو حصو نه روستو نبی علیه السلام ته تسلی ده تاسو ته د مسئله توحید په وجه د دواړو انعامات درکړے شو لهٰذا چرته چه د وعظ نصیحت او تبلیغ فائده منديلو توقع وی هلته د دعویٰ توحید تبلیغ کوئ. اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰی. نه په ظاهره معلومیږی چه کله د تبلیغ نافع کیدلو مخکښ د ے علم وی نو هله تبلیغ کول پکار دی کنی نو نه د ے پکار حال دا د ے چه دا ضروری نه ده. نو د د ے جواب دا د ے چه د نصیحت نافع کیدلو دپاره علم ضروری نه د ے بلکه چرته چه د نفع توقع یا وهم هم وی هلته هم تبلیغ کول پکار دی لیکن چرته چه بالکل نا امیدی وی او د نصیحت فائده منديلو وهم هم نه وی یعنی کوم خلقو چه د زرے برابر اثابت نه موندلے کیږی هلته د ے نصیحت نه کوی. لکه چه ارشاد د ے فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰی عَنْ ذِكْرِنَا (النجم ع ۲). التذکیر والامر بالمعروف والنهی عن المنکر انما یجب اذا ظن نفعه ولذلك امر بالاعراض عمن تولیٰ. (مظهری ج ۱۰ ص ۲۲۵). د ے نه روستو د دواړو فریقو (ډلو) ذکر د ے چا ته چه

نصیحت او تبلیغ فائده ورکوی او چا ته چه فائده نه ورکوی.

۷ سَیَذَّکَّرُ. دے کښ د اول فریق ذکر دے د پینده او نصیحت او وعظ ارشاد نه صرف هغه خوک فائده اخلی د چا په زړونو کښ چه د خدای ویره او د الله طرف ته د انابت او رجوع جذبه موجود وی.

قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ ﴿۱۴﴾ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ

بیشکه شو کامیاب (فائده مند) شو هغه څوک چا چه ځان پاک کړو او واخستلو نوم د خپل رب

فَصَلَّىٰ ﴿۱۵﴾ بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿۱۶﴾

پس مونځ ئے اوکړو. هرګز (داسے) نه ده ځئے تاسو غوره کوئ ژوند د دنیا

وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿۱۷﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِي

او روستوني (د آخرت) کور بهتر دے او باقي دے. دا ئے لیکلی شوی دی

الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿۱۸﴾ صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿۱۹﴾

په ړومبنو پاڼو کښ په صحیفو د ابراهیم او د موسی ۳ کښ.

نکات ۸ بشارت اُخرویه ۱ ۹ تزهید فی الدنیا (دُنیا نه بے رغبت کول). ۱۰ توحید او تزهید.

تفسیر ۸ قَدْ أَفْلَحَ. دا وعظ او نصیحت قبلونکو د پاره بشارت اُخروی دے. په آخرت کښ به کامیاب هغه څوک وی څوک چه د شرک نه پاک وی او څوک چه په مصیبتونو او حاجتونو کښ صرف الله ته آوازکوی او د مونځ پابندی کوی. مَنْ تَزَكَّىٰ ای تطهر من الشرک بتذکره والتعاظه بالذکری. (روح). وذکر اسم ربه. په مصیبتونو او حاجتونو کښ صرف الله ته آواز اوکړو او د هغه نوم ئے وظیفه کړو. (الشیخ رحمه الله تعالیٰ).

۹ے بَلْ تُؤْثِرُوْنَ ۔ د توحید نه روستو د مضمون " تزهید فی الدنیا " ذکر۔ تاسو له پکار دی اے اهل مکه) چه تاسو پند او نصیحت قبلوئ او توحید موهم منلے لیکن تاسو اخرت باندے دنیا ته ترجیح ورکوئ۔ او ایمان او عمل سره د اخرت د تیاری په ځائے په عیش او عشرت او مال او زر جمع کولو کښ بوخت یئ۔ حال دا دے چه اخرت د دنیا په مقابله کښ هر لحاظ سره بهتر او باقی دے او باقی پاتے کیدونکے دے، دنیا او د دنیا هر څیز زوال قبلونکے او فانی دے لیکن د اخرت کور ازلی او د دغه هر نعمت لازوال او غیر فانی دے۔

نلے اِنَّ هٰذَا۔ دا په دواړو دعوو باندے دلیل نقلی دے د توحید مسئله ځنګه چه دے سورت کښ ذکر شویده او د دنیا د بے ثباتئ او د اخرت د دوام او بقاء مضمون۔ دغه شان دا دواړو مضمونونو نه مخکینو اسمانی صحیفو یعنی د ابراهیم او موسیٰ علیهما السلام په صحیفو کښ هم ذکر شوے وو۔ صحف ابراهیم وموسیٰ د الصحف الاولیٰ نه بدل دے۔

سورة الاعلیٰ کښ د توحید
ایاتونه

۱۔ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ـــــ تا ـــــ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰى ۝
نفی د شرک فی التصرف۔

۲۔ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفٰى ـــــ نفی د شرک فی العلم

سُوْرَةُ الْغَاشِيَه

ربط دا سورة د اول سورة تتمه ده او دے کښې خالص د تخویف اخروی بیان دے د بشارت ذکر بالتبع دے دیته روستو دے طریقے سره په یو سورت کښې به اصل دعوی ذکر کیږی او دویم سورت کښې به د هغے تتمه وی۔

خلاصه هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ____ تا ____ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ۝ تخویف اخروی۔ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ۔ ____ تا ____ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ ۝ بشارت اخرویه۔ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ ____ تا ____ وَاِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ۝ په مذکوره امور اربعه باندی تفریع ده په طریقه د لف نشر مرتب۔ فَذَكِّرْ اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ۔ الاٰیتین۔ تسلی نبی کریم صلی الله علیه واٰله وسلّم دپاره۔ اِلَّا مَنْ تَوَلّٰى وَكَفَرَ تا آخر تخویف اخروی

۞ ۞ ۞

سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة غاشیه په مکه کښې نازل شوے ده ایتونه شپږ ویشت او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

شروع د الله په نوم چه ډیر بښونکے او ډیر رحم کونکے دے

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ۝۱ وُجُوْهٌ

تا ته حقه خبر راغے ۲ دے د هغه پټوونکی ډیر مخونه ۳ دے

يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝۲ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝۳

په دغه ورځ ذلیل کیدونکی دی تکلیف راښکونکی ستړے او ستومانه دی

تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ۝۴ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ

راغورځیږی به ډیر ګرم اور ته او به به ملاو یږی د یو ډیرے ګرمے

اٰنِيَةٍ ۝۵ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۝۶

چینے نه نشته ۵ دے هغوی دپاره خوراک لیکن دازغی لرونکی ترخی (زوزان)

لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ⑦ وُجُوهٌ

او نه به چاغوی (بدن) او نه به لوږه دفع کوی ډیر مخونه به

يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ⑧ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ⑨ فِي

دغه ورځ تر و تازه وی په کوشش به راضی وی په

جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ⑩ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ⑪

اوچتو باغونو کښې نه به اوری په هغے کښې بیکاره خبرے

فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ⑫ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ⑬

په هغے کښې یوه چینه ده بهیدونکی په هغے کښې تختونه دی اوچت خواره

وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ⑭ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ⑮

او جامونه مخے ته کیښودلے شوی او بالښتونه کیښودلے شوی ترتیب

وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ⑯

او فرشونه دمخمل ځائے په ځائے غوړول شوی۔

نکات سـ۱ تخویف ۱۲ سـ۲ بشارتِ أخروی ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ کافران چه دنیا کښې ریاضت (عبادت) کوی هیڅ هم نه تملیږی. (از شاه عبد القادر صاحب)۔

فتح الرحمن ف۱ ضریع ډیو گیاه نوم دے چه ازغی لری۔

تفسیر سـ۲ هَلْ أَتٰكَ. هَلْ په معنیٰ دقَدْ دے یا استفهام تقریری دے. د دواړو حاصل دا دے چه تا ته د "الْغَاشِيَةِ" حال د دینه مخکښې معلوم شویدے. یا استفهام په خپل اصل باندے دے، او د دینه مخکښې تا سو ته د "غاشیة" علم نه وو او دا استفهام نه مقصود تعجیب او تشویق (تعجب کښې او شوق کښې اچول) مقصود دے. گویا چه د دے سوال په جواب کښې عرض او کړے شو. دا الغاشیة خو ما ته معلوم نه دے هغه څه شیٔ دے نو اوویل شو. وُجُوهٌ الخ د الْغَاشِيَةِ نه قیامت مراد دے چه دخپلو سختو او ویرے په وجه به ټولو احاطه کوونکے وی. سـ۳ وُجُوهٌ يَّوْمَئِذٍ. دا تخویفِ اُخروی دے، د دے ځائے نه واخله تر زَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ پورے دا الغاشیة بیان دے۔

والجملة الى قوله تعالى مبثوثة استيناف وقع جوابا عن سوال نشأ من الاستفهام التشويقى كانه قيل من جهته عليه الصلوة والسلام ما اتٰى فى حديثها، ما هو؟ فقيل وجوه الخ قال ابن عباس رضى الله تعالى عنهما لم يكن اتاه صلى الله تعالى عليه وسلم حديثها فاخبره سبحانه عنها فقال جل وعلا: وجوه يومئذ (روح ج ۳۰ ص ۱۱۲) خاشعة، ذليلة من الحزن والهوان (مظهرى) عاملة ناصبة اى تعمل اعمالا شاقة تتعب فيها وهى جر السلاسل والاغلال والخوض فى النار الخ (ابو السعود) او د وجوه نه اصحاب الوجوه يعنى كافران مراد دى (كبير) كافران او مشركان د نيا كښې نه خو د خداى په محبتكښې عاجزى كوى او نه د ايمان په خاطر سختى او تكليفونه برداشت كوى ليكن د قيامت په ورځ به ذلت او رسوائى سره ډيرزيات عاجز وى او د جهنم د مختلف قسم عذابونو ډيرو ډيرو سختو او ډير سخت تكليفونه به برداشت كوى.

۴ تصلى نارا حامية. ډيرزيات تيز اورچه د الله په دشمنانو باندے به لمبى وهى. قال ابن عباس رض قد حميت فهى تتلظى على اعداء الله (مظهرى، كبير) تسقى من عين انية. كله چه هغوى د جهنم ډيرزيات سخت گرمى كښې تږى شى نو په هغوى باندے به ډيوے گرمى چينے نه اوبه او څكلے شى چه د هغے نه به ډيرے زياتے گرمى او جوش وهونكى اوبه راخوټيږى. انية. ډيرگرم. بلغت منتهاها فى الحر (بيضاوى).

۵ ليس لهم. د دوزخيانو د مشروب ذكر كولو سره ئے د طعام ذكر او فرمائيلو. ضريع. يو ازغى لرونكى بوټے دے چه په زمكه باندے خورشوے وى ډيرزيات زهريله دے چه د هغے خواته نزدے څاروے هم نه ورځى چه شين وى نو شبرق او چه اوچ شى نو ضريع هغه ته ويلے شى، قال عكرمة ومجاهد الضريع نبت ذو شوك لاصق بالارض تسميه قريش الشبرق اذا كان رطبا، فاذا يبس فهو الضريع. لا تقربه دابة ولا بهيمة ولا ترعاه، وهو سم قاتل، وهو اخبث الطعام واشنعه، على هذا عامة المفسرين. (قرطبى ج ۲۰ ص ۲۹).

دوزخيانو ته به د خوراك د پاره ضريع قسم ازغى لرونكے ډير زهرژن بوټى وركولے شى چه نه خو به هغے سره خوړونكے څوړب گرځى او نه به د هغه لوږه ختموى.

۶ وجوه يومئذ. دا بشارت اخروى دے د قرآن مجيد دا قانون دے چه چرته د تخويف ذكر راشى هلته به هغے سره د بشارت ذكر هم كيږى، دلته هم د وجوه نه اصحاب الوجوه يعنى مؤمنان مراد

دی ۔ مؤمنان به دَ قیامت په ورځ تروتازه وی ، دُنیا کښې چه هغوی کوم کارونه کړی وی دَ هغې اجراؤ ثواب اوْ دَ هغے نیکه بدله اووینی ډیر زیات به خوشحاله وی په عالیشان باغونو کښې به اوسیږی اوْ هلته به هیڅ لغوه اوْ بیکاره خبره نه اوری دغه باغونو کښې به د هر قسم اعلیٰ مشروبات چینے جاری وی۔

ـــــــ ۱۳ فِيهَا سُرُرٌ ۔ دَ سریر جمع دے یعنی تخت ۔ دهغوی دَ ناستے دپاره چه کوم تختونه وی هغه به ډیر زیات اُوچت وی لیکن چه کله هغوی په دے باندے کیناستل یا دَ هغے نه کوزیدل غواړی ۔ نو تخت به په خپله ښکته شی زمکے ته به نزدے شی ۔ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ۔ کوب هغه پیاله ده چه دَ هغے دَ نیولو دپاره حلقه (کړئ) نه وی پیالئ به دهغوی مخے ته تیاره کیښودلے شوے وی کله چه غواړی هغه به استعمالوی ۔ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ۔ کټی اوْ تکیه کانړے به سلیقه سره په قطار کښې کیښودل شوے وی ۔ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ۔ مبسوطة ۔ جنت کښې به هر طرف ته دری قالینو نه غوړول شوے وی دے دپاره چه چرته او غواړی هلته کینی ۔

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وقفة

آیا پس دوئ نه گوری اوښانو ته چه څنګه پیدا کړے شوی دی

وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وقفة وَإِلَى الْجِبَالِ

اوْ اسمان ته چه څنګه اُوچت کړے دے موږ او غرونو ته

كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وقفة وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ

چه څنګه اودرول شویدی اوْ زمکے ته چه څنګه

سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ وقفة فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ ط

صفا خوره کړے شویده ۔ پس ته نصیحت اوکړه ستا کار خو یو هول دی بس

لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ لا إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَ

ته نه یے په هغوی باندے نګران لیکن چه چا مخ واړولو او

كَفَرَ ﴿٢٣﴾ لا فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ ط

منکر شو نو عذاب به ورکړی هغه ته الله هغه لوے عذاب ۔

إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿۲۵﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿۲۶﴾

بیشکه موږ ته دی د هغوی واپس راتلل. بیا بیشکه خمونږ په ذمه دے د هغوی حساب اخستل.

نکات: ۱ شواهد په مذکوره امور اربعه باندے
۲ تسلی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ۱۲۔

تفسیر ۸ے أَفَلَا يَنظُرُونَ۔ دلته د مذکوره بالا څلور واړو امورو د پاره څلور نمونے او شواهد ذکر شوی دی. په طور د لف نشر مرتب۔ مذکوره بالا بیان باندے مشرکانو د حیرت او تعجب اظهار اوکړو بلکه د دے څیزونو ئے انکار اوکړو نو الله تعالی د خپل قدرت کامله داسے نمونے بیان کړے چه د هغے د انکار هیڅ ګنجائش هم نشته۔

استیناف مسوق لتقریر ما فصل من حدیث الغاشیة و ما هو مبني علیه من البعث الذی هم فیه مختلفون بالاستشهاد علیه بما لا یستطیعون انکاره۔ (ابوالسعود ج ۸ ص ۵۵۲) عن قتادة لما نعت الله تعالی ما فی الجنة عجب من ذلك اهل الضلالة فانزل الله سبحانه وتعالی أَفَلَا يَنظُرُونَ الخ (روح ج ۳۰ ص ۱۱۵) أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ۔ هغوی اوښ ته نه ګوری موږ هغه څنګه عجیب ناشنا طریقے سره پیدا کړیدے چه د ټولو سورلو نه اوچت دے کله چه په هغے سور ېږی نو هغه کینوی او سواره شی او بیا هغه په خپله شا باندے واخلی او اودرېږی. دا د سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ نمونه ده. د جنتیانو تختونه به هم د غه شان وی (مدارك)۔ تفسیر عباسی کښ دی مرتفعة لاهلها یعنی هغه تخت به اوچت وی لیکن د مدارك والا مفهوم زیات مناسب دے


۹ے وَإِلَى السَّمَاءِ۔ دا د أَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ نمونه ده څنګه چه آسمان اوچت دے او په هغے باندے ستوری د پاسه ایښے دی د غه شان په جنت کښ به (بنا تستنه) طریقے سره تکیه ګانے قطار لګیدلے وی۔

وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ۔ څنګه چه زمکه د فرش په شان غوړولے ده د غه شان به په جنت کښ هر طرف ته زرۍ او فرشونه غوړولے شوے وی.

۱۰ے فَذَكِّرْ۔ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده او د ا سورة الاعلی آیت فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ الذِّكْرَىٰ سره متعلق دے ځکه چه دا سورة د هغه سورت تتمه ده۔ کچرے مشرکان په قرآن کښ غور فکر نه کوی او ستاسو ښکلی طریقے سره د بیان او ارشاد نه روستو هغوی نه مني نو تاسو په دے مه خفه کیږئ ځکه چه تاسو بشیر او نذیر او ناصح او معلم ئے د دے وجه نه تاسو خپل کار کوئ تاسو د وی باندے نګران او محافظ نه ئے لیږلے شوے چه هغوی په منلو ایمان راوړلو باندے مجبور کړئ۔ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ

وَکَفَرَ - استثنا منقطع ده او اِلّا په معنیٰ د لکن دے موصول سره د صلے نه مبتداء۔ او فَيُعَذِّبُهُ اللهُ الخ جمله د هغے خبر دے (روح)۔ دا تخویف اخروی دے لیکن څوک چه ایمان نه اعراض او کړی او د حق نه انکار او کړی ۔ الله تعالیٰ به هغه ته د ټولو نه لویه سزا ورکړی ۔ مراد په آخرت کښ د دوزخ عذاب دے۔

الٰی اِنَّ اِلَيْنَآ اِيَابَهُمْ ۔ دا د ما قبل تتمه ده هغوئ د عذاب نه مینځ کله هم نشی ۔ په کیدے مرګ او بیا د مرګ نه روستو پاڅیدلو سره به هغه مونږ ته واپس راځی او بیا به مونږ د هغه نه حساب کتاب اخلو او هغه به جهنم ته او غورځوو۔



سُوْرَةُ الْفَجْرِ

ربط د سورة الاعلیٰ د دوه مضامینو نه یو مضمون یعنی تزهید فی الدنیا (دنیا نه بے رغبتی) دے سورة کښ ذکر شوے ده د دنیا د حقارت او بے ثباتی بیان دے سورة الغاشیة د سورة الاعلیٰ تتمه ده او سورة الفجر د سورة الاعلیٰ د یو مضمون تفصیل دے۔

خلاصه

وَالْفَجْرِ ـــــــ تا ـــــــ هَلْ فِي ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ۔ په دے اوقات شریف کښ د الله تعالیٰ نه آخرت د پاره دعا ګانے غواړئ او دنیا پسے روستو منډے مه وهئ۔ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۔ د تزهید فی الدنیا د پاره د تخویف دنیوی اوله نمونه ۔ د عاد قوم ته او ګورئ هغوئ آخرت با ندے دنیا ته ترجیح ورکړه لیکن چه کله د الله تعالیٰ عذاب راغلے نو د دنیا د څیزونو او سامانونو او دولت نه هغوئ ته هیڅ فائده او نه رسیدله ۔ وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ۔ د دنیا دویمه نمونه وَفِرْعَوْنَ ذِي الْاَوْتَادِ ٥ د تخویف دنیوی دریمه نمونه ۔ دا ټول د توحید نه منکر او د قیامت نه انکار کوونکی الله تعالیٰ په دنیا کښ سخت عذاب سره او نیول ۔ فَاَمَّا الْاِنْسَانُ اِذَا مَا ابْتَلٰهُ ـــــــ تا ـــــــ فَيَقُوْلُ رَبِّيْ اَهَانَنِ ٥ دا شکوئ ده

إنسان خپل عزت او دَ دولت دَ دنیا په څیزونو او سامانونو دَ دولت په کمئ او زیاتئ باندې مبنی ګڼړی، حال دا دے چه دَ عزت او کرامت معیار تقوی او اطاعت خداوندی دے. کَلَّا بَل لَا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ـــــ تا ـــــ وَتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا. هر بیان دَ ما قبل نه په طور دَ ترقیٔ دے كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا ـــــ تا ـــــ وَلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗ أَحَدٌ. تخویف اخروی. يٰٓأَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ـــــ تا آخر بشارت اخرویه.

سُوْرَةُ الْفَجْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة الفجر مکه کښې نازل شو دده ایتونه دیرش ۳۰ او رکوع یوه ده.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع ۶ دَ الله په نوم چه ډیر بخښونکے او ډیر رحم کوونکے دے

وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾

قسم دے ۲ په صبا او په لس شپو باندې ۲ او په جفت ۳ او طاق باندې ۲

وَالَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ

او په هغه شپه باندې کله چه تیریږي لاړه شي ۵ دے څیزونو قسم دَ پوره

لِّذِيْ حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ

عقل والو دَ پاره ۳ آیا او نه لیدل ۶ تا څه او کړل ستا رب

بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِيْ لَمْ

دَ عاد سره هغه قوم چه وو په ارم کښې دلویو ستنو والا ۲ نه وو

يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾

پیدا شوے دهغوئ په شان بیولو ښارو نو کښې.

نکات ۱ تمهید دپاره دَ مضمون تزهید ۱۲. ۲ دتزهید فی الدنیا دپاره دَ تخویف دنیوی اوله نمونه ۱۲.

موضح قرآن

ف۱ دلوی اختر په سحر چه ادا کیږی او لس شپې دهغه نه مخکښ دی او جفت او طاق د رمضان لسیزه (عشره) ده او کلهٔ چه د شپې لاړے یعنی پیغمبر صلی الله علیه وسلم چه په کومه شپه معراج ته لاړے ۱۲۔

ف۲ عادیو قوم وو ارم په دوئ کښ یوه قبیله وه چه په هغوئ کښ بادشاهی وه په هغے کښ لوئے لوئے عمارتونه او لوړ لوړ ابادئ جوړ یدلی ۱۲ منه

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی د ذی الحجة عشره ۱۲۔

ف۲ یعنی ځنی مونځونه جفت دی او ځنے طاق۔

ف۳ چه الله تعالیٰ بندګانو ته جزا ورکوونکے دے د هغوئ په اعمالو باندے۔

تفسیر

۲ے وَالْفَجْرِ۔ د ځنو مفسرینو په نزد د فجر نه جنس مراد دے په غیر د کوم وړے خاص کولو نه او د عبد الله بن عباس رض او مجاهد رح په نزد یوم النحر (د ذی الحجة د لسمے) صبا مراد دے (روح)۔ د یوم نحر صبا په خپله شاهد دے چه هغه څومره مبارکه ورځ ده۔ د دے وجه نه دغه ورځ کښ بیت الله ته لاړشی دغه وخت د الله په حضور کښ عاجزی اوکړئ او د هغه نه دعا او غواړئ ځکه چه هلته ګناه معاف کیږی۔ وَلَيَالٍ عَشْرٍ لس شپو نه د رمضان لس آخری شپے مراد دی چه په هغے کښ لیلة القدر ریته ده۔ دا د حضرت ابن عباس رض او د ابو ظبیان رح نه منقول ده۔ دا د ما قبل نه په طور د ترقئ ده۔ د یوم نحر صبا نه صحیح ځکه چه هلته تللو سره مال خرچ کیږی۔ او د سفر تکلیفونه برداشت کول وی تاسو ته په کور ناست د رمضان شریف آخری لس شپې حاصلیدل آسان دی چه په هغے کښ لیلة القدر هم ده چه ډیره د رحمت او برکت والا میاشت ده د هغے طرف ته راشئ د دنیا طرف ته منډے مه وهئ۔

۳ے وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ۔ جفت او طاق نه مراد مونځ دے ځکه چه د ځنو مونځونو رکعتونه جفت دی او د ځنو طاق۔ دا تفسیر په خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل شویدے۔ روی مرفوعًا عن عمران بن حصین عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: الشفع والوتر الصّلاة منها شفع و منها وتر۔ (قرطبی ج ۲۰ ص ۳۹)۔ دا قسم د ما قبل نه په طور د ترقئ دے۔ لیلة القدر رخو په کال کښ یو ځل راځی او تعیین سره معلومه هم نه ده پنځه مونځونه خو په شپه او ورځ کښ ضرور راځی د هغے پابندی اوکړئ د آخرت د پاره څه د آخرت توښه جوړه کړئ او دنیا پسے د روستو نه منډې مه وهئ د پنځه مونځونو پابندئ سره د ګناهونو نه انسان داسے پاکیږی لکه چه یوه کسبره روزانه پنځه ځله او وینځلے شی او صاف کړے شی۔ یا

پښځه ځله د ورځې غسل کوي چه د هغه د بدن نه خیرې پاکولې شي. کما في الحدیث.

۴ ے وَالَّیْلِ اِذَا یَسْرِ. یسري اي یذهب. لکه چه بل ځائې ارشاد دے. وَالَّیْلِ اِذْ اَدْبَرَ. او قسم دے په شپه چه کله هغه تیره شي مراد د شپې اخري حصه ده یعنی د صبا ختلو نه مخکښې دا وخت هم ډیر زیات مبارک دے د غه وخت کښې اول آسمان باندے د الله تعالی د خصوصي انعامات د تجلیات نزول کیږي او اعلان کیږي آیا څوک د ګناه د بخښنې سوال کوونکے شته؟ چه زه د هغه ګناه معاف کړم او زه هغه ته بخښنه او کړم، د غه وخت د الله تعالی نه آخرت او غواړئ او د دنیا پسے روستو مه زغلئ. هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ. عقلمند انسان د پاره دا عظیم الشان قسمونه او شواهد دي او عاقلانو د پاره دے کښې کافي عبرت او نصیحت دے هر قسم نه روستو جواب قسم محذوف دے کما مر.

۵ ے اَلَمْ تَرَ. دا د تخویف دنیوي اوله نمونه ده تزهید في الدنیا د پاره. حاصل دا دے چه دنیا هیڅ شیز نه دے د دنیا پسے د روستو نه زغلیدل نه دي پکار. بلکه د آخرت فکر او کړئ او د الله تعالی نه په مبارک وختونو کښې د خپلو ګناهونو معافي او غواړئ. قوم عاد ته او ګورئ هغوی څومره طاقتور قوم وو په دنیا کښې د هغوی څوک سیالي کوونکي نه وو. لیکن چه هغوی سرکشي او کړه نو الله تعالی تباه او هلاک کړل او هغوی د دنیا شیزونه او سامانونه د هغوی شان او شوکت د هغوی هیڅ په کار را نغله. اِرَمَ. د عاد نه بدل دے. اِرَم د قبیلې نوم دے او عاد د هغه قوم د جد اعلی (پورتنی نیکه) نوم دے (قرطبي). یا اِرَمَ د عاد د پلار یا نیکه نوم دے. د دے صورت کښې به د بدل مبدل منه ترکیب صحیح نه وي بلکه مضاف به مقدر وي. په اصل کښې عاد بن اِرَم وو. قاله الشیخ رحمه الله تعالی. ذَاتِ الْعِمَادِ. دا وګړو قد والا یا د خیمو والا یعني کان طولهم مثل العماد .... وقیل سمیت تلك الامة بذلك لانهم کانوا اهل اعمدة وخیام وما شیة سیارة في الربیع (مظهري ج ۱۰ ص ۲۵۵).

وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ۙ﴿۹﴾

او ثمود بانوړے سره چه هغوی به تراشل کانړي (کتان) په وادي کښې ف ۱

وَفِرْعَوْنَ ذِي الْاَوْتَادِ ۙ﴿۱۰﴾ الَّذِيْنَ

او فرعون سره هغه میخونو والا ف ۲ دا ټول وو چا چه

طَغَوْا فِى الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَاَكْثَرُوْا فِيْهَا الْفَسَادَ ﴿١٢﴾

سرکشي اوکړه په ملکونو کښې پس ډیر زیات ئې اوکړو فساد

فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾

پس لاوے غورځوله په هغوی ستا رب کوړا د عذاب

اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا الْاِنْسَانُ

بیشکه ستا رب په ځائے د انتظار کښې دے پس هر انسان چه د ے کله چه

اِذَا مَا ابْتَلٰىهُ رَبُّهٗ فَاَكْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ ۙ

امتحان اوکړی په هغه باندے د هغه رب لو عزت ورکړی هغه ته او نعمت ورکړی

فَيَقُوْلُ رَبِّىْٓ اَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَاَمَّآ اِذَا مَا

نو وائی زما رب ما له عزت راکړو . او هغه چه کله هغه لره

ابْتَلٰىهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ

په امتحان کښې واچوی او تنګه کړی په هغه باندے روزی نو وائی چه

رَبِّىْٓ اَهَانَنِ ﴿١٦﴾ كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ

زما خپل رب ذلیله کړم . ف۴ (داسې) هرګز نه دهٔ ف۵ بلکه تاسو عزت سره نه

الْيَتِيْمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ

ساتلو یتیم او ترغیب به هم نه ورکولو خپل مینځ کښې د محتاج په

الْمِسْكِيْنِ ﴿١٨﴾ وَتَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا

طعام ورکولو باندے او خوری د مړی مال ټول جمع کولو

لَّمًّا ﴿١٩﴾ وَّتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾ كَلَّآ

سره ف۶ او محبت کوی د مال سره ډیر زیات محبت (داسې) هرګز نه

اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَّجَآءَ رَبُّكَ

دهٔ کله چه شکسته کړے شی زمکه زرے زرے کولو سره او راشی ستا رب

وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿۲۲﴾

او فرښتې قطار قطار۔

نکات ۱ دویمه نمونه ۱۲۔ ۲ دریمه نمونه ۱۲۔ ۳ شکوی ۱۲۔ ۴ دماقبل نه ترقي ده۔ ۵ تخویف اُخروي ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ وادي د هغوي دا وسیدلو د ځائے لوم دے غرونه به ئے کنستل او کورونه به ئے جوړول ۱۲ منه رح۔

ف۲ د سرونړو میخونه به ئے لرل د لښکر دا سونو د پاره ۱۲ منه رحمه الله۔

ف۳ یعني تا سو باندے الزام لګوي او خپل عمل ته نه ګوري ۱۲ منه رح۔

ف۴ یعني حرام حلال به ئے نه پیژندل ماشومانو او ښځو ته به ئے د میراث مال نه ورکولو د هغوي مال به هم تاسو خوړلو دا فائده تفسیر حسیني نه لیکل شوې ده۔

فتح الرحمن ف۱ یعني څلور میخونو تکو هلو سره به ئے عذاب ورکولو۔

ف۲ یعني ښځو او یتیمانو ته به ئے د هغوي حق نه ورکولو۔

ف۳ یعني د اکرام الهي د پاره سبب د یتیم اکرام او د مسکین طعام د دے هغه کول پکار دي او ستاسو صفت دا دے چه یتیمانو ته د هغوي حق نه ورکوئ او د هغوي حق د خپل مال سره جمع کوئ۔

ف۴ یعني غرونه او د برہ کتي به زمکے سره برابر ولے شي۔

تفسیر ۶ وَثَمُوْدَ۔ د تخویف دنیوي دویمه نمونه۔ د ثمود قوم ته او ګورئ چه هغوي څومره طاقتور او څومره ماهر استاذان وو چه غرونه به ئے تراشل او غرونه به ئے پریکول هغه کښ دننه به ئے داستو ځے مکانات جوړول۔ وَفِرْعَوْنَ ذِي الْاَوْتَادِ۔ د تخویف دنیوي دریمه نمونه۔ او ګورئ۔ فرعون څومره لوئے بادشاه وو د هغوي بادشاهۍ څومره مضبوط وو۔ ذي الاوتاد (میخونو والا) دا خو یا د سلطنت د مضبوط والے نه کنایه ده۔ یا مطلب دا دے چه توحید والاؤ باندے میخونه تکوهل او عذاب به ئے ورکولو۔ اَلَّذِيْنَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ۔ دغه ټولو قومونو سرکشي اوکړه او د حد نه تیر شول په ښارونو او کلوکښ ئے ظلم او زیاتے بے انصافي سره شر او فساد پیدا کولو نو الله تعالیٰ په هغوي باندے مختلف قسم عذاب نازل کړو هغوي ئے تباه کړل۔ د دنیا دولت او د سلطنت د هغوي هیڅ پکار رانغلو۔ صَبَّ۔ اُنزل۔ سَوْطَ عَذَابٍ۔ د صفت اضافت موصوف ته شوې دے سوطا مختلطا بعضها ببعض فهی اضافة صفة الی موصوفها کاخلاق ثیاب۔ (مظهری کذا فی الروح)۔

۷ اِنَّ رَبَّكَ ۔ بیشکه ستا پروردګار په انتظار کښې ناست دے دا د الله
تعالیٰ د علم نه کنایه ده ۔ یعنی الله تعالیٰ د خپلو بندګانو ټول اعمال وینی او ټول
هر څه د هغه د علم په احاطه کښې دی د دنیا پسے د روستو منډی مه وهی او کوی!
د دنیا په خاطر د دین پریخودونکو قومونو حشر څومره سخت او هیبتناک
دے ۔ ۸ فَاَمَّا الْاِنْسَانُ ۔ دا شکوه ده انسان د خپل عزت او ذلت
مدار د دنیوی دولت کثرت او قلت (زیاتے کمے) ګرځوی حال دا دے چه د
دولت کمے زیاتے انسانانو د پاره ابتلاء او امتحان دے هغه چا ته زیات
مال ورکړی د هغه امتحان اخلی چه هغه دولت د الله د رضا موافق خرچ
کوی یا نه ، او د چا امتحان فقیری او غریبی سره اخلی ، چه هغه دے
حالت کښې صبر شکر نه کار اخلی ۔ یا شکوی او شکایت کوی لیکن دا انسان
دا حال دے چه کله چرے الله تعالیٰ په طور د ابتلاء هغه ته دنیا کښې عزت
او دولت ورکوی نو هغه خیال کوی چه الله ځما عزت او کړو او که چرے د
خپل حکمت بالغه د لاندے د هغه رزق تنګ کړی نو هغه وائی خدائی زه رسوا
کړم حال دا دے چه د عزت او ذلت معیار دولت نه دے بلکه د الله اطاعت
او معصیت دے ۔ د ټولو نه زیات قابل عزت هغه څوک دے څوک چه
د ټولو نه زیات د الله حکم منونکے وی ۔ اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللهِ اَتْقٰکُمْ (حجرات ع۲)
۹ کَلَّا بَلْ لَّا تُکْرِمُوْنَ ۔ کَلَّا ردعیه دے دا د انسان پورتنی
ذکر شوے رویه باندے شکوه ده علیٰ سبیل الترقی دنیا دار خلقو! تاسو
هر وخت د دنیا کښې د خپل عزت او ذلت په فکر کښې نښتی اوسیږئ. لیکن
د یتیمانانو خیال نه ساتئ او نه د هغوی د عزت خیال ساتئ ۔ مراد دا دے
چه د هغوی حق نه ادا کوئ ۔ وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰی طَعَامِ الْمِسْکِیْنِ ۔ دا
د ما قبل نه د ترقی په طور دے ۔ د یتیمانانو اکرام خو یو طرف ته پاتے شو
تاسو خو مسکینانو ته خوراک هم نه ورکوئ او نه یو بل ته مسکینانو ته د
طعام ورکولو ترغیب ورکوئ ۔ لَا تَحٰٓضُّوْنَ په اصل کښې لَا تَتَحٰٓضُّوْنَ
وو یو «ت» د تخفیف په غرض حذف کړے شوے ده ۔ وَتَاْکُلُوْنَ التُّرَاثَ
اَکْلًا لَّمًّا ۔ دا د ما قبل نه د ترقی په طور دے ۔ یتیمانانو او مسکینانو ته
د طعام ورکولو ترغیب خو یو طرف ته پاتے شو د هغه غریبانانو چه په
میراث کښې کوم جائز حق دے نو تاسو خو هغے کښې هم خیانت کوئ او د
مال جمع کولو په وخت د حلال او
حرام هم هیڅ تمیز نه کوئ ۔ وَتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۔ دا هم د ما قبل
نه په طور د ترقی دے ستا سو د خلقو په زړونو کښې د مال محبت دومره
زیات دے چه تاسو نه صرف د یتیمانانو او مسکینانو په میراث باندے

ناجائز قبضه کوي بلکه دا که او غلا هم ناجائز طریقې سره د مال جمع کولو کوشش کوي. ۱ کَلَّآ لَّمًّا د حلال حرام مینځ کښې د امتیاز کولو نه بغیر مال خوړل دي. حُبًّا جَمًّا - ډیر زیات محبت - ذالمم هو الجمع بین الحلال والحرام وکانوا لا یورثون النساء ولا الصبیان و یاکلون تراثهم مع تراثهم (حُبًّا جَمًّا) کثیر شدیدا مع الحرص و منع الحقوق. (مدارک) ......

ځله کَلَّآ اِذَا - دا تخویف اخروي دے. کَلَّآ ردعیه دے یعنې دا سے خونه ده پکارکښې نو هغوي به دے کار ونو باندے د قیامت په ورځ ډیر افسوس کوي - لیکن دغه ورځ به د تحسر او تأسف هیڅ فائده نه وي. دُکَّتِ الْاَرْضُ دَکًّا دَکًّا. زمکه به بیا خوځولے او ماتولے شي تردے چه زمکه به بالکل هواره شي، نه به غرونه په نظر راځي نه دریابونه او سمندرونه. بیا به الله تعالیٰ د حکم فیصله کولو د پاره خپل خاص شان سره نزول اوکړي. فیجیئ الرب تبارك وتعالیٰ لفصل القضاء کما یشاء والملائکة یجیئون بین یدیه صفوفا صفوفا (ابن کثیر ج ۴ ص ۵۱۰) فرښتې به صفونو کښې لاس په نامه ولاړې وي او قیدخانه (جهنم به) مخے ته موجود وي چه په هغې کښې به کافران او مشرکان همیشه د پاره قید کولے شي. څنو مفسرینو لیکلي دي چونکه مجیئ (راتلل) د حرکت او انتقال مقتضي ده او دا د حادث صفت دے الله تعالیٰ د دینه پاک دے. د دے وجه نه دلته مضاف محذوف دے. ای جاء جلائل آیات ربك (کبیر) تمثیل لظهور آیات اقتداره و تبیین آثار قهره وسلطانه الخ (مدارک). یعني د الله تعالیٰ د لویئ او جبروت او د هغه د هیبت او جلال ظهور به وي. لیکن په اول تاویل باندے هغه مجیئ (راتلل) مراد نه ده کوم چه د حادث صفت دے بلکه هغه مجیئ مراد ده کوم چه د الله د شان مناسب وي.

وَجِایْٓءَ یَوْمَئِذٍۢ بِجَهَنَّمَ ۙ یَوْمَئِذٍ

او راوستل شي به هغه ورځ جهنم دغه ورځ به

یَّتَذَکَّرُ الْاِنْسَانُ وَاَنّٰى لَهُ الذِّکْرٰى ﴿٢٣﴾

پند واخلي الله انسان او هغه ته به کوم ځائے کښې او رسوي هغه پند اخستل

یَقُوْلُ یٰلَیْتَنِیْ قَدَّمْتُ لِحَیَاتِیْ ﴿٢٤﴾ فَیَوْمَئِذٍ

وائي به تللے ځو مره ښه به وه ماله چه مخکښې رالیږلے وے ما په ژوند کښې پس دغه ورځ

لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَّلَا يُوثِقُ
به عذاب ورنه کړي څوک د هغه په شان ول او نه به تړل

وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾
او کړي د هغه په شان څوک فلا اے هغه روح چه کوم ارام او کړو

ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾
واپس لاړشه د خپل رب طرف ته هغه ستا نه راضي او ته د هغه نه راضي

فَادْخُلِي فِي عِبَادِي ﴿٢٩﴾ وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾
بیا ننوځه څما په بندګانو کښې او ننوځه څما جنت ته۔

نکات

سا بشارت اُخرویه ۱۲۔

موضح قرآن ولے د الله د عذاب په شان به په هغه ورځ هیڅوک عذاب نشي ورکولے نه اور، نه د هغه مضبوطے کارکونکي نه مار او نه لرم کوم چه په اورکښې وي حکم چه د هغوئ عذاب به په جسم باندے وي بیا او د الله تعالیٰ له طرفه به د حسرت افسوس او پښیمانتیا عذاب وي د ګنهګارانو په روح به وي. دا فائده د تفسیر فتح العزیز نه اولیکل شوه۔

فتح الرحمٰن فلے یعنی په دلسے طریقه به واقع شي چه هیڅوک په هغے باندے دده نه غیر قادر نه دے۔

تفسیر اے یَوْمَئِذٍ۔ د قیامت په ورځ به د عبرت او نصیحت حاصلولو ته تیار وي، یا مطلب دادے چه د هغه ورځ به انسان د خپلو بدلو کوتاهیانو او غلطو باندے د افسوس او پښیمانتیا اظهار کوي لیکن د هغه وخت به هغه ته هیڅ فائده نه وي دا افسوس او پښیمانتیا به بے وخته وي. ومن این له الذکری وقد فات اوانها (روح ج ۳۰ ص ۱۲۹)۔

ئلے یَقُولُ۔ د هغه ورځ به انسان د پر حسرت او افسوس سره تمنا او کړي هائے افسوس! کاش چه ما په دنیا کښې د اخرت د ژوند د پاره څه د ښے کوشش کړے وسے لیکن ټول هر څه به بے فائدے وي. او هغه به مجرمان په هتکړو او زنځیرونو کښې داسے او تړي چه د هغے په شان تړل به هیڅوک او نکړي. ای لا یعذب کعذاب الله احد ولا یوثق کوثاقه احد (قرطبی ج ۲۰ ص ۵۶)۔ یا مطلب دادے چه د قیامت په ورځ به د مجرمانو د عذاب

متولي او متصرف په خپله الله تعالیٰ وي.

۳۱ے یا ایتها النفس. دا بشارت اُخروي دے د کافرانو حال بیانولو نه روستو ئے د مؤمنانو حال بیان کړو چه مؤمن ته به او ویلے شی اے نفس مطمئنه! چه د رزیل اخلاق نه پاک شوی یئے د خپل پروردګار طرف ته واپس راشه په داسے حال کښ چه ته د خپل رب په ربوبیت باندے راضي ئے او ستا رب په تا باندے راضي دے دد ے وجه نه ته ځما په بندګانو کښ شامل شه او ځما جنت ته داخل شه.

فائده

دد ے سورة مختصر خلاصه دا ده چه په دے کښ د درے څیزونو بیان دے اوّل مرض، دویم د مرض سبب، او دریم علاج د مرض.

فاما الانسان اذا ما ابتلٰه ـــــ تا ـــــ فیقول ربی اهانن. بیان مرض دے.

کلا بل لا تکرمون الیتیم ـــــ تا ـــــ وتحبون المال حبا جما د مرض د سبب بیان دے. باقي ټول د مرض د علاج بیان دے.

سُورَةُ الْبَلَدِ

رَبط دا سورة د تیر شوي سورة تتمه ده. والفجر کښ د دُنیا او د دُنیا دولت د محبت ذکر شو اوس په سورة البلد کښ د مال صحیح مصارف ذکر شول چه د دولت جمع کولو او د هغې په نه خرچ کولو کښ مه مه مشغول کیږئ. بلکه چرته چه الله تعالیٰ د خرچ کولو حکم ورکړي دے هلته هغه خرچ کړئ. که چرے بے ځایه او بے محل خرچ کوئ نو د هغې په هیڅ فائده نه وی او په جائز مصارف کښ به هم صرف هغه وخت فائده وی کله چه خرچ کونکے مؤمن وی د ایمان نه بغیر خرچ کول بے فائدے دی.

خلاصه

لَآ أُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ـــ تا ـــ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ ۝ دا تخویف دُنیوی دے حاصل دا دے چه دُنیا کښ تکلیف مشقت کښ اچول خونږ اختیار کښ دی. ایحسب ان لن یقدر علیه احد ـــ تا ـــ او مسکینا ذا متربة. دا زجر دے انسان خیال کوی چه په هغه باندے څوک نشی غالب کیدے هغه وائی ما په خپلو دوستانو ډیر مال خرچ کړے دے لیکن دا ټول بے فائدے دے ترڅو چه هغه ایمان راوړلو سره په صحیح مصرف کښ دولت خرچ نکړی تر هغه وخت پورے به هغه ته فائده نه وی. ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا (الآية) په مذکوره مصارف کښ مال خرچ کړئ لیکن ایمان شرط دے. أُولٰٓئِكَ هُمْ أَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ بشارت اُخروی. د ایمان نه روستو په صحیح مصرفونو کښ مال خرچ کونکی د ښی لاسونو والا خلق دی او جنتیان دی. وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِاٰيٰتِنَا ـــ تا ـــ آخر. تخویف اُخروی دے.

سُوْرَةُ الْبَلَدِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ عِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة بلد له په مکه کښ نازل شوے ده ۲۰ آیتونه شل دی او رکوع ۱ یوه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کونکے دے

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ۝١ وَاَنْتَ حِلٌّۢ

قسم خورم زهٔ په دے ښار ف۲ او ته به قید پاتې نشې

بِهٰذَا الْبَلَدِ ۝٢ وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ ۝٣

په دے ښار کښې ف۳ او قسم دے په خلاصه د خلقت کی او په هغې کوم چه اوخیژولو ف۴

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ ۝٤ اَيَحْسَبُ

بیشکه مونږ پیدا کړو انسان په محنت (مشقت) کښې ف۵ ایا خیال کوی انسان

اَنْ لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ اَحَدٌ ۝٥ يَقُوْلُ

چه قادر به نشي په هغهٔ باندے هیڅوک وائي

اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ۝٦ اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ

ما خرچ کړو مال ډیر ایا ګمان کوی چه او نهٔ

يَرَهٗٓ اَحَدٌ ۝٧ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ ۝٨

لیدهٔ هغهٔ لره هیچا ف۶ ایا نهٔ دی مونږ ورکړی هغهٔ ته دوه سترګې

وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ۝٩

او ژبه او دوه شونډے۔

نکات : س۲ تخویف اُخروی ۱۲۔ س۳ دا زجر دے ۱۲۔

موضح قرآن

ف۲ یعنی د مکے ښار ۱۲ منه رح۔ ف۳ مکه کښې هر سړے د جنګ نهٔ منع شوے دے یعنی هلته هیچا جنګ نهٔ شو کولے لیکن نبي علیه السلام ته یو ساعت د مکے په فتح کولو کښې هغه ورځ قید او منع نهٔ وه پاتې معاف شوه چنانچه په هم دغهٔ ساعت جنګ کولو هغهٔ په کښے وژلو۔ روستو بیا هم هغه منع تر ننن وخت پورے قائم ده او تر قیامت پورے به قائم وی ۱۲۔

ف۴ یعنی آدم او بنی آدم ۱۲ منه رحمه الله تعالی ۱۲۔

ف۵ ټول عمر په محنت او مشقت کښې اخته دے هیڅ کله خلاصے نهٔ مومی۔ ف۶ په ودونو خوشحالو کښې او په ماتم کښې او د غم په ځایونو کښې د نوم او نمائش په ځایونو کښې د مال خرچ کول لوے کارګڼړی او فخر

لوئ ګڼړی ۔ او د خرچ کولو ځائے بل دے ۱۲ ۔

فتح الرحمٰن ف۲ یعنی آدم او د هغهٔ اولاد ۱۲ ۔ ف۳ یعنی د آدمیت عادت دے چه په خپل قوت فخر کوی او نه ګوری چه څومره بے وسه دے تکلیف برداشت کوی او د غه شان مال خرچ کولو باندے فخر کوی او خدائ هغه وینی چه څومره ډیر بخیل دے او څومره حقیر ۔

تفسیر ۲ لَآ اُقۡسِمُ ۔ لا زائده دے د تاکید قسم د پاره دا تخویف دنیوی دے ۔ اَلۡبَلَد نه مکه مکرمه مراد ده ، اَنۡتَ حِلٌّ معنیٰ دا چه ته به مکے ته داخلیدونکے یې یا مطلب دا دے چه ته به صاحب حلت یې یعنی ستا سو د پاره به په مکه مکرمه کښې قتل قتال حلال وی ای ومن المکابدة ان مثلك عظم حرمتك یستحل بهذا البلد یعنی مکة کما یستحل الصید فی غیر الحرم (مدارك) ۔ دا مشقت په دے شاهد دے چه په مشقت کښې اچول څمونږ په اختیار کښې دی دے کښې د نبی علیه السلام مکه باندے د غلبے ورکولو طرف ته اشاره ده ۔

وَوَالِدٍ ۔ مور چه کله بچے پیدا کوی نو په هغے چه کوم تکلیف تیریږی او هغه یې برداشت کوی دا هم شاهد دے چه په مشقت کښې اچول څمونږ په اختیار کښې دی ۔

۳ لَقَدۡ خَلَقۡنَا ۔ دا جواب دے ذکر شوی قسمونه ګواه او شاهد دی چه انسان مونږ په مشقت کښې پیدا کړے دے او انسان په مشقت او سختئ کښې اچول څمونږ په اختیار کښې دی ۔ کَبَدٍ ۔ مشقت ۔ فالمراد من کبد النصب والمشقة (مظهری) فی کبد مشقة یکابد مصائب الدنیا وشدائد الاٰخرة ۔ (مدارك) ۔

۴ اَیَحۡسَبُ ۔ دا زجر دے ۱ ایا کافر انسان ګمان کوی چه په هغهٔ باندے به څوک قادر او غالب نه وی او څوک به هغه ته د هغهٔ د بد عملونو سزا ور نکړی ۔ د هغهٔ دا خیال غلط دے هغهٔ ته به د هغهٔ د ګناهونو سزا الله تعالیٰ ضرور ورکوی ۔ یَقُوۡلُ اَهۡلَکۡتُ مَالًا لُّبَدًا ۲ ۔ ډیر زیات ۔ هغه ډیر فخر سره وائی چه هغه په خپل مشرک او شرک خوړونکو او د اسلام نه منع کوونکو دوستانو باندے او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دشمنئ کښې بے حسابه مال خرچ کړے دے ۱ ایا د هغهٔ خیال دے چه په باطل کښې د هغهٔ خرچ کول څوک نه وینی او د هغهٔ نه به هیڅ تپوس نه کیږی بلکه مونږ هغه وینو او د هغهٔ سره به پوره حساب کوو ۔ (ا یحسب ان لم یره احد) حین کان ینفق او بعد ذلك فیسأله عنه یعنی ان الله سبحانه وتعالیٰ یراه فیجازیه او یجده فیحاسبه علیه ۔ (بیضاوی) ۔

۹ے اَلَمْ نَجْعَلْ. دا انعاماتو او قدرتِ کاملہ بیان دے. اِستفهام تقریری دے مونږ انسان تہ لیدلو دپارہ دوہ سترګے ورکړے دے دپارہ چہ هغہ د قدرت د دلائلو مشاهدہ اوکړی. ژبہ او دپارہ مونږ هغہ تہ ژبہ ورکړہ او دوہ شونډے هم ورکړی چہ پہ خبرو کښې معاون (امداد) کوونکی دی دے دپارہ چہ هغہ تپوس اوکړی. د حق اِقرار اوکړی او د هغے تبلیغ اوکړی او مونږ د خیر او شر دواړہ لارے اوښودلے او دلائلو سرہ مونږ دواړہ واضح کړے اوس انسان لہ پکار دہ چہ هغہ د الله تعالیٰ ورکړے شوو قوتونو نہ فائدہ واخلی او حق قبول کړی۔

وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾ فَلَا ٱقْتَحَمَ

او او ښودلے مونږ هغہ تہ دوہ لارے ولے پس لا نہ ړے پہ لاړو

ٱلْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ

باندے ولے او تا تہ څہ معلومہ دہ چہ هغہ سختہ لارہ څہ دہ. ازادول دی

رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾

د دیوښت ولے یا خوراک ورکول دی دلوږے پہ ورځ کښې

يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾

یو یتیم چہ د رشتے والا دے ولے یا یو محتاج چہ پہ خاورو کښېن لوغړیږی۔

ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَوَاصَوْا۟

بیا شو د مؤمنانو نہ چہ تاکید کوی خپل مینځ کښېن

بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ

د صبر او تاکید کوی د رحم کولو هغہ خلق ۸ے

أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟

دی دلوئے نصیب (حصے) والا او خوک چہ منکر شو

بِـَٔايَٰتِنَا هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ

زمونږ د ایتونو نہ هغہ دی کمبخت (بدنصیب والا) هغوئی سرہ

نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿۲۰﴾

اور کښې بند کړې دی.

نکات ۱ بشارت أخروی ۱۲. ۲ تخویف أخروی ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعني کفر او ایمان یا د پیو تیو نه ۱۲ منه رحمه الله. ف۲ یعني غلام آزادول یا قرضدار خلاصول ۱۲ منه رح.
ف۳ یو حق د یتیم او د رشته دار یو حق. کله چه دواړه شول نو دوه حقونه شول. ۱۲ منه رح.

فتح الرحمن ف۱ یعني خیر او شر. ف۲ یعني په حقیقت کښې قوت هغه دے چه د اعمال په ځائے راوړي ۱۲.

تفسیر
۱۱ فَلَا اقْتَحَمَ. لا په معنی د هلا دے ځکه چه لا په غیر د تکرار نه په ماضی نه راځي. (کبیر مظهری). (العقبة) د غره لاره چه ډیره زیاته سخته وي. اقتحام العقبة. د حق دین په خاطر د تکلیفونو او مشقتونو برداشت کولو نه کنایة ده، کله چه مونږ هغه ته هر نعمت ورکړے دے نو هغه د دین په خاطر تکلیفونه او مشقتونه ولے برداشت نکړل؟ هغه په مشکل او سختو کنړوونو باندے ولے نه ختلو چه هغه ته د هلاکت نه نجات ملاؤ شوے وے ځکه چه حکمة طرف ته او ښکته هغه د هلاکت ځائے دے او نجات په بلندئ کښې دے حاصل دا چه هغه مال بے ځائے خرچ کړیدے په جائز مصرف کښې ئے نه دے خرچ کړے. وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ. رضي وییلی دی چه د دے قسم عبارتونو دوه معانی کیږي تا ته خبر دے د عقبه، یا دا چه څما نه واوره ستا په خیال کښې نشي راتللے.
۱۳ فَكُّ رَقَبَةٍ. دا د العقبة بیان دے، حاصل دا دے چه دا دے صحیح مصرفونو کښې د مال خرچ کولو مشقت برداشت کړه نجات به بیا مومې. غلام آزادول، او ږدو او خپل هم نسب یتیمانانو ته طعام ورکول دا هغه سخته لاره او کنړو ومے چه په هغې باندے ختلو سره به هغوئ ته خلاصے ملاویږي او دا خرچ کولو هغه صحیح مصارف دي چه په دے کښې خرچ کولو سره به هغوئ ته ثواب ملاویږي.
۱۷ ثُمَّ كَانَ. ثم تعقیب ذکري د پاره دے یعني دے مصارف کښې خرچ کوي لیکن دے سره ایمان شرط دے. مومن هم وي او د ګناهونو نه د بچ کیدلو او مصائب باندے د صبر کولو وصیت هم کوي او په خلقو باندے د مهربانئ کولو او په هغوئ د رحم کولو تعلیم تلقین هم کوي. یا مطلب دا دے چه خلقو ته د داسے کارونو ترغیب ورکړي چه

دالله تعالیٰ د رحمت باعث او موجب وی ۔ وَتواصوا بالمرحمة عباد الله او بموجب الله ۔ (مظهری)۔

۱۹ اُولٰئِکَ ۔ دا بشارت اُخروی دے دا نیک بخت دی چه دوی ته به عمل نامے په ښی لاس ورکولے شی او د دوی مقام جنت دے، وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا ۔ دا تخویف اُخروی دے کوم خلقو چه ځمونږ د ایتونو نه انکار اوکړو هغوی بد بخت دی هغوی ته به عمل نامے په کیڼ لاس کښے ورکولے شی او په هغوی باندے به اور بند ولے شی او د او سپنے ستنو مینځ کښ به او روی په هغے کښ به دغه خلق غورځولے شی او د پاسه نه به هغه دوی باندے بند ولے شی ۔ مطلب دا دے چه د دوزخ دروازی او کړکی به بند ولے شی دے د پاره چه داور په گرمځه کښ کمے نه وی ۔ والمراد مغلقة ابوابها وانما اغلقت لتشدید العذاب علیهم ـــ والعیاذ بالله تعالیٰ ـــ (روح ج ۳۰ ص ۱۴۰)۔

سُوْرَةُ الشَّمْسِ

ربط سورة الشمس او اللیل دواړو کښ د اولنو دواړو مضمونونو اعاده کړے شویده یعنی توحید او تزهید فی الدنیا ۔ سورة الشمس کښ د توحید مضمون ذکر شوید ے یعنی تفرقه فی الاعتقاد مطلب دا دے چه اعتقاد زکی او اعتقاد خبیث برابر نه دے سورة اللیل کښ د تفرقه فی الاعمال بیان دے یعنی نیک او بد، سخی او بخیل، او مصدق او مکذب برابر نه وی ۔ دا دواړه سورتونه د سورة الاعلیٰ د دواړو مضمونونو بیان دے ۔

خلاصه

وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا ـــ تا ـــ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ۔ څنګه چه رڼا او تیاره، ورځ او شپه، زمکه او اسمان برابر نه دی دغه شان نفس ذکیه چه د کفر او شرک د خباثت نه پاک وی او نفس خبیثه چه د کفر او شرک په خباثت کښ ککړ وی برابر نه دی ۔ کَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِطَغْوٰهَا ـــ تا اخر تخویفِ اُخروی ۔ د قوم ثمود بد انجام او ګورئ کوم خلق

چه د کفر او شرک نه خپل نفسونه پاک او صفا نه کړي د توحید نه انکار وکړي
د هغوئ انجام هم د غه شان وي.

سُوْرَةُ الشَّمْسِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسَ عَشْرَةَ آيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة الشمس په مکه کښ نازل شو ده ، ایتونه پنځلس او رکوع یو ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا ﴿۱﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلٰهَا ﴿۲﴾

قسم په نمر باندے او د هغه رڼا (ختلو) باندے. او په سپوږمئ باندے کله چه راشي روستو د نمر د هغه

وَالنَّهَارِ إِذَا جَلّٰهَا ﴿۳﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰهَا ﴿۴﴾

او په ورځ باندے چه کله هغه روښانه وي او په شپه باندے چه کله هغه پټه کړي

وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا ﴿۵﴾ وَالْأَرْضِ وَمَا طَحٰهَا ﴿۶﴾

او په آسمان باندے او څنګه چه جوړ کړے دے او په زمکه باندے چه هغه ئے خوره کړیده

وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰهَا ﴿۷﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا

او په نفس باندے او لکه چه هغه ئے برابر کړے دے پس وے ښودله هغه ته بدي د هغه

وَتَقْوٰهَا ﴿۸﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴿۹﴾ وَقَدْ

او د هغه نیکو لاره بیشکه خلاص او مونده شو هغه چا چه پاک ئے کړو هغه او

خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ﴿۱۰﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ

ناکام شو هغه څوک چا چه هغه ئے ورو سره ملاوه پټ کړو - دروغ او ګڼلو ثمود د باندے

بِطَغْوٰهَا ﴿۱۱﴾ إِذِ انْبَعَثَ أَشْقٰهَا ﴿۱۲﴾ فَقَالَ

خپل سرکشئ سره کله چه پورته شو د هغوی لوئے بدبخت پس ئے او وئیل

لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ﴿۱۳﴾

هغوئ ته د الله تعالی رسول خبردار به یئ د ئ د الله اوښه او د هغې د څکلو نوبت (نمبر)

فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ۙ۟ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ

پس هغوی ښے هغه دروغ اوګڼلو پس زخمي ئے کړه (پښے ئے پرې کړے) نو سخت عذاب اولیږه

رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ﴿۱۴﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿۱۵﴾

په هغوی دهغوی رب په سبب د ګناهو ئے پس برابرے کړل ئے اوهغه نه ویرېږی له انجام دعذاب دهغوی

نکات: ۱ د تیر شوو قسمونو جواب ۱۲۔ ۲ تخویف دنیوی ۱۲۔

فتح الرحمن: ۱ یعنی ټولو ته ئے اورسولو ۱۲۔

تفسیر: ۲ وَالشَّمْسِ ۔ د ضحیٰ نه مراد رڼا ده ۔ وَضُحٰهَا ای ضوئها ۔ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰهَا ای اتبعها ولحقها ۔ د نمر نه روستو د سپوږمۍ راتللو نه مراد دا دے چه د نمر د پرېوتلو نه فوراً روستو طلوع وی ۔ دا د څوارلسمے شپے سپوږمۍ ده ۔ یا مراد دا دے چه د نمر ختلو نه روستو د هغے رااختل وی دا د میاشت په شروع کښې وی ۔ د دے ورځو کښې د سپوږمۍ چه کومه حصه زمکے طرف ته وی هغه بے نوره وی په دے وجه په نظر نه راځی یا ډیره لږه شان حصه په نظر راځی کومه چه نمر ته مخامخ وی ۔ حضرت شیخ قدس سره په قرینے د تقابل لیل او نهار ، ارض ، سماء دویم مفهوم ته ترجیح ورکړے ده دغه شان د نفس د دواړو حالتونو د فجور او تقوی ذکر هم قرینه مرجحه ده د نمر رڼا او د سپوږمۍ په مذکوره وخت کښې بے نوره کیدل شاهد دے چه نفس زکیه او نفس خبیثه برابر نه دے ۔ ۳ وَالنَّهَارِ ۔ دا ورځ کله چه نمر ظاهره وی او هغه په کنارو او غارو باندے ښکاره کیږی او شپه چه کله نمر په خپله تیاره کښې پټوی ۔ وَالسَّمَاءِ ۔ اسمان او د هغه اوچتوالے ۔ زمکه او د هغے خوارے او ښکته والے دا هم شاهد دے چه نفس زکیه او نفس خبیثه برابر نه دی ۔ "ما" دواړه ځایونو کښې مصدریه دے ای بنیانها وطحوها (قرطبی) ۔ ۴ وَنَفْسٍ ۔ دلته هم "ما" مصدریه ده د تسویه نه مراد دا دے چه د هغه په ظاهری او باطنی قوتونو کښې ئے اعتدال پیدا کړو او د هغه اندامونه ئے متناسب اوګرځول ۔ ای انشاها و ابدعها مستعدة لکمالها وذلک بتعدیل اعضائها وقواها الظاهرة والباطنة (روح ج ۳۰ ص ۱۴۲) ۔ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۔ د پیدا کولو نه روستو ئے هغه ته د فجور او تقوی ، طاعت او معصیت او نیکی بدئ لارے اوښودلے دے د پاره چه هغه خپل اختیار سره د دواړو نه یوے انتخاب اوکړی ۔

۵ قَدۡ اَفۡلَحَ. دا د ذکر شوو قسمونو جواب دے. دا پورتنی ذکر شوے قسمونه (شواهد) په دے گواه دی چه څنګه هغه برابر نهٔ دی دغه شان نفس زکیه او نفس خبیثه هم برابر نهٔ دی. نفس زکیه کامیاب او با مراد دے او نفس خبیثه ذلیل خوار او ناکام دے. چا چه خپل ځان د خباثت اعتقاد او رذیل اخلاق نه پاک کړو هغه کامیاب شول او چا چه هغه اعتقادی خباثتونو کښې گنده او خیرن کړو. خوار ذلیل ئے کړو هغه ناکام شول.

۶ کَذَّبَتۡ ثَمُوۡدُ. دا تخویف اخروی دے. طغوی. سرکشی نافرمانئ کښې د حد نه وتل ای بطغیانها وهو خروجها عن الحد فی عصیان قاله مجاهد وقتادة وغیرهما (قرطبی ج۲۰ ص۷۸). او با، سببیه ده (روح) د ثمود د قوم د سرکشئ په وجه خپل پیغمبر علیه السلام دروغژن اوگڼلو اِذِ انۡۢبَعَثَ اَشۡقٰهَا. کله چه د هغوی د ټولو نه بدبخت د او بنی قتل کولو د پاره اودریده.

۷ فَقَالَ لَهُمۡ. ناقة منصوب دے علی التحذیر ای احذروا ناقة (روح). سُقۡیٰهَا. د اوبو حصه. حضرت صالح علیه السلام اوفرمایل د الله د اوښې د قتلولو او د هغې د اوبو حصه ماتولو نه احتراز اوکړئ گنی نو د الله تعالیٰ له طرفه به ډیر دردناک عذاب سره هلاک کړے شئ. نَاقَةَ اللّٰهِ. نه مخکښې احفظوا مقدّر دے یعنی د الله تعالیٰ د اوښې او د هغې د اوبو د حصے حفاظت اوکړئ (الشیخ رحمه الله تعالیٰ).

۸ فَكَذَّبُوۡهُ. لیکن دغه کافرانو حضرت صالح علیه السلام د عذاب نه ویره ورکولو کښې دروغژن اوگڼلو او اوښه ئے قتل کړه فکذبوه ای صالحا فیما اوعدهم من نزول العذاب ان عقروها (مظهری ج۱۰ ص۲۷۲). فَدَمۡدَمَ عَلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ. نو الله تعالیٰ د دغه جرم په وجه په هغوی هلاک کوونکے او بیخ وباسونکے عذاب نازل کړو او چونکه ټول قوم د قاتل په فعل باندے خوشحال وو د دے وجه نه ئے ټول تباه او برباد کړل. الدمدمة الاهلاك باستیصال (مظهری).

۹ وَلَا يَخَافُ. الله تعالیٰ د قوم ثمود د بیخ وباسلو او هلاکت د انجام نه ویریدونکے نهٔ وو چه په هغوی باندے څهٔ رحم اوکړی نهٔ د هغهٔ سره څهٔ خطره وه چه د هغهٔ نه به انتقام بدله اخستلے شی. یا به هغه ملامت کولے شی. ای عاقبتها وتبعتها کما یخاف العاقبون من الملوك عاقبة ما یفعلونه وتبعته (روح ج۳۰ ص۱۴۶).

سُورَةُ الَّيْلِ

ربط سورة الشمس کښې د توحید یعنې تفرقة فی الاعتقاد مضمون ذکر شوی دے او سورة اللیل کښې د تفرقة فی الاعمال مضمون ذکر دے.

خلاصه وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى ــــ تا ــــ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ٥ داعمالو مختلف کیدلو باندے د شواهد بیان. شنګه چه شپه او ورځ او نر او ښځه په آثار او احکامو کښې مختلف دي دغه شان ستاسو اعمال هم مختلف دي نیک او بد یو شان نه دي... فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى ــــ تا ــــ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولٰى دا د جواب قسم تشریح ده، او توضیح. فَأَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى ــــ تا ــــ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ٥ تخویف أخروي وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ــــ تا آخر بشارت أخروي.

سُورَةُ الَّيْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ إِحْدٰى وَعِشْرُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعٌ وَاحِدٌ

سورة اللیل په مکه کښې نازل شوې ده ایتونه یو ویشت او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع په نوم د الله چه ډیر بخښونکے او ډیر رحم کوونکے دے

وَالَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى ① وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلّٰى ②

قسم دے د شپه چه پټ کړي او په ورځ کله چه روښانه شي

وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰى ③ إِنَّ سَعْيَكُمْ

او په هغه ذات چه پیدا کړے ئے دے نر او ښځه ستاسو عملونه مختلف

لَشَتّٰى ④ فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى ⑤ وَصَدَّقَ

قسم دي نو څوک چا چه ورکړه او کړه او ووېریدهٔ د غضب د رب نه او رښتیا ئے

بِالْحُسْنٰى ⑥ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ⑦ وَأَمَّا مَنْ

او ګڼړه نیکه خبره نو موږ به هغه په مزه مزه رسو و اسانئ ته او چا چه کله

بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ﴿۸﴾ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ﴿۹﴾

منع او کړه د ورکړے نه او ځانے پرواه بالتے شو او دروغ ئے او ګڼل نیکه خبره

فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى ﴿۱۰﴾ وَمَا يُغْنِىْ عَنْهُ

نو مونږ به په مزه مزه اورسوو سختئ ته او بکار به را نشی د هغه

مَالُهٗٓ اِذَا تَرَدّٰى ﴿۱۱﴾ اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى ﴿۱۲﴾

مال کله چه به کنده ګ (جهنم) کښ پریوځی حقمونږ به ذمه ده لار ښودل

وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى ﴿۱۳﴾ فَاَنْذَرْتُكُمْ

او خمونږ په اختیار کښ اخرت او دُنیا ده پس ما وویرولو تاسو تیدو ځبر

نَارًا تَلَظّٰى ﴿۱۴﴾ لَا يَصْلٰىهَآ اِلَّا الْاَشْقَى ﴿۱۵﴾ الَّذِىْ

د ګرم لمبه وهونکی اور په هغے کښ به هغه څوک نه ننوځی چه ویر بدبخت وی چا چه

كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿۱۶﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ﴿۱۷﴾ الَّذِىْ

دروغ او ګڼل او مخ ئے او ګرځولو او بچ به کړے شی ځے د هغے نه ویر ویریدونکے څوک چه

يُؤْتِىْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ

ورکوی خپل مال چه پاک شی او نه شته په هغه د چا احسان چه

مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰٓى ﴿۱۹﴾ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ

د هغے بدله ورکړی لیکن دپاره د غوښتلو د رضا

رَبِّهِ الْاَعْلٰى ﴿۲۰﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ﴿۲۱﴾

د خپل ربّ چه د ټولو نه لوئے دے او ضرور به ئے په هغه راضی شی۔

نکات: سلـ د اعمالو په اختلاف باندے شواهد ۱۲۔ سلـ ۲ جواب قسم تفصیل ۱۲۔
سلـ ۳ تخویف اخروی ۱۲۔ سلـ ۴ بشارت اخرویه ۱۲۔

موضح قرآن ف د سورة اللیل د نازلیدلو سبب دا وو چه په مکه کښ
دوه مالداره سړی وو یو حضرت ابوبکر صدیق رض دویم
امیه بن خلف۔ د هغه څو غلامان وو هر یو ئے په یو کار باندے مقرر کړے

وو دَچا نه پسے دَ زمینداری کار اخستلو دَچا نه دَ تجارت دَچا نه دَ خدمت او دَ
نوکرانی کار اخستلو دَدے په وجه هغهٔ ته ډیر دولت حاصل وو لیکن هیڅ کله به
ئے فقیر ته هیڅ هم نهٔ ورکول حضرت بلال رضی الله عنه هم دَ هغهٔ یو غلام ؤ نو کښی وو. چه
دَ هغهٔ بزرګی دے حد ته رسیدلے ده چه حضور علیه السلام هغهٔ په جنت کښی
اولیدهٔ او وے فرمائیل چه جنت دَ بلال رضی الله عنه شوق او اشتیاق لری. بلال رضی الله عنه په
پټه مسلمان شوے وو دا خبره چرته امیّه ته اورسیده. هغهٔ به بلال
هغهٔ لره ددین نه دَ واپس ګرځولو دپاره ډیرے بدے تکلیفونه ورکول شروع کړل
په غرمو کښی به ئے په مخے خملولو ګرم کانړی پسے دَ هغهٔ په بدن بانده کیښودل
څوا وُ شا کښی به ئے هغهٔ ته اور بل کړو او دروازه به ئے ورته پرانستله بلال رضی الله عنه
به په دغه تکلیف کښی احد احد آوازونه کول چه خدا یو دے یوه ورځ
ابوبکر رضی الله عنه هلته لاړے. چه دا حال ئے اولیدهٔ نو امیّه ته ئے نصیحت شروع
کړو. هغه لعنتی او نهٔ منلو. بیا ئے او وئیل چه کچرے ستا زړهٔ په دهٔ باندے
سوزی نو زمانه نه ئے واخله. هغه او وئیل څه قیمت به اخلے. هغه او وئیل
چه نسطاط رومی (غلام) ددهٔ په مقابله کښی راکړه حضرت ابوبکر رضی الله عنه ډیر
په خوشحالئی نسطاس سره ددوه زره دینار چه دَ هغهٔ سرمایه وه او نور
څلویښت اوقیه زیلتے کړی او هغه ئے ورکړو بلال ئے واخستهٔ دَ الله
تعالیٰ دَ رضا مندئی دپاره ئے آزاد کړو دغه ورځ نه حضرت بلال رضی الله عنه دَ حضور صلی
الله علیه وسلم په خدمت کښی حاضریدل شروع کړل دغه شان ئے ډیر و اخستل
آزاد ئے کړل. عامر بن فهیره، زبیره، مهدیه، ام عبث وغیره. او څلویښت
اشرفئی کوم چه دَ هغهٔ سرمایه وه دَ حضور علیه السلام په حکم ئے په
مسلمانانو باندے خرچ کړه او شپږ زره اشرفئی چه باقی پاتے شوے وی
دَ هجرت په وخت او په مدینه کښی ئے خرچ کړے حضور علیه السلام فرمائیلی
څومره فائده چه ما ته دَ ابوبکر رضی الله عنه دَ مال نه اورسیده دَ هیچا مال هغه
هومره فائده ما ته رانکړه. کله چه ئے ټول مال خرچ کړو یوه ورځ ئے
کمبل په غاړه کښی اچولے وو ناست وو حضرت جبرئیل علیه السلام راغے
تپوس ئے اوکړو چه ابوبکر څو ډیر مالدار وو. دا څهٔ او شول حضور رضی الله عنه
اوفرمائیل چه هغه ټول مال دَ الله تعالیٰ دَ رضا دپاره او ځما په کار کښی
خرچ کړلو، جبرئیل علیه السلام او وئیل الله پاک ابوبکر رضی الله عنه ته سلام وئیلے دے او تپوس
ئے کړیدے چه دے تکلیف کښی نهٔ ځما نه راضی ئے یا ناراضی دَ حضرت
ابوبکر رضی الله عنه دے خبرے اوریدلو سره عجیبه حالت شو چه په وجد کښی راغلے
وے وئیل انا عن ربی راضٍ انا عن ربی راضٍ. الله تعالیٰ دے سورة
کښی دَ دوارو دَ همت او کار اختلاف بیانوی چه دَ هر سړی نیکی او بدئی

حاصلولو کښې احوال علیحده دي دے بانديے د بټول معاملے قیاس کړے شي (دا فائده د تفسیر فتح العزیز نه اولیکل شوه).

ف۲ یعني ځمونږ په اختیار کښې دے د آخرت عالم او هغه کوم چه تیر شو پس څوک چه ځمونږ نه آخرت اوغواړي آخرت به بیامومي او څوک چه دُنیا اوغواړي دُنیا به بیامومي او څوک چه دواړه اوغواړي دواړه به بیامومي او د دواړو جهانونو دَ آبادئ د پاره مونږ دَ انسانانو همت مختلف پیدا کړے دے او د هر یو تن په زړه کښې مونږ هغه خواهش واچوؤلو چه ته چه به هغه ځي. (دا فائده د تفسیر فتح العزیز نه اولیکل شوه).

تفسیر ۲ وَاللَّیْلِ. شپه چه په خپله تیاره کښې هر څیز پټوی او ورځ چه دَ شپے د تیارهٔ رخصتیدلو نه وروستو رڼا شي دواړه په دے گواه دي چه ستاسو سعي او عمل مختلف دي ځنګه چه دَ شپې او ورځے آثار جُدا جُدا دي. وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَىٰ. د هغه شان الله تعالیٰ چه نر او ښځه پیدا کړې ده هغه په دے شاهد دي ځنګه چه دَ نرا و ښځے آثار خواص مختلف دي د هغه شان ستاسو سعي عمل هم مختلف دے څوک فیاض او سخي دے څوک کنجوس او بخیل، څوک منونکے او څوک منکر.

۳ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ. دا جواب قسم یعني د سعي او عمل مختلف کیدلو ذکر او دَ عمل د نوع د جزاء او سزا بیان دے کوم سړے چه د مال حقوق ادا کړي یعني چرته چه الله دَ خرچ کولو حکم ورکړے دے هلته خرچ کوي او دَ خدائ نه ویریږي د هغه محارم و منع شوو څیزونو نه ځان ساتي. وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ. او په ملت اسلام باندے ایمان راوړي او دَ هغے تصدیق اوکړي. فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ دا بشارت دے د کوم سړي سعي او کوشش چه د پورتنو ذکر شوو اعمال د پاره وي مونږ به د هغے دَ آسانۍ دَ پاره اسباب مهیّا کړو یعني د داسے کارونو زیات توفیق به ورکړو چه په آخرت کښې به د هغهٔ د راحت او آسانۍ او دُخول جنّت باعث وي.

۴ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ. دا د سعي او عمل دویم اړخ دے کوم سړے چه بخل اوکړي او د حق په لاره کښې مال نهٔ خرچ کوي او د الله تعالیٰ د عذاب او ثواب نه مستغني شي او مِلّت اسلام دروغ اوګڼړي هغهٔ دَ پاره به مونږ د تنګئ او سختئ اسباب آسان کړو او د هغهٔ د سعي عمل نتیجه به د جهنّم دردناک عذاب وي. وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ ۝ هغه مال جمع کولو لیکن د حق په لاره کښې ئے خرچ نهٔ کولو چه کله هغه د هلاکت په کنده (جهنم) کښې پریوځي هغه وخت به دا دولت هیڅ په کار

راتشي. ځکه چه هغه وخت به د هغه لاس خالي وي. هیڅ به په کښ نه وي.

۵ے إِنَّ عَلَيْنَا. د حق طرف ته رهنمائي کول، حق دلائلو سره واضح او مدلل کول ځمونږ کار دے چه مونږ ئے همیشه کوو او که څوک حق قبلوي یا رد کوي دا د هغه خوښه ده څه چه کوي هغه شان بدله به مومي.
وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ. د دنیا او آخرت مالکان مونږ یو د دے وجه نه که څوک هدایت قبول کړي نو په دے کښ ځمونږ هیڅ فائده نشته او که څوک ګمراهي اختیار کړي نو د دے سره ځمونږ هیڅ نقصان نشته. یا مطلب دا دے چه د دنیا او عقبیٰ مالکان مونږ یو د دے وجه د دواړو جهانونو دولت ځمونږ نه اوغواړئ. فلا یضرنا ضلال من ضل ولا ینفعنا اهتداء من اهتدی او انهما لنا فمن طلبهما من غیرنا فقد اخطاء الطریق (مدارک).

۶ے فَأَنذَرْتُكُمْ. دا تخویف اخروي دے ما تاسو د تیز لمبے وهونکی اور نه ویره ورکړې ده هغے نه ځان بچ کړئ او حق قبول کړئ. هغے ته به صرف هغه څوک داخلیږي څوک چه ډیر بد بخت وي چا چه د خدائے ایتونه دروغ اوګڼړل او د حق دین نه ئے اعراض اوکړو.

۷ے وَسَيُجَنَّبُهَا. دا بشارت اخروي دے د جهنم ګرم اور نه به هغه څوک لرې اوساتل شي څوک چه ډیر زیات متقي او پرهیزګار وي چه خپل مال محض د الله تعالیٰ د رضا د پاره خرچ کوي او غواړي چه د ګناهونو نه پاک صفا شي د خدائے سره حاضر شي. وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ او د چا په هغه باندے څه احسان نشته چه هغے بدله ورکوي یعني په کوم غریبانو او مسکینانو باندے چه هغه مال خرچ کړي د چا د احسان بدله کښې دا سے نه کوي بلکه محض د الله د رضا حاصلولو د پاره خرچ کوي. إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ. استثناء منقطع ده او إِلَّا په معنی د لٰکن دے لیکن هغه د خپل رب اعلیٰ د رضا طلب کولو د پاره کوي هر څه چه کوي.

۸ے وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ. ډیر زر به هغه د الله تعالیٰ نه راضي شي هر کار د الله د رضا د پاره کړیدے د دے وجه نه به الله تعالیٰ هغه ته دومره ډیر اجر او ثواب ورکړي چه هغه به هم راضي شي اي سوف يعطيه في الجنة ما يرضى وذالك انه يعطيه اضعاف ما انفق (قرطبي ج ۲۰ ص ۸۹) د مفسرینو تقریبًا په دے اتفاق دے چه دا ایتونه د حضرت ابو بکر صدیق رضي الله تعالیٰ عنه په حق کښ نازل شوي دي په دینه د حضرت صدیق اکبر رضي الله تعالیٰ عنه ډیر زیات اعلیٰ صفتونه معلومیږي

چه هغه د انبیاء علیهم السلام نه روستو د ټولو نه زیات متقي او پرهیزګار دے او هغه د الله تعالیٰ په لاره کښې کوم خه چه خرچ کړل یا یې کوم غلامان آزاد کړل دا ټول هر څه هغه د ریا او نوم شهرت د پاره اونکړل. او نه د کوم یو غلام په هغه باندے څه احسان وو چه هغه ته یې بدله ورکړی دی بلکه ټول هر څه یې د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو د پاره او کړل.

سُوْرَةُ الضُّحٰى

ربط د تیر شوی سورة په ختمیدو باندے سابقه مضمون ختم شو، اوس په دے سورت کښې نبي علیه السلام د پاره تسلی ده.

خلاصه

وَالضُّحٰى ٥ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ــــ تا ــــ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى
دا د مشرکینو د اعتراض جواب او پیغمبر علیه السلام ته تسلی ده.
اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ــــ تا ــــ آخر تسلی د شواهد نبي کریم صلی الله علیه وسلم د پاره.

سُوْرَةُ الضُّحٰى مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة ضحی په مکه کښې نازل شو ده آیتونه یوولس او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

وَالضُّحٰى ۝١ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝٢ مَا وَدَّعَكَ

قسم دے لے د څاښت په وخت. او د شپې کله چه تیاره شي رخصت نه دے درکړے

رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝٣ وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ

تا ته ستا رب او نه بیزاره شویدے ستا نه او یقیناً روستنی کور (د آخرت) بهتر دے ستا د پاره

الْأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ﴿٥﴾

د اول نه ۳ او مخکښې به (را تلونکې) کښې به درکړي تا ته ستا رب پس ته به راضي شې

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ

آیا او نه موندلې ته کړې هغه یتیم پس ځائے درکړو دله او دے موندلے ته

ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾

چه نه پوهیدلې (په شریعت) نو تا ته ئې او ښودل ول ۲ او ته ئې او موندلې فقیر پس ته ئې غني کړے ول ۳

فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾ وَأَمَّا السَّائِلَ

پس هغوک چه یتیم دی هغه ته قهر مه کوه او هغوک چه څه غواړي

فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

هغه مه رټه او کوم نعمت چه درکړے ستا رب پس د هغې بیان کوه۔

نکات

سل د مشرکینو د اعتراض جواب او نبي علیه السلام ته تسلّي سل۲ شواهد د پاره د تسلّي ۱۲ سل۳ مرتب په ماقبل په طور د لف نشر مرتب۔

موضح قرآن

ف۱ حضور علیه السلام باندے ډیرے ورځے وحی رانغله زړه ئې خفه شو۔ تهجد ته به نه پاڅیدل کافرانو او وئیل چه د هغه رب هغه ته رخصت ورکړو او پرېښے خو ده بیا دا سورت نازل شو اول ئې قسم او خوړو په نمر او د شپې په تیاره باندے یعني په ظاهر کښې هم دالله دوه قدرتونه دي په باطن کښې هم که رڼا کول دی که تیاره دواړه دالله تعالیٰ دي د الله تعالیٰ نه بنده هیڅکله لرې نه دے۔ ۱۲ منه رح۔ ف۲ یعني اول حالت ستا د روستي نه بهتر دے ۱۲ فتح العزیز

ف۳ د نبي علیه السلام پلار مړ شو د مور په خیټه پاتے شو نیکه ئې تربیت او کړو هغه هم مړ شو دا ته کلونو په عمر کښې بیا ئې تره تربیت کولو تر هغې چه ځوانۍ ته او رسیدلو ۱۲ منه رح۔

ف۴ کله چه حضرت ځوان شو نو د قوم رسم رواج نه بیزار وو او د هغه سره د کوم بل رسم او رواج نه وو الله تعالیٰ حق دین نازل کړو ۱۲ منه رح۔

ف۵ حضرت خدیجه رض د خپل قوم په اشرافو کښې وه او مالداره وه هغې سره نکاح او شوه هغې ټول مال حاضر کړو ۱۲ منه رح۔

فتح الرحمٰن مترجم وائي چه څو ورځې وحي نه وه راغلې کافرانو اوويل "ودعه وقلاه" الله تعالیٰ د نبي علیه السلام د تسلئ د پاره دا سورت نازل کړو ۱۲۔

تفسیر ۲ـ وَالضُّحٰى ـ د جمهور مفسرينو په نزد بائد ئے حئه مصلحت د پاره څو ورځې جبرئيل علیه السلام وحي را نه وړله نو مشرکانو اوويل چه محمد صلی الله علیه وسلم نه خدائي ناراض او خفه شويدے او هغه ئے پريخودے دے ـ دے بانديے دا سورة نازل شو چه په هغے کښې د مشرکانو د بيکاره خبرو جواب ورکړے شو او نبي علیه السلام ته تسلي ورکړے شوه چه الله تعالیٰ نه خوستا نه ناراض شويدے او نه ته هغه پريخودلے يے ـ (خازن) ، ابن کثير ، کبير وغيره) ـ الضحیٰ ـ د غاښت وخت ، د ورځے رڼرا ـ سجیٰ اي غطي بظلامه (جلالين) ـ هر شيز په خپلو تيارو کښې پټ کړي روښانه ورځ او تيارهٔ شپه ګواهي دي چه الله تعالیٰ ته نه ئے پريخودے او نه ستا سو نه خفه شويدے ځکه چه د ورځے رڼرا د شپے تيارهٔ يو شان نه دي ـ د غه شان ټول حالات يو شان برابر نه دي کله تنګي کله فراخي ـ ځنے وخت تنګي وي ځنے وخت فراخي ـ د غه حال د وحي هم دے چه کله راځي او کله نه راځي ـ

۳ـ وَلَلْاٰخِرَةُ ـ د آخرت حال ئے بيان کړو زيا ته تسلي ئے او فرمائيله دنيا کښې خو مختلف حالات راځي او ځي کله راحت کله مشقت اګرچه په دنيا کښې هم ټول له بهترى ده ليکن په آخرت کښې د دنيا په مقابله کښې ستا سو د پاره ډيره زيا ته بهترى او غوره والے دے ځکه چه په آخرت کښې د ټولو نه اوچت او عظيم مقام يعني مقام محمود ستا سو د پاره مخصوص دے ، يا مطلب دا دے چه هر روستونے حالت به ستا سو د پاره د مخکني حالت نه بهتر وي ـ ځکه چه په مزه مزه به ټول تکليفونه ختم شي او تا سو ته به غلبه حاصل شي ـ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ـ په آخرت کښې به الله تعالیٰ تا سو ته داسے نعمتونه او داسے شرف او عزت درکړي چه تا سو به د دنيا مشقتو نه هير کړئ او خوشحال به شئ ـ

۴ـ اَلَمْ يَجِدْكَ ـ نبي علیه السلام ته ئے ابتدائي حالات وریاد کړل او د رے انعامات ئے ذکر کړل د تسلئ د پاره ئے شواهد بيان کړل هر لاحق انعام د سابق نه روستو شويدے استفهام تقريري دے ـ تا سو يتيم پاتے شوئ نو الله تعالیٰ د نورو په ذريعه ستا سو پرورش او کړو کله چه تا سو ځوانان شوئ نو د دين لاره تا سو نه پيژندله نو الله تعالیٰ

په تاسو قرآن نازل کړو تاسو ته شریعت او بښودلو او لاره ئے درته او ښودله.
بیا تاسو فقیر او تنګدست وئ نو الله تعالیٰ تاسو غني کړئ په مکه کښې د
حضرت خدیجه په مال سره یا په مدینه کښې په غنیمتونو او انفال سره
ای فاغناك بخدیجة رضي الله عنها .... وقیل اغناك بما فتح لك
من الفتوح وافاءه علیك من اموال الکفار (قرطبي ج ۲۰ ص ۱۰۰-۹۹) - مګر
په دویمه توجیه باندے علامه قشیري اعتراض کړیدے چه دا سورت
مکي دے چه د هغے مطلب دادے چه دا مالداري په مکه کښې حاصل شوے
وه، لیکن غنیمتونه او انفال د دینه روستو مدینه کښې حاصل شول. لهٰذا
د کوم غنیمتونو طرف ته چه دے سورة کښې اشاره ده د دینه د مدینے غنیمتونه
نشي مراد کیدلے. ضالاً. اګرچه هغه چا ته هم ویلے شي چه په صحیح لاره
باندے د راتللو نه روستو ګمراه شي او د صحیح لارے لرے شي لیکن دا لفظ
دے مفهوم پورے نه دے خاص کړے شوے. بلکه دا د بے خبرا او غافل
په معاني کښې هم راځي یعني چا ته چه لار او سه پورے هم نه وي دلته هم
دا معنی مراد ده یعني تاسو ته د دے خبر نه وو چه تاسو ته به نبوّت درکړے
کیږي او په تاسو به قرآن نازلیږي. ضالاً عن معالم النبوة واحکام
الشریعة غافلا عن کل ما لا طریق الی درکه الا السمع ..... فهدی ای
فهداك الی معالم الدین (مظهري ج ۱۰ ص ۲۸۶) ای غافلا عما یراد بك من
امر النبوة فهداك ای ارشدك والضلال هنا بمعنی الغفلة (قرطبي)
تائید: وان کنت من قبله لمن الغفلین (یوسف ع ۱) او ما کنت
تدري ما الکتب ولا الایمان - الآیة (شوریٰ ع ۵) -

۵ فَاَمَّا الْیَتِیْمَ - دا دریواړه امور په مخکینو درے امورو
باندے په طور د لف نشر مرتب امر اول، اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا فَاٰوٰی
باندے مرتب دے چونکه تاسو هم د دے حال نه تیر شوي یئ او د یتیمئ
مزه تاسو هم څکلے ده - د دے وجه نه د دے د یتیم سره سختي مه
کوئ او مه ئے رټئ - وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ - دا په وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰی
باندے متفرع دے. الله تعالیٰ تاسو ته دین او شریعت علوم او معارف
درکړل د دے وجه نه کوم چرے څوک د علم دین مسائل په خدمت کښې
حاضر شي نو هغه ته زور نه مه ورکوه او مه ئے رټه بلکه هغه په علم دین
باندے خوب کړه. وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ دا په وَوَجَدَكَ
عَآئِلًا فَاَغْنٰی باندے متفرع دے. الله تعالیٰ تا ته دولت درکړو د دے
وجه نه دا الله تعالیٰ د دے نعمت شکر ادا کړه او د دے اعتراف او اقرار
او کړه ځکه چه د تنګئ نه روستو که فراخي راځي نو د هغے بنه اقرار کیږي.

سُورَةُ الْمِ نَشْرَحْ

ربط سورة الضحیٰ کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغوی ذات پاندې د مشرکانو د اعتراض په باره کښې تسلیٰ ورکړې شوه اوس دې سورة کښې نبي علیه السلام ته په مؤمنانو باندې د مشرکانو د دې اعتراض په باره کښې تسلیٰ ورکړې شوه چه مؤمنانو سره مال نشته۔

خلاصه

اَلَمْ نَشْرَحْ ـــــ تا ـــــ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ۔ ستاسو سینه مونږ د اسلام دپاره پرانستله او کفر شرک مونږ ستاسو طرف ته نزدې را تللو ته هم پرې نخود۔ فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا۔ تسلیٰ نبي علیه السلام ته۔ دا تنګی او سختي به لرې شي او د دینه روستو به الله تعالیٰ د فراخئ دور راولي۔ فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ـــــ تا ـــــ اخر۔ د دې وجې نه تاسو دنیوی مال دولت ته مه ګورئ او د الله تعالیٰ سره تعلق او محبت لرلو کښې مشغول اوسیږئ۔

سُوْرَةُ الْاِنْشِرَاحِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانُ اٰيَاتٍ وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة الانشراح دے مکه کښې نازل شو دده ایتونه اته ۸ او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا

آیا مونږ نه دے پرانستلے ستا سینه ۱ او لرې کړلو مونږ

عَنْكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾ الَّذِيْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾

ستا نه ستا بوجه ۲ چه ماتولے ستا ملا وه ۳

وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝٤ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ

او اوچت کړے مونږ ذکر ستا ف۳ پس بیشکه سختئ سره

يُسْرًا ۝٥ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٦ فَإِذَا

آسانی ده بیشکه د سختئ سره آسانی ده پس کله چه

فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝٧ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝٨

ته فارغ شے نو محنت کوه او خپل رب طرفته زړه متوجه کړه۔

نکات: سلے د مشرکینو د اعراض جواب اول انعام ۱۲۔ ۳ ۔ دویم انعام ۱۲۔ ۳۔ تسلی ۱۲۔

موضح قرآن ف او په ظاهره هم فرشتو د نبی علیه السلام سینه څیرے کړه د زړه نه ئے تور والے اویستلو وے وینځلو ۱۲ منه ۳۷۔

ف وحی نازلیدل اول مشکل وو بیا آسانه شوه ۱۲ منه رحمه الله۔

ف۳ یعنی پیغمبرانو او فرشتو کښ ستا نوم اوچت دے ۱۲ منه رحمه الله۔

تفسیر سلے أَلَمْ نَشْرَحْ ۔ اول انعام ۔ مشرکانو اعتراض اوکړو چه مسلمانانو سره دولت نشته حمو نږ سره دولت دے مونږ دهغوی نه زیات قابل د عزت یو ۔ دے سره طبعی طوریانه رسول الله صلی الله علیه وسلم غمژن شو نو دے سورۃ کښ نبی علیه السلام ته تسلی ورکړے شوه چه دا قسم تنګی او سختی به د امتحان په طور په مومنانو باندے څی راځی ، لیکن آخرکار الله تعالی به هغوی فراخی راولی ۔ ا استفهام تقریری دے او مطلب دا دے چه مونږ دابتداء نه د اسلام او معارف او علومو د پاره ستاسو سینه پرانستله او د اسلام یاره کښ مونږ ستا سو زړه د اطمینان او یقین نه ډک کړو ۔ تائید : فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ (انعام ع ۵)۔

سلے وَوَضَعْنَا ۔ د وِزْرَكَ نه مراد د کفر او شرک او معاصی بوجهه دے ۔ یعنی مونږ د کفر او شرک او نورګناهونو بوجهے ستا نه لرے کړو ته مے محفوظ کړے کیږے پدے کښ یو ګناه هم ستا نه شوے وے نو ستا ملا به مے ماتوله لیکن په واقع کښ دا سے او نشوه او مونږ ستا نه دا سے ګناه صادر نه کړه ۔ یا د وِزْرَ نه زلات (لغزش) مراد دی لکه چه ارشاد دے ۔ عَفَا اللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ الخ (توبه ع ۷) وما کان

لنبي ان يكون له اسرى حتى يثخن في الارض (انفال ع ۹)۔

۴ ے ورفعنا۔ دا دویم انعام دے۔ مونږ ستا سو ذکر اوچت کړو (عزت اولوئے هم درکړه) تا سو باندے مونږ قرآن نازل کړو ترقیامت پورے به ئے زده کوی او بیل ته به ئے ښائی او تا سو ته به ثواب ملاویږی۔ یا مطلب دا دے چه ما دخپل نوم سره ستا سو نوم یوځلځه کړو او اوچت م کړو مثلاً اذان اقامت کښ تشهد کښ خطبات کښ۔ عن ابن عباس قال: يقول له لاذكرت الاذكرت معى فى الاذان والاقامة والتشهد و يوم الجمعة على المنابر ويوم الفطر ويوم الاضحى وايام التشريق ويوم عرفة وعند الجمار وعلى الصفا والمروة وفى خطبة النكاح وفى مشارق الارض ومغاربها۔ (قرطبی ج ۲۰ ص ۱۰۷)۔

۵ ے فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ: کافرانو به ویل ټول مسلمانان محتاج دی ددے وجه نه دنبی علیه الصلوٰة والسلام په زړه کښ خیال راغے چه شاید کافران ددے وجه نه ایمان نه راوړی۔ نو دے فرمائیل اوکوره الله تعالیٰ په تا باندے څومره انعامات کړیدی۔ هغه به فقرا او لوږه هم لرې کړی ځکه چه د هر سختئ نه روستو آسانی او تنگئ نه روستو فراخی ده، تا سیر: وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ الخ (طٰهٰ ع ۷)۔

فاذا فرغت۔ دخدائی مخلوق ته د توحید دعوت ورکړه کله چه د هغے نه فراغت ملاؤ شی نو دالله تعالیٰ په عبادت کښ مشغول شه ای اذا فرغت من دعوة الخلق فاجتهد فى عبادة الرب (مدارک) یا مطلب دا دے چه دخپل ضروری کارونو نه فارغ شی دالله په عبادت کښ کوشش کوه۔ عن مجاهد اذا فرغت من امر الدنيا فانصب فى عبادة ربك وصل (معالم) حاصل دا دے چه خپل ټول وختونه تبلیغ، دعوت، جهاد، او عبادت کښ مصروف ساته۔

۷ ے وَإِلَىٰ رَبِّكَ او په خپلو ټولو حالاتو کښ دالله طرف ته رجوع اوکړه او دهغه نه سوا بل هیڅ طرف ته توجه مه کوه۔ اجعل رغبتك الى الله تعالىٰ فى جميع احوالك لا الى احد سواه۔ (خازن)۔

له سورة التين

ربط د توحید او جزاء او سزاء دمسئلے بیانولو نه روستو په سورة الضحیٰ کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تسلی

ورکړے شوه او په سورة الم نشرح کښې مومنانو ته تسلی ورکړے شوه او س په سورة التین کښې پنځهٔ دلائل (درے نقلی یو عقلی او یو دلیل وحی) سره واضح کړے شوے دے چه انسان ته به او چت مقام صرف د مسئله توحید منلو سره ملاویږی او موږ انسان ته د ظاهری حسن او جمال نه علاوه د عقل او پوهې نعمت هم ورکړیدے دے د پاره چه هغه حق او پیژنی لیکن د حق نه د اعراض په وجه به هغه د ټولو نه لاندے طبقه کښې د غور ځولو حق دار جوړیږی۔

خلاصه

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ـــــ تا ـــــ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ د د انسان احسن تقویم کښې کیدلو باندے درے نقلی دلیلونه او یو دلیل وحی ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۝ د بد عملئ د سزا بیان۔ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الاٰية مومنانو د پاره بشارتِ اُخروی۔ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ ۝ متفرع دے په جواب قسم باندے۔ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ۝ دلیل عقلی

سُوْرَةُ التِّيْنِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانُ اٰيٰتٍ وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة التین ده په مکه کښې نازل شو ده اته ایتونه او یو رکوع ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم سره چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۝۱ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۝۲

قسم په انځر ده او په زیتون اونه باندے او په طور سینین

وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ۝۳ لَقَدْ خَلَقْنَا

او په دے ښار د امن والا موږ پیدا کړو که

الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۝۴ ثُمَّ

انسان په ډیر ښه اندازه (اعتدال) سره بیا

رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۝۵ اِلَّا الَّذِيْنَ

موږ او غورځولو هغه د ښکته نه ښکته (لاندے طبقه د جهنم کښې والا) لیکن هغه کسان چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ

یقین اوکړی او عملونه اوکړی نیک او هغوی د پاره ثواب

غَیْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿۶﴾ فَمَا یُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّیْنِ ﴿۷﴾

دے بے انتها نو څه شی باعث د تکذیب ستا کرځی په مقدمه د جزاء

اَلَیْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِیْنَ ﴿۸﴾

د اعمالو کښی روستو دے دلائلو ولے نه دے الله د ټولو حاکمانو نه لوئے حاکم

نکات

سل اشاره ده اول دلیل نقلی ته ۱۲۔ سل۲ اشاره ده دویم دلیل نقلی ته۔ سل۳ اشاره ده دریم دلیل نقلی ته ۱۲ سل۴ اشاره ده دلیل وحی ته ۱۲۔ سل۵ د ذکر شوو قسمونو جواب ۱۲ سل۶ تخویف اخروی ۱۲۔ سل۷ بشارت اخروی۔ سل۸ متفرع دے په جواب قسم۔

موضح قرآن

ف۱ بنارونه وینځلے دے مکے ته او د انځر او زیتون دوه باغونه دی په دوو غرونو باندے د بیت المقدس په خوا او شا کښی، هغه د برکت ځائے دے او طور سینین هغه ځائے دے چرته چه د حضرت موسیٰ علیه السلام سره خبرے اوشوے د اشخلو ځایونه ډیر د برکت او فرمائیل۔

ف۲ یعنی هغه نے د فرشتو د مقام لائق اوکرځولو بیا چه کله منکر کافرشو نو د ځناورو نه بدتر دے ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ۔

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی کوم وخت چه کافرشه فطرت سلیمه ئے ضائع کړو۔ ف۲ او بنائی چه معنی به دا شان وی پس څه شی ستا د تکذیب باعث کرځی د جزاء اعمال په مقدمه کښی روستو دے دے قول وعظ او نصیحت نه ۱۲۔

تفسیر

سلے وَالتِّیْنِ۔ د قبیل د ذکر د مکان نه او اراده د مکین۔ دا د حضرت ابراهیم علیه السلام سره دلیل نقلی طرف ته اشاره ده او تین (انځر) نه د انځر د زرغون ځائے یعنی د انځر د پیدا کیدلو ځائے مراد دے او هغه د شام ملک دے چرته چه انځر زیات پیدا کیږی او د شام ملک د حضرت ابراهیم علیه السلام د هجرت ځائے دے چرته چه د الله تعالیٰ له طرفه په هغه وحی نازل شوی وه۔ وَالزَّیْتُوْنِ دا حضرت عیسیٰ علیه السلام سره دلیل نقلی طرف ته اشاره ده او دے نه هم د زیتون د زرغونی ځائے مراد دے یعنی بیت المقدس چه د حضرت

عیسیٰ علیه السلام د پیدائش ځائے دے المراد من الکلام۔ القسم بمنابت التین ومنابت الزیتون۔ (ابن جریر۔ قرطبی ج ۲۰ ص ۱۱۱)۔
حضرت عکرمہؒ، قتادہؒ، ابن زیدؒ او کعبؓ فرمائی وَالزیتون بیت المقدس (ابن جریر) اؤ حضرت ابن عباسؓ فرمائی والزیتون بیت المقدس (ابن جریر قرطبی)۔
۲ے وَطُوْرِ سِیْنِیْنَ۔ دا حضرت موسیٰ علیه السلام سره دلیلِ نقلی دے سینین هغه مشهور غر یعنی طور سیناء دے په کوم چه حضرت موسیٰ علیه السلام سره د ربّ العزّت جلّ جلاله سره تخبرو کولو شرف حاصل شوے وو.
وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِیْنِ ٥ دینه مکه مکرمه مراد ده اؤ دا دلیل وحی طرف ته اشاره ده امین په معنی دامن دے یعنی دامن نه ډک ځائے لکه چه بل ځائے ارشاد دے۔ اِنَّا جَعَلْنَاهُ حَرَمًا اٰمِنًا (عنکبوت ع ۷)۔
۳ے لَقَدْ خَلَقْنَا۔ دا د ذکر شوو قسمونو جواب دے۔ دمشق، بیت المقدس، طور سیناء، اؤ مکه مکرمه گواه دی۔ دے ښارونو کښے انبیاء علیهم السلام بانددے مونږ چه کومه وحی اولیږله هغه گواه اؤ دے کښ دغه بیان دے چه مونږ انسان دخپل ټول مخلوق نه زیات ښائسته اؤ خوبصورت پیدا کړیدے د ظاهری حسن اؤ جمال په اعتبار سره هم د باطنی صفتونو په لحاظ سره هم قال ابن العربی لیس لله تعالیٰ خلق احسن من الانسان (قرطبی) انه تعالیٰ خلق کل ذی روح مکبا علی وجهه الاالانسان فانه تعالیٰ خلقه مدید القامة یتناول ماکوله بیده وقال الاصم فی اکمل عقل و فهم وادب وعلم وبیان۔ (کبیر)۔
۵ے ثُمَّ رَدَدْنٰهُ۔ باغیانو اؤ سرکښو د پاره تخویف اُخروی دے انسان ته مونږ ظاهری اؤ باطنی صفتونه ورکړیدی لیکن چه کله هغه د عقل اؤ پوهی نه کار وانه اخسته حمو نږ د اطاعت نه یے سر واړه ؤلو نو مونږ هغه د جهنم دیټولو نه لاندے اؤ ښکته طبقه کښ اوغورځولو یعنی مونږ هغه د پاره د سزا فیصله اوکړه۔
۶ے اِلَّا الَّذِیْنَ۔ دا مؤمنانو د پاره بشارت اُخرویه دے کوم خلق چه ایمان راؤړی اؤ نیک کارونه اوکړی هغوی د پاره په آخرت کښ هیڅ کله هم نه ختمیدونکے اجر اؤ ثواب دے۔ جنّت کښ چه به هغوی ته کوم نعمتونه ملاویږی هغه به هیڅ کله هم نه ختمیږی۔
۷ے فَمَا یُکَذِّبُکَ۔ دا په جواب قسم بانددے متفرع دے۔ د پورتنی ذکر شوے بیان نه روستو کوم څیز تا سولره کوم څیز د حشر نشر جزاء اؤ سزاء په انکار بانددے مجبوروی؟ دا الله تعالیٰ انسان په احسن تقویم کښ پیدا کولو اؤ دا او بو دیو څاڅکے نه دا سے عظیم الشان اؤ په خوبصورتی

کښې د ټولو مخلوق نه اعلیٰ او ارفع مخلوق پیدا کولو د دے خبرے واضح دلیل دے چه هغه د انسان په دوباره ژوندے کولو باندے هم قادر دے، د دے وجه نه د حشر نشر او جزاء سزاء نه انکار ډیر زیات قابل د تعجب دے.

۵ه اَلَیۡسَ اللّٰهُ بِاَحۡکَمِ الۡحٰکِمِیۡنَ ۝ دا دلیل عقلی دے الله تعالیٰ په ټولو بادشاهانو کښې د ټولو نه لوئے بادشاه دے هغه چه څه غواړی کولے شی د هغه دا فیصله ده چه حشر نشر جزاء او سزا حق ده.

له سُورَةُ العلق

ربط تیرو شوو سورتونو کښې د تسلیٔ او تخویف بیشتر مضامینو نه روستو ئے اوفرمائیل د قرآن کریم په تلاوت باندے همیشوالے کوئ د دے سره به استقامت علی التوحید (توحید باندے ثابت قدمی) حاصلیږی.

خلاصه

اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّکَ ___ تا ___ عَلَّمَ الۡاِنۡسَانَ مَا لَمۡ یَعۡلَمۡ. د معاندینو پرواه مه کوئ د هغوئ د ضرر رسولو نه مه ویریږئ د الله تعالیٰ نوم واخلئ د قرآن تلاوت او تبلیغ کوئ. کَلَّاۤ اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَیَطۡغٰۤی شکوه. اِنَّ اِلٰی رَبِّکَ الرُّجۡعٰی تخویف اُخروی. اَرَءَیۡتَ الَّذِیۡ یَنۡهٰی ___ تا ___ اَلَمۡ یَعۡلَمۡ بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی. زجر د سرکش او نافرمانو دپاره کَلَّا لَئِنۡ لَّمۡ یَنۡتَهِ ___ تا ___ سَنَدۡعُ الزَّبَانِیَةَ. تخویف اُخروی کَلَّا لَا تُطِعۡهُ وَاسۡجُدۡ وَاقۡتَرِبۡ. خطاب پیغمبر علیه السلام ته او امر په استقامت.

سُوۡرَةُ الۡعَلَقِ مَکِّیَّةٌ وَّهِیَ تِسۡعَ عَشۡرَةَ اٰیَةً وَّفِیۡهَا رُکُوۡعٌ وَّاحِدٌ

سورة علق له مکه کښې نازل شو ده ایتونه نولس او رکوع یوه ده

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّکَ الَّذِیۡ خَلَقَ ۚ﴿۱﴾

او لوله ته د خپل رب په نوم چه د ټولو پیدا کوونکے دے

خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ مِنۡ عَلَقٍ ۚ﴿۲﴾ اِقۡرَاۡ وَ رَبُّکَ

پیدا ئے کړو انسان د چکه شوے وینے نه او لوله او ستا رب

الۡاَکۡرَمُ ۙ﴿۳﴾ الَّذِیۡ عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ ۙ﴿۴﴾ عَلَّمَ

ډیر کریم دے چا چه علم او ښودلو قلم سره وے ښودلے

الۡاِنۡسَانَ مَا لَمۡ یَعۡلَمۡ ؕ﴿۵﴾

انسان ته څه چه هغه نه پیژندل وا

نکات: سلے بائے استعانت ۱۲۔

موضح قرآن

ف اوّل ځل چه جبرئیلؑ وحی راوړه نو هغه دا پنځه ایتونه وو۔ نبی علیه السلام هیڅکله لوستل نه وو کړی وے فرمایل چه قلم سره هم علم هغه ورکوی دا به هم هغه ورکوی ۱۲۔

تفسیر

سلے اِقۡرَاۡ۔ بائے استعانت د پاره ده د خپل هغه پروردګار په نوم او لوله چا پیدا کړو، کوم خلق چه د دے کافی او شافی بیان نه روستو هم نه منی هغوی پریږده د هغوی تکلیف رسولو او شر پورته کولو پرواه مه کوه بس د الله تعالیٰ نوم سره د قرآن تلاوت او تبلیغ کښ مشغول اوسیږه د قرآن تلاوت په حق باندے د استقامت ذریعه ده۔

سلے خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ۔ انسان الله تعالیٰ د چکه وینے نه پیدا کړو، ځکه چه د مور په رحم کښ نطفه د ټولو نه مخکښ د علقه (چکه وینی) شکل اختیار کړی۔ بل ځائے ارشاد دے۔ فَخَلَقۡنَا النُّطۡفَةَ عَلَقَةً۔ (مؤمنون ع ۱)۔ اِقۡرَاۡ اعاده د بعد عهد په وجه ده۔ وَرَبُّکَ الۡاَکۡرَمُ۔ ستا رب ډیر کریم دے چه مجرمانو سمدستی نه رانیسی الَّذِیۡ عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ۔ هغه ډیر ډیر څیز قلم په ذریعه تعلیم ورکړو ځکه چه ټول کتابونه د قلم په ذریعه لیکل شی د دغه شان قلم د تعلیم او تعلم یوه ډیره زیاته اهم ذریعه ده۔ ۱۲۔

سکه عَلَّمَ الۡاِنۡسَانَ۔ الانسان نه حضرت آدم علیه السلام مراد دے چه هغه ته الله تعالیٰ د اسماء (نومونو) تعلیم ورکړو یا نبی علیه الصلوٰة والسلام مراد دے او مطلب دا دے چه کوم امور

دَ ظاهري اسباب نه معلوم نه وي دَ هغې علم دَ وحې په ذريعه ورکوي او مراد صرف هغه خبرې دي چه دَ هغې تعلق رسالت سره دے ۔ دينه کلّي علم غيب مراد کول غلط او باطل دي ځکه چه د کلّي علم غيب د رسالت فريضه سره هيڅ تعلق نشته۔ دا پنځه آيتونه نبي عليه السلام باندے د ټولو نه مخکښ نازل شول۔

كَلَّآ إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰٓ ﴿٦﴾ أَن رَّآهُ

دا سے هيڅ خبره نشته بلکه انسان سرکشي کوي د دے وجه نه چه ويني

اسْتَغْنَىٰٓ ﴿٧﴾ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰٓ ﴿٨﴾

خپل ځان بے پرواه بيشکه ستا رب طرف ته بيا واپس ور تلل دي

أَرَءَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴿١٠﴾

تا ليدلے دے هغه څوک چه منع کوي يو بنده کله چه هغه مونځ کوي هله

أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰٓ ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ

آيا ته نه ويني که چرے هغه په نيکه لار باندے دے يا بنائي کار

بِالتَّقْوَىٰٓ ﴿١٢﴾ أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١٣﴾

دَ ويرے آيا ته نه ويني که چرے دروغ ئے اوګڼل او مخ ئے اوګرځولو

أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾ كَلَّا لَئِن

په دے پوهه نه شو چه الله تعالیٰ ويني هغه (داسي) هيڅ کله نه ده که چرے

لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ

منع نه شي شه موږ به هغه راکاږو د تندي ويښتو نيولو سره څنګه تندے

كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿١٧﴾

دروغژن ګنهګار د را او دِ بلي خپل د مجلس ملګري

سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا لَا تُطِعْهُ

موږ هم رابلو ملائکے د سخت عذاب داسي هيڅکله نه ده کوم منه د هغه

وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿۱۹﴾ السجدة

خبره او سجده اوکړه او نزدے شه ۳ و

نکات سا شکوی ۱۲ سا تخویف اُخروی ۱۲ سا تخویف اُخروی ۱۲ ـ سا ردع د پاره ۱۲ ـ

موضح قرآن ف دا ابوجهل کافر وو چه نبی علیه السلام به ئے په مانځه پاندے لیدلو نو غرور او تکبر به ئے کولو ۱۲ منه رحمه الله ـ ف۲ یعنی نیکه لاره پاندے وے او د نیک کار ښودنه ئے کوله نو څومره ښه سړے به وے. او چه ئے مخ اوګرځولو نو مونږ ته ئے څه نقصان راکړو ۱۲ منه رح ـ ف۳ یو ځل ابوجهل نبی علیه السلام په مانځه کښ اولیده روان شو چه څه ګستاخی او بے ادبی اوکړی هلته نه وو رسیدلے چه دوزرو آوازے واوریده واپس اوګرځیده او ویریده بیائے هیڅکله هم داسے خیال اونکړو معلومه شوه چه په سجده کښ بنده الله تعالیٰ ته نزدے وی ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ ـ

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی پیژندل پکاردی چه دا هتداء او هدایت عاقبت او انجام جنت دے او د ضلال او اضلال (په خپله ګمراه کیدل او بل ګمراه کول) عاقبت دوزخ نو دا مدعٰی او په یو قسم بلاغت سره ادا کړے شو ـ

ف۲ یعنی فرشتے سخت عذاب ورکونکی ۱۲ ـ

تفسیر ۵ كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ ـ دلته انسان نه د اکثرمفسرینو په نزد پاندے ابوجهل مراد دے یا دے نه جنس مشرک انسان مراد دے ـ كَلَّا په معنی د حقًا دے ـ د الله تعالیٰ د داسے انعامات او د داسے واضح بیانونو باوجود چه کوم مشرک انسان سرکشی کوی او عصیان او د الله تعالیٰ نافرمانئ کښ د حد نه تجاوز کوی. اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰی ـ لام تعلیلی مقدر دے ـ ای لان را نفسه استغنی ای صار ذامال وثروة (قرطبی ج ۲۰ ص ۱۲۳) مشرک انسان د دے وجه نه سرکش او نافرمان دے چه هغه دولت مند دے د دے وجه نه د هغه دین او ایمان ته ضرورت نشته. هغه ناپوهه او بدبخت دا خیال کوی چه بس د دُنیا دولت اصل څیز دے او د دے سره د انسان عزت او عظمت دے ـ

۶ اِنَّ اِلٰی ـ دا تخویف اُخروی دے ـ هغه دا خیال کړیدے چه د دے دنیوی ژوند نه روستو بل کوم ژوند نشته لیکن دا خیال

غلط دے بلکه د مرګ نه روستو په برزخ کښ اؤ د قیامت په ورځ به د حشر په میدان کښ د هغه واپسي وي د الله تعالیٰ طرف ته اؤ د هغه په مخکښ به پیش کیدل وي هلته به هغه ته د هغه د نافرمانۍ پوره پوره سزا ملاویږي اؤ دولت مالداري به هلته په کار نه راځي.

۷ے أَرَءَيْتَ الَّذِي. دا ابوجهل اؤ نورو مشرکانو ته زجر دے. عبداً نه رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد دے. أَرَءَيْتَ إِنْ كَانَ. ضمیر غائب د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه کنایه ده. أَرَءَيْتَ إِنْ كَذَّبَ. دلته ضمیر غائب ابوجهل وغیره نه کنایه دے. أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ. دا تیر شوي مضمون جزاء ده یعني دا خورا ته اووایه چه کچرے حضور بنده محمد صلی الله علیه وسلم په هدایت وي اؤ د تقوىٰ اؤ طهارت حکم هم ورکوي او ابوجهل هغه د مانځه نه منع کوي اؤ حق دروغ ګڼړي اؤ د هغې نه اعراض هم کوي نو هغه ته معلومه نه ده چه دا ټول هرڅه الله تعالیٰ وینې.

فائدہ أَرَءَيْتَ په معنیٰ د أَخْبِرْنِي دے یعني کچرے تا ته معلومه ده نو بیان ئے کړه نو ځما نه واوره یا مراد رؤیت بصري دے د دے صورت کښ به هغه دیو مفعول مقتضي وي مذکور وي یا مقدر.

۸ے كَلَّا لَئِن. تخویف اخروي دے کچرے هغوي د ایذاء اؤ شر پورته کولو د غه شان د تکذیب اؤ انکار نه منع نه شول نو مونږ به د قیامت په ورځ هغه د قیامت په ورځ د هغه د اوچ ولی (تندی) د ویښتو نه اونیسو چه دیو مجرم اؤ دروغژن تندے وے بیا دے هغه خپل ټول مجلس ملګري اؤ ټول امدادیان راوبلی اؤ مونږ به د دوزخ فرښتے راوبلو چه هغه به په رابښکلو جهنم ته راوغورځوي. لیکن د هغه امدادیان به هلته هغه په سره هیڅ امداد اونکړي اؤ هیڅوک به هغه د خدائي د عذاب نه بچ نکړے شي.

۹ے كَلَّا لَا تُطِعْهُ. کلا رد عیه دے دا سے به هرګز نه کیږي څنګه چه دا ابوجهل ګمان دے چه د هغه مددګاران به هغه د خدائي د عذاب نه خلاص کړي. هرګز دا سے نه ده. لَا تُطِعْهُ. ابوجهل ستا سو د مانځه نه منع کوي تاسو د هغه خبره مه منئه بلکه مونځ کوئ اؤ د الله په دربار کښ سجدة په ځائے راوړئ اؤ په ډیرو سجدو اؤ عبادت د الله قرب اؤ د هغه رضا حاصل کړئ. عبادت صرف د هغه په ځائے راوړئ اؤ په مصیبتونو کښ صرف هغه ته آواز کوئ.

سُوْرَةُ الْقَدْرِ

ربط سورة العلق کښې د قرآن کریم د تلاوت حکم ورکړو او اوس په سورة قدر کښې د قرآن مجيد د عظمت ذکر اوکړو.

خُلَاصَه

قرآن مجيد ډیر لوئے عظمت او برکت کتاب دے دا ولې او د قرآن د عظمت او برکت په وجه هغه شپې ته هم ډیر زیات شرف حاصل دے په کومه شپه چه کښې قرآن نازل شو. دغه یوه شپه یعنی شب قدر د زرو میاشتو نه هم بهتره ده.

سُوْرَةُ الْقَدْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسُ اٰيَاتٍ وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدَةٌ

سورة قدر په مکه کښې نازل شو دده پنځه اٰیتونه او یوه رکوع ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع په نوم د الله چه ډیر زیات مهربان او رحم کونکے دے

اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ ﴿۱﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ

مونږ هغه نازل کړو لے په شپه د قدر کښې مونږ او ته څه شی پوهه کړے

مَا لَیْلَةُ الْقَدْرِ ﴿۲﴾ لَیْلَةُ الْقَدْرِ خَیْرٌ مِّنْ

چه څه ده د قدر شپه ۳ لے د قدر شپه ۳ لے بهتره ده د

اَلْفِ شَهْرٍ ﴿۳﴾ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓىِٕكَةُ وَالرُّوْحُ

زرو میاشتو نه را کوزیږی په هغې کښې فرښتے او روح

فِیْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ مِّنْ كُلِّ اَمْرٍ ﴿۴﴾ سَلٰمٌ

د خپل رب په حکم سره په هر کار باندے امان (سلامتیا) سره ده

هِیَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿۵﴾

هغه شپه ده د صبا راختلو پورے.

نکات: ۱ د قرآن د عظمت بیان ۱۲

موضح قرآن

ف ښائی چه اول نزول د قرآن دنیا ته هم په دے شپه کښ شروع شو۔ په دے شپه کښ همیشه د پاره درے صفتونه کیښو دلے دي۔ دے شپه کښ چه څوک نیکی کوی لکه چه زرمیاشتی نیکي ئے کړی وي۔ او د دُنیا د کارونو چه کوم مقدار اندازه ده په دے کښ دُنیا ته سبکته راکوزیږی او د الله پاک له طرفه آرام او سکون دِلجمعی نازلیږی ټوله شپه عبادت خوند او مزے سره وي دغه شپه د قرآن نه معلومه شوه چه په رمضان کښ ده د حدیث نه معلومه شوه چه د رمضان په آخری لسو شپو کښ ده د یو و یشتمے (۲۱) نه تر اوو یشتمے (۲۷) پورے الغیب عند الله۔

تفسیر

۱ إِنَّآ أَنزَلْنَـٰهُ۔ د نازلولو نه مخکښ مراد ابتدائی نزول دے۔ یا د لوح محفوظ نه د دُنیا اسمان کښ بیت العزة ته ټول قرآن نازلول مُراد دے۔ د قدر معنی تقدیر ده یعنی اندازه مقررول دے شپه کښ چونکه د ټول کال د کارونو فیصله کیږی د دے وجه نه دیته لیلة القدر اوویلے شوه یا د قدر معنی د عظمت او شرافت ده او د دے عظمت او شرافت په وجه دیته د لیلة القدر نوم ورکړے شو۔ إِنَّ اللهَ تعالٰی یقدر فیها ما یشآء من امره الی مثلها من السنة القابلة ...... وقیل انما سمیت بذلك لعظمتها وقدرها وشرفها (قرطبی ج ۲۰ ص ۱۳۰) وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ۔ دا د لیلة القدر د عظمت او فضیلت بیان دے۔ مونږ قرآن په شب قدر کښ نازل کړو تاسو ته څه معلومه ده چه شب قدر څه دے یعنی شپه ډیر عظمت او برکت والا ده دے شپه کښ د رحمت ډیر آثار ظاهریږی۔

۲ د شب قدر د برکات نه یوه دا هم دے چه هغه یوه شپه د زرو یو زرمیاشتو د عبادت نه بهتر ده۔ واشبه الاقوال فی ذلك بظاهر التنزیل قول من قال: عمل فی لیلة القدر خیر من عمل الف شهر لیس فیها لیلة القدر۔ (ابن جریر)۔

۳ تَنَزَّلُ الْمَلَـٰٓئِكَةُ۔ د لیلة القدر د برکات نه یو دا هم دے چه دے شپه کښ بے شماره فرشتے نازلیږی چه په هغے کښ حضرت جبرئیل علیه السلام خاص طور باندے قابل ذکر دے۔ ای بکل امر قدره الله و قضاه فی تلك السنة الی قابل (قرطبی)۔

۴ سَلَـٰمٌ۔ د دے شپے د برکاتو نه یو دا هم دے چه دا شپه د سلامتیا امن او خیر نه ډکه وي ټول خیر وی او په دے کښ هیڅ شر نه کیږی۔

امام نافع مدنی رحمه الله فرمائی . ای لیلة القدر سلامة وخیر کلها لا شر فیها (قرطبی) د لیلة القدر خیر او برکت د صبح صادق نه ختلو پورې دے حکه چه د طلوع صبح سره ښپه ختمیږی .

سُورَةُ الْبَيِّنَة

ربط سورة القدر کښ د قرآن مجید د عظمت بیان وو او س په سورة البینة کښ د کافرانو او مشرکانو په باره کښ د هغوئ په عناد باندے د شکوی بیان دے . حُکه چه دوی دا سے عظیم الشان کتاب ته هم اعراض کوی .

خُلاصه

لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا ـــــ تا ـــــ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ۝ د اهل کتاب یهود او نصاری او مشرکین په عناد او انکار باندے شکوی ده . إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ـــــ تا ـــــ أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ۝ تخویف اخروی . إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ـــــ تا ـــــ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ . بشارت اخرویه .

سُورَةُ الْبَيِّنَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانُ آيَاتٍ وَفِيهَا رُكُوعٌ وَاحِدٌ

سورة البینة په مدینه کښ نازل شو ده اته ایتونه او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع د الله په نوم چه دیر زیات مهربان او دیر رحم کوونکے دے

لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ

نه وو هغه خلق حُوک چه منکر دی د اهل کتاب نه

وَالْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ

او مشرکانو نه منع کیدونکی هرا تر هغے چه راورسیږی

الْبَيِّنَةُ ۙ ① رَسُولٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتْلُوا صُحُفًا

هغوئ ته ھرا ښکاره خبره ف۲ دیو رسول د الله لوستلی شوی پاڼری

مُّطَهَّرَةً ② فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ؕ ③ وَمَا

پاکے . ف۳ په هغے کښ لیکلی دی کتابونه مضبوط ف۳ او کوم

تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ إِلَّا مِنْ

اختلاف چه پریوتو اهل کتابو کښ ف۴ نو چه کلہ راغلو هغوئ

بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ؕ ④ وَمَآ أُمِرُوٓا

ته ښکاره خبره ف۴ او هغوئ ته حکم اوشو

إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۙ

چه بندګی کوئ د الله خالص کړئ هغهٔ دپاره بندګی د ابراهیم ع

حُنَفَآءَ وَيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ

په لاره باندے او قائم کړئ مونځ او ورکوئ زکوٰة

وَذٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ؕ ⑤

او دا لاره ده د مضبوط خلقو .

نکات ، ف۱ شکوی په یهود او نصارٰی او مشرکانو باندے ۱۲ .

موضح قرآن

ف۱ د نبي علیه السّلام نه مخکښ د ټولو دینونو والا خراب شوے وو هریو په خپله غلطئ باندے مغرور وو اوس پکار ده چه دیو حکیم یا ولی عادل یا بادشاه پوهولو سره په سمه لاره راشی نو دا ممکنه نه وه ترڅو چه د لسے عظیم القدر رسول د الله تعالیٰ راشی د الله تعالیٰ کتاب او قوی مدد سره په څو کلونو کښ ملکونه د ایمان نه ډک شول . ف۲ هرسورت یو کتاب دے . ف۳ یعني د هغهٔ رسول او کتاب نه روستو شبه پاتے شوه نو اوس اهلِ کتاب د ضد په وجه سره مخالف دی د شک شبه په وجه نه دی .

ف۴ یعني دا څیزونه په هر دین کښ محبوب او خوښ دی ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ .

فتح الرحمٰن

ف۱ یعني خپل آئین او قانون نه ۱۲۔
ف۲ یعني هغوئ مونږ دخپلو ادیانو (دینونو) په پریخودلو بانده ئے مونږ. هغوئ مکلف نکړل لیکن د اقامت حجت ظاهر کیدلو نه روستو یعني دهغوئ حال دپیغمبر راتلو او دکتاب نازلولو وو د دے وجه نه مونږ پیغمبر اولیږلو او قرآن مو هم نازل کړو۔
ف۳ یعني دقرآن سورة ۱۲۔ ف۴ یعني حق یعني مقبول شول او غني مردود۔

تفسیر

۲ لَمْ یَكُنِ. اهل کتاب نه یهود او نصارٰی مراد دي. مُنْفَكِّیْنَ دلته تامه دے په معنٰی دمنتهین عن کفرهم. (قرطبي) دلته یو اشکال دے هغه دا چه داهل کتاب او مشرکینو دکفر او شرک نه د منع کیدلو انتها ئے دپیغمبر علیه السلام راتلل فرمایلي دي او حتٰی چونکه دانتها، غایت دپاره وي ددے وجه نه ضروري ده چه درسول ﷺ د راتللو سره دهغوئ منفکیدلے حالت یعني کفر او شرک بانده قیام ختم شي لیکن ددینه روستو راتلونکے آیت وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ دهغه مقتضٰی دا ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دراتللو نه روستو دهغوئ په کفر کښ اضافه اوشوه. دغه شان د دواړو آیتونو مینځ کښ په ظاهره تضاد معلومیږي. د دے لس جوابونه دي.

اول دنبي علیه السلام د بعثت نه مخکښ به اهل کتاب او مشرکانو وئیل چه ترڅو پورے وعده کړے شوے نبي علیه السلام نه دے راغلے تر هغه وخته پورے به مونږ خپل دین نه پریږدو. دغه شان دے آیتونو کښ دهغوئ دمخکیني قول حکایت دے وَمَا تَفَرَّقَ الآیة. کښ د نفس الامر او د واقعه د حقیقت بیان دے چه د پیغمبر علیه السلام د راتللو نه روستو دهغوئ حال دهغوئ ددعوٰی خلاف دے.

دوهم اهل کتاب او مشرکان بټول په ټول دکفر او شرک نه جدا کیدونکي نه وو ترڅو چه هغوئ ته رسول نه وو راغلے، کله چه رسول راغلے نو اوس دهغوئ حال د اول پشان پاتے نه شو بلکه په هغوئ کښ ډیرو کفر او شرک پریخود اسلام ئے قبول کړو (ملخصا من الکبیر للامام الرازي) د حضرت شیخ قدس سره په نزد هم دا جواب راجح دے حاصل دا شو چه کافران او مشرکان دکفر او شرک نه جدا کیدونکي او لرے کیدونکي نه وو ترڅو چه هغوئ ته واضح برهان نه وو راغلے او دا انتظام نه وو شوے چه هغوئ ته د الله تعالٰی له طرفه رسول راشي چه هغوئ ته د الله تعالٰی د پاک کتاب تعلیم ورکړي او هغوئ ته تبلیغ اوکړي اوس چونکه دا کار شوے دے او د حق او باطل مینځ کښ امتیاز او فرق حاصل

شویدے ددے وجه نه اوس چه کوم خلق حق نه مني او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دعوت دروغ ګڼړي او نوی نوی لارے راوباسي ، هغوي ټول هر څه محض د ضد او عناد د وجه نه کوي . دا مسئله په تیر شوو کتابونو کښ هم موجود ده او د اهل کتاب چه کوم ظلم او کلک عالمان دی هغوي هم په دے ایمان راوړے دے ددے وجه نه اوس نه منونکو هیڅ عذر نشي قبلیدے.

تائید : حجتهم داحضة عند ربهم وعلیهم غضب ولهم عذاب شدید ○ الله الذی انزل الکتب بالحق والمیزان ط (الشوری ع ٢) .

ددے پوره تفصیل په سورة شوری کښ تیر شویدے . رسول من الله . د البینة نه بدل دے . صحفا مطهرة . د باطل د نجاست نه پاک کتابونه او صحیفے . صحیفه هغه پاڼروته وائی چه په هغے کښ څه لیکل شوے وی والصحف القراطیس التی یکتب فیها والمراد بتطهیرها تنزیهها عن الباطل (روح ج ٣٠ ص ٢٠١ ملخصا) . کتب قیمة . مضبوط او محکم مضامین بیانوے مشتمل سورتونه یا محکم احکام . رسول نه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او صحف نه قرآن مجید مراد دے . (کبیر) .

سے ٣ ومآ تفرق د اهل کتاب د عناد او شقاق ذکر دے اهل کتاب یهود او نصاری وو په دین کښ مختلف لارے راوېستلے دی دا ټول هر څه هغوي د ناپوهۍ او بے علمۍ په وجه نه دی کړی بلکه د البینة راتللو نه روستو سره د پوهی نه عمدا قصدا او محض د عناد د وجے نه ئے کړیدے دا اختلاف اچونکی د اهل کتاب باغیان ظالمان وو او دا اختلاف هغوي د الله له طرفه نه د علم او بینات راتللو نه روستو اوکړو او محض د عناد او د ضد د وجه نه ئے اوکړو لکه چه بل ځائے ارشاد دے وما تفرقوا الا من بعد ما جآءهم العلم بغیا بینهم . (الشوری) .

سے ٤ وما امروا . حنفاء د حنیف جمع ده یعنی د هر باطل دین نه اعراض کونکے دین اسلام طرف ته مائل کیدونکے ای مائلین عن الادیان کلها الی دین الاسلام . (قرطبی ج ٢٠ ص ١٤٤) . دین القیمة مرکب اضافی دے او القیمة صفت د مقدر دے ای المسئلة القیمة یعنی محکم او مضبوطه مسئله او هغه د توحید مسئله ده یا الملة القیمة یعنی د ملت مستقیمه احکام دی چه د هغے حکم ډیر زیات صحیح او محکم دے قال الزجاج ای ذلک دین الملة المستقیمة . (قرطبی) . د زجاج د قول مطابق کېږے د ملت نه مراد امت وی نو مفهوم زیات واضح کیږی یعنی دا د هغه امت دین دے چه په حق قائم دے لکه چه علامه الوسی فرمائی وقال الزجاج ای الامة القیمة بالحق ای القائمة بالحق (قرطبی) .

اهلِ کتابو مختلف بیا خونه راویستلی دی حال دا دے چه دهغوی په کتابونو کښې هغوی ته دا حکم ورکړے شوے دے چه هغوی باطل او دروغ دینونه پریږدی صرف د الله تعالیٰ عبادت اوکړی او دهغه په عبادت او رابللو کښې دهغه سره شرک اونکړی مونځ قائم کړی او زکوٰة ورکړی په حق باندې قائم پاتې کیدونکی امت دین هم دادے۔

اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْکِتٰبِ

او خوک چه منکر شو د اهل کتابو نه

وَالْمُشْرِکِیْنَ فِیْ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِیْنَ

او مشرکانو نه دی د دوزخ په اور کښې همیشه به اوسیږی

فِیْهَا ؕ اُولٰٓئِکَ هُمْ شَرُّ الْبَرِیَّةِ ؕ ﴿٦﴾ اِنَّ

په هغې کښې دغه خلق دی د ټولو نه زیات خراب هغه

الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِکَ

خلق چا چه ایمان راوړو او وے کړه نیک عملونه دغه خلق

هُمْ خَیْرُ الْبَرِیَّةِ ؕ ﴿٧﴾ جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ

دی د ټولو نه غوره بدله دهغوی ده دهغوی

رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا

د رب سره باغونه دی د همیشه اوسیدلو لاندې بهیږی د هغې نه

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ؕ رَضِیَ اللّٰهُ

نهرونه . همیشه به اوسیږی په هغې کښې همیشه الله راضی دے

عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ ذٰلِکَ لِمَنْ

دهغوی نه ، او هغوی په ده نه راضی دی دا ملاویږی هغه چاته

خَشِیَ رَبَّهٗ ﴿٨﴾ ع

خوک چه اوویریږی دخپل رب نه.

نکات : ۱ تخويف اُخروي ۱۲ ۲ بشارت اُخروي ۱۲۔

تفسير

۵ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۔ تخويف اُخروي ۔ يهود او نصارٰی او مشرکان چه څوک د رسول او د قرآن نه او د دين نه انکار اوکړو هغوئ به د جهنم په اور کښ هميشه هميشه اوسيږي ۔ دا خلق د خدائ په ټول مخلوق کښ د ټولو نه زيات بد او خراب دي ۔ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۔ بشارت اُخروي دے ليکن کوم خلق چه ايمان راوړي او نيک کارونه اوکړي هغوئ د الله تعالٰی په ټول مخلوق کښ بهتر او غوره دي ۔ دينه ثابته شوه چه د مؤمن کامل مرتبه د الله د عرش عظيم او کعبه شريفه نه هم اوچته ده ځکه چه دا هم مخلوق دے او مومن کامل د خدائ د ټول مخلوق نه بهتر دے۔

۶ جَزَآؤُهُمْ ۔ د الله تعالٰی سره د هغوئ بدله دا ده چه د هغوئ د پاره د جنت هميشه باغونه دي چه په هغے کښ به د هر قسم مشروبات ويالے بهيږي ۔ هغوئ به دے کښ هميشه اوسيږي ۔ نه به د جنت نعمتونه زائل کيږي نه به جنتيانو ته مرګ راځي ۔ نه به هغوئ د جنت نه وېستلے شي او نه به هغوئ پخپله د جنت نه وتل خوښوي ۔ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ دا د هغوئ د خالص ايمان او کامل يقين او عمل صالح انعام دے چه الله تعالٰی د هغوئ نه راضي دے ۔ دا اعزاز او اکرام او دا انعام او دا افضال دا سے خلقو د پاره دے څوک چه د خپل الله نه او ويريږي د هغه د احکامو تابعداري اوکړي او د هغه د ممنوعاتو نه لرې اوسيږي۔

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞

سُوْرَةُ الزِّلْزَالِ ۱

ربط — تېر شوي سورت کښ د کافرانو د عناد شکوه ده او س دے سورة کښ د کافرانو په عناد باندے د تخويف اُخروي ذکر دے ۔

سُوْرَةُ الزِّلْزَالِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانُ اٰيَاتٍ وَفِيْهَا رُكُوْعٌ وَاحِدٌ

سورة زلزال ۱ په مدينه کښ نازل شوے ده اته ايتونه او يو ه رکوع ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿۱﴾ وَاَخْرَجَتِ

کله چه کلے او خوزولے شی زمکه په خوزولو سختو سره او راوباسی

الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ﴿۲﴾ وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿۳﴾

۳ے زمکه دخپل دننه درانه پیټی ف۱ او ووائی کے انسان دے (زمکې) لپاره

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ﴿۴﴾ بِاَنَّ رَبَّكَ

دغه ورځ به هغه بیانوی خپلے خبری ف۲. ځکه چه ستا رب

اَوْحٰى لَهَا ﴿۵﴾ يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ

هغے ته حکم کړیدے ف۱ دغه ورځ شے خلق او کرځی ټولے ټولے قسم قسم

اَشْتَاتًا ۵ لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ﴿۶﴾ فَمَنْ

چه او ښائی هغوی ته د هغوی عملونه پس چا چه

يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴿۷﴾ وَ

او کړه ذرّے برابر نیکی هغه به او وینی هغے لره. او

مَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴿۸﴾ ع

چا چه او کړه ذرّے برابر بدی هغه به او وینی هغے لره.

نکات : د کافرانو په عناد باندے تخویف اُخروی ۱۲.

موضح قرآن

ف۱ د قیامت نه مخکښ چه په زمکه کښ کوم مال د قیامت نه مخکښ پټ کړے شوے دے، سره سپین زر، روپے، هغه ټول هر څه را بهر کړے شی احستونکی به څوک باقی نه شی. ۱۲ منه رحمه الله.

ف۲ یعنی د بدکارو ګناه به بیان کړی د حساب په وخت. ۱۲ منه رح

تفسیر

۱ے اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ. دا هغه زلزله ده کومه چه د نفخه اولی په وخت کښ راځی چه هغے سره به

زمکه د خپل ویښ پوړ سره اوخوځیږی او دا زلزله به دومره سخته وی چه په زمکه بانده به هیڅ سالروکې ژوندی پاتی نشی غرونه به زره زره شی او هموار به شی دریابونه سمندرونه به اوچ شی زمکه به سره برابر شی۔

۳ اذا اخرجت الارض اثقالها۔ اثقال جمع د ثقل ده یعنی بوجھ۔ مراد ترینه مړی دی دویم شپیلی په وخت به زمکه ټول هغه خیزونه کوم چه په خپله خیټه دننه ځائے کړیدی۔ ټول مړی به رابهر کړی او هغه به ټول ژوندی کړی شی میدان حشر طرف ته به روان شی۔

۴ وقال الانسان ما لها دغه ورځ به انسان حیرانتیا او تعجب سره وائی په زمکه څه شویدی هغه ولے دومره جھټکی خوری او خوځیږی یا دے تعلق روستو سره دے۔ یعنی یومئذ تحدث اخبارها۔ د قیامت په ورځ به زمکه ټولے خبری صفا صفا بیانوی۔ بنده گانو چه کوم نیک او بد کارونه په هغے بانده کړیدی هغه به ټول بیان کړی نو انسان به په هغے بانده تعجب کولو سره او حیرانتیا سره اووائی چه زمکه څه شویدی چه هغه ټول هر څه بیانوی۔ بان ربك اوحی لها۔ زمکه به څکه هر څه ظاهروی چه هغے ته به د الله تعالی حکم شوے وی۔ والباء للسببية ای تحدث بسبب ایحاء ربك لها وامره سبحانه ایاها بالتحدیث. (روح ج ۳۰ ص ۲۱۰)۔

۵ یومئذ یصدر الخ اذا زلزلت الارض جزاء ده۔ اشتاتا متفرقین د خپلو عملونو په اعتبار سره به په جدا جدا ټولو او طبقو کښ تقسیم کړے شی د حساب کتاب نه به واپس شی۔ څنی ترو تازه خوشحاله او پرقیدو ونکو مخونو سره او څنی خفه او تور مخونو سره۔ لیروا اعمالهم۔ مضاف محذوف دے ای جزاء اعمالهم. (روح) دے د پاره چه هغوی ته د اعمال اجر او ثواب او ښودلے شی۔

۶ فمن یعمل۔ د نیک او بد تفصیل دے چا چه د زرے برابر نیکی هم کړے وی د هغے جزاء به هم او وینی ملاؤ به شی او چا چه د زرے برابر بدی کړے وی هغه به هم د هغے جزا او وینی په دے شرط چه عفوه هغه ته نوی شوی۔

سورة العٰديٰت

ربط : په تیر شوی سورت کښ د کفارو په عناد بانده تخویف اخروی

ذکر دی، او س په دے سورت کښ د کافرانو د ظلم شکوی ذکر دی۔

خلاصه

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ــــ تا ــــ اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ بیان مرض یعنی انسان د خپل پروردګار ناشکر ګذار دے۔ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ــــ تا ــــ لَشَدِيْدٌ بیان سبب مرض یعنی دهغی د ناشکری سبب د مال و دولت محبت دے۔ اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ ــــ تا ــــ آخر علاج مرض بصورت تخویف اخروی۔

سُوْرَةُ الْعٰدِيٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة عادیات دے په مکه کښ نازل شوے ده ایتونه یوولس او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ﴿۱﴾ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ﴿۲﴾

قسم دے ګړے ځغلیدونکو اسونو پاندے هنړیدلو سره پس په هغه اورویستونکو پاندے

فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا ﴿۳﴾ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ﴿۴﴾

اور راویستلو سره۔ پس په هغه لوټ کوونکو پاندے په وخت د صبا کښ۔ پس په هغه پورته کوونکو د ګرد دړ

فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ﴿۵﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ

پس په هغه ننوتونکو پاندے هغه وخت لوے د دشمنانو ته دړ ۳ و ۲ بیشکه انسان د خپل رب

لَكَنُوْدٌ ﴿۶﴾ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ﴿۷﴾

ناشکره دے ۷ او دغه انسان د دا کار خپل مخے ته وینی

وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ﴿۸﴾ اَفَلَا يَعْلَمُ

او انسان په محبت د مال کښ ډیر سخت دے آیا نه پوهیږی

اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِ ﴿۹﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي

کوم وخت چه راپورته کړے شی کوم چه قبرونو کښ دی او راښکاره کړے شی کوم څه

الصُّدُوْرِ ﴿۱۰﴾ اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ ع

چه په سینو کښ دی بیشکه ددغوی رب ته دهغوی د دغه ورځے ګټول خبر دے.

نکات

ﭧ۱ د کافرانو د ظلم شکوی ۱۲. ﭧ۲ د مرض بیان ۱۲. ﭧ۳ د مرض سبب ۱۲ ﭧ۴ د مرض علاج په صورت د تخویف ۱۲.

موضح قرآن

ف۱ دا د جهاد په سورو غازیانو باندے قسم دے د دینه بل کوم یو عمل لوړ او لوئے دے چه د الله تعالیٰ په کار کښ سرونه د خپل ځان قربانی ورکولو ته حاضر دے ۱۲ منه. ف۲ یعنی د نعمت ناشکری کوی او هغه په مختلف طریقو سره کیږی یو دا چه د هغهٔ نعمت د بل چا له طرفه او ګڼړی. دویم دا چه کوم فائده د هغهٔ نعمت نه اخستل پکار ده هغه وا نخلی بلکه د هغے خلاف ئے خرچ کړی. دریم دا چه د هغهٔ نعمت محبت په زړهٔ کښ دومره اثر او کړی چه د نعمت والا هیر کړی. تفسیر فتح العزیز نه اولیکل شوه.

فتح الرحمٰن

ف۱ مترجم وائی په سبب د زغلیدلو ۱۲. ف۲ مترجم وائی اشاره هغے ته ده چه جهاد کول پکار دی او د الله تعالیٰ رضا د غازیانو اسونو پورے متعلق شوه ۱۲.

تفسیر

ﭧ۲ وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا. هغه زغلیدلو سره منډه وهونکی اسونه. فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا. کانړیزه زمکه باندے د منډے وهلو په وخت د خپلو تو کانو نه د اور بڅری ویستونکی. فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا. بیا د صبا په وخت لوټ مار کونکی. فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا. د منډے وهلو په وخت ګرد او غبار الوزوی. فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا. بیا تیز رفتاری سره په ډلو (فوجونو) کښ ننوځی. اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ. دا لوټ مارکونکی اسونه په دے شاهد او ګواه دی چه انسان د خپل پروردګار ډیر زیات ناشکر دے. قاله الشیخ رحمه الله. د عامو مفسرینو په نزد باندے دا صفتونه د مجاهدینو د اسونو دی او د څنو په نزد د دے صفتونو نه فرشتے مراد دی. وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ. مذکوره شواهد نه علاوه انسان خپل دے بیمارئ او کمزورئ باندے په خپله هم ګواه دے او هغهٔ ته خپل کردار ښه معلوم دے.

ﭧ۳ وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ. دا د مرض د سبب بیان دے دا انسان د ناشکرئ سبب دا دے چه د دنیا د دولت په محبت کښ ډیر زیات سخت دے د مال محبت هغه په بخل او کنجوسئ باندے تیروی. او د الله په لاره کښ خرچ کولو سره د هغهٔ شکر ګذارئ جوړیدلو نه هغه منع کوی.

۴ اَفَلَا یَعْلَمُ۔ دا د مرض د علاج بیان دے په صورت د تخویف اُخروی. آیا انسان په دے نه پوهیږی چه کله د قبرونو نه مړی پاڅولے شی یعنی د قیامت په ورځ. او د زړونو بټولے خبرے به ظاهرولے شی. د غه ورځ به د هغه پروردګار د هغه د نیک او بد اعمال نه خبروی او هغه ته به پوره پوره جزاء ورکړی. ای عالم لا یخفی علیه منهم خافیة وهو عالم بهم فی ذلک الیوم وفی غیره ولکن المعنی انه یجازیهم فی ذلک الیوم. (قرطبی ج ۲۰ ص ۱۶۳).

سُورَةُ الْقَارِعَةِ

رَبط په تیرشوی سورت کښ د کافرانو په ظلم باندے شکوی وه او په دے سورت کښ د ظالمانو د پاره تخویف اُخروی دے.

سُوْرَةُ الْقَارِعَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى عَشَرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة القارعة لے مکه کښ نازل شو دده آیتونه یولس ۱۱ او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کونکے دے.

اَلْقَارِعَةُ ۙ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ۚ﴿۲﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ

هغه ټکونکی څه ده هغه ټکونکی او ته څه پوهه شوے

مَا الْقَارِعَةُ ۗ﴿۳﴾ يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ

څه ده هغه ټکونکی کومه ورځ ۳ے چه شی خلق

كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۙ﴿۴﴾ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ

لکه پتنګان (ملخان) خواره واره او شی غرونه

كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ۗ﴿۵﴾ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ

لکه رنګ شوی وړی شلی شوے وړی پس دچا چه دے تول چه دروند شو

مَوَازِيْنُهٗ ﴿۶﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿۷﴾

نو هغه به وي په ژوند د خپل خوښئ کښې

وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ﴿۸﴾ فَاُمُّهٗ

او د چا تول چه سپک شو نو د هغه د استوګنې

هَاوِيَةٌ ﴿۹﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا هِيَهْ ﴿۱۰﴾

ځای ګنده دے او ته څه پوهه شوے هغه څه ده

نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿۱۱﴾

اور دے لمبے وهونکے۔

نکات

۱ تخویف اُخروی ۱۲ ۲ بشارت اُخرویه ۱۲۔
۳ تخویف اُخروی ۱۲۔

تفسیر

۲ الْقَارِعَةُ۔ دا د قیامت د نومونو نه یو نوم دے
واتفقوا علی ان القارعة اسم من اسماء القیامة (کبیر)
د قیامت په ورځ به د نفخ صور (شپیلئ پوک وهلو) د آواز د سختئ نه
علاوه د پورتنو او ښکتنو اجسامو یو بل سره د ټکراؤ نه به هم ډیر
زیات ګهبراؤ ورکونکے آواز را پورته شي۔ د دے وجه نه دے ته القارعة
او ویلے شو۔ ۳ یَوْمَ یَکُوْنُ۔ دا د القارعة بیان دے د
قیامت په ورځ چه کله خلق د قبرونو نه راپاڅي نو د ویرے او دهشت په
وجه به ډیر زیات پریشان وي او د پتنګانو په شان به یو خوا بل خوا خوارهٔ
وارهٔ وي ځنګه چه د شمع نه ګیر چاپیره د پتنګانو بیره او ګڼه وي۔
او د هغوی حرکات مختلف وي۔ د ویرے په وجه به غرونه د پیښت
کړے شوو او وهلے شوو مالوچو د ذراتو په شان شي۔ په سورة
زلزال کښې د قیامت د ورځے حال بیان شو او دلته د غرونو حال بیان
کړے شوے دے۔ ۲ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ۔ بشارت اُخروی دے
د قیامت په ورځ چه د چا د نیک اعمالو چا پړے درون وي هغه به ډیر
زیات خوشحال او تر و تازه وي او د خپلے خوښے ژوند نه خوند و نه
او مزے اخلي۔ رَاضِیَة په معنی د مرضیة۔ (قرطبي)۔ وَاَمَّا مَنْ
خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ۔ دا تخویف اُخروی دے اُمّهٗ ای مستقرهٗ
(قرطبي عن الاخفش) او د کومو خلقو د نیکو چا پړے سپک وي د هغوی

دَ استوګنې ځائے به هَاوِيَة وِي. هاويه د دوزخ د نومونو نه يو نوم دے
وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ط تا ته څهٔ معلومه ده چه هاويه څهٔ څيز
دے هغه ډيرزيات سخت او تيز اور دے. هيه کښې ها د سکتة
دپاره. مثنوي کښې د هاويه چه کوم معنى ذکر کړے شوے ده هغه
د قرآن د ظاهر نه خلاف ده.

پس شو جائے دلش در هاويه
هيچ ميداني چه باشد ماهيه
آتش سوزنده نقش غير را
که بسوزد پر طير و سير را

سُورَةُ التَّكَاثُر

ربط په تيرو شوو سورتونو کښې تخويف و تبشير او د زجر و
شکوی ذکر وو او س د دے سورت نه بيا تزهيد في الدنيا
د مضمون ذکر شروع کيږي.

خلاصه: تفاخر او تکاثر باندے زجر او تخويف اُخروي.

سُورَةُ التَّكَاثُرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانُ آيَاتٍ وَفِيهَا رُكُوعٌ وَاحِدٌ

سورة تکاثر لے مکه کښې نازل شو ده اَيتونه اته او رکوع يو ده

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

شروع د الله په نوم چه ډير زيات مهربان او ډير رحم کوونکے دے

أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ﴿٢﴾

مشغول او ساتلي ئے تاسو د ډير والي کثرت وال تر دے چه تاسو ورشئ او وينئ مقبري

كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ

نه ده داسې (لا تق) ۳ ے مخکښې به پوهه شئ بيا هم داسے نه ده يقينا مخکښې به

تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ ﴿٥﴾

پوهه شئ هرګز داسے نه ده که چرے تاسو پوهيدلے علم يقين سره.

لَتَرَوُنَّ الۡجَحِيۡمَ ﴿۶﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا

بیشکه تاسو به اووینئ دوزخ بیا به هغه اووینئ

عَيۡنَ الۡيَقِيۡنِ ﴿۷﴾ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ

دیقین په سترګو. بیا به ستاسو نه پوښتنه کولے شی په دغه ورځ

عَنِ النَّعِيۡمِ ﴿۸﴾

دحقیقت دراحت او نعمتونو نه.

نکات : ۱ زجر په تفاخر او تکاثر ۲ تا ۳ تخویف اخروی.

موضح قرآن

ف۱ دسورة تکاثر د نازلیدلو سبب په قریشو کښ دوه ډلے وے بنو عبد مناف کوم کښ چه حضور پیغمبر وو او بنو سهم چه عاص بن وائل دهغوئ سردار وو. یوه ورځ دواړو په خپل مینځ په خپله خپله بزرګئ باندے فخر کول شروع کړل او د کارونو حساب ئے کولو اشنا نو ته نمبر را اورسیده. د بنو عبد مناف خلق په شمیر کښ زیات شول بنو سهم اوویل چه حضور خلق په جنګ کښ ډیر زیات مړه شول لکه د ویښتو په شان. بیا ټول شمیرل پکار دی کله چه ئے دا اوکړل نو بنو سهم زیات شول. بیا تحقیق دپاره مقبرو ته لاړل. الله تعالیٰ د دواړو په جهالت او غفلت باندے دا سورة نازل کړو چه خپل ضروری کارونه ئے هیر کړل شنګه په ناکاره کار کښ مشغول شول دا سورت ئے نازل کړو چه انسان په اخر عمر کښ هم مره زیات د مال اولاد په ډیروالی باندے حریص دے چه هغے سره دهغه د نوم او دعزت سلسله باقی پاتے شی او دا خبره هغه لره د الله د پیژندلو او د حقونو ادا کولو نه کوم چه دهغه په ذمه لازم دی منع کوی. فتح العزیز نه اولیکل شوه.

تفسیر

۲ اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ. د مال په ډیروالی او د شمیر په زیات والی باندے فخر کول او په کثرت کښ دیو بل نه نمبر وړلو کښ کوشش کول. ای التباری فی الکثرة والتباهی بها بان یقول هؤلاء نحن اکثر و هؤلاء نحن اکثر. (روح ج ۳۰ ص ۲۲۳).

مفسرینو لیکلی دی چه دا انصارو دوه قبیلو کښ د شمیر په زیاتوالے کښ مقابله شوه او هر یو قبیلے د خپلو افرادو په کثرت فخر کول شروع کړل. نو دواړو قبیلو اول خپل ژوندی خلق شمارل شروع کړل چه

شمیر ختم شو نو مقبرو ته لاړل مړی شمارل ئې شروع کړل دے بانده دا سورت نازل شو. وے فرمایئل چه پهٔ زیات نفری بانده فخر کولو تاسو داسے غافل کړئ چه تاسو قبرستان ته اورسیدئ او مړی شمارل هم شروع کړل. یا حَتّٰی زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ. د مرګ نه کنایه ده یعنی تاسو بهٔ د مالونو او افرادو په کثرت بانده فخر کوئ تر دے چه تاسو بهٔ قبرونو ته اورسیږئ. الهاکم حرصکم علی تکثیر اموالکم عن طاعة ربکم حتی اتاکم الموت وانتم علی ذلك. (کبیر).

۳ے كَلَّا سَوۡفَ. كَلَّا د ردع دپاره دے او دے کښ تخویف اخروی طرف ته اشاره ده. داسے هرګز نهٔ دی کول پکار او نه دا خیال صحیح دے چه د مال او اولاد کثرت د نیک بختۍ باعث دے یا کوم د فخر قابل څیز دے ډیر زر بهٔ تاسو ته دا حقیقت معلوم شی چه دا تکاثر او تفاخر یو فضول څیز دو. ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ تکرار د تاکید دپاره دے او ثُمَّ د تعقیب ذکری دپاره دے یعنی زهٔ بیا دا خبره کوم. مراد دا دے چه د مرګ نه روستو بهٔ ستر پردے پرا نستل شی او حقیقت بهٔ واضح شی.

۴ے كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُوۡنَ. كَلَّا پهٔ معنی د حقًّا دے. د لو جزاء مقدر ده ای لما الهکم التکاثر. (کبیر). یا لشغلکم ذلك عن التکاثر (روح). یعنی که چرے تاسو راتلونکی حالات دے یقین سره پیژندلے شنګه چه تاسو نور یقینی احوال مثلاً تیر شوے حالات پیژنئ، نو تاسو بهٔ پهٔ کثرت مال او اولاد بانده فخر نهٔ کوئے.

۵ے لَتَرَوُنَّ تخویف اخروی. عین الیقین مفعول مطلق دے من غیر لفظه یا دا د مفعول مطلق مقدر صفت دے. ای رؤیة عین الیقین. (روح). تاسو بهٔ ضرور بالضرور دوزخ اوو ینئ بیا وایم تاسو بهٔ د دوزخ مشاهده پهٔ سترګو سره کوئ او تاسو ته بهٔ د هغے عین الیقین حاصل شی بیا دا هم واورئ چه دغه ورځ بهٔ ستاسو نه د ټولو نعمتونو پاره کښ تپوس کولے شی چه ما په تاسو بانده کوم نعمتونه کړے وو تاسو د هغے شکریه ادا کړے ده یا نهٔ وکل هذا لانعم فیسئل العبد عنها هل شکر ذلك ام کفر. (قرطبی ج ۲۰ ص ۱۷۸).

سُوۡرَةُ الۡعَصۡرِ

ربط او خلاصه

د تیر شوي سورت په مقابله کښې دے سورة کښې د تزهید فی الدنیا مضمون په طور د ترقئ ذکر کړے شوے دے یعنې د مال اولاد کثرت او زیاتے باندے فخر مه کوئ لږ شان د زمانے گردش ته خو هم اوګورئ او د خپلو پلارانو او نیکونو حال ملاحظه کړئ هغوئ په مال اولاد باندے فخر او کړو څه ئے حاصل کړو؟ نقصان او خساره نه علاوه هغوئ ته هیڅ نصیب نه شول. جمعوا الکنوز لا نفسهم و ترکوها لما هیه، الا قبورا دارسة فیها عظام بالية.

سُوْرَةُ الْعَصْرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَلٰثُ اٰيَاتٍ وَفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة عصر اے مکه کښې نازل شو دده ایتونه درے او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربانه او ډیر رحم کوونکے دے

وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا

قسم دے په عصر دا بیشکه انسان په تاوان کښې دے لیکن

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا

کوم خلقو چه یقین راوړو او وے کړل نیک کارونه او خپل مینځ کښې ئے یو

بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾

بل ته وصیت کوی د دین او خپل مینځ کښې وصیت کوی د صبر

نکات سر ۱ د انسان په خساره باندے شاهد ۲. سر ۲ د خساره نه د بچ شوو خلقو اولنے صفت ۱۲. سر ۳ دویم صفت ۱۲ سر ۴ دریم صفت. سر ۵ څلورم صفت ۱۳.

موضح قرآن ف د سورة عصر د نازلیدلو سبب کلدة بن أسید یو کافر چه په جاهلیت کښې د حضرت ابوبکرؓ سره دوستی وه یوه ورځ ئے حضرت ابوبکرؓ ته اووئیل ستا سو دا دومره زیاته پوهه او عقل چه په تجارت کښې به موسنه کښه حاصلوله او س په تا سو

خځ اوشو چه دومره خراب شوی چه د پلار نیکه دین هم پریخود او دلت او عزت د شفاعت نه محروم شوی. صدیق جواب ورکړو ای ناپوهه کم عقله څوک چه حق قبول کړی او په نیک کار روان شی هغه ته هیڅ کله نقصان نه رسیږی. الله تعالیٰ د صدیق د قول تصدیق اوکړو. دا سورة ئے نازل کړو۔

تفسیر ۲ وَالْعَصْرِ. زمانه گواه ده چه انسان ټول په تاوان کښ دے د زمانے مختلف دورونو ته اوگورئ او دهر دور دلوئے نه لوئے بادشاه حال ملاحظه کړئ چه د دنیا شان او شوکت او دولت او حکومت فخر او غرور چرته لاړے کله چه د دنیا نه رخصت شول نو هیڅ څیز هم ئے دځان سره یو نه ړه. نه دولت ملگرتیا اوکړه نه حکومت نه ډیر لوئے لښکر. د دینه علاوه د العصر نورے ډیرے معانی هم بیان کړے شوی دی تفصیل په مروّج تفاسیرو کښ اوگورئ.

۳ اِلَّا الَّذِیْنَ. دا د ماقبل نه استثنیٰ ده ټول انسانان په تاوان کښ دی لیکن چه کوم خلقو کښ دا څلور صفتونه موجود وی هغوئ په تاوان کښ نه دی بلکه په فائده کښ دی او هغوئ به د دنیا نه خالی لاس نه ځی بلکه د آخرت توښه به ځان سره وړی. اول صفت: اٰمَنُوْا. هغوئ د الله په وحدانیت، رسالت، قیامت، او نور ټول ضروریات د دین باندے ایمان لری. دویم صفت: وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ هغوئ نیک کارونه کوی. اسلام کښ د کوم کارونو د کولو چه حکم ورکړے شوے هغه په ځائے راوړی او دکوم نه چه منع کړے شوے د هغے نه منع شی. دریم صفت: وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ. هغوئ خپل مینځ کښ یو د بل خیر خواهی کوی او یو بل ته د رښتونی خبرے یعنی د توحید او د اسلام اخلاقی معاشرتی او د نورو احکامو تبلیغ کوی. (بالحق) ای بالتوحید، کذا روی الضحاک عن ابن عباسؓ وقال قتادة (بالحق) ای بالقران (قرطبی ج ۲۰ ص ۱۸۱) څلورم صفت: وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ. کوم انسانانو کښ چه دا څلور صفتونه موجود وی هغوئ به په تاوان کښ نه وی.

سُوْرَةُ الْهُمَزَة

ربط وخلاصه د تزهید فی الدنیا نه روستو د مال دولت جمع کولو او د مال په ډیر والی باندے فخر او غرور

کونکو دپاره تخویف اُخروی.

سُورَةُ الْهُمَزَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعُ اٰيَاتٍ وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة الهمزة ملے مکه کښ نازل شو دده ۹ ایتونه نښتے او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ۙ﴿١﴾ الَّذِيْ جَمَعَ

هلاکت دے ټولے هر مخ مندیا ورکوونکی او عیب بیانوونکی دپاره ف چاچه ی مال جمع

مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ۙ﴿٢﴾ يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ

کړو او بیا بیا ئے اوشمارلو . خیال کوی چه د هغه مال به هغه سره

اَخْلَدَهٗ ۚ﴿٣﴾ كَلَّا لَيُنْۢبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ۖ﴿٤﴾

همیشه پاتے وی . هرګز داسے نه ده کے هغه به غورځولے شي په هغه پائمال کوونکی کښ .

وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ؕ﴿٥﴾ نَارُ اللّٰهِ

او ته څه معلوم ده څه شي دے هغه پائمال کوونکے یو اور دے د الله

الْمُوْقَدَةُ ۙ﴿٦﴾ الَّتِيْ تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ؕ﴿٧﴾

بل کړے شوے چه رسیږی به زړونو ته

اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۙ﴿٨﴾ فِيْ عَمَدٍ

چه هغوئ به په هغے کښ بند کړے شوے وی او کلکو

مُّمَدَّدَةٍ ع ﴿٩﴾

اوږدو ستنو کښ .

موضحِ قرآن

ف د سورة همزه نازلیدلو سبب: درے تنه کافران وو عاص بن وائل، اخنس بن شریق ولید بن مغیره، او اخنس بن شریق ثقفی، د نبی علیه السلام او مؤمنانو

بد به ئې بیانول اوْ د هغوئ په حق کښ به د دوئ ژبې عیب لګولو ډیر استعمال شوې وې په دوئ کښ اخنس بن شریق به د نبي علیه السلام په مخکښ ډیرې سختې خبرې کولې اوْ د بې حیائۍ برقعه به ئې اچولې وه۔ د هغهٔ په حق کښ دا سورة نازل شو څوک چه دنیا په عزت داغ اولګوی اوْ د خلقو په غیر موجودګئ کښ بدې خبرې اوکړی هغه د دې هلاکت اوْ عذاب لائق شو بیا داسې سړې څوک چه الله اوْ د هغهٔ رسول مقبول اوْ قرآن دروغ اوګڼړی اوْ د هغهٔ داحکامو سره دُشمنی اوکړی د هغهٔ حال به څهٔ وی.

تفسیر ۲ وَیْلٌ۔ همزه۔ غیبت کوُونکې اوْ پټی شا عیب لټوونکې اوْ بیانونکې۔ لُمَزَةٌ۔ مخامخ عیب لګوونکې اوْ کنځل کوُونکې فحش خبرې کوُونکې یا هُمَزَة۔ مخامخ عیب بیانوونکې اوْ لمزة پټی شا عیب لټونکې اوْ چغلی کوُونکې وقال ابوالعالیة والحسن ومجاهد وعطاء بن ابی رباح: الهمزة الذی یغتاب ویطعن فی وجه الرجل، واللمزة الذی یغتابه من خلفه اذا غاب (قرطبی ج ۲۰ ص ۱۸۱)۔ حضرت ابن عباس رض فرمائی د دې دواړو لفظونو نه هغه خلق مُراد دی څوک چه چغلی کوی اوْ دوستان په منځ کښ جنګوی اوْ په بې ګناه خلقو باندې تهمتونه اوْ عیبونه لګوی. هم المشاءون بالنمیمة، المفسدون بین الاحبة، الباغون للبرآء العیب (ابن جریر)۔ هلاکت دې هغه سړی دپاره څوک چه د خلقو غیبت کوی اوْ د هغوئ عیبونو لګولو اوْ بیانولو کښ مشغول وی اوْ د رشته دارانو مینځ کښ بې اتفاق واچوی اوْ بې ګناه خلقو باندې تهمت اولګوی۔

۳ الَّذِیْ جَمَعَ۔ د نیکو کارونو توفیق خو هغهٔ ته ملاوْ نه شو په بدو کارونو کښ نښتلو اوْ د دولت جمع کولو اوْ د هغې د یو یو شمارلو سره د هغې د ساتلو ډیر شوق لری۔ دولت جمع کوی اوْ هغه په نیک کارونو کښ نه خرچ کوی اوْ د دُنیا دولت ئې سامان کړځولې د دې ساتی ئې. اَیَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗ اَخْلَدَهٗ. همزه استفهام مقدر ده ایحسب ایا د هغهٔ دا خیال دې چه دا دولت به هغهٔ لره همیشه اوْ ژوندې اوساتی اوْ همیشه ژوندې به ورکړی؟.

۴ کَلَّا. هرګز داسې نه ده دا دولت به هغه همیشه او نه ساتی دلیل "سورة عصر" کښ تیر شوې دې۔ زمانه ګواه ده چه دولت جمع کوُونکې به پاتې نشی. لَیُنْۢبَذَنَّ فِی الْحُطَمَةِ۔ دا تخویف اُخروي دې هغه به ضرور بالضرور حطمه (زرې زرې کوُونکې اور) ته غورځولې شی. تا ته څهٔ معلوم ده حطمه څهٔ څیز دې۔

۵ نَارُ اللّٰهِ۔ راشه چه زهٔ ئې درته بیان کړم هغه د الله بل کړې

شوي او ردي چه سوزولو سوزولو سره به دهغوئ زړونو ته اورسيږي. انها عليهم موصدة. اي مطبقة. هغوئ به په اوګدو اوګدو ستنو راګيرولي شي دي د پاره چه د هغې حرارت تيزشي او ضائع نشي ياد عمد نه هغه ميخونه مراد دي کوم چه په هغه تختو لګول شويدي په کوم چه د جهنم خلهٔ بند کړي شويده. قال القشيري والمعظم على ان العمد اوتاد الاطباق التي تطبق على اهل النار. وتشد تلك الاطباق بالاوتاد حتى يرجع عليهم غمها وحرها، فلا يدخل عليهم (روح قرطبي ج ۲۰ ص ۱۸۶).

اَللّٰهُمَّ اَجِرْنَا مِنْهَا يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ وَيَا اَكْرَمَ الْاَكْرَمِيْنَ

سُوْرَةُ الْفِيْلِ

ربط او خلاصه د توحيد في الدنيا نه روستو په سورة همزة کښ تخويف اخروي بيان شوي دي اوس په دي سورة کښ د تخويف دنيوي يوه نمونه ذکر شويده د دنيا مال او دولت عزت شان وشوکت باندي مغرور کيدلو سره او د ايمان او توحيد مرکز ختمولو کوشش کونکي به ختمولي شي د دنيا او د اخرت عذاب نه بچ کيدلو صرف يو صورت دي چه په سورة العصر کښ بيان کړي شوي څلورصفات خپل ځان کښ پيدا کړئ.

سُوْرَةُ الْفِيْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسُ اٰيَاتٍ وَفِيْهَا رُكُوْعٌ وَاحِدٌ

سورة فيل دي مکه کښ نازل شو دده پنځه ايتونه او رکوع يوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډير زيات مهربان او ډير رحم کونکي دي

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ﴿۱﴾

ايا تا او نه ليدل ته ځنګه وکړل ستا رب د هاتيانو والاسره ط

اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ﴿۲﴾ وَّاَرْسَلَ

ايا ونه ګرځولو دهغوئ فريب ۳ غلط او اوليږل

عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ﴿۳﴾ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ

په هغوی باندې الوتونکي مرغان ډلې ډلې چه غورځول به ئې په هغوی

مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿۴﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ﴿۵﴾

باندې کاڼړي په اور پاخه شوي وو پس وې گرځول لکه واښه خوړلے شوي.

نکات سا دَ تخویف دنیوی یوه نمونه ۱۲.

موضح قرآن ف دَیمن په ملک باندې څهٔ مودے پورے حبشیان غالب وو کله چه ئے اولیدل چه ټول عرب حج کوی دَ کعبے، نو وئ غوښتل چه ټول خلق مونږ ته راشی او جمع کیږی دَ کعبے یو نقل ئے جوړ کړو چه ډیر مال دولت ئے پرے خرچ کړو او ډیرے اسانتیا گانے ئے په هغے کښی برابری کړے لیکن هغے ته څوک رانغلل، په غصه شو او په کعبه باندے دَ حملے دپاره د فوج سره روان شو چه ځان سره ئے سپی او هاتیان هم بوتلل دَ کعبے ورانولو دپاره په لاره کښی دَ عربو یو قبیلی سره هغوئ جنگ اوکړو دَ قبیلے ټول خلق ئے مړهٔ کړل او ماتے ئے ورکړهٔ کله چه د حرم په حد کښی کیناستل دآسمان نه په مرغان راغلل دَ ښنو رنگونو والا دَچړچڼړو برابر. درے کاڼړی په ورسره وو دوه په پنجو کښی یو په مښوکه کښی په لکونو مارغانو ویشتل شروع کړل کوم کاڼړی به ئے ویشتل چه هغه به لکه دَ ټوپک دَگولئ د هغوی دَ یو غاړی نه بل غاړی نه وتل او کچرے داوښ په شان به اولگیدل نو دَ هغهٔ دشانه به وتل بیا انسان څهٔ شی دے ټول فوج کښی یو هم پاتے نهٔ شو ددغه کال په آخر کښی نبی علیه السلام پیدا شو ۔۱۲ منه رح ۔

فتح الرحمن ف مترجم وائی ابرهه دیمن بادشاه دَ کعبے دَ ورانولو قصد اوکړو ډیر هاتیان او بیشمار لښکر ئے جمع کړو کله چه کعبے ته نزدے شول نو الله تعالیٰ ابابیل ته حکم اوکړو چه هلاک ئے کړي ۔۱۲ والله اعلم ۔

تفسیر ۲ اَلَمْ تَرَ. داد تخویف اخروی یوه نمونه ده. دَ رؤیت نه رؤیت بصری مراد دے او هغه دَعلم نه کنایه ده. او استفهام تقریری دے. دَ واقعه فیل خبر تا سو ته تواتر سره رارسیدلے وو او تاسو ته دهغے علم وو دا واقعه د حضور صلی الله علیه وسلم دَ پیدائش په کال مخکے ته راغله. د حبش بادشاه نجاشی د هغهٔ یو حاکم چه نوم ئے ابرهه وو دَ نجاشی دَ خوشحالولو دپاره په صنعاء کښی دَیو ے

ډیرے زیاتے عالی شان ګرجه جوړولو حکم ورکړو په هغے کښې دُ دُنیا د اعلی
درجے سنګِ مرمر استعمال کړے شول کانړی د سرو زرو نقش او نګار سره
ښاسته کړے شوے وو۔ دګرجې تعمیر چه مکمل شو نو هغهٔ نجاشی ته
اولیکل چه ما ستاسو دپاره یوه ډیره اعلی ګرجه تعمیر کړیده چه په دُنیا
کښې ترننه ورځ پورے داسے ګرجه نه ده تعمیر کړے شوے او ترڅو پورے چه
زهٔ دحج دپاره د ټولو عرب خلقو مخه د دے ګرجه طرف ته راونه ګرځوم
ترهغه وخته پورے به زهٔ په ارام نه کینم نو ابرهه د بیت الله شریف
د وړانولو دپاره یو لوئے فوج تیار کړو او د زیاتو صحیح روایاتو مطابق
دَمحمود نومې هاتی په قیادت کښې ئے په مکه مکرّمه باندے حمله اوکړه
اوّل خو د اهل مکه ډیر زیات اوښان په خپل تحویل کښې واخستل چه په هغے
کښې دَعبد المطلب دوه سوه اوښان هم شامل وو۔ عبد المطلب ابرهه
ته ورغلے هغهٔ تپوس اوکړو تاسو څنګه راغلے ئې؟ هغوی اوفرمائیل
څما اوښان ما ته واپس کړه۔ ابرهه اووئیل افسوس دے ته خو د اوښانو
دَواپسئ تپوس کوې لیکن دَخانه کعبه باره کښې هیڅ هم نهٔ وائې چه ستا
او ستا دَپلار نیکهٔ دین دے او زهٔ دَ هغے دَ وړانولو دپاره راغلے یم۔ دے
سره عبد المطلب جواب کښې اووئیل۔ انّی رب الابل وان للبیت ربًّا
سیمنعه۔ زهٔ دَاوښانو مالک یم د دے وجه نه د هغے دَواپسئ مطالبه
کوم او دَخانه کعبه هم یو مالک شته هغه به دخپل کور حفاظت کوی۔
دے سره ابرهه اووئیل ما کان لیمنع منی۔ څما نه به هغه بچ نکړے شی
عبد المطلب په جواب کښې اووئیل اَنْتَ وَ ذَاکَ۔ ښه ده زور اوزمایه
اوګوره! ابرهه دهغهٔ اوښان واپس کړل او په بیت الله باندے حمله
اوکړه۔ هاتیان چه بیت الله ته نزدے شول نو کیناستل هغوی چه هر
څومره کوشش اوکړو خو هغه پا نهٔ څیدل کله چه ئے هغوی ته یمن ته دَ
واپس تللو اشاره اوکړه نو فورًا روان شول کله چه ئے هغه دوباره دَ بیت
الله طرف ته راوګرځول نو هغه بیا کیناستل. وے فرمائیل تاسو ته
معلومه ده موږ د هاتیانو والا سره څهٔ اوکړل من الروح والقرطبي وغیرهما)
۳ اَلَمْ یَجْعَلْ۔ استفهام تقریری دے۔ موږ دهغوی تدبیر
بیکاره کړو هغوی دخانه کعبه وړانولو دپاره راغلے وو لیکن موږ د
هغوی صرف ناکام نهٔ کړل بلکه دُ دُنیا عذاب سره موږ دهغوی هلاک
او تباه کړل۔ وَاَرْسَلَ عَلَیْهِمْ طَیْرًا اَبَابِیْلَ دَ طیرًا نه حال دے او هغه
د ابالة جمع ده په معنی د جماعة سره۔ الله تعالی مارغان دَ
ټولو په صورت کښې د مختلف اطرافو نه هغوی باندے اولیږل۔

۴ک ترمیهم. دهر مارغۀ به منوکه او پنجوکښ دسختې خاورې (کرت کانړو) یوه یوه کیټۍ وه چه هغه به یې په دوی ګزارولې. سجّیل. دغو په نزد دسنګ ګل نه معرب دے وړې وړې کیټۍ دا سې زور سره به یې ګزارولے چه په سر به اولګیدلے او لاندې به وتلے او دې سره به د هغوی غوښې هم ټکړے ټکړے کیدلے الوتلے به. فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ٥ تر دے چه د هغوی د خاروو د خوړل شوو وښو په شان یې اوګرځول یا د هغوی د بدن اجزاء او اندامونه داسې میده زرې زرې شول لکه د خاروو پاتے شوے واښه. ای جعل الله اصحاب الفیل کورق الزرع اذا اکلته الدواب فرمت به من اسفل شبه تقطع اوصالهم بتفرق اجزائه. (قرطبي ج ۱۰ ص ۱۹۹)۔

سُورَةُ الْقُرَيْش

رَبط او خلاصه

د دے سورة موضوع تزهيب في الله نیا ده د توحید مرکز ورانونکی الله ختم کړل او قریش ته یې دیخنی او ګرمۍ د تجارتی سفرونو مواقع په لاس ورکړل هغوی له هم پکار ده چه دیو الله عبادت اوکړی او شرک او نکړی او د مال دولت محبت کښ رانښاه او نه کړی۔

سُوْرَةُ الْقُرَيْشِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعُ اٰيٰتٍ وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة قریش له مکه کښ نازل شو. د دهٔ ایتونه څلور او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۙ ① اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ

له وجه د الفت او محبت د قریشو، یو د بل سره د وجه د محبت او الفت د هغوی

وَالصَّيْفِ ② فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا

په سفر د ژمي او د اوړي. پس پکار ده چه بندګي اوکړي دوی د دے کور د رب

الْبَيْتِ ﴿۳﴾ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ ۵

چا چه هغوئ ته خوراک ورکړو په لوږه کښې

وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ﴿۴﴾

او امن ئے ورکړو په ویره کښې ف

موضح قرآن

ف نبی علیه السلام په ۱۲ دولسم پشت کښې یو سړے وو نضر بن کنانه قریش د هغه اولاد دے ټول په مکه کښې جمع وو (په مکه کښې اوسیدل) عرب چه به کله حج ته راتلل نو هغوئ به ئے لیدل چه د کعبے خدمت کوی. کله چه به هغوئ د هغوئ کورونو اوځایونو ته ورتلل نو هغوئ به د دوئ عزت کولو سره سلوک به ئے ورسره کولو د دوئ هم دا معاش وو چه په ژمی کښې به یمن طرف ته تلل او ګرمۍ کښې به شام طرف ته تلل. خپل مینځ کښې به عرب یو بل سره جنګیدل دشمنی به ئے کوله په قریشو به د حرم د ادب په وجه غلواو دا کوا لوټ کوم طرف نه غلا او داکه نه کوله. وے فرمائیل چه د دے کور په وجه تاسو ته خوراک ملاویږی او په امن او سیږئ نو پس د دے کور د رب بندګی کوئ فاشکرو ۱۲ منه رح.

تفسیر

ف۱ لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ. لام په معنیٰ د الیٰ دے او د دهٔ متعلق محذوف دے ای انظروا. ایلفهم د ایلف قریش نه بدل دے. رحلة منصوب دے په نزع د خافض ای لاجل یعنی قریش چه د یخنئ او ګرمئ تجارتی سفرونه د پاره د نورو ملکونو سره کوم معاهدے کړیدی لږ شان هغئ طرف ته اوګورئ چه هغوئ د مال طلب کولو د پاره د یخنئ په موسم کښې د یمن طرف ته او د ګرمئ په موسم کښې د ملک شام طرف ته سفرونه کوی لکه چه نن صبا د پیړانو دوری کیږی (الشیخ رحمه الله تعالیٰ) یا لام تیر شوی سورت کښې جعل سره متعلق دے. قال الزجاج وابو عبیدة (کبیر، روح) مطلب دا دے چه الله تعالیٰ اصحاب الفیل څکه هلاک کړل چه د بیت الله په وجه د هغوئ عزت او عظمت په نورو ملکونو کښې هم هغه شان په خپل حال پاتے شی او هغوئ تجارتی فائدے د محفښ په شان حاصل کړی. یا لام فَلْيَعْبُدُوْا سره متعلق دے قاله الامام الخلیل (روح) یعنی د بیت الله برکت سره چه کوم نعمت عظمیٰ هغوئ ته ملاؤ شویدے د هغے په وجه سره هغوئ له پکار دی چه هغوئ د دغه کور د رب خالص عبادت اوکړی.

ف۳ فَلْيَعْبُدُوْا. د بیت الله په وجه هغوئ ته دا ټول عزت

حاصل دا دے دد ے وجه نه هغوئ له دد ے کور د مالک عبادت پکار دے
او د هغه په عبادت کښ هغه سره هیڅوک شریکول نه دی پکار. الذی
اطعمهم صرف د هغه خدائ عبادت کوئ چې چه هغوئ دپاره د رزق اسباب
برابر کریدی د یخنئ په موسم کښ یو طرف ته تجارت کوی او د گرمئ موسم کښ
د بل طرف ته. او هغه د دوئ د ډیرو خطرونه محفوظ کړل یعنی د اصحاب
فیل د حملے نه یا مطلق ویره د دشمن نه مراد ده. د بیت الله د ادب او احترام
په وجه سره د حرم په حدود کښ هیڅوک په هغوئ حمله کولے نه کړی.

سُورَةُ الْمَاعُون

ربط او خلاصه موضوع د توحید فی الدعا سره متعلق دے. د
قیامت تکذیب، یتیمانانو او مسکینانو باندے
د خرچ نه کولو، او په مونځونو کښ غفلت کولو باندے زجر.

سُورَةُ الْمَاعُونِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعُ اٰيَاتٍ وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة ماعون لے مکه کښ نازل شو دده ایتونه او ده رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ① فَذٰلِكَ

تا او لیده لے هغه سړے څوک چه دروغ گڼړی انصاف کیدل پس دا لے

الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ② وَلَا يَحُضُّ عَلٰى

هغه کس دے چه تیل وهی یتیم او تیزول (ترغیب) نه ورکوی د محتاج

طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ③ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ④

په طعام باندے پس هلاکت دے هغه مونځ کوونکو دپاره

الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ⑤

چه د خپلو مونځونو نه غافل (ناخبره) دی او

الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ﴿۶﴾ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴿۷﴾

او هغوئ ریا کوونکي دي. او منع کوي غوښتلي شوي په سوال د استعمال څیزونه

نکات ۱ زجر ۱۲ ۲ تخویف اُخروي ۱۲

موضح قرآن ف۱ یعني قضا کوي ئې یا په قصداً په اخري وخت کښ کوي ۱۲ منه رح۔

فتح الرحمٰن ف۱ لکه ستن، دیګچې، پیاله، بوکه یاد دے په شان نور. مترجم وائي د دے سورت نیم دکافر د حال نقشه ده او تصویر دے، او نیم د منافق د حال تصویر دے ۱۲. والله اعلم۔

تفسیر ۲ اَرَءَيْتَ۔ د رؤیت نه رؤیت قلبي او معرفت مراد دے او استفهام سره تعجیب او تشویق (تعجب او شوق) کښ اچول) مقصود دے. آیا ته هغه سړے پیژنې څوک چه د قیامت نه انکار کوي. حال دا دے چه د قیامت ثبوت قطعي دلائلو سره شوے دے د هغه حال واقعي چه د تعجب قابل دے۔

۳ فَذٰلِكَ۔ دا سړے نه د قیامت نه انکار کوي بلکه یتیمان هم ربټي او شړي، غریبان او مسکینانو ته پخپل طعام ورکول خو یو طرف ته نورو ته هم د دے ترغیب نه ورکوي نو د داسے خلقو د مونځونو نتیجه فائده -او بیا مونځ څنګه چه د هغے د ادا کولو حق دے هغه شان ئې نه ادا کوي هغه مونځ د الله تعالیٰ د عذاب نه ویریدلو سره او د اجراو ثواب امید سره نه ادا کوي بلکه خالص د ریاکارئ او د دنیوي مصلحتونو د پاره ئې ادا کوي. مونځ د هغه مقصود رضاء الٰهي نه وي. ۔

۴ فَوَيْلٌ نو د داسے مونځ کوونکو د پاره هلاکت او ویل دے څوک چه د مانځه د حقیقت او اصل مقصد نه غافل دي عن ابن عباس هو المصلي الذی ان صلي لم یرج لها ثوابا وان ترکها لم یخش علیها عقابا. (قرطبي ج ۲۰ ص ۲۱۱). الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ۔ هغوئ خلقو ته د ښودلو د پاره او د دنیوي مصلحتونو د لاندے مونځ کوي د الله تعالیٰ رضائې مقصود نه وي. وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ۔ بالکل معمولي او ادنیٰ غوښتي شي څیز لکه ستن، اوبه، مالګه، اور وغیره - وهو الشئ القليل (روح) او هغه داسے بد اخلاق دے چه یو حقیر او معمولي شان څیز هم چا ته استعمال د پاره نه ورکوي. د دے سورت کښ چه کوم صفتونه ذکر شوي دي هغه د منافقانو صفتونه دي. کونها في سفے

اشبہ وبھم اخلق لانھم جمعوا الاوصاف الثلاثۃ۔ (قرطبی) ھذہ السورۃ فی ذکر المنافقین۔ (کبیر)۔

سُورَةُ الكَوثَر

ربط او خلاصه تزهید فی الدنیا نه روستو د توحید د مضمون ذکر۔ نبی علیه السلام د پاره تسلی، او د شرک اعتقادی او فعلی نفی۔ مشرکانو د پاره تخویف۔ دا سورة د "سورة اعلیٰ" د دواړو مضمونونو نه دی یعنی توحید او نفی د شرک سره متعلق دے۔

سُورَةُ الكَوثَرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَلٰثُ اٰيٰتٍ وَفِيهَا رُكُوعٌ وَّاحِدٌ

سورة کوثر مکه کښ نازل شو دده درے آیتونه دی. او رکوع یوه ده

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

اِنَّاۤ اَعۡطَیۡنٰکَ الۡکَوۡثَرَ ﴿۱﴾ فَصَلِّ لِرَبِّکَ

بیشکه مونږ درکړو تاته کوثر [۱] دے [۲] وا پس مونځ کوه د خپل رب

وَانۡحَرۡ ﴿۲﴾ اِنَّ شَانِئَکَ هُوَ الۡاَبۡتَرُ ﴿۳﴾

په دپاره مخکښ او قربانی کوه بیشکه خوک چه ستا دشمن دے هغه نسل بریکے شوے یا تے شو

نکات: ۱ تسلی ۱۲ ۲ نفی د شرک اعتقادی ۱۲ ۳ نفی د شرک فعلی۔

موضح قرآن اول کوثر نوم دے دیو نهر په جنت کښ چه د هغے اوبه د پیو نه سپینے او د شهد نه خوږې. خوک چه یو ځل او څکی تول عمر به نه تږے کیږی دے او به یو حوض کښ غورځیږی په محشر کښ دوه ناوی اوبه غورځوی چه یوه د سرو زرو ده او یو د سپینو زرو حوض خلور کوټه (مربع دے) دده میاشتو په مسافت د هغے لارده د هغے فرش د سپینو زرو د تختو نو دے او د هغے په غاړه بنګلے دی دیو یو ملغلری نه چه مینځ ئے خالی دے. او په حوض باندے کوزه ږی دی د سرو او سپینو

زړونو مړه چه دا سمان ستوري دي نبي علیه السلام او د هغه یاران به هلته ولاړ وي دهغه امتیان به هلته زیسیږي او څوک چه هلته او سیږي او هغه دده نه اوبه او څښلې نو ټول عمر به نه تږي کیږي او د خپل تولي سره ملاو شو او په امن کښ راغلے او څوک چه او نه رسیده په هغه افسوس۔ **ف۲** قرباني په نبي علیه السلام ضروري او واجب ده او د امت په مالدار بانده ده په مفلس ضروري نه ده۔

ف۳ کافران وائي دده سره څوک نشته ترڅو چه ژوندے دے نوم به یئ وي د مرګ نه روستو به دده هیڅوک هم نوم نه اخلي نو دده (مصنف) نوم روښانه دے تر قیامت پورے دعه کافران څوک هم نه پیژني ۱۲۔

تفسیر **۲** اِنَّا اَعۡطَیۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ۔ الکوثر په وزن د فوعل کوم څیز چه په قدر او عدد، منزلت او منفعت کښ زیات وي هغه ته کوثر وئیلے شي۔ العرب تسمي کل شيءٍ کثیرٍ في العدد والقدر والخطر کوثرا (قرطبي ج ۲ ص ۱۲۷) دا لکوثر نه د مراد باره کښ د مفسرینو تقریبًا پنځلس اقوال دي، د ټولو نه زیات معروف دوه قوله دي۔ اول دا چه ددینه حوض کوثر مراد دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به ورکولے شي د هغوی ۳ به په هغے سره خپل امت خوړه وي د هغے اوبه به د پیو نه سپینے او د شهد نه خوږے وي د قیامت په ورځ نبي علیه السلام ته د حوض کوثر ملاویدل د متواترات نه دے۔ دوېم دا چه دده نه مراد قرآن مجید دے چه د دین او د دنیا کوثر دے او د دین او د دنیا د خیر کثیر سرچشمه ده یا دده نه هر خیر او برکت هر هغه نعمت مراد دے کوم چه الله تعالی نبي علیه السلام ته ورکړے وي دا قول د حضرت عبدالله بن عباس ؓ امام المفسرین نه نقل شوید ے او دا قول حوض کوثر او قرآن مجید ته په طریقه اولی شامل دے۔ القول الخامس عشر ان المراد من الکوثر جمیع نعم الله علی محمد علیه السلام و هو المنقول عن ابن عباس لان لفظ الکوثر یتناول الکثرة الکثیرة فلیس حمل الآیة علی بعض هذه النعم اولی من حملها علی الباقي فوجب حملها علی الکل (کبیر) دا سورت چونکه مکي دے او دده د نزول په وخت څونه لا د قرآن د نزول تکمیل شوے وو او نه بالفعل حوض کوثر نبي علیه السلام ته ملاو شوے وو او نه لا تر اوسه پورے د هر نعمت او خیر او برکت نزول

مکمل شوے وو. ددے وجه نه به اعطیناک په حکمتا لک بالاعطا محمول دی.

۳ فَصَلِّ. دا په ما قبل مرتب دے چونکه مونږ تا ته الکوثر درکړے دے ددے وجه نه تاسو په طور د شکریه نعمت او محض خو نږ د رضا طلب کولو او رضا کولو د پاره مونځونه کوئ او په حاجتونو او مصیبتونو کښ صرف ما ته او از کوئ او زما نه سوا یل هیچا ته اواز مه کوئ. داد شرک اعتقادی د نفی طرف ته اشاره ده. وانحر ای لرتک. دادشرک فعلی نفی طرف ته اشاره ده یعنی صرف د الله تعالیٰ د رضا د پاره نذر او منتنه کوه او د هغه په نوم قربانی کوه. دغیر الله په نوم یے مه کوه.

۴ اِنَّ شَانِئَكَ. یو څل یو مشرک رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبرے کولے کله چه جُدا شو نو نورو مشرکانو ترینه تپوس اوکړو دچا سره دخبرے کولے؟ وے وئیل دهغه اَبْتَر سره دهغه اشاره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وه چه د نبی علیه السلام نارینه اولاد ژوندے نه وو دے سره دا ایت نازل شو الله تعالیٰ اوفرمائیل تاسو مقطوع النسل نه یے بلکه دا کافران دے صفت سره موصوف دی. او ستاسو روحانی اولاد بر ترقیامته پورے په دُنیا کښ موجود وی دغه شان تاسو دا مسئله بیانوئ الله تعالیٰ به ستاسو دښمنان تباه کړی.

سُورَةُ الْكَافِرُوْنَ

ربط او خلاصه دسورة موضوع توحید او د شرک نفی ده څنګه چه ناصح په وعظ او نصیحت کښ د پوره پوهولو او تفصیل او وضاحت نه روستو وائی چه مسئله خو ما واضح کړیده که څیرے اوس یے هم نه منئ نو خما لاره داده او ستاسو لار هغه ده دغه شان دلته هم وئیلے شویدی چه د دومره بیانولو نه روستو هم نه منع کیږئ نو خو نږ او ستاسو مینځ کښ سلام د متارکه دے.

تائید: فاعرض عن من تولیٰ عن ذکرنا. (النجم ع ۲) دے کښ د سلام متارکه اعلان کول مقصود دے.

سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْنَ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتُّ اٰيٰتٍ وَفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة کافرون لے مکه کښ نازل شوا ده ده شپږ ایتونه او رکوع یو ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝ ۱ لَاۤ اَعْبُدُ مَا

ته اووایه ځله اے کافرانو زه عبادت نه کوم د هغے

تَعْبُدُوْنَ ۝ ۲ وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ

دکوم چه تاسو عبادت کوئ او نه تاسو عبادت کوئ د هغے دکوم چه

اَعْبُدُ ۝ ۳ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝ ۴

زه عبادت کوم او نه ئے زه عبادت کوونکے یم د هغے چا کوم چه تاسو عبادت کوئ

وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ۝ ۵

او نه تاسو عبادت کوئ د هغه چا دیا چه زه عبادت کوم

لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝ ۶

ستاسو د پاره ستاسو لار ده او ما د پاره زما لار ده

نکات : نفی د هر قسم شرک ۲

موضح قرآن ف یعنی تاسو ضد ټینګ کړیدے اوس به پوهول څه فائده نه ورکړی ـ مشهوره داده چه دا سورت منسوخ دے لیکن صحیح داده چه منسوخ نه دے حکه چه دے کښ ددے خبرے بیان دے چه د کافرانو او مسلمانانو دین کښ یو بل سره هیڅ تعلق نشته نه دا چه د هغوئ سره تعلق څه نشته بلکه د مسلمانانو په دین کښ جهاد او قتال هم داخل دے . تفسیر فتح العزیز نه لیکل شو یدے ۱۲.

تفسیر ۲ قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ٥ مَا تَعْبُدُوْنَ کښ د مَا تَعْبُدُوْنَ نه باطل معبودان مراد دی د کوم چه مشرکانو د الله نه سوا عبادت کولو. مَاۤ اَعْبُدُ کښ د مَا نه معبود حقیقی مراد دے د کوم چه خالص عبادت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کولو ، و ئے فرمائیل کیږے ددے قسم وضاحت کولو او تفصیل او ددا سے قطعی دلائلو باوجود هم مشرکانو د توحید مسئله نه منله نو تاسو اعلان

اوکړی. اے کافرانو! تاسو په خپله لاره ځئ زه په خپله لاره ځم تاسو چه دکوم باطل معبودانو عبادت کوئ زه د هغې عبادت نشم کولے او نه تاسو دد ے باطل معبودانو عبادت پریخودلو سره صرف د یو الله عبادت کولو ته تیار ئے دکوم چه زه عبادت کوم۔

۴ے وَلَآ اَنَا عَابِدٌ۔ تکرار تاکید دپاره دے یا اول د زمانه حال او استقبال ذکر وو او اوس د زمانه ماضی بیان دے۔ مطلب دادے چه نه اوس او نه به اینده کښ کیدے شی چه زه ستاسو د باطل معبودانو عبادت اوکړم او تاسو صرف د الله عبادت اوکړئ نه په تیره شوے زمانه کښ داسے چرته شوے دی چه ماستاسو د باطل معبودانو عبادت کړے وی او تاسو د غه معبودانو عبادت پریښودے وی صرف د یو خدای عبادت تاسو کړے وی۔

۵ے لَکُمْ دِیْنُکُمْ وَلِیَ دِیْنِ دا د سلام متارکه اعلان دے که چرے تاسو نه منئ نو تاسو په خپل دین شرکیه یا ندے روان اوسئ او زه به خپل دین توحید باندے روان یم دیر زر به دواړو ډلے زه او تاسو خپل خپل انجام اووینو۔

سُوْرَةُ النَّصْرِ

رَبط او خُلاصه تسلی نبی علیه السلام ته یعنی کله چه ته صفا صفا هغوی ته کافرانو او د سلام متارکه اعلان اوکړې نو تاسو ته به فتح درکړم۔

سُوْرَةُ النَّصْرِ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ ثَلٰثُ اٰیٰتٍ وَّفِیْهَا رُکُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورۃ نصر په مدینه کښ نازل شوې ده درے ایتونه او یو رکوع ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ① وَرَاَیْتَ

کله چه راشی راورسیږی امداد د الله او فیصله او ته اووینی

النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللّٰهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾

خلق چه داخلیږی په دین د الله کښې ډلې ډلې

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ إِنَّهُ

نو ته پاکی بیانوه د صفت د رب او د گناه بخښنه او غواړه د هغه نه بیشکه

كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

هغه معاف دې کوونکے د ے ول

نکات : سے ٢ تسلی ٢ ۔

موضح قرآن ول یعنی قرآن کښې هر ځائے وعده ده د فیصلے او کافرانو به تلوار کوله ۔ د نبی علیه السلام په آخری عمر کښې مکه فتح شوه د عربو ملکونه مسلمانیدل شروع شول ډلې ډلے وعده رښتونې شوه اوس د امت د گناه بښنه اوغواړه چه د شفاعت درجه هم تا سوته ملاؤ شی ۔ دا سورة په آخری عمر کښې نازل شو نبی علیه السلام پوهه شو چه د دنیا کښې څما کوم کارووّ نو هغه سرته اورسیده پوره شو ۔ اوس سفر دے د آخرت ۔

تفسیر سے ٢ اِذَا جَآءَ ۔ دا اذا جزاء محذوف ده ای فسترى ما ترای ۔ کله چه د الله مدد او فتح بشارت راغلے نو تاسو به د هغے برکات اووینئ ۔ وَرَاَیْتَ النَّاسَ ۔ تاسو به وینئ چه خلق به ټولی ټولی په دین اسلام کښې داخلیږئ ۔ دا د فتح او نصرت دبرکات نه یو دے ۔

سے ٣ فَسَبِّحْ ۔ یعنی په خپله هغه کار اوکړی کوم چه د فتح او نصرت موجب دے ۔ الله تعالیٰ د شریکانو نه پاک اوگڼړه او ټول دکارسازئ صفتونه الله تعالیٰ دپاره ثابت کړه او هغه نه بښنه اوغواړه بیشکه هغه توبه قبلونکے دے یا زئیت ، جاء با ندے معطوف دے او فسبح الخ جزاء د شرط ده او مطلب دا دے چه کله د الله تعالیٰ له طرفه فتح او نصرت راشی او تا خلق ټولے ټولے په اسلام کښې داخلیدونکی اولیدل نو اوس د شکر نعمت په طور د الله تعالیٰ تسبیح او تنزیه بیانوه ۔ د مدد نه صلح حدیبیه او فتح نه فتح مکه مراد ده د فتح مکه په ورځ خلق ټولے ټولے په اسلام کښې داخل شوی وو ای فنزهه تعالیٰ بکل ذکر یدل علی التنزیه حامدا له

جل وعلا زيادة في عبادته والثنا عليه سبحانه لزيادة انعامه سبحانه عليك (روح ۳۰ ص ۲۵۷) .

سُوْرَةُ اللَّهَبِ

ربط او خلاصه . کچرے دا معاند ين ډېر واضح دلائلو باوجود هم تاسو نه مني نو هغوئ سره سلام د متارکت او کړه الله به تاسو ته فتح درکړي او ستاسو دشمنان به هلاک کړي. د دے سورة کښې د هلاکت يوه نمونه بيان کړه .

سُورَةُ اللَّهَبِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسُ آيَاتٍ وَفِيهَا رُكُوعٌ وَاحِدٌ

سورة لهب مکه کښې نازل شو ده پنځه ايتونه او يوه رکوع ده

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع د الله په نوم چه ډير زيات مهربان او ډير رحم کوونکے دے

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ① مَا أَغْنَىٰ

مات دې شي دواړه لاسونه د ابی لهب او مات شول فائده ورنکړه هغه

عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ ② سَيَصْلَىٰ نَارًا

ته ئے مال د هغه او نه هغه څه کوم چه هغه کسب کړے وو. اوس به او رکښې

ذَاتَ لَهَبٍ ③ وَامْرَأَتُهُ ۖ حَمَّالَةَ

غورځيږي لمبے وهونکي او د هغه ښځه چه په سر باندے ئے بار

الْحَطَبِ ④ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ⑤

کريږي لرګي وړه د ښځے مټ کښې رسۍ ده د مونجهو .

نکات
موضح قرآن

: ١ د هلاکت يوه نمونه ده .

ف ابو لهب د نبي عليه السلام تره وو د

دکفر په وجه سره دنبي علیه السلام دښمن او ګرځیدلو. یو ځل نبي علیه السلام ټول قریش ته آواز کړو جمع یې کړل. هغه کافرې اوو لیدل چه لیونے ناحق خلقو ته آوازکوی دهغه ښځې به هم سخته دښمنی کوله د رذالت او کنجوسي په وجه به یې لرګي ځنګل نه راوړل او ازغي به یې دنبي علیه السلام په لاره کښې غورځول چه تللو راتللو سره دهغوی په ښپو مبارک کښې مات شي.

فتح الرحمٰن

ف۱ نبي علیه السلام ځپل رشته دار دوزخ د اور نه اوویرول. ابولهب یو کافرے دنبي علیه السلام طرف ته اوو ښت ویې ویل ایا ددے کار د پاره دې تا سو مونږ جمع کړے وو داسورت نازل شو. ف۲ دوه لاسونه کنایه دی دهغه دذات نه ف۳ یعني چغلخوري کونکی د پاره ۱۲ ف۴ یعني په ظلم کولو به هغې ته عذاب ورکولے شي

تفسیر

۲ے تَبَّتْ. ابولهب او دهغه ښځې به رسول الله صلی الله علیه وسلم قول او فعل سره ډیر زیات سخت تکلیف رسولو. ابولهب یو موقع باندې هغوی ته تبًا لک (ته هلاک شې عیاذاً بالله) سره خطاب اوکړو دهغه ښځې به دخلقو په مخکښې دهغوی خلاف ډیرې بدی او خرابې خبرې کولے او د شپې به یې د هغوی په لاره کښې ازغي اچول. دے سورة کښې دواړو ته تخویف (عذاب) وارد شو او د هلاکت یوه نمونه یې بیان کړه. یَدَا. د نفس نه کنایه ده لکه چه په بل ځای کښې ارشاد دے. بِمَا قَدَّمَتْ یَدَاكَ (الحج ـ ع ۱). داابولهب ته دتباهۍ او بربادۍ خبری دی او تَبَّ د هغې تباهۍ خبر دے. قال الفراء التب الاول دعاء والثاني خبر کما یقال اهلکه الله وقد هلك. (قرطبی).

۳ے مَا اَغْنٰی. دهغه مال او دهغه شان او شوکت، مرتبه هغه دالله د عذاب نه بچ نکړے شو. مَا کَسَبَ. دد نیا عزت او مرتبه یا مشرکانه اعمال دغیر الله رابلل او آوازکول وغیره. سَیَصْلٰی نَارًا. دا تخویف اخروی دے. دُنیا کښې ابولهب دپاره ذلت او رسوائی ده او په آخرت کښې به هغه ګرم لمبه وهونکی اور ته داخلولے شي. وَامْرَاَتُهٗ. دا دیَصْلٰی ضمیر مستتر باندے معطوف دے. حَمَّالَةَ الْحَطَبِ. منصوب علی الذم دے. دا چغلی کولو او بد ګوئی نه کنایه ده یا دا دے مطلب دا دے چه هغې به دبهر نه ازغي لرونکی لرګی راوړل او دنبي علیه السلام په لاره کښې به یې خوَرول (من الکبیر والروح والقرطبی)

ک له في جيدها۔ مسد تاؤ کړے شوے مضبوط رسي ده حرڅه چه وي. جيد دابولهب ښځے ام جميل به د ډېر نه لرګي راټوله ول راوړل به ئے او د لرګو راوړو نکو په شان به ئے په غاړه کښ رسي اچولے وه دا د هغے دخساست او رذالت طرف ته اشاره ده. يا مطلب دا دے چه په جهنم کښ به د هغے په غاړه کښ رسي وا چولې شي والمقصود بيان خساستها تشبيها لها بالحطابات ايذاء لها ولزوجها (وثانيها) ان يكون المعنى ان حالها يكون في نار جهنم على الصورة التي كانت عليها حين كانت تحمل الحزمة من الشوك۔ (كبير)۔

سُوْرَةُ الْاِخْلَاصِ

ربط او خلاصه د توحيد صفا او واضح اعلان چه د هغے په وجه فتح نصيب شوه او دشمن هلاک شو.

سُوْرَةُ الْاِخْلَاصِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعُ اٰيَاتٍ وَّفِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة اخلاص په مکه کښ نازل شو ده ايتونه څلور او رکوع يوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع د الله په نوم چه ډير زيات مهربان او ډير رحم کونکے دے

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴿۲﴾

ته او وايه که هغه الله يو دے الله ۳ بے پروا دے و

لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ﴿۳﴾ وَلَمْ يَكُنْ

نه ئے څوک ځيز ولے دے که نه دے هغه ځيز ولے شوے دے او نشته د هغه د پاره

لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾

د پاره سيال څوک ۴

نکات : ۱ د توحيد اعلان

موضح قرآن

ف۱ یعنی خوراک څښاک نهٔ کوي.
ف۲ یعنی دهغهٔ په شان هیڅوک نشته چه ښځه اولري.

یا خوئ. ددې سورت د نازلیدلو سبب دا وو چه د کافرانو سردارانِ نبي علیه السلام ته راغلل تپوس ئې اوکړو چه تاسو څومره د بتانو بندګي اوُ عاجزي اوُ بې وسي بیانوئ اوُ دغه شان نور عیبونه هغوئ کښ بیانوئ بنهٔ ده نورا ته اووائه چه ستاسو دالله صفتونه څهٔ دي هغه د چا نه پیدا شو اوُ دهغهٔ نه څوک پیدا شو اوُ څنګه روایا تو کښ دا سې راغلي دي چه د کافرانو په سوال کښ دا هم وو چه هغه څهٔ څیز دې اوُ څهٔ خوري اوُ څهٔ څکي. اوُ خدائ هغهٔ ته دکوم ځائې نه ملاؤ شوه اوُ دهغهٔ نه روستو به بیا چاته ملاؤیږي اوُ دهغهٔ مددګار اوُ صلاح کار په خدائي کارخانه کښ څوک دې. د دې پاتن ې حضرت جبرائیل علیه السلام دا سورت راوړو اوُ دې سورة ته سورة اخلاص وائي چه د مسلمانانو زړهٔ خالص کوي دالله تعالیٰ د ذات اوُ صفات دپاره.

تفسیر

۱ے قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ۔ هُوَ ضمیر شان دې اَللّٰهُ اَحَدٌ۝ الله یو دې هغه د ټولو حاجت روا اوُ کارساز دې ے معنی الله گفت ان سیبویہ۔ یُوْلَهُوْنَ فِی الْحَوَائِجِ هُمْ لَدَیْهِ۔ یعني الله هغه ذات دې پاک نوم دې چه د هغهٔ طرف ته خلق په حاجتونو کښ منډې وهي اوُ دهغه پناه تلاش کوي.

۲ے اَللّٰهُ الصَّمَدُ. شاه عبد القادرؒ د دې ترجمه کوي.
حضرت عبد الله بن عباس رض فرمائي اَلصَّمَدُ هغه دې چه خلق په حاجتونو اوُ مصیبتونو کښ دهغهٔ طرف ته قصد کوي اوُ ما فوق الاسباب هغه را بلي عن ابن عباس رض قال الذي یصمد الیه في الحاجات (بخاري، قرطبي)۔ الصمد هغه بې پرواه ذات دې چه د هغهٔ هیچا ته حاجت نشته لیکن ټول کائنات هغهٔ ته محتاج وي.

۳ے لَمْ یَلِدْ۔ هغهٔ نه څوک پیدا نهٔ دې دهغه څوک والد اوُ نائب نشته۔ یعني هغه اختیارات هیچا ته نهٔ دي حواله کړي. وَلَمْ یُوْلَدْ۔ هغه حادث نهٔ دې چه د چا نه پیدا شوې دې۔ هغه ازلي دې وَلَمْ یَکُنْ لَّهٗ کُفُوًا اَحَدٌ۔ اوّل په ټولو پاتن ې دبرترئ اوُ او چتوالي ذکر وو او س دلته دهمسرا و سیال نفي ده چه دهغهٔ نه د چا برترئ خو لرې د خو یو طرف ته ټولو کائنات کښ د هغهٔ برابر څوک نشته. د دې ټولو کائنات کښ دهغهٔ نه سوا څوک الله کارساز، حاجت روا اوُ ددعا اوُ رابللو لائق نشته.

سُوْرَةُ الْفَلَقِ

ربط او خلاصه کله چه تاسو د توحید مسئله دعه شانې واضح او ښکاره کوئ او صفا صفا بیان کوئ نو دشمنان به د ایذاء (ضرر رسولو) د نورو حملو نه علاوه په تاسو د جادو حربه (حمله) هم استعمالوي د دې وجه نه تاسو د دې دواړو سورتونو اکثر تلاوت کوئ تاسو بلندې به د جادو اثر نه پاتې کیږي.

سُوْرَةُ الْفَلَقِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ خَمْسُ اٰيَاتٍ فِيْهَا رُكُوْعٌ وَّاحِدٌ

سورة فلق سلے مدینه کښ نازل شو ده ایتونه پنځه او رکوع یوه ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا

ته او وایه ۱ زه پناه کښ راغلم د صبا ښیرے کوونکي رب د هر څیز د شر نه کوم چه

خَلَقَ ﴿۲﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾

هغه پیدا کړی دی. او د شر د تیارې نه ۳ کله چه تیاره شي ف۱

وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ﴿۴﴾ وَمِنْ

او د شر د (سحر کوونکي) ښځو نه کله چه په غوټو باندې پف کوونکي دي ف۲ او

شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾

د شر د بد ئی غوښتونکو نه کله چه حسد شروع کړي ف۳

نکات : ۱ تعلیم استعاده.

موضح قرآن ف۱ یعنی د شپې تیاره یا د سپوږمۍ تورېدل.

او دے کښ پټو لے تیارے راغلے ظاهرا او باطن او تنګ ستی او پریشانی او ګمراهی. **ف۲** یعنی جادوګرونه. **ف۳** دغه وحښت د هغوئ حسد لګیږی۔

تفسیر ۲ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ځیرلو سره څه پټه شی راویستل۔ د شپی د تیارهٔ نه د صباړنړا ظاهرول فالق الاصباح (انعام ع ۱۲) یا دانه چوول (خیرے ګول) د هغے نه بوټی زرغونول. فالق الحب والنوی (ایضاً) کوم پاک ذات چه د چوولو د صفت مالک دے زه د هغه پناه تلاش کوم د هر هغه څیز د شر نه کوم چه هغه پیدا کړے دے۔

۳ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ۔ غاسق تیارهٔ شپه۔ اِذَا وَقَبَ ای دخل یعنی د شپے تیارهٔ خوره شی نو په دے کښ چه کوم شر او ضرر رسول دی هغے نه هم رب فلق سره پناه طلب کوم وانما امر ان یتعوذ من شر اللیل لان فی اللیل تخرج السباع من آجامها والهوام من مکانها ویهجم السارق الخ (الکبیر)۔

۴ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ۔ په غوټو کښ د پوکی کوونکو نه جادوګری ښځی مراد دی۔ عام طور باندے ښځی جادوګری دی دے وجه نه ئے د هغوئ ذکر اوکړو۔ دیته د لبید بن اعصم یهودی لونړه مراد دی چا چه په نبی علیه الصلوٰة والسلام باندے جادو کړے وو۔ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ او د هر حاسد او د نعمت د زوال ارزو لرونکی د شر نه هم پناه او غواړه۔ دے سورة کښ د الله تعالیٰ صرف یو صفت ذکر شوی دے او د کوم څیزونو نه چه پناه غوښتل مقصود دے په هغے کښ اول څیز عام دے۔ یعنی شَرِّ مَا خَلَقَ۔ او بیا د دے نه روستو د دریو مخصوص څیزونو ذکر دے۔ غَاسِقٍ، نفاثات او حاسد، او سورة الناس کښ د دے عکس دے۔

سُورَةُ النَّاسِ

ربط او خلاصه دے سورة کښ د توحید د رسے امر تبو طرف ته اشاره ده کوم چه په سورة انعام، حدید، او حشر کښ ذکر شوی دی۔ رَبِّ النَّاسِ کښ اوله مرتبه۔ د ټولو خالق او مربی۔ مَلِكِ النَّاسِ۔ دویمه مرتبه د بادشاهی په

تخت بانددے په خپله محیط دے او برابر دے الله الناس دریمه مرتبه په حاجتونو او مصیبتونو کښې د رابللو لائق صرف هغه دے.

سُورَةُ النَّاسِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ سِتُّ آيَاتٍ وَّفِيهَا رُكُوعٌ وَّاحِدٌ

سورة الناس لے مدینه کښې نازل شوې ده آیتونه شپږ او رکوع یو ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله په نوم چه ډیر زیات مهربان او ډیر رحم کوونکے دے.

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ

ته او وایه زه پناه نیسم د رب د خلقو کښې (راغلم) د بادشاه

النَّاسِ ﴿٢﴾ إِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾ مِنْ شَرِّ

د خلقو. د معبود د خلقو د هغه (شیطان) وسوسه

الْوَسْوَاسِ ۥ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ

اچوونکي تښتیدونکي نه هغه کوم چه خیال اچوي

فِي صُدُورِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ

د خلقو په زړونو کښې د پیریانو نه

وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

او انسانانو نه

نکات: ۱ د توحید اوله مرتبه ۱۲ ۲ د توحید دویمه مرتبه ۱۲. ۳ د توحید دریمه مرتبه.

موضح قرآن ف۱ شیطان خلق په ګناه اچوي او په نظر نه راځي ف۲ په حدیث کښې فرمائیلي دي چه دا دوه سورتونو برابر هیڅ یو دعا نشته. د پناه غوښتلو د پاره ځینو محققینو لیکلي دي چه د قرآن په اول کښې حرف با او په اخر کښې د هغه د سین حرف لیکلے دے. دے کښې اشاره ده چه قرآن مجید د دواړو جهانونو د پاره کافي دے. ارشاد عبدالقادر صاحب.

تفسیر ۲ ۡ قُلۡ اَعُوۡذُ ۔ په تیر شوي سورت کښې چه د کومو
ضرر ونو نه د پناه غوښتلو حکم ورکړې شو د هغې په مقابله
کښې شیطان چو نکه زیات ضرر رسونکې اؤ د ټولو نه لوئې دشمن دے
د دے وجه نه په تیر شوي سورت کښې د الله تعالی یو صفت ذکر کړے شو
رَبِّ الۡفَلَقِ ۔ اؤ دے سورت کښې درې صفتونه ذکر شوي دي چه په هغې
کښې هر صفت د توحید یو خاص مرتبه ظاهروي ۔ رَبِّ النَّاسِ ۔ دَ
ټولو پیدا کولو نه روستو هغوئ درجه په درجه ترتیب سره د هغوئ
د کمال حد ته رسولو والا او په هر مرتبه د تربیت کښې د هغوئ د ضرورتونو
پوره کولو والا ۔ دا د توحید اوله مرتبه ده ۔ مَلِكِ النَّاسِ ۔ د توحید
دویمه مرتبه ۔ د ټولو مالک اؤ بادشاه د بادشاهئ په تخت باندې
پخپله مستوي اؤ برابر دے هیچا ته ئې څه اختیار نه دے سپارلے ۔
اِلٰهِ النَّاسِ د توحید دریمه مرتبه د ټولو معبود اؤ کارساز په حاجتونو
کښې اؤ مصیبتونو کښې مافوق الاسباب غائبانه د دعا او رابللو
لائق صرف هغه دے بل څوک نشته ۔
۳ ۡ مِنۡ شَرِّ الۡوَسۡوَاسِ ۔ الوسواس اسم مصدر دے مُراد
شیطان دے د مبالغې په طور ۔ شیطان د انسان دومره لوئې دشمن
دے اؤ د انسان په زړه کښې وسوسه اچولو کښې دومره زیات کوشش
کوي لکه چه هغه ټول وسوسه ده ۔ الۡخَنَّاسِ ۔ پټ تلونکے ۔ اؤ په
شا واپس کیدونکے ۔ انسان ئې نهویني اؤ هغه ګمراه کوي اؤ د هغه
په زړه کښې وسوسه اچوي ۔ یا مطلب دا دے چه کله یو بنده الله یادوي نو
شیطان روستو کیږي اؤ کله چه غافل شي نو نزدې راځي ۔ اِذَا غَفَلَ
الانسان وسوس له واذا ذکر العبد ربه خنس (قرطبی ج ۲۰ ص ۲۶۳) ۔
۴ ۡ الَّذِیۡ یُوَسۡوِسُ ۔ دا د ماقبل تفصیل دے هغه شیطان کوم
چه د خلقو په زړونو کښې وسوسې اؤ خراب خیالونه اچوي ۔ مِنَ
الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۔ دا د الَّذِیۡ یُوَسۡوِسُ بیان دے ۔ (روح) ۔
وسوسه اچونکے خواه انسان وي یا پیرے ۔ پیرې په پټه وسوسه
اچوي اؤ انساني شیطان په ښکاره مخې ته راځي اؤ دین اسلام اؤ توحید
باره کښې د خلقو په زړونو کښې شکونه اؤ شبهات پیدا کوي ۔

وَاٰخِرُ دَعۡوَانَا اَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ والصلوٰة
والسلام علی سید الرسل وخاتم النبیین وعلی
اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهٖ اَجۡمَعِیۡنَ ۔ ۱۲ رمضان المبارک ۲۵ ستمبر ۲۰۰۷ء

الحمد لله

په ١٨ رمضان المبارک ١٤٢٨ھ
یکم اکتوبر ٢٠٠٧ ء دکل په ورځ

شپږم جلد سره تول تفسیر د الله تعالیٰ
په لوئ احسان او فضل سره
پایهٔ تکمیل ته اورسیده.

والحمد لله علی ذلک وله المنة والنعمة وصلوته وسلامه
علی نبی الرحمة

کملت مسافة کعبة الآمال
حمد الحمن قد من بالاکمال

سجاد بخاری عفا الله تعالیٰ عنه
وعن والدیه وعمن علمه وتعلم لدیه
طالب دعا: عبد الغنی و برادران

ناشر
وحیدی کتب خانه
پشت قصه خوانی
پیښور بښار